Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوولس ګرامه ماغزه

شهرت ننګیال

۱۳۹۴ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

دوولس ګرامه ماغزه

لیکوال: **شهرت ننګیال**

خپرندوی: **دانش خپرندویه ټولنه**

د خپرېدو نېټه: **وړی- ۱۳۹۴ لمریز**

چاپشمېر: **۱۰۰۰ توکه**

چاپ نوبت: **لومړی**

دیزاین: **سپین سهار**

چاپځای

اسد دانش مطبعه - کابل / ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸

د تر لاسه کېدو پتې:

(۱) میوند وات، پخته فروشی کوڅې ته مخامخ، احمدي پلازا، ځلورم پور،
دانش کتابخانه- کابل/ ۰۷۷۱۴۴۳۱۷

(۲) میرویس میدان (کوټه سنګي)، بهزاد کورس ته مخامخ،
مینه یار مارکیټ، دانش کتابپلورنځی/ ۰۷۸۵۲۰۰۲۱۲

(۳) اسحاق زی مارکیټ، ځمکتل، دانش کتابخانه- جلال آباد/ ۰۷۸۶۹۸۸۶۵۵

د چاپ ټول حقوق له خپروونکي سره خوندي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپرندويې تولنې يادښت

دوولس گرامه ماغزه، د افغانستان د تاوجنو سياسي پرمختياوو پر منظره کشې او تحليل دواړو راگرځي.

دغه تصويرونه له تولو ربښتيني او ژوندي دي، چې ليکوال راساً د خپلو سترگو لينز کې له راخيستو وروسته په تورو تکو خورا په زړه پورې انځور کړي دي.

د هغو بوږنوونکو پېښو او لړزوونکو پرمختياوو انځورنه چې له ميډيا پټې راپورته شوې، او د خلکو له سترگو الوتيا غزېدلی دی.

ليکوال د دېرو پېښو او پرمختياوو خپله شاهد دی، څنگ ته يې پاتې شوی او له نژدې يې څارلې دي.

څکه خو د لومړي لاس موادو په توگه دغه يادښتونه د راتلونکي تاريخ لپاره د نغدو لاسوندو زيرمه برابره کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلی شهرت ننګیال له قضاوت تر ډېره ډډه کړې، په دې توګه يې د لوستونکي دغه حق خوندي کړی دی.

ناپيلټوب ته يې هم خپله ژمنه پاللې لکه يو امانت پېښې او پرمختياوې يې پخپله اصلي بڼه او څېره زموږ مخې ته اينبی دی.

د دغو يادښتونو ارزښت په دې کې دی چې نن او د نن په رڼا کې نه دي کنبل شوی پرون يې په هماغه پرون کې د پرون په دود او مود قلمبند او محفوظ کړی دی.

هغه مهال چې پر هېواد د لومړنی ټپلي جګړې اور لګېدلی و، دا اور څنګه ولګېده، چا ولګاوه چا لمن ورته وهله، څوک يې تاو ته پنډ وو، چا پرې اوبه، چا تېل غورځول ټول د دغه کتاب منځپانګه ګرځېدلی.

دانش خپرندويه ټولنه د دغه کتاب پر خپراوي ويارې، ښاغلي شهرت ننګيال ته مبارکي وايي او لوستونکي يې لوستلو ته رابولي.

درنښت

دانش خپرندويه ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هزاران سال با فطرت نشستم
از خود ببریـدم و با غیر بستم
ولیکن سر گذشتم این سه حرف است
تراشیدم، پرستیدم و شـــکستم

(c) ketabton.com: The Digital Library

لړليک

سپلابی اوبو کی جل وهلی تنده ۱۵
نیمګړي رښتیا ۲۰
له پردي تیري تر تنظیمي جګړو (مذاکرات) ۲٦
بې منزله لاري ۳۳
"آیا نجیب را میشناسید؟" کتاب خپراوی: ۳٦
د ډاکټر نجیب الله او روسیې تر منځ د بدګومانۍ واټن: ۳۸
د ایران رول: ۳۹
له څلوېښتم لښکر سره اوربند: ٤۱
د رژیم دننه ډلبندی ٤۳
بې تعبیره خوبونه ٤٦
د واک لپوالتیا ٤۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشورتي شورا او د مولوي حقاني فارمول ۵۰
د جنرال تني ناکامه کودتا: ۵۲
د قوماندانانو سرتاسري شورا: ۵۹
خوست د ټولو تنده: ۶۳
ناکام بری: ۷۷
بې پایلې اړیکي ۹۲
ستو کنډو ۱۰۵
د قوماندان عبدالحق ستراتیژي: ۱۱۶
جبل السراج ائتلاف ۱۱۸
شورای عالی جهادی: ۱۱۸
گام په گام سقوط ۱۲۱
گډه نماینده شورا: ۱۲۱
د گردېز وضعیت: ۱۲۲
د ماضي له تروړمی د مستقبل تیارو ته ۱۲۵
له جنرالانو سره شپه ۱۳۶
د شمال څپې د کابل پر خوا: ۱۳۹
له ورخه تېرې اوبه: ۱۴۰
نظامي عالي شوار ته د واک لېږد غونډته ۱۴۳
درواغجن خوبونه: ۱۴۴
د یوې لوبې پای د بلې پیل: ۱۴۸
خام باور: ۱۶۲
کابل کې د پاکستان شارژدافېر، سید فدا یونس: ۱۶۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولو غاړو بايللې جګړه ۱۷۱
د ځمکنيو يتيم خانې ناکامه لوبه ۱۸۰
د ارګ پر لور - د مرګ پر لار: ۱۸۷
خاطره: ۱۹۱
له برخليک سره لوبې: ۱۹۱
يو تخت څو پادشاهان ۲۰۲
تنظيمي جګړې او د سولې هڅې ۲۰۶
د خبرو او عمل توپير: ۲۱۰
په جنتي وطن کې دوزخي لمبې ۲۱۵
جلال آباد جګړه ۲۲٤
ناکراره تلوسه: ۲۳۸
د مرګ کومې: ۲۳۹
خونړۍ منګولې: ۲٤۰
د مرګ سفر، د هوايي ډګر پر لور: ۲٤۵
د مرګ منظر ۲۵۲
مرګونې پوښتنه: ۲٦۳
د ګرونګو شرنګ: ۲٦٤
درواغجنه هيله ۲٦٦
وېرووونکې خوښي، د ويرې په تيارو کې: ۲٦۸
د مرګ پر پوله: ۲۷۲
ترخې شپې، خواږه يادونه: ۲۷۳
د اندېښنو توپاني څپې: ۲۷۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی ازاد شول: ۲۷۷
د وحشت دېوان، د ښاپېریو په هوس کې: ۲۷۹
اسیر کابل ، آزاد یادونه: ۲۸۹
له قانونی سره لیدل: ۲۹۲
ضایع شوي کتابونه، اسناد او خپرونې..... ۲۹٤
اختر د ویر او غم په تیارو کې:..... ۲۹۷
په بې قانونه دستګاه کې قانوني اکټونه: ۲۹۸
په ارګ کې د واکمنۍ زېړه پانه: ۳۰۱
دفاع وزارت کې د ګټې او بایلات حقیقت: ۳۰٤
د مسعود ملاقات: ۳۰٤
د منډیې د تالان ګوانښ: ۳۰۹
په ناقانونه موقف کې: ۳۱۰
له خانقا تر شاهي ارګه ۳۱۳
دوه بېل واقعیتونه؛ یو تریخ حقیقت:..... ۳۱۳
د حضرت صاحب سر مات و: ۳۱۳
د ارګ یو بل انتظار: ۳۱٦
د جنرال مجید راتګ: ۳۱٦
بیا هم د آمر صاحب ملاقات ۳۲۳
وروستۍ پانه د مرګ ګوانښ: ۳۲۹
د احمد شاه مسعود بلنه: ۳۳٤
پر حقاني برید ۳۳۸
کابل هوټل که کاروانسرای: ۳٤٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مرګ په زېري کې د خوښۍ ډزې: ۳۵۰
د دوستۍ تجربه، د دښمنۍ څکه: ۳۵۲
له مسعود سره یوه بله ناسته: ۳۵٤
د حضرت صاحب دماغ خراب دی: ۳۵٤
درنې ډزې؛ سپکې مندې: ۳۵٦
د ګولیو په ګډا کې: ۳٦۱
د ملګرو له قیامت، د ورونو محشر ته ۳٦۱
د فتحې په محشر کې لرزوونکي انکشافات: ۳٦٤
کتابونه په لمبو کې: ۳٦۷
د تاریخ پور: ۳۷۱
یواځینی اتفاق: ۳۷٤
د کابل جمعه: ۳۷۹
د کابل دار: ۳۸۱
خپلمنځي غوسه او د استاد سیاف «نه»: ۳۸۱
د پرون زندان- د نن امان: ۳۸٤
په ارګ کې د اقتدار یو بل څپرکی: ۳۸۵
د سولې نبوونځي کې د علماوو غونډې: ۳۸۹
بیا هم په ارګ کې: ۳۹۰
ترخه ربنتیا ۳۹۵
د علماوو اتحاد ٤۰۰
د شپېتو برېښو ورځ په ورځ کمی دی: ٤۰۰
د استاد رباني غوښتنه ٤۰٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډاکتر نجیب الله د لیدو تلوسه ٤٠٦
د مولانا منصور نیول:..... ٤١٣
د حکمتیار لیك: ٤٢٠
د سولې پر ښوونځي برید: ٤٢٤
کرایي جنګیالي ٤٢٦
پر خره سپرېدل یو شرم کوزېدل بل..... ٤٢٩
تفسیر از کلمه (سوء تفاهم) ٤٣٢
نگرشی کوتاه بر متن ورق پاره ای تحت عنوان (تفسیری از کلمه سوء تفاهم): ٤٣٧
د ایډیالوژیو اغېز:..... ٤٤٠
لوړه بیه ٤٤٢
پاکستان ته د جنرال دوستم بیول..... ٤٤٧
د خبرو بل پړاو: ٤٥٠
اصلاحي شورا ٤٥٠
د حقاني صاحب له اړخه مخابره کې له حکمتیار سره اړیکه: .. ٤٥٥
دا واري نوې پرېکړه: ٤٥٦
مطبوعاتي کنفرانس کې د مولوي حقاني د وینا غټ ټکي: ٤٥٩
همغږی شورا کې د حکمتیار، دوستم او مجددي ائتلاف: ٤٦٢
شرمېدلې ملګرتیا؛ وحشتناکه دښمني ٤٦٥
د کفر بله فتوا ٤٦٩
د پغمان او چهار اسیا کتنې:..... ٤٦٩
د ارګ بله نندارە: ٤٧٣

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګولیو لپونی خندا: ٤٧٧
حل و عقد که د پول نقد شورا: ٤٨١
د مولوی حقاني دریځ: ٤٨١
له سده وتلی ٤٨٩
زور حقیقت نه دی ٤٩٤
څه کېدی شي، څه کولی شو...؟ ٤٩٤
د مولانا فهیم بنډار: ٤٩٦
له پیسو خالي بانکونه: ٤٩٨
په یوه بنه د څو کرنسیو چلښت: ٤٩٨
ناکامه تجربه: ٥٠١
د حکمتیار ملاقات ٥٠٣
د کابل د ناپوځي کېدو وړاندیز ٥٠٣
د تېښتې حقیقت ٥١٠
د استاد رباني ملاقات ٥١٥
چهار اسیا ته تګ ٥٢١
لیک؛ زما کمزوري ٥٢٤
د یوې اوونۍ یرغمل ٥٢٨
له مزاري سره؛ ٥٣٣
د خبرو ترجمه ٥٤٤
جنرال دوستم ته نوی وړاندیز: ٥٤٥
د تخریبي هڅو مرګونې بېلګه: ٥٤٧
فطرت ٥٥٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

تریخ حقیقت: ۵۵۱
د محمود میستري او حقاني ملاقات ۵۵۳
د حل او عقد درامې تمثیل ۵۵۸
د مولوي حقاني دریځ ۵٦۷
د جګړو بل پیل ۵۷۵
د اسلام آباد ترون کې د قاضي حسین احمد او جنرال حمیدګل رول: ۵۷۷
اسلام اباد ترون ۵۸۲
مصلحینو شورا ۵۸۹
د قصر نظر بندي ۵۸۹
جلال اباد ترون ۵۹۸
درس که فرش...؟ ٦۰۳
لاسلیکونه- انځورونه...؟ ٦۰۸
د ارګ شپه ٦۱۵
مسلمان زړه؛ پښتون تفکر ٦۲۵
جهاد هغسې فساد دغسې: ٦۳۲
محکوم، مجبور او اسیر کابل: ٦۳۵
غله مخونه، د کاني زړونه ٦۳۹
خدای پامان ٦٤۱
غبرګون: ٦٤٤
جرګې د جګړې اور ګل کړ ٦٦۰
سوځنده سیوری: ٦۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه جلا پیغامونه ٦٧٠
یو لیك څو وړاندیزونه ٦٨١
د جنرال لیك ٦٨٢
د پښور صرافان؛ د کابل خبرونه ٦٩٢
مرده به دست زنده ٦٩٦
زپړه کودتا ٦٩٩
د جمعیت اعلامیه کې د نوي ٧٠٢
مشرتابه اعلان ٧٠٢
د پاڼ پر ژی: ٧٠٤
واقعي یې لا پاتې دي....؟ ٧٠٤
پښتلیک ٧٠٧

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپلابي اوبو کې جل وهلې تنده

دا د هغه مهال یادښتونه، برداشتونه، انګېرنې، خاطرې، یونلیکونه او د سیاسي سوچ خورې ورې نخچې او زاویې دي چې ژوند بایلله، مرګ ګټله. د هغه وخت فکري مود او سیاسي فېشن ډیزاین چې وخت یوازې د مرګ بربوکی الوزولې او د ژوندانه دنیاګی یې د وحشت له دوړو او خځلو ډکوله.

مور برباد نسل هم دغو څپو په خورا بې دردی یوه بله خوا غورځولو - د ساحل په تمه مو کله سرونه له کمرونو سره لګېدل، کله به د نهنګونو او مګرمچو خولو ته لوېدلو...

لکه د سپلاب اوبو کې جل وهلي تږي چې د سرابونو په لالهاندی او بې دمې ستومانی اوښتي وي...

دغو بربوکیو زمور سترګې له خاورو خځلو ډکې کړې، خو له خپلې مخې یې کاږه نه کړو، خپله لاره یې را نه ورکه نشوای کړای ...

دا یوه کیسه هم ده - د یوه مجاهد ولس د مېرانې حماسه او پر دغه اتل ولس د تپلیو مشرانو د ذهني پستی او سیاسي خواری شر مناک داستان ... هغه چې جهاد یې له لاسه پر فساد واوښت، پر اسلام او افغانیت یې بولی ولګوله، خپل خلک یې له یرغلګرو په زیات قساوت او شقاوت وځپل - د خپل مېرني ولس د عزت او عظمت شمله یې د پردیو پښو ته ټیټه کړه، ملي، ديني او افغاني ارزښتونه یې په خورا نامردی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليلام کړل ...

په حقيقت کې دغه يادښتونه د اسلام او جهاد تر نامه لاندې د ملت پر مړی د چارې راکښلو د خونړي فلم د ځينو صحنو نندارە دە، د مرګونو پېښو او پرمختياوو نيمګړي او تت تصويرونه، د هغه پرون تصويرونه چې تر نن يې د وحشت تيارې غځېدلې او لا سبا شوی نه دی...

دغه ياد دښتونه هماغه وخت احمد ضياء بابري په مکنتاش کمپيوټر کې کمپوز کړي وو، هغو ورځو کې چې کمپيوټر پښتو توري نه لرل، د احمد ضياء په ګوتو د دغو يادښتونو پروف له ما په ليږد را ليږد کې بې درکه شول - دوه کال وړاندې چې پر يوه بله ورکه پسې ګرځېدم پر دغو کاغذونو ور پېښ شوم.

يا خدايه! اوس په دې څه وکړم ...؟

د دغو پانو په موندلو ما ته ځان داسې برېښېده لکه خپله لمن پر سر اړوم ...

له سره د پروفو کمپوز اسانه، نه وو، چې يو خو يې پښتو توري نلرل - بل د پروفو تصحيح له لوستو ايستې و.

روښنا وردګ خور ته مې مخ واړاوه، له واره يې نښه کړه، په لنډ وخت کې يې پروف را وسپارل، خو زه لندن ته ولاړم، په راګرځېدو د ناروغۍ يوې بلې څپې لاندې کړم، تر هغې مې چې پروف لوستل د روښنا لپ تاپ ټول متن خوړلی و.

دا ځل مې اسد جان ته غاړه کږه کړه- ده قاري صاحب ته د پانو سپارلو حکم راکړ - ما په تلو کې قاري صاحب ته د پروفو پانې ولېږلې، خو له ولايت زما په راګرځېدو يې لا کمپوز بشپړ شوی نه و - نژدې کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ګران عبدالهادي سره پاتې وو چې دی په لوست او ازموينو بوخت و، ما د کتاب له کمپوز د ده لوست او کاميابي درنه ګڼله ...

له پروفو کمپوز خورا زړه خوږينې چاره ده، زه له روشنا خور او عبدالهادي مننوی يم. د کتاب د پيل برخه نقيب الله مل کمپوز کړې دغسې حبيب جان هم د پروفو تصحيح کې ډېره خواري کړې د دوی مننه پر ځان پور ګڼم. زه دا منم چې دغه يادښتونه د پرون په مود او منطق راګرځي - متن، موضوعات او اودن پرېږده، سرليکونو کې هم ما کوم بدلون نه دی را وستی، دا مې غوره بللې د پرون ناخوالې په هماغه کاني تول ته کېږدم... لوستونکي ښايي پرون، د پرون له زاويې و ارزوي د نن له عينکو دې نه ګوري، د پرون کاني تله دې پسې راواخلي هماغه څپه او سياسي فېشن پام کې ونيسي، پرون ته خپل سر ور دننه کړي، نن ته يې را نه ولي ... قضاوت د لوستونکي حق دی - ځکه خو ما د ښه او بد له قضاوت او احساساتو پرته خپل يادښتونه ليکلي او را غوند کړي دي.

وايي اختر چې تېر شي نکريزې پر دېوال تپئ... که دغه پانې پر دېوال تپلې نکريزې راخېژي، پر رنګ او سوروالي يې سترګې نه شي پټېدای ... همدا سرخي د ملي مبارزې سورمخي ده. کتاب له ولسمشريزو ټاکنو دمخه چاپ ته چمتو و، خو د ملګرو له دغې اندېښنې چې کېدای شي منځپانګه يې د ټاکنيزو ټکتونو پر خلاف وکارول شي، له ټاکنو وروسته کړ.

خو ټاکنو مود يو ځل بيا د تاريخ د تکرار له نخرې سره لاس و ګريوان کړو. په کومه شرمېدلې ښه چې جهادي مشران د پېښور ګورنر هاوس، بګراميو، اسلام اباد کې د ترکي الفيصل، جنرال حميد ګل، اعجازالحق،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوازشریف، غلام اسحق خان پر وړاندې ګډ شول، د اوباما، جانکیري، یانکویچ، نیکولاس هایسم او ... په مخ کې هم په هغه بڼه نڅا تر سره شوه. د اسلام، جهاد، شریعت له شعارونو سره د دیموکراسۍ، مدني حقونو د خلکو ارادې ته د درناوي هغو حساب او انجام برابر وخوت ...

اوړه دې په اوړه منت دې په څه ...؟

د پرون لوبه د نن له ډرامې سره څومره ورته وخته ...؟ یوازې د ریفري او پروډیوسر توپیر ... له انلوګ ډیجیټل ته د لوبې او ډرامې د نندارې فرق ... زمور ملت چې وار په وار د انقلاب، کارګر، خواریکښ ... جهاد، اسلام، شریعت او دموکراسۍ په نامه یرغمل دی، زاړه ګنا کاران غواړي له سره د ملت اراده برمته وساتي ...

یو ځل بیا دغه یادون ته ورګرځم چې د دغو یادښتونو د چاپ یوازینۍ موخه په تورو تکو د پېښو او پرمختیاوو د انځورنې هڅه ده - نه د چا د محکومیت او برأت نیت ...

که دې کې کوم رنګ رونبانه، شوخ او یو نیم تت او تیاره راغلی وي لامل یې زما کمزوري ده چې پر یادون یې سترګې نه شوای پټېدای.

دغه پاڼې زما د ژوند د ضایع شوې برخې هغه پانګه ده چې له مودو زما د زړه او اوږو بار ګرځېدلی ... له لوستونکو منه که د دغه باره په اوچتولو کې یې را سره مرسته کړې ...

له دغو یادښتونو ځینې ما خپل ځان لپاره کښلي، مانا د خپل پام غلطولو لپاره... په بله وینا دا هغه وخت زما فیسبوک او ټویټر دی ... ۲۹ کتابچې، ډایرۍ مې له دغسې یادښتونو ډکې دي ...

یو ځل مې زړه کې راتېره شوه چې له سره یې و کاږم ، نه پوهېږم همداسې به ښه وو، که له سره مې لیکلي وای ...؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډايري به څه ډول کاږي ...؟ چې هر چوکاټ ته يې غورځوې په هماغه يوه جولۍ کې به يې په راټولولو ځان اړ ګورې، چې دا ستا ټکي خبرې نه بلکې هغه څه دي چې تا ليدلي اوږدلي دي ... بيا هم له بده بخته چې زمور پرون سبا شوی نه دی، د نن څېره تته او پټه ده، زمور ارزونه او قضاوت هله متوازن او ريښتينې راختی شي چې پرون له ټولو کردارونو او کرکټرونو سره له هغسې عينکو وګورو چې د راتلونکي لپاره تړې د عبرت درسونه تر لاسه کړای شو - که نه د پرون د کړاړې او وينو تړې دښتې ستومانه سفر به مو کله هم دمه شوی نه وي.

له لوستونکو د هر ټکي او خبرې د منلو هيله نه شم پاللی چې دا کوم تاريخ نه دی، زما خپله مشاهده ده، د کمزوريو، تېروتنو اړخ يې جوت دی، له ليدليو هغو پرته نورې زما خپلې اندازې او اټکلونه دي، ډېری سرچينې را نه هېرې دي، په تسلسل کې يې هم ستونزې ګورم ځينې پرمختياوې له موضوع سره د اړيکي له مخې تکرار راغلې، چې دغه ياددښتونه ما په پانې پانې، لارو، موټرو - منډه او پټه کښلي دي.

بې کمپوزه نور يادښتونه مې پرېښودل، که ژوند و، هغه به بل ټوک کې را غونډ کړم - وګورو يوويشتمه پېړۍ کې د شلمې هغه څنګه لګي...؟

څکه خو له درنو لوستونکيو وار له مخه بښنه غواړم.

يار زنده صحبت باقي

ياد ماضی عـــــذاب ہے يا رب

چين لے مجھ سے حافظه ميرا

٦/٢٠/١٣٩٣

ننګيال

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیمګړي رښتیا

رضا علي عابدي په دې اند دی چې ژورنالست ښایي زړه ونلري... ددې مانا دا نه ده چې بې زړه یا ډارن وي... مطلب د اچې د ده موخه رپوټنګ او خبر دی، دا نه چې د غمخونکو، بوږنوونکو پېښو په لیدو له خواشینۍ په اه، اوف لګیا اوسي.

زړه ونه لري، دا چې په چا بد نشي، دلته زړه هغه خندۍ دی لکه سیاست کې سړی ورسره په جنجال اوښتی وي.

یوه نیمه لسیزه وړاندې د BBC فارسي څانګې لطف علي خنجي یو حیرانوونکی لیک لوست:... تاسې په مرګونو، زخمونو او یجاریو کې موندلې.... پر همدې د خپلې روزې ګاډی چلوی، خدای(ج) به داسې ورځ را نه ولي چې کراره کراري وي او تاسې د خبر لپاره څه ونه لرې....؟

خنجي ویل: پر موږ دغسې ورځ وار له مخه راغلې... هغه ورځ دومره په خیر او کرار تېره وه چې پروګرام خپراوي ته چمتو و، موږ خبر نه و موندلی...

یو بهرنۍ ژورنالستې ته مې افغانستان کې د زېږون پر وخت د میندو د میرنې کچه یو څه مبالغه ۴۵ سلنه ښوده... په لنډه یې راپرې کړه : بچي دې نه راوړي...

لکه ژورنالستان رښتیا زړه نه لري.

ځینې حقیقتونه افسانه وګرځي، خو ځینې افسانې حقیت خپړي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه چې له کابل وتم، کابل ناکرار و، خو کابل اباد و.... چې بېرته ورته راوګرځېدم کابل ویجار و... زما په مخ کې وران شو، ما په خپلو سترګو د کابل ورانی لیده، زما پر وړاندې کابل ورانېده... د کابل بربادي ما په خپلو سترګو لیدله...

کابل د خپلو فاتحانو د هوس قرباني و، دا د کوم پردي هېواد یرغلګر نه وو، چې پر کابل یې د توغندیو، لوټماریو او وحشت قیامت راټیټ کړی و. د خپل هېواد، خپلو خلکو د فتحې په هوس کابل کې د مرګونو او بربادیو هنګاه توده وه. زه خپله د مرګ په منظره او تجربه اوښتی وم... زه مړ وم، خو د بیا بیا مرګ لپاره ژوندی پاتې وم...

د کابل کیسې ډېرې دي، یو وخت د کابل کوټوال مشهور و، بیا یې ښاروال یادېده... کوټوال په زور، ونیسه وټړه... ښاروال په خدمت...

ښاروال کابل ورغاوه- له پامیر سینما تر حضوري چمن یې واټ ویوست دومره پراخ چې پامیر سینما سره به سړی ودرېد حضوري چمن یې لیدای شوای. د میوند واټ یې نوم شو.

له میوند واټ یې تر پښتونستان څلورلارې نادر پښتون واټ وغزاوه. ښاروال به کرۍ ورځ په دوړو خاورو کې له کارګروو سره لګیا و. غرمه به یې له ګندنې سره ډوډۍ تاووله... مرحوم غلام محمد فرهاد یادوم، د کابل لومړنی اتنخابي ښاروال.... څکه خو کابل هر چا ته غېږه پرانیستې وه، ټول دغه غېږ کې بسیا وو. د هندو، مسلمان، پښتون هزاره، ازبک هتې څنګ په څنګ خوندي وې. د یو بل عقیدې او ژوند دومره درناوی چې د روژې غرمه کې هندوانو دوکانو ته پردې نیولې. هندو مسلمان پښتون، تاجک هزاره په ګډه په مینه د ژوند ارابې ته دیکه ورکوله- چا د بل سر کې مېخونه نه ټک وهل، د مړي رقص دود نه و، له چا غوږونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوزې نر پرې کېدې، په تازه مېوو کې يې زهر نه پيچکاري کول....

د کابل د ويار او خونښيوو کيسې ډېرې دي، د ودان سمسور کابل خاطرې ژوندۍ دي، خو دا وخت کابل زخمي دی، د کابل ښايست شهيد دی کابل کنډاواله دی، هديره دی. ډار ، وېره، وحشت د کابل برخليک گرځېدلی، لکه د مغولو، چنگيز هلاکو لښکر پر کابل ورختلی...

د کابل فاتحانو نوم لگي، د هيبت او وحشت کيسې يې خپرې دي...

زه ظاهرا په وران ويجار کابل کې ژوندی گرځېدم، خو دننه مړ وم، لکه فلمو، ناولو کې چې يو مړی او لاش راپاځېدلی وي، گرځي... چې دلته «رقص مرده» دود و، ځکه خو زه تر اوسه مرم... کله په يو لاس کله په بل، نن د يوه په گولۍ سبا د بل، لکه د بيا بيا مرگ لپاره ژوندی پاتې وم... لکه هغه مجرم چې قاضي په يوار په شل ځلې اعدام محکوم کړی وي.

ما د کابل همد غسې مرگ او محکوميت ليدلی... د شېرپور مرگ، د ميوند واټ جنازه د چندولو تالان، د دارلامان لوټمار، د چهلستون بربادي.... هغه وخت چې شور بازار کې د ژوند مړی زيندی وه، يواځې د بارودو او گوليو انگولا گډه وه...

د ډاکتر صمد علي حکمت کتنځی کنډواله، د حسين حسرت معاينه خانه ويجاړه وه... خرابات نړېدلی،،، د استاد سراهنگ او استاد رحيم بخش مېنې ويجاړې دي.... بارانه کوڅه کې تيغلي بگلامي بگلامي چيغې نه وي، کافروشۍ کې د خليفه رازق دوکان درې پرمخې پرته وه...

سرچوک کې د ملا ازبک دواخانه د موتي سېنګ مطب نړېدلی، د کرم چند د ټوکرانو دوکان لوټ دی...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د صدارت له څلور لارې د رام پرکاش عکاسخانه او د پانو څای ورک دی... د حضوري چمن سینه تانکو شودیاره اړولې- د جشن سیمه وحشت پر سر اخیستې، کابل نندارې، بهزا،د فرخي سیمنا کنډواله ده.

پر حبیبه، غازي، رحمان بابا، خوشال خان لېسو د توغندیو خولې ښخې دي.

نادرشاه روغتون، ابن سینا.... کې د مرګ اتن ګډ دی، پر کابل پوهنتون د وحشت دیوانو ګونډه وهلې...

کابل له جګړو ویجاړو او له جګړمارو لوټ دی... د جنګیالیو، ملېشو، مجاهدینو، جګړه مارو هر یوه خپل قیامت دی... کابل زخمي دی، د کابل ښکلا پر هر ده.

فاتحان یو په بل پسې پر کابل، د کابل په واټونو، کوڅو راڅغلي کابل برباد دی...

کلونه تېره شول، خو زما د وطن د وینو داغونه تازه دي، وینې بهېږي، زخمونه ناسور دي.... د پرهرونو خولې خلاصې دي.

د غمیزو، بربادیو او جنګیالیو یواځې بنې او څېرې بدلېږي، په نویو شعارو او څېرو د مرګ او وحشت لوبه توده ساتي....

د ازما د وطن تپلی برخلیک دی... خو زما ملت ژوندی دی، د نړۍ هر هېواد چې دومره اوږده موده له مرکزي حکومت، نظام او سیستم بې برخې پاتې شي، ژوندی او متحد نشي پاتېدای.

افغانستان د لوي هېواد او افغان د ستر ملت په توګه ژوندی، یو موتی هېواد او ملت دی....

زما په سینه کې زړه دی... یوازې د سیاست سینه له زړه تشه خېژي... ځکه خو په ګرانه د زړه خبرو ته ورماتېدای شي... خو قلموال

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زړه له منلو نشي تېرېدای، د زړه اوري، له زړه وايي او د زړه مني، له زړه مجبور وي... چې قلمونه د زړو په وينو چلېږي... د قلم پر تقدس الله تعالی لوړه کړې. نه يوازې قلم بلکې د ټکو او لفظون پر حرمت هم...

پر دې جګړې همېشه له بري پرته غزېږي... د دغو جګړو بری هم ماتې راوځي هره غاړه ځان ګټونکی ګڼي، خو دواړو بايللې وي... دلته بری يوازې خوب پاتې شي، د حقيقت تعبير نشي ترلاسه کولای.

د بايللې جګړې نيمګړي رښتيا!

دا زما خپل رښتيا دي، زه منم دلته د هر چا خپل رښتيا دي. خو زما رښتيا د بل درواغو له پاره نه دي... قضاوت د لوستونکي حق دی.

د وخت جبر، مسلط اختناق، ترينګلي حالات او ډار زما هغه کمزوري او پره ګرځېدلی چې ددغو يادښتونو په ليکلو راغونډولو کې يې زما پر وړاندې کومي شلولې... ځکه خو لوستونکی ښايي ((بين السطور)) خپله را وباسي... دا د لټون تجسس او جستجو هغه صلاحيت دی چې لوستونکي خپلو راپورته کړيو پوښتنو ته پر ځواب اړباسي... د ((بين السطور)) د لوستو لپاره د سر پر سترګو سربېره د زړه سترګو ته هم اړتيا ده... هيله ده د زړه په وينوو کښلې دغه پانې د زړه په سترګو وګورئ.

ښښنه غواړم که د زړه خبرې پر مغزو ښې ونه لګي...

د بايللې جګړې نيمګړي رښتيا

درمیان قـــهر دریا تخته بندم کرده ای

باز میگوی که دامن تر مکن هوشیار باش

۱۳۷۴/۱/۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

له پردي تيري تر تنظيمي جگړو (مذاکرات)

ملګرې ملتونه، سيمه ييز ارخونه کورني مرکچيان

د افغان ربړې اواری لومړی پلا د ژېنو مذاکراتو تر سرليک لاندې ۱۹۹۲کې د ملګرو ملتو لخوا نژدې شپږ کاله وشاربل شو.

د خبرو پروسه د ملګرو ملتو سرمنشي خاوېر پېرېز ډېکوېلار ځانګړي استازي کوردوويز پر مخ وړه، د ۱۹۸۸ د اپريل ۱۴مه يو ترون دريو سندو کې، څلورو تنو هر يوه د کابل له ارخه د بهرنيو چارو وزير عبدالوکيل، د پاکستان بهرنيو چارو وزير زين نوراني، د امريکا بهرنيو چارو وزير جورج شولتز او د شوروي اتحاد بهرنيو چارو وزير اډوارډ شېواردنادزې په لاسليک اعلان شو.

ژېنو خبرو افغانستان کې د سولې په پرتله د شوروي پوځيانو وتلو ته د لارې برابرېدو موخه لومړی ګڼله، پاکستان د مداخلې مخنيوي د ((رسمي پولو)) تر منځ د ډېورنډ ټپلې کرښې د رسميت پېژندلو په نيت د ربړې يو لوری برمته کړی و.

کابل له دغو خبرو سره د خپل مشروعيت ثابتولو هيلې پېيلې وې، امريکا خپلو اوږدمهاله موخو او ګټو ته لار، لوري او ګودرونه کتل -

(c) ketabton.com: The Digital Library

څکه خو د ربړې اواري ته سالم میکانېزم او د جګړې د پای ته رسېدو لومړیتوب ته له هماغه پیله نه دا چې په ټیټه وکتل شول بلکې له سره د خبرو اجنډا کې نه و نیول شوې.

ژېنو خبرو یوازې له افغانستان د شوروی لښکرو وتلو ته مخه ورکړی شوه، جګړه یې پای ته ونشوی رسولی، د دغه ټرون په مټ د ۱۹۸۸ د می له پینځلسمې د شوروي عسکرو وتل پیل او د ۱۹۸۹ د فبروری پر ۱۵مه بشپړ شول، خو جګړې دوام ومونده، سوله را منځ ته نه شوه او یو ناپېیلی حکومت جوړ نکړی شو - د ژېنو مذاکراتو اجنډا کې د جګړې مخنیوي، د سولې ټینګښت او ناپېیلي حکومت جوړېدن ځای نه شوی لرلی، چې د خبرو اړخونو او بهرنیو ځواکونو خپلو ګټو او موخو ته د رسېدو هیلې پاللې، ځکه خو د شوروي عسکرو له وتلو سره نه دا چې جګړه پای ته ونه رسېده بلکې لا پسې وغځېده او خونړی شوه.

د ژېنو مذاکراتو بهیر کې کوردویز افغان ربړه ۹۵ سلنه اواړه اعلان کړه، چې له املې یې د کډوالو تر منځ د بېرته ستنېدو تلوسه دومره وغوړېده چې ډېری کډوالو د خپل بار بستر را غونډولو تابیا نښودله.

استاد پژواک له حقوقي او دېپلوماتیک پلوه له هماغه پیله دغه پروسې ته ګوته ونیوه، افغان مجاهد او مجاهد ولس کې یې په دې اړه په پاخه سیاسي منطق او ملي لیدلوري ولاړې لیکنې خپرې کړې چې د ولسمل په اهتمام هماغه وخت په کتابي بڼه چاپ شوې.

استاد پژواک په هر ډول منځګړیتوب او اواري کې د افغانانو د ملي ارادې د درناوي غږ پورته کړ او د پاکستان له خوا یې د افغانانو استازیتوب مردود ګانه. له بده بخته تنظیمو د استاد پژواک له سیاسي بصیرت، دېپلوماتیک منطق او ملي درایت ګټه پورته نکړی شوه، په وچ

(c) ketabton.com: The Digital Library

او شعاري مخالفت ودرېدل. لکه څنګه چې افغانستان د امریکا له لاسه د شوروي کومي ته ولوېد، دغسې د ملګرو ملتو کاواکیو د افغانستان ربړه د یوه بل شر غیږې ته وروغورځوله.

استاد پژواک تر نړیوال نظارت لاندې یوه ځانګړي کنفرانس چې لاندې ارخونه پکې برخوال وي وړاندیز درلود...

۱- د ملګرو ملتو د امنیت شورا دایمي غړي.

۲- ټول افغاني ګوندونه/ تنظیمونه د خلق، پرچم په ګډون د ګوند په توګه، نه د حکومت.

۳- د اسلامي کنفرانس استازي.

۴- د ایران، پاکستان استازي.

د وړاندیز له مخې ملګري ملتو ښایي د سولې لپاره د ټکر د مخنیوي په موخه خپل ځواکونه چمتو او د آزادو ټاکنو د څار لپاره یو پلاوی ټاکلی وای په دې شرط چې د افغانستان ګاونډیان د ملګرو ملتو ځواکونه او ټاکنو پلاوي کې برخه ونلري، د ټاکنو پایلې باید ملګرو ملتو تضمین کړې وای. عبوري حکومت ښایي د اساسي قانون مسوده رامنځ ته کړي او د لویې جرګې جوړېدو ته مخه پرانیستې وای...

د امریکا او پاکستان هوس د شوروي په ماتې نشوی خړوبېدی، ځکه خو پخپلو ژمنو نشوی درېدی.

سیمه کې د شوروي او امرېکا د موخو، ګټو او غوښتنو توپیر څه کېدی شوی...؟

سړی ویلی شي چې امریکا د بل پر اوږه د توپک اېښودو پالیسي پامور ګوري...

لویدیز او امریکا وار له مخه د شوروي تیري پر ضد د افغانانو جګړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کمونېزم او اسلام جنګ ګرځولی، څکه خو جګړه د افغانانو له ارادې دباندې وغځېده... امریکایي او لویدیز سکالران- پروفیسوران د اسلام او جهاد په لیکچر بوخت وو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

له همدې ځایه وه چې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه جنګیالي دغه جهاد ته راوبهېدل. هېڅا ددغو جنګیالیو سبا ته ونه کتل... که ددغو جنګیالیو اجنډا د افغانانو له هغې سره په ټکر کې راوځي، امریکا به د خیر غوښتل ته ختلی وی...؟

ضیاءالحق غوښتل ټرون د مجاهدینو مشرتابه لاسلیک کړي، که نه وي لږ تر لږه د مجاهدینو پلاوی ژنیو کې وي، خو مولوی خالص د اتحاد د مشر په توګه نشوای چمتو کېدای ژینو ته ولاړ شي. جنرال ضیاء له ده وغوښتل د ژینو سفر او د سند لاسلیک ته غاړه کیږدي، خو خالص له ریاست استعفا وکړه.

حکمتیار د اتحاد موقت مشر شو، خو وړاندې له دې چې د مجاهدینو پلاوی ژېنو ته ولاړ شي جونیجو د ژېنو ټرون لاسلیک کړ - ده د جنرال ضیاء الحق د خوښې پر خلاف په ټول ګوندیز کنفرانس کې د ژېنو ټرون د لاسلیک موافقه تر لاسه کړې وه - له همدې امله ضیاء الحق د ده حکومت ړنګ کړ. خو د ژنیو ټرون لاسلیک شوی و ...

له دې دمخه د اوجړې کمپ «د افغان جهاد د وسلو او مهماتو ډیپو» د چاودنې پر پلټنو د جونیجو ټینګار، د ملکي حکومت او جنرالانو تر منځ ترینګلتیا غوړولې وه... خو د ژېنو ټرون پر لاسلیک بیړې د جونیجو حکومت تغر ور ټول کړ...

که ژېنو ټرون کې د ناپېلي-موقت حکومت ټینګښت پامور بلل شوی وای، ښایي د وروستیو جګړو او بدمرغیو مخه نیول شوې وی. والله اعلم

په دننه کې د پخلاینې او روغې جوړې هره هڅه د مقابل لوري پر حذف او تسلیمېدو را ګرځېده. د کابل سوله د مجاهدینو د تسلیمېدو او واک کې د ګډون په غوښتنه را ټوله وه، مجاهدینو کابل رژیم ایله د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بښني وړ ګڼلی شوی..

یوه غاړه هم په مناسب وخت د ناپیلي حکومت ټینګښت ته نشوی ورګرځېدی، هرې غاړې له سولې خپل ناسم تعریف او تصویر درلود، چې د سولې ټولمنلی او رښتینی تعریف نشوای ګڼل کېدای.

مجاهدین او کابل رژیم دواړه داخلي اختلافاتو او دلبندیو د پټو معاملو او توطیو په شر او د ملي ګټو او ارزښتونو پر سر د بې توپیرۍ او سوداګرۍ په هوس اړولي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد عبدالرحمن پژواک او شهرت ننگیال- پیښور/ ۱۳۶۷ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې خبر په ګمراهيو د رنا شوم
زه د ستورو له کاروانه را جلا شوم
د سحر ستوريه پرېوځه چې سبا شو
زه په ټولو رهبرانو ناويسا شوم

«تقويم الحق کاکاخېل»

بې منزله لارې

۱۳٦۵ لمريز کال د افغانانو د مقاومت د عروج کال و، روسانو زمور پر هېواد د پوځي تيري اوم کال پوره کاوه، وخت د روسانو پر زيان و - هره شېبه چې تېرېده، له يوه نوي ګوزار سره مخامخېدل، نړۍ د تيري کوونکيو په توګه محکوم کړي وو. له بلې خوا د جګړې د ډګر تاوانونو د روسانو پر اقتصاد ملا ماتوونکي ګوزارونه کول.

د پخواني شوروي اتحاد د بهرنيو چارو وزير شېواردنادزي وويل: شوروي اتحاد کال کې لس مېلياردې ډالر د افغانستان په جګړه کې تاوان ګالي.

روسان د عصبانيت او غوسې په حال کې وو. هغوی خپلو اسلافو او په افغانستان کې خپلو اجنټانو ته په قهر وو او له هغوی يې له وضعې نه د وتلو ابتکار غوښت، د هغه وخت شوروي واکمن ګورباچوپ په خپلو پوځونو فشار راوړ، د جګړې د چټکتيا او لا وحشي کولو قوماندې يې ورکړه او د مقاومت ځپلو لپاره يې د ټاکلې مودې کرښه تېره کړه. د دې تر ځنګ يې د خپلو ګودامونو په منځ کې بدلونونه هم پامور ګڼل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له همدې ځایه وه چې په کابل کې د کمونېست ګوند مشرانو هم د قدرت لوبه توده کړه، هر مشر او د هغه ګروپ غوښتل ځان ګورباچف او د هغه نژدې ملګرو ته د نوې وضعې او حالاتو په غوښتنو او د روسیې د ګټو په کانې پوره ثابت کړي. ډاکټر نجیب د خپل ځانګړي استعداد او مهارت له مخې د خاد شبکې له نژدې اړیکو په ګټه پورته کولو د ګورباچف مغزو ته د دغې خبرې په رسولو بریالی شو چې دی د راتلونکي پراو لپاره له نورو زیات اغېزمن ثابتېدای شي. دا داسې وخت و چې په شمال کې د احمدشاه مسعود او روسانو د موافقې له مخې اوربند و او د جګړې ټول لنګر د هېواد په ختیزو، جنوبي او جنوب لوېدیزو سیمو پروت و.

ډاکټر نجیب په ډېره ځیرکتیا له دې ګټه پورته کړه او ګورباچف ته یې د یوې غونډې د وقفې په منځ کې په داسې حال کې ځان ورساوه چې هغه د تفریح لپاره قدم واهه.

نجیب الله ګورباچف ته وویل: اوس ټوله جګړه او مقاومت د پښتنو په سیمو کې روان دی، دی (نجیب) له دې امله چې پښتون دی کولی شی د مقاومت شدت راکم کړي، په دې ډول نجیب له دغه فکتور د یوې مهمې نقطې په توګه د ګورباچف د پام اړولو په برخه کې استفاده وکړه.

له بلې خوا د شوروي زوړ قیادت د ماضي برخه ګرځېدلې وه، ګورباچوف د ځوان زعامت نوې ځېرې راتولې کړې وې، افغانستان کې هم د دغسې تجربې له اړتیا سترګې نشوی پټېدی.

د ۱۳٦۵ په پسرلي کې د خلق دموکراتیک ګوند اتلسم پلینوم جوړ شو، د دغه پلینوم په پایله کې ببرک کارمل لېرې او ډاکټر نجیب د ګوند عمومي منشي وټاکل شو. که څه هم دغه پرېکړه په مسکو کې شوې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د ګوندي پلينوم د پرېکړې پرتوګ ورواغوستل شو. په راډيو ټلوېزيون کې د اشرارو نوم په اپوزيسيون واوښت. ډاکټر نجيب له اپوزېسيون سره د ډيالوګ شعار خپل کړ. د نوې اساسي قانون او ملي پخلاينې پروسه يې رامخې ته کړه او هغه ناپېلي شخصيتونه چې دوی ته نژدې بلل کېدل په کابينه کې شامل کړل.

د ببرک کارمل پلويانو د نجيب دغه کړنې او تګلاره د ګوند له اساسي تګلارې انحراف او په اصطلاح د کارګرې طبقې له ايډيالوژۍ سره خيانت وباله او تر همدې نامه لاندې يې د خپلو افرادو او پلويانو سازماندهي پيل او د نجيب د پرځولو لپاره په ليکو جوړولو لاس پورې کړ.

له دې سره په کابل کې د کارمل پلويانو مظاهره وکړه، مظاهره کې د ظاهر طنين رول څرګند و، يو شمېر نجونو ارګ ته په ننوتلو د ګورباچف او ډاکټر نجيب پر ضد شعارونه ورکړل. په دې توګه د ډاکټر نجيب پر خلاف د کارمل ډلګي د څرګندې دښمنۍ لومړی ګام واخېستل شو.

نجيب له دې پرته بله لاره نه درلوده چې د روسي پوځيانو له وتلو سره موافقه وښيي، خو د ببرک کارمل ډلې له افغانستان نه د شوروي پوځيانو وتل د ثور انقلاب ماتې او يو تاريخي خيانت ګانه، سليمان لايق بي بي سي ته په يوه مرکه کې وويل کله چې ګورباچف له افغانستان نه د خپلو پوځيانو د وتلو خبره رامخې ته کړه د کارمل څېره توره وايښده، وارخطا شو، لړزه پرې ګډه شوه، ګورباچف ته يې وويل: اګر اکنون از افغانستان قطعات نظامي اتحاد شوري فراخوندە شود، رهبری شوروي بار ديګر مجبور خواهد بود تا يک مليون سرباز به افغانستان داخل کند - دې ته ورته خبره ډاکټر نجيب هم په خپله يوه مرکه کې يادە کړه. ببرک کارمل درې مياشتې په شوروي اتحاد کې وځنډول شو، ډاکټر

(c) ketabton.com: The Digital Library

نجيب ته په پوځ او نورو دولتي ارګانونو کې ميدان خالي و، دغه وخت ډاکټر نجيب لپاره ضروري وه په ګوند او وسله والو ځواکونو کې خپله اتوريته پياوړې او د هېواد د لومړني شخصيت په توګه ورته د تبارز زمينه برابروي، په دې توګه عملاً د ګوند او حکومت لومړی درجه شخصيت وګڼل شو.

ببرک کارمل د شمال لپاره يو ځانګړي پوځي او سياسي تشکيل منظور کړی و، د دغه تشکيل نوم "د شمال قوماندانې" و، "د شمال قوماندانې" مشر سلطان علي کشتمند و چې د ستم او پرچم د اهدافو پلي کولو ته يې نوې لارې په نښه کولې.

د شمال قوماندانې فوق العاده امکانات او امتيازات په واک کې لرل چې د شمال د ټولو فاشيستي کړيو د نښلولو پر پروسه يې کار کاوه.

مخکې تر دې چې په روسيه کې د ګورباچف مرستيال "ګينادي يانايف" په مشری افراطي کمونېستان کودتا وکړي، د دې زمينه برابره شوه، چې کارمل بېرته هېواد ته ستون شي، چې کله افراطي کمونېستان په روسيه کې واک ترلاسه کړي د کابل واګې به کارمل ته سپارل کېږي.

ببرک له نجيب سره ژوره عقده درلوده، ده پوځ او ګوند کې خپل پلويان تنظيمول او غوښتل يې که ممکن وي د تشکيلاتو له لارې او که نه د پوځي اقدام له لارې نجيب له قدرت لېرې کړي.

"آيا نجيب را ميشناسيد؟" کتاب خپراوی:

په شوروي کې د يانايف د کودتا له خبر سره په کابل کې د پرچم او ببرک پلويانو دغه حرکت د خپل بري په توګه جشن ونيو، خو کله چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کودتا د ماتې خبر خپور شو، کارمل د شوروي کمونېستانو په مرسته د اقتدار له ترلاسه کولو نهیلی شو، خو واک ته د رسېدو له هڅو او یا لږ تر لږه له نجیب الله د غچ اخېستو له کومښښونو لاس په سر نشو.

کابل کې د واک شخړو د قومي او ژبنیو اختلافاتو بڼه خپله کړه - چې د وخت په تېرېدو یې د پېښور تنظیمو باندې هم خپل سیوری وغوړاوه - عبدالحمید محتاط (۱۹۸۸دسمبر) فرخار کې له مسعود سره خپل درې ورځنې ملاقات کې پر ډاکټر نجیب الله د قبیله سالارۍ د تورونو غوټه پرانیسته.

د دغو هڅو د ځنځیر یوه کړۍ د سمتي او ژبنیو تمایلاتو نه ګټه پورته کول وو، په کابل او پېښور دواړو کې دغه تمایل او حساسیتونه وپارول شول چې په لومړي سر کې یې د ستم او پرچم یا په بله وینا د رباني - مسعود او کارمل د ډلو تر منځ د ګډو کومښښونو مزي وغځول.

د ډاکټر نجیب الله ورور صدیق الله چې احمد شا مسعود له پنجشیره پاکستان ته ولېږداوه، I.S.I ته وسپارل شو، ای. ایس. ای د جمعیت په همکاری پر صدیق الله "آیا نجیب را میشناسید" تر سرلیک لاندې کتاب وکیښ چې لومړی پلا آی ایس آی او دویمه پلا د جمعیت فرهنګي دفتر په لور شمېر چاپ کړ. دغه کتاب ظاهراً د ډاکټر نجیب پر خلاف لیکل شوی خو ډېر ځایه تر پلاله لاندې اوبه تېرې شوې او دغسې مطالب پکې ځای شوي چې د پښتنو د کلتور، توهین او سپکاوی ګنل کېږي. په دې توګه د ستم، پرچم او جمعیت یوه بله ګډه فلمي سناریو را منځ ته کړای شوه. ډاکټر نجیب الله، احمدشاه مسعود ته یوه لیک کې I.S.I ته د صدیق الله د سپارلو ګیله او پېغور ورکړ. د ده په خبره صدیق الله به یې د ده پر خلاف کارولی و، خو د یوه افغان په توګه به

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې I.S.I ته د سپارلو ناڅواني نه کوله.

د ډاکټر نجیب الله د ورور صدیق الله له را تګ سره پېښور کې د احمد شاه مسعود میرنۍ ورور ډګروال دین محمد تری تم شو- د ده ورکېدل ځینو پر حزب اړول، خو ډېری ورته د صدیق الله له راتلو سره په اړیکه کتل.

صدیق الله له پاکستان لویدیز ته په کډه کېدو، د سیاست او رسنیو له یاده ووت...

د ډاکټر نجیب الله او روسیې تر منځ د بدګومانۍ واټن:

د شوروي پوځونو له وتلو، امریکا کابل کې په ځانګړو مراسمو د خپل سفارت په ټرلو غونښتل د رژیم سقوط باوري کړي ... ځکه خو یې د سفارت له انګړ د خپل بیرغ په ډراماتیک کوزولو د ډاکټر نجیب الله نسکورېدل اعلان کړل... روسانو غونښتل د هېواد ختیز او جنوب سیمو د سولې تر نامه لاندې وسله وال ځواکونه کابل ته ولیږدول شي چې د کابل دفاع شونې شي که داسې ونشوه دغه ټول ځواکونه د هېواد په شمال کې ځای پر ځای او شمال د هېواد د پلازمېنې په توګه اعلان شي، په دې توګه به شمال د پوځي او ګوندي ځواکونو فعال مرکز او د جنوب د ازادولو غښتلی سنګر وګرځي.

ډاکټر نجیب د دغه پلان په وړاندې منفي دریځ درلود او هغه یې په یوه بله بڼه د هېواد د وېشنې هڅه ګڼله.

له همدې ځایه وه چې د ډاکټر نجیب او روسیې تر منځ د بدګومانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

واټن زياتېده. ډاکټر د دلوې ۲۶ مه د ملي ژغورنې ورځ وګڼله او د ۱۳۷۰ لمريز کال د جدی په ۲۵مه يې خپله وينا کې وويل: د بهرني يرغل پر وړاندې د افغانانو ملي پاڅون د دلوې په ۲۶مه بريالی شو. په همدې مهال د روسيې سفير له ډاکټر نجيب سره د بهرنی ليدنې غوښتنه کړه او دی يې د روسيې پر ضد په لمسون تورن کړ.

ډاکټر د ډيپلوماتيکي پوستې له پلټنې چې د روسانو له خوا کېده ډډه وکړه او د دغه پوستې د لېږد کړښه يې د شوروي اتحاد پر ځای هندوستان وټاکه.

له بلې خوا د مسکو او ايران له نژدې کېدو ډاکټر نجيب ته داسې اطلاعات ورسېدل چې په روسيه کې له چاپېدونکو افغانيو يو شمېر په حيرتان کې ځينو دولتي او مخالفو قوماندانانو ته ورکول کېږي چې يو شمېر نورې پر ډالرو له بدلېدو وروسته زېرمه کېدلې. له دې پرته له قرارداد نه د باندې وسلې او مهمات هم حيرتان ته لېږدول شوي وو، له همدې ځايه وه چې ډاکټر نجيب په کابل کې د مسکو سفير ته د مزار له قونسل شکايت وکړ...

د ايران رول:

ايران د تېلو د ناپايه زېرمو په لرلو روسيې ته لکه سعودي د امريکا لپاره حيثيت درلود ځکه خو د افغانستان په ربړه کې د يوه ځواکمن لاس په لرلو فعال پاتې شو.

په دې لړ کې له امريکا سره د ايران دښمني هم د شوروي اتحاد دريځ پياوړی کاوه چې د ايران لپاره ښه چانس ګڼل کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرانسه هم له مسعود او ايران سره د نښو اړيکو له مخې پر دغه ليکه مله شوه، همدا فرانسه وه چې خميني د شاهنشاه پر خلاف ترې د انقلاب قومانده ورکوله. ايران يوه بله کړۍ کې ((د سلطانعلي کشتمند، عوض نبي زاده، خادم بېګ او جنرال غلام سخي په ځايولو سربېره)) نصر، پاسداران، نهضت اسلامي، شورای اتفاق، دعوت اسلامي، جبهه متحد اسلامي... دلې په وحدت ګوند کې راټولې کړې، ايت الله محسني د ايران فشار ته غاړه کېښوده... دده په خبره د وحدت ځينې مشران له کابل دستور اخلي... ځکه خو پېښور ته د خپلو تشکيلاتو په لېږد اړ کړل شو...

(۱۵ مارچ ۱۹۹۱ فرنټير پوسټ)

د سلطانعلي کشتمند ورور اسدالله کشتمند چې په ايران کې د ډاکټر نجيب شارژدافير و، ښله دې چې رژيم، سفير او د بهرنيو چارو وزارت په جريان کې واچوي له ايراني لوري سره د سلطانعلي کشتمند ځانګړي مراسم تاوده ساتل، پر دغه ټکي له خبرېدو سره ډاکټر نجيب، کشتمند له صدارت نه ګوښه او فضل حق خالقيار يې د هغه پر ځای صدراعظم وټاکه، کشتمند هم له ګوند نه خپله استعفا اعلان او په يوه مرکه کې وويل: ((له فکري اړخه له وحدت ګوند سره ټراو لري خو تشکيلاتي اړيکي يې ورسره نه شته.))

په دې توګه يوې خوا ته امريکا، سعودي او پاکستان او بلې ته ايران، روسيه او فرانسه يوې نوې لوبې ته د خپلو لوبغاړو تر شا ودرېدل، مسعود او رباني له دواړو غاړو سره د تفاهم او اړيکو کانالونه پرانستي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له څلوېښتم لښکر سره اوربند:

په ۱۹۸۰ کال کې احمدشاه مسعود له شوروي څلوېښتم لښکر سره اوربند وکړ - دا چې د اوربند زمینه د چا په هڅو را منځ ته شوه، منځګړي یې څوک وو، ډېرې خولې ډېرې خبرې - څینې رپوټونه په دغه موخه کابل ته د احمدشاه مسعود راشه درشه په ګوتو کوي، چې د تأمل وړ ګنل کېږي، خو د عبدالحمید محتاط، دستګیر پنجشیري رول او اغېز پامور حقیقت را ختلی شي.

د مجاهدینو تر منځ له حکمتیار پرته له شوروي لښکرو سره د احمدشاه مسعود اوربند کوم غبرګون را منځ ته نشوی کړی، حزب اوربند د جهاد او د مجاهدینو پر ضد توطئه وګڼله، چې په مټ یې مسعود د مجاهدینو څپلو فرصت تر لاسه کړ.

دلته وه چې شورویانو، جنوب، لویدیز او ختیز کې د جګړې اور ژبغړانده او دغو سیمو کې د نویو او پراخه بریدونو ستراتیژي پلي کړه.

د اوربند ټرون کې مسعود ژمنه کړې وه چې شوروي پوځي کتارونه به دده له واک لاندې سیمو خوندي تېرېږی، پر وړاندې یې شوروي ارځ مسعود ته د لوژستیکي او خوراکي توکیو مرستو ته خپله ژمنتیا څرګنده کړې وه.

لکه دمخه مو وویل له حزب اسلامي پرته جهادي تنظیمونه پته خوله پاتې شول - په داسې حال کې چې له رژیم سره د اړیکو شک نه بښونکی جرم او ملي خیانت پېژندل کېده اودغسې یو تور د ژوند بیه او د رټلو او ترټلو نغد سند ګرځېدی شوای، خو احمدشاه مسعود د مجاهدینو، پاکستان او نړیوالو لخوا له کومې پرې، ګوتځندنې او ګوتنیونې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخامخ نشو، له همدې فرصت په ګټه اخیستو مسعود د نظار شورا تشکیلاتو او جمعیت د برمته کولو مخه ومونده او د رژیم دننه یې د کودتاګانو زمینه تر لاسه کړه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د رژيم دننه ډلبندی

۱۹۸۸ د دسمبر په لومړيو کې عبدالحميد محتاط له کابل مزار او له هغې د دريو خرخکو په بدرګه تخار ته ولاړ، د تالقان - په خواجه غار کې له کېناستو وروسته چورلکې بېرته مزار ته ستنې شوې - دلته محتاط او داؤد د ارباب سکندر په ملتيا د احمدشاه مسعود له يوه قوماندان ګدا سره وکتل له يوې لنډې دمې وروسته يې د فرخار ورسج کې دری ورځې له احمدشاه مسعود سره تېرې کړې.

محتاط دنده لرله شوروي دکتورين احمدشاه مسعود ته تشريح کړي - ده احمدشاه مسعود ته پر دې ټينګار کاوه چې د ډاکټر نجيب الله پر ځای له شوروي اړخ او رژيم له ځانګړيو کړيو سره اړيکي او پوهاوی پامور ګڼي - ده مسعود دې ته ور مات کړ چې له شوروي لوري سره مخامخ ليده کاته وکړي - موافقه وشوه چې د ګورباچوف له ځانګړي استازي جنرال ورينيکوف او کابل کې شوروي سفير يوري ورنتسوف سره وګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

محتاط ژمنه وکړه چې دوو اونيو کې به يې له شوروي لوري سره مخامخ ناستې ته زمينه برابره کړي، چې جنرال ورينيکوف او يولي ورنتسوف پنجشير کې له مسعود سره کيني.

مسعود د کابل حيرتان لارې د پرانېستو ژمنه ورکړه - دغسې يې د تالقان ذخيره باغ کې د ځای پر ځای شوې پوځي قطعې کلابندي ماته کړه. جنرال ورينيکوف د يوه ماهر روسي نقاش په ګوتو د احمدشاه مسعود جوړ شوی انځور چې پر سپين اس سپور ليده کېده او د يوې ښکلې تابلو بڼه يې لرله د سوغات په توګه چمتو کړ - انځور دومره ښکلی او طبيعي ښکارېده لکه ژوندی مسعود د سړي په وړاندې دی.

عبدالحميد محتاط د مسعود پر وړاندې نجيب الله د ده پر قومي او قبيلوي ګرايشاتو تورن کړ - ده د مسعود پر وړاندې دا خبره راپورته کړه چې ګني «نجيب الله با مبتذل ترين نوع غرور ملي که در ساختار عقب مانده نظام اقتصادي و اجتماعي جامعه قبيلوي پشتونها نهفته است اغشته است - وی هميشه به اين مباهات دارد که بگويد: تاسو د هغو ننګيالیو پښتنو بچيان ياست ...»

محتاط، احمدشاه مسعود ته د ده په وينا له هغو توطئو پرده پورته کړه چې ګني نجيب الله غواړي يو ځل بيا افغانستان کې د قبيلوي نظام پايښت باوري کړي، ځکه خو دا ارينه ده چې له شوروي اړخ سره اړيکو او تفاهم ته ور وګرځو او د نجيب الله د قبيلوي نظام د پايښت توطئه شنده کړو.

۱۹۹۰کې چې احمدشاه مسعود له تخار، پنجشير ته خپل هېډکوارټر ولېږداوه، بهرنيو چارو وزير عبدالوکيل ته يې ليک ولېږه - د ليک را ليک فضا محتاط برابره کړې وه - دلته وه چې د ډاکټر نجيب الله پر خلاف په کور دننه توطئو څپې توپاني کړی شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شوروي او احمدشاه مسعود تر منځ پوهاوی او اړیکي نوړې هم وغوړېدې - د شوروي د ځلوېښتم لښکر قوماندان جنرال ګروموف مني چې له افغانستان د عسکرو له وتلو دمخه له مسعود سره توافق ته رسیدلي، خو د توافق پر څرنګوالي څه نه وایي، یوازې دا ټکی را اخلي چې مسعود به نور پر شوروي پوځیانو برید نه کوي او شوروي به د ده لوژستیکي مرسته کوي.

ځومره چې د مسعود ځواکونو غوښتي وای له شوروي کتارونو خوراکي لوژستیکي... مواد پخپله خوښه ترلاسه کولای شوای... اړیکې دومره وغوړېدې چې شوري قرارګاه د نظار شورا قوماندانانو په لاسلیک د ټولو اسنادو په مجرا ورکولو مکلفه ګڼل کېده...

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې تعبيره خوبونه

تنظيمونه د اقتدار په ناندريو او سيالیو لګيا وو، ښاغلي سياف د جهادي تنظيمو دننه نويو انشعابونو ته په لمن وهلو د تنظيم زېږونې پروسه غښتلې کړه. د محمدي له حرکت انقلاب اسلامي، مولانا نصر الله منصور او رفيع الله مؤذن د ښاغلي سياف په مرسته د جلا جلا ډلو بڼه خپله کړې وه. مولوي محمد مير د نجات ملي جبهې په نامه د ښاغلي مجددي له تنظيم نه د رابېلې شوې ډلې مشري کوله، په حقيقت کې دغه درې واړه ډلې د ښاغلي سياف پر محور څرخېدلې.

د شوروي يرغل په لومړيو کې چې استاد سياف له زندان ازاد او پېښور ته رسېدلی و، استاد رباني د جمعيت لومړی مرستيال اعلان او له خپله اړخه د افغانستان د ازادۍ لپاره اسلامي يووالي مشرتابه ته کانديد کړ - د ده په ګټه يې د مجددي تنظيم يوه رايه رانيوه.

استاد سياف د اتحاد رياست په مټ د جلا تنظيم پلان له جمعيت د مخکښو کسانو په را ښلولو پيل کړ، دغسې يې د مجاهدينو پر دغه اتحاد هم چې په اووګوني مشهور و ګونډه ووهله.

((د افغانستان مجاهدينو اسلامي اتحاد)) په دوه نيم کلن ژوند کې ښاغلي سياف ته د منشعبو ډلو ډېر افراد په ميراث ورسېدل، مولوي محمد مير له خپلې ډلګۍ سره د اتحاد په تنظيم ورګډ شو، مولانا منصور او رفيع الله مؤذن د ښاغلي سياف له کړۍ نه په واټن نيولو دې ته اړ شول د ايران په مرستو خپل موجوديت ژوندی وساتي، دلته وه چې د اتحادونو او ائتلافونو تجربې يو پر بل پسې له ناکامۍ سره مخامخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې، د روسي پوځونو له وتلو وروسته د نوي پراو لپاره جهادي مشرانو او قوماندانانو د بېلا بېلو پلانونو او دريځونو په غوره کولو ځانونه د وروستۍ ګټې لپاره چمتو کول - له رژيم سره له پټو او ښکاره اړيکو راواخله له ډاکټر نجيب سره تر ليدنو کتنو پورې هڅې په تېزۍ روانې وې. حزب لومړۍ په عراق او دويم وار ليبيا کې د نجيب رژيم له استازو سره خبرې کړې وې، پير ګيلاني هم له نجيب سره بغداد او سويس کې کتلي وو. د صبغت الله مجددي ورور قدرت الله مجددي فرانسه کې له نجيب الله سره پټې ناستې لرلې... ددغو پټو اړيکو لړۍ په دې راتوله وه چې ډاکټر نجيب الله پخپله ګټه د واک پرېښودو جوړجارې ته ور مات کړي. په بله وينا تنظيمي مشرانو د ځان په ګټه د واک لپاره له کابل سره د پټو اړيکو مسابقې ته دنګل، که وکړای شي له ډاکټر نجيب الله واک د ځان لپاره غصب کړي... په دې توګه د تنظيمونو مشران له وړاندې د اقتدار د خوبونو په تعبير پسې لالهانده وو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د واک لېوالتيا

د شوروي عسکرو د وتلو اعلان تنظيمونه د حکومت جوړولو په نوي هوس واړول ... په داسې حال کې چې تنظيمي اتحادونو پايښت نشوای کړی، د هر اتحاد له ګډې د نوي تنظيم پښې راوتلې ... ځکه خو د حکومت جوړونې د تجربې تر شا هم د يوه پراخ ملي سياست او لرليد پر ځای د انحصار منګول ټينګه وه ...

اتکل بلکې باور دا و چې د شوروي پوځيانو په وتلو د ډاکتر نجيب الله رژيم د خو اوونيو ميلمه دی، له همدې ځايه وه چې تنظيمو وار له مخه د واک تر لاسه کولو بېلابېل تمرينونه پيل کړي وو ...

دغسې فرصتو ته په کتو تر ټولو اړينه هڅه د مجاهدينو موقت حکومت جوړول و. جلا وطن حکومت يې ځکه نشوای بللای چې د هېواد نوي سلنه خاوره يې خپل واک کې ګڼله ...

پېښور مېشتي تنظيمونه د خپل واک له احتمالي ننګونو هم اندېښمن وو، له همدې امله يې د تنظيمي انحصار او حاکميت د خوندیتوب په موخه د موقت حکومت لپاره يوه کمزورې اډانه را منځ ته کړه ... د دغه کاواکه ګام له امله اعلان شوي حکومت نه د کډوالو، نه هيواد کې د ننه مجاهدينو او نه هم سيمه ييزه او نړيواله کچه کوم پرستيژ او باور تر لاسه کړای شو چې له امله يې حکومتي تشکيلات يواځې د کاغذ پر مخ او پېښور تر دوو دفترونو پورې محدود پاتې شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ١٣٦٦ لمريز د جوزا په لومړيو کې د انجينر احمدشاه احمدزي په مشرۍ د مجاهدينو لومړی موقت حکومت اعلان شو ... انجينر صاحب د غبرګولي په ٢٩ مه خپله ١٢ کسيزه کابينه چې د دفاع، کورنيو، بهرنيو، مالۍ، بيا مېشتېدنې او ودانولو، ښوونې روزنې، عدليې، پلان، دعوت او ارشاد، روغتيا وزارتونو راټوله وه، اعلان کړه ... د حکومت مشر پر دوو مرستيالانو سربيره ټولټال ٢١ وزارتونه او ٥٧ کسيزه شورا چې دوه دوه غړي يې له هر ولايت، ٩ تنه له کډوالو، ٩ تنه هېواد کې له قوماندانانو يا د هغوی له استازو او ١٩له علماوو پوهانو جوړه شوې وي پام کې نېولې وه...

د شوروي لښکرو د وتلو په درشل کې امريکا او پاکستان د يوه جدي سياسي ګام په توګه د مجاهدينو له دواړو اتحادونو د يوه پراخ موقت حکومت لپاره په ١٣٦٧/١١/٢١ نېټه د اسلام اباد مدينه الحجاج کې له هر تنظيم شپېته شپېته تنه د تنظيمي مشرانو په ګډون مشورتي شورا کې راټول کړل.

٦٠ تنه ايران ميشتو تنظيمو ته سهميه وټاکل شوه، خو هغوی ١٢٥چوکۍ غوښتې، تر هغې چې په ٨٠ سلا شول ...

د امريکا ځانګړی استازی ټامسن ... جنرال حميدګل او بېنظيربوټو په نژدې اړيکه کې وو ... تر دې چې د خپلو دفترونو ځانګې يې حاجي کمپ کې پرانيستې وې ... ماته يوه دوست په دې اړه د بېنظيربوټو د ځانګړيو يادښتونو ويلي چې خورا په زړه پورې دي، خو ما تر اوسه نه دي موندلي... د بېنظير چاپ شويو يادښتونو کې دغه پرمختيا ته مازې اشاره او سرسري يادونه شوې ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشورتي شورا او د مولوي حقاني فارمول

حاجي کمپ (مدينة الحجاج) کې د سلواغې له ۲۱ مې د کب تر لومړۍ غونډو کومه پايله ورنکړه ...

استاد سياف ويل د انجينر احمدشاه احمدزي تر مشرۍ لاندې موقت حکومت شته بل ته اړتيا نه ليدل کيږي ... له اوږده بحث وروسته وپټيل شوه د انجينر احمدزي حکومت له مشورتي شورا د باور رايه واخلي، چې تر لاسه يې نه کړای شوه ...

يو ځل بيا ډب را منځ ته شو ... مولوي جلال الدين حقاني د هلمند نسيم اخوندزاده ته وويل چې مشرانو ته اخطار ورکړي ... نسيم اخوندزاده خپله وينا د مشرانو په غندلو پيل کړه ... په هغسې ټکو چې يوه مشر هم پورته نشوای کتلی ... ده مشران په سخت غبرګون و ګوابنل. د نسيم اخوندزاده وينا د شورا په غړو کې هم نيوکو ته مخه ورکړه. د امريکا سفير، جنرال حميدګل او بېنظيربوتو ستومانه شوي وو، د شورا ګډونوال هم بې حوصلې وو ... ځکه خو يې د کب پر دريمه مولوي حقاني ته د وروستۍ پريکړې او اواري توی وړی واک ورکړ.

مولوي حقاني د کب پر ځلورمه خپل فارمول وړاندې او پر همدغه ور ځ ټاکنې ترسره کړې ..

ډب له دې امله غزېدلی و چې له هر تنظيم (٦٠) استازو د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنظيم مشر ته رايې ورکولې، ځکه خو اکثريت چا نشواى ګټلاى ...

مولوي حقاني خپل فارمول کې د شورا غړو ته د دوو رايو حق ورکړ، طبعي وه چې يوه رايه يې د خپل تنظيم مشر او بله هر مشر ته چې غوښتي واى ورکولى شوى... په دې توګه هر مشر چې د دويمو رايو دېرى تر لاسه کړې وې د حکومت مشرتابه او دويم هغه د صدراعظم چوکى ګټلى شوى ...

حضرت صبغت الله مجددى ۱۷۴، سياف ۱۷۳، مولوي نبي ۱۳۹، حکمتيار ۱۲۶، خالص ۱۰۲، رباني ۹۹، ګيلاني ۸۹ رايې واخيستې ...

ملي جبهې ته له مشرتابه سربېره روغتيا وزارت او اتحاد ته له صدارت علاوه د مخابراتو وزارت ورسېد. د نورو تنظيمونو درې درې وزارتونه په پچه وختل...

دفاع، علمي تحقيقات او کرنې وزارتونه حرکت ته، سرحدات، خارجه او عدليه حزب ته، داخله، حج او ملي امنيت خالص ته، بيا ودانولو، دعوت او ارشاد او معادن جمعيت ته، ستره محکمه، ښوونه روزنه او ماليه محاذ ته...

مولوي خالص پخپل وړانديز سياسي زلزله رامنځته کړه- ده د ښځو لپاره داسې وزارت وغوښت چې له A تر Z ټول کار کوونکي يې ښځينه وي.

د کب پر ۲۶د پکتيا شيوه کې کې (دکربنې ۱۳ کيلومترى کې) کابينې خپله لومړى نمايشي غونډه وکړه ... خو حکومت داخل ته ونه شواى لېږدېدى، چې جلال آباد يې ونشواى نيولى، هماغسې د پېښور حويليو کې پاتې شو...

د ۱۳۶۸چنګابښ کې د تخار له پېښې سره چې د حزب سيد جمال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولید په کې د جمعیت یوه ډله قوماندانان یوه کمین کې ووژل، استاد رباني حکومت کې د حکمتیار تعلیق وغوښت. حکومت د تخار پېښې پلټنې ته له لاندې کسانو پلاوی وټاکی: مولوي قلندر، مولوي محمد سرور، مولوي محمد عمر، مولوي عبدالبصیر، مولوي عبدالرحیم چترالي او ډاکتر عبدالله عزام ...

ددغې پېښې وروستی پرېکړه د پلاوي او پلټنو پر ځای د محمد یونس قانوني تر مشرۍ ځانګړو تحقیقاتو کې چې د سید جمال په اعدام منتج شوه پلې کړی شوه ...

حکمتیار په دې تکي چې ټاکلې موده کې ټاکنې ونکړی شوې له حکومته ووت ... قاضي نجی الله د عدلیې وزیر په توګه د حکومت انحلال اعلان کړ... خو حکومتي تشکیلات یې منحل نکړای شول ... حکومت راکد پاتې شو ... ادم نشته بوی یې شته ...

د جنرال تنې ناکامه کودتا:

د جنرال شهنواز تنې او ډاکټر نجیب الله تر منځ اختلاف د دافع هوا قوماندان جنرال ولي شاه تنې پر سر را پورته شو- ولي شاه له حکمتیار سره اړیکي ټینګې کړې وې، اړیکي د ډګروال سید نعیم شاه په مټ غزېدلې. ډګروال سید نعیم د ولي شاه یو لیک حکمتیار ته وړی و- ځرنګه چې حکمتیار پاکستاني مقاماتو ته پوځ کې د خپل اغېز او نفوذ په مټ د کودتا ټټر وهلی و، ځکه خو یې له I.S.I د ځانګړو شونتیاوو غوښتنه کوله- حکمتیار د جنرال ولي شاه لیک د خپلې مدعا د اثبات لپاره پاکستاني مقاماتو ته ورکړ- هغوی د خپلو چېنلونو له لارې د لیک

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاپي د ډاکټر نجيب استخباراتو ته ورسوله، خاد د دغه ليک له مخې جنرال ولي شاه او ۳۶ پوځي افسران ونيول- د مرغومي لومړيو کې کابل راډيو يوه اعلاميه خپره کړه چې د کودتا د هڅو په تور يې ۱۳۰ ملکي او پوځي مامورين نيولي دي.

ډاکټر نجيب الله په دې اړه خپله وينا کې وويل: . .. دغه ډله له حکمتيار سره پېيلې وه، غونښتل يې دفاع وزير شهنواز تنی ووژني ....

د دوی په وينا دغو کسانو کې ۴۸ تنه ګوندیان هم برخوال وو...

جنرال تني له دې وړاندې نيوکه لرله چې دفاع وزارت منسوبين هغسې امتيازات نه لري چې د خاد کارکوونکي او ګارد خاص افراد پرې نازولی شي- په داسې حال کې چې د جګړې بار د پوځ پر اوږو پروت دی، ده د لوړپوړيو افسرانو له ټاکنې او ترفيعاتو هم ګيله لرله چې خوښبه يې پامور نشي ګنل کېدی- دا ټول يې د خلقيانو پر ضد توطيه ګڼله.

جنرال شهنواز تنی په ټوله معنا يو عسکر و، پوځ کې د زړور، مسلکي او له فساد پاک جنرال په توګه پېژندل کېده - چې ټوله موده يې فېلډ يا د جګړې په لومړۍ کرښه کې تېره کړې وه، ده ځان د انقلاب رښتينی مدافع ګاڼه او ځان ته يې حق ورکاوه خپلې مسلکي چارې د چا له مداخلې پرته ترسره کړی شي.

د جنرال تني او ډاکټر نجيب الله اختلاف مياشتې مياشتې دوام درلود- شوروي سفارت ظاهراً دوه واړه هڅه وکړه د دوی تر منځ روغه وکړي، خو ونه توانېد.

شاهنواز تني تينګار کاوه چې نجيب الله بې ځايه دفاع وزارت چارو کې لاسوهنه کوي- ده د جنرال ولي شاه تني خوشي کېدو غونښتنه کوله، خو نجيب ته خاد کره اسناد وړاندې کړي و چې له حزب سره يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کودتا لپاره د جنرال ولي شاه پېلتيا ثابتوله.

د خاد تر څنګ اصف دلاور، نبي عظيمي او له احمد شاه مسعود سره پېلو جنرالانو هڅه کوله د جنرال تني او ډاکټر نجيب الله تر منځ ترينګلتيا وغزوي- له همدې ځايه وه چې ډاکټر نجيب ويل پښتانه جنرالان ورسره په مخالفت ولاړ دي- خو عظيمي، دلاور او بابه جان يې ننګې ته درېدلي- پښتانه مجاهدين ورسره په جګړه بوخت دي، دوستم او مؤمن يې دفاع کوي.

پر دې سربېره د جنرال تني او ډاکټر نجيب الله تر منځ د منځګړيتوب هڅو د دوی تر منځ اختلاف په دښمنۍ واړاوه - عبدالحميد محتاط ((د صدارت مرستيال)) ډاکټر نجيب الله ته ډاډ ورکړ چې کولی شي جنرال تنی سمې لارې ته را وګرځوي - نجيب الله ومنله - محتاط کور کې جنرال تنی مېلمه کړ، خو د روغې او پوهاوي پر ځای يې د اختلاف پر لمبو نور تېل وپاشل، دی وتوانېد جنرال تنی د نجيب الله او نجيب الله د تني پر خلاف ودروي او د پوهاوي دروازې کولپ کړي.

جنرال تنی اوس هم د دې خبرې منلو ته نه شي چمتو کېدی چې ګني د ده کودتا د نظار شورا او جمعيت پلان و، خو حقيقت دا دی چې د شاهنواز له کودتا پوځ کې د تصفيې پانه را واوښته او نظار شورا سره ترلي جنرالان د پوځ پر اعصابو واکمن شول...

له دې يو کال وړاندې پاچاګل وفادار پېښور کې له حزب سره يو ځای شوی و- ده د حزب له شهادت جريدې سره مرکه کې ويلي: ((يا مرد باش، يا در پهلوی مرد...))

لکه دمخه مو نغوته وکړه د جنرال تني له کودتا وروسته پوځ کې د خلقيانو رول بيخي کمزوری کړی شو، د کابل ګارنيزيون سياسي امر

(c) ketabton.com: The Digital Library

تورن جنرال امير محمد او جنرال عبداللطيف (د ډاکټر عبدالله عبدالله ورور) پوځ کې بارز رول تر لاسه کړ- جنرال تنې له ناکامې کودتا وروسته په MU-17 چورلکه کې د برید جنرال غلام رسول په پېلوتۍ د ۱۳۶۸لمريز کال د کب په ۱۷مه پاکستان ته واوښت- دی خپله د الوتکې دهشکې ته ناست و- کورنۍ، دوه یاوران ډګرمن احمدشاه (د جنرال تنې باجه) ډګرمن احسان الله، نیازمحمد مومند او د کابل پوهنتون استاد جیلاني یفتلي په چورلکه کې ورسره سپاره وو- جیلاني یفتلي ددغې کودتا مغز متفکر ګڼل کېده، چورلکه د پښتونخوا جمرود کې کوزه شوه- د ده مخې ته د پاکستان لوی درستیز جنرال میرزا اسلم بیګ او د ISI مشر، متقاعد جنرال شمس الرحمن کالو ورغلي وو- له دوی د ملېشو یوه مېلمستون کې هرکلی وشو- لږ وروسته حکمتیار د مېلمستون پر وړاندې له موټره کوز شو.

جمعیت د کودتا له مسئولیت غاړه غړوله، خو حکمتیار د کودتا مسوولیت ومانه. په یوه بله M.H-12 الوتکه کې د تنې کودتا نور ملګري جنرال عبدالقادر اکا، برید جنرال مېر حمزه، جنرال خواجه محمد، د جګړن ګلاب الدین په پېلوتۍ له کرښې واوښتل ددغې الوتکې کشاف محمد شفیع او انجنیر حاجي سیف الدین و.

پاکستاني رسنیو په هغسې تلوسه د کودتا خبرونه ورکول چې پر بري یې چا شک نه شوی کولی. د جنرال تنې ملګري په دې اند دي چې بګرام هوایي ډګر شوروي الوتکو بمبار کړ- نجیب الله داسې انګېرله چې ګنې د تنې کودتا کې د شوروي اتحاد لاس و.

فقیر محمد ودان ((دشنه های سرخ)) کې د نیازمحمد مومند له خولې کاږي: کابل کې شوروي سفیر زمور غوښتنې او نېوکې معقولې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر ځای بللې- زمونږ په کودتا کې د ده له ډاډ سترګې نه شي پټېدلی چې ورسره جوخت به د کارمل پلویان هم پر پوځي عمل لاس پورې کوي.

دواړه خبرې ښایي حقیقت ولري، شوني ده شوروي، جنرال تنی کودتا ته هڅولی یا لږ تر لږه شنه اشاره ورکړې وي- دغسې یې د کودتا ناکامی کې خپل اغېز کارولي وي، چې د کودتا له ناکامی پوځ کې تصفیې ته مخه خلاصه او له پلان او پروګرام سره سمې پرمختیاوې ګړندی کړی شي. که څه هم په ظاهره شوروي سفارت د جنرال تنې او ډاکټر نجیب الله تر منځ د روغې په نیت دواړه سفارت کې مېلمانه کړل- خو د زړونو خیرې دې کچې ته رسېدلې وو چې دارالامان کې له دفاع وزارت تر شوروي سفارت لار د جنرال تنې ګارډ نیولې وه، جنرال تنی له سفارته په ناوړه حالت راوړل شو- ډاکټر ولایت خان خوستی یې درملنې ته وغوښتل شو. ډاکټر نجیب الله ویل چې تنې ته مې مېلمستیا وکړه- مېرمن مې سره له دې چې ناروغه وه اشک پاخه کړل - خو تنې دې ته ونه کتل ... نجیب الله پر پرچم تکیې ته اړ شو- دا هغه څه و چې پرچم او ستم پر اسمان غوښتل خدای پر ځمکه ورکړل. د جنرال تنې یاور ډګرمن احسان الله چې د خاد افسر ډګروال حبیب الله وراره دی، د خاد او جنرال تنې د اړیکو په ترینګلتیا کې رول درلود- دا خبره ما ته ډګرمن احسان الله خپله وکړه.

دوی جنرال ته د خاد اجرأت د ده او ملګرو پر ضد توطیه ور پېژندل- دغسې یې د خاد له کړنو جنرال ته معلومات ورکول چې له امله یې د جنرال تنې باور تر لاسه کړي و.

ډاکتر نجیب الله د امین پلویان ډاکتر محمود سوما، عبدالرشید جلیلي، جنرال محمد دوست او ... له زندان ازاد او یوه ملمستیا کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنرال تنې په ناڅوانۍ او پاکستان ته په تېښته پر او له دوی د همکاری په غوښتلو د تېر په هېر هیله وکړه ... خو دوی نېوکو ته وروګرځېدل، فضا ترېنګلې شوه ... چې د لسو کالو زندان کړاوونو هغوی همکاری ته نه شوای چمتو کولی ...

پاکستان ته د جنرال تنې په اوښتو له جمعیت او نظار شورا سره احسان الله او احمد شاه نژدې اړیکي ساتلې د احسان الله مستعار نوم احمدضیا و- دوی دواړو ته استاد رباني لویدیز کې د سیاسي پنا لپاره پخپل لاسلیک مکتوبونه ورکړي و.

احمدشاه مسعود له یوې فرانسوی خپرونې سره مرکه کې منلی چې د جنرال تنې له ناکامې کودتا وروسته یې پوځ کې د عملي او پراخ نفوذ او نفوس په موندلو نوي فرصتونه او چانسونه تر لاسه کړی شول.

جنرال تنې د ۱۳۶۸ د کب پر ۲۳مه له ناکامې کودتا اته ورځې وروسته له پېښوره چورلکه کې تړې منګل او له هغې د لوګر دوبندی کې د حزب یوه قوماندان انجنیر احسان الله مرکز کې مطبوعاتي کنفرانس ورکړ- له ده سره جنرال عبدالقادر اکا، نیازمحمد مومند، برید جنرال غلام حضرت مله وو- ده وویل پاکستان ته نه دی تللی- ډاډ یې ورکړ چې عملیات یې روان دي او د هېواد دننه د دغو عملیاتو مشري پر غاړه لري...)

جنرال تنې خبریالانو ته وویل: زمونږ پاڅون په رڼا ورځ د کب پنځلسمه یوه بڼه د لوړ پوړیو ملکي او پوځي کدرونو په ملتیا پیل شو - د پلان له مخې ښایي پلازمېنه او لویو ښارونو کې ملي قیام پیل شوی وی، په دې توګه به زمونږ پلویان له ځایي مجاهدینو سره واک تر لاسه کړی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ده په خبره له مجاهدينو سره يې د پاڅون ګډ پلان نه درلود، خو د حکمتيار له پيغام په ګټې اخيستو له هغو افسرانو سره چې له حزب سره پيلي وو په اړيکه او تفاهم خپل پاڅون پيل کړ.

ښايي ووايو چې له مياشتو د جنرال تنې د کودتا خبرې خوله په خوله ګرځېدې- نژدې دوې مياشتې دغه اوازې خپرې وې، تر دې چې جنرال تنی وار له مخه د اضطراري حالت قوماندانې ايجاد او کابل کې د سنګرونو په جوړولو کار کاوه. خو دا چې دغسې يوه افشا شوې کودتا وار له مخه څرنګه شنډه نه شوه د يوې پوښتنې په توګه پاتې ده.

بن بيلا د الجزاير ولسمشر و، ده ته يې د خپل ملګري حواري بومدين د کودتا راپور ورکړی و، د بن بيلا زړه نه شوای منلې چې انقلابي ملګري دې پرې ور وغورځي- د يوې غونډې پای کې يې له جنرال بومدين په توګه وپوښتل د کودتا چارې کوم ځای ته ورسېدې- بومدين په خندا ځواب ورکړ روانې دي...

څو ورځې وروسته بومدين کودتا وکړه، خو بن بيلا يې په درناوي له هېواده رخصت کړ. د جنرال تنې کودتا اوازې په همدې کچه خپرې شوې وې په دومره توپير چې د بومدين هغه بريالۍ را ووته او د جنرال تنې ناکامه...

د دې لپاره چې جنرال تنی په حتمي توګه د کودتا پلان پلی کړي دوې ورځې وړاندې اوازه شوه چې ګنې نجيب الله د جنرال تنې د ګوښه کېدو پربکړه کړې- ويل کېدل نجيب الله غواړي ده ته د ستر جنرالۍ ترفېع په ورکولو د سياسي بيرو پر اصلي غړيتوب د جمهوري رياست مرستيالي هم ورکړي. لوستونکي ښايي دا پوښتنه پامور وګڼي چې که د جنرال تنې کودتا د جمعيت د پلان له مخې غځېدلې بيا څرنګه د دغه ناکامې کودتا

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسئوولیت حکمتیار ومانه؟

د دغې پوښتنې په ځواب کې ویل کېدی شي چې حکمتیار پوځ کې د خپل نفوذ او اغېز ادعا په زېات رسولې شوای او له بلې خوا يې د خوست په نیولو کې د جنرال تنې رول ته سترګی اوښتی.

حکمتیار د امریکا مخالفت د شوروي اتحاد لپاره ارین باله- ده داسې ګڼله چې د امریکا شدید مخالفت به روسان دېته ور مات کړي چې واک لپاره يې پامور وګڼي.

د تنې له ناکامې کودتا وروسته نجیب الله د پښتنو ټکولو ته ور وګرځېد - ده د شمالي له خلکو مننه وکړه، شمال يې وستایه په دې ټکو چې: ... شمال در سراسر تاریخ کشور ازین خاک مردانه دفاع کرده ... دغسې يې له پیرنګي سره دریو جګړو کې د شمالي مېرانه یاده کړه.

ددغې ناکامه کودتا له لارې پرچم او ستم وکړی شول نجیب الله ته د خوب ګولیو په ورکولو خپلو موخو ته د رسېدو لار تېره کړي.

د جنرال تنې له کودتا، د حکمتیار د ننګې او ملاتړ له امله حزب کې د لورې کچې مخالفت رامنځته او د اجرائیه شورا یو شمېر غړو لکه قاضي نجي الله، ډاکتر انور، مزمل، فیضان، رحمانیار او ډاکتر حنیف... په دغه پلمه له حزب سره پرې کړه...

د قوماندانانو سرتاسری شورا:

قوماندانانو هم چې د هېواد په پوځي او سیاسي حالاتو کې د نویو بدلونونو تښې لیدلې د نوښت په فکر کې وو، دوی داسې ګڼله چې د جګړې زور او فشار پر دوی دی، خو لاسته راوړنې يې د جهادي مشرانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اقتدار غوښتنې له سياستونو قربانيږي، مخکښو قوماندانانو د قاضي امين وردګ کور کې خپلې لومړنۍ ناستې پيل کړې - تر هغې چې ١٣٦٩لمريز کال د ثور په ١٧مه د پکتيا سرحدي سيمه (ژوره) کې د مولوی جلال الدين حقاني جهادي مرکز کې د قوماندانانو غونډه جوړه شوه په دغه غونډه کې نژدې ۴۰ قوماندانانو برخه لرله او د قوماندانانو د سرتاسري شورا په نامه يې د خپلو فعاليتونو اعلان وکړ.

قوماندان عبدالحق خبريالانو ته وويل: موږ خپل کار له غرونو، سنګرو او ميدانو کې له جګړې پيل کړ... له مشرانو مو هم هيله وه چې خپله دنده او مکلفيت تر سره کړي... خو اوس داسې ګڼو چې دا کار هم خپله وکړو... موږ خپلو مشرانو ته غاړه ايښې وه، خو دوی چې متحد نشول موږ مجبور يو خپله د ژغورنې لار ولټوو...

I.S.I له دغه پرمختيا هرکلی وکړ، خو شورا ته يې د سياسي رول مخه ورنکړه.

تنظيمو د يوې نوې ننګونې په توګه د قوماندانانو شورا مخالفت وکړ...

مولوی خالص پيټر تامسن د قوماندانانو شورا په جوړېدو پر او دغه شورا د جهاد د تجزيې هڅه وبلله... دده په خبره امريکا پر هغه رهبري چې جهاد يې پيل کړی غواړي سترګې پټې کړي...

شيخ آصف محسني کوټه کې مطبوعاتي کنفرانس کې وويل: مولوی جلال الدين حقاني د سرتاسري شورا تر نامه لاندې جلا ګوند هڅې پيل کړې دي.

د ده په خبره د امريکا سفير رابرت اوکلی وار له مخه کوټه کې ملا ملنګ سره کتلي او پر حقاني، عبدالحق، احمدشاه مسعود، قاضي

(c) ketabton.com: The Digital Library

امين وردګ او... يې د جلا ګوند جوړولو لپاره ګوته اينبې...

(فرنټير پوسټ ٢٤ فبروري ١٩٩١)

د قوماندانانو سرتاسري شورا خپل تشکيلات ورغول د سياسي کمېسيون مشري يې احمدشاه مسعود ته ورکړه چې د ده په نيابت محمد يونس قانوني د کمېسيون چارې پر مخ وړي، د شورا سرپرست او د نظامي کمېسيون مشر مولوي حقاني وټاکل شو.

د شورا عمده موخې پر يو وخت ټول هېواد کې پر ټاکلو پوځي تأسيساتو د ګډو عملياتو لپاره همغږي وه.

قوماندان عبدالحق، انورخان جګدلک، اختر محمد ټولواک، امين وردګ او ګڼ د سرسر قوماندانانو په غونډه کې برخه لرله.

د قوماندانانو شورا دويمه غونډه چې د حکمتيار له تنظيم پرته د ټولو تنظيمونو ٣٠٠ مشهورو قوماندانانو برخه پکې لرله د ١٣٦٩ لمريز کال د چنګاښ پر دويمه بيا هم په نوموړي مرکز کې جوړه شوه، غونډې درې ورځې دوام درلود، قوماندانانو هر يوه په سياسي او پوځي پرمختګونو خبرې وکړې او د يوې ټاکلې ستراتېژۍ په جوړولو يې اتفاق راغی.

شورا پېښور کې دفترونه پرانيستل، مخابروي چېنلونه يې فعال کړل او د چارو پرمختګ لپاره يې د فعاليت هسته کېښوده، په ټول هېواد کې د پوځي پرمختګونو د همغږۍ لپاره ضرور وه له احمد شاه مسعود سره مخامخ خبرې وشي. هغه دې ته چمتو شو د پاکستان چترال ته نژدې په شاه سليم کې د شورا د کمېسيون غونډه کې برخه واخلي. د دغه کمېسيون مشر مولوي جلال الدين حقاني و، له ده سره په کمېسيون کې قوماندان عبدالحق، قاري بابا، انور خان جګدلک، سيد جګړن،

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاضي امين وردګ، اخترمحمد ټولواک او ګڼ نور قوماندانان شاه شليم ته ولاړل. د پاکستان آی اېس آی په څار کې و، په دغه غونډه کې د هېواد په ځينو برخو کې د ګډو عملياتو خبره وشوه، چې پر يوه وخت به د هېواد په څو برخو کې همغږي بريدونه ترسره کېږي.

احمد شاه مسعود باوري و چې د قوماندانانو شورا به د خپلو پلانونو او اهدافو لپاره استعمال کړي، ده ظاهراً پاکستان ته له تلو ځان غړاوه، ګويا پر آی اېس آی يې خپل قيمت زياتاوه. د ده دغه ډول نازونو وزن پيدا کړ، مسعود، د مولوي حقاني او نورو قوماندانانو د ټينګار او احترام په ښوولو اسلام اباد او پېښور ته ولاړ، اسلام آباد کې يې له پاکستاني مقاماتو سره د پوځ دننه د خپل رول او نفوذ خبرې شريکې او هغوی د دغه راز په شريکولو دده ممنون شول.

د پوځ دننه د رول لوبولو او نفوذ پر سر مسعود له ای اېس ای، درانه امتيازونه او امکانات تر لاسه کړل.

مولوي حقاني په حيات اباد کې احمدشاه مسعود او د ده ۲۰۰ ملګرو ته درنه مېلمستيا کې يو زغروال لنډکروزر سوغات ورکړ.

د باخبره ذريعو په وينا احمد شاه مسعود په اسلام اباد کې له امريکايي مقاماتو سره هم د خولې او تر يوه بريده د زړه خبرې شريکې کړې، ده په اسلام اباد کې د نورو غربي او عربي هېوادو له سفيرانو او رسنيو سره هم د هغوی د مزاج او طبعې بنداروونه ترسره کړل.

مسعود پاکستان ته په تلو دوې نه بلکې دېرې ګټې وکړې:

ملنګه دوې ګټې دې وکړې

يو دې خير ټول کړ بل دې وکړل ديدنونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده له پاکستان نه د پربمانه امکاناتو او امتیازاتو په تر لاسه کولو سره د ډېرو نورو اړخونو پام هم ځان ته واړاوه.

مسعود په لومړي سر کې دقوماندانانو شورا تائید او ټینګ ملاتړ وکړ، تر دې چې په یوه مرکه کې یې وویل: د قوماندانانو سرتاسري شورا په جوړېدو د نظار شورا فعالیت او تشکیلاتو ته اړتیا نه لیدل کېږي.

خوست د ټولو تنده:

په شمال کې کارمل او ځینو نورو فاشیستي کړیو پوره کار کړی و، هلته د دوستم ملیشه د پرسونل او تجهیزاتو له مخې خورا ځواکمنه او عملاً د یوې فرقې تشکیلاتي پولو ته رسېدلې وه.

نجیب چې په اوبو کې په لوټه اېښودو او تېرېدو عادت و، داسې تلقین شو چې په جنوب او ختیځ کې پښتانه د ده پر خلاف جنګېږي خو د شمال ازبک او تاجک یې دفاع کوي، له همدې ځایه وه چې د دوستم او شمال نورو ملېشو ته یې زیات امتیازات منظور کړل.

د ببرک کارمل پلویانو لا پخوا دا خبره کوله چې شرق، جنوب او جنوب غرب جنرالان زېروي او شمال عسکر، دوی د خوست له سقوط وروسته دغه تبلیغات تاوده کړل چې له خوست پښتانه جنرالان ژوندي او سلامت راغلل خو د دوستم د ملېشو افراد مړه یا بندیان شول.

په خوست کې ۱۷۰۰ تنه پوځیان ژوندي نیول شوي وو، په دوی کې ۶۰ تنه پوځي افسران اوه جنرالان هر یو د دفاع وزارت مرستیال دګر جنرال محمد ظاهر سوله مل، د خوست ۲۵ فرقې قوماندان برید جنرال ګل اقا، د دفاع وزارت سیاسي چارو مرستیال برید جنرال مصطفی، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

N٣٢ الوتکو د غونډ قوماندان برید جنرال محمد عظیم، د ملي ګارد د توپچي رئیس ارکان برید جنرال محمد قاسم، په خوست کې د دوستمي ملیشو قوماندان برید جنرال عبدالحبیب او د خوست د ملي امنیت مرستیال برید جنرال جلیل شامل وو.

مور له فرهنګي کمېټې خوست کې د نیول شویو پوځي افسرانو، عسکرو او ملیشو نومړ له تصویرونو سره چاپ او کابل ته په لېږلو د دوی کورنۍ ډاډه کړي... له همدې ځایه وه چې کورنیو یې د لیدو مخه ومونډای شوای.

له دغو اسیرانو ګڼ یې د بېلابېلو مناسبتونو له مخې پرېښودل شول، پاتې ۱۰۰۰ تنه د ۱۳۷۰ لمریز کال د جدی پر ۳۰مه ژوره کې د ځانګړو مراسمو ترڅ کې په داسې حال کې چې یو جوړ جامې، ځپلې، ځادر او ۲۰۰ کلداري هم ورکړای شوې ازاد شول: مولوي حقاني په هغه غونډه کې چې په دې اړه جوړه شوې وه وویل: په تېرو لسو میاشتو کې دغو افرادو د زده کړې په څنګ کې د مجاهدینو خدمت هم کړی، مور دغه تکي په هغو مکتوبونو کې لیکلي چې دوی ته مو ورکړي دي. مولوي حقاني زیاته کړه، مجاهدینو په خوست کې د نیول شویو پوځیانو او ملیشو پر وړاندې له مهربانۍ او مرحمت کار واخیست، حقاني دغو ملیشو، عسکرو ته په خطاب کې وویل، زمور ستاسې مخالفت د رژیم له امله و چې هغه دلته ږنګ شو زمور تاسې دښمنۍ ته نور ځای نه لیدل کېږي- مور او تاسې د یوه وطن او ګډ کور غړي یوو. ښایي ووایو چې زخمیان په هماغو لومړیو کې د ارماکورا په لاس سره صلیب ته سپارل شوي وو.

۱۹۵ تنه افسران او جنرالان د نجیب رژیم له نسکورېدو وروسته ازاد شول په دې توګه هیڅ نیول شوی پوځي او ملیشه نه دی وژل شوی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې اړه د ازبک، تاجک او پښتون توپیر او امتیاز نه دی شوی.

حقیقت دا دی چې خوست له سختې کلابندی او څو کلنو درنو جګړو وروسته فتحه شو. د شوروي پوځونو سرلښکر جنرال ګروموف په دې اړه خپل کتاب کې کاږي: ((د ۱۹۸۷ په مني کې د پکتیا، خوست حالاتو افغاني او شوروي پوځي قوماندانان دې اندېښمن کړل، مخالفینو د خوست کلابندي بشپړېدو ته نژدې کړې وه یوازې ترانسپورتي الوتکو هغه هم د شپې له خوا خوست ته خوراکي مواد رسولی شول، د دغه سیمې د مخالفې وسله والې دلې اصلي برخه د ځدرانو قبیلې له پوځي دولې ځواکونو جوړه وه، دا دې مغرور قام دی او د خپل تاریخ په ټوله موده کې یې هیڅ حکومت ته غاړه نه ده ایښې او څنګه یې چې زړه غوښتي همغسې یې عمل کړی دی. د دوی ستر قوماندان جلال الدین حقاني دی چې خپله هم په قام ځدران دی، څلوېښتم لښکر د خوست محاصرې ماتولو ته تیاري نیوله چې دغه کلابندي په سوله ییزه طریقه ماته شي، ان چې زه د لښکر د قوماندان او راتلونکو عملیاتو د لارښوونکي په توګه اړ شوم د تفاهم او خبرو لپاره خپل امکانات په کار واچوم، سره د دې چې زه د هغه غاښي سر ته چې جلال الدین حقاني د واکمنۍ سیمه د افغانستان له نورې خاورې بېلوي وختلم خو له هغه سره مې مخامخ کتنه ممکنه نه شوه، هغه له شورویانو نفرت درلود، له ده سره زموږ مراوده د څو لیکونو له لارې وه خو د ده ځواب منفي او هغه یو نه پخلا کېدونکی قوماندان و. د جلال الدین حقاني پر ضد د شوروي د څلوېښتم لښکر له خوا په دغو عملیاتو کې ۱۰۸ او ۲۰۱ موتریزه فرقې، ۱۰۳ نومره هوایي کوماندویي فرقه، د یرغلیز دیسانت٥٦ نومره مستقله لوا د ۳۴۵ نومره مستقل کوماندویي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پراشوتي غوندې او يو شمېر نورو قطعو او جزوتامونو ګډون کړی و. د افغانستان له وسله وال پوځ د اتمې، يوولسمې، دوولسمې، څوارلسمې او پنځه ويشتمې فرقې، د ټانګ پنځلسمې لوا، يو شمېر ګوزاريزه قطعو او همدارنګه د څارندوی او ملي امنيت له ارګانو څه د پاسه لسو کندکونو برخه درلوده، مور د عملياتو لپاره له تياری سره دا تمه درلوده چې له جلال الدين حقاني او نورو مشرانو سره د خبرو له لارې کلابند خوست ته په سوله ييزو بارونو ډک موټر بې له کوم خنډ نه د تګ امکان ومومي، خو څرنګه چې له مخالفينو سره زمور د سوله ييز تېرېدو پر سر موافقه ونه شوه، نو له پلان سره سم د نومبر پر ۲۳مه مو خپل جګړه ييز عمليات پيل کړل. خبره دومره جدي او خطرناکه شوه چې له کابل نه د سرحدونو وزير سليمان لايق هم سيمې ته راغی، ده هم د خپلو تولو امکاناتو او هڅو له مخې له جلال الدين حقاني وغونډل خوست ته د تلونکي کاروان مخه پرانيزي مور د حقاني خلاف په څو جبهو کې جنګېدو، دا څل مو د ده پر ضد تبليغاتي او سياسي جبهه هم پرانېستې وه مور د پوځي *استخباراتو له لارې په پاکستان کې يو داسې لېک خپور کړ چې ګنې جلال الدين حقاني د لانجې د حل لپاره له شوروي قوماندان سره توافق ته رسېږي او له خپلو نژدې پلويانو سره د جګړې له لارې نه د خپلو ځواکونو د ايستلو لار لټوي، مور غونډل د جلال الدين حقاني پرستيژ ته زيان ورسېږي او که ممکن وي له منځه يووړل شي، بله دا چې لږ تر لږه به هغه د دغو تبليغاتو سره د مقابلې لپاره د جګړې له لومړيو کرښو لېرې شي، د دې لپاره چې څوک د دغه لېک پر صحت شک ونه کړي په هغه کې مو د ده د ځواکونو د په شا کېدو دقيقه نېټه هم نښودلې وه.))*

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دغو جګړو سختوالی له دې ټکي څرګندېږي چې کلابند خوست ته د اکمالاتو په اوږدو کې څلور ځلوېښت N ٧-٣٢ N ٢٦ ((توپي ٥١)) الوتکې له منځه تللې دي.

د خوست فتحه د يو بريالي تاکتيک پايله وه چې د دښمن د کمزورۍ ټکي په پېژندنې تر برید لاندې ونيول شو، د خوست د ٢٥مې فرقې قوماندان جنرال ګل اقا ما ته وويل: کله مې چې د فارم باغ په استقامت په دوربين کې د مجاهدينو پک اپ موټران وليدل چې له ټانکونو سره يو ځای اکمالات کوي پوه شوم چې نوره د خوست دفاع ناشونې ده. له بلې خوا مولوي حقاني د خوست له فتحې درې ورځې مخکې د دې لپاره چې له خوست نه کډې او ولسي خلک ووتلی شي دوه ورځينی اوربند اعلان کړ، دغه مهال له يوې مخې له خوست نه کډې او ولسي خلک ووتل او په هغه لاريو کې ميرانشا او ګوربزو ته ليږدېدل چې مولوي حقاني له خوا ورته برابرې شوې وې، حربي ښوونځي، منبع العلوم مدرسه او يو شمېر نور ښوونځي مدرسې او دفترونه وار له مخه د دوی استوګنې لپاره تخليه شوي وو. د دوو ورځو په تېرېدو خوست له خلکو خالي شو، د سيمې پوځي افسران او ملېشه له خپلو کورنيو سره ووتل، په دې توګه د پوځ په ليکو کې نامريي ماتې ګډه شوه.

کابل رژيم د ملګرو ملتونو د سرمنشي په نامه ليکونه واستول او په خوست کې يې د جګړې د مخنيوي په اړه د مداخلې غوښتنه وکړه، د دې په څنګ کې رژيم تبليغات کول چې له مجاهدينو سره پاکستاني ځواکونه مرسته کوي، خو مولوي حقاني د جګړې له لومړۍ کرښې په يوه مخابروي پيغام کې وويل: ((مور اعلان کوو چې د ملګرو ملتونو هيئت دې راشي د روسانو او نجيب رژيم هيئت دې هم ورسره وي، زمور

(c) ketabton.com: The Digital Library

سنگرونه دې وګوري، په هر ځای او هره برخه کې چې غواړي ګرځېدلی شي که د خارجي هېوادو د ځواکونو کومه نښه يې ومونډله بيا مور خپله پره منو، ټولو ته په ډاګه وايو چې هر څوک کولی شي زمور سنګرونه، تاکتيک او وسلې وګوري په دې اړه هر ډول نړيوالو قوانينو او مقرراتو منلو ته تيار يو.))

د حمل پر لسمه کله چې مجاهدينو د دوارو هوايي ډګرونو شاوخوا پوستې فتحه کړې مولوي حقاني په يوه اعلاميه کې څرګنده کړه چې پر خوست د جګړې اهداف تر لاسه شوي، د حمل پر ۱۱مه د مازديګر په څلورو بجو او پنځلس دقيقو د فارم باغ له استقامت نه د حاجي محمد ابراهيم او حاجي خليل الرحمن زغروال ځواکونه خوست ته ننوتل دغه ځواکونه بې له دې چې په نيولو شويو ځايونو کې خپل قوتونه ځای پر ځای کړي، مخ پر وړاندی روان وو.



المملكة العربية السعودية
ديوان رئاسة مجلس الوزراء

برقيـــه

التاريخ ١٤٠٧/١٠/١٨هـ

المكرم الشيخ جلال الدين حقاني

القائد العام لجبهة العمل

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته وبعد:

فقد تلقينا رسالتكم التي تضمنت مشاركتكم معنا صفقة المجاهدون التي تقدمها خوست.

وإنا لنشكركم على قيامكم بذلك بقدر ما أعربتم عنه تجاه المملكة العربية السعودية وحكومتها للشعب الأفغاني المسلم ونرجو الله تعالى أن يحقق أيها الشيخ ما يتطلع إليه من نصر مبين في جهاده من أجل دينه ووطنه وأن يتغمد شهداءه بواسع رحمته.

ولكم منا كل تقدير وإحترام.

وزير الدولة

مكلف بشؤون رئاسة مجلس الوزراء

فهد بن عبدالعزيز آل سعود

خادم الحرمين الشريفين

ملك المملكة العربية السعودية

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمعیت اسلامی افغانستان

Jamiat-e Islami Afghanistan

No
Date

تاریخ ۷-۴-۹۳

محترم مولوی صاحب حقانی حفظه الله

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وبعد!

فتح هرات را به شما و عموم قوماندانان
ولایت یکتیا تقدیم نموده، و از بارگاه
اقدس الهی مدت دعا و نیاز میتمم که
این فتح را مقدمه فتح بیشتر و سرنوشتی در بر
داشته باشد، و ما ذلک علی الله بعزیز

برادرتان

برهان الدین ربانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

آیینه افغانستان
8379 ORANGOA ST.
MONTCLAIR, CA 91763
(714) 626 8314

AFGHANISTAN MIRROR



(c) ketabton.com: The Digital Library

The Norwegian Committee
for Afghanistan (NCA)
کمیتهٔ ناروی برائے افغانستان

8 Old Bara Road University Town Peshawar N.W.F.P Pakistan

Peshawar 11th April 1991
NCA/AB/103

To commander Jalaluddin Haqqani
Khost
Paktia province

INTRODUCTION LETTER

Let me congratulate you at the warmest with the great victory of you and your mujahedin in the battle of Khost city. It is a good step towards a liberated Afghanistan where the afghans are deciding themselves

This letter is to introduce to you Mr. Yahya Sheikho, director of Islami Welfare Society and Eng. Mohammad Ismael, field supervisor for Norwegian Committee for Afghanistan. They are visiting your area on my request to make a preliminary assessment of need and project possibilities.

We are mainly interested in future possibilities within the fields of health and agriculture. The general situation is off course related to short term and long term it might be off interest to be to open up our own office in the area.

I hope that you will provide the best support for our representatives. For this purpose I am thanking you in advance for your good cooperation, and look forward to a good relation also in the future.

Best regards

Kristian Berg
Director, NCA

Norwegian Committee NCA For Afghanistan

Office:
8 Old Bara Road
University Town Peshawar.
Tel: 42517

Bank:
Grindlays Bank. Peshawar
A/c 1131 361 745009

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغو پوځي افسرانو په وينا چې د خوست په فتحه کې نيول شوي، د جمهور رئيس مرستيال نظرمحمد او دفاع وزارت مرستيال ډګرجنرال سوله مل ارزښتناک اسناد له منځه يووړل د زاس مخابرې دستګاه چې لوی درستيز سره يې محرمانه اړيکی درلودی، ويجاړه کړه، نظرمحمد او جنرال فاروق يوې او سوله مل بلې خوا ته روان شول، ډګر جنرال سوله مل د مجاهدينو له خوا تر پېژندنې وروسته ونيول شو، خو نظرمحمد او جنرال فاروق پاکستان او له هغه ځايه کابل ته په تلو بريالي شول، ډګر جنرال سوله مل چې کابل ته د مجاهدينو له ننوتو وروسته خوشي شو د ښاغلي مسعود د دفاع وزارت مرستيال وټاکل شو، وروسته نظرمحمد په کوټه او سوله مل هلمند کې د نامعلومو کسانو له خوا ووژل شول. د خوست سقوط ډاکټر نجيب، ملي ماتم وګانې، نوموړي دوې ورځې بې درکه و، ده ځو ځله دا غوره کړې وه که خوست سقوط وکړي نو واک به پرېږدي. د حمل پر ۱۹مه نېټه په نيولې ځېره د وسله والو ځواکونو د اعلی سرقوماندانی قرارګاه ته ورغی، په يوه غونډه کې يې د خوست سقوط په اړه وويل: ((خوست په يوه نا اندوله جګړه کې سقوط وکړ، موږ له خپله ارخه په هيڅ اقدام دريغه ونه کړه، د هوا حالات هم زموږ په زيان و، په سوق او اداره کې هماهنګي او ګډه مرسته نه وه، مورال کمزوری و خو له دې تولو سره موږ بايد دا ومنو چې خوست نور زموږ په واک کې نه دی.

خو موږ خوست داسې نه شو پرېښودی، پر خوست ښايي داسې ګوزارونه وکړو چې هلته هيڅوک ژوند ونشي کړای دا ډول چې که خوست زموږ نه دی د بل چا هم نه شي.

د ژوره او ځدرانو سيمې چې حقاني پکې اوسي تر سختو ګوزارونو لاندې ونيول شي هوايي عکسبرداري وشي او په ستو کندو کې ژر تر ژره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګارنيزيون جوړ شي.)) ډاکټر نجيب په يوه اعلاميه کې د الجزاير، سوريې، مصر، ليبيا او څو نورو عربي هېوادو له مشرانو وغوښتل چې د افغانستان د حالاتو په اړه سياسي او ډيپلوماټيک ګام پورته کړي.

د خوست جګړه او فتحه د مقاومت په تاريخ کې يو بل باب را واړاوه، د جلال اباد د جګړو له امله را منځته شوی ډب يې مات او مجاهدين يوه فاتحانه دريځ ته وخېژول. مور د خوست جګړې له پيله جهاد هېنداره اوونيزه په اوونۍ کې دوه ځله خپروله، کتونکو د خوست د جګړو جريان دومره دقيق څاره چې د امريکې قونسل به د معلوماتو لپاره زمور دفتر ته راتی، ما به چې هغه ته د نويو پرمختګونو په اړه معلومات ورکړل لکه د ده سوال نيمګړی پاتې وي، ويل دا هغه معلومات دي چې اژانسونه او خپرونې يې هم په واک کې لري، زه هغه څه غواړم چې د اژانسونو او خپرونو لاس ورته نه وي رسېدلی...؟ خوست د مجاهدينو تر منځ هم تنده او رقابت رامنځته کړی و... شهادت اونيزې د حکمتيار صاحب يو مضمون چاپ کړ چې ګڼې مولوي حقاني د خوست سقوط مخه ډب کړې، ددې په خبره خوست حقاني ته لنګه غوا ګرځېدلې، چې په ټينګه کلابندی يې ځانته خوندي کړی دی... حکمتيار صاحب خپله ليکنه کې نورې نيوکې هم کتار کړې، دا چې حقاني ځان پسې په درنو وسلو سمبال د موټرو کتار لګولی... مجهول الهويه کسان يې را ټول کړي غوړي مجلې- کتابونه، اخبار ورته راباسي... ما د شهادت دغه ګڼه له يوه ليک سره حقاني صاحب ته ولېږله چې خپلو نشراتو کې څواب ورکړو... حقاني صاحب خپل ليک کې د شهادت پر ليکنه د اغماض او سترګو پټولو کښلي...

په دې توګه زمور تر منځ د مطبوعاتي ناندرۍ مخه چې جهادي خپرونې ورسره مخامخ وې ونيول شوه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوولس گرامه ماغزه/ ۷۵

۱۶۵ ع / ۶۶

Hezb-e-Islami Afghanistan

Shk Jalaluddin Haqani Office

for Afghan Al Mujahidin Affairs

Internal Affairs

U.P.O.Box 1033 Peshawar Pakistan

Tel 810452 : 42204

Date _____

حزب اسلامی افغانستان

کتب الشیخ جلال الدین حقانی

شئون المجاهدین الافغان

شئون الداخلیة

ص . ب ۱۰۳۳ : U.P.O.Box

تیلیفون: ۸۱۰۴۵۲: ۴۲۲۰۴

پشاور . پاکستان

لتاریخ .....

الجهاد ماض الی یوم القیامة

محترم ننګیال صاحب السلام علیکم
ورحمت الله وبرکاته!

قدر منه عزت اوکامیابی د خولې دعا ده

محترمه ستاسو د نیکو اوښو احساساتو څخه دیر
منه کوم کوچې بدې او بې ځایه خبرې هم د شهادت
او رخصتیا په کې نشر شوې دي هغه باندې باید حضرت
ځان پوهه نکړم او بې پروایې وګڼي خکه هم که موږ
جواب ورکړو او موږ هم خکلو او جهان ته سبک
معلومیږو نو باید داخبره مې تقاوت وګڼي.
که هم د پښتو کې مثل دي کاروان هم تریږي ===

الحاج مولوی جلال الدین حقانی

۳۵۷ / ۵ / ۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولوي حقاني او استاد رباني د خوست له فتحې وروسته

انجنير حمتيار او مولوي حقاني په برې کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولوي حقاني، جنرال عبدالرحيم
وردک او قوماندان عبدالحق د
خوست له فتحې وروسته

حضرت صبغت الله مجددي،
مولوي حقاني، حاجي نعيم
کوچی، د خوست له فتحې
وروسته

د بي بي سي خبرياله ليز دويست، حامد علمي، شهرت ننګيال په
برې کې له مولوي حقاني سره (د خوست د فتحې دويمه ورځ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناکام بری:

د خوست فتحې په پوځي او سیاسي برخو کې نویو پرمختګونو ته لار پرانیستله. د کارمل ګروپ او د شمال نورو فاشیستي کړیو د خوست سقوط یو ملي سازش او د نجیب له خوا پښتنو مجاهدینو ته یو امتیاز ورکول وګڼل، دوی دغه موضوع ډېره زیاته وشاربله چې مطبوعاتو ته هم را ووتله، محبوب الله کوشاني او د ګروه کار ډلې لکه هاشم پیکار، فضل احمد طغیان، عبدالوکیل د دغو تبلیغاتو مخکښان وو، ((سازا)) او ((سفرا)) دوې نورې کوچنۍ فاشیستي ډلې وې چې د شمال ملېشو، کارملیانو او احمد شاه مسعود تر منځ یې د پله رول درلود. دوی داسې تبلیغات هم کول چې سلېمان لایق له حکمتیار سره ننګرهار ته ځېرمه کتلي او د حزب اسلامي په زرګونو کارتونه یې ورکړي چې ګوند کې یې پر پښتنو وویشي، ځکه خو ښایي دوی هم په جدي او ورته اقدام لاس پورې کړي، دغه ټکی د جمعیت نشراتي ارګان مجاهد هم یوه ګڼه کې خپور کړی. د دغو کړیو د ګډ تفاهم په نتیجه کې تخار ولایت احمد شاه مسعود ته وسپارل شو او دا کار یې د خوست د سوبې ځواب وګاڼه خو نجیب الله د جنرال جمعه اڅک تر قوماندانۍ لاندې تخار ته نوي قطعات ولېږل په دې توګه تخار بېرته له احمد شاه مسعود ونیول شو.

اڅک د عبدالرؤف بیګي تر مشرۍ لاندې پوځونه په تخار کې ځای پر ځای کړل خو هغه بېرته د تخار د تسلیمۍ زمینه برابره او تخار یو ځل بیا احمد شاه مسعود ته وسپارل شو. دغو کړیو په داسې تبلیغاتو لاس پورې کړ چې ګواکې حکمتیار غواړي د ډاکټر نجیب په مرسته د یوه کودتایي اقدام له لارې واک تر لاسه او د پښتنو واکمني وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددغه منفي او ناوړه روحيې د خپرولو اهداف پر نورو برسېره دا و چې د ببرک کارمل ګروپ او د رژيم هغه عناصر چې د شمال دي پر نجيب الله بې باوره کړي.

کارمل ډلې له افغانستان د روسي پوځونو وتل د ثور انقلاب ماتې او يو تاريخي خيانت باله- روسي لښکرې بايد ونه وځي د انقلاب ګټې او پايلې له پامه ونه غورځي- او د خلوېښت زرو ګوندیانو د وينو ضايع کېدو غلطي ونه کړي.

کارمل ګروپ له افغانستان د روسي لښکرو د وتلو په غلطۍ نجيب الله پر باله او دا تکی يې د نجيب الله خلاف د واک په اخ او ډب کې تبليغاوه، د قدرت دغه سيالي به کله ته شوه کله نښکاره- چې د نجيب له خارګرې اداړې پټه نشوای پاتې کېدی.

کارمل روسيه کې د يانايف کودتا پر ناکامۍ د واک له تر لاسه کولو نهيلی شو. ځکه خو يې تولې هڅې له نجيب الله غچ او انتقام ته را تولې کړې. کارمل ډلې د خوست له سقوط د نجيب الله د اتوريتي په کمزورۍ کولو کې ګټه واخيسته- په دې توګه يې په شمال کې د تشکيل او سازماندهۍ مخه پرانېسته.

ميهن جريدې وليکل: په خوست کې پښتانه جنرالان ژوندي وساتل شول خو د دوستم مليشې ووژل شوې.

پوښتنه دا ده چې ډاکټر نجيب الله څرنګه له دې جريان ناخبره و؟

خبره داسې وه چې خاد دغه ټول انکشافات له نژدې څارل او خپل معلومات يې لورو ادارو ته لېږل خو يعقوبي او نجيب ته نه رسېدل، د دولتي امنيت وزارت اووم اداري رياست د مرکزي نظرياتي رياست په

(c) ketabton.com: The Digital Library

توګه دنده درلوده د هېواد د پوځي او سياسي وضعې په اړه د ټولو رپوټونو له تر لاسه کولو، څېړنې او تحليل وروسته جمهور رئيس ته وليږي.

لکه دمخه مو وويل، د دولتي امنيت رياست چې د شمال په اړه کوم راپورونه تر لاسه کول- يعقوبي او نجيب الله ته نه رسېدل.

د دغې اداري رئيس (نصير) چې د دولتي امنيت لومړی مرستيال يارمحمد له خوا تاکل شوی و- دغسې رپوټونه يارمحمد ته سپارل، خو يارمحمد هغه راپورونه چې د شمال په اړه و، جمهور رئيس ته نه لېږل.

دغه راپورونه به د يارمحمد او فريد مزدک تر منځ له تبادلې وروسته ساتل کېدل.

يو کال وراندې دغه اداري ته شک پيدا شو چې له دې مخکې به پر رپوټونو د يعقوبي او نجيب الله يادښتونه و، چې ګڼي هغوی کتلي- دلته وه چې پوه شول راپورونه يې پټ ساتل کېږي له همدې ځايه يې له يعقوبي سره د اړيکو مخه ولټوله.

پر يارمحمد، يعقوبي باور درلود- خو له دې وروسته يې له اداري نېغ په نېغه راپورونه تر لاسه کول- خو دا هغه وخت و چې پر يعقوبي ناوخته شوې وه- نه يې د تصميم وخت درلود او نه يې د اساسي چارې وس- هڅه يې وکړه په شمال کې د قطعاتو قوماندې کې بدلون راولي.

دلته وه چې په حيرتان کې يې د اويايمې لوا قوماندان جنرال مؤمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

تبديل کړ- د دولتي امنيت د کدري چارو مرستيال زمان ارزو ته دنده ورکړل شوه جنرال مؤمن مرکز ته را وغواړي.

يارمحمد، رشيد دوستم او جنرال مؤمن ته خبرداری ورکړ که کابل ته راشي نجيب الله به يې د خيانت په تور بندي او محاکمه کړي. نجيب الله د رسول قهرمان په نامه يو جنرال د اتلسمې فرقې قوماندان او بشير پيوستون د بلخ والي وټاکل- خو دوی ونشو کړی د شمال سرکښه پرمختياوې ايل او يا يې د خپرېدو مخه ډب کړي، جنرال مؤمن هم کابل ته له تلو مخ واړاوه.

د دولتي امنيت وزارت کې يوه ستره دوسيه د ازاد بيگ په نامه ترتيب شوې وه، ازاد بيگ د شمال اتحاد روحاني بنسټګر ګڼل کېده، ده په پېښور کې د خراسان په نامه د شمال مهاجرو ته ځانګړی کمپ جوړ کړ، هغه وخت داسې اوازې خپرېدې چې ازاد بيگ له جنرال اسلم بيگ سره نژدې اړيکي لري.

احمد شاه مسعود چې د قوماندانانو شورا په برمته کولو ونه توانېده، د شورا د درېيمې غونډې په جوړېدن کې ناغېړی ته مخه کړه. چې له امله يې غونډه وځنډېده.

په ۱۳۷۰لمريز کال کې چې جنرال رحمت الله ساپی د مولوي جلال الدين حقاني له خوا د قوماندانانو سرتاسري شورا د درېيمې غونډې د جوړېدو لپاره د شمال له قوماندانانو سره د تفاهم لپاره ولېږل شو د ازاد بيگ، مسعود، دوستم او نورو فاشيستي ډلو تر منځ له ګډ او خطرناک سازش پرده پورته کړه، جنرال ساپي په شمال کې د يوې خطرناکې لوبې ګوابس په ګوته کړ چې څه وړ هلته د تعصب، پرچم او ستم تر منځ د اړيکو مخابروي کانالونه او چينلونه په فعاليت بوخت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په وروستیو کې ولي خان د ډاکټر نجیب یو پیغام حکمتیار ته ورساوه چې له را روان ګوانبه یې پرده پورته کوله، په پام کې وه د حکمتیار استازی ((بنباغلی...)) د هندوستان له لارې کابل ته ولاړ شي- خو بنباغلي نه غوښتل د هند له لارې کابل ته ولاړ شي.

دی د ازرې لوګر له لارې کابل ته ولاړ، له ډاکټر نجیب الله او یعقوبي سره یې وکتل- خو وروسته د ده پر ځای د حزب د مخابرې یو مامور ته د دغو خبرو لړۍ وسپارل شوه- چې ددغسې یوه ماموریت ظرفیت یې نشوای لرلی.

شمال د روسانو له خوا وار له مخه د هېواد د دویم پایتخت لپاره پام کې نیول شوی و، له همدې ځایه وه چې د صدارت یو مرستیال د هېواد شمال کې خپل دفتر پرانیستی و. روسان په دې فکر وو چې که ټول افغانستان یې ونشو خوړلی لږ تر لږه خو یې څه برخه د شمال په نامه لاندې کړی شي.

ګورباچوف ډاکټر حسن شرق ته په ډاګه کړې وه چې که احمدشاه مسعود په شمال کې د خودمختاری پراخه سیمې په ورکولو جنګ پرېږدي او له تاسې سره همکاري وکړي تاسې په دې اړه څه فکر کوئ؟

ډاکټر نجیب الله د دفاع وزارت چوکۍ درې کاله تشه پرې اېښې وه، په دغه موده کې جنرال رفیع د وسله والو ځواکونو د اعلی قوماندانۍ د رئیس ارکان په توګه تاکل شوی و. ویل کېږي د یوه ځانګړي چینل او شبکې په وینا نجیب الله درې کاله دغه څوکۍ د احمدشاه مسعود لپاره ساتلې وه.

په افغانستان کې د ((شمال حکومت)) جوړولو او احمدشاه مسعود د رول په هکله ډاکټر محمد حسن شرق ځینې نورې څرګندونې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي: د ۱۹۸۸ په لومړیو کې ډاکټر نجیب الله دې ته وهڅول شو چې د افغانستان شمال حکومت جوړ کړي، ډاکټر شرق په دې اړه کاږي: ((با آنهم مشاورین شوروي با تلاش های اخرین همزمان با بر امدن عساکر خویش از افغانستان تحت زعامت دوکتور نجیب الله رئیس جمهور و سلطان علي کشتمند صدراعظم طرح افغانستان شمالي و جنوبي را بمیان گذاشت و ۹ ولایت سمت شمال: میمنه، شبرغان، بلخ، بغلان، کندوز، تخار، بدخشان، سرپل و بامیان را بنام حکومت واحد مرکزي افغانستان در کابل جدا نموده و آقای نجیب الله مسیر عضو کمیته مرکزي ح.د.خ را در حوت ۱۳٦٦ به حیث کفیل صدراعظم شمال با ۱٦نفر معاونین وزارت های کابینه او مقرر و در مزارشریف شروع به کار نمودند...))

ښاغلی رباني چې د صبغت الله مجددي په موقت حکومت کې د بیا ودانولو وزیر و د ۱۳۷۰لمریز لیندۍ کې، له مسکو نه له راستنېدو وروسته ایران ته ولاړ او د فارسي ویونکو په ټولنه کې یې پر برخې اخیستو د ایران او تاجکستان د بهرنیو چارو له وزیرانو سره ګډسند لاسلیک کړ.

په همدغه کال ښاغلي رباني د چترال له لارې افغانستان ته ولاړ، ده له چترال نه بدخشان ته ختلې لار ((کافر کوتل)) باندې د اسلام کوتل نوم کېښود. له دې مخکې ښاغلي حکمتیار هم هېواد ته د خپل سفر په ترڅ کې ((سرخ پارسا)) پر سبز پارسا اړولی و.

استعمار چې کله هم په کومه سیمه کې د مقاومت څپې په مخه کړي داسې ربړې په میراث پرېږدي چې کلونه د ولسونو په منځ کې ناکراریو ته لمن وهي، د شوروي پوځیانو د وتلو پر مهال یوه روسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنرال ويلي و: مور له افغانستان څخه وځو، خو زمور له وتلو وروسته به له افغانانو سره خپله خاوره په جګړه اخته وي.

کتونکو داسې ګڼله چې د جنرال مطلب هغه ماينونه دي چې شوروي لښکرو په دغه هېواد کې کرلي، خو د جنرال هدف انساني ماينونه وو چې د جګړو او وينو تويولو د دوام لپاره يې په يو شمېر څېرو کې تعبيه کړي وو.

د جنرال جمعه اخک او جنرال مؤمن اريکي له وړاندې ښه نه و، د دې يو لامل دا و چې جنرال اخک له احمدشاه مسعود نه تخار بېرته ونيو، جنرال مؤمن له احمدشاه مسعود سره اريکي لرل. احمدشاه مسعود، مولوي جلال الدين حقاني ته هماغه وخت مخابره کې له جنرال مؤمن سره په اريکو اعتراف درلود.

د دولت اباد د بېرته نيولو پروسه اوږده شوه، له جمعه اخک سره د دوستم ځواکونو همکاري نه کوله، اصف دلاور شبرغان ته ولاړ، دوستم دې ته چمتو شو په عملياتو کې برخه واخلي، په دې توګه د کلفت بندر له لارې د دوستم ځواکونه بې له کوم مقاومت نه دولت اباد ته ورسېدل او جنرال دوستم يو بل امتياز هم تر لاسه کړ، جنرال دوستم وړاندېز وکړ چې د يوې ځانګړې قطعې منظوري ورکړي چې په دولت اباد کې يې ځای پر ځای کړي، اصف دلاور يې د وړاندېز ملاتړ وکړ، مانوکي منګل او جمعه اخک مخالف وو، دوی استدلال کاوه که هره ورځ د نويو قطعو د منظورۍ په اړه د دوستم وړاندېزونه منل کېږي دېر ژر به دغه سيمې د دوستم د ځواکونو تر ولکې لاندې شي، بيا ليرې نه ده چې له مرکز نه هم سرغړونه پيل کړي.

له بلې خوا په شمال کې عملاً د ملکي او پوځي ادارو واک د کارمل د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلويانو په منګولو کې و، جنرال مؤمن، جنرال جمعه نظيمي، جنرال بلال، جنرال احمديار د پرچم په اشاره د جمعه اځک اوامر نه عملي کول، له همدې ځايه وه چې مانوکي منګل او جمعه اځک په شمال کې د يوې خطرناکې لوبې د مخنيوي لپاره دا ضروري ګڼله چې د شمال په پوځي او ملکي ادارو کې تغيرات راشي.

د نورو بدلونونو په لړ کې جنرال ستار د جنرال مؤمن په ځای ټاکل شوی و، جمعه نظيمي، احمديار او هلال نويو بدلونونو ته غاړه کېښوده خو جنرال مؤمن، جنرال ستار بندي او د مرکز له امر نه سرغړونه وکړه، په دې توګه د تغير او تبديل عادي اقدام داسې لوری غوره کړ چې د ستم او پرچم د اهدافو پلي کولو ته يې بشپړه مخه پرانيستله، په دې ټولو هڅو کې د پلان جوړولو نقش د ببرک کارمل و، که څه هم کارمل د کوم نوښت وړتيا نشواى نبودلای - ده پر خلکو د اغېز څه نه لرل، د شوروي او برېژنېف دکتورين پلي کولو ته يې کار وايه - خو نجيب الله د ارادې، وينا او عمل په ډګر کې د نويو تجربو وراندې کولو ابتکار له ځان سره خوندي ساته. د کارمل ګروپ لومړی په دې کار وکړ چې د شمال دولتي قوماندانان له ځان سره همغږي او په دويم ګام کې نظار شورا د ځان په ګټه د نجيب الله په نسکورولو کې وکاروي.

د ژبنيو اختلافونو له راپورته کولو د ببرک کارمل هدف دا و چې د ځان لپاره يوه تکيه پيدا کړي، له دې پرته يې بله داسې وسيله او کارټ نه درلود چې د دغسې اهدافو په لار کې يې وکاروي، په دې توګه يې د شمال د دولتي قوماندانانو او مجاهدينو په نامه د ځينو فاشيستي ډلو تر منځ يو ګډ شعار او موخه را مخې ته کړه.

د شمال له پېښو دری مياشتې دمخه د ببرک کارمل ګروپ غونډتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کابل کې د یوه پوځي اقدام له لارې د نجیب رژیم نسکور کړي، څکه خو یې داسې اوازې خپرې کړې چې حکمتیار د جنرال وطنجار، راز محمد پکتین، سلیمان لایق او مانوکي منګل په مرسته د کودتا پلان لري، د کابل ګارنیزیون قوماندان نبي عظیمي چې د کارمل له نژدې اندیوالانو و.

د بنسار په کمربندونو باندې د دښمن د احتمالي برید د خطر په پلمه لومړی درجه احضارات اعلان کړل، خو د ډاکټر نجیب الله پلویانو یې مخه ونیوله، د دغه پلان تر ماتېدو وروسته کارمل پر خپله درېیمه نقشه چې سناریو یې بشپړه شوې وه جدي کار پیل کړ، هغه دا چې خپل افراد د نظار شورا او جمعیت تر پونښ لاندې په یوه بل چینل کې فعال وساتي.

ډاکټر محمد داؤد جنبش کاږي: د ۱۹۹۵ کال په اګست کې ((د روسیې پارلمان د مشرانو جرګې (فدراسیون شورا) یو پلاوي د احمدشاه مسعود او دوستم د پخلا کولو لپاره په شبرغان کې د دوستم مېلمه و- د روسیې قونسل مرستیال شف چنګه د دوستم یوه جنرال محمد یوسف ته له پښتنو سره د مخالفت پارولو په روحیه ویلي: ... د ظاهرشاه وخت کې مو پر شمال د پښتنو ظلم هیر کړی چې بیا له هغو سره نژدې کېږئ- او بیا یې د هوښیار اوسئ په لهجه زیاته کړه: په اوسني پراو کې د ناپښتنو ګټې د پښتنو پر وړاندې د هغوی یووالی غواړي...)) له دې څرګندېږي چې روسانو د پښتنو پر خلاف د دښمنۍ څومره اوږد جال او د ډلبندیو لومې غځولې وې.

د جنرال جمعه اڅک، مانوکي منګل او جنرال مؤمن اختلافاتو ته نوي رنګ او مخه ورکړل شوه، جنرال مؤمن مرکز ته د خپلې بې اطاعتۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیغام ولیږه، دا وخت د سید کیان زوی چې د حکومتي ملیشو له تشکیل او امتیازاتو سره یې د مجاهدینو پر ضد له عملیاتو ځان لیرې ساته، د ببرک کارمل او سفزا د هڅو په نتیجه کې پر دغه جریان ورګډ شو.

نبي عظیمي او فرید مزدک په مسکو کې له ډاکټر نجیب نه ناراضي کړی راغوندې کړې، ځکه خو په شمال کې د جنرال مؤمن، دوستم او حسام الدین ملیشو نجیب الله ته ګډه کرښه ټیره کړه، له همدې ځایه وه چې فرید مزدک د مسکو په یوه میلمستیا کې ویل: بچه اختر ((اختر محمد د ډاکټر نجیب د پلار نوم دی)) کور خوانده بود، در مزار چنان آتشی بر پا کنم که خشک و تر را بسوزاند بچه اختر را چنان درسی بدهم که تاریخ آنرا فراموش نکند و دیگر این گستاخي را مرتکب نشود که نامی از تفوق طلبی پشتون را بگیرد.

نجیب الله د جنرال مؤمن د پخلا کولو لپاره بېلابېل هیڅتونه ولیږل خو نتیجه یې ور نه کړه، مانوکي منګل ډاکټر نجیب ته د شمال وضعه له کنټرول نه بهر او د انفجار په حال کې وبلله، لوی درستیز اصف دلاور چې نجیب الله د شمال د ناراضي جنرالانو د پخلا کولو لپاره په یوه بیرني سفر لیږلی و، ناراضي جنرالان نور هم تشویق کړل او نجیب یې د دوی لپاره د نورو او نویو امتیازونو ورکولو ته هڅاوه.

نجیب الله د دوی پخلا کولو ته جنرال رفیع او د خاد پوځي رئیس په جرګه ولیږل- خو پایله یې ور نه کړه.

دویمه پلا یې نبي عظیمي او سید اکرم پیکر ورولیږل- خو دوی په بل اور نور تېل ور تویې کړل.

جنرال نبي عظیمي د نظار شورا خواکونو سره په اړیکه کې هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته وويل: چې ځانونه د بلخ لويې لارې او کمربندونو ته ورنژدې کړي. د ده په وينا بلخ کې د دولت ځواکونه په خپلمنځي سيالۍ کښوتي له مزاره د دفاع وړتيا نه لري.

جنرال نبي عظيمي نجيب الله ته وويل: که جمعه اخک او د بلخ دولتي امنيت رئيس تاج محمد او نور نوي لېږل شوي کسان کابل ته ور وغواړي کېدای شي جنرال دوستم خپل ځواکونه له جوزجان د بلخ د دفاع لپاره ولېږي. نجيب الله د عظيمي وړاندیز ومانه، اخک، رسول قهرمان او تاج محمد يې مرکز ته وغوښتل.

له جوزجان نه بلخ ته د ملېشو په رسېدو جنرال دوستم، نظار شورا او حزب وحدت وسله والو ته هم د ننوتو اجازه ورکړه، شمال کې د رژيم قوماندانانو د نبار دوارې لويې دروازې نظار شورا ته پرانيستې.

دوستم ته د جنرال نبي عظيمي او اکرام پيګير په ورتګ وضعه لا هم پېچلې شوه د دوستم شرايط نورهم زيات شول، نجيب الله د جمعه اخک او ملګرو را غوښتو ته غاړه ايښې وه خو دوستم دوه نور شرطونه وړاندې کړل، دا د شمال د اوپراتيفي ګروپ د قوماندانۍ د غوښتنې تر څنګ دا شرط هم کېښود چې پوځي کدرونه د دوستم او ملکي د کاوياني، مزدک، پيګير، او محمود بريالي پر وړاندیز منظور شي، ستم او پرچم د دوستم په خوله دا هم وغوښتل چې د شمال سيمې د افغانستان په جمهوريت کې د فدراسيون په توګه ومني، داکټر نجيب الله له دې غوښتنې سره پرېکړه وکړه چې د زور له لارې لانجه حل کړي خو ځينو کړيو داکټر نجيب د ازبکستان د دغه ګوانښ له امله چې پخپله پوله کې به پوځي تحرکات او مانورې ونه زغمي له دغه کار نه ډډې کولو ته اړ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نبي عظيمي کابل ته په رسېدو ډاکټر نجيب ته وړاندیز وکړ څرنګه چې د مجاهدینو ځواکونو ځانونه د بلخ لویې لارې او کمربندو ته نژدې کړي په بلخ کې دولتي ځواکونه په خپل منځي اختلاف اخته او له مزار نه د دفاع وړتیا نه لري ما ((عظیمي)) جنرال دوستم چمتو کړی له جوزجان نه خپل ځواکونه مزار ته ولېږي او د مجاهدینو د بریدونو پر وړاندې له هغه ځای نه دفاع وکړي، ډاکټر نجیب یو ځل بیا تېر ایستل شو، ده سملاسي د عظیمي وړاندیز ومانه، جنرال جمعه اڅک، جنرال رسول او تاج محمد یې مرکز ته وغوښتل او له دې سره جوخت د دوستم ځواکونو له شبرغان نه د مزارشریف پر لور حرکت وکړ، د دوستم د ځواکونو قوماندانې د جنرال عبدالمجیدروزي پر غاړه وه چې مزار ته په ننوتلو یې د تیمورک په سیمه کې د ځارندوی قطعه بې وسلې او په دویم ګام کې یې د ۱۸مې فرقې ګڼې پوستې هم بې وسلې او افراد یې رخصت کړل.

جنرال عظیمي ډاکټر نجیب ته یو بل وړاندیز هم وکړ چې جنرال دوستم د شمال د اوپراتیفي ګروپ قوماندان وټاکل شي، دغه پوست د جمعه اڅک و، نجیب الله دې ته غاړه کېښوده چې دوستم د اوپراتیفي ګروپ سرپرست وټاکل شي.

لکه وړاندې وویل شول جنرال دوستم چې مزار کې خپل ځواکونه ځای پر ځای کړل، حزب وحدت او نظار شورا ته یې هم ښکار ته د ننوتو مخه ورکړه، د ببرک کارمل له خوا د دغې روحیې او تګلارې پر خپرېدو چې که نظار شورا ته لاس ورنکړو او د هغوی په کارولو او د شمال د نورو کړیو په مرسته ګام وا نخلو، پښتانه به یو ځل بیا د حکمتیار، نجیب او... په څېرو کې په واکمنۍ کې پاتې وي،څکه خو پرچم او ستم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ان له پخوا احمد شاه مسعود د يوه منځلاري او ليبرال شخصيت په توګه تبليغاوه او داسې يې ښودله چې پر مسعود ډېر کار شوی او هغه يو مجاهد مسعود نه بلکې د اقليتونو د حقونو بيرغ ويرونکی او زمور د اهدافو پلی کووونکی ګرځېدلی دی.

تر دې دمه په وطن ګوند کې دوه متضاد جهتونه را منځته شوي وو، د يوې دلې مشري چې د اقليتونو د استازيتوب ادعا يې لرله د نجم الدين کاوياني، فريد احمد مزدک، محمد نبي عظيمي، داکتر عبدالکريم بها پر غاړه وه چې ببرک کارمل يې لاربښوونه کوله، د دغې دلې پر ويراندې سليمان لايق، محمد اسلم وطنجار، مانوکی منګل، جنرال رفيع او څو تنه نور ولاړ وو چې ونه توانېدل د لومړۍ دلې د ستمي فعاليتونو او اهدافو پر ويراندې بريالیتوب تر لاسه کړي، دوی ونه شوی کولی د مقاومت له پښتنو مشرانو او قوماندانانو سره د خبرو او تفاهم مناسب او په وخت کانال ومومي.

د مقاومت پښتنو مشرانو او قوماندانانو هم له وخت او فرصت نه لازمه ګټه پورته نشوی کړی- حکمتيار او مولوي حقاني ته داسې فرصتونه برابرېدی شوای خو له هغو نه د پر وخت استفادې لپاره يې نوښت ونشوی ښودلی. حکمتيار که څه هم له رژيم او حتی روسانو سره د اړيکو کانالونه تر لاسه کړي وو، خو هر څه ترې په نيمايي لار کې پاتې کېدل چې بيا احمدشاه مسعود ترې بشپړه پايله تر لاسه کړه.

ما حقاني صاحب ته د نجيب الله ليکونو کې د اړيکو او پوهاوي د ويراديز يادونه وکړه په دې ټکو چې ځيني دوستان نيوکه کوی چې حقاني صاحب يو ور فرصت او چانس چې ښايي هېواد او خلک يې له وروستيو مصيبتونو ژغورلي واى له لاسه ورکړ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقاني صاحب وويل، كه ما له ډاكټر نجيب الله سره په دغسې بنيادونو جوړ جاړي ته هوكړه كړې وې، كېدى شواى د احمدشاه مسعود په څېر جگړو ورگډ شوى وى.

ما په يو څه جدي لهجه ورته وويل: داسې نشواى كېداى د احمدشاه مسعود ائتلاف د تشكيلاتو او موخو له ارخه پر منحرف او كاږه نيت را منځته شوى و - بله دا چې ستا او ډاكټر نجيب الله تر شا د اكثريت تكيه او څواك ولاړ و...

حقاني صاحب هېڅ ونه ويل دواړه پته خوله له ځايه ولاړ شوو.

كله بريالېتوب د غاړې غوږ وگرځي... پر ځينو د بري بار دومره درومد پرېوځي چې اوچتول او پورته كېدل يې گران شي... د ځينو لپاره بريالېتوب ناكامي بلكې رسوايي گرځېدلې وي... كله بري له هماغه پيله ناكامي او رسوايي راپورته كړې وي... ناكامي يې تقدير گرځېدلې وي...

له تگې، بدبيني، دوكې رامنځته شوى برى ناكامي ده، رسوايي ده... د جگړو برى تلپاتې نشي پاتېداى... كومه امپراتورې، بنكېلاك، زورواك په لاندې كړيو سيمو او ولسونو واكمن پاتې دى...؟

كابل كې پر يوه وخت د ډاكټر نجيب الله او ملگرو ملتو پر ضد رامنځته شوې كودتا كه څه هم بريالى شوه، خو په حقيقت كې يې د ناكاميو او رسواييو خونړى تاريخ رامنځته كړ...

هر احمق چې په دنيا خاوند د جاه شي
نور وتلى ځنې نشي جـاه يې څاه شي

❋ ❋ ❋

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې پايلې اړيکي

۱۳٦٦ لمريز کې ډاکټر نجيب الله له مولوي جلال الدين حقاني سره ليکنې اړيکه نيولې، د دوی تر منځ څو ليکونه تبادله شوي، خو دا چې دغه اړيکې څرنګه پرې شوې، د اختلاف کومو ټکو دغه لرې تر يوه توافق ونه شوی غځولې څرګنده نه ده - لږ تر لږه ما داسې کوم درک ونشوی لګولی. عابد خان، حاجي غلام حسن او حاجي ګلبت خان چې دغه ليکونه يې په منځګړيتوب يو بل ته رسېدلي ما ونشوی موندای، زه کوښښ کوم له دوی سره وګورم او خپلو پوښتنو ته ځوابونه تر لاسه کړم.

حقاني صاحب په دې اړه په لنډو هغه ځواب راکړ چې ما يې وړاندې يادونه وکړه.

البته ډاکټر نجيب الله بهر کې يو شمېر يادو افغانانو ته هم ليکونه استولي، خو رابرسېره شوي نه دي...

خو د ليکونو د تبادلې دغسې يوه لړۍ ښايي په دغه بڼه نه وي غځېدلي، د ډاکټر او حقاني صاحب تر منځ تبادله شوي ليکونه په زړه پورې دي - د يو بل موقف او موقعيت نه دا چې پامور بلل شوی بلکې دروند تلل شوی، که څه هم کله نا کله خبره ستوغه شوې او د ګوانښ بڼه يې خپله کړې، خوله چوکات نه ده وتلې، د ډېپلوماسۍ رنګ يې خرګند دی.

د حقاني صاحب ليک کې دسولې لپاره د يوې سيمې غوراوی، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه خواوې ترې خپل جنګي ماشين وباسي د سولې پر وړاندې د هڅو د عملي ارخ بريا او ژمنتيا په ډاګه کوي.

د خوست، ګردیز، ارګون یا بلې سیمې نومونه د سولې لپاره د عملي نوښت لومړی خو پوخ او درونده ګام ختلی شوای. په هر صورت پر لیکونو د حذف او نفيې دریځ سیوری نه دی غوړلی، چاپېریال او فضا يې دوستانه یا لږ تر لږه د دښمنۍ پاللو نه ده.

لیکونو کې له ناندریو، تورونو پېغورونو ډډه شوې، پر مطلب راګرځي، لنډون د دغو لیکونو بله ځانګړتیا ده. د ډاکټر نجیب الله لیکونه له دې امله پامور ګڼل کېدی شي چې په بشپړو دوستانه ټکو او درنښت لیکل شوي، حقاني صاحب موعظې، پند او نصیحت پسې نه دی تللی، د کفر ټاپه يې نه ده وهلې بلکې په روښانه ټکو يې خپل وړاندیزونه او غونښتنې مخې ته کړې دي.

بله دا چې لیکونه په پټو اړیکو، مادي غونښتنو، وړاندیزونو او مخفي کارې نه راګرځي، بلکې د معقولو وړاندیزونو، عملي طرحو او څرګند دریځ نمایندګي کوي.

لیکونه د خبرو او پوهاوي شونتیا او اړتیا را مخې ته کوي، زغم او د یو بل منلو ظرفیت د لیکونو بله ځانګړتیا ده، جرګې، نرخ او کاني ته ژمنتیا د لیکونو محتوا ګرځېدلې، د اواري موندلو ټکي يې څرګند دي. د دښمن یا مخالف درناوی د لیکونو تر ټولو بارز خصوصیت دی، چې له دواړو خواوو ځلیدلي دي

د سولې لپاره د یوې سیمې یا زون ځانګړي کول او غوراوی د جرګې د بریالیتوب او خبرو په رښتینتوب د بشپړ باور څرګندوی بلل کېږي.

لیکونه یو په بل پسې له کنګال شوې فضا او ترینګلتیا راوځي -

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقاني لومړی لیک په السلام علی من التبع الهدی پیلوي. په را وروسته لیکونو کې جناب ډاکټر نجیب الله خطاب کوي، ده او ملګرو ته احترام وړاندې کولو ته ورګرځي. ډاکټر نجیب الله، حقاني صاحب ته درنښت وړاندې کوی، د ده سلامتیا غواړی، او د میړنی او اسلامی مشر په نامه یې یادوي. لیکونه د متن او محتوا له اړخه خپلې ځانګړتیاوې لري، چې د دوو مخالفو بلکې دښمنو مشرانو له خوا ملي او قومي ارزښتونو ته د دوی ژمنتیا ثابتوي.

د یادولو دا چې لیکونو کې د معاملې او سازش خوا ته کومه نغوته نه ترسترګو کېږي. بلکې له دواړو اړخونو پر سوله ټینګار، له جګړو وتل او ملي اواري ته تعهد او پوهاوی ارین ګنډل کېږي.

لیکونو کې د یو باور د زرغونېدا څرک هم لیدل کېږي - ډاکټر نجیب الله د ۲۰ وزیرانو او لویانو د برمته ورکولو وړاندیز لري، حقاني صاحب له ډاکټر سره د لیدو هوکړه کړې، ګویا جرګه، نرخ او ولسي کودونه، نه یوازې پامور بلل شوی، بلکې داډ پرې څرګند شوی او تکیه پرې شوې ده.

دواړو غاړو خپل لیکونه په لېتر پېډ نه دي کښلي، ډاکټر نجیب الله د رسمي مکتوب پاڼې نه دي کارولي - دری لیکونه ټیپ او نور په قلم کښل شوي دي، حقاني صاحب هم خپل لیکونه پر رسمي پاڼو نه دي کښلي - ځان لپاره یې کوم القاب نه دي کارولي - جلال الدین حقاني یې لیکلي دي.

ډاکټر نجیب الله لومړني لیک کې له خپل نامه سره د ا. خ. د. ک سکرتر جنرال او نورو کې د افغانستان جمهور رئیس نجیب الله کښلي.

حقاني صاحب د ډاکټر نجیب الله پر وړاندې د تسلیمۍ پر ځای له جهاد سره د ملګرتیا خبره ایښې، دومره درونده یې تللی چې خپله یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دفاع ته د درېدو تېر وهلی دی.

د حقاني صاحب لومړني لیک کې چې ما نه دی تر لاسه کړی، ښایي د شوروي پوځونو په وتلو ټینګار شوی وي، چې ډاکتر نجیب الله پخپل لیک کې هغه تکي را غبرګ کړي دي. د ډاکتر نجیب الله له لومړی لیک داسې برېښي چې له شوروي اړخ او خپلو ملګر سره یې په احتیاط کښلی وي، خو نورو هغو کې یې د خپلې مدعا په وړاندې کولو کې سړی آزاد ګوري ...

د مودو لټون سره مې دغسې یو ځواب تر لاسه نه کړی شو چې د دغو اړیکو په شلون ما قانع کړی شي، په داسې حال کې چې لیکونه د اړیکو د شلون کومه نغوته نشي وړاندې کولی. د دغې پروسې ناکامي ګڼې پوښتنې را ولاړولی شي، دا چې د سولې دغه هڅې چا څرنګه له بري را ګرځولي دي؟

د دغې لړۍ ټول لیکونه ما نه دي تر لاسه کړي زه کوښښ کوم هغه وموم- د حقاني صاحب او ډاکټر لومړني دوه لیکونه نشته د ډاکتر یو لیک چې د پرمختګ وروستی پړاو پکې په ګوتو شوی له ما بې درکه دی، کیدی شي نور لیکونه هم تبادله شوي وي، چې د حقاني صاحب له خوا د دغې لړۍ لومړي لیک کې د ((لیکونو)) خبره شوې، خو هغه چې ماموندلي د مهمو تاریخي اسنادو په توګه یې دلته وړاندې کوم.

۱۳٦٦د حوت ۲۵مه

محترم مولوي جلال الدین حقاني!

السلام علیکم ورحمه الله و برکاته

ستاسې لیک را ورسېد، د ملي سولې په هکله ستاسې له نظریاتو څخه ستاسې په نیت پوه شوم - ستا او زما په روان جنګ کې بېګناه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمانان وژل کيږي، د پښتنو کلي او کورونه رنګيږي او زمور وطن ته سخت زيانونه اوړي، د وطن او ملت له بربادۍ څخه د ژغورنې په خاطر زه د خپل ګوند له پلوه له تا سره د روغې جوړې ذمه پر غاړه اخلم - ته د اسلام د مقدس دين په هکله ډاډه اوسه، زما انقلابي حکومت العياذ بالله بې دينه نه دی او د اسلام د مقدس دين د بې ارزښته ګڼلو او له نظر څخه غورځولو بيخي اراده نلري - د قانون په دويمه ماده کې راغلي چې د دين په حيث د اسلام احترام او درنښت پر ټولو واجب دی او اوس خو د حکومت په نافذ کړی شويو قوانينو کې اسلام ته په زړه پورې مقام ورکړ شوی دی - پر دې سربېره حکومت د ينې شعائرو ته د ترجيح ورکولو په چارو لګيا دی.

پاتې شول روسي پوځونه - کله چې د سولې باوري امکانات څرګند شي نو زمور له سلا مشورې ورکولو به د شوروي اتحاد محدود قطعات ببرته ولاړ شي - بايد ووايو چې روسي پوځونه په افغانستان کې د بهرنيو لاسوهنو د ختمولو لپاره راغلي څو ژر تر ژره افغانستان يو خپلواکه او ناپېيلی هېواد شي.

ځکه خو هغه ورځ لېرې نه ده چې دغه حقيقت د رنا ورځې په څېر څرګند او درواغجن پروپاګندچيان پخپلو کړو شرمنده شي.

زما له خوا ښاغلی استاد سلېمان لايق زما استازی دی ما هغو ته له تاسې سره د ليدلو دنده سپارلې ده، هغوی به تاسې له نور تفصيل او زما له ښه نيت نه خبر کړي - تاسې مهرباني وکړئ په بشپړ داډ او اعتماد له ما سره د ملاقات لپاره تشريف را وړئ.

تاسې ته به دا خبره هغه وخت ثابته شي، چې تاسې له مور سره د خبرو اترو په نتيجه کې کوم حل ته ورسېږئ او کله چې دغه کار وشي نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا دغه جنګ هم بندېدلی شي او بیا به مورږ او تاسې په ګډه د وطن د تعمیر او پرمختګ لپاره سلا مشورې کوو، مورږ ستاسې د شخصي حیثیت او عزت د خوندي ساتلو ډاډ درکوو، د الله تعلی په فضل سره مورږ هوډ لرو یو داسې اسلامي حکومت جوړ کړو چې هوسا او سپېڅلی وي داسې هېواد چې په هغه کې د بشري حقونو، ناموس او شرافت د ساتنې حاکمیت وي.

درناوی

د ا. خ. د. ګ. سکرتر جنرال

ډاکټر نجیب الله

*

بناغلی ډاکټر نجیب الله!

السلام علی من تبع الهدی

ستاسې لیک له تفصیلي تکو سره را ورسېد - زه باور لرم چې زما له اړخه د درلېږل شویو لیکونو په ذریعه به تاسې زمورږ پر اصلي اهدافو پوهېدلي یاست.

بیا هم ستاسې د لیک په ځواب کې خپل دریځ په لاندې توګه په ډاګه کوم:

تاسې په کمونېستی ګوند کې د شمولیت اوږده سابقه لرئ - په ټېره د خاد د مشر په توګه مو ماضي ټولو ته معلوم دي.

ستاسې د مفکورې او ګوندي کړنلارې له امله په هېواد کې د جګړې اور بل دی - او په زرګونو بېګناه هېوادوال، بوډاګان، تورسرې او ماشومان پکې سوځېږي - چې تر اوسه نژدې یو ملیون افغانان په دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

جگړو کې شهیدان شوي او په ملیونو نور مهاجرت ته اړ شوي دي - ستاسې د ژمنو پر خلاف افغانان د کور پر ځای ګور - د کالیو پر ځای کفن او د ډوډۍ پر ځای د خاورو څټلو ته اړ شوی دی.

دا یوازې زما او ستا کړکېچ نه دی چې په دومره اسانۍ حل شي دا به خوب او خیال وي چې له عملي ګامونو پر ته یوازې د خولې په خبرو او دعاګانو هوار شي.

موږ پوهېږو پر هغه ورځ چې خدای مه کړه د سره ښکېلاک منګول پر هېواد ټینګه شي نو روسي پوځونه به خود بهرته ستنېږي.

له دې دمخه ما د هغو هڅو یادونه وکړه چې په افغانستان کې د کمونېزم د حاکمیت لپاره ترسره شوي دي - که هر څو یې تېر په هېر وګڼو نو اوس ستا لپاره اسلام او وطن ته د خدمت لارې چا نه دي ترلې، لارې ډېرې دي خو په دې شرط چې تاسې په ربښتیا سره د هغې په لټه کې شئ. یوازې د قانون یوه ماده نشي کولی له دین سره د ضدیت او دښمني ماضي او روحیه له منځه یوسي او د روسانو د تېري، وحشت او بربریت کیسه پټه کړي.

روسان د خپل وحشیانه تېري له امله د ټول ملت او نړۍ د کرکې وړ دي - که چېرې تاسې هم د خپل وطن پېښو او حالاتو ته په غږېدلو سترګو وګورئ - ښایي په همداسې کرکه ورته وګورئ - که داسې نه وي نو بیا ستا سې نظر علاج ته ضرورت لري.

له هېڅا پټه نه ده چې روسانو پر افغانستان د څه لپاره یرغل کړی او څه نیت لري؟ - د روسانو په سیاست، پالیسۍ او نیت هېڅ باور نه دی په کار - چې ستا د اسلافو برخلیک یې ژوندی مثال دی.

څکه خو تاسې ښایي د خبرو اترو اصلي تکو ته پام وکړئ که چېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ربښتيا هم اسلام او وطن ته د خدمت او کمونېستي افکارو دپرېښودلو هوډ لرئ، نو زما دغه لانديني وړانديزونه ومنه!

۱- بې قيده او شرطه د روسي يرغلګرو د فوري او يو مخيز وتلو اعلان وکړه.

۲- يوه سيمه لکه خوست، ګردېز، ارګون يا بل ځای د مرکز په توګه وټاکه، هلته به پوځي فعاليتونه بند کړو چې له هماغه ځايه د سولې پروسې عمليه پيل شي.

۳- پر خپلو تېروتنو او ماضي اعتراف وکړه او د جهاد ملګرتيا ته را وګرځه - مجاهدين به ستا د ژوند ضمانت وکړي.

په دې اړه چې په مور هر څه کېږي هغه نه در څخه سپموو.

زه د وزارتونو او واکمنۍ وږی نه يم خو د وطن په خاطر تاسې ته ډاډ در کوم چې په دې صورت کې به زه شخصاً ستا دفاع کوم.

جلال الدين حقاني

۱۳٦۷

د حمل لسمه

*

محترم مولوي جلال الدين حقاني سلام!

خبره دا ده چې ما تر اوسه له بل هېڅ فرد سره قلمي اړيکه نه ده نيولې، ما د وطن، اسلام او غيرت په خاطر تا ته ستابښنليک درليږلی دی.

قدرمنه!

خبره دا ده چې له دې وروسته د وينو هغه لمبې بايد مړې کړای شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې تر اوسه زمونږ په هېواد کې بلبدې - د دې کار لپاره زما او ستا لیده که هر ځای وي خورا ضروري دي - دغه لیده کاته به ستا لپاره هم زښت زیات ګټور وي - ته چې هر څه غواړې زه هغو ته چمتو یم زه نه غواړم چې ستاسې د ځدرانو د پګړۍ شمله ټیټه شي.

مونږ د نویو سیمو لپاره یو لړ تصمیمونه نیولي، غواړو چې د ستو کنډو، وازه خوا، بهرام خېل او سپېرې سیمې بېرته ابادي کړو - البته کله چې زه او ته پر یو ټغر سره کېنو، د دې په باره کې به هم خبرې اترې وکړو - زما د لیدو کتو په دغه غونډتنه کې هېڅ راز دوکه او چل نه شته خو بیا هم ستاسې د اندېښنې په خاطر له ملاقات دمخه د خپل حکومت شل تنه وزیران او لوړ رتبه افسران تا ته د یرغمل په توګه درلېږلو ته چمتو یم - دا هر څه به تاسې پخپلو سترګو وګورئ، دغه لیک د پکتیا والي د ټینګار له امله په بیړه سره لیکم.

زمونږ پوځونه د ستو کنډو پر سر ځای پر ځای شوي دي د ۱۳۶۶کال د لیندۍ میاشتې له پنځلسمې څخه مونږ جګړه او بمباري درولې، ځکه مونږ غواړو دغه مسئله د خبرو له لارې حل کړو، که داسې وشوه نو مونږ به خپل پوځونه له ستو کنډو څخه بېرته را وغواړو.

پردې هم پوه شه چې حکومت ډېرې زیاتې او ډول ډول وسلې لري چې تر اوسه ما د هغو د استعمال اجازه نه ده ورکړې.

هیله ده د دغه لیک ځواب ژر تر ژره را ولېږې - لیک ټایپ نه کړې شو ځکه وخت نه و، تاسې هم ځومره چې ژر کیدې شي ځواب یې را ولېږئ.

له دې وروسته به د حالاتو د خرابتیا د سیمې د کونډو او یتیمانو ذمه واري زما پر ځای ستا پر اوږو وي.

بله خبره دا چې د کومو بندیانو خوشي کول غواړئ د هغوی ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوایف را ته ولیکه زه به ټول خوشي کړم.

۱۵/۳/۱۳٦۷

*

جناب ډاکټر نجیب الله او ملګرو ته یې

احترامونه!

ستاسې لیک را ورسید زه یې په مطلب پوه شوم.

تاسې چې زما په باره کې د ۱۳٦۵کال د غبرګولي په لومړۍ نېټه (۱۹۸٦ جولای) د اعدام د تنسیخ حکم د یوه فرمان له لارې د ۱۳٦٦کال د لیندۍ په ۱۱مه (۱۹۸۷کال د دسمبر ۲مه) د قانون د دویم ټوک د ۷۵مادې له مخې صادر کړی او د هغه یوه کاپي مو ما ته هم را لیږلې ده - ما ته د اسلام او وطن په مقابل کې کوم ارزښت نه لري. ځکه چې د اسلام او وطن په لار کې شهادت د مسلمان ستر ویار دی. همدارنګه د روسي بنکېلاک تر واک او سیوري لاندې ژوند که څه هم د مادي اسانتیاوو او اقتدار له مخې بیساری وي خو زما پر وړاندې سپک او طوق لعنت دی.

تاسې لیکلي چې په هېواد کې د وینو د اوچتو شویو لمبو سرچل په کار دي - دا نېه خبره ده، پوښتنه دا ده چې د وینو دغه سېلاب د روسانو د تیري او کمونېستانو د ظلمونو له امله روان دی، که تاسې دومره صلاحیت او ځواک لرئ چې د روسانو د تېري مخه ونیسئ او کمونېزم ته خاتمه ورکړئ په دې صورت کې د وینو دغه بلې کړی شوې لمبې سړېدی شي.

تاسې دا هم لیکلي چې نه غواړئ د ځدرانو د پګړی شمله تیته شي، په داسې حال کې چې له سلګونو زیاتو روسي الوتکو، توپونو او توغندیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځدرانو د اور باران اورولی او په سلګونو تنه يې شهيدان کړي دي.

د بنديانو په اړه زه دومره ويلی شم چې د افغانستان تول بنديان زما ورونه دي که ستا مطلب د پکتيا يا ځدرانو بنديان وي نو يوازې د هغوی خلاصون ګټور نشم ګڼلی.

د لاندېنيو شرطونو د منلو په صورت کې زما او ستا په ليدو کتو خبرې کيدی شي:

۱- د ځدرانو له سيمې د روسانو او رژيم تول پوځونه سملاسي وباسئ.

۲- هغه کسان چې مورږ يې لازم بولو او فهرست يې در استوو د يرغمل په توګه مورږ ته وسپارئ.

اوس هم ستا لپاره حالات مساعد دي د بېهوښۍ او خوب نه ځان وباسه او د سره ښکېلاک له سحر نه ځان ازاد کړه.

جلال الدين حقاني

۱۱/۴/۱۳۶۷

*

۱۳۷۰/۰۷/۲۴

بسم الله الرحمن الرحيم

محترم او عزتمند ورور حاجي صاحب!

السلام عليكم ورحمه الله و بركاته!

د تاسې ليک چې د حاجي ګلبت، عابدخان او حاجي غلام حسن په لاس مو را ليږلی و په ۱۳۷۰/۰۷/۲۳ را ورسېده او ومې لوست، دا چې تاسې سلامتي لرئ خوښ شوو او د خدای ﷻ څخه تاسې ته د قوم، وطن او د خدای د بنده ګانو د خدمت کولو لپاره لا نوره سلامتي غواړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسې ته معلومه ده چې زمونږ په سیاسي پېښنهادونو کې د داخلي قوماندانانو وندې او دا چې هغوی (د جهادي قوماندانانو شورا) د جنګ لوی پېټي پر غاړه وړي او هغوی وطن ته د سولې په را وستلو کې لویه وندې لري، طرحه شوې او د اول وار لپاره هم مونږ د قوماندانانو شورا سولې ته د رسېدو لپاره مذاکرې ته راباللې او اوس هم د مونږ درېځ هماغه دی چې یوازې افغانان پخپل منځ کې په کښناستو سره سوله راوستی شي، دا چې خدای تعالیﷻ زمونږ او ستاسې په زړونو کې د تګ او راتګ او یو بل ته د خط لیکلو خواهش پیدا کړ دا د حق سبحانه و تعالی د رحم نښې دي، خدای د زړونو مالک دی او یوازې دی کولای شي چې په زړونو کې مینه یا کرکه پیدا کړي، د مینې نه وروري، اخلاص او اعتماد پیدا کېږي لېکن له کرکې نه دښمني، بدګومانې او شرارت پیدا کېږي باور لرم چې خدای تعالی به په مونږ او تاسې رحم وکړي او مونږ به د حرب او ضرب له غضب نه خلاص شو وَما ذلِکَ عَلَی اللّٰه بعزیز

مونږ خو له پخوا له تاسې سره د ملاقات کولو خواهش درلود لېکن له بده مرغه تر اوسه دا ملاقات نه دی شوی. اوس یو وار بیا د تولو غټو او وړو خبرو د حل لپاره تاسې مېرنې او اسلامي مشر ملاقات ته دعوت کوم تر څو له نژدې سره خبرې وکړو دا د یوه پښتانه او مسلمان خبره ده په هر څه مطمئن اوسئ، نورې خبرې به حاجي ګلبت، عابد او حاجي غلام حسن درته وکړي.

ومن اللّٰه توفیق

نجیب اللّٰه

د افغانستان جمهور رئیس

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستو کنډو

د جگړې له لیکو:

خپله ژبه هم کلا ده هم بلا:

له دوو میاشتو ستو کنډو کې یم ...

حقاني صاحب د ستو کنډو د غره پر سر د قوماندې مرکز جوړ کړی...

کړی ورځ له یوه دوربین چې قیچي دوربین یې بولي د عملیاتو څارنه قوماندانانو او سرګروپانو ته قومانده ...

...دې له هغه اړخه وروګرځي ... لس متره وړاندې یې ونیسه ... د شمال له اړخه ګلاب کوچي سره یو ځای شي ... خلیل دې د غرب پوستې تر اور لاندې ونیسي...

په قیچي دوربین کې له پاسه ګوري - خو زه چې ورته کسم څه نشم لیدی ... د پرمختګ شیبو کې چې عبدالعزیز جامو کې نه ځایېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

له داد او شاباس سره لګيا وي ... هغه دی ... پوستې اور واخيست، له ټانګ لمبې خيژي ... په منځ کې ولګېد، ما بيا هم دوربين کې څه نه شوای ليدی ... دلته به نو له شرمه په درواغو ار شوم ... بالکل، بالکل ... لمبې خيژي... اوهوو...

کله کله بمبار دومره زيات شي چې سری سر نشي پورته کولی - اکمالات ګرد سره کيدی نشي، د خوشه يي بمونو له امله په ګز او پل مردکي، پارچې مونښلي - دا داسې بمونه دي چې پر ځمکه له غورځېدا په لسګونو واړه بمونه چوي، پنځوس په پنځوس متری کې اور پورې کړي...

زما دنده پر رپورټينګ سربېره لومړی ليکې او د قوماندې مرکز ته د بهرنيو خبريالانو د رسولو ده ...

د اسماني غوند په مخه کې مو کوټه ده ... پيرصاحب، فوتوګرافر احمد سينا او هدايت الله را سره ملګري دي...

د ورځې له ژورنالېستانو سره د قوماندې مرکز او کله کله لومړی کرښې ته ځغلو... پر کومه ورځ چې خبريالان نه وي، ورځ د قوماندې مرکز کې له حقاني صاحب سره اروم... جنرال رحمت الله ساپی هم د قوماندې مرکز کې دی ... جنرال سوله مل، جنرال مصطفی، جنرال قاسم او ... هم کله کله پېښه کوي.

له لومړی ليکې د دغو جنرالانو په راګرځېدو له حيرانی خولې خلاصې پاتې وې... جنرال قاسم په وارخطايی لګيا دی ... د مجاهدينو پر جنګي تاکتيکونو او ستراتيژی زمور سر نه شي خلاصېدی ... هغه څه چې مور لوستي او تجربه يې لرو دغه تکتيکونه ستراتيژي ورسره ارخ نه شي لګولی... د خدای تعالی مرسته ده که نه د عسکري اصولو کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

درک سړی نشي لګولی، توکلي روان دي...

دلته مې داسې بهرني ژورنالېستان هم ولیدل چې پر نصوارو روږدي دي - امریکایي ژورنالېست راب شولتایز کپ، کپ نصوار اچول...

د بېلابېلو هېوادو ... برتانیې، امریکا، فرانسې، جرمني، ایتالیا او ... خبریالان رامات دي... هدایت وایي د دوی هغسې دغسې ټول جاسوسان دي ... زه ورته وایم د څه شي جاسوسان .... زمونږ څه له چا پټ دي چې تر دغو غرو او خطرو یې را واړوي...؟

ما ته له ژورنالستانو د دوی افغان ژباړن مشکوک بلکې مرموز ښکاري... دوی د ژباړونکي په پرتله د نوکر څېره خپله کړې وي... ځینې په ناسمه ژباړه لګیا وي - یو شمېر له ناپوهۍ، ځینې کیدی شي قصدي...؟

له یو ځوان فرانسوي ژورنالېست سره یو فعال او خندنی ځوان یوازینی ژباړن دی چې پخپل ځانګړي کریکټر یې پر هماغه لومړی ورځ له مونږ سره اشنایي ټینګه کړه ... دی د فرانسوي خبریال په پرتله له مونږ سره نژدې شو... ځان یې میرویس جلیل معرفي کړ - لغمانی، خو د کابل اوسېدونکی...

میرویس جلیل دوی به چې سهار له مونږ سره کلکه مخه ښه وکړه - مانښام به بېرته راګرځېدلی وو، له خندا ډکه خوله به د کوټې دروازه کې ولاړ وو... ورته وایم میرویسه! دا نېک دې را ته خطرناک ښکاري...؟ وایي له تاسې زړه نشي راتولولی...

سهار چې له لمانځه وروسته پر بستره وغځېدم، دوی بیا د تلو تایبا لرله... ما ویل پرېږده یې، مانښام به بیا درې کې ولاړ وي ...

سترګه مې سره ورغلې وه... که ګورم فرانسوی لاس په سینه ولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی - په ملا قات شي - بیا ودرېږي، بېرته لاس په سینه په ملا کوږ شي ... دری واړې یې دا کار وکړ او له کوټې ووتل ... مانښام را ونه ګرځېدل...

د ستو کنډو ساړه په نامه دي، منی یې د کابل له ژمي سوړ... له ماسپښین وروسته سخته سیلی لګېږي...

مازیګر چې پتو کې غونج شم حقاني صاحب را ته ځیر شي، یوه شېبه ژور را ته ګوري... وایي: ... ته ولوېږه...

زه هم د ده له خولې دغو دوو تکو ته انتظار وم...

د حقاني صاحب ځېرې له ساړه پوست اچولی...

نیم ساعت د ستو کنډو سرک ته په راکوزېدو او یو ساعت پک اړ کې د اسماني غونډ کوټې ته تر رسېدو...

ژوند ښه دی، اسانتیاوې شته... خو د ورځې له حقاني صاحب سره خورا سخته تېرېږي... دلته دودی پر تبی چې تېغنه یې بولي پخوي... لکه ربړ ... پیتره او منځ کې خام اوړه ... شکنه او کله کله بېخونده ښوروا...

جنرال ساپي وچې شیدې او کافي ورسره راوړي... یو کوتی یې پکې یوازې په پته وهلی... د خالي دبي په لیدو په لته کې شوم، تر هغې چې لاس په لستوني مې ونیو... ورته وایم ملګرتیا داسې وي....؟ په خندا را ته وایي: راسره شریک یې، خو چا ته به وایې نه...

د بیګا کتوی موږ خپله پخوو... زیاتره غوښه وي... احمد سینا د وچ چای بدل کې له شا و خوا کورو مستې او هګۍ تر لاسه کړې وي... له تازه مېوې اوونۍ کې یو کرښت انګور رارسېږي...

موږ ته د حقاني صاحب په سپارښتنه غوړه رارسېږي چې د غونډ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسوولینو ته یې وار له مخه زمور د ناز اخیستو ټینګار کړي...

د غونډ مسوولین د زړه د پاسه ځان په دغسې لورینه ار ګني... وایي له مرګ سره دوی مخامخ دي مزې دفټریان کوي...

د دوی په خبره دفټریانو ته یې پر زړه نه اوارېږي- زمور په اړه خو بیا هم لږ دېره حوصله او زغم لرلی شي... خو خوست کې چې د نیول شویو جنرالانو ناز اخیستو ته ګوري تر بدو ردو او کنځلو یې خوله خلاصه کړې وي.

د حقاني صاحب یو ګروپ د طالبانو دی - لکه هغه چت طالبان، خپله دله یې ده، خپله خوښه...

حقاني صاحب موتر ته خېژي... له ستړي مشې او پوښتنې سره یې یو بد تمیزه وایي حاجي صاحب جنرالان خو دې پر سر خېژولي، چې ښه بوټ دي د دوی په پښو وي، چې ښه جمپرونه وي دوی اغوستي وي..

د مجاهدینو په پیسو سګرټ وهي... اوس دې له ځان پسې روان کړي وي... دا بندیان دي که قوماندانان ...؟

د دوی جرأت ما ته یو دول ګستاخي ښکاره شوه... حقاني صاحب یې خبرو ته داسې غوږ نیولی، چې پر ځېره یې د ناخوښۍ هېڅ نښه نشوی څرګندېدی...

ورته وایي ستاسې څه شی کم دي... وایي زمور هېڅ کم نه دي... خو پر دوی ستا مهرباني زیاته ده ...

له منځه یې یو ژنی را وړاندې شو... ته خو یې درسره ګرځوې... مور مین ورته ږدو بیا که ستا موتر پرې ورپیښ شو له مور نه...!

لومړني ژني په لاس وروسته ټپله کړ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقاني صاحب ورته وايي چهرې ځې...؟ وايي تا ته درتلو... دا خبره مو درته کوله...

.... خبره نه خبرې مو وکړې... اوس ولاړ شئ - غوند کې به چای وڅښئ دمه به جوړه کړئ... په مخه ښه، خدای پامان...

علي جان ته وايي... شریف ته ووایه چې دوی څه شی غواړي ور برابر یې کړئ....

د ستو کنډو په سپېرو غرو کې زمونږ له دغسې مزو او اسانتیاوو سره سره د بلا خوله کې هم غورځېدی شوی...

یو ماسپښین حقاني صاحب خدای خبر څرنګه یو په یو د لومړی لیکې د لیدو پرېکړه وکړه، که څوک ورته وایي: ... حاجي صاحب مه ځه... لنډه ورپرې کړې: ته راسره مه ځه.... زه پته خوله ولاړ یم... زما دې خبرو کې څه کار دی....؟ خپله ژبه هم کلا ده هم بلا... ما ته خپله ژبه بلا شوه ... ما داسې ګڼله چې هرو مرو به وایي نه.... خو ما ته خپله ژبه بلا ګرځېدلې وه ... حقاني صاحب را ته کړه: هوا!

لکه پر ځمکه میخ شوم، شا و خوا مې وکتل د تېښتې لاره، لوری نشوای موندل کېدای... پر ځمکه د ننوتو شونتیا نه وه...

بس غاړه مې کږه کړه... خدای چې چا ته پېښه کا... ځان دې ورته مېښنه کا....

علی جان پک اپ چالان کړ.... حقانی صاحب مخکنی سیټ کی کېناست... دویم سیټ کې زه یوازې ناست یم....

له کنډو په اوښتو د هاوان تر برید لاندې راغلو... دز - غورمب د پک اپ مخ، څنګ او شاته هاوان لګېږي... شګې خاورې پر موټر مونښلي... له علي جان موټر یوه بله خوا شي، پښه یې پر بریک ښخه شي، خو بېرته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر اکسلتر ورتینګه کړي، نه پوهېږي ودرېږي که څه وکړي...؟ لکه زړه يې دی بېرته راوګرځي... حقاني صاحب ته وګوري، پک اپ مخ پر وراندې څغلي...

زما سترګو لکه کار پرېښی - تپه تیاره ده ... روند شوم که څه بلا... ما سترګې پټې نیولې... مرګ مې سترګو کې په ګډا دی... د مرګ کومې کې په خورا سختی سا اخیستل کېدی شي... خو زه مرګ خپل کومې کې ژوندی ساتلم... مننه مرګه...؟

د قوماندې مرکز کې د حقاني صاحب له خوا لیکونه هم زما پر غاړه دي... یو ماسپښین حقاني صاحب له جیبه د کاغذونو د بنډلونو په را ایستو را ته کړه: ... دا ولوله، که د کار کومه خبره یې لرله را ته ووایه... نور لېرې کړه...

لکه پر یوه خزانه اوښتی یم - په زړه پورې او عجیبه لیکونه مې موندل... د لیډرانو، قوماندانانو، سرګروپانو او زمور روناندو ... حیرانوونکې غوښتنې، نظرونه، شیطانی او چوغلی...

***

مازیګر دی... سیلۍ هماغسې انګولي... بربوکی چورلي... ما خپل پټو کې ځان نغښتی، د حقاني صاحب له خوا دوو تکو ته په دوو پښو ناست یم... چې اوس به وایي... ته ولوېږه! د مازیګر لمر په غرغرو دی... ته ولوېږه ته مې غوږونه څک نیولي... خو... ای بسا ارزو که خاک شد...

یو پند سړی چې چته ږیره یې خرپلې، کوراځ شناوي بریتو یې شوندې لاندې کړي، له یوه ځوان سره را وخوت... له ګرېوان یې لویشت سپین وښته راوتلي... پر سرو سترګو یې ببرې وروځې را پرتې دي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

له شخې ژنګې بنګې لونګې يې د شنو څنو کلوختې را وتلي... پنډ سړي په درانه او لړزانده غږ سترې مشې وکړل... هر يوه ته په ځير ګوري...

ما کې يې تر دېره سترګې ښخې کړې... زه بل خوا ګورم... د ده کتل ځوروونکي دي، ځکه خو له ځايه ولاړ شوم...

حقاني صاحب ورسره تود روغبر وکړ... ځوان پاتې شو... پنډ سړي له حقاني صاحب سره د يوه کمر ډډ ته کښناست...

نيم ساعت پس حقاني صاحب را غږ کړ... زه ورغلم... له سلام وروسته کښناستم...

پنډ سړي يو ځل بيا د خپلو مرموزو، زورورو کتو تر ګوزار لاندې را وستم... پته خوله دی... خو د سرو سترګو کتو يې لکه قيامت را ټيټ کړی... چې يو ځل يې سړی کې ښخې کړی ته به وايې له زړه دی يوری وړې خيژي...

حقاني صاحب را ته کړه: ... ته يو خط وليکه...!

ما له خپلې اوړې بکسه را کوزه کړه... قلم کاغذ مې را ويستل...

... حقاني صاحب را ته وايي... زه يې ليکم...

نحمده و نستعينه...

د ګردیز قول اردو قوماندان جنرال عبدالقادر ميا خيل او لوړ رتبه صاحبمنصبانو، مامورينو او مشرانو!

ديارلس کال وراندې افغانستان کې ځينو له ولس خپله لار جلا کړه - د روسانو لمن کې يې ځانونه واچول، يو شمېر فهميده يا نافهميده د هغوی ځنګ کې ودرېدل، په مقابل کې يې ملت قيام وکړ، جهاد پيل شو، اوس بايد په دغو دوارو لارو قضاوت وکړو چې د چا لار صحيح

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده؟

ستاسې بېځايه مقاومت د بېګناه خلکو تلفات زياتوي، ابادي ورانوي، طبعي ده چې زمونږ انساني عاطفه هم په قهر او غوسه اړوي.

د ګردیز په نیولو کې زمونږ تصمیم قاطع دی. د مقاومت په صورت کې به د ټولو عواقبو مسئولیت ستاسې پر غاړه وي، خو که تاسې د مجاهدینو طرف غوره کړ، نو مونږ د افغانانو په صفت تاسې ته ډاډ درکوو چې که ستاسې منځ کې، خلقیان، پرچمیان هر څوک وي- زمونږ له طرفه عفوه دي.

له دغه لیک سره مونږ تاسې ته د وروری پیغام درلیږو او ډاډ درکوو، راځئ د تشو احساساتو څخه تېر شئ، د وروڼو په څېر له مونږ سره ودرېږئ - په دې کار به د مرګ ژوبلې مخنیوی وشي، الله تعالی به راضي او زمونږ تاسې ټولو عزت او ابرو به پر ځای وي.

د خدای په لحاظ او د ګردیز د مظلوم ولس په خاطر فکر او سوچ وکړئ، تصمیم ونیسئ او مونږ ته ژر تر ژره اطمینان راکړئ.

مونږ د دغه اعلان په وسیله خپل مسئولیت د خدای په حضور او د ګردیز اوسېدونکو په مقابل کې رفع کړ.

احترام

مولوي جلال الدين حقاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولوي جلال الدين حقاني- شهرت ننګيال- ستو کنډو

شهرت ننګيال خداى بښلى ميرويس جليل او نور فرانسوى خبريال
ستو کنډو (۱۳۶۹ل)

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولوي حقاني، جنرال سابي او شهرت ننګيال- ستو کنډو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قوماندان عبدالحق ستراتيژي:

قوماندان عبدالحق د کابل نيولو ته خپل پلان په کتابي بڼه وار د مخه چاپ کړی و، چې د تيوری له ارخه د کابل نيولو بڼه نقشه ګڼل کېدای شوی.

((کابل د ازادۍ پر لور)) کتاب په ۱۳٦۸لمريز کې خپور شو. کتاب کې، کابل د افغانستان زړه او د تحرک مرکز ګڼل شوی - د کابل پر تاريخي او ستراتيژيک موقعيت له لنډو خبرو دا ارتيا راپورته شوې چې کابل نيول هم غواړي او ودان ساتل هم.

کتاب په جوته را اخيستې چې کابل بايد له ورانېدو او تباهۍ پرته د رژيم له منګولو ازاد شي - د دې لپاره يې د يوه ګډ پلان او پروګرام په جوړېدو د ټينګار تر څنګ دا په ډاګه کړې چې په يوازيتوب دغسې پلان نشي پلی کېدی. قوماندان عبدالحق کابليانو ته دغه ډاډ ارين ګڼي چې د دغسې پلان او عملياتو موخه دوی نه بلکې د رژيم پوځي ماشين دی.

قوماندان عبدالحق جګړه يوازې پوځي اهدافو ته را ټوله کړه- د کابل د ننه يې پر پوځي ادو او تاسيساتو خپل عمليات و غځول، د دښمن د کرښې تر شا يې خپل ځواکونه ځای پر ځای کړل ...

ده پر وخت او ځای د دغسې پلان د جوړېدا ارتيا را مخې ته کړه - چې د قوماندان عبدالحق ملي لرليد او ځرګندې ستراټژۍ ځرګندويي کوي. پر سازش او توطيې د تکيې پر ځای يې په ښکاره د کابل نيولو پلان او پروګرام را پورته کړ، دا چې يوازې د کابل نيول هدف نه بلکې ودان ساتل يې هم د مجاهدينو مکلفيت وګڼل شي، ده د همدغسې ژمنتيا لپاره دا کتاب چاپ کړ - خو له بده بخته د سازش او توطيو خونړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

توپان کابل داسې ویجاړ کړ چې تر ننه یې لمبې ژبغړانده دي.

قوماندان عبدالحق پر کابل د عملیاتو دقیق پلان او ستراتیژي لرله چې په مټ یې ۱۹۸۶کال کې د روسانو د پوځي مهماتو ډیپو قرغه کې له دننه ویجاړه کړه.

حاجي عبدالحق د پوځي عملیاتو موخې له دقیقې مطالعې وروسته په خورا ځیرکتیا تاکلې، ځکه خو یې درامایي بریالیتونه تر لاسه کولای او په فلمي بڼه پای ته رسولی شوای...

له همدې ځایه وه چې لویدیز ژورنالستانو د هالیوود حق په نامه یاداوه...

له بده بخته قوماندان عبدالحق هم د کډوالو او افغانانو تر منځ سیاست ته پام نشوای اړولی... د افغان فرهنګیانو او ځوانانو تر منځ یې د اړیکو او سیاست کانالونه ونشوای غځولی... د بهرنۍ میډیا او اړیکو یرغمال پاتې شو...

ځکه خو د افغانانو د آزادۍ غوښتنې داعیه یواځې تر جنګ او جګړه‌ییزو پرمختیاوو محدوده کړای شوه... چې له امله یې زمور دویم هم نسل د جګړې هغه وګرځید...

(c) ketabton.com: The Digital Library

جبل السراج ائتلاف

شورای عالی جهادی:

دا چې د پرچم ځانګړي فرکسیون نظار شورا خپل ځنګ ته ودروله، که امر مسعود هغوئ د ځان مله کړل، خو د ((شورای عالي جهادي)) په نامه یو داسې حرکت رامنځ ته شو چې مشر یې احمدشاه مسعود او مرستیالان یې جنرال عبدالرشید دوستم او عبدالعلي مزاري وتاکل شول، د خبرو لپاره جنرال دوستم یو پلاوی دریو ځرخکو کې پنجشیر ته ولیږه جنرال مؤمن، جنرال حسام الدین، سید منصور نادري، فضل احمد طغیان او نجیب الله مسیر دری ورځې له مسعود سره د ائتلاف پر سر خبرو تېرې کړې. شورا کې د ((سازا او کجا)) استازو هم برخه لرله، ددغو دلګیو ګډ دریځ پر هماغه سمتي او ستمي اهدافو راګرځېد، په حقیقت کې د کابل ټول واک له جنرال نبي عظیمي سره و، چې کابل ته یې د نظار شورا او دوستم د ځواکونو مخه پرانیستې وه.

جنرال ابراهیم خان چې د حزب وحدت له لوړ رتبه مسوولینو دی په ۱۳۷۱/۳/۸ نېټه د یوې پوښتنې په ځواب کې وایي: در ماه دلو ۱۳۷۰ بعد از نصب جنرال رسول بیخدا که از طایفه پشتون بود بجای جنرال مؤمن که سید منصور نادري، رشید دوستم و جنرال مؤمن، سید جعفر بچه سید کیان، غفور پهلوان و غفار و غلام حسین خان و خودم مخالفت خود را اعلان نمودیم و نامه عنواني جمعیت اسلامي و حزب وحدت نوشتم.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې اړه د هغې رسالې ځینې برخې دلته را نقلوم چې د ((اسناد و فیصله های نخستین مجمع عمومي مؤسسان جنبش ملي اسلامي افغانستان)) تر سرلیک لاندې په ۱۳۷۱/۳/۱۰د کابل د دولتي چاپخونې کې چاپ شوې.

په دغه رساله کې د داکتر نجیب رژیم د قبیلوي او فاشیستي، قبیله سالار حاکمیت په نامه یاد شوی، په دویمه ماده کې د فدرالي دولت جوړېدل عنوان شوي او په نهمه ماده کې کاږي: ((افغانستان کشوریست کثیر الملیت، بنابرین جهت تأمین حقوق انان سیستم فدرالي برای اداره کشور لازم دیده میشود. کله چې سړی د جنبش اساسنامه او سیاسي اهداف مطالعه کوي فکر کوي ببرک کارمل په زرنګار پارک کې له ستیج نه د کارګر او عقرب د درېیمې په ورځ وینا کوي.

احمدشاه مسعود جنرال دوستم ته په مخابره کې ویلي وو: ... دیگه اگه ما طبق فیصله به عمل امده حکومت نجیب را سقوط و حاکمیت دولتي را خود بدست بگیریم به مقاومت احزاب جهادي خارج از تشکیل خود مواجه خواهیم شد، بناً دیگه جهت دفع خطر ایشان باید اعلان نمایم که رهبران احزاب هفت گانه مستقر در پاکستان به خاطر به وجود اوردن حاکمیت اسلامي در کشور ترکیب دولتي یي را در ظرف ۴۸ساعت به وجود اورده، اداره امور را بدست گیرند، درین صورت دیگه مه یقین دارم که تضادهای موجود در میان ایشان سبب مي شود تا جهت ایجاد چنان هسته یې به توافق نرسند انگاه دیگه ما خود اعلان خواهیم داشت که رهبران موصوف استعداد اداره کشور و تأمین صلح در وطن را نداشته و اینک شورای عالي جهادي وظیفه مذکور را بدوش میکشد و اگر احیاناً

(c) ketabton.com: The Digital Library

آنها موفق به تشكيل دولت شوند اتحاد ميكانيكي ايشان در مدت كوتاهي از هم پاشيده و اسباب بروز چنان حالتي را تهيه ميدارد كه در اثر ان مردم عادي كشور جبراً به شورای ما مراجعه نموده و خواهان بدست گيري قدرت توسط خود مان مي شود. آنگاه ما ميتوانيم با منطق مؤجه سياسي وارد پروسه گرديده و با برخورداري از حمايت مردم خويش به پيش برويم.))



(c) ketabton.com: The Digital Library

گام په گام سقوط

کابل وارخطا او تلولی و، نجیب الله تصمیم ونیو مرکز ته د جبار قهرمان ملېشې را ولېږدوي- خو د هوایي ډګر قوماندان د کندهار پر ځای الوتکې بلخ ته واستولې او له هغې ځای یې د جنرال دوستم نور افراد خواجه رواش او بګرام ته شپوه کړل...

لکه وړاندې مو وویل، احمدشاه مسعود د رژیم له ځانګړیو کړیو سره پخه کړې وه - د جنرال تنې له ناکامې کودتا وروسته یې د مخې ډېری خنډونه لیرې شوي وو، د شمال لرزوونکو پرمختیاوو د کابل رژیم د پایښت ستنې لرزولې وې...

شمال کې د رژیم قوتونه یو په بل پسې د شوي ائتلاف په چوکاټ کې یو ځای کېدل، خو د جنوب او ختیز حالات دغسې نه وو - که څه هم له حکمتیار سره د رژیم یوه ارخ څه نا څه د پوهاوي مخه موندلې وه خو هغسې انګیزه لکه شمال کې چې را منځته شوې وه جنوب او ختیز کې ایجاد شوې نه وه.

حکمتیار کابل ته نژدې لوګر کې و، د جنوب، لوېدیز او ختیز له جهادي ځواکونو او رژیم له قوتونو سره یې پخپل وخت او ځای همغږي او اړیکي را منځته نشوی کړی.

ګډه نماینده شورا:

مولوی حقاني د ((نماینده شورا)) په مټ له رژیم د واک پر لېږد کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی و. خو د شمال چټکو پرمختیاوو هر څه په بل مخ واړول او پر قومي، سمتي، ژبنیو تمایلاتو ولاړ ائتلاف نویو غمیزو ته لار پرانیسته، د ملګرو ملتو د سولې پلان یې په اوبو لاهو کړ.

د تېر کال (۱۳۷۰) په مني کې پر ګردیز درانه عملیات وشول- ګردیز د مجاهدینو تر تینګې کلابندی لاندې و- د ګردیز والي محمد انور حاصل او یو شمېر پوځي افسران په دغو عملیاتو کې ووژل شول.

د مولوي حقاني ځواکونو له ستو کنډو او مېلن نښه پرمختګ وکړ.

د رژیم پښې د ګردیز په دفاع کې لړزېدې - د میزان په اتمه یې صحرایي محکمه کې د ګردیز له پوستو او موقعیتونو په شا شوي افسران محاکمه کړل.

د ګردیز جګړو کې پر یوه ورځ د رژیم د ټانګ کنډک قوماندن ډګرمن محمد اعظم، ډګرمن سلطان محمد له ۲۹پوځي افسرانو سره ووژل شول په همدغه ورځ د وسلو دوه ډیپوګان وسوځېدل.

جنرال نبي عظیمي پخپلو یادښتونو کې کاږي:

((... تمام پوسته ها بدست حقاني می افتد، جنرال صیفور که زخم کوچکی برداشته بود به مرکز جهت تداوي انتقال میابد. حقاني بعد از گرفتن و اشغال تمام پوسته های دفاعي تعرض خود را توقف میدهد. معلوم نیست برای چه منظور؟ زیرا اگر در همان موقع آنرا انکشاف میداد بدون شک گردیز را تصاحب میکرد.))

د ګردېز وضعیت:

مولوي حقاني بیا هم ګردیز ته د ننوتو بیړه ونه کړه، بلکې د ګډې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نماینده شورا پلان ته یې لومړیتوب ورکړ - په دې اړه یې دوې اعلامیې چې د وړاندیزونو بڼه یې لرله خپرې کړې، یوه د *قوماندانانو او مجاهدینو او بله د* جهادي مشرانو په نامه وه. د مجاهدینو او قوماندانانو اعلامیه کې راغلي: ... مجاهدین ښایي پر ګردیز، غزني، لوګر، وردګو... د پوځي برید او یرغل پر ځای د جهادي قوتونو د بشپړ تفاهم او یووالي له مخې د ګډ شورایي سیستم له لارې له پوځي قطعاتو واک واخلي - داسې چې پوځ منحل نشي او تر هغې چې کابل کې مرکزي حکومت جوړیږي دغه ګډې او نماینده شوراګانې د باصلاحیته مراجعو په توګه کار وکړي.

د جهادي قیادتونو اعلامیه کې مولوي حقاني له مشرانو غوښتي چې مشران خومره ژر کیدی شي پر یوه واحده اداره او موقت حکومت سلا شي - که نه، د دوی له اختلاف به هېواد د کورنیو شخړو، قومي او ژبنیو تربګنیو کومي ته ولوېږي.

په اعلامیه کې راغلي: د ګډو شوراګانو له جوړېدو وړاندې مجاهدین ښارونو ته له ننوتو ډډه وکړي.

اعلامیه کې پر پوځي قطعاتو غږ شوی چې بېلابېلو قوماندانانو او ارخونو ته د تسلیمېدو پر ځای د مجاهدو ګډو او متحدو نماینده شوراګانو سره خپل پیوستون اعلان کړي - یوې ډلې او تنظیم ته له تسلیمېدو را وګرځي.

د دغو شوراګانو د تشکیل او جوړښت په موخه یې ۱۴ ماډو کې د نماینده شورا طرحه مشرانو ته ولېږله.

حقاني صاحب د جنرال اسلم وطنجار یو پیغام تر لاسه کړی و چې که بې وسلې مجاهدین کابل ته ننباسي دوی به یې مسلح او ستراتېژیک

(c) ketabton.com: The Digital Library

موقعیتونه ور وسپاري، خو حقاني صاحب دا کار ونکړ، چې بېلا بېلو تنظیمو، ډلو او قوماندانانو ته یې د رژیم د ځواکونو تسلیمېدل کورنۍ جګړې ته مخه ورکول ګنل.

د حمل پر ۳۱مه یې د سیمې قوماندانانو شورا کې ګردیز ته په ننوتو کې د بیړې عواقب څرګند کړل.

ده په ډاګه کړه چې غنیمت په هغسې مفهوم لکه دمخه چې تفسیر کېده جواز نه لري- ټول دولتي تأسیسات که ملکي دي که عسکري تر بیت المال اړه لري او ملي شتمني بلل کېږي.

په همدغې ورځ یې له ستو کنډو، جهادي مشرانو سره مخابروي اړیکه کې غږ وکړ چې د یوې ملي شورا په ترکیب خپل توافق څرګند کړي او ټولو جهادي ځواکونو ته د هغوی د قناعت او تناسب له مخې غړیتوب ورکړي - چې تر واحد مشرتابه لاندې ګډه نماینده شورا له ملګرو ملتو سره په تفاهم کابل کې د مرکزي حکومت واګې تر لاسه کړي.

حقاني له احمدشاه مسعود سره هم په اړیکه کې و - مسعود غونښتل حقاني د غزني له لارې کابل ته د ننوتو پروګرام پلی کړي - خو د غزني له لارې کابل ته د ننوتو لار اوږده وه - چې نشوای عملي کېدای - له همدې ځایه یې حقاني ته وویل: دی به د ګردیز ځواکونو ته ووایي کابل ته د ننوتو لار ورکړي...

د ګردیز ځواکونو ته د ویلو خبره خپله یوه اندېښنه وه... ځکه خو مولوي حقاني کابل ته ننوتل وځنډول...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ماضي له تروړمی د مستقبل تیارو ته

شاوخوا سپینو خېمو نیولی... د دوو دریو خېمو پر سر یوه شصت لاری ولاړه ده... له څو ورځو خلک له پریو سره انتظار دي...

پر ګردېز د ورختو انتظار...

د ځمکې مخ واورې نیولی... خو پل یې نشوای پتولی... د ونو بوټو پر څانګو، ښاخونو لکه سپین ګلان راختلی...

د سر سترګو ته په زړه پورې منظره، خو د زړه پر سترګو تپه تیاره...

ساړه دی خو چیچلی هغه نه... له ماښام وروسته یخني زور اخلي.

دلته نو د ستو کنډو ساړه کومی شلولی وي... زما ډېری شپې موټر کې وي... دا زما کور، خونه، بستره هرڅه دي. د موټر سیټ مې نور هم شاته هوار کړ...

په تک تک راکښناستم... هېنداره مې کوزه کړه... سیلۍ لکه څېرې په مخ لګي... علي جان پټو کې نغښتی خوله راوایسته... څو! کوم ځای، چېرې...؟ د پوښتنې وخت نه و.... ډېری همداسې وې، بېله دې چې سره پوه شو مندې...

که ګورم پیر صاحب راوخوت.

چېرته..؟

په لنډو په خندا کې خوده...

ګاډي له ستو کنډو واوښتل، لاندې یې د کین لاس شېلې ونېوې...

له نیم ساعت مزل وروسته ښي اړخ ته وګرځېدل... وړاندې تته ږنا لیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېده... موټران ورو او بیا تم شول... بادِیګارډان یو یو له موټرو الوتل څه پته نشوای لګېدای...

هېڅا څه نه ویل.... د خوست جنرالان هم پټه خوله وو.

هر یوه ته ځیر ځیر ګورم لکه خولی یی ګنډلی... له دوی سره می اړیکې د اشنایی هغه ګرځېدلې... ډاډه یو بل سره د راز خبرې راسپړو.... خو دلته یې لکه خولو ته کولپ اچولی.

جنرال سوله مل مې په کراره وپوښت... ایله یې د جنرال امام الدین په نامه خوله چوله شوه. په خبره ورسېدم...

دوه مخالف بلکې دښمن یو بل ته مخامخ وو... خولې بیا هم ګنډلې، خوله پوزو برابس لکه لوګی خوت... ما د خپلې دمې راکښلو غږ اورېدای شوای...

سپوږمی پر واوره نقریي ورانګې غورولې، آسمان تک شین او له ستوریو ډک دی... سړی داسې ګڼي لکه خپله سایې هم سینه کې کولپ کړې وي...

حیرانوونکی ناڅرګنده چوپتیا د څو شېبو لپاره پر ونو بوټو د سیلی د څپو په لګېدو ماته شوه... سړي ته به احساس شو چې ژوندی دی...

د جنرال امام الدین دنګه ونه دورین جمپر لاندې له لیرې جوته وه، دواړه لاسونه یې د خړ عسکري پتلون جیبو کې هغسې نغښتي چې کین اړخ ته یې د ځړېدلې تفنګچې څوکه بربنده کړې وه.

ده خپلو پلو ته کتل، لکه خپل ګامونه شماري، تر غټو عسکري بوټان لاندې د واورې زېړوي ختل...

حقاني صاحب او جنرال امام الدین یو بل ته مخامخ ودرېدل، جنرال د پتلون له جیب لاسونه راوایستل... د ده لاسونه رېږدېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستري مشي او له هغې وروسته د جوړپخير لنډه پوښتنه...

حاجي خليل پر واوره خپل پټو وغوړاوه... حقاني صاحب او جنرال کېناستل... د خوست جنرالان هم د پټو څنډو ته تکيه شول، په ترخه موسکا يې د يو بل لنډه پوښتنه وکړه.

زه ظاهرا د ستو کنډو يوه خوړ په ژې چوپ او هک حيران ولاړ يم، پر کېمره پورې مې گوتې نښتې... ايله مې د يوه تصوير لپاره تنې کېکاړل شوه، چې زړه او ذهن مې ډېر وراندې د ماضي تيارو کې ورک دی.... د پنجشنبې له غرمې وروسته ..... هغه بدمرغه ورځ چې کابل کې تانکو او ماشيگنو له خولو اور غورځاوه، د الوتکو غوړمبی و، پر ارگ د بمباريو لوگي ختل...

امام الدين ددغه بدمرغۍ هغه کردار چې پر ولسمشر سردار محمد داود خان يې د گولۍ چلولو په وياړ د کودتا او انقلاب د بري تيکه خپله گڼله...

امام الدين پر سردار د تسليمدو امر کړی و، خو د تسليمۍ لغت سردار د خپل ژوند ډکشنرۍ کې نشوای موندلی.

سردار ددغسې غوښتنې څواب د تومانچې له خولې پرته نشوای ليدای...

سردار شهيد شو... امام الدين زخمي... سملاسي يې څلور سويزه روغتون ته ورساوه... او بيا شوروی ته....

امام الدين ژوندی پاتې شو، جنرال شو، د قول اردو قوماندان دی... د ثور کودتا د اغار او انجام يو بدمرغ کرېکتر... چې نن يې د ملگرو په خبره د ثور پرتمين او په شا نه تلونکي انقلاب جنازه خاورو ته سپارله...

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګردېز وروستۍ پرمختيا

مولوي حقاني د ثور پر لومړۍ (سه شنبه مانښام) د جنرال رحمت الله ساپي، ډګر جنرال محمد ظاهر سوله مل، برید جنرال مصطفی، حاجي خليل الرحمن په ملتيا له ډګر جنرال امام الدين او تورنجنرال نبي جان سره مخامخ خبرې وکړې.

حقاني دوی ته ډاډ ورکړ چې نه غواړي د چيغې په صورت کې ګردیز ته ننوځي - بلکې غواړي د تفاهم او همکارۍ له مخې د يوې نماينده شورا له لارې ګډه اداره را منځته کړای شي - چې امنيت ټينګ او د بې نظمۍ او ګډوډۍ مخه ونيسي.

د دې لپاره يې دوی ته يوه يوه ټاکي واکي مخابره ورکړه - خو ډګر جنرال امام الدين له نماينده شورا سره پيوستون وځنډاوه...

د ثور پر دويمه د ګلم جم ملېشې له ګردیز، کابل ته ولېږدېدې - جنرال امام الدين د سبا وعده پوره نه کړه.

تـــــا چې سبا وکړ، سبا نه راځي
راشي په هر چا خو په ما نه راځي

ده له حقاني سره اړيکه ټينګه نه کړه - په دې توګه د ثور پر درېيمه د ګردیز قطعاتو امنيتي کمربندونه پرېښودل او د مجاهدينو او ولسي خلکو بېلا بېلې ډلې ښار ته ننوتې ...

يوازې د ګارډ قوماندان تورنجنرال احمد علي اقتاش مقاومت وکړ - دغه قطعات چې د ګردیز د رباط سيمې پر يوه غونډۍ ځای پر ځای شوي وو - د مجاهدينو پر وړاندې ودرېدل، تورن جنرال احمد علي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقتاش په ډاګه کړه چې له حقاني پرته بل چا ته وسله نه شي اېښودی.

له همدې ځایه حقاني له خپلو ملګرو سره د ګارډ قوماندانی ته ولاړ

- جنرال اقتاش د وسلو، مهماتو او وسایلو لست ورکړ. مولوي حقاني پوځي افسرانو او عسکرو ته لنده وینا وکړه چې غټ تکي يې دلته را اخلم:

زما عزتمندو!

تاسې ګورئ لوی بښارونه فتحه شوي، ځکه خو پخوانی بدی او دښمنی له منځه ولاړې، الحمد لله د هغې ځای دوستی او وروری ونیو

- ځکه خو مورږ تاسې یوه صف کې ودرېدو...

... زمورږ دا نظر و چې نور وسله وال پوځونه ځوک له مجاهدینو سره جګړې ته نشي ار کولی - ځکه خو دا وسلې، مهمات او وسایل غنیمت نشي بلل کېدی - ستاسې صاحب منصبانو او عسکرو تکلیف، مجاهدین خپل تکلیف ګڼي...

... مورږ ګردیز ته په ننوتو کې ځکه له عجلې کار وانخیست چې ځوک د چیغې په صورت کې بښار ته د داخلېدو مخه ونه وینې - چې ملي شتمني خوندي پاتې شي او دولتي تأسیساتو ته زیان ونه رسېږي، ځکه خو مورږ د قول اردو قوماندان جنرال امام الدین او د ده ملګرو ته وویل چې اول خط مه رنګوئ، باید د ګډ اقدام او تفاهم په نتیجه کې مجاهدین بښار ته داخل شي، مورږ داد ورکړ چې مجاهدین ستاسی د عزت او ناموس دفاع کوي، داسې دفاع لکه له خپل عزت او ناموس چې دفاع کوي - مورږ د نماینده شورا د طرحې یو نقل هم ورکړ - چې د وسلو ډیپوګانو، دولتي تأسیساتو حفاظت او ساتنه وکړی شي.

مورږ دوی ته وویل: هغه څه چې په مورږ حل کېږي، مورږ به یې حل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړو او هغه چې په تاسې حل کېږي، تاسې به اقدام کوئ او هغه چې په ګډه حل کېدای شي، تول به يې په حل و فصل کې برخه اخلو، متأسفانه چې هغوی په خپله وعده وفا ونه کړه او خبره يې تعويق کې واچوله.

کله چې خلک ښار ته داخل شول - موږ بيا هم خپل ملګري وځندول - خپلو مجاهدينو ته مو وويل: موږ له هغوی سره خبرې کړي. بايد ارتباط ورسره ونيسو خو چې خبر شو دوی له ګردیز وتلي وو...

موږ خپلو مجاهدينو ته وويل: چې پوځي قطعاتو ته هېڅ دول تکليف او زيان ونه رسوي، قطعات تول سلامت پرېږدي، د بيت المال او ملي شتمنيوساتنه وکړي.

زما عزتمندو!...

... تاسې ته به معلومه وي له موږ سره داسې اشخاص هم شته چې له رژيم سره يې ډېر کار کړی - بيا يې له موږ سره لکه تاسې اسلامي اخوت پيل کړی. موږ د خوست فتحې پر وخت هم دا کار وکړ چې هېڅا ته تکليف ونه رسېږي، موږ د خوست ۴۰۰زخميان روغتون ته انتقال کړل - شخصي داکتران مو ورته ونيول، سره صليب ته مو ورکړل که څه هم مجاهدينو دغه پوځيان په سخت او خونړي جنګ کې نيولي وو - د دوی له لاسه د مجاهدينو شهيدان لا دفن شوي نه وو - خو موږ دوی په عزت له ځان سره وساتل او له څه مودې وروسته مو خوشې کړل.

خو تاسې چې بې جګړې موږ سره يو ځای شوي ياست، حتی زه دا وايم تاسې خدمت کړی او يوه قرارګاه مو حفاظت کړې، ځکه خو زه تاسې ته زنده باد وايم او دېر درځخه خوشاله يم موږ او تاسې به خپله وروړي پالو، دعا کوم چې الله تعالی د دنيا او اخرت نېکبختي در په

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخه کړي...

دلته مولوي حقاني د سنډې ټايمز او واشنګټن پوست د خبريالانو پوښتنو ته لنډ ځوابونه ورکړل.

سنډې ټايمز: د کابل شاوخوا ځينې قوتونه پراته دي، غواړي پر کابل حمله وکړي، تاسې په دې هکله څه نظر لرئ؟

حقاني: کابل رژيم له سقوط سره مخامخ دی - اوس دغه رژيم د جنګ لپاره هدف نشي ګرځېدی - که اوس جګړه کېږي دا به د قدرت لپاره وي.

واشنګټن پوست: هغه پوځيان چې ګردیز کې مجاهدينو سره يو ځای شوي د افغانستان پوځ کې به ځای ولري؟

حقاني: راتلونکې اردو کې د دوی له نقش سترګې نه شي پټېدای.

علی احمد اقتاش ريښتينی او با کرکټره جنرال برېښېده، د ده روحيات لوړ، هېواد پالنه او ملي غرور ځرګند و ... خپل غوند او تأسيسات يې وساتل ... کله چې عرب خبريال احمدزيدان ده ته کامره مخامخ کړه، لاس يې ورته ونيو ... ما ته يې وويل : ننګياله ! دوئ ته ووايه دا دعکسونو وخت نه دی ... ما زيدان له عکسونو منع کړ، جنرال اقتاش زما څنګ ته راغی ... ويې ويل: د دوی هغسې دغسې د وحشي عربو ... زما عکسونه اخلي ... ما ته د ده غبرګون او خبرو خوند راکړ، غېږ مې ترې تاو کړه ... ده پر تندي ښکل کړم...

د شمال له پرمختياوو سره مولوي جلال الدين حقاني ستو کندو کې څو ځلې له مسعود سره په مخابره کې خبرې وکړې خو مسعود ده ته د زړه خبره ونه کړه، مسعود له مولوي حقاني غوښتل له ګردیز واوړي او کابل ته نژدې خپل خواکونه ځای پر ځای کړي، مسعود مولوي حقاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ویل: چې دی به د ګردیز ځواکونو (جنرال امام الدین) ته ووایي چې لار در کړي.

مسعود په دې فکر و، چې که وتوانیږي حکمتیار او حقاني پخپلو کې ولوېږي او یا لږ تر لږه د مولوي حقاني ځواکونه د هغه په مخه کې خنډ وګرځي. همدغسې یو پلان ائتلاف په ننګرهار کې هم درلود چې سلفیان خپل ځواکونه له کونړ نه جلال کوټ ته را ورانديې او د حزب قوماندان انجنیر غفار له ځواکونو سره چې د کونړ په مخه (نښوه) کې ځای پر ځای وو په جګړه بوخت شي.

سړی نپوهیږي جنرال امام الدین څرنګه ونه غوښتل په ګردیز کې موجود امکانات او مهمات یوې ګډې اداري یا په بله وینا د مولوي حقاني د پلان او پروګرام له مخې نماینده شورا ته وسپاري، امام الدین د نښار کمربندونه پورته کړل او پر ګردیز د مجاهدینو او ولسي خلکو لښکر چې همدې ګړی ته منتظر وو ور مات شو.

د احمد شاه مسعود لخوا ګردېز ته د لارې ورکولو خبره دغه راز رابرسېره کولی شي...؟

بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان د جهادي قوماندانانو د سرتاسري شورا اعلامیه

د محترم الحاج جلال الدین ((حقاني))

پیغام

د دوو هفتو را پدېخوا د پکتیا ولایت مرکز د مسلحو قواوو سره اخري او مخامخ ملاقات کې د جنوب د سمت عمومي قوماندان الحاج مولوي جلال الدین ((حقاني)) ډګر جنرال رحمت الله ((ساپي)) ډګر جنرال محمد ظاهر ((سوله مل)) برید جنرال مصطفی او د مسلحو

(c) ketabton.com: The Digital Library

قواوو له طرفه د قول اردو قوماندان دګر جنرال امام الدين د څارندوی قوماندان تورن جنرال نبي جان او د هغوی د نورو ملګرو په موجوديت پرون شپه ۱۳۷۱/۲/۱ اخري مجلس وشو او څلور ساعته يې دوام وکر د هرج و مرج او ګډودی د مخنيوي او ملي شتمنيو د ساتنې په غرض د سيمه ييزې نماينده اسلامي شورا طرحه ورته قرأت او تسليم شوه خو مقابل لوري د ګډې اداري اعلان سبا ته پرېښود او په دغه وعده يې وروستی فيصله وځنډوله- له بده بخته د ۱۳۷۱/۲/۲ په شپه کابل ته د جنرال امام الدين او يو شمېر نورو جنرالانو په لېږد د نښار امنيتي کمربند مات او پر سهار يې نا منظم مجاهدين پر نښار ور وختل.

همدارنکه د جنوب تولو ولاياتو په ګده فيصله وکره چې د امنيت له تأمين وروسته خپلې قواووې چې د مجاهدينو سابقه قوت او نوي فتحه شوې سلاح او وسايط په کې موجود دي کابل کې د سولې لپاره د الحاج مولوي جلال الدين ((حقاني)) تر مستقيمې قوماندې لاندې د کابل په لور حرکت وکري.

والسلام

د افغانستان د جنوبي سمت عمومي قوماندان

او د قوماندانانو سرتاسري شورا رئيس

الحاج مولوي جلال الدين ((حقاني))

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

له جنرالانو سره شپه

شپه مو د جنرال اقتاش بلنداژ کې شوه، دا یوه وسپنیزه کوټه ده له باندې لکه جونګړه، دننه په چپرکټونو، بسترو، بریښنا او نورو وسایلو سمبال- ځان مې د جنرالانو تر منځ کلابند لیده لکه یوې جلا نړۍ ته ننوتی وم، یا کومه نوې وچه مې موندلې... دېرې څیزونه راته نوي وو، له رازونو او اسرارو ډک...

غونښتل مې د زړو خبرې واورم، خو اوس یې هم پرانیستې خبرې نه کولې - یوازې د جنرال ساپي ټوکو د مجلس مالګه برابرولی شوای... پر جنرال اقتاش او جنرال ساپی سربېره، جنرال مصطفی، جنرال محمد قاسم، جنرال ګل اقا او جنرال محمد عظیم هم شپه دلته واړوله. د غونډې مربوطاتو کې پوځي حاکمیت او دسپلین حاکم دی، د جنرال اقتاش حکم او امر تینګ چلیږي... د شپې ما سترګې پټې نه کړای شوې چې جنرال مصطفی کړی شپه خوړېده بلکې غوړېده...

جنرال باید جنرال وي، چې جنرال تر اخره جنرال پاتېږي، له تقاعده بلکې، مرګ وروسته هم... ځکه پوځ نبایي سیاسي نه اوسي...

چې هر جنرال سیاست بایللی... سیاست جنرالان له پوځ لېرې کولی شي، سیاستوال یې نه شي ګرځولی... پوځیان باید د سیاست له حق محروم اوسي... نه یوازې پوځي جنرالان بلکې جنګیالي او مجاهدین هم... که دوی ته یې په لاس ورکړي له خاورو، شګو یې ډکوي... د پوځ پوست چې هر جنرال غورځولی، د سیاست پوست نه دی پرې زرغون

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی، لغریان شوي... چې جنرالان اوجنګیالي سیاست کې هم له جنګ او زور لاس نه شي نیولی... دوی له خپل مزاج او طبیعت مجبور دي...

نیش عقرب نه از پی کین است

مقتضـــای طبیعتش این است

خو افغاستان کې سیاست نه شته که وي جنګي سیاست دی... د جنرالانو، جنګیالیو او مجاهدینو...سیاست د خدای قهر دی... ما له دوی افغانستان کې د ټانکونو، الوتکو او پوځي وسایطو د ارقامو پوښتنه وکړه...؟ نه یې شوی ښوولی که نه یې ښوول...

د پاکستان د ټانکو، الوتکو له شمېر مې چې ورته یاده کړه... خولې خلاصې پاتې شوې، نه یې شوای منلی چې دا ګني د یوه هېواد اشد محرم رازونه دي...

... را ته وایي تا دا احصایه له کومه کړه...؟ ورته وایم جنګ ورځپاڼه هر کال د هند و پاکستان د پوځي وسایطو دغسې ارقام خپروي...

د ټانکونو شمېر، نوعیت، ګوزاریز څرنګوالی... نه دې شوای پرې منلی... جنرال ساپي هم زما د خبرو له تائید غاړه غړوله څکه خو زه وایم جنرال چې هر څه شي بیا هم جنرال دی... باید جنرال وي...

جنرال اقتاش په ټوله مانا جنرال و، ددې څېره او شخصیت کې د ماتې، اسارت، تسلیمې هېڅ نښه او اغېز نشوای تر سترګو کېدی هماغسې ډاډه، فعال او با ډسپلین ... د ده دغه د یوې شپې ورځې ملتیا او بندار د جنرالانو په اړه زما ټول سوچ واړاوه ...

سهار مې له غوند لېرې خور کې حقاني صاحب پر یوه ګونبې چوکۍ یوازې او خواشینی ناست ومونډ، ساتونکي لېرې ولاړ دي... لکه زما راتلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته يې له سره پام نه وي... ناڅاپه يې زما سلام، عليک کر... بېرته خپلو سوچونو کې ډوب شو... له لږ خندِ وروسته زه بېرته وګرځېدم - که ددغې خواشينووئکې چوپتيا پته ولګوی شم... د ساتونکو خولې مې بوی کړې، خو څه مې ونشوی موندلی...

څرنګه چې پېښور ته مې د تلو خبره غوته کړې وه، بېرته حقاني صاحب ته ورستون شوم... ورته وايم حاجي صاحب زه به پېښور ته ولاړ شم... وايي ولاړ شه... دا يې نه ويل د څه لپاره؟ څه وکړه... څه کوې ...؟ له لږ خند وروسته بې له دې چې حقاني صاحب مې پوښتلي وی لکه له ځان سره وايم: ښه به وي پکتيا، خوست او ... ته قوتونه راتول شي...

ما د جنرال سايې له بېګانيو څرګندونو دا پته لګولی شوی چې دی به هرومرو حقاني صاحب ته د کابل سلا ورکړي... ده د کابل جګړو مخنيوي کې د حقاني صاحب رول او منځګړيتوب ارين ګانه... خو ما ته خدای مې دې غاړې نه بندوي د جنرال صاحب دغه هيله کې د چوکۍ او مقام هوس ښکاره شو...

حقاني صاحب را سره په همدغسې نيولې څېره سره مخه ښه وکړه... ما هم له دې زيات څه نشوای ويلی... لاهور کې قوماندان ګل حسن په تلېفانه خبر کړم، چې حقاني صاحب په جرګه کابل ته تللی... جنرال سايې د احمدشاه مسعود له خوا د ملي دفاع وزارت بېواکه بې امتيازه مرستيال شو... خو ملېشو د ده پک اړ وتښتاوه، ده يوازې د استاد رباني په لاسليک يو فرمان تر لاسه کړای شو... په عملي دګر کې يې مخه ډب وه...

جنرال صاحب پر دغه فرمان خورا خوښ ښکارېده... ما ته يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

احوال راکړ کاروان روان دی...

حقاني صاحب ته مې په دې اړه یو لیک وکیښ... دری ورځې وروسته ځواب را ورسید:

محترم ورور ننګیال صاحب!

السلام علیکم ورحمه الله وبرکاته!

تاسې ته بهتره معلومه ده چې تر اوسه د حکومت استقرار او سیاسي اهداف نه دي واضح، ائتلافي شکل لري، چې ملي اسلامي صبغه یې هم مشکوکه ده. ما هم تر اوسه حکومت کې برخه نه ده اخیستې، یو وار دې وضعه معلومه شي بیا به په درنښت سره د فرهنګي اموراتو په ارتباط حکومت کې رسما شامل شې، په دې مورد کې تاسې ورونه ښه پوهیږئ، نور مو په خدای سپارم.

جلال الدین حقاني

وروسته چې د کابل له نویو ځګړو جنرال ساپي پلچرخي ته سر وایستی شوای، هر یوه ته به له دې خبرې سره ولاړ و، چې که تر ماهیپر یې واړوي.... ما ورته کړه جنرال صاحب کاروان څنګه شو روان دی که تم...؟ ده په خندا راته کړه: ... روان دی خو په شا...

د شمال څپې د کابل پر خوا:

په شمال کې د مسعود وروستي سوقیات پروان کې وو چې ځواکونو یې بې له کوم مقاومت چاریکار لاندې کړ، له همدې ځایه وه چې د نظار

(c) ketabton.com: The Digital Library

شورا ۸۰۰ وسله وال د جنرال بابه جان د قومي مليشو په پرده کې کابل ته ننوتل او د گارنيزيون قوماندان جنرال نبي عظيمي د پلان له مخې په حساسو ځايونو کې ځای پر ځای شول. که څه هم په وروستيو کې داکتر نجيب الله، نبي عظيمي ته ويلي و چې په مزار کې سکاډ شئ او الوتکې بگرام ته ولېږي خو هغه دې کار ته بيا هم پلمه جوړه کړه.

په شمال کې همدا يو شعار خوله په خوله گرځېده: ((نجيب ميخواهد فاشيزم پشتونها را برای صد سال ديگر بر کشور مسلط نمايد)) داسې تبليغات روان وو چې داکتر نجيب، وطنجار، پکتين، جمعه اخک، مانوکی منگل، لايق په جهاد کې د پښتنو ځواکونو په همکاری يو گد پلان او پروگرام تر لاس لاندې نيولی او غواړي واکمني د پښتنو په لاس کې پاتې شي...؟

له ورځې تېرې اوبه:

د ۱۳۷۰لمريز کال د کب پر ۲۷مه داکتر نجيب د دوستم تول شرايط منلي وو د حيراتان لار ترلې، کابل د بشپړې کلابندی په حال کې و په همدې مهال سمنگان د جميعت په لاس سقوط وکړ.

شمال کې د رژيم ځينې نور ارخونه د پرله پسې تبليغاتو تر اغېزې لاندې و، دوی داسې ګڼله چې د حکمتيار پر ځای له مسعود سره ښه چلېدلی او د ګډې ژبې پيدا کولو وړتيا لرلی شي.

د مزار له سقوط وروسته جنرال نبي عظيمي کابل ته ستون شو که هر څو يې د داکتر نجيب او وسله والو ځواکونو د قوماندانی غونډه کې په اوښلنو سترګو او له غريو ډک اواز د مزار د سقوط جريان په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواشينوونکو تکو څرګنداوه خو له باطني حرکاتو يې د يو فاتحانه ماموريت د ترسره کولو څرک له ورايه لګېدی شوی، ډاکټر نجيب يوه کمېټه د کاوياني، مزدک، بريالي، يعقوبي او وطنجار په ګډون جوړه کړه چې له دوستم سره اړيکي وساتي که د رژيم له مخالفت نه لاس په سر نه شي لږ تر لږه خو د حل تر مهاله ناپېيلي او خودمختاره حيثيت خپل کړي.

نبي عظيمي ډاکټر نجيب ته همدا يوه خبره کوله چې دی به د نوي کال پر ورځ د روضې جنډه د رژيم په نماينده ګي پورته کړي.

نجيب الله مزار ته د دوستم د ځواکونو د لېږلو تېروتنه ومنله او په دې اړه يې د ټولو پرېکړو مسئوليت پر غاړه واخيست.

ډاکټر نجيب له يوې بلې تېروتنې سره مخامخ کېږی شو، ده ته داسې ښودل شوي وو چې د مسعود برید پر کابل څکه ناشونی دی چې پروان کې يې د حکمتيار ځواکونه په مخه کې دي، خو د مسعود ځواکونه لا مخکې د جنرال بابه جان له هغو سره کابل ته ننوتي وو، د حزب قوماندان معلم فريد او فتح محمد هم د مسعود مخه ډب نه کړی شوه يا يې نه غوښتل د ده مخه ونيسي، پر ډاکټر نجيب ناوخته شوې وه ښايي په وروستيو کې يې د مسعود پر ځای حکمتيار غوره بللی وي خو اوبه له ورخه تېرې وې.

حکمتيار وروسته دا خبره د ننګرهار پوهنتون محصلينو يوه غونډه کې په داګه کړه: د نجيب له اړخه را ته پرله پسې پيغامونه را تلل، ده له استعفا پېنځه ورځې د مخه يو ليک را ولېږه چې حزب به د مشر ورور په توګه په حکومت کې مني، په نظام کې چې هره ځوکی غواړي په واک کې مو ده خو له مورږ نه سترګې پټول بې انصافي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوند څلور لکه غري لري له يوې مخې زمور حذفول ناشوني دي، که حزب اسلامي زمور دغه خبرې او وراندیز ونه مني بیا به وګورئ چې د اقتدار واګې د چا لاسونو ته لوېږي...

نجیب الله لکه تکان خوړلی وي او یا له یوه درانه او ویروونکی خوبه پاڅېدلی وي، پرېکره کوي کابل ته د جنرال جبار قهرمان ملېشو د را وړلو لپاره کندهار ته څلور الوتکې پلان کړي، خو د هوایي دګر قوماندان جنرال فتاح د کندهار پر ځای الوتکې مزار ته واستولې او د دوستم ملېشې یې د بګرام او خواجه رواش په هوایي دګرونو کې ځای پر ځای کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظامي عالي شوار ته د واک لېږد

غونښتنه

د حمل پر ۲۷مه د بهنين سهوان مرستيال حسين بوستالي يوې نظامي شورا ته د واک سپارلو خبره د رژيم له پوځي مسئولينو سره شريکه کړه، جنرال عظيمي په جريان کې و، داکتر نجيب پوځي شورا ته د واک سپارلو هرکلی وکړ، د پوځي شورا غړي لاندې کسان په پام کې نيول شوي وو:

لوی درستيز ستر جنرال اصف دلاور د شورا مرستيال، د هوايي او مدافع هوايي قوماندان دګر جنرال عبدالفتاح، دګر جنرال عبدالعظيم زرمتی د کورنيو چارو وزارت معين او د انقلاب د دفاع عمومي قوماندان، د دولتي امنيت مرستيال او د ملي ګارد عمومي قوماندان دګر جنرال سيد عظيم، د سرحدي قواو عمومي قوماندان تورن جنرال غلام فاروق، د کابل ښار د څارندوی قوماندان تورنجنرال ولي، دګر جنرال عبدالرشيد دوستم د ۵۳مې فرقې قوماندان، د ۸۰مې فرقې قوماندان تورن جنرال حسام الدين، د ۷۰مې فرقې قوماندان تورنجنرال مؤمن.

همدارنګه به په پاکستان او ايران کې د تنظيمونو يو يو نماينده هم په پوځي شورا کې برخه ولري. د پوځي شورا مشر ستر جنرال محمد نبي عظيمي په پام کې نيول شوی و.

په دې تولو پرمختګونو کې کابل کې د فرانسې سفارت چې له ارګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره نژدې موقعيت لري فعال نقش درلود، دغه سفارت د پېښو په اړه د لومړنيو خبرونو د سرچينې په توګه د يوه اژانس بنه غوره کړې وه، د ډاکټر نجيب د استعفا خبر هم تر ټولو دمخه د فرانسې خبري اژانس AFP ورکړ، په دې توګه سفارت د پېښو په اړه لکه يوه محوري اداره فعاليت درلود.

درواغجن خوبونه:

فرانسې سفارت د مدرنو مخابراتي او جاسوسي وسايلو په لرلو سره د مسعود او پرچم همدارنګه د دوی او بهر تر منځ د اړيکو په ټينګولو کې مهم رول درلود.

داکټر نجيب نور محاصره و، د ملګرو ملتونو د سولې پلان د سبوتاژ او تخريب عملېې د بشپړېدو په درشل کې و چاړه هډوکي ته رسېدلې.

د مارچ پر ١٨مه نجيب الله د لومړي ځل لپاره اعلان کړه چې اقتدار پرېږدي او په راتلونکي حکومت کې هم له وندې اخيستلو ټپر دی، مجاهدينو په دې ټينګار کاوه چې ملګري ملتونه خپله د پېنځو ټکو طرحه پر نجيب الله نشي منلی، که منلی يې شي نو د دې خبرې ضمانت څه کېدی شي؟!

له همدې ځايه وه چې ملګرو ملتونو د يوه داسې سند تر لاسه کول غوښتل چې د مجاهدينو خوله ور پټه کړي.

د ملګرو ملتو مامورينو فکر کاوه چې د داکتر نجيب د استعفا له اعلان سره به د مجاهدينو د پروپاګند او پلمو تر ټولو خطرناک او زهرجن غشي له اغېزې ولوېږي او دوی به د ملګرو ملتونو له خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندې شوي حل ته غاړه کېږدي او که مخالفت يې وکړ نو توله نړۍ به ورته د ملامتيا ګوته ونيسي او يوازې به پاتې کېږي. په حقيقت کې د ډاکټر نجيب همدغه اعلان د ده د حکومت لړزانده ستنې ونړولې ملګرو ملتونو هماغه تېروتنه وکړه چې د سترګو په رپ کې يې د لوبې لوری واړاوه.

بنين سيوان په دې پوه شو چې د ده له لاسه د فشار او تهديد هغه وسيله ووتله چې مجاهدين پرې ووېروي ځکه خو يې ډېر ژر د ۱۵کسو **نومونه:** ډاکټر صمد حامد، سيد شمس الدين مجروح، پوهاند عبدالسلام عظيمي، سلطان محمود غازي، ډاکتر يوسف نورستانی، زهره يوسف، عبدالستار سيرت، محمود حبيبي، عبدالجبار ثابت، عزيز الله واصفي... (ليست دقيق ندی چې تر اوسه مې باوري لاسوند ندی موندلی) اعلان کړل چې مجاهدين په تېره سخت دريځه تنظيمونه ببرته يو ګام شاته واخلي.

د اپريل پر لسمه ډاکټر نجيب يو ځل بيا اعلان کړه چې که عبوري حکومت جوړ شي که نه، دی به د اپريل تر پايه له اقتدار نه ګوښه شي د باوري اشخاصو په وينا پاکستان دغه وخت له منافقت نه ډک دريځ خپل کړی و.

پاکستان د مجاهدينو له مشرانو سره په خبرو کې هغوی ته ويل: د ملګرو ملتونو چارواکي احمقان دي، هغوی چې څه کوي، کوي يې دې، بلاخره ناکامېږي، پاکستان د مجاهدينو د مشرانو ملاتړی دی.

له بلې خوا يې د ملګرو ملتونو له چارواکيو سره خبرو کې هغوی ته نه يوازې د پاکستان له خوا د بشپړ ملاتړ وعده ورکوله بلکې په مهاجرو يې د راشن بندولو او د تګ راتګ محدودولو خبره هم کوله چې کابل ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې د لس زره ټنه غنمو د مرستې وعده د خپلې ژمنې او ملاتړ د ثبوت په توګه وراندې کوله.

هلته په اسلام اباد کې د مجاهدینو مشرانو تر منځ ناندرۍ روانې وې د دوی په غونډه کې د پاکستان صدراعظم نواز شریف، د ای اس ای مشر تورن جنرال جاوید ناصر او بهرنیو چارو کې د دولت وزیر صدیق کانجو برخه لرله.

د پنجشنبې په غونډه کې د استاد رباني دریځ ګونګ و، داسې ښکارېده چې له احمدشاه مسعود نه د څه پیغام تر لاسه کولو انتظار کوي.

په همدې وخت کې نواز شریف له استاد رباني وپوښتل: که په کابل کې څه بدلون راشي او ستاسې د تنظیم قوماندانان په کې برخه ولري ستاسې عکس العمل به څه وي؟

په غالب ګومان نواز شریف به ای ایس ای په کابل کې له پېښېدونکو بدلونو خبر کړی وي. استاد رباني په ځواب کې وویل: زه به هغه وخت په دې اړه د پریکړې تصمیم ونیسم چې دا کار ترسره شي.

نواز شریف خپله خبره تکرار کړه، خو رباني صاحب یو ځل بیا ځان تېر کړ، پر همدې مهال رباني ته د خپل تنظیم د نظامي کمېټې رئیس انجنیر ایوب تلېفون راغی، د تلېفون له اورېدو وروسته رباني په داسې حال کې چې خوله یې له خندا نه ټولېده وویل: مبارک مو شه کابل فتحه شو، د نورو خبرو ضرورت نه شته.

په داسې حال کې چې تر دې دمه ټول د بنین سېوان هلوځلو او پېنځه فقرییزه طرحې ته سترګې پر لار وو چې د ملګرو ملتو د پلان له مخې به ۱۵کسیز هیئت ته واک تسلیمېږي، هېڅا هم دا نه وه اټکل کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې پرچم او ستم به په دومره اسانۍ د ملګرو ملتونو پلان تخریب کړی شي.

حکمتیار له غوندې په وتو او قطب الدین هلال د باصلاحیته استازي په توګه پرې اینبی و.

په حکمتیار پسې یوه ځانګړې الوتکه پېښور ته ولېږل شوه حکمتیار په اسلام اباد کې درې طرحې وړاندې کړې وې:

- د کابل شاوخوا قوماندانانو ته دې عبوري اقتدار وسپارل شي، د دوی لپاره د ۵۰ او حتی سل کیلومتری واټن تاکل کېدای شي.
- د جهادی مشرانو قیادي شورا دې جوړه او له غیر متنازع اشخاصو دې عبوري حکومت جوړ کړی شي.
- له هغو کسانو چې په پېښور کې پرې موافقه شوې وه عبوري حکومت جوړ شي.

وخت په چټکۍ تېرېده په دومره چټکۍ چې د دغسې طرحو د عملي کولو فرصت او حوصله یې نه لرله.

ایران هم پر لوبه له ورګډېدو د «انقلاب صدور» نړیوالې اجنډا ته چانس موندلی و... په پاکستان کې یو ایراني دیپلومات ((نجفي)) له یوه پلاوي سره له ایران نه مزارشریف ته تللی و او هلته یې له دوستم، نبي عظیمي، جنرال مؤمن او احمدشاه مسعود سره خبره پخه کړې وه.

ایران ځکه دغه لوبه په مهارت سره په مخ یووړه چې د مسعود او عظیمي په څېر لوبغاړي یې په لاس کې لوېدلي وو د لوبې بله څنډه داسې وه چې مسعود د کابل تخت تر لاسه او نور مجاهدین یې پر خلاف وسلې ته لاس کړی او یا هم د پښتون او تاجک مسئله ترې جوړه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوې لوبې پای د بلې پيل:

ځرنګه چې د مجاهدينو اتحادونه د بهرنيو مرستو د ژمنو په موخه را منځته کېدل، له همدې ځايه دغسې اتحاد له ميا‌شتو کال زيات نشوای پايېدای- دلته به بيا د اتحاد په وسايلو داسې چور جوړ شو چې يوه به پر مالي کمښته خښته واچوله بل به پر نظامي کمښته ګونډه وهله- تر مېز چوکيو پورې به يې ورسره تنبستول، ډېرى دغسې اتحادونه د نويو تنظيمو سته ګرځېدل.

په اتحادونو، ائتلافونو پسې د حکومتو وار را ورسېد- پاکستان کې چې نژدې تر سلو زيات تنظيمونه جوړ شوي وو، اوو جهادي تنظيمو کې را ټول کړى شول، تنظيم هغه پېژندل کېده چې وسله وال ولري جنګيالي وړاندې کړي- ځکه خو د جهاد سياسي اړخ له سره پامونړ و نه بلل شو، لويديځ او په سر کې امريکا د جهاد سياسي اړخ ته پام ونه کړ، ستراتيژي يې دا وه چې د جګړې له امله شوروي ته سرخوړى ومومي، چې د مجاهدينو په بري او د شوروي په ماتې يې باور نه شوى کړى، امريکا د استاد پژواک په ځېر سياسي ملي شخصيتو ته په رول قايل نه شوه، له اوو تنظيمو، درى هغه چې بنسټپال بلل کېدل او د مرستو ډېرى برخه يې تر لاسه کوله نېه جنګېدل، د جنګيالیو او جبهو شمېر يې زيات و.

له همدې ځايه ملي ايډيالوژي زيندى شوه، روناندو د تولېدا مخه ونشواى موندای، د ملي عناصرو او روناندو په ځپلو او ترور مهاجرت کې تنظيمي اختناق او استبداد واکمن شو.

منځلارو هغو کې د حرکت او محاذ جبهې غښتلې وې، خو مجددي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر هوايي جبهو او تشکيلاتو چلېده- چې په مرستو کې يې هم برخه خواره وه- دلته وه چې مجددي يو ځل د استعفا خبره را پورته کړه- خو له څه شي استعفا او چا ته بايد استعفا وړاندې شوې وی ؟! هغه و چې د حميدګل يوې پټکې يې خوله پټه کړه.

عربي شيخانو او حکومتونو له سخت دريځو سره اړيکې پاللې- سعودي د استاد سياف د ټينګ ملاتړ کانالونه وغځول- ده ته يې د ملک فيصل جايزه ورکړه او پر پاکستان يې فشار راوړ چې د تنظيم په کچه يې ومني- عربي سخت دريځه وهابيان يې په ننګه ودرېدل او عربي شيخان او اخونيان يې پخپلو ويناوو مسحور کړل، سعودي د تنظيمو مشرانو ته خپل پاسپورټونه ورکړل او د دغو تنظيمو مخکښان يې د رابطې او دارالافتا په ډبلو معاشونو نازول.

د سعودي استخباراتو يوه چارواکي جنرال باديب په دې غاړه هسکه وړه چې د مجاهدينو يوه مشر نوم يې اصلاح يا د ده په وينا اسلامي کړ... استاد سياف چې د اسلامي يووالي مشر په توګه پخپل قلم، خپله سوانح فرهنګي کمېټې ته اتحاد اسلامي جريدې لومړی ګڼه کې د خپراوي لپاره راولېږله خپل نوم عبدالرسول د فقير محمد زوی کښلی و، چې وروسته يې په (عبدرب الرسول) تصحيح کړ ... خو له هغه وخته بيا تر دې دمه رسنيو سم ونه شوای ليکلی (عبدالرب الرسول، عبدالرب رسول، عبدرب الرسول) به يې کيښې چې... د دغسې تېروتنو له امله يو وار نسيم ستانيزی او د وحدت اسلامي څو کارکوونکي کسر معاش شول ...

حزب له عراق او ليبيا سره هم د اړيکو او مرستو تر لاسه کولو محور موندلی و، په داسې حال کې چې دغو هېوادونو له جهاد د ملاتړ دريځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه شوی نیولی.

د افغانستان شعیه گان چې په ګنو تنظیمو او ډلو ویشلي وو، ایران حزب وحدت کې را ټول کړل- خو شیخ محسني له دې اتحاد د باندې پاتې شو او خپل مرکز یې پیښور ته ولیږداوه...

ایران له کابل سره د اړیکو له غځولو پر یوه نوې لوبه ورګډ شوی و. ایران له شعیه ګانو سره د مذهب او له جمعیت سره په ژبني بنسټ لوبه غځولې وه.

احمدشاه مسعود له روسانو سره پر اوربند د رژیم له یوه ځانګړي فرکسیون سره اړیکي ټینګې کړې وې. ایران نه غوښتل نړۍ د افغانستان له لارې د مرکزي اسیا مارکېټونو ته ورسېږي، بلکې خپله یې د سوداګریزه راهداری هیلې پاللې چې د ازربایجان له لارې منځنۍ اسیا ته لاره تېره کړي.

روسیې ته د استاد رباني پر سفر ډاکټر نجیب الله ویل: زه یې له روسانو سره په اړیکو کافر ګڼلم، اوس خپله د مجاهدینو مشران د کرملین پر دسترخوان ور ټول دي او زاری ورته کوي چې له نجیب الله واک واخلي او دوی ته یې ورکړي... خو زه یې چې په واک کې شریکوم نه یې مني...

شوروي ته د ربانی سفر مولوي خالص، سیاف او حکمتیار وغانده- له ده سره مولوي محمد نبي ملګری وو- استاد رباني او پلاوي یې د روتسکوی په مشرۍ روسي پلاوي سره خبرې وکړې، د روتسکوی الوتکه پکتیا کې مجاهدینو غورځولې وه، د ده کلاکوف له حاجي خلیل الرحمن سره و،- خو روتسکوی پاکستاني مقاماتو د روغ نیتۍ په نامه شورویانو ته ورکړ، استاد رباني مسکو کې بې خونده اعلامیه لاسلیک کړه، د راتلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر وخت يې رسنيو ته وويل: روسانو سره مو د جګړې تاوان خبره وکړه، دوی وويل: تاسې ګورئ موږ په فقر اخته يو، په دې وخت کې څه ډول تاوان درکولای شو؟ ما ورته وويل: دا خبره را سره د يوه اصل په توګه ومنئ دا چې څه وخت يې را کوئ بېله خبره ده، ځکه دا خبره په اعلاميه کې ځای نه کړی شوه.

له دې وړاندې استاد رباني (۱۹۸۸کې) د لومړي ځل لپاره طايف کې د روسي حکومت له استازو سره مخامخ خبرې کړې وې- حکمتيار څو ځله په پټه دغسې هڅې او اړيکي پيل کړې وې، خو د غځيدا او پايلو له اړخه يې منګول تشه وه...

استاد رباني ايران، تاجکستان سره فرهنګي ټړون لاسليک کړ- داکټر نجيب د دوستم ملېشې د نجات فرښتې ګنلې- د مدافعان صلح و وطن کتاب سريزه کې يې د ډاکټر نجيب الله لوړه خبره د وجېزې په بڼه را اخيستې ده...

ددغو مليشو ځواک دومره پراخ شو چې د نجات فرښتې د ډېوانو ګوانې وګرځېد.

له شوروي راغلي تجهيزاتو ، پوځي لوژستيکي وسايلو ډېری برخه د دې پر ځای چې کابل ته ولېږدول شي، مزار او حيراتان کې زېرمه کېدل- په دې توګه د شوروي له وتلو او توپه کېدو وړاندې شمال کې پرېمانه وسلې او مهمات ځای پر ځای شوي وو.

نجيب الله له زړه غوښتل له دوستم، کيان او جنرال مؤمن سره اختلاف له منځه يوسي- د دې لپاره يې جنرال نبي عظيمي دوستم ته ولېږه، خو هغه د اختلاف پر دغه اور نور تېل وغورځول، دويمه پلا يې د حق مراد شرکت خاوند وروليږه، خو هغه کابل کې خپل شرکت د تلوالې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فعالیت مرکز وگرځاوه.

نجیب الله د بنین سیوان غوښتنو ته غاړه ایښې وه- په دې هیله و چې د واک له پټې یې اوږې سپکې شي، په دغو ورځو کې ډاکټر نجیب الله تر فشار لاندې و چې واک د نظار شورا په مشرۍ تلوالې ته وسپاري.

پرچم فرکسیون ډاکټر نجیب الله له پښتون توکم سره په پیلتیا نه شوای زغملی، مجاهدینو له خاد او کمونېزم سره په پخواني تراو محکوم ګانه- دلته وه چې نه یې په رژیم کې دننه د تکیې لوری لیدای شوای- نه یې له مجاهدینو سره د کور کلي مخه موندای شوای- له بده بخته مجاهدینو د ډاکټر نجیب الله د وروستي دریځ پر وړاندې د سم قضاوت ظرفیت ونشوای ښودی. د ده موقعیت یې سم درک نشوای کړای، پر یوه وخت یې د پرچم ستمي فرکسیون، خلقیانو او مجاهدینو دښمني غاړې ته لوېدلې وه. د کب پر ۲۸مه ډاکټر نجیب الله یوه اعلامیه خپره کړه. چې په هغې افغاني جرګه کې چې د ملګرو ملتونو سرمنشي بطروس غالي په کوربتوب جوړېږي پخپل ګډون تینګار ونه کړي- د اعلامیې په ټکو غونډه کې چې کوم انتقالي حکومت جوړ شي په هماغه لومړنۍ ورځ به اجرایي ځواک ورته وسپارل شي. په اعلامیه کې د ډاکټر نجیب الله له خولې راغلي چې دی د خلکو ګټې تر شخصي هغو لوړې ګڼي او له نورو هم دا هیله لري.

د مجاهدینو له خوا استاد سیاف د ملګرو ملتو پېنځه فقرییزه طرحه له یوې مخې رد کړه- ده له بنین سیوان سره له لیدو ډډه وکړه- استاد سیاف ویل: سیوان ته چا دا واک او صلاحیت ورکړی چې زموږ په قضیه کې مداخله وکړي او موږ ته د څه کولو مشوره را کړي؟

پرچم فرکسیون ((محمود بریالي، کشتمند، نجم الدین کاویاني،

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرید مزدک، سید اکرام پیګر...)) په مټ شمال کې وار له مخه سیاسي پوځي پانګونه کړې وه- سرپل یې د جلا اداري واحد په توګه را منځته کړی او د مزار شریف د پایتخت کولو پروسه تر لاس لاندې وه.

کله چې ډاکټر نجیب الله د ملګرو ملتو د سولې پلان د منلو پرېکړه وکړه دغې ډلې داسې طرحه وړاندې کړه چې راتلونکی میکانېزم ښایي د قومونو، یا د دوی په وینا ملیتونو پر بنسټ را منځته شي دلته به کشتمند د هزاره په استازیتوب له حکومت او ګوند په جلا کچه را مخې ته شي، دوستم د ازبکو، احمدشاه مسعود د تاجکو او هاتف یا کوم بل د پښتنو په نمایندګۍ حکومت کې وندې ولري.

دوی پر نجیب الله هم په پیل کې منلې وه، ان چې د وطن ګوند اساسنامه کې هم ځای کړې وه چې د افغانستان دولت به د نژادي، قومي ژبنیو بنسټونو له مخې د اداري واحدونو جوړولو هڅه وکړي.

دوی لومړی د فدرالي سیستم خبره را پورته کړه- تر دې نامه لاندې یې د تجزیه غوښتنې تکي په میهن جریده کې خپاره کړل.

د روسانو له وتلو د مجاهدینو او ټوله کې مقاومت تر منځ واحد دریځ را منځته نشو د جهاد سیاسي اړخ کمزوری پاتې و- پخواني پاچا ته که څه هم د هیلو سترګې اونښتې خو وړ دریځ او موقعیت یې خپل نشوی کړی، بلکې د یوه پراخ ملي سیاسي خوځښت په مخه کې یې د کاذبو هیلو له اړخه تشه را منځته کړی وه.

ډاکتر نجیب الله چې ۱۳۶۹لمریز کې د افغانستان ناپوځي کولو پلان وړاندې کړی و، د مجاهدینو موقت حکومت د جهاد پر ضد توطئه وبلله ...

پخواني پاچا د هغسې رول زړه ونه کړای شو چې شهزاده نوردوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهانوک د فرانسې له تبعید وروسته کمبودیا ته په ستنېدو د کورنۍ جګړې مخه دب کړې وه.

د بنین سیوان د سولې پلان پر وراندې رژیم کې دننه یوې کودتا مقدمات چمتو شوي وو. د سیوان توله هڅه د ډاکټر نجیب الله له خوا د استعفا پر اعلان او د مجاهدینو له خوا د لست پر ورکولو راګرځېده. په داسې حال کې چې د مجاهدینو او رژیم دننه ډلو د واک لپاره په خانګړو نخچو او پلانونو کار کاوه، تنظیمو هم له یو بل پټ کابل ته پلاوي لېږل.

لکه د مخه وویل شول د مخالفت پیل د ډاکټر نجیب الله له خوا شمال کې د جنرال جمعه اڅک ټاکل وو، چې د ملیشو د خپلسریو مخه یې نیوله- که څه هم ډاکټر نجیب الله، اڅک بېرته کابل ته وغوښت، خو دا د ائتلاف پلمه وه، له حیراتانو وروسته مزار سقوط وکړ او تلواله د چاریکارو د سقوط په نتیجه کې د کابل پر برید درېدلې وه.

احمدشاه مسعود په لومړي سر کې د مزار ائتلاف د سیمې په کچه د ځایي قوماندانانو او ملیشو تفاهم وګانه، خو دېر ژر یې له دوستم سره په ګډ مطبوعاتي کنفرانس کې پر ائتلاف اعتراف وکړ.

د پېښور ناندرۍ هماغسې روانې وې- حکمتیار پر زړه خورلې وه چې که ځواک د دوستم او مسعود په واک کې وي، هر څه چې وغواړي په تنظیمي مشرانو منلی شي- له همدې امله لوګر ته ولار- چې له یوې خوا پروان کې خپلو قوماندانانو فرید او فتح په مت د ځمکې له لارې کابل ته د نظار شورا د پرمختګ مخه ونیسي او له بلې خوا د جنوب له لارې کابل ته د خپلو ځواکونو د ننوتو لار پرانیزي.

حزب د سید جمال الدین افغان لېسې زده کوونکي پر کابل ور شپوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرل- زده کوونکي په سخته یخنی کې بې له کوم چمتو والي او لوژستیکي ورتیا له پښور، سپینې شګې، لوګر، چهار آسیاب ته یووړل شول...

کابل کې حزب وحدت د قوم او مذهب په نامه له کلای شاده، پل سوخته، سرای غزني- درېیمې کارتې چې مزاري یې ملت غرب کابل بولي کربنه تېره کړې وه او د دغه سیمې د پوځي تأسیساتو او وسایلو تر لاسه کولو په ځار او ځاو کې و. تر ائتلاف پورې اړوند پوځي، امنیتي ځواکونه او ارګانونه په داسې موقعیت کې وو چې یوازې خپلو اندیوالانو او مؤتلفینو ته وسلې، پوځي دولتي تأسیسات وسپاري. عظیمي کابل کې پوځي قطعاتو ته له حکمتیار پرته نورو تنظیمو له افرادو سره د غاړې ورو ویلي و.

پر دې سربېره د هوا له لارې د ټلوالې ځواکونه د کابل په حساسو برخو او هوایي ډګر کې ځای پر ځای شوي وو- ۱۵ ترانسپورتي الوتکو له مزاره د دوستم ملیشې کابل ته لېږدولې.

بنین سیوان د وري پر ۱۳مه له کابله اسلام آباد ته په رسېدو خبریالانو ته وویل: د افغانستان په اړه د ملګرو ملتو په استازیتوب د افغان ربړې له اواري ډاډه دی- ځکه خو به چا ته اجازه ور نه کړي د سولې او لېږد په لار کې خنډونه را منځته کړي.

ده د حمل پر ۱۵مه له مجاهدینو د ناپیلو شخصیتونو لست تر لاسه او په توحید یې بوخت و.

پاکستاني مقاماتو وویل: ډاکټر نجیب الله غونښتي څومره ژر چې کېدی شي د انتقالي شورا د جوړښت پروسه بشپړه کړي- ډاکټر نجیب اندېښمن دی چې کېدی شي وضعه او حالات له کنټروله ووځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سيوان که څه هم تلولی و، خو زړه يې نه و غورځولی، ځکه خو يې د وري پر ۲۶مه اسلام آباد کې وويل: د ملګرو ملتونو پلان پر مخ روان دي- پر وړاندې يې کومې ستونزې نه ليدل کېږي، بري ته هيله من دی.

ائتلاف کابل کې کودتا ته چمتو و، خو سيوان ته داسې ښودل کېده چې را منځته شوې پرمختيا وې د سولې پلان ته لا زياته زمينه برابرولی شي...

ډاکټر نجيب الله کابل کې يوه هندي خبريال سره مرکه کې په داګه کړه چې د ملګرو ملتونو د پلان پر اساس د موقت حکومت تر جوړښت انتظار نشي کړای- د اپريل په وروستيو کې به خپله استعفا اعلان کړي. د استعفا متن د ملګرو ملتو اداره کې ليکل شوی و چې څو واړه د ډاکټر نجيب الله او کابل، نيويارک کې د ملګرو ملتو اداړې تر منځ تبادله اوِ تصحيح شوی و.

دغه متن د لوی اختر پر شپه د ۱۹۹۲ اپريل ۴مه وړاندې شو. د متن له مخې به د اپريل پر ۲۸مه واک موقتې اداړې ته سپارل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جمعیت لخوا د پرمختګ لومړنی اعلامیه

اطلاعیه

هموطنان عزیز ومسلمان !

طوریکه همه اطلاع دارید ، در اثریك سلسله عملیات منظم مجاهدین ، فتوحات بس مهمی از سالنگ جنوبی به استقامت شمال کابل صورت گرفت که در اثر آن سالنگ جنوبی ، فرقه (۲)، مرکز قول اردوی ثبت (۵) جبل السراج ، جاریکار مرکز ولایت پروان ، فرقه (٤) میدان هوائی بگرام باهمه تاسیساتش به تصرف مجاهدین جمعیت اسلامی درامد .

اکنون مجاهدین آمادگی کامل موقیات به طرف شهرکابل جهت سقوط نهائی رژیم درحال زوال کابل را دارند ولی درین لحظه سرنوشت سازمتاسفانه حزب اسلامی (حکمتیار) تمام قوت های منطقوی خودرا جمع ودرساحه بین شهر چاریکار ودوسرکه بگرام جابجانموده ومصمم است که مانع پیشروی برادران مجاهد شما بسوی شهرکابل شود وعلاوتا به همه نیروهای خود اکیدا دستور داده است که دست به یك تهاجم شدید بالای میدان هوایی بگرام که همین اکنون در تصرف مجاهدین جمعیت اسلامی قرار دارد ، بزنند .

گرچه شکستاندن موانع حزب اسلامی از نقطه نظر نظامی مشکلی نیست ولی جمعیت اسلامی نمیخواهد درین شرایطی که به پیروزی نهایی جهاد فاصله کوتاهی داریم ، درگیری میان مجاهدین صورت بگیرد وباعث خون ریزی درمیان مسلمانان شود .

برادران مجاهد ومهاجرین زجرکشیده کشور!

ازهمه شمابرادرانه خواهشمندیم تابادرك حساسیت این لحظات سرنوشت ساز دسته جمعی وسنجیده بالای آقای حکمتیار رهبرحزب اسلامی افغانستان برادرانه فشار وارد نمائید تا ازهمچو اعمال غیر مسئولانه وخلاف منافع مسلمین ومجاهدین دست بکشند .

آیا لازم است برای مجاهدینی که سالهای متواتر برای رسیدن به آرمان های والای شان در سنگرها با برهنگی وگرسنگی سپری کرده اند در همچو موقع حساس برای رسیدن شان به هدف مشکلات ایجاد گردد ؟ ویه دشمان جهاد افغانستان این بهانه داده شود که مجاهدین رامتهم به آشوبگری ، درگیری های داخلی نمایند ؟! .

ما بسوی آرمان سترگ خویش که هدف عامه مجاهدین وملت مسلمان وزجر کشیده افغانستان است ، پیش خواهیم رفت ومسئولیت هر نوع اخلال گری واعمال ضد جهادی متوجه کسانی خواهد بود که در برابر مجاهدین خودرا قرار میدهند والسلام

وما علینا الابلاغ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نجیب الله له ملګرو ملتونو ۱۰۰۰سوله ساتي عسکر غونښتي وو چې کابل کې یې ځای پر ځای کړي. سېوان دا غونښتنه له دې امله رد کړه چې د دغو عسکرو د لګښت مخه یې نشوای لیدای.

د ډاکټر نجیب له استعفا سره دولت سقوط وکړ ... مجاهدینو دولت او حکومت جوړ نه کړای شو ... افغانستان بې دولته بې حکومته کوځه واکیو او ملوک القوماندنیو ته پاتې شو ...

استعفا د ډاکټر نجیب الله ستره تېروتنه وګرځېده- په دې توګه یې خپل لاس کې وروستی کارت هم له لاسه ورکړ، ده بیا هم هڅه کوله ګوند کې د اختلاف کچه را ټیټه کړی شي- خو عملاً د رژیم ارګانونو کې واک ویشل شوی و- پوځ کې واک له جنرال نبي عظیمي، اصف دلاور، بابه جان، دوستم، جنرال مؤمن او کیان له ملېشو سره وو، د کارمل، مزدک، پیګیر، کاویاني، وکیل له خوا د سیاسي ستراتیژۍ ټول ارځونه غصب شوي و.

نجیب الله یوازې پاتې و، نژدې ملګرو هم ترې مخ اړولی و- دغه ملګري د واک په خامه تمه پر اومړي تار پېیل شوي و، ان چې ښاغلی لایق یې هم په بېلا بېلو القابو د ډاکټر مخالفت ته اړ کړی و.... د وري پر ۲۵مه کابل سختو ډزو د کودتا د لومړني ګام په توګه ولړزاوه.

د کودتا د بري اعلامیه د وري پر ۲۶مه جنرال نبي عظیمي ولوسته...

به نماینده گی از قوای مسلح به ایجاد دولت اسلامی خیر مقدم گفته و بحکومت اسلامی جناب حضرت صبغت الله مجددی، دوش بدوش نیروهای جهادی در جهت تامین صلح و امنیت در کابل و کشور مبادرت می ورزد... قوای مسلح، جنرالان و افسران در تشریک مساعی با نیروهای جهادی و اوامر محترم انجنیر احمد شاه مسعود وزیر دفاع

(c) ketabton.com: The Digital Library

وظایف خود را انجام دهد...

پښتو ته د اعلاميې ژبارلی متن د نجيب الله مجددي لخوا چې وار له مخه کابل ته رسېدلی و، په ناسمو تکو او کړکېچنه لهجه وړاندې کړای شو...

جنرال نور الحق علومي، نبي عظيمي، آصف دلاور او... د نظار شورا قوماندانانو ګدا، فنا او... نجيب الله مجددي سره د کودتا د بري زيري غبرګ کړل.

داکتر نجيب الله په دې تورن وپېژندل شو چې غوښتل يې له هېواده وتښتي- پر ده يې د سياسي بې غيرتۍ تور پورې کړ- واک د څلورو جنرالانو نبي عظيمي، اصف دلاور، بابه جان او مؤمن په لاس کې دی. د سفارتي تعاملاتو نوښت له اسلام آباده تهران ته لېږدېدلی، اسلام آباد کې د ايران سفير مزار کې و- کابل کې د فرانسې سفارت د اطلاعاتو مرکز و- د حمل پر ۲۸مه د بهرنيو چارو وزير عبدالوکيل چاريکار کې له احمدشاه مسعود سره وکتل.

پر سبا يې بهرنيو چارو وزارت کې مطبوعاتي کنفرانس ورکړ - نجيب الله يې پر فرار نافرجام پر وباله. د اپريل پر ۱۸مه عبدالوکيل يو ځل بيا جبل السراج کې له احمدشاه مسعود سره کېناست.

احمد شاه مسعود يوازې استاد سياف ته له پرمختياوو خبر ورکاوه- د انجينر احمدشاه احمدزي په وينا مسعود وايي کمونېستي جنرالان استعمالوم- واک به مجاهدين تر لاسه کوي.

انجنير احمدشاه احمدزي ويل: مسعود د نويو اطلاعاتو شريکولو داد ورکړی و- خو خپله وعده يې پوره نه کړه، مسعود له سياف او مجددي سره اړيکي ساتلې- ده ټينګار کاوه څومره ژر چې کېدای شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستی پایله اعلان کړي- مسعود دوی ته باور ورکاوه چې د کابل ستونزې به دی اواړې کړي.

د ایتلاف د پرمختګونو پر وړاندې د حزب غبرګون

اعلامیه حزب اسلامی افغانستان

الحمدلله وحده، الجزوحده ، نصرعبده واعزجنده وهزم الاحزاب وحده ، والصلوة والسلام علی من لانبی بعده ، فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم ولتعکروا مکرهم وعندالله مکرهم ، وان کان مکرهم لتزول منه الجبال

صدق الله العظیم

برادران وخواهران مسلمان !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

چنانچه اطلاع دارید عده ازعناصرفرصت طلب ومتجاوز درحزب کمونست وطن ، بار دیگربرضد منافع توده های زحمت کش وآزادیخواه میهن ما توطئه چیده اند . بمنظور تثبیت رژیم شان درآینده وبقای شان درقدرت بحیث یک گروه بااستخدام ، الحسن عده ازافراد کودن ودوصفوف مجاهدین به اقداماتی درکابل متوسل شده اند

این گروه که درگذشته شعارهای دفاع ازحقوق کارگر وزحمتکش را عنوان می کرد امروز خود را حامی ومدافع حقوق اقلیت ها جازده میخواهد خرقه داران وجنایتکاران درصفوف خلق ومجاهدین برای خود سراغ کند . ربا بیشرمانه تجاوز تومی ، ترانی ومقصی رادامی زده ، درگیری های داخلی مجاهدین را دامن شوند

دراین گروه عناصر بیرحم کارمل وسلطان علی گنجانیده شده اند وآنها ازسابق سنگین شان تادیر نموده ازجنایات قبلی شان پوزش ومغفرت بخواهند ! توبه کنند وهرچی جبران گذشته های شوم خود بتوانند ، برعکس برای ایجاد فتنه های بیشتر وبخونریزی های مزید کمربسته اند . معلوم میشود که آنها ازمردم های که تاحال ریخته اند سیرنشده اند . می خواهند ملت ما را ازجنگ اسلام وکمونیزم به جنگ میان اقلیت واکثریت شیعه وسنی ، پشتون وتاجک ، سایر اقوام وقبایل بکشانند

این گروه که درگذشته توسط ماشکوفوجیه وتعدیه می گردید امروز آله دست عده ازعناصر متعصب وتنگ نظر درحوزه خلق دربند کشورهمسایه قرارگرفته اند. کشوریکه مصالح خودرا درادامه جنگ درکشورما وتخریب آن جستجومی کند .

برفرد فرد ملت ما لازم است تادربرابر این توطئه های خائنانه به شدت مقابله نموده جرائم شوم واشتباه خارجی وعمایل خودرجدیه آن راافشاء برملا کنند

باید وحدت ملی خودرا حفظ کنیم ، ازتمامیت ارضی کشورخود دفاع نمائیم ، وشرایطی را درکشور ایجاد کنیم که نردبرد ملت ما بطور مساوی ، درفضای اخوت وبرادری ، زیرپرچم اسلام ودرچهارچوب هم پراداروارزشهای قومی ، سنتی ، ملی وتاریخی خود بتواند بطور صحیح حرکت نماید خائنان برحمه ملت وبیانک توم وتسلیه برقیله دیگری گرفته شود .

حکومت های آینده ماحکومت های اسلامی بوده ازطریق انتخابات به شیوه اسلامی آن ومراجعه به آرای مردم تشکیل گردد . وهر نفی اعضاء اکثریت ملت را کسب کند . حق تشکیل حکومت راخواهد داشت . البته اینکه عده از عناصر ماجراجو وفرصت طلب درنتیجه سازش هاوتوطئه ها درچوکی قوه نظامی ، کشوری وبهدکاری ومساعدت اجانب دربرسیکی به قدرت استاده وبخارت تلخ وشوم گذشته بازدیگری درکشور تکرار گردد .

تمام طلاعات رسیده ، قرقداران پیرک کارمل که پست های حساس دردولت رادراختیاردارند خرقداران خودرا ازمناطق دیگری به کابل انتقال داده ، درنقاط حساس وستراتیژیک جابجا می کنند، پروازهای مسلسل دیروز ازشمال به کابل برای همین منظور صورت می گیرد .

دوبرج کارتصف دلاور ، حرال عسکری ، حرال عومی وحرال بابه خان روی اساسی راباز می کند

اگرچنو اقدامات این گروه گرفته نشود نتایج وخیمی ببار خواهد آمد

بامیدتحرک مسلمان ووطنپرست دربرابر این گروه ماجراجو وخائن به اقدام جدی متوسل شوند ریشه توطئه تخریب کشور که توسط بند کشورهمسایه توسعه طلب براه انداخته شده است خنثی گردد

اطلاعات ما حاکیست که یک هیئت عالی رتبه کشورمذکور به شمال افغانستان اعزام شده است تا نیروهای مانده از سمت راه شمع بالاحصاری شوره خود استخدام کند حرال بی عظیمی برای تهاجم باهیئت مذکوراعزام مانیشه های حرال عومی به تانیل به هزارشریف رفته یاراآنها تعداد زیادمانیشه ها ازطریق هوا به کابل انتقال داده است

مابهمه نیروهای میهن ومجاهد اندکی می گوییم که

۱- دربرابر توطئه خائنانه متحدشوند وآنرا درنطفه خفه کنند

۲- باید عناصر ملوث درین توطئه ، آنانکه درصف حزب کمونست وطن اند ویا درارتباط مجاهد به شدت مرکوب شوند

۳- اگر تغییراتی درکابل توسط انشعاب این خائنین به ملت ضربه وارد نماید وقت کابل را زیرفشارگرفته ، پیشروی نیروهای مسلح مجاهدین مخلص میهن کابل تاانتگاه رآغاز ادامه یابد که کابل کاملاً بدست مجاهدین سقوط کند

۴- آنعده قطعات مسلح ارتش که درین توطئه شوم شرکت ندارند باید با نیروهای حزب اسلامی وسایرمجاهدین همکاری نموده دربرابر هرجبهه متشنج خائنین ، سرسختانه مقاومت نموده ، درصورتیکه دستگیرین ومجازات انقلابی آنان ازطریق اقدامی دریغ نورزیده ، هیچ ترحمی روا نداشته ، هرافشاندی

۵- این خائنین ازین اقدام مجرمانه وشوم اهدافی دیگری هم تعقیب دارند ورسیدن به آرزوی نامقدس خودرا ناممکن می بینند

۶- گمان می کنند که میتوانند بایک اقدام فرصت طلبانه وماجراجویانه به قدرت برسند وحکومت دلخواه خودرا عرضه ، تحمیل کنند . ولی اینکه امکانات حکومت های کودتائی برای همیشه ازبین رفته است . پس ازین هیچ نیروی بدون موافقه مجاهدین وکسب اعتماد ملت نمیتواند براافغانستان حکومت کند

۷- اگر مجاهدین مخلص وافسران وطنی خواه توانستند این آخرین تلاش مذبوحانه عناصر کمونست ومتحد راخنثی کنند ازسرگیری وحدت جویی گذشته برای همیشه طومارگیری گردیده است .

انشاء توفیق ، وما استغفر الله لی ولکم والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسعود سیاف او مجددي ته پر کابل د حکمتیار د برید خبر ورکړ- پوښتنه یې وکړه د حکمتیار د برید پر وړاندې څه وکړم؟

ورته وویل شول: مخه یې ونیسه، له ملېشو او پوځي قطعاتو کار واخله.

حکمتیار د حمل پر ۲۶مه له داخله د شمشتو غونډې ته ویلي و: وروستی پېښې یوه ډرامه ده چې د جهاد دښمنانو را منځته کړې- د ده په وینا نجیب الله بېواکه دی- واک د کشتمند او کارمل له ملاتړو سره دی خو له دې وړاندې لکه دمخه مو وویل حکمتیار د شهید استاد احمدزي فاتحه کې د شمال له خوځښتونو ننګه وکړه- شهادت ورځپانې په ۴۶۴ ګڼه کې د حکمتیار د دغې وینا بشپړ متن خپور کړی- چې د ده په خبره شمال کې کوم قوتونه له مجاهدینو سره یو ځای شوي مور یې ملاتړ کوو او په نورو برخو کې د دښمن وسله والو ځواکو ته وایو چې د شمال د پرمختیاوو تقلید وکړي...

د حکمتیار د هغې وینا له مخې: د شمال پرمختیاوې د تجزیې تحریک نه دی- ددې په خبره زه وروڼو ته ډاډ ورکوم چې دغه پرمختیاوې د قوم، ژبې او سمت پر بنسټ نه دي را منځته شوې- بلکې د دښمن ځواکونه د مجاهدینو تر څنګ درېدلي او په صریحو تکو وایي چې منتخب اسلامي حکومت غواړي.

دلته حکمتیار صاحب یو وار بیا له اوبو دمخه ګاولې کښلې څکه خو وروسته د دغو پرمختیاوو پر مخالفت ودرېد او د شمال پرمختیاوې یې د دښمن توطیه وګڼله.

ملګرو ملتونو د نوي دقیقو په بهرنۍ غونډه کې له تولو ښکېلو اړخو د زغم غوښتنه وکړه- حکمتیار اعلان کړه که د ثور تر پنځمې کابل رژیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجاهدينو ته واک ونه سپاري نو مجاهدين به پر کابل برید وکري، خو دا نه وه څرګنده کومو مجاهدينو ته؟

خام باور:

پر سيوان باور خام وخوت- د ده الوتکه د شپې پر دوولسو بجو کابل هوايي ډګر کې کښاسته - هوايي ډګر د دوستم ملېشو واک کې و چې وار له مخه پنځلسو الوتنو کې راورل شوې وې، ملېشو سيوان ته له الوتکې د کوزېدو اجازه ورنه کړه. د شپې پر لسو بجو له نجيب الله سره اريکي قطع شول - ډاکتر نجيب الله، شاپور احمدزی، اسحق توخی، جنرال جفسر له خپل دفتره د ملګرو ملتو ودانۍ ته ننوتل، د کابل ګرځېندیز شفر يې تر لاسه کړی و خو هوايي ډګر ته د ننوتو ليارې څانګړی شفر ويشل شوی و، چې په عمومي شفر څوک نه شوی ننوتی.

ډاکټر نجيب د شپې پر دوولس نيمو بجو د ملګرو ملتو دريو موټرو کې د هوايي ډګر پر لور حرکت وکړ.

د ملګرو ملتو يو مامور کاروي له يو بل کارکوونکي کويړک او د نجيب الله له دوو ساتونکيو سره يوه لنډکروزر کې تر مخ شول.

دويم موټر اوني چلاوه، ډګروال تاولن مخکې او نجيب الله له خپل ورور شاپور احمدزي سره وروستي سيټ کې ناست وو.

درېيم ګاډی پېربيير چلاوه چې د ملګرو ملتو اسماني رنګه خولۍ يې پر سره وه، له څو پوستو د عمومي شفر په ويلو تېر شول، خو د هوايي ډګر لومړنۍ پوسته کې يې تم کړل، جنرال جفسر له موټره په کوزېدو له ملېشو سره خبره وارولە - غالمغال پورته شو د ملېشو قوماندان رزاق

(c) ketabton.com: The Digital Library

موټر درولي وو- پوښتنه يې وکړه چېرته ځئ؟ نجيب الله ورته وويل بهر ته.

رزاق وويل: ستاسې د رسمي سفر امر نه دی راغلی- ډاکټر نجيب وويل همدا اوس رسمي امر درکوم.

رزاق ځواب ورکړ: مهرباني وکړئ بېرته ستانه شئ- تاسې جمهور رئيس ياست- کله چې موږ ته رسمي خبر راکړل شي، موږ به لازم امنيتي تدابير ونيسو، هغسې چې د يوه جمهور رئيس له حيثيت سره برابر وي.

نجيب سم لاسي وګرځېد او بېرته د ملګرو ملتو پر دفتر ننووت، دلته يې له يعقوبي سره پر تلېفون خبرې وکړې، جنرال يعقوبي ډاډ ورکړ خو لږ وروسته د يعقوبي د مرګ خبر خپور شو. نجيب الله له خپلې استعفا وراندې ځلور مرستيالان هاتف، سرابي، رفيع، محتاط ليرې کړي و- ملي شورا د محمود حبيبي په رياست دغه برطرفي ناقانونه وبللې.

ډاکټر نجيب الله وروستيو کې لکه تجريد شوی وي، د خبرو او مذاکراتو لپاره ورسره د اريکو پر ځای د سياسي بيرو غړي پامور ګنل کېدل... ډاکټر د لويې جرګې د راغونښتو پلان درلود، خو مخه يې ونه ليده - وروستيو کې يې چې ليکلي، استعفا مرکزي کمېټې ته ولېږله - غونښتل يې له راډيو تلويزيون خلکو ته وينا وکړي، خو دا چانس يې هم تر لاسه نکړای شو...

نيويارک کې د افغانستان د ځېرنو مرکز مشر سيليوان هم کابل کې و، غونښتل يې له احمدشاه مسعود سره وګوري - له ده سره يو لنډ فارمول و چې ظاهرشاه له ځان سره کابل او نجيب الله روم ته بوځي.

بيښن سهوان د اپريل پر ۱۵ مه د وطن ګوند له مشرانو سره چې واک

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې شامل وو وکتل - ده له کابله د نجیب الله د خوندي وتلو په غوښتنه ټینګار کاوه - د ده او سلیمان لایق تر منځ خبرې ترخې شوې.

- لایق: ... له بده بخته تاسې غوښتل له ګوند او حکومت سره له سلا مشورې پرته نجیب الله بهر ته ولیږدوئ - ده هم له چا سره دا خبره نه وه شریکه کړې، په پته او غلا یې غوښتل له هېواده وتښتي، بیا هم له بده بخته چې تاسې دغسې یوه ټینګه کې له ده سره مرسته کوله. اوس ښایي نجیب الله خپل کور ته ولیږدول شي، موږ یې د خوندیتوب ضمانت کوو، تر هغې چې د ده لپاره په سلا یو ځای خوښ کړو... که دا ممکن نه وي، دی تاسی سره دفتر کې پاتې شي تر څو د ده په باره کې د ټولو په مشوره پرېکړه وشي، خو دمګړی د وتلو اجازه نه شي ورکول کېدی.

- سېوان: کابل کې د ډاکټر نجیب الله پاتې کېدل تاسې ته کومه ګټه نه، بلکې د سولې په مخ کې خنډ را منځ ته کولای شي.

نجیب الله د ملګرو ملتو دفتر کې وویل: د خپلو خلکو محاکمې ته چمتو دی، خو په دې شرط چې د محاکمې میز ته دی او بل ته د وطن ګوند دغه غړي ناست وي ...

سېوان ونشوی کړی ډاکټر نجیب الله وژغوري - په دې کې ستر خنډ د پرچم کودتایي فرکسیون و - سېوان دری کاله د کابل، اسلام اباد، تهران، واشنګټن په منډو وارول - داسې ښوول کېده چې شوروی له مجاهدینو او امریکا له ډاکټر نجیب الله سره وګوري - شېواردنادزې او جیمزبیکر د دغسې ناستې پر سر سلا شوي وو، د افغانستان ربړه کې ملګرو ملتو ناکامي څرګنده وه. بینن سېوان د ناکامې دېپلوماسۍ بیه افغانانو ته خورا ګرانه پرېوته، سېوان د ربړې په اواري کې په ناغېړۍ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نارامی تورن دی.

دی عراق کې ((تېل د خوړو بیه)) د ملګرو ملتو پروګرام کې پر بډو اخیستو پړ و - له کابله یې هم ځولی له سوغاتونو ډکه وړه - وایي له کابله به د بینن سپوان د ستنېدو پر وخت د ډالرو بیه لوړه او د پیسو مارکېټ کې د ډالرو کاختي ګډه شوه...

کابل کې د پاکستان شارژدافېر، سید فدا یونس:

د ملګرو ملتو دفتر ناسته ((میټېنګ)) کې لاندې کسان برخوال وو:

د هندوستان سفیر ښاغلی کمارنمیبا، د فرانسې شارزدافېر ښاغلی ژانګ برنا ډیک، د چین ښاغلی ژانګ، د اېټالیا ښاغلی پیرهنګی، د ایران ښاغلی ابراهیم طاهریان، د ښاغلي بېنین سپوان امریکایي سلاکار ښاغلی پیلیف کورون، د ترکیې ښاغلی ایکوت چترک، د پاکستان ښاغلی فدا یونس، د سپوان سیاسي سلاکار ښاغلی بوتسالي... ما ته وار دمخه ویل شوي وو، چې د انساني خواخوږی له امله ډاکټر نجیب الله ته د سیاسي پنا ورکړم.

بېنین سپوان خوښي وښوده، مننه یې وکړه، خو هندوستاني سفیر سترګې واړولې.

ستونزه دا وه چې ډاکټر نجیب د ملګرو ملتونو له دفتر څرنګه ایستی او پاکستان ته اړولی شو؟

د ترکیې ښاغلی چترک د خپل بولټ پروف موټر وړاندیز وکړ چې ډاکټر نجیب پکې خوندي ایستلی شو.

- ډاکټر نجیب ښایي په کاروان کې ونه ایستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- زما موټر به ورسره نه ځي.
- ډاکټر نجيب به نه زمور سفارت کې مېشتوو - نه د ملګرو ملتو کوم دفتر يا بل ځای کې، چې د اختطاف مخه يې نيول شوي وي.
- له ډاکټر نجيب او ملګرو سره به وسلې نشي لېږدېدلی.

د مانښام په اوو بجو پېنځه څلوېښت دقيقو بېنين سېوان وويل اوس بايد ډاکټر نجيب د پاکستان له وړاندیز خبر کړو.

ډاکټر ته څو ورځې وړاندې هند د سياسي پناه ټټر دېولی و چې اوس يې تړې مخ اړاوه. له ډاکټر نجيب سره جنرال توخی ناست و- زه، بېنين سېوان - ښاغلی نمبيا، طاهريان او بوتسالي د ډاکټر نجيب خونې ته ننوتو - دی مو مخې ته را ووت.

د هندوستان سفير له سلام وروسته بېرته ووت - د پاکستان له خوا د سياسي پناه وړاندیز لومړی بېنين سېوان او بيا ما ياد کړ.

ډاکټر په احساساتي لهجه مننه وکړه، په دې پسې يې په لنډو وويل: ده د ملګرو ملتو د پلان په منلو استعفا ورکړې - غوره ګڼي د ملګرو ملتو په ودانۍ کې پاتې وي. دلته ځان خوندي ګڼي.

اوس دا د ملګرو ملتو مسئوليت دی چې خوندیتوب يې باوري کړي. د دغه خبرې په اوږدو بېنين سېوان او بوتسالي ووتل - زه او طاهريان ناست وو.

طاهريان ښايي د خواخوږۍ په څو تکو خوله پرانيسته چې ډاکټر په ترخه لهجه ورته وويل:

سفير صاحب طاهريان!

ايران تل د افغان قومو او مذهبونو ((سني شعيه)) اختلاف ته لمن وهلې او دوه مخې سياست يې لرلی، د ملګرو ملتونو د پلان په اړه يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تگی پالیسي غوره کړي - د اهل تشیع او تاجکو لپاره یې د زیات واک او وندې چنو ته مخه ورکړي.

بناغلی سفیر!

څو ورځې وړاندې چې بناغلی موسوي کابل ته راغلی و، ستاسې پر وړاندې یې وویل: د بهنیو سهوان نوملړ چې د ناپیلو افغانانو په اړه یې چمتو کړي د امریکا او پاکستان په خوښه دی، مونږ باید د امریکا-پاکستان پر خلاف بل نوملړ ولرو...

بناغلی سفیر!

تاسې ته یاده ده چې ما بناغلي موسوي ته په داګه کړه چې د ملګرو ملتونو له نوملړ سره کوم اختلاف نه لرم

پاکستان له ۱۳ کالو زمونږ پر خلاف په جګړه بوخت دی خو دا وخت یې د افغانستان ربړې اواري کې په اخلاص ګام پورته کړی دی.

طاهریان وویل: همدا اوس له ایران سره اړیکه نیسي له دې سره له خونې ووت.

فضا ترینګلې وه - لږ وروسته چې د داکټر غوسه سړه شوه ما پوښتنه وکړه؟

د خپلې پراخې تجربې په مټ افغانستان کې د سولې ټینګښت څرنګه ګڼئ؟

ده له کتابچې یوه پانه را پرې کړه - لاندې کرښې او دایرې یې پرې ټپرې کړې.

- *د پلازمینې کابل شا وخوا دې د امن سیمه Peace zone را منځ ته کړی شي. چې پراخوالی یې ۳۰ - ۳۵ کیلومترو ته غځېدلی وي.*
- *د کابل شمال/ جنوب کې دې د ملګرو ملتو پوځ ځای پر ځای*

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي.

- د مجاهدينو له قوماندانانو سره اړيکي ټينګ شي چې کومو سيمو کې مېشت دي هملته اوسي - له نژدې حکومتي ادارو سره دې مرسته پيل کړي.
- د مجاهدينو قوماندانانو په مرسته دې وسله توله يا وپېرل شي.
- لويه جرګه دې جوړه شي.
- که امنيت وي ټاکنې دې وشي.
- له دې لارې چې کوم حکومت راغی د تولمنلي حکومت په توګه دې وپېژندل شي.
- د لوړو تکو په پلي کېدا کې دې د زور او وسلې کارولو مخنيوی وشي.

د ډاکټر د لاسي نخچې کاپي زما د افغانستان کتاب اتم ټوک کې چاپ شوې. د اپريل ۱۹۹۲پر اولسمه مې له ډاکټر نجيب سره يو ځل بيا د ملګرو ملتو ودانۍ کې وليدل. بيا مې ورته د پاکستان له خوا د سياسي پناه وړاندیز وکړ - ده په مننه زياته کړه: د ملګرو ملتو دفتر کې ځان خوندي ګڼي - که ووت سياسي راتلونکې به يې خپله تياره ګرځولې وي.

دی په راتلونکي سياست کې خپل رول ته هيله من برېښېده.

ما در چه خيالم وفلک در چه خيال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستی هڅې:

بنین سیوان کابل کې د حمل پر ۲۸مه بیا یو ځل د رژیم له نویو ځپرو سره اضطراري غونډه وکړه چې وکړی شي ډاکټر نجیب له کابله ورسره وباسی.

د دې لپاره سیوان د ثور پر لومړی نېټه مزارشریف ته ولاړ، خو دوستم يې دغه غوښتنه ونه منله.

بنايي یاده کړو چې د حمل پر ۱۵مه چې زه د پېښور فقیر آباد کې د جمعیت فرهنګي دفتر ته ولاړم د مسعود او استاد رباني تصویرونو او فتحو شعارونو دفتر نیولی و- داسې ښکارېده کابل همدا اوس د دوی منګولو ته لوېدلی، قانع صاحب په مات زړه، نیولې ځپره راته کړه کابل نیول شوی...

د جمعیت یوه ډله وار له مخه د هوا له لارې کابل ته رسېدلې وه، د مجددي زوی ډاکتر نجیب الله کابل کې له جنرال عظیمي نورالحق علومي، آصف دلاور سره ناست وو... پوښتنه داده، چې د پاکستان له خوښې پرته د هوا له لارې کابل ته دغه سفر شوني بلل کېدای شوای...؟

د حمل پر ۲۹مه واشنګټن اعلان کړه چې متحده ایالات افغانستان کې ځانګړې ګټې او علاقه نه لري- چې سره جګړه پای ته رسېدلې او پخوانی شوروي اتحاد د فارس خلیج په نقشه کې نظامي شتون نه لري.

د حمل پر ۳۱مه د تلوالې تازه دم ځواکونه د کابل جنوب ته وخوځېدل چې د حکمتیار د احتمالي برید مخه ونیسي.

بنین سیوان د غویي پر دویمه چاریکار کې له احمدشاه مسعود سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکتل، چې که وتوانیږي له هېواده د ډاکټر نجیب الله ایستلو ته لاره پرانیزي- ده چې د نوبل د سولې جایزې خوب لیدلی و د نهیلۍ څپېړې خورلې وې، نواز شریف هم د دې جایزې کاندید و.

د جنرالانو څلور کسیزه پلاوي چې له ښاغلي لایق سره د مشرتابه ژمنه کړې وه عبدالرحیم هاتف خپل مشر اعلان کړ، هاتف اعلان کړه چې داسې قانوني مرجع نشته چې څوک دې دغسې یوه پوست او چوکۍ ته وټاکي.

احمدشاه مسعود په مخابروي اړیکه کې له حکمتیاره وغوښتل د کابل لپاره د جهادي مشرانو د توافق له مخې د واک لېږد ته چمتو شي- ده ونه شوی کولی حکمتیار پر کابل له برید را وګرځوي- په دې ټکو چې دی هم اړ دی ځان چمتو کړي چې له کابله دفاع وکړي.

ایران له احمدشاه مسعود او ټلوالې په ننګه ودرېد، پاکستان پېښور کې پر تنظیمي توافق ټینګار کاوه خو د کابل لوبه یې له لاسه وتلې وه.

دا چې ځړېږي مخـــامخ درته په دار سرونه
په دې وطن کې بس همدغه وو د کار سرونه

(درویش درانی)

*

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تولو غاړو بايللې جګړه

تنظيمونه په ناندريو بوخت دي. پاکستاني مقامات په مندو را مندو ستري دي، د (ای ايس آی) مشر جنرال ناصر جاوېد د تنظيمو، نواز شريف او غلام اسحاق خان تر منځ د اتصال کړی توګه په حرکت کې دی، د پاکستان صدر اعظم ګورنر هاوس کې د وروستی فيصلې انتظار کوي. د امريکا سفير او د مقاومت لپاره يې ځانګړی استازی پيټر تامسن هم وضعې او حالاتو ته ځير دی، ددغه هېواد د پوځ لوی درستيز (جنرال جوزوف پي هاور)) پاکستان کې د خپل فعاليت تناوونه غځولې دي.

کابل کې ايتلاف هر ځۀ په بل مخ اړولي د بينن سهوان د مياشتو خواري او مندې تړې يې په سيند لاهو کړې. د ناپيلو شخصيتونو د غوراوي په اړه د تنظيمي مشرانو په اوږدو بحثونو او جنجالونو پورې په کړس کړس خاندي، سهوان د استاد رباني په وړاندې په ګوندو دی، چې د تولو له خوا منل شوی ليست تسليم کړي خو هغه د ايتلاف په پچه، ختلی د ديلي په نندارە بوخت دی کله چې له غوندې د يوه ضروري تليفون لپاره ووت په راګرځېدو يې په هر څه چليپا راکښله. نور هغه پخوانی استاد رباني نه و چې له هر څه سره يې په جينګو دارو د موافقت سر خوځاوه.

له اسلام آباد يې ځان د کابل ارګ کې ليدە په ذهن کې يې دغه تصور منګولې نښې کړې وې چې تلويزيون، راديو، اخبارونه او د نړۍ دله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ییزې رسنۍ یې د اسلامي افغانستان ولسمشر یادوي، ده په دولتي ادارو کې خپل لوی لوی عکسونه لیدل خو په دومره توپیر چې دا ورته هغسې ښکاره نه شول لکه د پېښور دفترونو کې د معصومو کتلو تصویرونه، بلکې دا یې د یوه مقتدر واکمن عکسونه ګڼل.

ځکه خو یې د غوندې خونې ته په ننوتو د پادشاهي له روحیې او اکټ سره وویل: خبره خلاصه ده نور په دا ډول بحثو وخت مه ضایع کوئ. نور هغه د جینګو دارو استاد نه و چې هره ترخه خبره دې په موسکا تېره کړي، په عمر خوړلی له وجوده کمزوری او له ځېرې معصوم استاد رباني ته ځان داسې ښکارېده لکه پاکستان کې د ځایېدو نه اوسي- سېوان هک پک ودرېد، حیران پاتې شو چې اخر دغه یوه لحظه کې څه وشول کوښښ یې وکړ استاد رباني ته قناعت ورکړي خو د اقتدار حرص د قانع کېدو وي؟

سېوان دا څو ورځې خوشحاله و چې له شېږو میاشتو وروسته یې ایله د بې طرفو کسانو په معرفي کولو اووه لیډران قانع کړي وو، ددغو کسانو لیست د تکمیل په وروستۍ مرحله کې و او له دغو اشخاصو ځینې پاکستان ته رسېدلي وو.

د ناپېلو شخصیتونو د امنیت او خوندیتوب لپاره ملګرو ملتو پر قوماندان عبدالحق هوکړه کړې وه- ده په دې اړه خپل امنیتي پلان بشپړ کړی و.

له مسعود، رباني نه سېوان د خطر احساس نه کاوه ځکه هغه لا پخوا د ملګرو ملتونو له طرحې سره په سلو کې دوه سوه خپل توافق ښودلی و، دده سترګه له حکمتیار سوځېده چې دی یې ددغو اشخاصو په انتخاب او د لیست په ورکولو کې ځورولی او ښه ستړی کړی و، دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېچاره غافلګير نه بلکې اغفال شوی و، په يوه عجيبه خوشباوری کې د اسلام آباد، کابل او تهران په منډو تررو بوخت و، خو هلته له شمال نه دده په هلو ځلو پسې يو توند شمال خپلې سرې بربوکی را الوزولې وې.

ويل کيږي سېوان په ډېر عجز له استاد رباني هيله کوله پخپل ملت زره وسوځوي- د ناپېلو کسانو ليست وروسپاري- دی به له دغو اشخاصو سره سبا کابل ته ولاړ شي او له ډاکتر نجيب به واک تسليم کړي.

ښايي ووايو د اپريل له ۱۸مې وړاندې تنظيمو د بېطرفه کسانو پر لست توافق کړی و، سېوان کابل ته د تلو پروګرام درلود، چې له ډاکټر نجيب بېطرفه کسانو ته د واک لېږد بشپړ کړي.

نجيب الله د سېوان د طرحې په مټ ناپېلو کسانو ته واک سپارلو شېبې شمېرلې، کورنۍ يې وار دمخه ډيلي ته لېږدولې او نژدې اندېوالانو يې هم هند کې د مېشتېدنې لار جوړه کړې وه.

ډاکټر نجيب هڅه کوله واک يوې ډلې يا ګروپ ته د پرېښودو پرځای يوې متفقې او متحدې اداړې ته وسپاړي، دې ته ورته غونښتنه له ګردېز مولوي حقاني د رسنيو له لارې څرګنده کړه، ده وويل: کابل رژيم ښايي د ائتلاف په بڼه نه، بلکې د مجاهدينو مجموع ته واک وسپاري، نه يو تنظيم - ډلې او جريان ته، جهادي مشران بايد ډېر ژر د صادقانه تفاهم په نتيجه کې پر يوه واحده اداره توافق وکړي او په کابل کې د واک لېږد ته چمتو شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډاکټر نجیب وړاندوینه:

ډاکټر نجیب الله له دې وړاندې پخواني پاچا ته هم د واک سپارلو وړاندیز کړی و، چې پاچا نه و منلی. ده له پاچا د دغسې وړاندیز په نه منلو ولسمل ته په تلیفانه ګیله کړې وه، ولسمل له پاچا د سپیناوي په غوښتلو دغه جریان مجاهد ولس کې خپور کړ، پاچا له ولسمل خوابدي وښوده، ولسمل ورته کړه، ما خپله غاړه خلاصه کړه، پاچا وویل، تا خپله خلاصه، خو زما بنده کړه...

ډاکټر نجیب الله له وراندې په ټوله مانا د واک لېږد ته چمتو و، په همدې موخه یې پخواني پاچا سره اړیکه ونیوه، چې له بده بخته پاچا ونه منله ... له افغان سیاستوالو او مخورو سره یې د پوهاوي هڅه وکړه، خو دلته یې هم هغسې ځواب تر لاسه نکړی شو چې د واک بریالی لېږد عملي کړای شي. له پخواني پاچا په نهېلیتوب یې لویدیځ میشتو سیاستوالو او مخورو ته مخه کړه، د رئیس... په مشرۍ یو پلاوی له ډاکټر سره د خبرو په موخه هند ته ولاړ ... ډاکټر د واک لېږد ته خپل چمتوالی وښود، خو پلاوي د داسې چا (...) وړاندیز وکړ چې د ډاکټر په وینا دغه جامې پرې خورا لویې او اوږدې ختلې...

د ۱۹۸۹ د جون په لومړیو کې ډاکټر نجیب الله له نیو یارک (د ملګرو ملتو عمومي غونډه کې له ګډون) واشنګټن کې استاد پژواک ته تلیفون وکړ... لومړی خبرې د شاه محمد دوست وي...

دوست: محترم پژواک صاحب سره خبرې کوم...؟

پژواک: بلې...

دوست: محترم نجیب الله غواړي تاسې سره خبرې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پژواک: کوم نجیب...؟

دوست: د افغانستان جمهور رئیس

داکتر نجیب: کاکاجانه سلام د جمهور ئیس په توګه نه د وراره په توګه درسره غږږم، روغتیا مو څنګه ده...؟

پژواک: ښه یم.

نجیب: ستاسې له نظریاتو خبر یم، شعرونه مو وارسیږي، ستاسې راتلو ته سترګې پر لار یوو.

پژواک: حقیقي وراره نعمت الله سره مې د خپلو اصولو له مخې ونه لیدل...

نجیب: مور هېواد ته ښه نیت درلود او لرو یې.

پژواک: ممکن خو په عمل کې...

نجیب: هیله ده زما عرض ومنئ.

پژواک: د منلو نه دي.

له دغه یادونې زما موخه دا ده چې داواري په اړه داکتر نجیب الله خپلو هیلو ته د رژیدا لوری ونشوای موندای... د زړونو مالک خدای دی، خو د داکتر له خوا د سولې غږ ته هیڅا د زړو دروازې ښرته نشوا کړای...

د کودتا اعتراف:

د مسعود ځواکونو د اپریل پر اتمه ګلبهار او پر نهمه بګرام هوایي ډګر لاندې کړ.

د حمل پر شلمه د شورای نظار او رشید دوستم ځواکونو د مخکنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جورجاړي له مخې ګډ مطبوعاتي کنفرانس کې په ډاګه کړه، چې نجیب الله باید سمدستي له واکه لاس واخلي - دوستم وویل موږ، حزب وحدت او نظار شورا په دې اړه توافق ته رسېدلي یوو...

د دوستم په خبره... ما از سابق نقشیه میکشدیم که حکومت کمونستها در افغانستان صلح در وجود آنها برقرار نمیشود... ما بخاطر حکومت اسلامی تصمیم خود را گرفته بودیم... تا که یک زور و یک قوت نباشه راه حل ممکن نیست... همان بود که شصت هزار نفر در فرقه بسیج و در جاهای مختلف جابجا شد... به همکاری غفار پهلوان، رسول پهلوان، سید حسام الدین علیه دولت ایستادگی بکنیم، آمر صاحب احمد شاه مسعود اطمینان داد گفت ما پهلوی شما هستیم... همان بود که طرفداران نجیب را درستگیر و از بین بردیم... گفتم باید کابل را فتح کنیم... همان بود که ما را بصفت رئیس شورای نظامی مقرر کرد...

احمد شاه مسعود «المسلمون» ته وایي:... همه بحالت نومیدی بوده، در عین زمان دشمنان اسلام دست بکار بودند حکومت غیر اسلامی بوجود آورده...

ما از تحرکات ملل متحد و بینن سیوان آگاهی داشتیم، در حالیکه همه به طرح نماینده ملل متحد چشم دوخته بود و طرح حکومت بیطرف را تنظیم ها بذیرفته بود، ما پلان استقرار حکومت اسلامی مجاهدین را بموفقیت عملی نموده، حکومت اسلامی مجاهدین بمیان آوردیم...»

دغه څرګندوني کابل کې د کودتا او ملګرو ملتو د سولې پلان د ناکامولو څرګند اعتراف دی، له بده بدبخته چې ملګرو ملتو کله هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایتلاف ته د پرې او ملامتی ګوته ونه نیوه...

نجیب الله لا استعفا نه وه ورکړې، چې د دوستم ملیشو د کابل هوایي ډګر او ستراتېژیک موقعیتونه نیولی و، په دې توګه د حمل له ۲۴ مې وړاندې کابل د ائتلاف منګولو ته لوېدلی و.

استاد رباني چې تر دې وخته له هیڅ شي سره پرېکنده برخورد نه ورکړی، جدي او قاطع بڼه ونیوله، له دې مخکې ده نه د ظاهر شاه د راتلو د ګرمو اوازو پر وړاندې د څرګند مخالفت کوم دریځ غوره کړی و او نه هم د بېطرفه او دریېم ګړي حکومت په هکله، همدا لامل و، چې ده هم په اخوانیانو او د چا خبره بېخ نړاندو او افراطیونو کې ځان شمېرلای شو او هم یې له مینځلارو سره سر خوځاوه، په دې توګه یې له دوارو سره په ګوزاره او ملګریتوب کې څه ستونزې نه لرلی، له همدې ځایه وه، چې ځینو کتونکو او خبریالانو ماهر سیاستمدار یاداوه او ځینو بیا له ارادې او قاطعیت بې برخې محتاط مشر.

ده په هر لوري کې ځانته د قدم اخیستو مخه پرې ایښې وه، له امریکا سره یې د خپل سفر پر وخت د اړیکو له املې لار تېره کړې وه، له ظاهر شاه سره یې اړیکې د ښاغلي سیرت په مت پرانیستې ساتلې، په مجددي خو یې دا احسان و، چې جبهه نجات ملي دده په کونښښونو تاسیس شوې، له اخوانیانو سره یې په مصر کې د تحصیل له وخته روابط وو، پیر صاحب او محمدي یې هم په خپله ساحرانه موسکا داسې ډاډه کړي وو، چې تولو ته بې ازاره مرغۍ ښکارېده.

دغه پالیسي یو دوه واړه ده ته څه ستونزې هم راولاړې کړې، یو ځل هغه وخت (۱۳۶۵ لمریز) چې پر ایراني حاجیانو سعودي پولیسو ګولۍ وچلولې او په لسګونو یې ووژل په دې توګه د سعودي او ایران مناسبات

(c) ketabton.com: The Digital Library

خراب شول، بل دخليج جګړې پرمهال.

په سعودي کې د ايراني حاجيانو د وژنې په هکله ده سعودي او ايران دوارو ته د خواخوږی او د دوی د دريځونو د تائيد پيغامونه لېږلي وو، خو سعودي د تلګرام متن په عکاظ او ايران په اسلامي جمهوري ورځپانه کې خپاره کړل، په دې توګه خبره رسوايی ته وخته او شهادت اوونيزې بيا دواړه متنه په خپله يوه ګټه کې د تولو مخې ته کښښودل.

خليج جګړه کې څنګه چې د پاکستان جماعت اسلامي د امريکې پر ضد موقف غوره کړی و، څکه خو يې د اخواني دلو په ګډون لاهور کې يوه غونده جوړه کړه، په دې کې يې له افغاني دلو حزب، اتحاد او جمعيت ته هم بلنه ورکړې وه. حزب او اتحاد خو په خپل امريکي ضد موقف ټينګ و، څکه خو يې غونډه کې پراخه برخه واخيسته، خو استاد رباني حيران و، که غونډه کې برخه اخلي، د امريکا سعودي پر ضد حرکت دی او که يې نه اخلي، په اخواني حلقو او جماعت اسلامي کې ميدان حکمتيار، سياف ورځخه وړی.

له همدې ځايه و، چې په نه زړه يې، غونډه کې ګډون وکړ، تصويب شوې قطعنامه يې لاسليک او مطبوعاتو خپره کړه، خو د سعودي او کويت واکمنو په نامه يې خپل تلګرام کې د عراق د موقف او سياست په کلکه غندلی او پر عراق د غربي قواوو د حملې ملاتړ کړی و، چې مطبوعاتو ته په راوتو يې يوه بله رسوايي جوړه کړه.

په همدغو شپو ورځو کې چې هېواد ګام په ګام د يوې خونړی فاجعې خواته نژدې کېده، تنظيمي مشرانو د پاچاهی، صدارت او وزارت خوبونه ليدل، ذهن تصور، او سوچ يې د کابل په ارګ کې د ګلخانې خيالي نداره کوله، د دلکشا په تصور کې به يې زړونه په توپو شول او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه ور به يې د اورېدلو کيسو او خبرو له امله د ذهن په پرده د مور سرې غالۍ تېرې شوې، بې اختياره به يې خولو اوبه وکړې او د تصور په همدغه خوند کې به هر يو ځانته جلا پادشاهي صدارت او وزارت جوړ کړی و، دوی به همدا يوه خبره تکراروله، چې مجاهدينو روس ته ماتې ورکړه، کمونېزم يې له مينځه يوور، د برلين دېوال يې ونړاوه، د نړۍ يو وحشي ښکېلاکي ځواک يې په ګوندو کړ، ځکه خو يې حکومت خپل حق ګانه... له دې ناخبره چې خرکاری هنر داره سبق نيست که پر پر بخوانی...

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا بېخودي ده که هوس دی که عشق انتها
گوره ته خپل قاتل ته هم وایې جانان زرګیه
(سایل)

د ځمکنیو یتیم خانې ناکامه لوبه

د ۱۳۷۱ د ثور پر ٦مه استاد سیاف سهار وختي د خپلو بېګانیو خوبونو په تعبیر پسې راوتلي و، په هغو خوبونو پسې چې د ملت د تباهی او بربادی تصویر یې په تعبیرونو کې پروت و. استاد سیاف په ځمکنیو کې هغه یتیم خانې ته ځان ورساوه، چې نن یې په کې د افغان مظلوم ملت د برخلیک تاکلو یو خطرناک پیل او انجام سره غوټه کاوه، په دغه ورځ د افغان مجاهد ملت سرنوشت د ځمکنیو په یتیم خانه کې تاکل کېده...؟

افغان ملت په ربنتیا هم یتیم و، داسې یتیم چې تر ننه د یتیمی ځپېرې پرمخ خوري، ځکه خو باید د دغه یتیم ملت سرنوشت هم په یتیم خانه کې لکه د ظالمو او وږ سترګیو تربورانو په مینځ کې د یوه بې اسرې یتیم د مال د تقسیم په ځېر په بیره او د حرص له عینکو وېښل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی وای.

استاد سیاف په خپل ځانګړي مهارت یوه لیکلې پاڼه هر لیډر ته چې په ببلابیلو کوتو کې کښول شوې وو، په حق جانب اکټ له دې ډاډ سره وراندې کوله، چې له تاسې پرته نورو تولو رهبرانو منلې ده، هر ښاغلي به فکر وکړ، چې نورو رهبرانو منلې، نو له ده به هم د مخالفت او انتقاد جرئت سلب شو، که به یې زړه وکه نه، د قلم په څو واړه خوځولو به یې د یوه مجاهد ملت په تولو قربانیو او عظمتونو چلیپا راکښله. له دې ناخبره چې په دغه څو واړه قلم کشولو د یوه ملت، یوه مجاهد او قهرمان ملت له قربانیو او وینو سره د څومره ستړې جفا او ناڅوانۍ پاڼه اړول کیږي.

په لږ وخت کې دا هرڅه پای ته ورسېدل او په څو دقیقو کې یې د افغان مجاهد ولس سرنوشت او د سر په قیمت ګټلی حیثیت او عظمت په خپلو کې د وزارتونو صدارت او ریاست پر سر داسې سره تقسیم کړ، چې د پلار میراث او جایداد به هم څوک داسې په اسانه په خپلو کې ونشي وېشلی، په داسې عباراتو چې د یو جریب پټي قواله به هم څوک دا ډول ونه لیکي.

د پېښور د لوزنامې په نامه داسې څه لاسلیک شول، چې هیڅوک په دې پوه نه شول، څنګه په څو ساعتو کې دغسې کار چې څوارلس کاله ناشونی ګڼل کېده، ترسره شوه...؟

په دغه پرېکړه کې مجددي د دوو میاشتو لپاره د دولت د ممثل په توګه له (۵۱) کسیزه هیئت سره موظف شوی، چې له رژیم واک تر لاسه کړي، خو د ممثل مفهوم او تعبیر نه و څرګند شوی، چې دا ممثل به څه کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ممثل له دوو میاشتو تېرېدو وروسته به د ۴ میاشتو لپاره استاد رباني د اسلامي موقت دولت رئیس او د رهبري شورا مشر وي، دی به هلته خپل کار رسماً شروع کوي، چې د قدرت د انتقال دوه میاشتې پوره شوې وي، خو دا تعین به یوه ورځ هم نه اوږدېږي.

که څه هم د مجددي د دوو میاشتو په اړه لیکل شوي، چې دغه هیئت به له دغه مودې وروسته د عبوري دولت تر ارخ د اسلامي موقتې شورا په حیث پاتې او ریاست به یې د مجددي پر غاړه وي، د دې شورا موده به هم څلور میاشتې وي، خو دا معلومه نه شوه، چې په دغه دوو میاشتو کې چې ملت په یوه مطلقه خلا کې واقع او کوم قانوني حکومت نه لري، دا دوې میاشتې به دولت او حکومت څوک چلوي او څنګه به یې چلوي، د فیصلې له عبارته خو دا معلومېږي، چې په دې وخت کې به اقتدار له یوې خوا سره هم نه وي او هرڅه به راکد پاتې وي، د قیادي او جهادي شورا په نامه داسې څه رامینځته شول، چې بیا یې هم په تعبیر، مفهوم، صلاحیت او مسوولیت څوک پوه نه شول.

د استاد رباني څلور میاشتنی حکومت چې په پرېکره کې د عبوري دورې په نامه یاد شوی، د هغې له پاې ته رسېدو د بل عبوري حکومت معنا څه دول ګنل کېدای شي؟ د عامو انتخاباتو - او حل او عقد په نامه کشالې خو له هماغه وخته د داسې یوې سطحي فیصلې له امله رامینځته شوې ربړې وګرځېدې، چې غمیزه یې غځولې ساتله...

د دولت او حکومت ترمینځ توپیر او ددې مفهوم او معنا هم ددغې پرېکړې له مخې د خپلو قانوني او حقوقي اړخونو له پلوه له واحد تعبیر او تفسیر بې برخې ده، بله دا چې ډاکتر نجیب خو له دې مخکې استعفی ورکړې وه، نو بیا د کابل له واکمنانو د قدرت انتقال څه معنا

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري؟ همدارنکه د دوه میاشتنی مودې لپاره هیڅ دول عنوان هم نه شي موندل کېدی، چې دا موده په څه نامه یاده شي؟

په فیصله کې د صدارت او وزارتونو وېش هم دا دول شوی، چې وزارتونه په تنظیمو وېشل شوی، په دې دول چې صدارت حزب ته ورکړ شو، د صدارت معاونیت او خارجه وزارت محاذ ملي اسلامي ته، او... پرېکړه د استاد سیاف په ابتکار دده په قلم لیکل شوی او منظوره کړی شوه، سبا یې چې د شنبې ورځ وه، د پېښور په ګورنر هاوس کې د پاکستان صدراعظم نواز شریف او د سعودي عربستان د استخباراتو وزیر امیر ترکي دا پرېکړه د خپل تائید په څرګندولو په زړونو کې توشېح او له استاد سیاف یې ددغه ستر‌ې کارنامې له امله مننه وکړه، په دې توګه د جهاد اهدافو او د ملت قربانیو ته د درناوي لپو د افغان مجاهد ولس د هیلو مخونه تک شنه کړل.

په پرېکړه کې باید د جمعیت امتیاز جوت وی، دوه حساس پوستونه، جمهوري ریاست او دفاع وزارت، که نه نو بیا بلې هرې پرېکړې هیڅ دول اجرائیوي او قانوني ضمانت او حیثیت نه شوی غوره کولی، حتما باید همداسې شوي وای، څکه د شمال ائتلاف د مسعود په تکیه د کابل په پوله د اقتدار مخه پرانیستې وه.

جمعیت ټینګار کاوه، چې دفاع وزارت به څکه له مسعود سره وي، چې ددده په مت د ډاکټر نجیب د پرځولو لپاره یو ستر پوځي قوت راولاړ شوی او د هېواد جمهور رئیس څکه باید استاد رباني وي، چې دغه ائتلاف د جمعیت په چوکات کې ددده د سیاسي رهبری او بصیرت له کبله بنه نیولې او د دغو اوو مشرانو کابل ته په اصطلاح فاتحانه داخلېدو چانس او زمینه یې برابره کړې ده...؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مجددي په مشرۍ د ۵۱ کسيزه جهادي شورا په ټاکل کېدو، وپټيل شوه، چې احمد شاه مسعود به له همدې ټيټې دفاع وزير او استاد رباني جمهور رييس وي.

لنډه دا چې قدرت بايد دا دول تقسيم شوی وی، چې دفاع وزارت د مسعود او جمهوري رياست د رباني وي، نور نو دی د پېښور رهبران سره جوړ شي، چې څنګه يې تقسيموي اختيار لري.

حکمتيار چې لوګر کې و، خپل غير مسلح افراد کابل ته ننيستلي او هلته يې د خلق فرکېسيون په همکارۍ ځينې تاسيسات تر خپل کنترول لاندې راوستلي و.

په پېښور کې جماعت اسلامي او قاضي حسين احمد پوره ترتيبات نيولي وو، چې د ثور د پينځمې نېټې پر مانښام به له کابل راډيو د حکمتيار وينا په خپرېدو د کابل فتحې جشن لمانځل کېږي، په دې اړه پېښور کې ګڼ پوسترونه لګېدلي وو، له بلې خوا تلوالې خپل تازه دم ځواکونه د کابل پر لور مارش کړل، د ثور پر پينځمه کابل کې د حزب اسلامي او نظار شورا دلې ښکر په ښکر شوې.

د غويي پر ۵مه له يوې خوا د حزب اسلامي قواوې ښار ته په ننوتو د کورنيو چارو وزارت د ارګ يوه برخه او د ښار ځينې ناحيې او سيمې ونيولې، له بلې خوا د رشيد دوستم ځواکونه چې له دې مخکې په هوايي دګر، راډيو تلوېزيون او ځينو نورو سيمو کې ځای پر ځای شوې وې، د هوا له لارې د نورو تازه دمو ځواکونو په ور استولو نوي سنګرونه ونيول، که څه هم دا ورځ له اخ و دب پرته تېره شوه، خو... دا چوپتيا له توپان مخکې چوپتيا ته ورته وه.

د اپريل پر ۲۵ مه چې د حزب مجاهدين کابل ته ننوتې وو، حکمتيار

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دغې ورځې پر مابنام د مخابرې له لارې مطبوعاتي کنفرانس کې ددغې ورځې مبارکي ورکړه، ده کابل رژیم نسکور شوی وباله، د پېښور شورا په اړه یې وویل: چې نور هغې ته ضرورت نه شته.

د حزب وحدت دلې هم د بنسار دننه ګڼ تاسیسات ونیول او له شمال څخه په وار، وار د دوستم ملېشې د هوا له لارې کابل ته راوړل شوې.

پر سبا یې ائتلافي ځواکونو د حزب تر کنټرول لاندې تاسیساتو حمله وکړه، په دې توګه له یوې خونړۍ جګړې وروسته د حکمتیار قوتونه په شا شول.

په دې خونړۍ جګړه کې د کابل بالاحصار شاوخوا، د شاشهید او سید نور محمد شاه مېنې کورونو او ودانیو ته زښت زیان ورسېد، څرنګه چې په دغه استقامت د حکمتیار مجاهدینو موقعیت نیولی و، د جګړې له تلفاتو پرته د حکمتیار د قوتونو له په شا تګ وروسته ملېشې، د دغه سیمې کورونه چور او لوټ کړل او د خلکو نقد او جنس یې په ډېره بېرحمۍ ولوټل، همدارنګه د ګذرګاه په استقامت ډېرې کورونه له مینځه ولاړل، دلته هم د ګلم جم ملېشو د لوټ تالان له امله د هېڅا شتمني خوندي پاتې نه شوه، حتی د خلکو پر عزت او ناموس هم د دغو ملېشو له خوا تېری وشو.

مسعود له حکمتیار سره د ناکامو مخابروي اړیکو وروسته د اپریل پر ۲۶مه د ملېشو په مټ پر چهلستون، برید وکړ، له شیندند د حزب په پلوی پورته شویو الوتکو، بګرام او د مزار دهدادی بمبار کړل.

د چهلستون تاریخي مانۍ غالۍ او نور قیمتي سامان او وسایل دملېشو له خوا چور او لوټ شول، له دغه تالان وروسته یې د خپلو جنایتونو د پټولو په خاطر قصر ته اور واچاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه مخکې مو چې وویل، د ثور پر پینځمه پېښور کې جماعت اسلامي دحزب له خوا د کابل د فتحې په رابطه د جشن پروګرام درلود، داعلان له مخې د ثور د پینځمې نېټې پر پینځو بجو به حکمتیار له کابل رادیو خبرې کوي، خو د شمال ائتلاف توپاني شمال دا هرڅه په مخه واخیستل او دا دول پروګرامونه او پلانونه یې له یوې مخې شند کړل.

د دولت د ممثل په توګه د مجددي انتخاب تش په نامه او یو داسې کار و، چې د نړۍ هېڅ هېواد او سیستم کې یې سابقه نه لرله، د دغه ضعیف فورمول پر اساس اداره ځکه فلج او ناکامه وه، چې له یوې خوا د قدرت اصلي مرکز د مسعود، رباني، دوستم، پرچم په لاس کې بیا هم تقسیم شوی پاتې کېده او له بلې خوا د دغه ناقص فورمول په اساس مینځته راغلي ارګان کې هم داسې موثر قوت او جهت نه و، چې حالاتو ته په یوه نېغ سمت د حرکت مخه پرانېزي.

د مجددي خوله د تېر عبوري حکومت په خوند خوږه وه، ده به چې سترګې پټې کړې، هماغه کونجاړه یې په خوب لیده... لکه د پېښور عبوري حکومت دا به یې هم تر دوو کلونو غځېږي او نوم به یې په تاریخ کې د اسلامي افغانستان د لومړني ولسمشر په توګه یاد پاتې شي.

خو دا څل لکه بخت ورسره بله نخره را اخیستې وه، پر کومه ورځ چې دی له پېښور کابل ته روانېده، حکمتیار ګوابښ وکړ، چې د ده الوتکه به وویشتل شي، د پېښور په هوایي دګر کې له ده سره تلونکی پلاوی تلولی وو، هر یوه په ویښه د وزارت خوبونه لیدل، کړی ورځ یې کابل ته د تلو او وزارتونو په خیال پلو کې تېره کړه، خو مجددي د هوا له لارې سفر ته زړه تینګ نه شو کړی.

په دې توګه یې د خپلو ملګرو د کړی ورځې د وزارتونو د خیال پلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مزه په خوله کې وچه کړه.

په کابل کې د دلو ټپلو له ښکر په ښکر کېدا مخکې حکمتیار پر ښار د ورختلو او دګلم جم ملېشو د وتلو ګوتځندنه او غوښنه کوله، خو د تکر د مخنیوي په موخه د قاضي حسین احمد په هڅو د مسعود او حکمتیار ترمنځ مخابروي اړیکه د اپریل پر ۲۴مه تینګه شوه، د خبرو پیل دوستانه و، چې ستوغې به شوې قاضي حسین احمد به په مینځ کې ورولوېد، مسعود غونښتل حکمتیار پېښور ته ولاړ شي، د عبوري حکومت جوړښت او شورا په تشکیل کې له مشرانو سره برخه واخلي، مسعود وویل: پر کابل د برید اړتیا نه شته، د برید ګوانښ دې واخله، که نه همدا اوس اقدام کوم، حکمتیار وویل: کابل باید له ملېشو وژغورل شي، ددې په وینا دی به له ملېشو د کابل دفاع وکړي، د لوټ تالان مخه به ونیسي، مسعود هم د کابل د دفاع خبره وکړه، چې خپل چمتووالی نیسي، حکمتیار پوښتنه وکړه، د څه چمتووالی...؟ مسعود وویل: دفاع مرد و زن کابل... مسعود دا هم وویل، له ملېشو او جنرالانو سره یې ملګرتیا، له خپلو مشرانو زده کړی، ددې اشاره جنرال تني ته وه...

د ارګ پر لور - د مرګ پر لار:

د مجددي د زړه په درزا کې له یوې خوا د کابل تخت پستو تالونو هنګامه جوړه کړې وه، له بلې خوا د حکمتیار د ګوانښ له امله یې مخې ته د مرګ وېرووونکې هیولا درېدلې وه، مجددي او ورسره د سفر ملګرو یې چې د ورځې په شان دغه شپه هم د اقتدار په مینه کې رنه تېره کړه، سبا یې د ځمکې له لارې د کابل ارګ ته د تخت په هوس غېږه خلاصه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړه، ارګ یا مرګ، تخت یا تخته...؟

مجددي له پښور د موټرو په یوه اوږده کتار کې په مزه مزه د سفر لار لنډوله، د اپریل پر ۲۷ مه د مجددي د سپرلی موټر د پاکستاني پولیسو د ځانګړي ګارډ له خوا بدرګه کېده، د ISI مشر جنرال جاوېد ناصر د تورخم په ځنځیر ورته مخه ښه وویله، ثمرخېلو کې یې حاجي عبدالقدیر سوړ هرکلی وکړ، همدلته دده سترګې د پاچاهی یوې تټې ځلا وبرېښولې او په همدغه تته ځلا کې یې د کابل ارګ هر ګوټ او د اقتدار ټول حلاوتونه او ګردې ښکلاوې وځکلې.

عبدالوکیل، عبد الواحد سرابي، جنرال نبي عظیمي او د پرچم دلې یو شمېر غړو څرخې پله کې د مجددي هر کلي ته ولاړ وو، په دې توګه د قدرت د انتقال د دارمې د لومړنی پردې تمثیل ترسره شو.

مجددي د ثور پر ۸مه د کابل له رژیم ظاهراً واک ترلاسه کړ، ده له ځان سره لوړه پورته کړه، واک ښایي هاتف لېږدولی وی، خو توله پروسه کې د جنرال عظیمي رول جوت و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

د اپریل پر ۲۸مه له غرمې وروسته عبدالحمید محتاط د واک لېږد ته د نجیب الله پر ضد د کودتا مشهورې څېړې راتولې کړې، وېړې، اضطراب او وحشت پر څېرو اتن ګډ کړی و، خو محتاط ډاډه و، ده هر یوه ته تسلا ورکوله، دوی ښایی مجددي ته د ښه راغلاست او د اسلام مجاهدینو ته د واک د انتقال په اړه غوږ او پاسته تکي راتول کړي وي.

د بهرنیو چارو وزارت کې د واک د لېږد د درامې وروستی صحنه ده، عبدالحمید محتاط د درامې د دغه ټوک د پرودیوسر په توګه د پردې شاته ناست و ، مجددي دتوپکو په سیوری کې د ستوري مانۍ تالار ته ننوت، په تاکلې چوکۍ کېناست، یوه اړخ ته یې عبدالواحد سرابي، بل ته فضل حق خالقیار...

لومړی وینا د سرابي وه، بیا خالقیار، خلیل ابوی، محمود حبیبي د اسلام مجاهدینو بریالیتوب او ښاغلي مجددي د واکمنۍ مبارکۍ وراندې کړې، دوی حضرت مجددي د وتلي پروفیسور، اسلامي سکالر، د حق لاروی ستر مجاهد، روحاني لارښود... په ټکو او القابو یاد کړ، وینا د اسلامي نظام د تینګښت، د مجاهدینو په بري او د حضرت صاحب د شخصیت، ژوند، مبارزې د درنښت په ځلاینه راتوله وه.

مجددی د احساساتو په توپاني څپو کې خپله وینا پیل کړه، کله فارسي، کله ماته ګوډه کړکیچو پښتو او کله هم انګریزي، عربي، پر پنځو بجو درامه پای ته ورسېده.

په دې توګه د رامینځته شوي حکومت پوځي طاقت د دوستم او سیاسي د ببرک وګرځول شو. د ببرک پرچم د دوستم له جنګي قوت او د مسعود او جمعیت له جهادي صبغې د ګټې اخیستلو لار اواره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاطره:

غلام سرور اخونزاده ظاهراً دریور خو دننه عالم دی، هندوستان کې یې له دیوبند مدرسې د فضیلت دستار ترلی، خو له ملایی زړه توری دی، ژوند یې د موټر په ارابو چلاوه، د ده خپل منطق دی، پوخ منطق حیرانوونکی منطق...

دی له خپلې کورنۍ سره مهاجر و، د کمپ په ختینو کوټو کې یې ژوند تېراوه، خو کله هم په جهاد باوري نه شو، دده دا خبره لکه د کانی کرښه وخته... داسې وخت به راشي چې د حضرت صاحب لمسي د محمود بریالي لور پارک کې ترلاس نیولې وي، یو بل ته وایي... چقه مردمای احمق بودند که بخاطر ما و این شعارها یکی دیگه اې خوده میکشتند...

ځینو کټر کمونستانو چې څو ورځې جوماتو کې د خلاصه کیداني او قدوري پاڼې اړولې وې له خپلو نومو سره مولوي تکی ونښلاوه... د شوروي اتحاد راوړي بریلیکونه یې را کوز او د دارالعلوم هغه وځرول...

له برخلیک سره لوبې:

د مجددي په حواسو د ارګ د سپینو زرو قبو او د دلکشا او ګلخانی خیالونو منګولې نښې کړې، دې ته لالهانده، چې څومره ژر کېدی شي، د ګلخاني او دلکشا په غیږ کې د اقتدار د خمار ماتې خوښوونکې او ښایستوکي وږمې تنفس کړي، دی د ارګ تږي او تلولی و، دلته هره لحظه لکه د کال تېرېده، ده ته د افغانستان پادشاهي او اقتدار له ارګ پرته نیمګړې ښکارېده، لکه په خپلو حواسو شکمن وي، تک زړه به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولوېد او دا به له امکانه وتلې او د نه منلو خبره ورته ښکاره شوه، رنګ به يې تک ژېر شو، خو چې شاوخوا به يې وکتل، نو په شوندو به يې د يوې فاتحانه موسکا څپه وغورېده.

دی ناکراره و، په ارګ پسې ناکرار، د کرس باور خبره د ارګ په مينه يې له مرګ سره سترګې جنګولې وې، نو اوس يې څنګه د هجران او انتظار ترخې زغملی شوی.

د مرحوم سردار نعيم خان کور کې دا يوه شپه پرده له کال اوږده، تېره شوه... دده پر خوله همدا خبره ګرځېده، ارګ ته کله...؟

چې لمانځه کې يې هم د قبلې پر ځای مخ ارګ ته کوږ و...

مخ پر قبله مې د يار کور دی

لمونځ مې پلمه کړ د جانان ديدن کومه

دده انډيوالانو هر يوه ځانته يو وزارت خوښ کړی او ځان يې د هماغه وزارت په څو پوړيزه ودانۍ کې د ستر مېز شاته د اقتدار په تولو نخرو سمبال ليده، دوی به په همدغه تصور کې د خپلې خوښې وزارت ته د بادېګاردانو د توپکو په سيوري کې ګرندي او ځانګړې ځېره ننوتل، مامورين او منسوبين به يې راغوند کړل، دفتر به يې په خپل زړه جوړ او نوې مقررۍ اعلان کړې، پر خپلو خپلوانو او انډيوالانو به يې حساس پوستونه او رياستونه ووېشل، د خلکو په عريضو به يې ((ملاحظه شد)) او قانوني اجرات وکړئ وليکل.

مجددي د ارګ پر لور حرکت وکړ، کله چې د ارګ مخې ته نژدې شو، اضطراب او هيجان په مخه کړ، له خوشالۍ و که له بل څه، داسې معلومېده چې د لارې په ليدو کې يې خپل قوت له لاسه ورکړی وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نژدې وه د ګنو ساتونکو او حتمي او احتمالي وزيرانو په بيروبار کې پريوځی، دی لومړی ژر ژر په ارګ وګرځېد، په ګلخانه او دلکشا يې مينه ماته کړه، حرم سرای يې له نظره تېر کر، کاسه برجونه او تولې دروازې يې وکتلې، ده ته يوه غټ او پرېر لنډي سړي د ارګ د هرې څنډې د پېښو په رابطه د ربښتيا او دروغو ګودی پرانيستی و.

دلته خادم دين رسول الله وژل شوی، دلته نادر خان په ګولی ويشتل شوی، دلته امير امان الله خان د قاضي عبدالرحمن سر مات کړ، دلته غلام نبي څرخي د توپکو په خولو وژل شوی، په دې ځای کې داود خان ويشتل شوی، دلته د نعيم خان په کورنۍ ګولی چلېدلی، په هغه وړاندې مانۍ کې يې د تره کي پر خوله بالښت ايښی او داسې نور.

مجددي خبر نه و، چې ارګ وار له مخه د جمعيت او نظار شورا راغلو نباغلو خپلو کې وېشلی، ان چې د ډاکټر نجيب الله پر پالنګ د خوب په هوس کې يې خپلو کې سره خورلي هم دي...

ده ته ايله درې کوټې رسېدی شوای لکه د ارګ زنداني...

مجددي د ارګ هغه برخې ته چې د ګلخانې شاته د شاهنواز تنې کودتا په بمباری کې ورانه شوې وه، ترڅه وخته ودرېد، په زړه کې يې دغې وېرې غڅونې وکړې، هسې نه پر ده هم کوم وخت دفاع وزير کودتا وکړي؟ چې په تېره څه دپاسه يوه لسيزه کې د دفاع وزارت پر کودتاګانو راګرځېده...

د مرګونو دغو کيسو مجددي په يوه ژور سوچ ډوب کر، ده چې دغه لږ سوچ کې د لنډکي پرېر سړي خبرې راغبرګې کړې، نو ارګ په ربښتيا له مرګونو پرته بل څه نه لرل او هغه خوار شوی هم په يوه دمه ده ته د مرګونو کيسې او واقعې کتار کړې وې، د ده سترګې وځلېدې او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وارخطایی او وېرې سپرمغي يې ونښندل، پل يې ونيوه، له ارګه يې لږ کرکه په زړه کې وتوکېده، خو ژر يې دغه زمولوونکي خيالات د ولاحول... په ويلو شاته کړل، دتخت او اقتدار هوس يې بيا په زړه کې غځونې وکړې.

دده پلرونو په همدې ارګ کې امان الله خان، د سقو زوی، نادر خان او ظاهر شاه ته د پاچاهۍ کمربندونه ترلي وو او نن په دغه اوږده پسمنظر کې د خپلې پاچاهۍ پر واقعيت ولاړ و.

کاشکې د پاچاهۍ سلسله نه وی ختمه شوې، هماغه مراسم. کمربند ترل او هماغه د پادشاهۍ د ميراث سلسله وی، دا جمهوريت يې لا څه دی، داود خان يې په زړه کې وراته، څلور او پينځه کاله نو څه وخت دی؟ خوند پادشاهي کوي، چې د عمر کار دی او خبره اولادونو ته رسېږي.

کابل چې يوې خونړۍ جګړې يې پر حسن او جمال اور پورې کړی و، داسې منظره نه لرله لکه د يوه مملکت پلازمېنه او يا هم هغه کابل چې طبيعي ښکلا او موقعيت يې د پاريسونو او لندنونو سترګې سوځولې.

وروستۍ خونړۍ جګړې د کابل د وحشت او بربادۍ يو ګويا او ژړغونی تصوير وراندې کاوه، کابل هغه کابل نه و، چې څوارلس کاله يخوا ليدل کېده، د خلکو ښې الوتې زړې زېښلې وې، د فقر، خواری، لوږې، وېرې او دهشت نښې يې د سترګو او تندي ګونځو کې له ورايه څرګندېدې.

خو په همدغه وېروونکي او جګړې څپلي کابل کې د اقتدار په هوس مست په لوکسو لنډکروزرو او پيجاروګانو کې داسې غوږ غوږ ګرځېدل، لکه د ږيرې او سر له هر تار يې د زېرې غوا زهر غوږي څاڅي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل ښاریان حیران وو، هغوی فکر کاوه چې د هجرت او پردېسی ستونزو او د کمپونو او خېمو ګرمیو او د بېوطنۍ دردونو به اوس دوی داسې زهیر او زمولولي وي، چې د تندي هره کرښه به یې د دغو دردونو او ستونزو بې شمېره رازونه سپري...

د اپریل پر ۲۸ مه حکمتیار له مولوي حقاني سره اړیکه ونیوه، چې د مسعود پرځای دفاع وزیر شي، حقاني وویل: مسعود اوس پر دې څوکۍ تاکل شوی، زه له څوکۍ او مقام سره علاقه نه لرم، دا کار ښه نه ښکاري، زه به د سولې هڅو ته په بېطرفه توګه دوام ورکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوولس کرامه ماشوم ۱۹۹۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ثور پر ۱۶مه مجددي خپله ۳۶ کسيزه کابينه اعلان کړه، خو د ده دا کار د استاد سياف او د استاد رباني له خوا ناقانونه او له صلاحيته لوړ وښودل شو، مجددي په خپل غبرګون کې وويل: څرنګه چې حکمتيار د شريعت پر خلاف جګړې ته دوام ورکړي، نو صدارت به په خوب کې هم رانه ونه وينې، حکمتيار وويل: دښمني يې يوازې له ملېشو او د رژيم له بقاياوو سره ده، دی به دا څواکونه وښنيي، خو په قدرت کې به يې شريک نه کړي.

د شپې د ۸ بجو خبرونه له يوې مخې د مجددي، ملاقاتونو نيولي، باختر اژانس د دې ارتيا نه ليده چې په خبرونو پسې د دنيا په يوه او بل کونج کې سترګې وتومبي او يا هم په بله حادثه او پېښه پسې څار و اوسي، د خبرونو تول وخت د همدغو يکنواخته ملاقاتو تکراري جملو او عبارتونو نيوه، داسې معلومېده، لکه نه په دې پراخه نړۍ کې څه پېښېه شوې او نه هم په دغه درنو وسلو نيولي او د اور او باروتو بټی پروت افغانستان کې څه بله خبره شته او که خبر وي، نو د مجددي، د ملاقاتونو خبرونه دې وي، نورې پېښې کله په دې ارزي، چې په راديو تلوېزيون کې دې پرې نطاق خوله چوله کړي.

يوه خبريال په ارګ کې ماته وويل: مور يې نن سهار په اته نيمو بجو راغونښتي يو، چې د دولت رئيس ملاقات لري، خو دا دی مازيګر شپږ بجې شوې او مور د ارګ تر دغه لعنتي وني لاندې په انتظار ولاړ يو.

حضرت صاحب چې کابينه اعلان کړه، نور وزيران د وزارتونو د کفيلانو په نامه ياد شول، خو مسعود د پاخه او دايمي وزير په توګه اعلان شو.

په حقيقت کې خبره داسې وه، چې کله شمال ايتلاف د مسعود په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشرۍ چاریکار ته ورسېد، نو د پښتور له لیډرانو یې غوښتنه کوله، چې ژر تر ژره د احمد شاه مسعود له وزارت دفاع او رباني له جمهوري ریاست پرته نور حکومت او ا اداره خپلو کې تقسیم کړي.

د مجددي په دې اقدام که څه هم له ده سره راغلي نور وزیران خوابدي شول، خو بیا هم د کابینې رسمي غړي او د وزارتونو د سرو سپینو مالکان وو، ځکه خو یې د څرګند مخالفت زړه ونه شوی کړی.

وزیران مخکې له دې چې د مطبوعاتو له لارې یې د تاکنې خبر خپور شي، په وزارتونو ورمنده او په تشکیل او تعیناتو کې یې ریاستونه او نورو پوستونه پر خپلوانو، اندیوالانو او تنظیمي ملګرو په خلاص مت او سخاوت وېشلي وو.

د یوه وزیر په هکله مشهوره ده، کله چې د وزارت منسوبین د ده مبارکۍ ته ورغلل، یوې مامورې د خپلو خبرو په پیل کې وویل: (می بخشی که نتوانستم دسته‌گلی را در گردن مبارک تان اویزان نمائیم.)

وزیر صاحب چې له خوشحالۍ یې خوله نه سره ورتله، وویل: (...شما خودتان گل استید...)

یوه بل وزیر چې لا تر دې هم وارخطا و، د خپل وزارت مامورینې خپلې کوټې ته وغوښتې، وروسته له دې چې د هرې یوې د ځُسن او جمال جاج یې واخیست، هغوی ته چې د ګوتو نوکان یې اوږده وو، وویل: (شما با این ناخنهای دراز در وقت استنجا اذیت نمیشن...؟) دی چې د چا خبره ماندني والا نه وه، پر سبا یې څو توپه توکر "رخت" وزارت ته خریداري او په خپلو مبارکو لاسونو هرې یوې ته ټیکرۍ پر سر او پر اوږو ور برابر کړ.

مجددي پرېږده چې په ارګ کې د خپلې پاچاهۍ د دوام خوبونه وینې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او کابینه يې د خپلو خپلوانو د تقرر پر تشکیلاتو او تعیناتو بوخته وي، خوَ په واقعیت کې وضعه داسې ده، لکه مرکزي حکومت نه وي، د دستور اخیستلو هېڅ مرجع نه ده معلومه، پوځي قوتونه متلاشي شوي، اردو د دې پر ځای چې تصفیه، منظم او په یوه ملي اردو بدله شي، بېخي رنګه شوې، او د هغې د نظم او دسپلین ځای یو ډول هرج او مرج نیولی، یوازې خاد، د دوستم، جنرال مومن، بابه جان او کیان قوتونه او ملېشې په خپل ټول وحشت او طاقت په ځای پاتې دي، هغه ملېشې چې له هېڅ ډول عسکري قانون او دسپلین سره يې اشنایي نه درلوده.

د پاکستان صدر اعظم نواز شریف د ټور پر لسمه کابل ته څو ساعته سفر وکړ، د هغه د سپرلی الوتکه په ډېره سختی په هوایي ډګر کوزه شوه، هر کلی له هر ډول دیپلوماتیکي نورمونو پرته حیرانوونکې بڼه لرله، نواز شریف ته د اوبو ګیلاس هم له خپلې الوتکې راوړی شو، دوه قابه چاکلېټ يې مخې ته کېښودل، نواز شریف ښاغلي مجددي ته د ۱۰ ملیونه ډالرو چیک ورکړ، مجددي د پخوا په څېر د خپلې چپنې په جېب کې خوندي کړ او دعوه يې لرله، چې دا له ده سره شخصي مرسته ده.

د بېرته تلو پر وخت، څو توغندي الوتکې ته نژدې ولګېدل.

د پاکستان لوی درستیز د یوه مرکزي وزیر په وارخطایي، هغه ته وویل: په داسې کارو کې دا شیان راځي...

جنرال حمیدګل د ځانګړي او خاص الخاص مېلمه په توګه کابل کې دېره لګولې... راغلی ښاغلی ترې ګرد چاپېر تاویږي... سوغاتونه نذرانې ورته وراندې کوي... ډالیو کې د وزیر محمد اکبرخان د تومانچې خبره هم کېږي... د ټور پر یوولسمه جنرال حمیدګل بابر بن کې د نظار شورا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټانکونو او تشریفاتي ټولي په بدرګه په انګلیسي وینا وکړه، چې جنرال ساپي فارسي ژباړله... ډاکټر عبدالله يې د ځانګړي مېلمه پال په توګه مخ او څټ ته ځغستل.

جنرال حمید ګل خپله وینا د مجاهدینو اوجهاد په ستاینو پیل او افغانستان د اسلامي امت د اتصال کړی یاد کړ، د اسلامستان نوم په ورکولو يې د نړیوال جهاد پلازمېنه وګانه...

کابل کې د حمیدګل څه کار و...؟

په کوم عنوان يې له کوم دریځه وینا کوله د وینا لپاره يې بابر بن ځرنګه خونښ کړ...؟

د هند له نیمې وچې د پیرنګي په وتلو افغانستان کې د برتانوي هند پر ملکیتونو دریو هېوادو، افغانستان، هند او پاکستان دعوا لرله... کابل ته د مجاهدینو په ننوتو حضرت مجددي او برهان الدین ربانې د دغو ملکیتونو قواله د خپلې خوښ خدمتی له مخې د پاکستان سفیر ته تقدیم کړه... ((خاک فروخنده چه ارزان فروختند))

مجددي یوازې د ترفیعاتو په لړۍ منګولې نښې کړې، د هر مانښام خبرونه چې مخکې ملاقاتونو نیول، اوس يې نیمه برخه د ترفیعاتو اعلانولو ته وقف شوی، د جنرالانو او ستر جنرالانو شمېر دومره زیات شوی، چې په هیڅ هېواد کې يې سابقه نه شي پیدا کېدی.

داسې وګڼه، چې ټول جنرالان شول، هر قوماندان سرګروپ ته چې ترفیع ورکول کېده، د جنرالۍ په حساب ورکول کېده.

مجددي که هر څو د قانوني جمهور رئیس د څېرې او اکټ کونښې کاوه، خو په عمل کې ترې خبره ورځ تر بلې د کاواکۍ او بېواکۍ لورې ته کشکول کېده، واک عملاً د دوستم، مسعود او پرچم له ائتلاف سره و.



◉ تفاوت صلاحیتها وتفاوت قدرت، در حکومت انتلاقی (کارتون از فریتزپوست)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو تخت څو پادشاهان

استاد رباني ناکرار تلولی او اندېښمن و، هسې نه پر ارګ مجددي خپله واچوي او د پېښور عبوري حکومت غوندې دلته هم خپره تر دوو کلونو اوږده شي، هره شپه يې د ارګ او تخت له خیالونو او سوچونو سره په ویښه تېروله، څکه خو يې د پرېکړې پر خلاف کابل ته مخه کړه او له ځان سره يې د قیادي شورا په نامه محمدي او استاد سیاف هم ملګری کړل.

قافلې د ټور پر ۱۳مه د څمکنیو له یتیم خانې، چې لوزنامه په کې لاسلیک شوې وه، د کابل پر لور حرکت وکړ، سروبي کې پرې زرداد روند کون شو، که نه نو سابه، به يې ور په مالګې کړي و، سړک کند و کپر او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مزل ستری و، خو د منزل تندې او تلوسې ستوماني نه شوی پېژندلای، ترهغې چې د شپې په ۸ بجو يې د اقتدار په غېږ کې د زړه درزا په کرار شوه، مجددي ته د استاد رباني د کابل تګ خوند ورنه کړ، دايې د خپل اقتدار ليارې ګوابس وګانه او په نويو حرکتونو، اعتراضونو او شکايتونو يې لاس پورې کړ.

د استاد رباني لومړی فرمان د خپل پوځي سلاکار په توګه د جنرال حميد ګل د تاکنې لاسليکول وو، جنرال دغه فرمان پخپل داينېنګ روم کې په طلايي چوکات کې ځړولی.

استاد رباني کابل کې خپله لومړنی وينا کې وويل:... همه جا را مايويست فرا گرفته بود... مذاکرات در جريان بود که جلو حکومت اسلامی مجاهدين را بگيرد... همه متوجه و چشم به راه بنين سيوان بود... تا اين که روزنه اميدی پديدار گشت و به اتکا آمر صاحب وضعيت طور انکشاف نمود که حکومت اسلامی مجاهدين به ميان آمد...

مجددي ته يې زامنو، ورونو او خوريونو مشوره ورکړه، چې د ځان په پلوی د يوه قوت پيدا کولو اقدام وکړي، ځکه چې ده نه کوم جهادي ځواک درلود او نه کوم ولسي بنست، تر ټولو ستر قوت يې دوستم ځواکونه ليدل، چې خپل مت پرې مضبوط کړي، ځکه خو يې مزار ته عاجل سفر وکړ او دوستم ته يې د ستر جنرالی ترفيع او د اسلام فاتح (ستر مجاهد) او خالد بن وليد خطاب وکړ.

مجددي په دغه سفر کې مولوي نصر الله منصور او مولوي ارسلان رحماني هم ملګري کړي وو، دوی دوارو په مينه او حرارت دوستم ته غېږ ورکړه او د هغه لاسونه يې په خپلو لاسونو کې تينګ کړل، مجددي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوستم او حزب وحدت ته په قيادي شورا، جهادي شوراګانو کې په سهميه قايل شو.

حضرت صاحب خپله وينا کې وويل: ... ما بايد دګر جنرال عبدالرشيد خان دوستم را دګر جنرال عبدالرشيم دوستم نګويم، ستر جنرال عبدالرشيد خان دوستم بګويم...

مولوی منصور چې د پاکستان دهوالونه په بې وزنه او بې معنا شعارونو ککړ او د دهوالونو د پادشاه لقب ګټلی و، په ټولو کرښې ايستلې وې.

د ده د سلګونو شعارونو يوځو اوس هم زما په حافظه کې دي:

((موږ له کمونستانو، ظاهر شاه او غربيانو سره مخلوط حکومت په کلکه غندو او ردوو، بېطرفه حکومت د اسلام پر ضد د شرق او غرب دسيسه ده.

د باطلو د سر پېچ تي تي ايچ)) خو اوس يې دوستم ته د اسلام فاتح او قهرمان لقب ورکولو کې د يوې پرتمينې غوندې د شرکت ويار په برخه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

د حقاني په مشرۍ د سولې هڅې

جګړو کابل د وحشت لمبو کې نغښتی، د توطئو او لوت تالان بازار ګرم دی، د عفتونو لیلام لګېدلې، جهاد د واک او اقتدار په خونړي فساد اوښتی.

دغه جګړې څرنګه پیل شوې، چا پیل کړې، د چا له لاسه، د چا په اشاره...؟ لسګونه پوښتنې، یو ځواب...؟

مولوي جلال الدین حقاني چې د سولې په هلو ځلو بوخت دی، د دغو پوښتنو ځواب کې خبریالانو ته وایي:

... د احمد شاه مسعود او حکمتیار ترمینځ جګړو پر هېواد له سره د ویر تغر خپور کړ، د رژیم ځینو ارخونو له وراندې له تنظیمونو سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلاً بېلو تمايلاتو له مخې ارتباطات ټينګ کړي و، د تني کودتا دا لار پرانيسته، ځينو له احمد شاه مسعود سره دا خبره شريکه کړه، چې حکومت د بل چا لاس ته لوېږي، مونږ غواړو هغه تاته وسپارو، له ده سره يې ژنده او ګوده معاهده هم وکړه...

پرچمي، کمونستانو، د کارمل طرفدارو يا په بله خبره فارسي وانو مسعود ته داسې ښکاره کړه، چې مونږ به قدرت تا ته وسپارو...

د خلق ډلې حکمتيار ته دا خبره ورسوله...

مونږ وويل پر ښارونو حملې مه کوئ، له کابله مونږ ته هم پيغامونه راتلل، مونږ رهبرانو ته وويل: مه سازش کوئ، مه جګړه، د واحدې اداري او شورا غم وکړئ.

له مسعود سره مې هم تماس ونيو، دی پروان کې و، چې نوی ورته کمونستو افسرانو تسليم کړی و، ده په خوله له ما سره ومنله، په حکمتيار پسې وګرځېدم، پيدا مې نه کړ، مسعود ته مې وويل، مخابره کې خپله له حکمتيار سره خبرې وکړي، د يوه ساعت مخابروي تماس کې حکمتيار قناعت ونه کړ، پر سبا يې عبدالوکيل پروان ته ولاړ، جنرال رفيع لوګر کې له حکمتيار سره وکتل.

وطنجار څه مکتوبونه پکتيا ته رالېږلي وو، منصور صاحب دا خبره مونږ ته وکړه، مکتوبونو کې ليکل شوي وو، کوم لوی پوستونه چې له دوی سره دي، تاسې بې وسلې مجاهدين کابل ته راولېږئ، مونږ به وسله ورکړو، خو ما ونه منله، چې دا خپله ګډ ودی او جګړو ته مخه ورکوي...

حکمتيار صاحب له مخکې د کابل نيولو تياري لرله، وراندې تر دې چې د حضرت صاحب په مشرۍ پېښور کې جوړه شوې ناقصه اداره کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته داخل شي، جګړه پيل شوه، دېره بېرحمانه جګړه پر خلکو وټپل شوه.

موږ د پکتيا، پکتيکا، وردګو، لوګر، غزني عالمان، قومي مخور او قوماندانان چې شمېر يې پنځوس تنو ته رسېده راغوند او پر مسعود او حکمتيار د اوربند لپاره فشار راوور. له موږ سره د مشرقي، کندهار او شمالي قوماندانان هم ملګري شول، له دوارو خواوو مو اختيار واخيست.

دغسې مو له جهادي او قيادي شوراکانو هم واک واخيست، مجددي صاحب راته وليکل، د سولې هيئت هره فيصله به من و عن مني، مسعود او حکمتيار خپل شرطونه وراندې کړل، خو وروسته يې توی وړی واک راکړ، موږ له ۳۰۰ تنو علماوو، مخورو او قوماندانانو، ۳۶ تنه يوه پلاوي کې راتول کړل، چې د سولې مسوده تياره کړي، مسوده مو مسعود ته واستوله، ده قبوله کړه، د حکمتيار موافقه مو هم ترلاسه کړه.

زړه مو و، مطبوعاتي کنفرانس کې دغه مسوده اعلان کړو. دلته د مسعود پيغام راورسېد، چې مسوده مه اعلانوئ، خو موږ خبريالان راغونښتي وو، له ده مو پوښتنه وکړه، چې ددې خبرې منشاء راته وښيي، مسعود وويل، د ملېشې پر تکي ملګري خوابدوي، دا مو دده په خونښه د جګړې پر ارخونو وارول، بيا هم ده، دغه مسوده له کابل راديو او اخبار اعلان نه کړه...

مسعود ته مو هيئت ولېږه، ده ومنله، چې د ملېشو ۸۰ مه فرقه، ۵۳ مه فرقه او اويايمه لوا به بې وسلې شي، نور پوځي قطعات به پر خپل ځای وي، خو دا دده د خولې توافق و، د زړه نه و، ځکه چې د جنرال حميد ګل، اعجاز الحق او يوه عرب پر مينځګړيتوب مسعود او

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکمتیار بکرامیو کې کښاستل او زمور له طرحې او خپلو وعدو یې غاړه وغروله.

ما له دغو درې تنو وغوښتل، چې تاسې د افغانانو په مزاج او عنعناتو نه پوهیږئ، دا کار تاسې نه شئ کولای، زمور پربکړه مه بې ارزښته کوئ، ددوی د فیصلې څینې تکي زمور د فیصلې پر ضد وو، دلته ده چې له دې دوارو فیصلو یوه هم تطبیق نه شوه.

مور بیا له دوی سره ارتباط ونیو، چې د خبرو لپاره خپل استازي رامعرفي کړي، حکمتیار دا کار وکړ، مسعود په څنډ خپل استازي راوپیژندل، خو دوی عمل نه کاوه، دې کې د حزب وحدت او اتحاد اسلامي ترمینځ جکړه پیښه شوه، ما د دوی ترمینځ د اوربند او سولې هڅې پیل کړې، اوربند خو یو دوی درې ورځې تینګ شو، خو سوله رامینځته نه شوه، چې له پولتخنیک سره پر ما برید وشو، ما د دوارو غارو مشران د خبرو لپاره راغوښتي او دوی راسره منلي وه، خو یوه غاړه هم په خپله وعده ونه دریده.

اوس چې کوم کمیسیون جور شوی، دا یو ناکام کمیسیون دی، چې د خپلو فیصلو د تطبیق له واک بې برخې دی، دا کمیسیون باید وسیع شي، د تنظیم پرځای ولایتونه پام کې ونیول شي، له هر ولایته دوه ستر قوماندانان، یو قومي مشر، یو عالم چې تعداد یې ۱۲۰ - ۱۳۰ تنو ته رسیږي، یوه شورا جوړه شي، دا یوه باصلاحیته شورا ومنل شي، بیا یو داسې فارمول رامینځته کړی شي، چې له ولسوالیو دوه تنه او له علاقداریو یوه تن راجمع کړی شي، دغه اشخاص به علماء، مخور او قوماندانان وي، یا دا چې د کمیسیون ۱۲۰ تنه د خپلو ولایتونو د شوراکانو د نفوسو په حساب نفر کابل یا د کابل شاوخوا راولیږي، له

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې څخه دی ۲۰۰ تنه ته غوره شي، چې پارلمان ته ورته بنه به ولري، د دغه کمېسون تر مراقبت لاندې آزاد انتخابات وشي، د دولت رییس دې وټاکل شي، د پارلمان دوره دې د دولت رییس له دوړې سره برابر وي.))

ددغې پوښتنې په ځواب کې چې د حل او عقد، لویې جرګې او اهل الـرى په اړه تاوده بحثونه کېږي، تاسې څه نظر لرئ، مولوي حقاني وویل:

دا توله یوه خبره ده، په دې شرط چې د تنظیمونو رعایت په کې نه وې شوی بلکې اهلیت پام کې نیول شوی وي، داسې اشخاص په کې راشي، چې مسلمان وي، جهاد کې یې برخه لرلې وي، په تولو قومونو ولایتونو پورې اړه ولري.

د خبرو او عمل توپیر:

حقاني صاحب د حکمتیار او احمد شاه مسعود ترمینځ د جګړې په مخنیوي کې د سولې کمېسیون لخوا دیو پرېکړه لیک په وړاندې کولو خپل زغروال ځواکونه او مجاهدین د دوارو غارو ترمینځ ځای پرځای کړل، په پرېکړه لیک کې راغلي: ختم و قطع جنګ بهر معنا و مفهومیکه باشد...

بعد از صدور اعلان فیصله در ظرف مدت یک هفته تمام قوت های متقابل و متخاصم از شهر کابل و کمربند اطراف شهر کابل خارج گردد.

تامین امنیت کمربند امنیتي شهر کابل و داخل شهر کابل در وقت عقب کشیدن قوت های درگیر، تحت قیادت شورای صلح

(c) ketabton.com: The Digital Library

توسط قوماندانان کابل و حسب ضرورت یک تعداد مجاهدین متفق علیه صورت گیرد و بعداً به قطعات منظم وزارت دفاع و داخله تسلیم شود.

تمام سلاح ثقیله و وسایط حربی اردو مربوط بیت المال بوده، از کمربند امنیتي کابل خارج شده نمیتواند.

لور پرېکړه لیک د ۱۳۷۱ لمریز د ثور پر ۲۷مه چهلستون بن کې اعلان کړی شو، حقاني صاحب له حکمتیار او مسعود لیکلی داډ ترلاسه کړی و، چې د دوی له خوا شوې پرېکړې ته ژمن اوسي، د سولې پرېکړه د ۲۵۰ قوماندانانو، قومي مخورو، علماوو له خوا تصویب او لاسلیک شوه، د ثور پر ۲۶مه د پرېکړ لیک له اعلان ٔیوه ورځ وړاندې حقاني صاحب له حکمتیار و مسعود سره رابطه وکړه او یوځل بیا یې د سولې د پرېکړې په اړه د دوی ژمنتیا ترلاسه کړه.

حقاني صاحب پنځوس زغروال ټانکونه او سلګونه مجاهدین د حزب او نظار شورا جنګیالیو ترمینځ ځای پرځای کړل، مسعود ژمنه کړې وه چې د دغو افرادو اعاشه او د تېلو لګښت به دولت برابروي، خو دوې ورځې وروسته یې له دې ژمنې غاړه وغړوله.

پر دې سربېره مسعود د سولې پرېکړې ته هم ژمن پاتې نه شو او د جنرال حمید ګل، اعجاز الحق او سعودی شهزاده ترکی الفیصل په مینځګریتوب یو بل ترون ته په بتخاک کې کښاستل.

ددغې ناستې یوه برخه وال ماته وویل: احمد شاه مسعود حکمتیار ته په طنز وویل، حقاني ام کتی چند تانک غورازه خود آمده که صلح میکنم...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حکمتیار او مسعود تر منځ د اعجاز الحق او ترکي الفیصل په منځګړتوب د بګرامیو ترون

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومرنی سفر، لومرنی ګوزار:

مجددي د جوزا پر ۵مه په دوه ورځني رسمي سفر اسلام اباد ته ولار، د اسلام اباد هوايي دګر کې د پروتوکول له مخې غلام اسحق خان او نواز شریف دده هر کلي ته ولار وو، د سپرلی الوتکه د اسلام آباد پر هوايي دګر کیناسته، مجددي چې له الوتکې راکوزېده، نو دده بادیګارد تورن جنرال (جګرن) خان محمد لکه سیوری ورپسې جوخت روان و، کله چې ده د غلام اسحق خان په ملتیا د تشریفاتو ګارد سلامي اخیستله، نو بادیګارد جنرال هم د مجددي او غلام اسحق به پله ګام اخیست. پاکستاني مقامات چې ځینو یې برېتونو کې خندل، دې لوبې ته حیران ولار وو، خو کابل کې د پاکستان شاړدافیر نباغلي فدا یونس له افغانانو سره د اوږدې سابقې له مخې نه غوښتل، دا شرم د کمره مین له خوا ثبت شي، خکه خو یې هغه تر مت په نیوو ایسته کش کړ، له دې سره هغه لکه په هماغه ځای میخ شوی وي، بې حرکته ولار پاتې شو.

د جوزا پر ۸مه د مجددي د سپرلی الوتکه له پاکستان څخه په بېرته ستنېدو د کابل پر هوايي دکر په توغندي وویشتل شوه، خو پیلوت وتوانېد الوتکه روغه کوزه کړي، د توغندي په لګېدو د الوتکې د مخ برخه زیانمنه او د پیلوت مرستیال برسیرن زخمي شو، خبریالانو څرګنده کړه، چې مجددي په هوايي دګر کې تلولی او الوتې بنه څخاستل، ده لومړی د الوتکې ویشتو تور پر حکمتیار ولګاوه، خو وروسته چې له مسعود سره یې د قدرت سیالي اوج ته ورسېده، وېل یې: دا کار دده دوستانو او د لستوني مارانو کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجددي د پلويانو پيدا کولو په تمه د مامورينو معاشونه دوه چنده کړل، خو د وزارتونو بودجې يې کمې کړې، په دې توګه يې تولې اداړې له يوه سخت بحران سره مخامخ کړې.

ده د پخواني باچا د ملاتړ تر لاسه کولو لپاره خپل زوی روم ته وليږه خو باچا دده، د ننګې خبره ونشوی منلي.

دلته وه، چې مجددي نه پر تنظيمي دلو او وسله والو خپل مټ غښتلی کړي شوی او نه يې له هېواده بهر د افغان شخصيتونو او سياستوالو ملاتړ خپل کړي شو...

هغه وه چې د ارګ دريو کوټو کې له دوه مياشتني مساپرۍ وروسته يې له ارګ سره مخه ښه کړه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲)

په جنتي وطن کې دوزخي لمبې

د اژانسونو او رسنيو خبرونه تاوده دي، اخبارونو خپل غټ سرليکونه او لومړي مخونه همدې تبصرو او خبرو ته خانګړي کړي، په کابل کې د مجاهدينو حکومت دی، د دغه حکومت له مشر تر وزيرانو د ټولو څېرې په لندو او اوږدو ږيرو او مناسب لباس بڼکلي دي، مجددي ته د دولت د ممثل په توګه ظاهراً د قدرت واګې سپارل شوې وې، احمد شاه مسعود د دفاع وزير په توګه د قدرت پر اصلي مرکز منګول لګولې.

د اميدونو او هيلو غوټې غوړېدلې له څېرو د خوښۍ وړانګې په ځلېدو دې.

د پاکستان مسلم ورځپاڼې د ثور د ۹مې ګڼه کې ليکلي: هغه مسلمانان چې په الجزاير کې د (اور کلا) صحرايي بڼار ګوټي کې له جدي مرګ سره مخامخ دي، د مجاهدينو له خوا د کابل د فتحې په خبر خوښي او الله اکبر ناړې پورته کړې.

سوډان چې د نړۍ له ډېرو خوارو هېوادو څخه دی، شپږ الوتکې غذايي مواد د لومړنۍ او بېړنۍ مرستې په توګه کابل ته ولېږل.

د مهاجرو کاروانونه دي، چې يو په بل پسې روانېږي، د وطن د مينې او مجاهدينو حکومت په خوښيو کې يې نه د ملګرو ملتو پروګرام ته انتظار کولی شو، نه په هېواد کې د ماينونو خطر او وېرې د دوی د تلو مخه او دتلوسو لوری بندولی شوی.

په يو دوو اونيو کې د پېښور شاوخوا پنډغالي خالي او کرايي کورونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تش شول، د مهاجرو په کډو بار د لاریو اوږده کتارونه د تورخم، پاړه چنار، وانه او میرانشاه له لارې هېواد ته روان دي، په دغو لاریو کې د کور سامان ان د کمپونو د خټینو جونګړو لرګي، کړکۍ او دروازې بار دي، د لاری دپاسه د تور سرو او ماشومانو له زمولېدلو څېرو د امیدونو پلوشې او له سترګو د خوښۍ سپرمغي بادیږي، لکه د هیلو په خزان څپلو څانګو یې د وطن د مینې پسرلني بارانونه په اوږدو وي، له یو عالم هیلو او له یو جهان امیدونو سره یې د پردیسۍ له وطنه، د هجرت له خاورې او ګرمۍ له دوزخه د خوارۍ وطن په جنتي فضا کې د ژوند او مساپرۍ د درنو غمو د شاته کولو په تلوسه ټولې ناخوالې او دردونه د ماضي د یادونو د سیند په څپو لاهو کړي، له دې ناخبره چې د اقتدار شرمېدلي سازشونه او د قربانیو او قهرمانیو په سر د سیاسي سوداګرو تجارت به د دوی د ژوند وروستي امیدونه او د وینو په قیمت ګټلی عزت او عظمت د خپلو هوسونو پښو کې په ډېره ناڅوانۍ او بېرحمۍ قرباني کوي، بېرته به د دربدرۍ او کډوالۍ دور پیلېږي او د دغه قهرمان او مجاهد ولس قرباني به د سیاسي سوداګرۍ په تور بازار کې لیلام ته وړاندې کېږي.

د شهیدانو په وینو او د ملت او جهاد پر عظمت داسې سودا بازي او سازشونه چې د وطن او جهاد په تاریخ او لوړ حیثیت له یوې مخ اور پورې کړي.

د خونښیو په دغو شېبو کې موږ له دریو اندیوالانو احمد ضیا (ذهین بابري) احمد سینا او پیر نورعلي شاه سره د ازادۍ په خوشالۍ کې د کابل د سفر تیاري ونیوله.

زموږ سفر رسمي بڼه لرله، په دې معنا چې حقاني صاحب د سولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمېسیون په مشرتابه د اوربند د معاهدې د تسوید او جګړې په بېخي ختمېدو د دواړو متخاصمو ډلو توافق ترلاسه کړی، له کابل ظاهراً د جګړې ګوابنس او د ګولیو ږدلې خپل وېروونکی او تور څادر ټول کړی، موږ هم د هیلو او امیدونو له یوه څپاند بهیر سره د کابل په لور د تورخم پر لار حرکت وکړ، ما د خپل کتابتون او څوارلس کلن مهاجرت په موده کې د راغوند کړیو اثارو او اسنادو یوه برخه راسره لیږدوله، پردې سربېره دوې کامرې، یو ټیپ، یوه وړه رادیو زموږ د سفر په زاد، راحله او وسایلو کې شاملې وې.

له همدغې متاع سره موږ د تورخم په لار آزاد کابل ته وخوځېدو، د دغو ټولو خوشباوریو او خوشالیو تر څنګ د حالاتو په اړه یوې نامعلومه وېرې زموږ په زړو کې ځای نیولی، کابل ته له روانېدو څو ورځې مخکې مې لاهور کې د جمعیت اسلامي مطبوعاتي انجمن رئیس ښاغلی فاضل سره چې د مسعود، رباني د لویو وړو تصویرونو پر چاپ یې د شرکت مطبعه بوخته ساتله لیدلی وو.

دی په مزه مزه د کابل په کیسو لګیا و، داچې قانع د انیس، شمس د هېواد، ملکزاد د تلوېزیون، اندیشمند د رادیو او سید حبیب شاه د باختر اژانس رئیسان مقرر شوي، فلانی د دې شي او فلانی د هغه شي رئیس او امر ټاکل شوي، اخبار داسې چاپېږي، مطبعه دومره خرابه شوې او داسې نور...

ده وویل ستا لپاره مو هم یو ښه کار په نظر کې دی، ورونو کوښښ کاوه پیدا دې کړي، خو ستا درک نه و او داسې نورې خبرې...

ماوې د کومو شعارونو لپاره چې دومره وینې تویې شوې، اوس مو سترګې ورته ټیټې نه دي؟ له دې په غوره دریځ او د ملت په ګټه او خیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

رامینځته شوی جوړ جاړی په مخ ارولو مو د جهاد په نامه جګړه وغځوله او له یوه ټولمنلي اواري په ګرځېدو مو دغسې یوه شرم او سیاسي قمار ته زړه ښه کړ...؟

فاضل له خپل ټول معقولیت او زغم سره دا وخت دغسې نیوکې معقولې نشو ګڼلی، اخر اقتدار او واکمني سړي دومره نشي بدلولی؟

ما ورته کړه غوارم د خپلو اسنادو او کتابونو یوه برخه راسره ولیږدوم بیا به ګورو چې څه کیږي.

بشارت صاحب هم لاهور کې حریت مجله چاپوله، فاضل صاحب سره له لندن خپرېدونکی عربي "المجله" وه، چې د کورنیو چارو پر وزارت یې د ګلم جم ملېشو د برید تصویري رپوټ خپور کړی و، تصویرونو داسې صحنه ښودله، چې د کورنیو چارو وزارت یو منصبدار، یوه تصویر کې ملېشو نیولی، بل کې یې لاس پرې ټرلی، درېیم کې یې کلاشینکوف ورته نیولی او څلورم کې یې له پښو غورځولی.

فاضل وویل: چې سړی له دې تصویرو یو پوستر چاپ کړي، ورته وکاږي، اینست انجام مخالفت با دولت اسلامی...

ښاغلی فاضل سره مې د مدرسې اندیوالي ده د هجرت او پردېسی په وخت کې مو زیاتره یوه دفتر کې فرهنګي چارو ته اوږه ورکړې.

په دې توګه زما او د ده پېژندګلوي، د معصومیت له وختونو غځېدلی، مانا له مهاجرت او تنظیمي اړیکو سره پېیلې نه ده...

پېښور ته په رسېدو لومړی د جمعیت مرکزي او بیا فرهنګي دفتر ته ولاړم، مرکزي دفتر کې څېړې ببرې او پاړېدلې وې، یوه جمعیتي وسله والو ته زموږ د موټر د ایستو اشاره وکړه... پیر صاحب راته کړه ددې خلکو د واک او نشه سرته ختلې څه چې پښې باسو... مانبام د فاضل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور ته ورغلو، په یوه ګرم فانتا یې ونازولو، ما کابل ته د تلو خبره وکړه، ده په ډېر اطمینان وویل، هیڅ خبره نه شته، په دادې زړه روان شئ، ستاسې په مخه کې د شورای نظار کسان او خپل خلک دي چې ځان ورمعرفي کړئ، بیا خو به مو په سر سترګو خدمت وکړي، په روانېدو کې ما ورته په ټوکه کې وویل، هسې نه احوال ورکړي، چې درغلل، پرې یې نږدئ.

ده له خپلې همېشنۍ موسکا په لږ بدل انداز وخندل او زما خبره یې راسره تکرار کړه.

***

موږ د ټور پر ۲۷ مه غرمه له پېښوره حرکت وکړ، پاکستاني پولیسو ملېشو او چیک پوستونو زموږ موټر ونه درواوه، هرځای به چې ملېشې او پولیسو زموږ د موټر پلټ ته چې پریس پرې لیکل شوي کتل د تلو اشاره کوله، پر کرښه هم نه چا له موږ پوښتنه وکړه او نه مو د توقف اشاره ولیده.

له جمرود وړاندې د حاجي ایوب اپریدي کلا د یوې بلې دنیا ننداره وړاندې کوله، چې ډېرې کلاګانې که هرڅو برجورې او دېوالونه یې له مورچو ډک وو، خو دا ټولې ختینې وې، د حاجي ایوب هغه په داسې بڼه رغېدلې، چې د یو واړه ښارګوټي یا پخوانیو افسانوي کلاګانو یاد یې د سړي مخې ته ایښود، لکه د محبوبا کلا، لکه پخوانیو نکلونو او کیسو کې د دیوانو پېریانو کلاګانې...

دغې کلا زموږ د ډېرې جهادي لویانو زړونه وړي، پر دغه نقشه او بڼه یې د خپلو مانیو او محلونو د رغولو هوسونه زړو کې پالل....

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر کرښه چې اوښتو، احمد ضیا وویل دلته ودریږئ، چې موظف مامور د موټر نمبر نوټ کوي، خو چې زمونږ موټر لږ ورو شو، موظف پولیس د تلو اشاره وکړه، ما خپلو اندیوالانو ته په ټوکه کې وویل: دا پولیس سړي ته ګوري.

له کرښې په اوښتو مو خپله تنده په سړو شړومبو ماته کړه، له لږ تم کېدو وروسته مو حرکت وکړ.

د خـــیبر دره خو لار د تلو راتلو ده

په کابل او پېښور کې افغان یو دی

د خیبر تاریخي لار مو د هیلو او خوشالیو د ناپایه سمندر په څپو کې تر شا پریښوه، د خیبر درې مارپېچ سړک د کډوالو د بېرته ستنېدو کاروانو نیولی، په سامانو بار د تور سرو، بوډاګانو او ماشومانو ډکې لارۍ یو بله پسې په یوه لیکه روانې دي، لکه د اوښانو اوږدو کتارو نه شلېدونکی بهیر، داسې چې هره لارې د ځنځیر یوې کړۍ ته ورته ده.

په دغو لاریو کې داسې ماشومان هم وو، چې د هجرت په سوځنده کمپو کې زېږېدلي او خپل وطن یې په سترګو نه دی لیدلی، داسې ځوانان هم چې د ځوانۍ پسرلي پرې پردېسۍ کې راغلي او د خپل شباب په خوند نه دي پوه شوي، داسې بوډاګان هم چې یوازینۍ هیله یې خپل وطن کې له ژوند سره خدای پاماني او خپله خاوره کې ښخېدل دی.

له کرښې په اوښتو مو نظر دوو لوحو جلب کړ: د افغانستان اسلامي جمهوریت ته ښه راغلاست، لوحې په دري او انګرېزي هم کښل شوې، دلته موټر د کین پر ځای ښی لاس ونیو، له دې سره سړی د ورانیو او بربادیو له یوې اوږدې او نه ختمېدونکي لړۍ سره مخامخ کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد ضيا چې په دغه لار تللی راغلی، ويل يې: دلته لږ ودرېږئ چې دا مجاهدين ببسوره دي، هغه بله ورځ يې هم په يوه موټر ډز کړی و، خو موږ ته يې له واره د تلو اشاره وکړه، انډيوالانو ته مې کړه: ما درته ويل دا خلک سړي ته ګوري...

له کربنې په اوښتو د استاد سياف مربوط شمشاد غونډ دی... د دغه غونډ تاسيسات د غره په غېږ کې رغېدلي... مانا د دغه لوی غره د زړه پر را ايستو يې هوړې يوه جلا دنيا اباده کړې... وايي د مرغه له پيو پرته يې د مرګ او ژوند زهر او خواږه ټول پکې راټول کړي دي...

په ډکه کې د يوولسمې فرقې د ٦٦ غونډ له کنډوالو چې مجاهدينو په ۱۳٦۷ کال د جلال آباد د حملې پر وخت نيولي و، تېر شوو له دې اخوا ځای ځای د مولوي خالص، محاذ ملي، حزب اسلامي او اتحاد مرکزونه او قرارګاوې پرتې دې.

په کمکي خيبر کې د ٦٦ غونډ عمومي قرارګا او سرحدي لوا پرته وه، چې دا هم له دريو کلونو د مجاهدينو په لاس کې وه، او څه په کې پاتې نه دي، له دې مخکې د ګردي غوث مشهور زيارت دی، د يوه پاخه ښوونځي له ويجاړو کنډوالو وړاندې د غني خپلو سيمه ده، چې د مجاهدينو او روسانو د سختو جګړو مرکز و، غازي اباد فارم چې د روسانو په مرسته جوړ شوی او د ځارندوی محافظ غونډ په کې پروت و، په ۱۳٦۷ لمريز کال کې مجاهدينو فتحه کړی، د احمد سينا په وينا د غازي اباد فارم د رژيم د تعرض له امله د دوو ورځو لپاره بېرته ونيول شو، چې مجاهدينو له سره لاندې کړ، د فارمونو سيمه داسې معلومېده، لکه د يوه خزان ځپلي ځنګل وچه تابلو، د ښوونه، زيتون او مالټو وني خو لږ او ډېرې تاندې وې، خو د نويو نيالګيو ايله ډنډر

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلومېدل، د امریکا د USAID په مرسته د سړک جوړولو غټې لوحې لګېدلې:... تجدید ساختمان این شاهرا به کمک مردم ایالات متحده... خو د امریکا په تکې او بیرغ تور رنګ غورځېدلی.... چا ویل د استاد سیاف په امر دا کار شوی چا ویل دعربو.....

ویالې ورانې او کروندې له ډبرو او ځوزانو ډکې دي، مور د ماسپښین لمنځونه همدلته وکړل، له دې ویرانډې سرخ دېوال دی، ملګرو ویل چې د ثور کودتا پیل کې به کمونستانو اسیران دلته تر خاورو لاندې کول، دغه ځای د رژیم قرار ګاه او پر جلال اباد د ۱۳٦۷ کال د حملې وروستی دفاعي کرښه او د ښار امنیتي کمربند تشکیلاوه، دغه سیمه په ښلا ښلو ماینو پوښل شوې.

له دې چې تېر شې د ثمرخېلو سیمه ده، چې د لومړي نمبر قول اردو اړوند د ننګرهار یوولسمې فرقې، جزوتامونه، کندکونه، کورونه او تاسیسات په کې دي... او اوس پرې د مجاهدینو پیرې ولاړې دي، خو پیره داران لکه د لوټ تالان دېوان داسې بریښي، دلته پخوا د توکرانو څه ورې فابریکې هم وې، چې د ثمرخېلي کتان په نامه یو دول توکر یې تولیداوه، چې له ململ لږ پرېږ و، د ثور له کودتا وروسته دغه صنایع په تپه درېدلي او اوس یې ودانۍ هم له مینځه تللې دي، د ثمرخېلو غر د کیهان په نامه مشهور دی، چې د مجاهدینو تعرضي ګروپونو په کې سنګرونه نیولي او رژیم ځواکونه یې تر اور لاندې و.

د زیتون تېلو فابریکه هم دلته ده، چې تولیدات یې روسیې ته صادرېدل، همدې ځای ته ځېرمه پل سراجي کې د رژیم د توپچي اخري خط و چې د سي - ام - سي او بي ام ۱٦ په واسطه یې د مجاهدینو سنګرونه او مرکزونه تر اور لاندې نیول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې کوز هوايي ډګر دی، چې موږ په کې ايله دوې چورلکې وليدی، پر يوه چورلکه کښلي: اين طياره از خود حضرت علی است، هر کس که دعوا کند...

وايي قوماندان حضرت علي دغه چورلکه کې کلی ته د خپلې مانۍ لپاره پخې خښتې، سيمنټ ليږدوي...

ورپسې لومړی نمبر قول اردو دی، چې بېشمېره ويجاړ ټانکونه د ټېلرونو دپاسه پراته او په وسپنو او ورانو شويو وسايطو ډک دی، بيا د ننګرهار عمومي محبس مخې ته راځي او ورپسې سړی ښار ته ننوځي، د مازيګر څلور بجې، ښار ته ورسېدو.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلال آباد جګړه

پر جلال اباد برید د شوروي عسکرو له وتلو دوې اوونۍ وروسته د I.S.I په سلا د مجاهدینو عبوري حکومت لېږد ته د مخې موندلو په موخه پیل شو، دا د مجاهدینو لومړنۍ جبهه یې جګړه وه، د امریکا سفیر پیټرتامسن او بینظیر بوټو په ګډه غونډه کې I.S.I ته د جلال اباد جګړې سپارښتنه وکړه. د پېښور ډینز او ګرین هوټلان له بهرنیو خبریالانو ډک وو- لکه مچان چې په خوږو او ګند راټول وي... پر پېښو پرمختګونو یې خپلو کې شرطونه لګول... افغان ژباړونکو رښتیا درواغ ورته بیادول... جنرال ضیاء الحق ۱۹۸۷ کې له امریکایي کانګریس مین چارلي ویلسن سره جلال آباد د کرسمس سوغات په توګه ژمنه کړې و، خو جنرال ضیاء ۱۹۸۸ کې د الوتکې په پېښه کې مړ شوی و... په لومړیو کې مجاهدینو پرمختګ ګړندی و، خو د جلال اباد په لاندې کولو کې پاتې راغلل، چې له کابله یې د رژیم اکمالاتی لار ونه شوای ترلی.

جنرال حمید ګل د جلال آباد نیول د دریو ورځو خبره بلله... استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیاف د عرب جنګیالیو یو غوند هوري ځای پر ځای کړ... هلته د دوی جلا هدیریه ده...

ISI د ۱۹۸۸ ټاکنو کې د جمهوري اسلامي اتحاد په رامنځته کولو: تم نے ڈھاکه دیا، هم نے کابل لیا «تا ډاکه بایلوده، موږ کابل وګاټه» شعار په راپورته کولو د افغانستان پر ملي پېژندتابه د تیري نخچه وړاندې کړې وه... دغه شعار کې د افغانستان لاندې کولو هغه هوس نغښتی چې ISI له مودو د خپل ذهن او تصور ژورو کې پاللی و...

جګړه اوږده شوه، مولوی حقاني له خوست خپل ځواکونه د جګړې لومړۍ لیکې ته واستول، که څه هم دغو ځواکونو په لنډ وخت کې ښه پرمختګ وکړ، خو د ځایي سیالیو له امله له ستونزو سره مخامخ شول....

رژیم په ربښتیا له جلال اباد مستقلانه دفاع وکړه، د اکمالاتو لار یې د ځینو قوماندانو په پلور او پېر پرانیستی وساتله.

جلال اباد جګړې په ډاګه کړه، چې رژیم د ځانګړې دفاع وړتیا لرلی، او جلال اباد ساتلی شوی دلته ده، چې سړی ویلي شي د ډاکتر نجیب الله رژیم په ربښتیا هم یوې سکتارستي کودتا نسکور کړ.

کابل کې روسي سفیر یولي وارنتسوف په وینا د جلال آباد جنګ کې د لیننګراد جګړو په پرتله څلور برابره پوځي توکي کارېدلي... خونړي جګړه، بریالی دفاع همدې ته وایي.

ماته د کابل یو یاد شخصیت (.....) وویل احمدشاه مسعود د جلال اباد جګړې پر مهال له رژیم سره پټه همکاري غځولې وه. دده په وینا په دې اړه د مسعود او ډاکتر نجیب تر منځ د لیکونو تبادله کې د بډو په ښه او کچه امتیازونو درک لګېدلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده یو جنرال غالباً واحد که وحید یاد کړ، چې په مټ یې د ډاکتر او مسعود تر منځ دغه توافق رامنځته شوی. والله اعلم.

جلال آباد جګړې د کډوالو تر منځ د پاکستان پر نیت د شکونو څپې راپورته او په دې اړه د مطبوعاتو تر کچې نیوکو مخه ومونده. مجاهد ولس د جلال آباد دفاع کې افغان پوځ ته مبارکي ورکړه.

***

د ښار په منځ کې:

د جلال آباد ښار کې امنیت ټینګ دی، بازار او هټیو کې د پخوا په څېر جم او جوش دی، د ترافیکو پولیس په یونیفورم کې ولاړ دي...

د هوایي ډګر، قول اردو، ناحیو او دولتي تاسیساتو درندو وسلو او وسایلو ته زیان نه دی رسېدلی، په ښار کې وسله وال نه لیدل کیږي، که سړي په ورانیو سترګې پټې کړي وای، لکه د ثور کودتا د مخه جلال اباد ته راغلی...

مجاهدینو د پاکستان په مینه او د پنجاب د خونبۍ په موخه پښتونستان څلور لاری نوم پر سید جمال الدین افغان ... اړولی، ما د باچا خان د زیارت وویل، د احمد ضیا سترګې ردې وختې وایي، مور ته کار ګوری که څه کوی...؟

پاچاخان د پښتنو د ملي مبارزې د بري هیله ګورته یووړه، خو هغه ارمان چې په ژوندوني یې ونه شوی رژېدی پر مرګ او خپله جنازه پوره کړ...

د ده د جنازې پر ورځ د ډیورنډ کرغېړنه کرښه ماته وه...

نه خاصه دار، نه ایف سي، نه پاسپورت، نه وېزه، نه مه، نه ودرېږه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه څوک يې، نه چېرته ځې، د عدم تشدد يو بل پيغام دا چې له امله يې د هغه مهال مجاهدينو اووه ګوني اتحاد مشر مولوی خالص پر مجاهدينو د درې ورځني او بند غږ وکړ...

مور د احمد ضيا د کور مخې ته د بابريانو محلې د درېيمې ناحيې اړوند، موټر ودراوه، هغه په بېړه کور ته ننوت چې څو مور د موټر دروازې بندولې بېرته راوتلی او کور ته د تلو خبره په خوله وه، ددغې محلې خلک نه وو مهاجر، د جګړې ټول کړاوونه او ستونزې يې همدلته د ګوانبونو غېږه کې تېرې کړې وې.

احمد ضيا د کور يوه ګوټ کې هغه سمځې ته اشاره وکړه، چې له توغنديو د کور د اوسېدونکو پټنځای و، که څه هم ځينې کورونه په توغنديو لګېدلي، خو محله له اوسېدونکو ډکه او ورانی يې زياتره ترميم کړې وې.

له چای څښلو او لږ دمې وروسته مو د بابريانو کلي لاندې په شنو فصلونو کې يو ساعت چکر ووا‌هه، د (کوه پرچه) په برخه کې د کابل سيند مست او څپاند روان دی، په رنو اوبو کې يې لکه هېنداره د سړي مخ ښکارېده، ځوانان او ماشومان لګيا وو، د ژوند له هر درد او دوک بېغمه يې د سيند مستو څپو ته په غېږ ورکولو تر لېرې لېرې په لامبو ځغستل.

کب نيوونکو ځای ځای جالونه غوړول او هر ځل به يې له لويو وړو کبانو ډک جال راويوست، غټ کبان به يې ترې ټول کړل، واړه به ورپسې ماشومانو ونيول او بېخي واړه به يې بېرته سيند ته واچول، کبان به د خپلې دنياګی غږ کې مخ پر وړاندې د ژوند په څپو ورګډ شول، دلته يوې زړه وړونکې منظرې د قدرت د شهکاری نماينده ګي کوله، سيند

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلن او ځګن بهېده، د سيند پورې غاړې ته وړې او غټې غونډۍ او شا کې يې تور غرونه په يوه موازي ليکه پراته دي، د پراخ او پلن سيند په مينځ کې واړه ټاپوګان سپينو او مرمرينو ډبرو پوښلي، په ځينو ځايو کې سيند په دوو او څو لارو روان و، خو لږ وړاندې به دغه لارې بېرته سره يوځای سوې وې.

دې غاړې ته شنو فصلو او ګورو ځنګلو کې مرغانو د څپو له شور او زور سره خپل خواږه اوازونه لکه په زېرو بم کې نغښتې نغمې مله کول.

د مازيګر اودسونه مو د سيند په شګلنه لمن کې چې ښايسته کاني پرې غورېدلي و، په همدغو رنو اوبو تازه او د سيند غاړې په ښايستوکي چمن کې خپل رب ته د عجز او نياز سجده ولګوله.

مازيګری شمال د ورځې ګرمي په مخه اخيستې، نرۍ پسته هوا چلېده، موږ هم د دغې روح پالونکي نسيم سره د ښار پر لور مخه کړه.

احمدضياء! که لار راوښيي چې د غازي امان الله خان زيارت وکړو په لږ ځنډ لکه د زړه خبره چې خولې ته نه شي راپورته کولی وويل پر مخامخ سړک چپ اړخ ته... بس بس همدلته... ما په لوړو ګومبزو پسې کتل، خو ده، پر يوه سپېره پارک وربرابر کړو... لار له خلو خځلو ډکه ده، نه ګومبزه ښکاري نه کومه بله نښه... وړاندې تر يو چتر لاندې خړ پړ قبرونه دي چې د تورو مرمرو پوښ پرې غورېدلی... د چت له پاسه د باران اوبو کږې وړې کرښې ايستلې، ځای، ځای چت رالوېدلی... ډبرليکونه د عزيز الدين وکيلي پوپلزي دی، چې تر دوړو لاندې په ګرانه لوستل کېدی شوی...

ما له اوږې ځادر راواخيست د قبر پاکولو ته ورکوږ شوم، پير صاحب مې لاس ونيو چې ځادر ده ته ور پرېږدم... ما ځادر نور هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټینګ کړ چې زما خپله خوښه ده... وزیر صاحب محمد گل خان مومند مرحوم د څادر ډېرې ګټې په ګوتو کړې دا يې يوه بله شوه...

دوی چې څادر نه لرل پیکه ولاړ وو، له قبرو مې دورې پاکې کړې، فاتحه مو ولوسته، دعا مو وکړه... ژر ژر مې ډبرلیکونه نوټ کړل...

له کلمې شریفې لاندې

اماني ننبان

الغازي امان الله پادشاه افغانستان

از ۱۲۹۸- الی ۱۳۵۷ هجری شمسی

مطابق ۱۹۱۹- الی ۱۹۲۸

تولد ۱۲۷۱ هجری شمسی مطابق ۱۸۹۲ میلادی

وفات ۱۳۳۹ هجری شمسی مطابق ۱۹٦۰ میلادی

نه القاب، نه خطابات- نه دکارنامو یاد... یو ارخ ته د نایب السلطنة سردار عنایت الله خان او ملکه ثریا قبرونه په ورته بڼه او لنډو ډبرو لیکونو سره...

لکه شاعر چې وایي:

بر مزار ما غریبان نه چراغ است نه گلی

نه پر پروانه ســـــوزد نه صدایی بلبلی

د سراج الملة والدین امیر حبیب الله خان قبر په ښه بڼه لږ لوړ جوړ دی، ډبر لیک یې جلا بڼه لري، لیکنه یې هماغسې لنډکۍ ده، د واکمنۍ، وفات او زېږون پر نېټو را ګرځي... د کاتب نوم یې لکه نه دی لیکلی...

له احمد سینا سره د پیداګوژۍ انستیتوت انګړ ته ننوتلو، د دروازې په خوله کې څو تنه مجاهدین په یوه اوږده څوکۍ ناست دي، له په خیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلئ سره مو د انستيتوت ودانۍ خوا ونيوله، احمد سينا د انستيتوت د هرې برخې په اړه معلومات راکول، د ټولګيو، اداري، ليليې او نورو... په دې کې به يې د خپلې زده کړې د وخت د شوخيو او ساتيرپو خاطره هم ورغبرګه کړه، له لږ ګرځېدو وروسته د انستيتوت د تدريسي ودانۍ تر شا چمن کې کېناستو، پخواني يادونه، د ستو کنډو خاطرې، د جنګونو او بمباريو کيسې مو سره وسپرلې.

مانبنام جمهوريت باغ ته ولاړو، چې پخوا په شاهي باغ يادېده د داود خان جمهوريت کې يې د جمهوريت نوم پرې ايښی و، له ثور کودتا وروسته يې پرې د باغ خلق تاپه لګولې، خو هيڅا هم په دغه نامه نه ياداوه.

غونښتل مو ننګرهار والي ښاغلي حاجي عبدالقدير سره وګورو، خو هغه ولايتي شورا لرله، د انتظار ستغې مو تېرې نه شوی کړی بېرته مو د احمد ضيا د کور مخه ونيوله، په لاره کې مو د ننګرهار کميساری ته چې د مولوي خالص قوماندان پير بخش مرکز و، سر ورښکاره کړ، د مانبنام لمونځ مو هورې وکړ، خو نه مو قوماندان پير بخش وموند او نه يې مرستيال فريد.

له لمانځه وروسته د ښار له هغې برخې چې د قلعه جواد حضرت بارګاه او جومات و تېر شو، د ښار په ځينو برخو ګرندي وګرځېدو، د ملي بس سرويسونه تر تېر ماخوستن د ښار ښلا ښلو برخو ته تلل، د ورځې له خوا تر تورخم، درونټې او سره رود ولسوالۍ پورې هم ملي بس چلېدل.

د ښار زياتره دوکانونه پرانيستي، هوټلونه له ميلمنو ډک دی خو ښار چوپ دی، لکه چا د ژوند سندرې په خوله لاس ايښی...؟ احمد ضيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور ته په رسېدو، وویل: وګورو تلویزیون څه خپروي، د تلویزیون په تنیو یې ګوتې ووهلې، د جلال اباد تلویزیون هره شپه له اتو تر لسو بجو دوه ساعته خپرونې لرلې، له دیني موعظې، د حالاتو په رابطه سیاسي تبصرې، خبرونو، جهادي ترانو او تمثیلي پارچې سربېره د کشمیر جګړې یو مستند فلم چې پښتو دوبلې شوی و، وښودل شو، همدارنګه د جهاد ځینې صحنې او منظرې یې هم د پروګرام په بېلا بېلو برخو کې ښکاره کولې.

د خپرونې په مینځ کې د ښاروالۍ او ملي بس اعلامیې او خبرتیاوې خپرې شوې، د تلویزیون دوه ساعته خپرونه د موسیقي د نه شتوالي له نیمګړتیا پرته په زړه پورې وه، که څه هم ملایي رنګ پرې غالب و.

په زړه پورې خبرتیا په دې ټکو وه... انجنیر عبدالغفار د... زوی دوې عرادې لنډکروزر موټر چې د انجن نمبر یې... او... دی پر انجنیر ګلبدین حکمتیار د... زوی پلورلی وه که څوک ورسره معامله لري، تر دریو ورځو پورې د ننګرهار ترافیکو نه خبر ورکړي...

همدا حال د هوټلونو او رستورانونو هم و، چې له یوې نیمې جهادي ترانې پرته په کې چوپتیا وه، ننګرهار ورځپاڼه خپرېده، په داسې حال کې چې د کابل ورځپاڼې هره ورځ نه شوی خپرېدی.

مور د تلوېزیوني خپرونو ترڅنګ د چلمچي او کوزې اواز ته هم د زړه غوږونه څک نیولي وو، څومره چې ځنډېده، هماغومره زمور انتظار د زغم په ځنډېدو د وراوښتو ناکامه هڅه کوله، چې د دروازې د بېرته کېدو غږ به مو واورېد، سترګو ته به مو دسترخوان او لوښي ودرېدل، مور دلته د انتظار سختی یو ځل بیا په خپل ټول تریخوالي له ستونې تېرې کړې، همدا وخت و چې د مرحوم استاد الفت په خبره پر مور د

(c) ketabton.com: The Digital Library

رباب له ترنګ د کوزې او چلمچي کړنګ ښه لګېده.

دیر آید درست آید، احمد ضیا دسترخوان دومره اوږد وغواړاوه، چې موږ یې له یوې بلې حیرانۍ سره مخامخ کړو، داسې خواړه یې برابر کړي و، چې موږ یې تر خپلې وارخطایۍ او انتظاره ټیټ سترګي کړو، یوازې دا نه، بلکې حیران او تلولي یې هم، چې لومړی په کوم لوښي ګوتې پورې کړو، پر چای مو د احمد ضیا له یوه خپلوان سره چې تجربه کار دهقان و، د جلال اباد د ځمکو، کرنې او مالدارۍ په هکله خبرې وکړې، له لمانځه وروسته مو د خوب رنګین عالم ته پناه یوړه، داسې د مزې خوب مو وکړ، چې ایله مو د سهار لمونځ ونیولی شوای، له لمانځه وروسته مو بیا په خپلو بسترو سرونه ولګول او دا ځل مو په ویښه د خیالونو او سوچونو په پراخه دنیا کې د خپلو هیلو او ارمانونو نیلۍ وزغلول.

تر هغې چې چای رارسېده، موږ هره یو د خپل ذهن په پرده په ازاد اسلامي افغانستان کې د خپلې راتلونکې او امیدونو رنګین جهانونه انځور کړي و، چای تر بېګانۍ دودۍ کم نه و، داسې یې وګڼه لکه موږ د غرمې دودۍ په همدې سهار کې نوش جان کړې وي، په دې توګه چای زموږ پوره وخت ونیو نژدې یې راباندې نیمه ورځ کړه، موږ چې حرکت وکړ، بازار او هټۍ پرانیستي او له پرونه په کې زیات جم او جوش و، په بازار کې ګڼ دوکانونه د سکانو وو، چې تر خولې له مالونو ډک وو، د ښوونځیو ماشومان ډلې ډلې روان وو، په ټېره سک ماشومان خورا ښکلي معلومېدل، د هرچا نظر یې جلباوه، د سرونو وېښته یې په خرو دسمالونو ترلي وو، نجونې هم ښوونځیو ته تللې، له سره تر پښو ټیکریو کې نغښتې وې.

د ننګرهار ورځپاڼې نوې ګڼه چاپ او خلک یې په مطالعه بوخت وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما له دوکاندار یوه ګڼه واخیسته، که څه هم چاپ یې حروفي و، خو صحافت یې بد نه و، له شعر، تبصرې، سرمقالې او مضامینو سربېره په کې د ښاروالۍ اړوند د داوطلبۍ اعلانونه خپاره شوي و، په کابل کې د مجددي حکومت او ښاغلي چکري وزارت لا نه و توانېدلی ورځپاڼه چاپ کړی شي، سره له دې چې له پېښوره یې کمپیوټر ټیکنالوجي هم لېږدولې وه، خو ننګرهار کې د رژیم له سقوط ایله دوې ورځې ننګرهار ورځپاڼه څنډېدلې او له هغې وروسته هره ورځ پر خپل وخت خپرېدله، د سړک غاړې پر دېوالونو لیکل شویو شعارونو سړی یوه شېبه بوخت ساته، هماغه د اسلامي شریعت او حکومت د ټینګښت ایډیال شعارونه، د مجاهدینو د ستاینې بې وزنه بې خونده بابولالي...

د کابل پر لار د څارندوی له قوماندانۍ په تېرېدو زېبا هوټل مخې ته راځي، دلته غرني غوند او لږ وړاندې د قند فابریکه ده، چې له فعالیت لوېدلې، دا فابریکه د داود خان په صدارت کې رغېدلې، چې له ګنیو یې د ګوړې پرځای بوره تولیدوله، خو له لږ فعالیت وروسته په ټپه درېدلې.

غالباً پاکستان به یې په خپل جادویي اغېز فعالیت شند کړی وي، کله چې طب پوهنځی جلال اباد کې پرانیستل شو، داسې تبلیغات کېدل، چې اوس به د شا و خوا هدیرو مړي دطبي ازموینو لپاره باسي، وایي خلکو تر دېره په خپلو هدیرو د شپې پیرې کولې...

له دې وړاندې د کانال ریاست او لږ اخوا سرخ اب پل دی، چې د مجاهدینو او روسانو د سختو او خونړیو جګړو دګر پاتې شوی، له دې کوز د ننګرهار پوهنتون دی، چې اوس یې ورسره اسلامي ټکی ننښلولی... له هغه وړاندې د درونټې بند مخې ته راځي، پر دېرلیک د بریښنا کوټ د جوړېدو نښته... او تاریخچه ده، چې له ښه بخته انقلابیانو نه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړولی...

په دې پسې د کابل جلال اباد لارې د امنیت قرارګاوې دي، چې د ویجاړو موټرو او وسایطو انبارونه په کې پراته دي، په همدې ځای کې د کبانو د روزنې پروژه ده، دلته چې څومره سترګې څار کولی شي، له کنډوالو پرته په سمه نه لګیږي، بس د نظر په هر پیر کې د عصر د یرغلګرو د ستم داغونه دي، چې د ورانیو ویجاړیو په بنه پاتې دي، په دې پسې د سرخکانو پل او د لغمان په کڅ کې د جلال اباد کابل سړک غځېدلی، په دې وخت کې چې د پیر صاحب د دمې لپاره موټر چلولو ته ما اوږه ورکړې وه، د یوې زړې لوحې په لوستو ناڅاپه زما پښه د موټر په بریک ښخه شوه، موټر ځای پرځای ودرېد، پر لوحه لیکل شوي ((د پښتو د نومیالي شاعر او ادیب مرحوم ګل پاچا الفت مزار) له موټر کوز شو، خو مزار ته د تلو په اړه ملګري دوه زړي وو، ځکه چې لاره نه معلومېده، داسې ښکاریده چې ډېره موده چا دېخوا پېښه نه ده کړې، لار اغزیو نیولې، اندیوالانو ویل چې په مینونو ورسیخ نه شو، چې سیمه کې یې خطر زیات و.

خو د عقیدت جذبه بل شان وي، زمونږ زړه ته یو ډول کرکه لوېده، چې له زیارت کولو پرته ولاړ شو، د الفت صاحب د مزار احاطې ته ننوتلو، ددې د مزار ډېرلیک چې د وصیت شعر او د وفات نېټه پرې لیکل شوې، یو څنډه ماته وه، لکه مرمیو، مردکیو پرې خولې لګولې وي، په احاطه کې څو نور قبرونه هم وو، چې یو په کې د سید فقیر پاچا و، چې د هغوی پر لوحو هم ځای ځای ګولۍ مونبتې وې.

د استاد الفت د لیکنو څرګند امتیاز صداقت دی، ځکه خو یې لیکنې، شعرونه د واړه روح ته لاره مومي او پر زړو پریوځي... استاد د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیاست کړۍ دښتې ته د صداقت د رڼو او زمزمې اوبو د ورځ په ورماتولو سیاست پر صداقت خړوب کړ، ژوند، مبارزې، لیکنو او سیاست کې ملي صداقت د استاد الفت له فکر او قلم روحاني ادب پنځولی، څکه خو د ادبي بزرګۍ او ولایت مقام ته رسېدلی، د برخې خاوند ګرځېدلی دی...

له دې کوز د سرکنډو بابا زیارت مخې ته راځي، چې موټر هم اکثراً دلته درېږي، دلته مو مخ لاس پرېمینځل، سړې اوبه مو وڅښې او بېرته مو سفر ته دوام ورکړ.

څومره چې مخکې تلو، لار د سیند د مستو څپو پر غاړه تېره شوې، دلته ورو ورو غرونه سره نږدې کېږي، د غرونو په مینځ کې ایله دومره فاصله ده، چې سیند او سړک په کې تېر شوي دي.

مور له دې خوا ګرندي روان وو او د سیند څپو له هغې خوا لکه مست اوښان څګونه بادول، سیند په مستې له کمرونو او لویو ګټو سره دخپل سر تندي په جنګولو پر غورځنګو روان و، څپې وې چې یوه په بله پسې اوښتې، موجونه و، شور و زور او د حرکت یوه نه ختمېدونکې هنګامه او سلسله.

طبیعت دلته د خپل حُسن او کمال یوه تلپاته منظره انځور کړې، ځای ځای د سیند پر غاړه ونو او دوارو څنډو ته اسمانځک غرونه داسې معلومېدل، لکه د یوه ماهر نقاش په ګوتو جوړه شوې تابلو، چې چا د کوټې پر دېوال ځړولې وي.

مور د همدغې زړه وړونکې منظرې په رنګینو نندارو کې ډوب یو، له جګړې لېرې له دردونو او غمونو ګوښې، د بمونو او ګولیو د لمبو او لوګي له تصور نه اخوا مو د خیالونو په زرغونه دښته کې د حُسن او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلا په ساحل کې سترګې نه وې سره ورغلې، چې وریښمین تنګي کې مو د یوې خونړۍ جګړې نښو او یادونو سترګې وسوځولې.

وریښمین تنګی سوځېدلو ټانکو او عسکري ویجاړو شویو وسایطو نیولی، لاندې په سیند کې ګڼ ویجاړ ټانکونه پراته دي، د سړک غاړه خو له یوې مخې په سوځېدلو او ورانو ویجاړو ټانکونو ډکه ده، د دغې صحنې په لیدو موږ یو ځل بیا د خیال له ارام ساحل د جګړې په څپو ورګډ شو، د اوږدې تپل شوې جګړې ورانۍ، بربادۍ، قربانۍ او سرلوړۍ په سر واخیستو او په دغه اوږده موده کې د خپل لالهاند او له دغرو او مرګونو سره د متصادم ژوند په کندوکپرو، کې په تیندکونو شو.

د سروبي فابریکه چالانه ده، خو د ګولیو ږلې پرې ډېره زیاته اوږدلې، له دې پرته د برېښنا کوټ ودانۍ ماتو هېنداړو او کندو کپرو دېوالونو د یوې خونړۍ جګړې د ماضي ورانوونکي تصویرونه په خپله لمن کې ځای کړي و.

د فابریکې مخې ته د مولوي خالص مجاهدین ناست دي، چې په سترګو کې یې د ویرونو او ویاړونو ډکه غوسه له ورایه ځلېده.

له دې وروسته بیا تر نغلو د اوبو یو شین ډنډ دی، چې د سترګو او نظر مارغه په کې د خلاص مټ الوت کولی شوای.

څه کم یوولس بجې وې، چې سروبي ته ورسېدو، شهرک کې مو له مولانا عطا محمد سره دوې درې خبرې وکړې، د شهرک ښکلا د جګړې لمبو له یوې مخې سوځولې، نه هغه رنګین پارکونه وو او نه د ونو او ګلانو هغه خیالیګر کتارونه... چې دې ځای ته د کلونو مخکې راتګ نه مو په ذهنونو کې پاتې وو.

ختینو کږو وږو دېوالونو... د توغندیو په لګېدو ژورو کندو د شهرک

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر ښایستونو اور پورې کړی، اغزو او ځوزانو د ګلانو او زینتي بوټو لمن ورټوله کړې سپېره سیلۍ او بربوکی په کې په انګولا ده...

مولانا صاحب ته وایم... دا ولې...؟ سترګو کې یې اوښکې ډنډ دي... پته خوله یې د مخې ښې غېږ راکړه...

اوښکې بېوسې او کمزوري ده که ځواک او قوت...؟

مولانا صاحب په دوو کې حیران کړم...

له جلال اباد وروسته سړک خراب او کنډ کپر دی، موټر باید په ډېر احتیاط چلول شوی وای، د ماهیپر غاښی د پخوا په شان هیبتناک او پرتمین دی، لاندې سیند هماغسې ځپاند او ځګن بهېږی، غرونه او ګړنګونه دي، چې په غېږو کې یې د اوښانو اوږد کتار روان دی، د غره پر دنګه غاړه د سړک سپېرې لیکې او لاندې د سیند تکو سپینو اوبو او د سړک مارپېچ کرښې داسې معلومېدې، لکه د ځمکې او آسمان ترمینځ کومه لاره غزېدلی وي، د ماهیپر بربښناکوټ چالان دی، خو هغه پخوانی رونق یې نه دی پاتې، د جنګ سوځوونکو لمبو ایرې ورباد شوې، ماشینګنو او دهشکو پرې زړه یخ کړی، د جرمني انجینرانو کورونه چې د سیند پر غاړه له سړک لاندې جوړ او ګورې ونې په کې وې، له سپېرو خاورو او کنډوالو پرته هېڅ نه شوی لیدل کېدی.

له ماهیپر کوز سړک ښه دی، چې په دې وروستیو کې پرې له سره قیر اچول شوی، پلچرخي ته په نژدې کېدو چې یو وخت شین ځنګل او ګورو ونو د مساپرو هرکلی کاوه، سپېره ډاګ اوښتی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناکراره تلوسه:

یوې ناکرارې تلوسې په مخه اخیستي یوو، د یوې اوږدې تندې ماتېدو ته مو شېبې شمارلې، او د یوه زمولوونکي بېلتانه له تیارو مو د راوتو مخه لټوله... د څرخي جېل وحشتناکو یادونو مو پر زړو زلزله ګډه کړه، چې اوس تش تور دی.

د زغره والو ځواکونو تاسیسات سپېرې کنډوالې پاتې دي، ګورې شنې ونې، خو یا له سره وې نه او که کومه یوه پاتې هم وه، نو وچې لغړې څانګې یې داسې معلومېدې، لکه دخدای تعالی دربار ته یې له دغه وحشت او بربریت نه د خلاصون په دعا د عجز او نیاز لاسونه نیولي وي.

دلته دپوځ د لسو کلو لوژستیکي زېرمه وه، چې ټول مواد او وسایل یې چور او لوټ شوي، په بازارونو کې یې انبارونه پراته دي، عجیبه خو دا چې کابل اداري دغه مواد په بیه له قوماندانانو پېرودل.

د حربي پوهنتون ودانۍ ړنګه بنګه، او سوځېدلې، له دې مخکې د کابل صنعتي سیمه هم یوې وېرانۍ ته ورته ښکاري، په دغه صنعتي پارک کې چې په لسګونو شخصي او دولتي فابریکې ودانې وې، ټولې په ټپه ولاړې دي، ماشینونه، تولیداتي زېرمې او مواد یې له یوې مخې چور او تالا شوي، د دغو کارخانو تاسیسات د کلونو په اوږدو کې رغېدلي، خو په څو ورځو کې لوټ او پوپنا شوي دي.

فکر مو کاوه زمور لپاره به هېڅ یوه خوا او ډله ګوانښ رامینځته نه کړي، ځکه زمور مشر د کومې ډلې، تنظیم او جریان په پلوي نه بلکې د سولې او امنیت د داعي په توګه د جګړې د بېخي ختمېدو په لار کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خير غونښتنې د قافلې رهبري کوله.

خو بيا هم مور د مجاهدينو له يوه پاټک د وضعيت او حالاتو پوښتنه وکړه، خو هغه داسې مطمين کړو، لکه خپل منزل ته رسېدلي وو.

د مجاهدينو په وروستي پاټک کې مو يو ځل بيا پوښتنه وکړه، دلته يې له هغه زيات داډ راکړ، ځکه خو مور هم په تکيه زړه خپل مزل ته دوام ورکړ، کله چې د حکومت تر کنټرول لاندې سيمې ته داخل شو، هلته يې زمور اسناد وکتل او بې له کومې پوښتنې يې ېېرته راوسپارل، د ګلم جمو له يوې پوستې مو ځان بچ او د پل محمود خان نه وړاندې د مراد خانۍ پر سړک د پلخشتي تر مخ سر چوک ته ووتلو، زمور منزل چهلستون و، چېرې چې مولوي جلال الدين حقاني د سولې په کونښونو بوخت دی او دا څه موده مخکې يې د جګړې د بېخي ختمېدو او سولې ټينګښت مسوده د طرفينو له خوا له ليکلې موافقې وروسته اعلان کړې وه.

د مرګ کومی:

زه دلته د مرګ پر تجربه اوښتی يم، ما د کيسه خوانی کتاب پلورنځيو کې يو کتاب "د مرګ منظر" په نامه ليده په زړه پورې مې کوت...

خو پاڼې يې د مرګ له تجربې تشې وې که چا د مرګ څکه کړې وي څومره تريخ به يې موندلې وي، پر سړي مرګ څرنګه راځي او دغه کيفيت څه ور نورو ته په تورو ټکو کې رسولی شي، که څه هم خيالي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي، ماته د زړه يوه ډاکتر پر ځان د هارت اټيک عجيبه کيسه کوله، چې د ده په وينا د زړه له حملې د څو ثانيو لپاره مړ وه، خو د خپلو ملګرو ډاکترانو په هاند د مرګ له کومې او منګولو راوايستل شو، خو د مرګ هغو څو شېبو انځورنه يې کله هم په تورو تکو نشواى وړاندې کولاى...

زه داسې ګڼم لکه له مرګ وروسته په بعث بعد الموت اوښتى يم، ځکه خو تاسې ته د مرګ کيسه کوم، د مرګ منظر درته وړاندې کوم.

ددغو مرګانيو شېبو انځور که په تورو تکو کې ناشونى نه وي، په خداى چې ګران ضرور دى، زه نه پوهيږم خپل او د خپلو ملګرو حالت او رواني وضعيت څه ور کښلى شم، د تکو لفظونو په موندلو کې حيران يم.

له ژوند لاس مينځل او د مرګ وېرووونکى هيولا ته د ځان سپارلو تجربه سړى څرنګه نورو ته بنوولاى شي...؟

د مرګ په خونړيو منګولو کې د سا اخيستو کيسه په تورو تکو، جملو کې نه شي راټولېدى چې د دغو شېبو وېرووونکي خيالونه لکه د څرمونې وريځې په نرې شمال خواره واره شي.

تاسې ما په دغه کيسو کې د خپلو زخمي احساساتو په بغاوت پر مه ګنئ، په هغې کمزورى مې هم ګرم مه بولئ، چې په تورو تکو کې د دغو شېبو په نغښتلو کې يې زما پر وړاندې کومې شلولې.

***

خونړى منګولې:

د پلخشتي جومات ترڅنګ ميوند څلي په لور روان يو، سرچوک ته په رسېدو نابېره مخې ته د ګلم جمو دله خداى خبر له څمکې را وتوکېده

(c) ketabton.com: The Digital Library

که له هوا راتوی شوه کلا بند کړو، ماته خوست رایاد شوه، چې ډلې، ډلې ګلم جم د شرمېدلې ماتې له رسوایۍ سره غبرګ یوه او بله خوا ځورند سرونه پنډ وو، موټر مو ودراوه او دوی لکه وږي لېوان دموټر شاوخوا تاو شول، کارت مو ورکړ، خو په لوستو یې نه پوهېدل، پوښتنه یې وکړه، د چا کسان یي، موږ ویل د حقاني صاحب، بله یې نه زده: (تا شوین تا شوین) او له دې سره یې زموږ ګرېوانونو ته لاسونه اوږده کړل.

احمد ضیا د وخته له موټره کوز شوی و، موږ یې په ټېلو ټېلو د یوه محاربوي ماشین خواته بوتلو، ما فکر کاوه، که له کوم قوماندان سره یې خبرې وکړم، کېدای شي په خبره پوه شي، له یوه تن مې د قوماندان پوښتنه وکړه، ویل او خودش جنرال است، مطلب یې هغه ځوک و چې موږ یې له موټر کوز کړي و.

د محاربوي ماشین تر سینه لاندې دمخې برخې دروازې یې خلاصې کړې، په قهرجنه لهجه یې وویل، بالا شو، هلته د وسپنو توټې د کیبل تارونه او څو د ټېلو ګیلنونه پراته وو، چې د یوه تن هم ځای نه په کې کېده، خو احمد ضیا وختې په کې ځان ځای کړی او له وحشت په ډکو سترګو یې موږ ته رنه رنه کتل، احمد سینا چې ټانک ته په ختو کې لږ ځنډ وښود د یوه تن د راکټ له وار سره له ټانک سره جوخت شو، خو ده فکر کاوه، ګنې موږ پرې شوي ګوزار ته نه یو متوجه شوي، څرنګه چې موږ ټول د ټانک تر سینې لاندې نه شوی ځایېدی، ځکه خو یې د کلاشینکوف په څوکه د ټانک سرته د ختلو قوماندې راکړه، موږ هم اتومات د ټانک سره ته وختو، دلته زموږ په جېبونو اخته شول، ژر ژر یې دجېبونو تالاشي واخیسته او چې څه په لاس ورغلل، افغانۍ وې که کلداري له جېبونو وېستلې، خدای خبر یو بهرنی خبریال له کومه راپیدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو د خپلې کمرې سترګه يې تر ډېره زمونږ د مظلوميت، د ګلم جمو وحشت او د اسلامي حکومت د مشروعيت نشتوالي ته نيولې وه.

محاربوي ماشين ډېر ګړندی راوګرځېد او پر ميوند واټ د چمن پر لور روان شو، د واټ په پای کې کين لاس ته د عيدګاه جومات پر لور وګرځېد، د جمعې ورځ او د غرمې يوه بجه وه، په دې ورځ استاد رباني د عيدګاه جومات کې د لمانځه او وينا پروګرام درلود، ددې اواز چې له لوډسپيکر په زېر او بم خپرېده، زمونږ د غوږونو پردې او د زړه تارونه ښه وتخنول، د رباني صاحب له خبرو، حرکاتو، اکټونو، څېرې او عادتونو سره زه ښه اشنا يم، ځکه خو مې دده د خبرو د انګازو تر شاه دده څېره او وضعيت ښه ليدلی شوی، چې څومره به يې د اسلام، جهاد، شريعت او مجاهدينو بريالیتوب شعارونه تشريح کړي وي.

کېدی شي پر دې ورځ د عيدګاه جومات کې خطبه هم دده په نامه ويل شوې وي، وروسته خبر شو، چې د کابل ځينو جوماتونو کې د استاد رباني، ځينو کې د مجددي او چهار اسيا کې د حکمتيار په نامه خطبې ويل کېدې.

ماته د شهيد عزيز الرحمن الفت ليکنه "دين را بايد از خدمت ارتجاع و استبداد نجات داد" په زړه شوه...

هغه ليکنه په همدغو تکو راګرځېده چې دين څرنګه د سياستونو او اقتدار پايښت او ننګې ته د درباري ملايانو لخوا استخدام کېدای شي، محراب او منبر د واک د چوپړ او خدمت وسيله ګرځي...

ټانک د مرنجان غونډۍ په خوا ځغاست، د استاد رباني د وينا انګازې زمونږ ترمخ د هوا په وزرو ځغلېدې.

د غونډۍ لمنې ته نژدې ټانک وګرځېد او په يوه احاطه ننوت، دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو وخت د ممتاز په نامه د ټبلو ټانکرو ترانسپورت و، چې د شاهي کورنۍ د څینو افرادو د سهم او پانګې خبرې پسې کېدې.

ممتاز د پکتیا ځاځیو لویه او درنه کورنۍ ده، چې ترانسپورت کې یې درنه پانګونه لرله... پر ټانکرو یې پښتو کښلې وه، چې هغه وخت کابل کې له کولتوري تسلط د بغاوت انډول ګڼل کېده...

د داود خان له جمهوریت سره ددغه ترانسپورت په ضبطېدو د پولیسو دویم نمبر منتظره قطعه په کې وه، مور یې هلته په ننوښتلو له ټانک نه کوز او په داسې حال کې چې په هر یوه پسې یو یو کلاشینکوف والا روان و، یوې تنګې تروشې کوټې ته ودرولو.

د ودانۍ دریو خواوو ته پر یوه لیکه د کوټو ورونه ختلي، قبلې یا لویدیز ته د خښتو نوی دیوال دی چې دروازه کې یې بیلر ایښې، چې ودانۍ یې پر دوو برخو وېشلې ده. د کوټې د دروازې په بېرته کېدو د بوی یوه لړه پورته شوه، کوټه به وه په اوږدو دوه نیم او سور یو نیم متر، مور چې ورننوتو د کېناستو ځای نه و، له مور مخکې لس تنه په کې له څو ورځو مېلمانه وو، خو له څه ځان ټولولو وروسته ایله دومره وشول، چې په ناستو په کې د پښو په سر ځای شوو ما بیا هم د قوماندان پوښتنه وکړه او لا تر اوسه په دې خیال وم، که له کوم په خبره پوه او باسواده سړه مخ شم.

ټول پټه خوله دي، لکه خولو ته یې کولپونه اچول شوي، نه یې خپلو کې خبره کوله، نه یې مور په کومه خبره پوهېدلو، لکه په سپېرو او مرموزو کتو دې زړه خوري، ګونګیان دي که څه بلا...؟

په کوټه کې مې موجود کسان یو یو له نظر تېر کړل، څلور تنه لوستي معلومېدل، خو نه یې غوښتل له مور سره خبرې وکړي، د پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو کسانو څېړې او حرکات، لکه د جوارګرو، چرسیانو... درې تنه په کې له ورایه ګلم جم معلومېدل، په دې کې یو تن چې له عمره خام ښکارېده او ږیره برېت یې نه وو راغلي، خو غټ او پرېږ وجود یې ښځېنه څېره ښوولە، له مور سره خبرې پیل کړې، خو د هغه خبره په ما بده ولګېده، ځواب مې ور نه کړ، زما چې څپلی په پښو وې، یوه تن چې د چرسو سګرټی یې لاس کې و، وویل قربانت شوم، چپلی ات بکش، چرت ته خراب نکن از ماره یک افته میشه امینجه افتیدیم ری نمیزنیم.

شپږ نفري ګروپ هر یو لګیا شو او څه چتیات نه وو چې ویې نه ویل، یوه شاه لوڅه کړه، چې له وهلو تکه شنه وه، بل خپلې متې او پندۍ وښودلې چې وینې په کې پند وې، په زړه کې وایم له دې خو یې پته خوله نښه وه...

د کوټې کړکۍ او دروازه کلکه ترل شوې، هېڅ چاک او چوله نه په کې معلومېدل، ما ورته وویل مور له مطبوعاتو سره پېیلې یو، د حکومت له جمهور رییس، وزیر دفاع او نورو سره بلد یوو. یوه په کې زما خبره غوڅه کړه ویې ویل: نام مسعوده نګی که حلالت می کنه... ما فکر وکړ له دوی سره خبرې بېله دې چې ګټه نه لري، مناسبې هم نه دي، غلی شوم، د خولو تروش بوی، ګرمۍ او تندې داسې لوبه راخیستې وه، چې ژبې مو په تالو پورې کلکې ننښتې، داسې راته ښکارېده لکه ژبه مې خوله کې نوره نه ځایېږي... د اوبو مې وویل، یوه شنه پلاستیکي په خیرو پته کوزه یې ونیوله، ویل بیګی قربان فانتا اس، ما چې په نه زړه کوزه خولې ته کړه، نو داسې یو تود او بوین محلول مې خوله کې و، لکه د تېلو ګیلن مې پر سر اړولی وي، چې کوزه مې ژر بېرته کېښوده، هغه راغبرګه کړه، چرا... ایجه هر که امده اول امتو میباشه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور ته بيا وروسته معلومه شوه، په کوټه کې څلور تنه چې مهذب او تعليم يافته معلومېدل زمور غوندې بنديان وو، هغوی يې هم له پيک اپ سره راوستلي وو څلور نور د دوی خپل د ملېشې افراد وو، چې د لوټمار پيسې يې له قوماندان پرته خپلو کې وېشلې وې او هغه د ښځينه څېرې خام غټ پرېږ څوان د ګلم جم ملېشې يو ډګروال و، چې د قوماندان له خبرتيا او سهميې پرته يې مهمات او کلاشنکوف پلورلي او خپل يو ملګری وژلی و.

د مرګ سفر، د هوايي ډګر پر لور:

نيم ساعت لږ زيات وخت به وتلی و، چې د کوټې دروازه بهرته شوه څو تنه د دروازې په مخ کې بهرني ودرېدل، مور څلورو ته يې د راوتلو اشاره وکړه، د يوه له خولې ووتل ((ميدان هوايي)) له دې خبرې سره د هغه څلورو مهذبو بنديانو له خولې ناڅاپه ((اوف)) ووت، مور يې کوماز لاری ته وخېژولو، د موټر په بادۍ کې دوارو خواوو ته کېناستو، يوه يې د کلاشينکوف قفاق کش او مرمۍ تېره کړه او مور يې کتار د موټر يوې خواته کېنولو، دوی ګوته پر ماشه زمور مخې ته کلاشينکوفونه ونيول او کېدی شوی له يوه جمپ سره د کلاشينکوف دېرش مرمۍ زمور په سينو کې تشې شوې وی، تر داسې کلکې څارنې لاندې، لکه د دېر سخت جرم په تور نيول شوي يې د غرغرې په لور روان کړي وي، داسې لکه د جګړې په دګر کې چا د دښمن دېر غټ قوماندانان نيولي وي.

زمور زړونو ومنله، چې دا مو د ژوند وروستۍ شېبې دي، د څرخي پله زندان کې د بنديانو د وژلو، او پوليګون کيسې رايادې شوې او دا مو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګڼله چې مور هم د دغسې وژل شويو زرګونو مظلومو هېوادوالو له کاروان سره يو ځای کېدونکي يوو، دلته له يوې مخې د مرګ تصور زما له سره کډه وکړه، د زړه درزا مې ورکه شوه، د وېرې احساس مې له مغزو ووت او نور نو د مرګ او ډار ټول توهمات او سختي زما له زړه او ذهن ووتلې، يوازې يوه وېره او سختي مې په مخه کې وه، او هغه دا چې هسې نه زما ملګري يو يو زما تر مخې په کلاشينکوفونو غلبېل او ما ترې وروستی کړي، دغه تصور دومره تريخ او سخت و، چې د هغې تريخوالی او سختي اوس هم زما له خولې او مغزو نه ده وتلې.

مور يې د هوايي ډګر له ختيزې دروازې تېر کړو، خو لږ وړاندې يې ښېرته موټر وګرځاوه، په لار کې د احمد شاه مسعود او رباني عکسونو قيامت جوړ کړی، ښار ټول شعارونو او تصويرونو نيولی، د ازادۍ او فتحو مبارکۍ، د مسعود او رباني عکسونه وو، چې هر ډېوال د ترافيکو غرفه او نړېدلې ودانۍ يې په سر اخيستې، مسعود قهرمان، فاتح اسلام او داسې نورې په غټو غټو تورو ليکل شوې کرښې، چې د سړکونو د يوې غاړې تر بلې په هوا کې ځړېدلې، د رباني، مسعود ښلا ښل تصويرونه وو، چې د ورانو ودانيو ډېوالونه، د بربښنا او ټيليفون ستنې دوکانونه او هوټلونو هېنداري يې نيولې وې، سړي فکر کاوه، لکه د ودانيو ډېوالونه يې په تصويرونو پوښلې.

مور يې د هوايي ډګر په لويه دروازه ننښستو، موټر کې لاس ته وګرځېد، ښې لاس د ترمينل اړخ ته اريانا الوتکې ولاړې وې او کې لاس ته يې چې مور وګرځولو، پوځي الوتکې درېدلې، دلته زمور پيک اپ هم ولاړ و، مور يې همدلته له موټره کوز او مخامخ روان کړو، هلته يو تورکی سړی بې نوره او غور بيجنه ځېره له څو نورو پوځيانو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوماندویي یونیفورم کې ولاړ و، مور یې ور وراندې کړو، هغه سملاسي امر وکړ، چې له موټره سامان کوز کړئ، د موټر سامان لا وختي لاندې باندې شوی و، زه لږ څه ډاډه شوم، چې ګڼې دا سړی به خبرې ته غوږ ونیسي، په ډېر ادب او عاجزی مې ورته وویل: که مهرباني وکړئ د دوو دقیقو لپاره وخت راکړئ، خو ده له غرور ډکه لهجه وویل: صبر کو ای کار خلاص شو باز معلوم میکنم.

له موټر یې ژر ژر کتابونه کوز او په یوه کوټه کې یو پر بل انبار کړل، ډېری سامان په هماغه ساعت کې د ملېشو له خوا څه په پټه او ښکاره چور شو، کله چې سامان خلاص شو، ده زیاته کړه: میفامی یانی ای پشتونستان نیس اوغانستان اس، ما لومړی فکر وکړ، چې دا خبره په دې وخت کې له مور سره څه اړه لري، دی لګیا و: شما خاینا می خاین از اوغانستان پشتونستان جور کنین، مه کت تان می فامم، په زړه کې مې وویل، دا په څه بلا واوښتې، له دې خو یې هغه بې تعلیمه او بېسواده ښه وو، چې سترګې یې پیسو، مال او موټر ښخې وې او له دې نورو لانجو ناخبره وو.

ما وویل: زه ژورنالیست او لیکوال یم، د پښتونستان مسلې مطرح کول دلته فکر کوم څه مناسبت ونه لري، بهتره دا ده چې په اصلي موضوع خبرې وکړو.

ده په ډېره غوسه، چې له خولې یې ځګونه بادېدل په یوه دمه خبرې کولې: ګلبدین کت خود خلقیاره ګرفته بګو تنی کجاس، وطنجار، رفیع کجا اس، وطنه شما خراف کدین، ګلبدین کابله خاکستر ساخت اینجه نوکرای پاکستان و سعودی جای نداره... ما هم دده خبرې اوربدې او هم مې دده سترګو او څېرې ته کتل چې په ډېر هیجاني او عصباني

(c) ketabton.com: The Digital Library

حالت کې دی، له سترګو يې د شرابو د نشې يوه پست هوس او له خولې يې د ددغې نشې بد بوی خوت، ده په ښي لاس په ملا کې ځړېدلې تفنګچه نيولې او ډېرې وړې عصاب خرابی کولی شوی د سوال او ځواب دا صحنه ختمه کړي، زه متوجه شوم که زما کومه خبره د ده په نېشه يي دماغ لږ هم بده ولګېږي، د هغې ځواب به حتماً ددغې تفنګچې په خوله راکوي، دلته زمور او مرګ تر مينځ فاصله د سترګو د رپ په کچه وه، ځکه ما احتياط کاوه، تاسې فکر وکړئ چې يو تش لاسی انسان په يوه ځنګل کې د کوم وحشي حيوان په منګولو کې ګېر شي، څه به کوي، ځکه خو ما کونښښ کاوه، ددې او تفنګچې تر مينځ يې رابطه کمه کړی شم.

لګيا دی... سياف هزارای بيچاره را قتل عام کد، بدستور عربا، هزارای بيچاره تباه و برباد شد... يا خدايه! دا خو د حکمتيار او سياف په ځای په مور زړه تشوي او لکه مور د حکمتيار او سياف د تنظيمو او کړو وړو مسوول اوسو، په زړه کې راتېره شوه، انجينر احمد شاه دې خپل وزارت کوي د استاد سياف په ګناه دې مور نيولي يو...

ما يې خبره ور پرې کړه، چې زه په تنظيمي لحاظ نه له استاد سياف سره منسلک يم او نه له حکمتيار سره، زه ژورنالیست او ليکوال يم، چې د مولوي جلال الدين حقاني له فرهنګي دفتر سره کار کوم، او هغه د سولې په هلو ځلو بوخت دی، ما فکر کاوه دا خبره به دده د عصباني مزاج په لمبو لږ اوبه توی کړي، خو له بده بخته دی يې نور هم مشتعل کړ ويې ويل: حقانی ديروز منطقه هزارا به توپ بست صدها هزاره را کشت، همراه ګلبدين ششت که مليشه ها خارج شوه، نباشه.

ما ورته وويل: ځوک چې سوله کوي، هغه به ضرور دواړه خواوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

گذشت او د یوه بل د ځینو شرطونو منلو ته اړ باسي، خو ده وویل: مه میفامم اخبار و مجله شما بر ضد ملیشه مسلسل نشرات کرده، ده خوست ملیشه ها قتل عام شد...

ما ځواب ورکړ، در خوست هر کسی که زنده دستگیر شده رها گردیده، بعد از فتح هیچ کسی کشته نشده، زخمی ها به صلیب سرخ تسلیم داده شد، البته در جریان جنگ هر دو جانب تلفاتی می بیند.

ده وویل: مسعوده ما ده کابل اوردیم اگر بخایم بیرون کشیده میتانیم...

بیا یې پوښتنه وکړه، ننګیال کیس، زه لا له مخکې حیران وم، چې ځان وروښیم، که نه، په کومه کې به مو خیر وي، په همدغه تردد کې مې له خولې ووتل، زه، ده وویل: خوب ده گیرم امدی... او له دې سره یې بیا پر خپله تفنګچه ګوتې کښنوې، غاښونه یې وچیچل، ویې ویل: میفامم که ادم سیاسی ستی خودته میګی که ده کله ام دوازده ګرام مغز اس، ده کله مم دوزاده ګرام مغز اس، بیست و پنج سال صاحب منصبی کدیم، می فامی، مارا خام کله می ګفتین، مالوم میشه کی خام کله اس؟

مه تورن جنرال عبدالمجید روزی معاون اول عبدالرشید دوستم استم، جنرال صاحب دوستم هم مثل مه انسان اس، از مه کده مقبول و چاغ اس، شما را محاکمه میکنیم.

دلته یې زمونږ لاسونه تر شا وتړل او یوې پوځي الوتکې ته چې ستارت ولاړه وه وخېژولو، نژدې یو ساعت په الوتکه کې ناست وو، خو الوتکه وانه لوتله، بېرته یې له الوتکې کوز او جنرال مجید ته لاس ترلي ودرولو، مجید بیا خپله خبره تکرار کړله، شما محاکمه میشین، شما بیخ و بنیاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما را کندین، اوتوریته ما را از صفر هم پایین اورده به سویه جهانی بر ضد ما اقدام صورت گرفته...، اینا ره پس ببرین، تا محاکمه شون...

موږ یې ببرته د خپل پیک اپ بادۍ ته وخېژولو، هغه قوماندان ته چې موږ یې نیولي وو، جنرال مجید وویل: تو خو زبان ایناره می فامی... ببرین... هلته د جمعیت ځینې افراد چې ما ورسره پېژندل ولاړ وو، ټولو ځان ناګار کړ، رنه رنه یې کتل د مجید او ملېشو پر وړاندې له خپلو اوږدو ږیرو، خړو پکولونو او جمپرونو سره دېر حقیر او ذلیل معلومېدل.

د احمد ضیا خدای زده څه په زړه کې وګرځېدل، په دېر ادب او حق په جانب څېره یې جنرال مجید ته وویل: زه په ننګرهار کې محصل یم او پاکستان مې په سترګو نه دی لیدلی، زه له دوی سره نه یم، دوی له پاکستان نه راغلل، شپه یې زموږ یوه دوست کره وه، کله چې راتلل، نو ما وویل مفت موټر دی، زه به هم کابل ته ولاړ شم او...

خو جنرال مجید په دې دنیاګی کې د چا مظلوم خبرې او فریاد نه شوی اورېدی؟

د روانېدو پر وخت جنرال مجید هغه قوماندان ته چې موږ یې نیولي وو، په غوږ کې څه وویل او موږ یې روان کړو، دا ځل یې له یوې بلې لارې راستانه کړو، د دغې لارې په اوږدو کې بیا هم د جګړې په اور سوځېدلو او ویجاړو تاسیساتو باندې د رباني او مسعود رنګین تصویرونو، یو پر بل پسې د خپلې رنګینۍ جادوګري ښودله، پر ویجاړو او سوځېدلو ودانیو لګول شویو تصویرونو په لیدو زما په زړه کې داسې تعبیر وګرځېد، لکه ځانونه د دغو ورانیو قهرمانان ګڼي او یو وخت به یې تاریخ د ویجاړیو اتلان اعلان کړي....

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لاره کې له مکرویان سره د یوه ګلم جم خولی باد یوړه، موټر یې ودراوه، په دې کې د جمعیت یو قوماندان چې له احمد ضیا سره بلد وو او د قوماندانانو سرتاسري شورا کې یې برخه لرله، مور ولیدو، کله چې مور ته نژدې شو، یوه ګلم جم بدې کنځلې ورته وکړې، خو چې د جمعیت یې ورته وویل خوشې یې کړ، مور خوشاله شو، چې که مو مړه هم کړي، لږ تر لږه دومره خو وشول، چې احوال مو تر یو چا پورې ورسېږي.

مور یې بېرته هغې قرارګاه ته راوړو، چې تري بېولي یې وو، دا ځل یې په یوه بله خونه کې چې دوه زاړه شلېدلي چپرکټونه په کې پراته وو تېل وهلو، دچپرکټو وسپنیز سیمونه لکه تېره مېخونه راوتلي، د غرمې ډوډۍ مو نه وه خوړلې، خو په لوږه نه پوهېدو، که احمد ضیا د سهار چای داسې غوړ نه وای راکړی، نو بیا به مو دا حال نه و، د ماسپښین لمونځونه رانه قضا شوي، په داسې حال کې چې د قصاب په غولي لاس تړلي ولاړ یو، د لمانځه قضا ډېر ځورولو.

زما په ذهن کې په مجاهد ولس کې د حمید بابا دا شعر لحظه په لحظه ګرځېده:

دا جهان قصاب خانه کړ خدای و ماته

پـــا بسته ولاړ په غولي د قصاب یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مرګ منظر

شرنګ د دروازې زنځیر خلاص شو، یو ملیشه نېغ ودرېد، کاغذ ته ګوري، زمونږ نومونه یې واخیستل، مونږ ور ولاړ شوو، لومړی یې زه تلاشي کړم، ورپسې احمدضیاء، نور علیشا، احمدسینا... لاس یې تر شا راوتړل، زه یې تر مخ کړم، له شا یې د کونداغ پر یوه ټینګ ګوزار له دروازې دباندې وغورځولم، چې پاځېدم، یو ملیشه تر مټ ونیوم، لږ وړاندې یې د یوې کوټې پرانیستې دروازې ته ودرولم، نور ملګري یې هم پر کونداغ دباندې راګوزار کړل، هر یو یې کوټه تر منځ یوې خونې ته ودراوه، دلته یې زمونږ هر یوه پر تندي ګوته پر ماشه د کلاشینکوف شپېلۍ کېښوه، وایي کلمه تان بخوانید، مونږ کلمه ټېره کړه، په لږ ځنډ یې کلاشینکوف لېرې کړل، پیر نور علیشا یې یوې کوټې ته ننوښت، درې ډزې وشوې، سینا او ضیا یې هم یوې یوې خونې ته ننوښتل، بیا هم درې درې ډزې... راته وایي: حالا نوبت توست په زړه کې وایم څومره چې ژر کېږي ډز کوه... سترګې مې پټې کړې، وایم که پر غوږو مې څه نه اورېدی، په رښتیا څه نه اورم، پر خوله له یوې کلکې څېړې سره مې غوږو کې کړنګې شو، سترګې مې پرانیستې، راته وایي ژوند دې رانیسه، پنځوس زره ډالر، بیخي ارزانه مفت...

ورته وایم، پنځوس زره ډالر پرېږده پنځوس هم نه شې راسره مونداى، چې نه قوماندان یم، نه سوداګر... وایي مونږ خبر یوو، چې لوی بای او سیټ یې، وایم ټول عمر مې د قلم مزدوري کې تېر کړی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تشه ګډه نشي ډکولای، وايي اوس به مزدوري در معلومه شي...

کړس پر کونداغ پر مخ ولګېدم، ونه غورځېدم، دويم ګوزار مې د وليو تر منځ ولګېد، تندی مې له مخامخ ديوال سره ونښت، درېيم ګوزار مې پر سر و، چې ورسره ږنګ شوم، ډز شو، د باروتو تريخ لوګی پورته شو، ګولی زما پر ښي ولي ومښته، بل ډز پر مټ ولګېد درېيم ډز...

پوه شوی نه يم، تر هغې چې سترګې مې کوټه کې وغړېدې، احمد ضيا، نور عليشا او سينا راته ناست دي، ما وې که اخرت کې راغوند يوو، بعث بعدالموت دی...

که خوب وينم، لاس مې پر سينا کېښود، خوب نه و، په کوټه کې مې سترګې واړولې، هماغه تنګه تروشه خونه، وسپنيز لغړ چپرکټونه...

د نور عليشا له سترګو اوښکې څاڅي، ضيا او سينا چوپ دي لکه دمه نه پکې چلېږي...

له پوزې خولې راغليو وينو مې ډيره سريښ کړې، سينا تکيه کړم، احمد ضيا سترګې مخامخ کړکۍ کې ښخې کړې، نور عليشا پخپله لمن خوله، مخ راپاک کړل، له کوزې يې خوله کې اوبه راتوی کړې...

را ياد شوه شرنګ زنځېر خلاص شو، د مرګ قاصد له کاغذ نومونه اخلي، د ولاړېدا راته وايي، تلاشي مو اخلي، د کونداغ پر ګوزار مو له کوټې دباندې غورځوي، درې ډزې کېږي، وژني مو، دادی له سره مو زړونه سينو کې غورځي، د مرګ دغه کيسه څو کرښو کې بشپړه شوه، له مرګه د بېرته راګرځېدو تجربه انځور شوه، خو دا کيسه دومره آسانه نه ده، چې دلته مرګ د وسله والو د توپکو شپېلۍ کې په نڅا دی، هره ورځ هر ساعت، هره شېبه د مرګ له پيغام سره تېرېږي، چې ژوند د مرګ په منګولو کې په سلګو دی، ژوند نيمه خوا، زندګي مړ ژوانديې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملېشې او وسله وال يې د خپلو توپکو مرمیو کې پېيي، د سرونو په تسپو لګيا دي، ذکر کوي، جنت غواړي، د حورو غلمانو سره د لوبو شوق يې سر ته ختلی، هره ګولۍ چې چلېږي د ژوند پر ځيګر مونښلي، د ژوندیو پر زړونو لګېږي، ځکه خو ژوند ژوبل، زندګي پرهر او د ځوانيو لو ګډ دی، هر ژوندي د خپل ژوند جنازه پخپلو اوږو اخيستې، پخپلو لاسو يې قبر ته ټيټوي، دلته خلک ګرځي خو ژوند شته، د مرګونو حکمراني کې د ژوند سا ډوبه ده.

د مازيګر لمونځ مو په تيمم او د چپرکټونو دپاسه په ناستې وکړ، دلته يو ځل بيا مورږ د ژوند او مرګ له کشمکش سره مخ شو، بېرته وېرې واخيستو او له مرګه ډار زمورږ په مريو منګولې ښخې کړې.

يو ساعت مو په خپلو مينځونو کې په دې خبرو تېر کړ، کاشکې په ګردېز راغلي واى، دربغه داسې مو کړي وى، ځنګه او ځنګه...؟

مانښام يو تن دروازه خلاصه کړه، ويې ويل: بياييں، مورږ ورپسې شو، داسې مو ګڼله چې پل اخلو، د مرګ پر لور يې اخلو، د ودانۍ په پراخه انګړ کې د ملېشې هغه قوماندان چې مورږ يې نيولي او د عبدل چريک په نامه مشهور و، مجددي صاحب د برید جنرالۍ رتبه ورکړې، په يوه چوکۍ ناست دی، زما پکول يې پر سر، خپل بادېګاردان يې په يوه لېکه کتار کړل، مورږ يې ورته مخامخ ودرولو، ويې ويل، چا درنه ساعتونه او پيسې اخيستي، مورږ هک حيران وو، چې هغه کسان ونښيو که نه، ما دا ښه وګڼله ووايو، له مورږ هېر دي، خو احمد ضيا جرئت وکړ، هغه ملېشه چې دده پيسې يې اخيستې وې ونښود، تصادفاً ساعتونه هم ده اخيستي وو، له ما سره ځلور لکه افغانۍ وې، ددې سرۍ مې پېژانده، خو د جېب د پيسو راځخه هېر و، ما هم د هغه ملېشه په خوا اشاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه، چې څلور لکه افغانی يې راځخه اخيستې وې.

عبدل چريک ورته وويل: ولې مو زه خبر نه کړم، ماته مو ولې ونه ويل، چې مور تري پيسې او ساعتونه اخيستي، هغوی پټه خوله وو، ده وويل ورکړئ پيسې او ساعتونه يې.

مور ته يې خپلې پيسې او ساعتونه راکړل، په زړه کې خوشاله شو، فکر مو کاوه چې زمور پيسې يې راوسپارلې، نو غلا د ملېشو د افرادو کار دی، همداسې به موټر،کتابونه هم راکړي، دلته لږ په خپل ژوند ډاډه شو، چې که وژلی يې نو پيسې به يې نه راکولې...

د مانبام لمونځونه مو په تيمم او ناستې وکړل او د تورې سيلو يوه وچه ډوډۍ زمور د استحقاق په توګه له دروازې راوغورځول شوه، يو تن چې د مزار هزاره و، وويل شما نفرای گلبدين استين...؟

مور وويل نه ژورنالیستان يو، خو هغه په ډېره بده لهجه وويل، تاسې د گلبدين او سياف نفر ياست، غواړئ د ۳۵ فرقې افراد ترور او اختطاف کړئ، اوس به در معلومه شي... د سپو په مرګ به وژل کېږئ او له دې سره يې خپلو ملګرو ته وويل، قوماندان ته وايم، چې ماته يې په لاس راکړي، چې لومړی خو تري دا سترګې وباسم، بيا يې د پوزو او غوږونو حساب په لاس ورکړم، زه يې په چل نښه پوهېږم او داسې يې ډېرې کنځلې وکړې.

له دغه ځوان سره بيا وروسته زمور لږ او ډېر تعلقات جوړ شول، د حزب وحدت متعهد و، پلندر يې عيسی خان نومېده، چې ده غوندې بېسواده و، خو اوس يې دلته د حزب وحدت، دوستم او مسعود په ائتلاف کې د تورنی رتبه ګټلې.

په دې قرارګاه کې د حزب وحدت توپکيانو د دوستم له ملېشو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګډ فعالیت درلود.

د بندیانو د پیره دارانو د ډلګۍ مشر شاه محمد نومېده، چې ظاهراً د ښې وضعې او نرمې خولې خاوند د شلو کلو څوان معلومېده، خو په حقیقت کې ډېر بدغونی انسان و، ماخوستن ده زمور د کوټې د دروازې قلف خلاص کړ، کوټې ته راننوت، او مور ته یې د تسلۍ خبرې شروع کړې، په مور ډده خبره لکه د توپک ډز داسې لګېده، خو له مجبوریته مو ډده له هرې خبرې سره د توافق سر ښوراوه او د رضایت دارې جینګې نیولې وې، ده وویل چې هر شي ته ضرورت لرئ، دروازه ټکوئ، که قضای حاجت ته ځئ ټک ټک کوئ، دروازه درته ښېرته کوم، ما ورته وویل، که زمور د اوداسه غم دې وخور، دا به دې له مور سره زیاته نېکي وي، ده ویل غم مه کوئ، هر وخت مو چې اودس کاوه اوبه درکوم او نور مو که چای ته شوق کېده هم غږ کوئ.

ده په یوه ځانګړي اکټ او ژور خپګان سره وویل، دنیا تېرېږي، دا ورځې هېڅاته نه پاتې کېږي...

په دې کوټه کې څو خنجرونه او کارتوس پراته وو، خنجرو ته زه ځکه خوشاله شوم، چې کېدی شوای په څه وخت کې مو په کار شوي وی، خو احمد ضیا داسې وېرې اخیستی و، چې شاه محمد ته یې وویل: دا خنجرونه له دې ځایه وباسه، هغه هم خنجر کوده کړل، له کارتوسو سره یې یو ځای له کوټې وابستل.

احمد ضیا ته مې وویل، خنجرونه ښه و کار مو تړې اخیستی شوای خو ده ویل ورک کړه، هسې به یې په بل غم اړولي وو، که دا یې راته پلمه کړې وای، چې په دې مو څه کول څه او څه... دلته نو دلې دلې ګلم جمان راځي او د کړکۍ له وړې هېنداړې زمور ننداره کوي، څوک یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه وايي او څوک بل څه، څوک وايي د ګلبدين نفر دي، څوک وايي په کارته نو کې يې يوه پوسته کې نيولي، چا به ويل بمونه ورسره وو، او نور...

مور د الله تعالی له يادە بله اسره او مشغولا نه لرله، په لوڅو او مېخ دارو چپرکټو وغځېدو، سترګې مو پټې کړې، خوب چېرې و، پر يوه او بل اړخ اوښتو، کله نا کله به مو د يوې شېبې لپاره سترګې ورغلې، خو بيا به ويښ شوو، چې پيره بدلېدله، د دروازې قلف به يې بېرته کړ، مور به يې په شمار نوي پيره دار ته تسليم کړو، دا چاره ځکه زمور په ګټه وه، چې د دروازې په بېرته کېدو به له باندې تازه هوا کوټې ته ننوتله او زمور د زړونو بل شوی اور به يې د لږې شېبې لپاره غلی کړ.

غوماشو مو پښې، لاسونه او مخونه داسې کړي وو، لکه شري نيولي يو.

له سپېده داغ وړاندې مور ټول ويښ وو، د آذان غږ مو د استاد رباني اسلامي حکومت کې وانه ورېد...

په وېره وېره مو دروازه وټکوله، پيره دار ته مو د اوداسه وويل، هغه د يوه يوه تن د وتلو اجازه راکړه، د قضای حاجت ځای نه و او له هغو کوټو استفاده کېده، چې خالي او کړکۍ دروازې يې ايستلې وې، په دغو کوټو کې کاغذونه، د وطن ګوند تبليغاتي پاڼې، دفتري کارتونه، د کلاشينکوف او تومانچو کارتوس، شلېدلې په وينو لړلې جامې او ... پراته وو او کله به چې څوک د قضای حاجت لپاره دغو کوټو ته ننوتل، دروازه کې به پيره دار ولاړ و، مور هر يوه په خپل وار اودسونه تازه او لمونځونه بيا هم په ناستې وکړل او د خدای تعالی اروا پالونکي ذکر ته مو پناه يووړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوا رڼا کېده، ښايي لمر به نوې د شپر دروازې او آسمايي له څوکو مڅکه اخيستې وه، چې د انګړ د لويې دروازې تر مخ چې سړک ته وتلې وه، دوه ګړندي موټر تېر شول، اوس نو يوه بله ورځ بره شوې، له حوادثو او فاجعو ډکه ورځ او د افغانستان د مظلوم ملت د دردونو او ويرونو يوه بله تياره ورځ.

ما د کوټې له زړې او وړې کړکۍ د انګړ په لويه دروازه کې سترګې ښخې کړې وې، خو له هغو دوو موټرو پرته پر هغه لوی سړک د هېڅ شي نښه نه معلومېده، داسې ښکارېده، لکه يوې مرګونې چوپتيا په کابل د غم او سکوت څادر غوړولی وي، لکه شپه لا نه وي سبا شوې، د شپې وحشت او تروږمې لا خپل تناوونه، نه وي ټول کړي او په رڼا ورځ د شپې وحشتناک سکوت خپور وي.

هو! په کابل کې ورځ هم شپه ده، تکه توره شپه لکه ددغو غلو، قاتلينو او لوټمارو تور زړونه، په کابل کې ورځ نه ليدل کېده، هره خوا د تورو شپو د وحشت او وېرې خونړۍ تيارې خپرې د انسانيت، انصاف، ازادی، شرافت او عزت لمر د وحشتونو د تورو شپو په تل کې ډوب و، يوازې د شپو توره او تياره حکمراني چلېده.

د دروازې د څنګېر په شرنګېدو يو تنکی خو هډور ځوان کوټې ته راننوت، دوه درې تنه نور هم په دروازه کې ودرېدل، تنکي ځوان سترې مشي وکړل، له ځان سره يې وويل: چه خوب جوانا اس، حيف بندی کدن اينا، او بيا له مور سره په خبرو شو، احمد ضيا او سينا ورسره مجلس ګرم کړ، زه او پير صاحب د خپلو سوچونو، اندېښنو، او ارمانو په سمندر لاهو شوو.

داسې معلومېده لکه ددغه ځوان له مور سره څه خواخوږي پيدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې وي، پر له پسې يې مور ته د خوشې کېدو خبره کوله، له دې سره به يې دا هم ويل: ((گوسفند نر اس برای قربانی)) دا خبره کېدی شي ده په ناپامی کوله، خو مور ته به يې سخت ټکان راکړ، په پای کې يې د خراباتيانو په اکټ وويل، الا کدن تان ده وس مه نيس، ديگه هر خدمت تان باشد به سر چشم چای، نان، چرس، شراب، دختر، بچه هر چه دلتان خاست بگويين.

ده خپل نوم هم مور ته ونښود، چې زما له يادې وتلی او راځخه رخصت شو، دلته يې د توړې سيلو پوپنک وهلې ډوډۍ يو گيلاس او يوه توره چای جوش چې يوازې خوله يې لرله زمور مخې ته کېښول، که څه هم زړو نه اخيسته، خو په نوبت مو وڅښلو، هر يوه بل ته د چای ټينگ ست کاوه، داسې معلومېده، لکه يو پر بل ډېر مهربان وو، ما ځان له ټولو وروسته کړ يو دا چې له زړه مې غوښتل ملگري وړومبی چای وچښي او بل مې دا گټه هم وه، چې کېدی شوی په اخر کې مې دوه گيلاسه نصيب شوی واى، خو گټه په تاوان کېږی، تاوان دا چې کله به ايله نيم گيلاس را رسېده.

زما د چای څښلو خو دا حال و، چې له خپل مشر محترم رفيع صاحب مې هم د چا خبره وسله اخيستې او هغه راته د چايست په لقب قايل شوی و.

ورو ورو له پيره دارانو او نورو ملېشو سره زمور تعلقات جوړېدل، وخت ناوخت به يې دروازه بهرته کوله او د څه شېبې لپاره به د تازه هوا له نعمت برخمنېدو له پيره دارانو سره په اړيکو کې د احمد ضيا او احمد سينا لوی لاس و، دوی به ويل مور سياسي کار ورسره کوو، دا خبره يوه اصطلاح شوه، چې هر وخت به يې د څه هوښيارۍ او چالاکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مظاهره وکړه، نو دا خبره به يې کوله.

احمد ضيا له ځان سره بله منصوبه جوړه کړې وه، په زګېرويو يې شروع وکړه، پينځه، لس دقيقې وروسته به يې دروازه ټکوله او د قضای حاجت لپاره به له کوټې وت، له احمد سينا يې نصوار اخيستل او ددې لپاره چې استفراق وکړي کپ کپ نصوار له ستوني ټېرول، خو تقدير ته ګوره چې د يو کوتي له خوړلو سره يې هم د استفراق اشتها رانه غله، ده خپل پلان مور ته داسې تشريح کړ، چې که شفاخانې ته يې يوور، کېدی شي له هغې ځايه چاته ټيليفوني يا د خط په ذريعه احوال ولېږلی شي، زما زړه نه منله، خو ورسره مې ښه کړه، ده مسلسل زګېروي کول، اواز يې هم لړزه پيدا کړه، سترګې به يې ردې وختې، خوله به يې وچه شوه، هر پيره دار ته به يې د ګولیو نوم اخيست، چې که ورته رايې وړي، دده دغه وضعيت نژدې دري شپې دوام درلود، د حزب وحدت عيسی خان ته يې هم ډېرې خاورې په سر باد کړې، د احمد ضيا رنګ او څېره داسې شوې وه، لکه د نري رنځ ناروغ، اکټونه يې داسې طبيعي معلومېدل، چې اسمعيل شاهد سره يې سيالي کولی شوه.

د دوو ورځو په ټېرېدو نور احمد ضيا هم له دې رول سترې شوی و، مور هم ورته وويل هسې نه نصوار په رښتيا کومه ناروغي در پيدا کړي، هماغه وو چې ورو ورو يې د روغتيا خوا ته د صحت د علامو په څرګندولو قدم واخيست.

په پيره دارانو کې يو ځوان چې ډېر بدرنګه او تک تور و، سلطان نومېده، له څېرې او حرکاتو ډېر عاجز معلومېده، دده په څېره کې له مسلطې وضعې د شکايت ننښې له ورايه ليدل کېدې، په کتو کې يې د يوې ژورې کرکې او نفرت اثار څرګند و، کله به چې مور قضای حاجت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته تلو، دی به د کوټې وره کې نه درېده، ویل به یې برن، برن ازاد استین، همدارنګه وخت په وخت به ده خپله د دروازې قلف بېرته کړ، دروازه به یې پرانیسته، وبه یې ویل باش که هوای تازه بیایه.

پر دغه ورځ چې له غرمې وروسته نور ملېشه خپلو کوټو کې په درنو خوبو ویده شول، سلطان زمور د کوټې دروازه خلاصه کړه، د وره په خوله کې یې ګوندې ووهلې او په کرار یې له مور سره د خواخوږۍ خبرې شروع کړې.

ده ویل: خدای دې د دوستم او ګلبدین کورونه ویران کړي، زه هم کور کلی لرم، مور، پلار او خپلوان لرم، ده زیاته کړه، د ګلبدین او دوستم بلا نشته، د نورو اولادونه وژل کېږي.

ده یوازې ګلبدین او دوستم پېژندل، له بل هر څه ناخبره و، سلطان په ډار ډار خوله نوره هم کوټې ته دننه کړه، ویې ویل، زه یې په زور راوستلی یم، نه تنخوا شته، نه بل څه، شپږ میاشتې کېږي چې نه یې رخصت راکړی او نه کوم غیران، ټنګه.

دده د معلوماتو له مخې په مور درېدلي پیره داران نه معاش لري او نه په خپل زړه په ملېشه کې داخل شوي، بلکې په زور له کورونو اېستل شوي او له دغې احاطې د باندې وتلو اجازه هم نه لري، په دوی کې هغه ملېشه، چې په خپل زړه داخل شوي، تنخواګانې لري، د چور او چپاول لاره هم ورته خلاصه ده او تر څه قید او بندیز لاندې نه دي.

بله ډله د قوماندانانو بادیګاردان یا د خپل زړه پادشاهان دي، څه چې غواړي د نه، مه څوک یې نشته، د سلطان چې څرنګه څېره خواره او بدرنګه ده، همداسې یې لباس څیرې او پیوند و، پایزار یې هم داسې و، چې مازې پښې یې په کې بندېدی شوی، خو له بدرنګۍ او خیرنتوب سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې په څېره، خبرو او کتلو کې يو داسې اغېز و، چې پر سړي له ټولو عيبونو سره خوږ لګېدو، ماسپښين مو ددغو تعلقاتو له مخې وکولی شول، د څنګ په يوه بله کوټه کې چې لا د قضای حاجت مکان نه و ګرځېدلی په ولاړه د لمانځه اجازت تر لاسه کړی شو، دلته احمد ضيا له يوه بل کمال کار واخيست او هغه دا چې هر ګلم جم ته به يې ويل، چې يو ورور مې په مزار کې اوسېږي، د (ادينه مسجد) سيمه کې يې کور دی، خو که چېرې زما مخې ته راشي، نه يې پېژنم، ځکه دا لس دولس کاله مې نه دی ليدلی او يو ځل خو يې يوه ته له خولې ووتل، برادر مم ګلم جم اس...

د تعلقاتو دايره مو دومره پراخه شوه، چې په جمع د لمانځه شرايط برابر شول او د هغې بلې کوټې څلورو بنديانو هم په کې برخه اخيستلی شوای.

له لمانځه وروسته چې موږ بېرته خپلو کوټو ته راغلو، لږ وروسته عبدل چريک راووت، شاوخوا يې ملېشه غونډ وو، لرګي يې راوغوښتل او يو تن يې داسې وواهه، چې تر يو نيم سل لرګيو ما وشمېرل، چې په وهلو ښه ستړی شو، څه خبرې يې ورسره وکړې، چې موږ نه شوی اورېدلی، په دې کې يې يو ځل له خپل بادېګارډ نه کله کوف واخيست او په هغه سړي يې دري دزې وکړې، يوه ګولۍ يې په کين مټ، بله په ورانه او درېيمه له نامه سره ولګېده او په ځمکه ولوېد، ده دومره وويل کشش کو او له دې سره د خپلې کوټې په خوا روان شو، ملېشه وو کش کړ، موږ پوه نه شو، چې مړ شو او که يې روغتون ته يووړ، دا راز له سلطان او څو نورو ملېشو هم پټ و او يا يې موږ ته نه شوی ويلی.

له دې پېښې وروسته سلطان بيا زموږ د کوټې دروازه بېرته کړه، ويې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل، دیدین ظلمه، از دل ما خدا خبر اس، ما بخدا اګه به ای حال خوش باشیم، خدا مارم به وطن و خانه خود ببره و شمارم، ای چه حال اس، خدایا!

مانبام یې مور ته په داسې کاسه کې چې له میاشتو به چا اوبه نه وې پرې تېرې کړې، وریجې او ورسره هماغه توره سیلو راوړه، مور د وریجو له مینځه یوه مړۍ پورته کړه او نوره مو سیلو خپلو کې تقسیم کړه، سلطان چې د تشې کاسې وړلو ته راغلی و، کله چې کاسه ډکه ولیده، ښله دې چې له مور د نه خوړلو وپوښتي، وویل مور هم همدا ډوډۍ خورو، ده زیاته کړه، دلته درې دېګونه پخېږي، یو دېګ دا چې دا مور او تاسې یې خورو، دا خدای وهلې وریجې، بل د عبدل چریک لپاره ځانګړی دېګ او ډوډۍ او د هغه باډیګارډانو ته بیا جلا دېګ او ډوډۍ پخېږي.

مرګونې پوښتنه:

د قبلې ارخ ته دېخو خښتو نوی دیوال او په وړوکې دروازه کې ولاړ، ښلر پر هماغه لومړۍ ورځ مور ته پوښتنې راپورته کړې...

دوه درې واړه مو چې د شپې له بیلرو د وسله والو اوښتو راوښتو ته پام شو داسې مو ګڼله لکه د دېوال له شا د ښځینه وو ماشومانو چیغې اورو، ځکه خو دغه پوښتنې لکه د تلوسې بڼه خپله کړې وه...

سلطان مو وپوښت، لکه تبه یې ونیسي، لړزه پرې راغله، په زاریو شو، چې دا پوښتنه له چا ونکړو، ددې په وینا که چا ورځخه واورېده ژوندی به ونه وځي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورمه شپه وسله وال د نورو ورځو په پرتله زیات وتل ننوتل، چیغې او ژړا انګولا څرګنده وه...

نیمه شپه پرله پسې ډزو ټول په ځای کې راکینولو، کړکۍ ته مو منډه کړه، لږ وروسته یو کوماز راغی، بیلر لرې شوي وو، د کوماز د باډۍ شا یې له دروازې سره ولګوله، څه کم یو ساعت به ولاړ و چې ګړندی له دروازې ووت.

څه خبر دا به د ګلم جمو قصابخانه وه، که د جنرال مجید صحرایي محکمه کې د اعدام شویو قتلګا، او پلیګون، خو د پخو خبنټو دغه دېوال شاته یوازې د مرګ حکم چلېده، څوک د حزب تورن، څوک د خلق ګناهګار، ځینې د پیسو صراف، تجار، پانګوال او... د ټولو پر وړاندې د مرګ برخلیک کومې شلولې و...

د مرګ پرېکړه په خورا اسانۍ د سترګو وروځو په اشاره او د خولې په څو ټکو اعلانېدې شوای، آن چې د ټوکو مسخرو او تفریح لپاره هم د مرګ پرېکړه صادرېدې شوای پاکستان روان کو... تیرش کو... او داسې نورو شفرونو او ننبنو د مرګ حکم عملي کېده...

د ګړونګو شرنګ:

سلطان له کوټې په وتلو لا قفل نه و اچولی، چې دوه موټر د ودانۍ له لویې دروازې ننوتل، یو هماغه زمور دوه سیټه پیک اپ او بل د هغه بلې کوټې د بندیانو یو سیټه، له موټرو څلور نښځې چې رنګین لباسونه یې اغوستي، کوزې او د عبدل د کوټې په خوا په یوه باډیګارډ پسې ګړندۍ وخوځېدې، دواړه پیک اپ په بیړه بېرته له دروازې ووتل، نیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساعت وروسته موټر بېرته راوګرځېدل او د سازیندو څو تنه تړې کوز شول، لږه شېبه پس د ګړونګو شرنګ او د ساز غږ پورته شو، خدای خبر د نڅا او ساز دا لوبه څه وړ او څومره روانه وه، چې زمور د کوټې تر مخ د پښو ښکالو، او کش او ګیر مور ته بیا پوښتنې پیدا کړې، د شپې پاو باندې دولس بجې وې، له کړکۍ مو چې وکتل، د عبدل څو بادیګارډانو، بندي ډګروال ورسره په مخه کړی، کېدی شي د څه پوښتنې او تحقیق لپاره به غوښتل شوی وي، د شپې دوه نیمې بجې وې، چې بیا مو ګونګسی او د پښو ښکالو واورېد، مور له کړکۍ دباندې د کتو هڅه وکړه، که ګورو له ډګروال سره څوک خبرې کوي، ډګروال په بیړه کوټې ته ننښستل شو او دروازه ورپسې قلف شوه، سهار چې د جماعت لپاره بلې کوټې ته ولاړو، نو د ډګروال د کوټې څلورو بندیانو غوږونه نیول، توبې یې اېستلې، خو مور لا د موضوع په حقیقت نه وو پوهېدلي او راز راز پوښتنې او شکونه راسره پیدا کېدل.

کله چې سهار شاه محمد دروازه بېرته کړه، داسې معلومېده لکه له چا سره یې د باندې څه ټوکه کړې وي، چې متوجه شوه خبره د ډګروال وه، احمد سینا پوښتنه وکړه، ډګروال یې تحقیق ته غوښتی و؟ شاه محمد وویل: چې تحقیق بادیګاردای عبدل از پیشش بوجی ساختن.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درواغجنه هيله

د سهار ۹ بجې وې، چې چا د باندې زما نوم واخيست، خوشاله شوم، لکه څوک راباندې خبر شوی...؟

ما خپلو ملګرو ته ډاډ ورکاوه، که کوم جمعيتی خبر شي، بيا هيڅ غم نشته، اخر دا څه خوشباوري نه وه، ما لس کاله جمعيت کې صادقانه خدمت کړی، د جمعيت مرکزي اخبار مې چلولی و، کتابونه مې ورته ليکلي او څو ځله مې ددغه خدمت په جريان کې مرګ هم په خپلو سترګو ليدلی.

استاد رباني او د جمعيت ټولو مسوولينو او غړو پېژندلم، د اخبار او مجلې داسې ګڼه نه وه چې زما په کې څه نه وو خپاره شوي، په ټېره له فاضل سره خو مې د وختونو بلکې مودو اشنايي وه...

کوټې ته يو غټ او دنګ سړی راغی، له ماسره يې غوږ روغبړ وکړ، ځان يې معرفي کړ، چې د عبدل معاون دی، د خوست د فتحې پر وخت نيول شوی، ده خپله خوله زما غوږ ته نژدې کړه، ويې ويل: ما له ډېرو خلکو سره کومك کړی، له تاسې سره هم کومک کوم، پوښتنه يې وکړه قلم کاغذ لرې، ما ويل نه؛ ده له جېبه قلم راويوست ويل: زه درنه ځم، ته چې هر چاته خط ليکې ويې ليکه، زه يې ور رسوم، ما ورته وويل: که استاد رباني ته يې وليکم، ده خپله سينه وډبوله، چې ولې نه، حتماً يې ورسوم او له دې سره له کوټې ووت، موږ له يو بل نفر سره چې د حزب وحدت غړی او ډېر ووت ننوت خبره کړې وې، چې که امکان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولري، زمونږ خط يوسې، ده وويل ولې نه خو چې په داسې سيمه کې وي، چې زمونږ تګ امکان ولري، ما ورته وويل، دولتي مطبعه کې زمونږ ملګري دي، خط مې د قانع، فاضل او... په نومو وليکه، ما ويل چې هر يو پيدا شي، خط به ورکړې، نور ته خلاص يې، ما فکر وکړ چې په دې کې يو هم پيدا شي، خبره جوړه ده.

قانع مې نبغ سترګو ته ولاړ وي... وايم دی دې د چوکۍ او رياست مزې اخلي، زه دې د مرګ کومي کې لاس پښې وهم... به تېره چې نور عليشاه راته ووايي: چې کوڼې خبر شې، خبره خلوصه ده... ځکه خو مې د قانع هره ژمنه او خبره پر زړه اوري: که سپوره وي که پورې، ګډه به وي... دده ژمنې، په وينو لاسليکونه د طاغوت پر وړاندې د مبارزې او بغاوت سوګندونه...

نادر خان چې کابل ونيو د لښکر ځينې مشران يې اعزازي جنرالان کړل... اعزازي دا چې فرقه او غوند کې يې دنده نشوای ترسره کولای... يواځې جشن کې يې پوځي دريشي اغوستې او ځينې مراسمو کې برخه اخيستی شوای... د نادر خان له مړينې وروسته پخواني پاچا هم يو دوه کاله دغه دود پاله... او د خپل پلار دغسې انډيوالان يې دربار ته بلل...

يوه ورځ د غرمني پر وخت کوم مشر په ناپامۍ او بيړه مړۍ خولې ته کړه، دومره ګرمه او سوځنده چې پر ژبه يې پولۍ راخېژولې... خو ده بيا هم خپله خوله ټينګه کړه... له سترګو يې څک څک اوښکې راغلې... ددې لپاره چې خپلې اوښکې توجيه کړای شي وويل: نودر خون دې تېرې خورې خوري مير دې دولته غوښتې نغاړو...

حاجي نسيم راته کړه: ته له قانع مناسب غواړې...؟ له لېونې يې مه غواړه، مه يې ورکوه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

قانع به ټوله ورځ پر مېز له طبله وهلو سره سندره کوله:

الله ګل دانه، دانه دانه دانه دانه

شهرت ګله تېروه دې جېلخانه...

الله ګل دانه دانه

وېرووونکې خوښي، د ویر په تیارو کې:

ماسپښین په داسې حال کې چې عبدل چریک په کوم ښکار پسې وتلی و، یوه ملېشه مور ته وویل، هغه سړی چې له دروازې راننوت پاکستانی دی، تاسې ورسره خبره وکړئ، که څه کار مو پرې وشي.

لږ وروسته په ونه مندری تک سور او کوسه سړی، کوټې ته راغی، له څېرې داسې معلومېده، چې ګنې کوم عصري ګلم جم وي، مور ته یې د میرانشاه والو په لهجه وویل: د کیم زوی یویئ، ما ویل، مور د بېلا بېلو ځایونو یو، خو له حقاني صاحب سره کار کوو، دده څېره په رښتیا وېرووونکې وه، چې له ګلم جمو سره یې پوره ورته والی درلود، ځکه خو مې ترې پوښتنه وکړه، تاسې د کوم ځای یاست، ده بیا هم د میرانشاه والو په لهجه خبرې کولې، خو خبرې یې ګودې ماتې راته ښکاره شوې، داسې لکه له ځایه پښتون نه وي، ده وې زه د میرانشاه یم او کور مې دنډو کې دی، مور ته یې وویل تاسې څه-ثبوت لرئ، چې د حقاني کسان یئ، ما ورته وویل ثبوت څه دول وي، مور یې د فرهنګي دفتر مامورین یو، ده ویل خنکی پېژنې؟ ما چې هر څومره فکر وکړ، خنکی مې ونه پېژانده، پیر صاحب ته مې ویل، ته خنکی پېژنې، ده ویل خانکی پېژنم، خنکی نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيا يې وويل خليل پېژنې، مور ورته وويل، ولې نه، ويل ځوک دی؟ مور ويل يو حاجي خليل خو د حقاني صاحب ورور دی، ويل منشي يې څه نومېږي، مور ويل سرحدي، ده يو ځل بيا سر تر پښو راته ژور وکتل، بيا يې وويل تاسې يو خط وليکئ، زه يې ورسوم، که خدای کول مازيگر مو بيا احوال اخلم.

خط مو وليکه، خو ډېر محتاط، که عبدل يا مجيد ته يې وښيي زمور د الزام څه ټکي په کې پيدا نه شي کړی.

کله چې دی له کوټې ووت، عبدل زمور پيک اپ کې راورسېد، له ده سره يې يو څه خبرې وکړې او بيا دواړه په موټر کې ووتل.

مور کرل او رېبل، کله به خوشاله شوو، او کله سخت خواشيني او وارخطا، هسې نه دا سړی او خط مو د بلې بلا په خوله ورکړي.

مازيگر چې د اوداسه لپاره وتلی وم، کوټه کې مې د کومې مجلې پر دوو پاڼو نظر ولګېد، بې اختياره پرې ور ټيټ شوم، شکېدلې پاڼې مې راپورته کړې، په غالب ګومان د کابل مجلې د کومې ګڼې پاڼې وې، د مرحوم استاد الفت شعر مې په کې ولوست:

وربـــل يـــې مـــا پـــه خـــوب کـــې پرېشـــان ليـــدلی دی
ســـتا بخـــت خـــو مـــې رقيبـــه دغـــه شـــان ليـــدلی دی
له دامه که دې خلاص کړم په قفس کې دې ايسار کړم
صـــيادە مـــا خـــو څـــو رنګـــه زنـــدان ليـــدلی دی
تعبـــير يـــې کـــړی مـــا پـــه ظالمـــانو بـــه چپـــه شي
چپـــه کاکـــل مـــې خـــوب کـــې د جانـــان ليـــدلی دی

حسب حال شعر و، په رښتيا هم چې د استاد الفت شاعري د

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمرونو او زمانو شاعري ده، زه په همدې سوچونو کې وم، چې شاه محمد غږ کړ، راوځه؟ چې ورنژدې شوم، په ګوابښمنه لهجه يې وويل، هوښيار سړی يې دا څه کوې، نه ګورې قوماندان راوتلی، اوس به ځان هم پرې څب څب کړې او موږ هم...

يو بل ملېشه چې لطيف نومېده، د مزار اوسېدونکی او ډرېور و، له موږ سره په خواخوږۍ مخامخېده، ددې خبرې که څه هم خوښې وې، خو په عمل کې يې له ناغېړۍ ځان ډېر ناتوانه ښوده، حتی د يوې عادي خبرې او ضرورت ښه مو پرې نه کېده، لطيف زموږ کوټې ته راغی، ويې ويل دا سړی قوماندان ته ډېر نژدې دی (مطلب يې هغه مخکښی سور ږيری و)، کېدی شي ستاسې کار وشي، ده زياته کړه: هغه بله ورځ قومندان يو موټر مهمات او کلاشينکوفونه دغه سړي ته ورکړل.

سړي چې مازيګر يې د احوال اخيستو وعده کړې وه، درک معلوم نه شو، سبا مو هم ددې انتظار وکړ، خو څه پته يې ونه لګېده، موږ ته اوس د هغه په اړه ډېر شکونه پيدا شوي وو.

د بند په درېيمه ورځ يې قضا مازيګر يو بل ځوان هم زموږ کوټې ته راټېل واهه، خورا وارخطا معلومېده، ژبه يې په خوله کې داسې وچه کلکه وه، چې په ډېرې سختۍ يې ښورولی شوای.

په موږ چې دا حال تېر شوی و، ددې لپاره چې زړه ونيسي، د مينې او خواخوږۍ خبرې ورسره پيل کړې، که څه هم لومړی احمد ضيا او سينا غوښتل ټوکې او خندا ته زمينه جوړه کړي، خو د همدردۍ عنصر پرې غالب شو او له هغه سره يې د خواخوږۍ په لهجه خبرې راواخيستې.

ده په نه زړه او وېره خبرې کولې، ځان يې اصلاً د کندهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسېدونکی او فعلاً په کابل کې د دفاع انقلاب په اوپراتیفي غوند کې ضابط او نوم محمد صادق ښود، ښه دري یې ویله، داسې لکه د کابل اصلي اوسېدونکی وي، خپله کیسه یې داسې پیل کړه: میوند واټ کې روان وم، بایسکل راسره و، ملېشو ودرولم، راته ویل یې، بایسکل نه اخلې؟ ما ویل کوم، زما خپل هغه ته یې اشاره وکړه، ما ویل دا خو زما خپل بایسکل دی، په غوسه شو، ویل خبره خلاصوه په مور مه ناوخته کوه، که نه یې اخلې لار دې وهه، ما غالمغال وکړ، په دې کې څو تنه نور راغلل، په کنداغونو یې ووهلم، جېبونه یې راتش کړل، ساعت یې هم رانه واخیست او په هغه دو سیټه ډاډسن کې یې راواچولم، پیر صاحب ویل، زمور په موټر کې یې راوړې، خو د صادق په خبره ملېشو ویل، دا موټر یې له حزبیانو یوه جګړه کې نیولی، لس تنه حزبیان وو، اووه کسه مو ترې ووژل او درې مو ژوندي ونیول.

احمد سینا چې زمور د دفتر زنده دل او ظریف ځوان دی او په ډېرو سختو حالاتو کې به هم دده خوله په ټوکو خلاصه وه. پټه خوله و، لکه ګونګه روژه یې وي، ده به پر ځان عسکري ستر کوټ اچولی او تر هغې لاندې داسې پټ و، لکه له سره په کې دمه نه چلېږي، مور به که هر څو ورته وویل، چې څه درباندې وشول، ستا خو خوله له ټوکو او خندا نه ټولېده او دلته دې خوله نه چوله کېږي، دی به ایله تر عسکري وړین بالاپوښ لاندې، وښورېده او له نصوارو ډکه خوله به چوپ پاتې شو، ښه و د صادق په راتلو دده په زړه کې د خبرو او یوې نیمې ټوکې زېی زرغون شو.

صادق ښه ځوان و، هره ټوکه یې په خندا تېروله، دده خندا خپله یوه ټوکه وه، چې مور به یې نور هم خندولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جماعت په لمانځه کې مو په اشارو او سترګو سترګو کې له هغو ځلورو بندیانو سره پوهول، چې وضعه او حالات څه وړ دي او بېګا څه تېر شوي، ځکه له دوی سره د ګلم جم پینځه تنه او ډګروال بندیان وو.

د مرګ پر پوله:

د سهار ۸ بجې دي، چې د عبدل معاون مو له کړکۍ ولید، پیره دار ته مو وویل، ورته اواز کړي، هغه راغی، زه یې بلې کوټې ته بوتلم او هلته ورو ورو راته لګیا شو: زه خو پرون بل چېرې تللی وم، ستاسې خط رانه پاتې شو، تا خط لیکلی ما ویل هو! د استاد رباني په نامه مې لیکلی، ده خط واخیست او نور هم رانژدې شو او ډېر ورو یې راته ویل:

زه له دغو ازبکو سره ګېر راغلی یم، څه وکړم، ځان نه شم ترې خلاصولی، هلته مې په وطن کې بچیان د دوی په ولکه کې دي، خپل وار ته به ګورم، چې وار مې پرې برابر شي، کار به یې وکړم، بیا یې وویل ګورئ دا ډېر وحشي خلک دي، زه ډاریږم چې تاسې مړه نه کړي، د مرګ له نامه سره زما په خوله کې لاړې وچې شوې، رنګ خو مې نه شوی لیدلی، چې څنګه به و، ماته دده خبرې یوه توطیه ښکاره شوه، ژر مې ځان راټول کړ، په جدي ښه مې ویل: زمونږ مرګ دومره اسانه نه دی، مونږ داسې واړه خلک نه یو، چې له مرګه وروسته دوی څوک داسې کرار پرېږدي، مونږ علاوه له قومي او سیاسي پشتیوانۍ له موجوده حکومت مجددي، رباني، مسعود او ټولې حکومتي دستګاه سره روابط لرو، چې مونږ یو وار خوشې شو، بیا به معلومه شي.

ده د خپل ماضي یادونه وکړه، ویل یې ګوره غر په غره نه ورځي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنیادم په بنیادم ورځي، زه درسره کومک کوم، خیر که بیا کوم وخت په لوکس موټر کې زمونږ له مخې تېر شې او خوا ته مو ونه ګورې، ما ورته ویل انسان د احسان تابع دی، ستا ددغې خواخوږۍ او خبرو احسان به مونږ هېر نه کړو.

ده راځخه د استاد رباني په نامه لیک واخیست، ویې ویل: دا ټول ازبک یې چې ټول کړي په همدې یې ټول کړي، چې د غلا چور چپاول اجازه یې ورکړې، که نه څوک خو لېونې نه دي...؟

ده وویل: زه چې څه کوم یا مې کړي، وایم چې کړي مې دي، زه هم خلک لوټم، خو داسې خلک چې لږ چاغ او ښه غوښه ولري، په بېچاره وو لاس نه پورته کوم، ده وویل: زه درې واړې شوروي ته تللی یم، رتبه مې جګتورن ده، تر دوولسمه مې تعلیم کړی، خو زه چې د دوی په زړه برابر نه یم، رتبه یې نه ده رالوړه کړې.

له کوټې د وتلو پر وخت یې په جګ اواز خبره بدله کړه: د مریض غم مو خورم، زه به قوماندان ته ووایم، تاسې بې غمه اوسئ.

ترخې شپې، خواږه یادونه:

که څه هم په کوټه کې ډېر تنګ او د پښو غځولو ځای مو په سختی پیدا کولی شوی، خو د هغو دریو کسانو په ملګرتیا چې زمونږ کوټې ته یې رالېږدولي خوشاله وو، هغوی د لمانځه اوداسه پابند او د ښو اخلاقو خاوندان دي، ظاهراً یوه ځان ډېرښور بل مستري او درېیم د کډې خاوند باله، هغه ځوان چې ځان یې ډېرښور معرفي کاوه، خپل نوم همایون ښوده، ښکلی ځوان و، ګردی توره ږیره، غټې سترګې او له رنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپين و، د ښې رويې خاوند او تعليم يافته معلومېده، ده ماته وويل، ستا مضامين مې لوستي او په غياب کې مې درسره معرفت درلود.

ده خپله کيسه داسې وکړه: د موټر پرزه مو لټوله، دا مستري هم راسره و او له دغه بل صوفي سره مو د هغه د کډې راوړلو بيه خلاصه کړې وه، کله چې له پرزه فروشۍ راووتلو، ملېشه راځخه تاو شول او دا پېنځلس ورځې کېږي، چې دلته پراته يو، په دوی کې هغه ځوان چې د کرايې والا په نامه يې ځان نښوده، ډېر وارخطا و، سترګې به يې له خبرو سره له اونښکو ډکې شوې، داسې معلومېده، له ژوند يې تمه پرې شوې، خو ډرېور او مستري ډاډه معلومېدل.

همايون ويل، چې له موټر تېر يم، که په موټر خلاصېږو، زه به خط ورکړم چې دا موټر مې په ۴۰ لکه په عبدل خرڅ کړی دی.

شپې ته بيا د عبدل د نشو او تماشو پروګرام و، ښځې وې، ساز و نڅا او فحشا، مور په دغه شپه کې له نويو ملګرو سره په خوږو خبرو د خوب په اسره سترګې پټې کړې، دوی کيسه کوله چې يو مانبام يې له يوه دوسيټه ډاډسن سره ځلور کسه راوستل او له راوستلو سره يې په هغه چمن کې په ګوليو غلبېل کړل.

دوی ويل عبدل هرې دوې يا درې ورځې وروسته د نڅا او فحشا پروګرام لري او دا نور يې په خپلو کې سره اخته وي، دوی به خپلې ګوتې غوږو ته يووړې توبې يې اېستلې، بيا به يې په داسې انداز کې لکه نه شي ويلی او دا خبره پرې ډېره سخته تمامېږي، وويل قمار، چرس، شراب، زنا او لواطت د دوی کار دی. د شپې دوې بجې وې، چې د ځنځير له غږ سره دروازه په ډېر زور خلاصه شوه، درې کسان کوټې ته ننوتل، ويل يې هغه پيسې بېرته راکړئ، ژر کوئ، ټول ګوته په ماشه ولاړ وو، مور هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژر ژر پيسې ورته کېښوې، ما يو بنډل وګرځاوه، چې ګڼې پام يې نه شي او يا دومره پسې ونه ګرځي، خو هغوی چې د پيسو بنډلونه وګڼل، ويې ويل يو بنډل کم دی هله، او داسې مې هغه بنډل هم وروغورځاوه.

موږ پوه شو، چې مخکښ لوبه او د پيسو راکول ددې لپاره و، چې بادېګارډانو پرې عبدل نه و خبر کړی او ټولې يې خپلو جېبونو ته کړې وې.

سهار ۹ بجې يې ددغو بنديانو پر پک اپ د جمعيت شين بيرغ ودراوه، څو کسان په کې سپاره شول او له دروازې ووتل، همايون ويل: زموږ موټر يې مزار ته بوتی، ده وويل ښه شو، کېدی شي موږ هم خوشي شو.

همايون وويل تاسې بايد هغه سره سړي ته چې له عبدل سره يې اشنايي ده، او دې بل ته خط نه وی ورکړی، ما ورته وويل خطونه مې په ډېر احتياط ليکلي، داسې څه په کې نه شته، چې د کوم تور پلمه ترې جوړه شي، ده وويل دا خلک په پلمه ملمه پسې نه ګرځي، موږ هم په خطونو پښېمانه او وېرې اخيستي وو، خو شوی کار و اوس مو هېڅ نه شوی کولی.

د اندېښنو توپاني څپې:

د پير صاحب وضعې موږ ټول پرېشانه کړي يوو، داسې معلومېده چې کوټه کې يې دمه بندېزي، کله به وغځېد، کله به د پښو په سر کېناست کله به يې کړکۍ ته منډه کړه او کله به يې ور ټکاوه.

رنګ يې په هېڅ توګه د ژوندي نه معلومېده، کله کله به يې له ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره لاسونه خوځول، په خوب کې به يې هم خبرې کولې، په تېره کله به چې زمور پک اپ له دروازې دننه يا دباندې ووېستل شو، د پير صاحب حال بېخي کوما ته رسېده.

په زړه پورې دا چې کله به د پښو په سر ناست او سر په ګوندو تکيه کړی و، ناڅاپه به يې زه د پښې تر غټه ګوته ونيولم، وبه يې ښورولم او چې ما به سترګې ور پورته کړې، ده به په وارخطايۍ سره وويل: چې غم ونکې ننګيول سويب: او بيا به يې بېرته سر په ګوندو کېښود، لږ وروسته به يې بيا دا عمل تکرار کړ او کله کله به يې دا هم ورسره زياته کړه، سر دې وخوري پيسې، ښې شوې چې وايې خيستې، دغو پيسو ضرور مير ته غم جوړاوه. مور اندېښمن وو، چې هسې نه کوم عصبي شوک پرې راشي، ځکه له نورمال او عادي حالت د باندې و.

يوه ورځ يې يو څه سپينه سيلو ډوډۍ راوړه، احمد سينا په خندا خندا کې وويل، نن مور صاحب منصبان شوي يو، ما ويل څنګه...؟ ده وويل دا د صاحب منصبانو سيلو ده، خو د صاحب منصبانو سيلو په مور داسې کانه وکړه، لکه ګولۍ نژدې وه، تر کلمو مو پورې ورې وخېژي.

د مستري په نامه بندي په تاخچه کې دغه ډوډۍ، ګولۍ، شيرينۍ او څه نور شيان اينبي وو او زمور د پام غلطولو لپاره به يې ويل، دا زما دوکان دی، احمد سينا چې په وره کې له څپليو او بوټونو سره پروت و، ويل زه د څپلو دوکان لرم، څوک چې د باندې وتل له ده به يې يوه جوړه څپلۍ رانيولې.

اوس نو مور له پوره نهيلۍ سره مخامخ وو، د حزب وحدت ملېشه چې پيسې او خط مو ورکړي و، په حوېلۍ کې ګرځېده او هېڅ څان يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه پوهاوه، د عبدل معاون هم درک نه و او د هغه سور ککي هم پته نه لګېده، مور د داسې ګنله، چې لا تر اوسه په مور نه جمعیت خبر دی او نه څوک.

هغوی ازاد شول:

مور هغو دریو تنو ته وویل، که تاسې خلاص شوئ، زمور احوال به رسوئ او که مور خلاص شو، ستاسې احوال به رسوو.

په دغه ورځ بیا مزار ته زمور د وړلو اوازه شوه، سلطان ورو وویل: لکه تاسې مزار ته وړي، خو بیا یې ژر دا خبره ورسره مله کړه، مزار ښه دی، هلته که دوستم خبر شي، تاسې ضرور خوشې کوي، مازیګر درې بجې دي، چې د کوټې دروازه خلاصه شوه، مور ته یې غږ کړ، چا ورته وویل دا نه هغه بله ډله، مور یې بېرته کوټې ته ننیستلو او هغه درې تنه یې ورسره وایستل، مور له کړکۍ کتل، عبدل چې د خپلو باډیګارډانو په مینځ کې ولاړ و، له دوی سره لنډې خبرې وکړې او له لږ ځنډ وروسته یې خوشې کړل، خو مور پوه نه شو، چې له دوی سره به یې څه ویلي وي مور د دغو دریو تنو په خلاصېدو خوشاله شو، چې زمور احوال به هم تر یوه ځایه ورسوی.

له دغو اندیوالانو سره مو د مینې او وروری داسې اړیکې ټینګې وې، لکه د کلونو پېژندګلوي او اشنایي مو وي، له همدې امله وه، چې د دوی د بېلتانه دوك مو هم تر مابنامه احساس کړ. مور له صادق سره ډېرې کیسې کړې وې، د خوستوالو خبره ښه جمه مو جوړه وه، دلته په یوه ساعت کې د بندیانو ترمینځ داسې اړیکې جوړېدې، لکه عمرونه چې پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېر شوي وي، څکه خو زمونږ ترمینځ هم د اخلاص لورېنې او صداقت یوه پخه رابطه ټینګه شوې وه.

دا شپه مو هم څه په ویښه څه په خوب او ډېره په سوچونو او خیالونو کې تېره کړه، ما به چې خپلو ملګرو ته وکتل، نو هر یو به ویښ پروت و، که زمونږ پر ځای هرڅوک وای، همدا حال به یې و، مونږ د ژوند له یو سخت امتحان سره مخامخ وو او د الله تعالی له دربار پرته مو د نجات هېڅ لوری نه لیده او هېڅوک مو په حال نه خبرېدل.

له سهاره تر غرمې د معمول مطابق وخت تېر شو، احمد ضیا پر دې ورځ ډېر ناکرار و چې هرڅوک به یې ولیدل، په جان او قربان به یې د خپل خلاصون عریضه ور وړاندې کوله او چې هغه به ورځخه ولاړ، نو ورو ورو به یې کنځل پیل کړل، عیسی خان چې اوس له مونږ سره بلد شوی و وویل: د قوماندان عبدل ورور راغلی، که هغه مو څه غم وخوړ، د عبدل په ورور پسې یې غږ وکړ، هغه راغی ستړي مشي یې وکړل، احمد ضیا ورته پیر صاحب وښود، چې مریض او وضعه یې خرابه ده، تور زېړي نیولی، که تاسې مهرباني وکړئ، قوماندان صاحب ته سفارش وکړئ.

عیسی خان هم ورته وویل، دا بېچاره ګان کومه ګناه نه لري، پرېږده چې اختر په خپلو کورو کې تېر کړي، زمونږ هر یوه چې څه زده وو، هغه مو وویل، د قوماندان عبدل ورور چې له ده مشر او څه معتدل مزاجه معلومېده، وویل، خوب شو یک چاره میکنم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وحشت دېوان، د ښاپيريو په هوس کې:

د شپې نهه نيمې بجې دي، د عبدل يو باډيګارډ چې عبدالقيوم نومېده، دروازه بېرته کړه، ويې ويل، راوځئ، مور وارخطا شو چې په دې توره شپه کې بيا له څه بلا سره مخامخ کېږو، پوښتنه مو وکړه، ويې ويل، قوماندان غوښتي ياست، کله چې د قوماندان د اطاق په پورې مو پل کېښود، يوه څلور کنجه ستره کوټه مو مخې ته راغله، چې نوې رنګ شوې، له دې وړاندې بله کوټه ده، کله مو چې د هغه پر درشل پښه کېښوده، داسې مو وګڼله لکه بلې دنيا ته راغلي وو، سړي فکر کاوه، د کوم اروپايي کلب فلمي نندارە کوي او يا هم په کوم خارجي ناول کې د هغو کلبونو عيني تجسم ويني، دا نسبتاً لويه کوټه ده، دېوالونه يې تازه په شنه روغني رنګ ښکلي شوي، لاندې د مور غالۍ غوړېدلې، چې هغه ستره کوټه يې له يوه سره پوښلې، شاوخوا مډرن او ښکلی فرنيچر پروت دی، عبدل په يوه اوږده سيټ، يوه ښکلي توس او بالښت ته ډډه وهلې، د کوټې په چت د څراغونو ډېرې قيمتي او ښکلې قبې ځړېدې، په چت او دېوالونو رنګينو څراغونو مسلسل سترګکونه وهل.

چې کوټې ته ننوتلو، عيسی خان هم په يوه کسيزه سيټ کې بوخ ناست دی، سلام مو ورکړ، د ننوتلو اجازه مو غوښته، په ډېر ادب او مظلوميت کوټې ته ننوتلو. عبدل لاس را اوږد کړ او له هر يوه سره يې ستړي مشي وکړل، مور ودرېدو، ده راته د کېناستو اشاره وکړه، مور لاندې په فرش ګوندې ماتې کړې، خو عبدل کوچونو کې د کيناستو اشاره وکړه، سينا وويل همدا ځای ښه دی صاحب، خو عبدل چيغه کړه: بر کېنئ، سينا له ټولو وړاندې پر کوچ وروغورځېد، په مېز يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترموس، څو پیالې او په قابونو کې خشتي قند او ګاو چاپي پولندې چاکلیټ پراته وو، عیسی خان ته یې د چای اشاره وکړه، هغه پاڅېده، خو ترموس تش و، قیوم ته یې غږ کړ هغه چای راوړ او مور ته یې یوه یوه پیاله کېښوه.

زمور نظر په کوټه کې ورک شو، په بر کونج کې د قبلې خوا ته، وې سي آر چالان دی، یوې ښځینه سندره ویله، په الماری کې ډېر ټیپونه ((ځینې په کې د موټر)) ایښي، زمور هغه وړوکی ټیپ هم پکې لیدل کېده، د کوټې منظره فوق العاده جالبه او حیرانوونکې وه، شاعرانه نه وه، خو عاشقانه او مستانه ضرور وه.

عبدل په لاس کې د تلوېزیون ریموټ اړاوه را اړاوه ماته یې مخ کړ: نغمه دې لیدلې؟ ما که څه هم د نغمې د حسن اوربدلي وو، خو تر هغه وخته مې په وي - سي - آر څېره نه وه لیدلې، نغمې په وي- سي- آر دا سندره کوله:

ډکې لارۍ دي را روانې د خیبر نه
کله به راشې له پېښور نه

د نغمې سندره حسب حال وه، له خیبر ډکې لارۍ ځغلېدې، له پېښوره زمور غوندې دوزخي پردېسیان د جنتي وطن په مینه راستانه شوي وو، خو دلته د مرګ او ډار هیولا له پخوا زیات کومي شلولي، هماغه اووه دوزخونه وو، چې هرڅه یې ایرې کړي و.

ځکه خو له دې ځایه هم د خیبر په لور ډکې لارۍ یوه پر بله پسې روانې وې، داسې چې ددغو دوزخونو په مینځ کې څوک تلل او څوک راتلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدل خپلو خبرو ته دوام ورکړ: نغمه اوس ډېره چاغه او غټه شوې، پخوا ډېره ښکلې معلومېده.

ده د نغمې د بدن د هرې برخې په هکله خبرې کولې او د هغې جوړښت او کچه یې تشریح کوله، بیا یې خوله له خندا تر غوږو جینګه کړه، ویې ویل: زما یې دا غاړه ډېره خوښېږي.

زه حیران وم، چې دده د خبرو په رابطه څه ووایم، که چوپ پاتېږم، هسې نه بده یې وګڼي او غوسه شي او که څه وایم نو خدای حاضر دی، په دې هکله راسره د ویلو هېڅ نه و، ما دده سترګو ته کتل چې کله به له عادي حالت ووتلې، سترګې به یې وګډېدې، ټکان به یې وخوړ او د خبرو لړۍ به ترې ګډه وډه شوه، زه پوهېدم چې ددغسې وګړو جنایات، وژنې او ظالمانه اعمال دوی په نورمال او عادي حالت کې نه پرېږدي او هره لحظه امکان لري، وړه خبره یې هم ډېر خطرناک اقدام ته اړ کړي، ځکه خو دده په اړه زما په زړه کې نوره وېره پیدا شوه.

خو احمد سینا د خبرو وار ړومبی کړ، په وارخطایی یې له خولې ووتل، اوس "نغمل او منګه" هندوستان ته تللي، داسې سندرې یې ویلې او هغسې فلمونه یې ډک کړي، عبدل یې خبره غوڅه کړه، ښه ده چې تللي که نه اوس به یې له دغو ډیرورو خرو سره څه کول؟

ماته یې په کتو زیاته کړه: دا ډیرور خره ملایان ګوري، کله چې په تلوېزیون کې د ښځې څېره راځي، په ځای یې ګل ښکاره کوي، ما ویل ګل ښه بدیل دی، ښه ده، بل څه نه ښیي، په زړه کې وایم کاشکې له احمد سینا سره یې سترګې مخامخ شي، زه دده د پوښتنو په رابطه څه ویلی شم؟

ده په ریموټ فلم له سره کړ، یوه بله سندرغاړې چې ده ورته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

رحيمې نوم واخيست، سندرې ويلې د هغې په هکله يې هم ډير څه وويل، خو ښه و، سينا ورسره لګيا شو، دروغ رښتيا يې ورته بادول.

ده بيا د نغمې خبره راواچوله، ويې ويل پخوا به چې زه کابل ته راغلم، حتماً مې ورسره ليدل، سينا ورته وويل، قوماندان صاحب نغمې تا سره خبرې کولې؟ ده په ډډ غږ او جدي ښه وويل: هوا! زما له پيسو سره يې خبرې کولې، سينا به ضرور دده د خبرې په مقابل کې يو څه بادول ما په زړه کې ويل، خدای دې خير کړي، په کومه خبره د سينا بريک ونه شلېږي او په غم مو وانه ړوي. ده بيا ماته سترګې ونيوې، که څه هم ما کوښښ کاوه، له ده سره مې سترګې ونه لګېږي، خو تصادف ته ګوره، زما او ده سترګې به سره مخامخ شوې.

په دې وخت چې يوه بله سندرغاړې د تلوېزيون پر سکرين ښکاره شوه، دده خوله بيا تر غوږو جينګه شوه، ويې ويل: دا (ستاره) ده، يره دا م قلف مال دی، بيا يې ماته مخ راواړاوه، ويې ويل دا موټر حقاني تاته درکړی، ما ويل زما خپل دی... ويل، دا چې په ګولايي کې په تېزی سره تاوېږي د چپه کېدو خطر يې څومره دی، ما ددې لپاره چې موټر يې تر پام بد کړای شم، وويل فوق العاده زيات، دغه مادل ډېر ژر اوړي، له دې هغه مخکينی ښه دی، هغه چې کله په تېزی سره ګرځي، ټايرونه يې پلن او مايل شي او نه چپه کېږي، ده وويل سرعت يې څومره دی څه نورې پوښتنې يې هم وکړې، ما ويل زه د موټر په رابطه ډېر معلومات نه لرم، ده ويل: چا شاړه ((چلاوه)) پير صاحب مو په ګوتو ورکړ، څه پوښتنې يې تړې وکړې، خو هغه هم داسې ځوابونه ورکول، چې که دده زړه له موټر تور کړای شي، ده د موټر د قيمت پوښتنه وکړه، ما يې قيمت هم کم وښود، په دې وخت کې بلې سندرغاړې ته وار ورسېده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده بیا د تلوېزیون خوا ته اشاره وکړه: دا ژینوس ده (کېدی شي ما یې نوم سم نه وي اورېدلی او یا ده سم نه وي تلفظ کړی) او اوس یې له یوه سرمایه دار حاجي سره دوبی کې واده کړی.

ده په خبرو خبرو کې د خپل ژوند کیسه وکړه، ویل زما خور څوک دولتزي یې وښودل، تښتولې وه، زموږ زور ورسره برابر نه و، بیا چې تره کی راغی، زه له مجاهدینو سره شوم او د حزب اسلامي سرګروپ شوم، خو هغه زموږ دښمنان هم مجاهدین وو، زه له یوه میل کلاشینکوف سره حکومت ته واوښتم، تر یوه وخته په یوه پوسته کې وم، خو بېرته له دریو کلاشینکوفو سره حزب ته تسلیم شوم، دا ځل د یوې ډلې قوماندان شوم، خو څه موده وروسته بېرته له حکومت سره یو ځای شوم او له دوستم سره مې اندیوالي شوه، دا دی تر جنرالۍ ورسېدم.

ده وویل: زه مخکې ډګروال وم، خو کله مې چې کابل کې له حزبیانو سره په جګړو کې هغوی ته ماتې ورکړه، او له ارګه مې وایستل جنرالي یې راکړه، دده په وینا: دا خره دي، حکومت نه شي کولی، دوستم په مزار کې له ایران، شوروي او هندوستان سره روابط ټینګ او قراردادونه امضا کړي، موږ څه وخت ګورو که حالات ښه نه شول، بیا سالنګ بندوو، هلته مو خپل حکومت او واک دی.

د عبدل په وینا له کابله حزبیان ده شړلي، اول دا ځای دا غوندې ټولې حزبیانو نیولې وې، ما حمله پرې وکړه، کسان مې هم لږ وو، په یوه ساعت کې مې دا ټوله سیمه ترې پاکه کړه.

یو شمېر مې چې ژوندي ونیول... له دې خبرې سره یې له ډېرې غوسې څېره توره و اېښېده په لږ ځنډ یې په ټینګو ټکو وویل... ټول مې سلې خلا (خلع السلاح) او په هماغه ځای چانماري کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددە په خبره کله مې چې له ارګه حزبیان وایستل، یو څو کورونو ته ورغلم، هغه کورونه د هندوانو وو، هندوانو ته مې ښه جزا ورکړه، خو دا یې ونه ویل څرنګه جزا؟

ده ویل: زما درې ښځې شته، خو دوې نورې هم کوم، یوه هندوه کوم او بله مې چې هر وخت قدرت ورسېد، که سپین ږیرې هم وم، له هغه کورنۍ څخه چې زما خور یې تښتولې...

ده وویل: زه مو خوشې کوم، خو د فرقې معاون مو نه خوشې کوي، احمد ضیا ددە په توصیف خوله خلاصه کړه، ویل چې تاسې وغواړئ د فرقې معاون هېڅ نه شي کولی، موږ ته معلومه شوه چې ستا په مخ کې جنرال دوستم هم نه شي درېدلی، ستا خپله پادشاهي ده.

ده له موږ د تنظیمونو پوښتنه وکړه، په ده د تنظیمو او د هغې د مشرانو غیبت ښه لګېده، ځکه خو سینا ته د خبرو وخت په لاس ورغی، یوه له غړه او بله له سمې (له همدې ځایه وه چې احمد ضیا ورته د رحیم پوف لقب ورکړی و) ددە په وینا ننګرهار کې یو سړی رحیم نومېږي، دېرې لافې شافې او درواغ بادوي، خلکو پرې د رحیم پوف نوم ایښی، خو سینا مو چې ولیده، رحیم پوف یې په ګرد پسې نشوای رسېدی) داسې څه یې بادول، چې نژدې وه په هغه خطرناک وخت کې له غمه په کړس کړس وخاندو.

سینا په خپل تقریر کې د سکته قلب خبره وکړه، عبدل ټکان وخوړ، فکر یې وکړ سکته قلب به څه بده خبره وي، ویې ویل، سکته څه...؟ سینا چې ددە ګډېدلې سترګې ولیدې، لاړې یې خوله کې وچې شوې، په وارخطایی یې وویل، زز زړه د، درېدل داسې معلومېده لکه په دې خبره هم د عبدل سر نه وي خلاص شوی، خو نور څه یې ونه ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سینا په خبرو عبدل من من غوښې اخیستې، ده وویل دا ډېر بېغیرته خلک دي، ګوره دا څو شپې تاسې دلته بندیان یئ ته وایې دوی به نه وي خبر، ولا خبر دي، ګوره ستاسې پوښتنه قدرې هم ونه کړه، سره له دې چې تاسې به د دوی لپاره څومره مندې کړې وي او څومره خطرونه او سختی به مو په ځان تېرې کړې وي.

سینا ته بیا د خبرو وار ورغی، ویې ویل: مور ته معلومه شوه، چې دوستم تا دوستم کړی، تا هغه ته دا نوم ګټلی، داسې دې کړي او هغسې دې کړي دي. ده له سینا پوښتنه وکړه، د کوم ځای یې، سینا ویل د جلال آباد، عبدل په جلال آباد کې د خپلو جګړو او ۸ میاشتنیو عملیاتو یادونه وکړه، چې هلته مو داسې وکړل، داسې وجنګېدو او داسې مو اشرارو ته ماته ورکړه، یوه ورځ داسې وشول او بله ورځ هغسې. سینا لږ شانته چوپ شو، لکه په کوم ژور سوچ کې ډوب وي، په ډېر غور یې وویل: ولا ستاسې نوم مې اورېدلی، هلته ټول ستا له نامه سره اشنا دي، ټول دې یادوي او ټول دې پېژني، ستا کیسې کوي، عبدل په کوچ کې کېناست، ځان یې جدي ونیو، لکه دنیا ټوله ددې پر ښکر ولاړه وي، ویې ویل: څنګه به مې نه پېژني، د اشرارو بېخ او بنیاد خو په جلال اباد کې ما ایستلی.

ده ویل: مسعود دا دومره کاله ولې کابل ته نه شوای داخلېدی، دوی ټولو ښه زور وواهه، خو ویې نه شوی کولی، چې نجیب له مینځه یوسي، خو مور وکولی شوای هغه ختم کړو، اصلي قدرت له مور سره دی، مسعود هسې برای نام خبره ده، اوس که مور وغواړو مسعود به نه وي او چې مور د مسعود حمایت پرېږدو مسعود ختم دی.

ما خپله داسې ګڼله، لکه د اور په تبې ناست یم، هره لحظه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساعت ته کتل، دولس بجې شوې، له جنرال عبدل مو اجازه وغوښته، خو ده ویل: کښئ خبرې کوو، مور ویل: تاسې به ستومانه وئ، د ارام وخت به مو وي، خو ده بیا تکرار کړه، کښئ؛ سبا مو خوشې کوم، ددې له خولې د خوشې کېدو په اورېدو مو ځانونه داسې وګڼل لکه همدا اوس خپلو کورو کې اوسو.

دا وخت چې په وي- سي- آر یوې هزاره ګی سندرې ویلې، عبدل عیسی خان ته وویل: په تاسې هزاره ګانو کې هم د کندهاریانو خبره نامي نښځې شته، هغه په ذلیل او حقیر انداز وویل، صایب افتخار است، صایب افتخار است، بیا یې وخندل، لکه دا خبره یې هسې په ټوکه او د ظرافت په حساب کړې وي.

عبدل د هزاره ګانو د عسکري تعلیم خبره راواخیسته ویې ویل، کله چې هزاره ګان تعلیم کوي، د یو - دوه په ځای یکک، دوکک، یک دوکک، واز جفت وایي، عیسی خان به له خندا شین شو، که به خندا نه ورتله هم خوله به یې داسې شکولې وه، لکه ښه د زړه له تله خاندي.

عبدل یو ځل بیا ماته خپلې خونکاره سترګې په یوه مرموزه ښه راواړولې، ویل: دا مردګاوان زمور کسان ولې له ښاره تښتوي او وژني؟ ما ویل څوک؟ ویل: ګلبدین او سیاف زه بیا وارخطا شوم، ما ویل لکه بیا یې د حکمتیار او سیاف په تور ونیوې، ومې ویل څه خبر؛ ښه نه کوي، ده ویل مور هم کولی شو ان د سیاف او ګلبدین د اوسېدو ځای په یوه مرمۍ ایرې کړو، خو دا کار نه کوو، په زړه کې مې ویل: دریغه دا کار مو کړی وی...

له یوې بجې هم څو دقیقې تېرې وې، ماته شکونه او اندېښنې رامخې ته شوې، چې دا دومره کښول څه معنا؟ عبدل له یوه لنډ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سکوت وروسته راته کړه: ما خو ویل چې سبا به مو خوشې کړم، خبره دا ده چې سبا مونږ بیا پروګرام لرو، هغه مېله او سیل به راسره تېر کړئ بیا به ځئ، مونږ ترې مننه وکړه، چې اختر ته دوې ورځې پاتې دي، ایله خپلو کورو ته ورسېږو.

احمد ضیا وویل، ما په کور کې د دوو شپو خبره کړې اولس ورځې ووتې، په کور کې به مو قیامت جوړ وي، عبدل ویل، داسې سات به مو تېر شوی وای، چې تر عمره مو یاد پاتې وی چې کابل ځنګه کابل دی، نن مې هم موټر او سړي لېږلي وو، خو کار سُر نه و نیولی.

عبدل عیسی خان ته مخ واړاوه، ویې ویل: زه خو له دې خپلو کوکریو (بادیګاردانو) عذاب یم، چې کله څه مېله جوړه کړم، دوی په کړکۍ کې سرونه نېغ نیولي وي.

احمد سینا ورته ویل: قوماندان صاحب کړکۍ ته پرده ونیسه، ده لکه د سینا خبره له سره نه وي اوربدلې، خپلې خبرې ته یې دوام ورکړ، ته وګوره هغه بله شپه ما هېڅ ونه کړل، ته ماته ګوره هر طرف به مې چې مخه کړه، نو دا کوکري به راپسې وو.

د چا نوم یې واخیست، ویې ویل هغه شپه ... اراموني خپل کار کړی و.

د ساعت عقربه دوو بجو ته نژدې کېده په داسې حال کې چې دده د خبرو په اړه مو هېڅ دلچسپي او معلومات نه لرل، پرله پسې، لګیا وو، ایله یې رادو ګړی ته وکتل، ویې ویل: اوهو څومره وخت تېر شوی، مونږ له ځایه پاڅېدو، ده ویل: اوس ورځئ، سبا مو خوشې کوم.

چې کوټې ته راغلو، صادق همدا پوښتنه کوله، څه یې ویل: مونږ رښتیا خبره ورته وکړه، چې سبا مو خوشې کوي، ده په ډېر عجز او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مظلومیت وویل، زه به یو خط درته ولیکم، د خدای لپاره چې هېر مې نه کړئ، مور ډاډ ورکړ، بېغمه شه، ستا احوال به حتماً مور په خپله رسوو او داسې د خوشې کېدو په خوشالۍ کې مو سرونه ولګول د خوب په تلوسه مو سترګې پټې کړې، خو خبره به د نه منلو راته بنکاره شوه، کله به مو زړه ښه شو او کله به بېرته د مایوسۍ څپو په سر واخیستو.

سبا له لمر خت سره ټول کړکۍ ته ولاړ وو، زمور موټر چې عبدل خپله دده خبره شاړه، چالان شو، د عبدل ورور مزار ته روان و باید تر هوایي ډګره یې رسولی وی، موټر له دروازې ووت، ځیسی خان راغی، ویې ویل چورت مه وهئ، خوشې کوي مو، قوماندان راګرځي، له ورور سره یې ولاړ.

یوولس بجې وې، چې موټر بیا راغی، عبدل خپلې کوټې ته ننووت او باډیګارډان یې خپلې ته، تر دریو بجو هېڅ پته ونه لګېده، تر دریو بجو پینځه دقیقې تېرې وې، چې عبدل موټر ته وخوت او له دروازې ووت، زمور په زړه د نهیلۍ لمبې بلې شوې او دا مو یقین شو، چې د عبدل بېګانۍ وعده ډرامه او یا هم څه توطیه وه.

احمد ضیا خو داسې بې تابه و، چې نه یې په ناستې طاقت کېده نه په ولاړه او نه هم په کړکۍ کې په درېدو - ساړه ساړه اسویلي وو چې له سینې یې یو په بل پسې ختل، یو وار به ودرېد، لکه د لېونۍ کړکۍ ته به یې منډه کړه، بیا به څملاست او بېرته به کېناست، ویل یې نور مې زړه چوي، دا څل چې عبدل راشي په زوره زوره چیغې کوم.

څلور نیمې بجې وې، چې دریې تنه راغلل او زمور د کوټې دروازه یې بېرته کړه، عبدل چې زمور له موټر سره وتلی و، لا نه دی راګرځېدلی.

په دوی کې یو تن هغه و، چې مور یې پر لومړۍ ورځ له دې ځایه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوايي ډګر ته وړي وو، دوه تنه نور مې له يادې وتلي، د همدې قرارګاه وه، که بهرني؟

موږ يې له کوټې وايستو، نه پوهيږم چا څه خبره وکړه، چې يوه تن ورته وويل، امر قوماندان صاحب اس، کله چې دروازې ته ورسېدو، هغه ملېشه چې له ما يې پيسې اخيستې وې، هلته ولاړ و، ما نه غوښتل ورته وګورم، خو دی راوراندې شو، ويل خدا حافظ، بخښش باشه.

اسير کابل ، آزاد يادونه:

د قرارګاه له دروازې راووتلو، خو نه پوهېدو پر کومه ولاړ شو، داسې معلومېده، لکه ماغزه او حواس راځخه مرور شوي، يو ځل به مو يوه لار غوره کړه او بيا بله، ډار او وارخطايي اخيستي يوو، هسې نه د ګلم جمو په بله ډله واوړو، ما خپل ملګري ټول له نظره تېر کړل، خو لکه د ازادۍ پر دې نېکمرغۍ شکمن وي، هغسې چې يو انسان خپلې ازادۍ ته خوشالېږي، نه معلومېدل.

د نندارتونو ودانۍ له يوې مخې نړېدلې، کابل نندارې سوځېدلې د ژوند پر مرۍ، د مرګ خپسې منګولې لګولې دي.

د جشن له سيمې د عيدګاه پر لور وخوځېدو، چمن ته چې ورسېدو، بېرته دوه زړي شو، چې پر کومه ولاړ شو، هېڅوک نه ښکارېدل، لارې واټونه تش دي، يو ځل مو د چمن د مينځ لار خوښه کړه، که ګورو په چمن کې ټانکونه ولاړ دي، بېرته راوګرځېدو او مخامخ روان شو، د فرخي نړېدلې سينما له څنګه مو يو ټکسي وموند، د چهلستون مو ورته وويل، دوه زره افغانۍ يې غوښتې، په ۱۸۰۰ سره سلا شو، حرکت مو وکړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چلوونکي ته مو وویل: په داسې لار مو بوځه چې ګلم جم نه وي، څه یې ونه ویل، نېغ یې پر جاده روان کړو او په هماغه سر چوک تېر شو، چې موږ یې تري نیولي وو، دوه ټانکونه او ګڼ ملېشه ولاړ وو، په جاده کې یواځې د دوی جیپونه ځغلېدل، د اپارتمانو له کړکیو د بنکار په تمه د شاوخوا په څار لګیا وو.

چهلستون ته غځېدلې لار له ګذرګاه وړاندې جګړو په کنډواله اړولې، د ژوند ډیوه په کې وار له مخه ګل وه.

لوړ مازیګر ټکسي د چهلستون بڼ په مخه کې کوز کړو، د باغ له دروازې په ننوتو مو شاوخوا وکتل، څوک پېژندګلوي مو ونه لید، مخ په وړاندې روان شو، په لار کې د پیر صاحب یو ملګري ستړي مشي وکړل، له سوځېدلي قصره چې تېر شو، که ګورو برنډه کې ضابط اکبر شاه له څو نورو ملګرو سره ناست دی، زموږ په لیدو له ځایه پورته شو او په چا یې زموږ د راتلو زېړی وکړ، حاجي خلیل الرحمن او نور اندېښوالان برنډې ته راووتل.

چې کوټې ته رسېدو، بیا ټول مخې ته راوتلي وو، ډېر زیات خوشاله وو، په کوټه کې کېناستو، حاجي خلیل چای راوغوښت او د خبرو سر مو راونیو، پوښتنه یې وکړه، موټر کتابونه یې هم در کړل، موږ ویل نه، ده ویل خیر دی چې تاسې خدای تعالی راخوشې کړئ.

حقیقت دا و چې سور ککي سړي زموږ خط راوړی و، هغه په میرانشاه کې د وسلو سوداګر و، چې له ګلم جمو یې وسلې پېرودلې، ځکه خو یې له عبدل سره هم یارانه ټینګه وه، نوم یې نصرالدین او اصلاً د مزار و، نیمه کورنۍ یې ایران کې وه، کېدی شي د وسلې له تجارت پرته په نورو لینو کې یې هم لږ او ډېر اغېز او رول و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه دري تنه چې له مور سره بندیان او ځانونه یې مستري، درېور او کډوالۍ معرفي کول، زمور احوال چهلستون ته رسولی و، چې که همدا نن مو غم ونه خوري، مزار ته وړل کېږو.

حاجي خلیل دفاع وزارت ته اخطار ورکړی و، چې نور چهلستون درپاتې دی هغوی صبر او زغم ته باله.

مور ته حاجي خلیل او نورو ملګرو ډاډ راکاوه، چې په جهاد کې تکلیفونه راځي، د الله تعالی فضل دی، چې تاسې ژوندي راووتلئ، په موټر پسې دې بلا وي، ټولو ویل چې تاسې شکر وباسئ چې عیبي کړي یې نه یاست، نور خو یې چې نیولي داسې یې وهلي چې سر او لاسونه یې پرې مات کړي، ړانده کړي یې دي او د یوه تن خو یې یو لاس دوه ځایه مات کړی دی.

د خوستوالو په وینا غیوګینه پیزې یې تري لندې کړې...

له چای وروسته مو د ازادۍ هوا چکر په زړه وورېده، باغ ته راووتو، داسې معلومېده لکه سړی خوب ویني، مور په باغ کې یوه بله خوا ګرځېدو، خو ذهن او خیال مو اوس هم د ګلم جمو د محبس په هغه تنګه تروشه کوټه کې ایسار و، مور د اوداسه په اوبو پسې شو، چې سینا په بیړه را روان دی، په خندا خندا کې وایي: د باغ له دروازې وړاندې د دوکانو تر مخ د سړک پر غاړه پر تبخي د ینې کباب دی، ماخو غاښونه پرې تاوده کړل، ستاسې څه زړه دی، زمور زړونه داسې سولېدل، لکه څوک یې سوان کوي، څکه خو مو په هغه لوري مخه کړه، که ګورو دوړو او خاورو کې یو ځوان لګیا دی، د ینې توتې، پیاز او رومي بانجان یې په پلته یې اشتوب ایښي سره اروي را اروي یې، ما او پیر صاحب هم د دوو خوراکو وویل او هغه په بوه واړه پلاستیکي قابکي کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو دوې څمڅی راواچول، د پاسه یې پرې د سرکې یوه کاشوغه تاو کړه او مور ته یې ونیوه، مور دده هغه د دوو خوراکو په حساب خواړه، په دوو دریو مړیو کې پوښنا کړل او دغه وړ مو د زړه سولېدل څه ناڅه په کرار شول.

پروګرام داسې شو، چې سبا به له قانوني سره ګورو، زمور جامې د خیریو او خولو له لاسه د کتلو نه وې سر او صورت مو هم داسې و، لکه بل پوست مو راباندې غوړولی وي، ځکه خو حاجي خلیل الرحمن راته خپلې جامې راکړې، مور ځانونه ومینځل جامې مو بدلې کړې دا شپه مو ښه د خوند او ارام خوب وکړ.

از آن دیار مرا یـــــاد میدهد امروز
که مردمانش اسیرند و مملکت آزاد
(پژواک)

له قانوني سره لیدل:

- ډګروال سید نعیم شاه له وړاندې قانوني سره ارتباط نیولي و، چې ابوحنیفه مدرسه کې مو یو ځای درس وایه، پلار یې یوسف خان د مدرسې د لیلې سر معلم و، یوسف خان د ټولو و، په ده هم ګرد زده کوونکي منلی وو، ټولو ته یې لکه د پلار حیثیت درلود، هماغسې مینه او تلوسه یې ښوده، قانوني ډګروال سید نعیم ته زما د ملګرتیا ویلي و، خو د څه اقدام زړه یې نه و کړی.

ډګروال سید نعیم له جنرال مجید سره هم لیدلي و، خو هغه ورته ویلي و، چې مور ورسره اسناد نیولي، زمور پر ضد یې کتابونه خپاره کړي او اخبار، مجلې یې مسلسل زمور پر خلاف مضامین چاپ کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

څکه دا کار تحقیق او وخت غواړي.

مور پرېکړه وکړه، تر ټولو ویاندې له قانوني سره وګورو، پیر صاحب راته کړه، ډګروال صاحب دې یوازې ولاړ شي، ته ښار ته مه څه.

خو ما له کتابو زړه نه شوی صبرولی. پیر صاحب ویل: په دې خلکو باور نه شته، څکه خو یې له خپلې ملتیا غاړه کږه کړه، چې نور داسې خطر ته اوږه نه شي ورکولی.

زه او قانوني همصنفیان او سره ملګري وو، خو قانوني له ما یو ټولګی ویاندې شو... دا چې څرنګه یو راز دی چې افشا کېدن ملي ګټې زیانمنولی شي...؟

زه او ډګروال صاحب له چهلستون ووتلو، د ملي امنیت په مخه کې ډګروال صاحب له یوه سور رنګه سړي سره چې د تورن په نامه یې یاداوه، ستړي مشي کې، د قانوني پوښتنه وکړه، تورن ویل: نن نه دی راغلی، کورنۍ یې له پېښوره رارسېدلې، ممکن رانه شي. ډګروال ورته وویل: دا ننګیال دی، تورن ماته سر تر پښو څیر څیر وکتل، بیا یې وویل ښه دا ننګیال دی، لکه په زړه کې یې تېره شوې، دا خو چندان شی نه دی.

ډګروال صاحب د موټر او کتابو خبره ورسره وکړه، ده ویل زه ستاسې په کار پسې ګرځم، خو دا ډېر رذیل خلک دي، منطق نه ورسره ویل کېږي، هغه بله ورځ چې دواړه هوایي ډګر ته تللي وو، له ما سره وېره پیدا شوه هسې نه تا رانه تاو کړي.

مور بېرته چلهستون ته ستانه شوو، د پیر صاحب سترګې د سر په کاسه کې له اندېښنې غار غار معلومېدې، زمور په راتلو هومره خوشاله شو، لکه د ګلم جمو له محبس نه په خوشې کېدو...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضايع شوي کتابونه، اسناد او خپرونې...

د کتاب شوق مور ته په میراث پاتې دی، پلار مې له کابله د هرې میاشتې انیس، اصلاح ستپلر کلي ته راوړل، تر پېښور، لاهور او ایران یې کتابونه څارل، چې له چا به یې د کوم کتاب ستاینه اوربدلې وه، له لټون او موندنې یې زړه نشوی راتولولی.

د مدرسې وختو کې له کوره را اخیستی جیب خرڅ په هماغو لومړیو کې د کتابو په رانیولو راڅخه لګیده، چې بیا به په میاشتو بې خرڅه سپېره پاتې وم.

د مهاجرت لومړیو کې یې مور مجردانو ته د میاشتې ۳۰۰ معاش راوټاکی- سم نیمایي به مې په هماغه لومړی ورځ یونیورسټي بک

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایجنسي کې منشي عبدالرشید ته پر میز کېښوې، په څو میاشتو کې مې د کوټې الماری ډکې شوې.

یو وخت چې پولیس په هوټلونو، سرایو کې په مجردو افغانانو پسې لګېدلې وو، دغسې یوه چاپه کې زما کوټې ته هم راننوتل، خو چې پر کتابو یې سترګې ولګېدې، باور وکړئ چې د پېښور هغه بدغوني پولیسان یې داسې اغېزمن او رام کړل، چې نه یوازې له شره یې خلاص شوم بلکې احترام ته مې هم رامات شول، د کتاب د دغه هیبت او کرامت له امله ما ټول ژوند او امکانات کتاب- ته وقف کړل.

استاد رفیع دغه شوق پر یوه نشه او خمار راوړاوه، او د کتابو، پاڼو او اسنادو په ټولولو معتاد شوم.

تاسې ته دې وویل شي، چې د مهاجرت څوارلسو کالو کې داسې کتاب، مجله، اخبار، پوسټر نه و، چې ما نه وو، راټول کړي، ان چې د تنظیمو د خپل منځي ناندریو په اړه مې د دوی شبنامې او تبلیغاتي پاڼې او پوسټرونه هم راغونډ کړي وو، پردې سربېره مې د پېښور، اسلام اباد او لاهور کبارخانو او د زړو کتابو ستالونوکی نایاب کتابونه موندلي وو، (تاج التواریخ) لومړنی چاپي نسخه مې د لاهور جمعه بازار له کتابپلورنځیو رانیولې، ما او هاشمي صاحب به د جمعې له سهار تر مازیګره د انارکلی بازار زړو کتابو کې اړوله.

استاد رفیع د کاغذي پیسو کلکسیون کې د سقوي دورې نوټ نه درلود، دا له ماسره و، له بده بخته چې ده ته مې ورنه کړ، دغه نوټ هم په دغه حادثه کې له لاسه ووت.

د تنظیمي مشرانو د خپل منځي ناستو، پرېکړو او دې ته ورته اسنادو لویه برخه د مجلو، اخبارونو ډېری کلیکسیونونه د مهمو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصویرو البومونه، خطی نسخې، د جهادي مشرانو لیکونه، کستۍونه له منځه ولاړل.

د اخوانیانو له خوا داودخان ته د جاسوسی په تور نیول شوي انجینر جان محمد د پلټنو او صحرایي محاکمې دوسیه چې د اوازو له مخې یې دیګ کې د پخولو پر سزا محکوم کړی و، په ۱۳۵۴لمریز کې پاکستان ته د اخوانیانو له اوښتو وروسته د دوی د فعالیتو، غونډو، پریکړو او پلانونو ریکارډ، د غونډو د تصاویبو راجستر، چې د استاد رباني په قلم لیکل شوی، داود خان ته د استاد رباني له لیکونه او بلا نور اسنادو سره...

د احمدشاه مسعود او حقاني صاحب د مخابروي اړیکو دوه کلن کلیکسیون چې د حساسو پرمختیاوو پر څرنګوالي (۲۱) کستۍ کې راټول وو...

تنظیموته د I S I له خوا د وسلو د سهمیي د لوړتیا او ځوړتیا د معیارونو کچه... د دغو وسلو د وېش د بېلا بېلو فورمو یوه یوه بېلګه... نظامي کمېټې ته یې د سپارلو د ثبت کتاب او رسیدونه او د دغې لړۍ نور اسناد او مدارک...

هغه کتابچه چې د مشهورو څېرو شخصیتونو، لیکوالو، شاعرانو، سیاستوالو، سندرغاړو... د دوی پخپل قلم او لاسلیک خاطری او یادونې مې په کې راټولې کړې وې... له مېرمن رخشاني راواخله تر استاد پژواک، شهید عزیز الرحمن الفت ډاکتر طبیبي، ډاکتر یوسف خان، ډاکتر صمدحامد، جنرال ساپي استاد رفیع، کشاف، فایز، کشککي، استاد پسرلي، حمزه بابا، مولوی خالص، استاد رباني او...

دحاجي صاحب د ژوند او خاطرو په اړه زما د بېلا بېلو مرکو، ناستو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجلسونو کستونه «ځینې مې په پټه ثبت کړي وو» چې پر مختلفو پرمختیاوو او پېښو زما د سختو، حساسو او ګستاخانه پوښتنو راټول وو... د کستونو دغه کلیکسونو په باور سره ارزښتناک تاریخي او لومړی لاس مواد برابرولی او ګڼ نا ویلي رازونه، تاریخي واقعیتونه اوحقایق برسېره کولای شوای...

د مولوی خالص د چاپ او ناچاپ شعرونو ټولګه، د عبدالهادي هدایت د مقالو مجموعه او ...

ما پنځلس کاله د دغو اثارو، مدارکو په موندلو راغونډولو اړولي او د مهاجرت په بې کوریو کې خوندي کړی وو، په حقیقت کې دغه اثار او اسنادو زما د ژوند بیه او یواځینی پانګه وه، ځکه خو مې ترې زړه نشوی راټولولی.

اختر د ویر او غم په تیارو کې:

د اختر لمونځ د چهلستون بڼ کې وشو، یوه ملا په خپلو خبرو کې ویل: پخوا دلته چا کتلی نه شوی، له فسق او فساد پرته په کې بل څه نه کېدل، خو نن د الله تعالی فضل او کرم دی، چې مجاهدین په کې د اختر لمونځ کوي.

دغه ملا به څو رژیمونه، حکومتونه دغسې ستایلي غندلي وي... څو به نور ستایي غندي...؟ والله اعلم...

حاجي خلیل د اختر په خاطر د مجاهدینو لپاره پسونه او غوایي رانیولي، هغه یې تقسیم او هر چا خپله کټوی بار کړه.

له لمانځه پرته داسې نه ښکارېده، چې د اختر د خوشالۍ کیفیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

تري څرګند شي، د هيڅا په څېره کې د اختر کومه نښه نه معلومېده. پر مور د اختر دري ورځې په سوچونو او اندېښنو کې تېري شوې، داسې چې اختر هم راځخه هېر و...

حاجي خليل ويل: ما زياتره اخترونه په سنګرونو او مرکزو کې، تر بمباريو لاندې په سختو جګړو کې تېر کړي، خو بيا به هم خوشاله وم، ده ويل، زه په خپل ټول عمر کې دومره نه وم خواشينی، لکه دا څه موده...

په بې قانونه دستګاه کې قانوني اکټونه:

محمد يونس قانوني د کابل ښار د امنيتي کمېسيون رئيس دی، ډېری اداړو ته ښلا ښل امرونه او سپارښتنې ورکوي... له يادو او ښادو حکومتي څېرو ګڼل کېږي، ځکه خو له اختر وروسته د دولتي امنيت وزارت کې د ده ليدو ته ولاړو، له ښه بخته دا ځل مو ښاغلی قانوني لاندې کړای شو، که ګورو د څو کسانو په منځ کې فاتحانه وزارت ته ننوت، زما په ليدو يې په موسکا وويل، نصيب دشمنا، ستړي مشي يې وکړل، مور يې خپلې کوټې ته بوتلو، غالباً دا به د جنرال يعقوبي دفتر و، په چوکيو کېناستو او دی له مراجعينو سره په خبرو بوخت شو، هره يوه ته يې يوه ورقه امضا کوله، چې ډېری يې پر سر کاري هوټلانو کې د مېشتېدنې پانې وې، داسې ده په دغه وزارت کې د ډېرو وزارتونو او اداړو کارونه اجرا کول، کله چې زمور وار راورسېد، بيا يې له سره پوښتنه وکړه، ويې ويل له تاسې سره خو د حزب اسلامي څه اسناد نه وو؟ ما ويل که له اسنادو مو مطلب له حزب سره د انسلاک او تعهد هغه وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه او که مو کومه نشریه، کلکسیون وي، کېدی شي.

د قانوني خبرې او اکټونه د دپلوماسۍ هغه وختل له دې امله چې یو خو مې د مدرسې ټولګیوال و او بل مو د هجرت په کلونو کې هم له نژدې لیدل، په ساده لهجه وویل: هیله ده، په تشه کاغذي کارواییۍ مو تېر نه باسې، ما خو دا ګڼله چې تاسې به خپله قانوني اقدام وکړئ جنرال مجید ته به ورشئ کتابونه، موټر به را خلاص کړئ...

مدرسه کې د قانوني منلي کرکټر ما ته ډاډ راکاوه، چې خپل زړه پرې تش کړم، خو دا وخت زړو ته د زړونو خبرو لار نه شوی موندی زما خبرې د اقتدار د ادابو او پرنسیپ خلاف ښکارېدې، په لږ غوسه یې وویل! زه چې څومره امر صاحب ته احترام لرم، همدومره حقاني صاحب ته هم احترام لرم، زه چې دلته ناست یم، ستاسې او نورو خلکو د مشکلاتو په خاطر ناست یم، که نه څه مجبوریت نه لرم، زما چې له لاسه څه وشي، هغه کوم.

په دې کې یې پر کاغذ څو کرښې ولیکلې او ماته یې ونیو، په هغه کې یې جنرال مجید ته لیکلي و، د ننګیال د موټر او کتابونو د استرداد په هکله له خپل لطف او مهربانۍ کار واخلئ، ما چې دده خبرې واورېدې او کاغذ مې ولوست، پوه شوم چې اشنا بل مودې کې دی، ځکه خو ما هم ځان کنټرول نه شوی کړی، ورته ومې ویل! تا زمونږ د مشکلاتو د حل خبره وکړه، خو دا مشکلات پیدا کړي چا دي؟ دا مصیبتونه تاسې پر خلکو راوستي، اعتراف وکړئ، چې ستاسې له وسه پورته دي، زه دا نه وایم چې تاسې ائتلاف کړی او که هغوی درسره کړی، تاسې هغوی کابل کې تم کړي یا تاسې هغوی د کابل پر تخت کښولي یاست، خو دا هرڅه چې دي مسوولیت یې ستاسې پر غاړه دی، دا مصیبتونه تاسې پیدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي، تاسې خپله ويلي ملبشه د اسلامي پوځ برخه ده، اوس څنګه د خپل وس خبره کوي...

ډګروال صاحب چې وضعه وليده، مينځ کې راولوېد او په يو دوو خبرو يې دې ته زمينه مساعده کړه، چې يو له بله خدای پامانې واخلو.

زه له وزارته راووتم، ډګروال صاحب څه څنډ وکړ، چې راغی ويې ويل: وروره حوصله کوه، مجبوريت دی، که نه ولا چې مونږ له داسې خلکو سره خبرې نه کولې، ده ويل له ما سره هغه تورن وعذه کړې، چې جنرال مجيد ته راسره ولاړ شي، هغه د څه عاجل کار لپاره د باندې ځي، خير دی، مونږ به ورته انتظار وباسو.

دلته مو د بدخشان يو فرهنګي ځوان عبدالسلام چې د جهادي نشراتو د ټولولو په رابطه يې له ما سره تعلقات لرل او د مرحوم شارقي له مخلصينو و، مخې ته راغی، عبدالسلام د رادیو تلوېزيون موټرو ته د تېلو لپاره بنا غلي قانوني ته راغلی و.

دی زمونږ په کيسه نه و خبر، خدای شته له زړه خواشينی شو، ويې ويل قانوني چې کوم خط ليکلی په داسې خطو څه نه کېږي، ده وويل، جنرال مجيد مزار ته تللی، که نه ما به څه لاره ورته جوړه کړې وه... ما ده ته خپل ادرس د چهلستون د ټيليفون شمېره ورکړه، د فاضل او نورو پوښتنه مې وکړه، ويل هغوی کابل هوټل کې اوسېږي، د کابل هوټل شمېرې مې ترې واخيستې او خدای پامانې مو وکړه، تر دولسو بجو مو د تورن انتظار وکړ، خو درک يې معلوم نه شو، دا چې له قانوني څه نه جوړېږي، تورن هم په وعده ولاړ سړی نه و، ځکه خو مو نور انتظار بېځايه وګانه او بېرته چهلستون ته راوګرځېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ارګ کې د واکمنۍ زېړه پانه:

سلا مو وکړه، له احمد شاه مسعود او مجددي سره هم وګورو، لس بجې ارګ ته ورسېدو د ارګ عمومي لویه دروازه تړل شوې، له هغې کوز ختیز اړخ ته یې بله دروازه پرانیستې، چې ترمخ یې د خلکو ډېره ګڼه ګوڼه لیدل کېده، ساتونکي خورا بې نظمه پټ وو، چې شور او زوږ یې سړي ته د زنانه حمام اصطلاح ور په یادوله.

څلورو پینځو کسانو چې هر یوه جلا پوزښتن درلود، یوه یوه مخابره غوږ ته نیولې، له دوی نه یوه کوم چینل ته زموږ د راتلو خبر ورکړ، ویې ویل دلته دوه نفره راغلي وایي، موږ د مولوي حقاني نماینده ګان یو.

له دې سره یې موږ ته د وړاندې تلو اجازه راکړه، لږ وړاندې بله پیره ولاړه وه، هغوی زموږ موټر وکوت او د دې لپاره چې حتما باید یو څه ووایي، څو لنډې پوښتنې وکړې، ساتونکو عجیبه دریشی اغوستې، د چا پر سر د وسپنې خولی، د چا پکول او چا به څه ټوټه له سره تاو کړې وه، دریشی تنګې لنډې او هسکې ټیټې، چا د ډګروالی او چا د جنرالی نښې لګولې.

موږ مخ پر وړاندې حرکت وکړ، ما تر اوسه ارګ نه و لیدلی، دشور کودتا سره یې خلکو ته د ارګ د ننداریې اجازه ورکړې وه، ډېرو دوستانو ارګ په هماغه حالت کې لیدلی و، چې د وژل شویو وینې لا له ځمکې او فرش نه وې مینځل شوې، خو ما په هغه وخت کې هم ارګ ته لار پیدا نه شوی کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

د ارګ بڼه سپېره او الوتې، ما د ارګ په رابطه بل تصور درلود، زمونږ موټر ورو روان و، د سړک دواړو خواوو ته د خښتو ټوټې، وچ خس او خاشاک او د کاغذونو ټوټې، پلاستيکي کڅوړې پرتې وې، چې باد يوه بله خوا ځغلول په يوه برخه کې چې موټر بايد بېرته پر يوه ګرځندي د عمومي سترې دروازې لارې ته وګرځي، د ترافيکو يو افسر په نه زړه او بېزارو سترګو موټرو ته اشاره کوله، که څه هم هډور ځوان و، خو څېره يې داسې نه معلومېده، لکه په ارګ کې د يوه موظف افسر.

له ګلخانې سره نژدې له موټره کوز شو، د ګلخانې تر مخ تر لويه ونه لاندې پر سپېرو خاورو خلک پنډ وو، داسې معلومېده لکه پېښور کې د کوم تنظيم د دفتر مخه، يوې خواته لوکس فجارو او لنډوکروزر موټر درېدلي، د ترافيکو يو بل افسر داسې زمولیدلی ولاړ دي، چې سړي به ورته کتل، زړه يې پرې درد کاوه.

سخت بيرو بار و، مراجعين دومره نه وو، خو ساتونکو غوبل جوړ کړی او ساتونکي هم بيا په يوه خوله نه، يوه به يوه خبره کوله، بل بله، له هر يوه سره مخابره ده، که په لومړۍ دروازه کې يې درته ويل حضرت صاحب له چا سره ملاقات نه کوي، دلته به يې ويل له خارجيانو سره ګوري، بل به ويل له غرمې وروسته يې پوښتنه وکړئ، بل به بيا له سکرتر سره د رابطې خبره کوله.

عمر اثير چې يو وخت يې د محاذ او بل وخت د جبهې موسمي اخبارونو د مهتمم په توګه لاهور کې څو واړه له موږ سره ليدلي او پېژندګلوي وه، د حضرت صاحب د سکرتر په توګه کار کاوه، ډېر ښه قد او قواره يې ايستلې، رنګ يې په سپينوالي کې يو ډول غوړه سرخي پيدا کړې، زمونږ له مخې څو واړه تېر و بېر شو، سترګې به مو هم سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولګېدې، خو کتل يې داسې و، چې د پېژندګلوی کوم اثر نه شوی په کې ليدل کېدی.

نژدې يو ساعت مو له ډېرو سره په ټټر ټټر کې وهلو وروسته معلومه کړه، چې له حضرت صاحب سره ليدل که د بل چا لپاره نه وي، زمونږ لپاره ناشونی دی.

د ډګروال صاحب خو اعصاب داسې خراب و، چې نژدې وه له ډېرو سره خبره سوک څېړې ته ورسوي.

دفاع وزارت کې د ګټې او بايلات حقيقت:

د مسعود ملاقات:

مونږ له ارګه ووتو او د عمومي لويې دروازې سره مخامخ ودانۍ ته چې له خلقيانو دمخه دفاع وزارت او وروسته لکه د مرکزي کمېټې دفتر و، اوس بېرته د دفاع وزارت مقر او د احمد شاه مسعود دفتر دی ور وګرځېدو.

د دفاع وزارت تر مخ د اسلم وطنجار ټانک چې د ثور انقلاب د بری سمبول ګڼل کېده، بې درکه دی، خو د ټانک لپاره ډيزاين شوی سټيج پر ځای دی، خو کودتا کې يې د وژل شويو کسانو د نومونو ډبرليک راغورځولی...

مونږ دلته بيا په دروازه کې له ساتونکو سره څو دقيقې بحث وکړ، ترهغې چې د تلو اجازه يې راکړه، په دې شرط چې موټر د باندې لېږې ودرول شي، چا مونږ ته کيسه کړې وه، چې يوه ورځ د ګلم جم ملېشې څوک ټانکونه د يوه وزارت له مخې تېرېدل که ګورې د مجاهدينو څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلي موټر ولاړ دي، ټانکونه يې ودرول کيبلونه يې راخلاص کړل موټر يې پسې وټړل او د سترګو په رپ کې پناه شول.

نه پوهيږم د ډګروال صاحب په ربښتيا اعصاب خراب و او که اعصاب خرابی اکټ يې وکړ، خو ساتونکي يې داسې ووېرول، چې سملاسي يې د موټر اجازه ورکړه.

مورږ د احمد شاه مسعود سکرتريت ته ننوتلو په مخه کې يوه چوکاټ ډوله اله ايښودل شوې، له دې په وتو د سکرتر په کوټه کې کېناستو، مسعود درې سکرتران او يو ضابط امر درلود، د يوه سکرتر نوم يې همايون د بل نجيب او د درېيم رانه هېر دي.

د همايون په نامه سکرتر يې ښه رويه کوله، که به چا کومه ترخه خبره ورته وکړه، په موسکا يې تېروله، ستوغه او تونده يې په خوله نه راتله، په خبرو کې يې د غوسې او اعصاب خرابی نښه نه ليدل کېده.

ښاغلي همايون مورږ ته وويل امر صاحب له چا سره ملاقات لري، ورپسې ستاسې نوبت دی، پنجشيريان او نظار شورا متعهدين احمد شاه مسعود ته امر صاحب وايي او اوس چې د دفاع وزير په چوکۍ ناست دی، دوی ورته هماغه د امر صاحب نوم اخلي.

د سکرتر پر مېز اته لس ټيليفونونه ايښي، کله نا کله به دې کې متردد شو، چې زنګ د کوم ټيليفون دی، ډېری به يې د هغه ټليفون غوږۍ پورته کړه، چې زنګ يې نه و وهل شوی، د مسعود بل سکرتر نجيب ، برګه پرانګي دريشي له يوه برګ جمپر سره اغوستې د جانب مقابل پر وړاندې د يو ډول غوراوي چلند لري، که به چا عريضه او د خپل کار په رابطه ټينګار وکړ او د ده په خبرو به يې سر خلاص نه شو، نو ده به ورته سترګې او وروځې وګډولې، لاسونه به يې لکه د اجړاګانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وښورول پر ځانګړې اکټ او د تمسخر او غوسې په ګډه لهجه ستغ ځواب لکه دده عادت و...

کله به چې د وزیر د دفتر دروازه بهرته شوه، نو مخامخ به احمد شاه مسعود ښکاره شو، چې د مثلث په بڼه ایښودل شوي میز شاته ناست دی، د میز شاوخوا نورې چوکۍ هم پرتې وې.

احمد شاه مسعود په خپل هماغه زاړه اکټ خو نوي انداز د میز تر شا داسې معلومېده، لکه د وجود په رګ رګ ځنګ ته د ناست سړي خبرې اوري.

له لږ ځنډ وروسته همایون مومند ته اجازه راکړه، زه او ډګروال صاحب چې شعبې ته ننوتلو، مسعود هماغسې پکول پر سر کومند ایښی و، برګ جمپر او شین چک پتلون یې اغوستی، د پتلون پایڅې یې په پولیسي موزو کې ننیستې، له مومند سره یې په غېږه تود روغبړ وکړ، ډګروال صاحب ورته وویل، ننګیال د حقاني صاحب د فرهنګي دفتر مسول.

زمومند هېواد کې ځینې خبرې په غلطه مشهورې شي، یوه خبره چې خوله پر خوله ګرځېده دا وه چې حکمتیار له احمد شاه مسعود غومند پرې کړې، ځکه پکول کومند وېدي، چې پرې کړی غومند پټ کړی شي...

مسعود ماته داسې په ځیر وکتل، لکه عجیبه ورته ښکاره شوی وم، داسې چې د خپلې توقع خلاف څه ویني، له ده سره زما لنډ ملاقات هغه مهال شوی و، چې حقاني صاحب ورته پېښور کې مېلمستیا کړې وه، ما په جهاد هینداره کې د ده له خولې دا ټکي را اخیستي و، چې د قوماندانانو شورا په جوړېدا، نظار شورا ته اړتیا نه شته، خو د ده تصویر د اخبار لاندې برخه کې راغلي و، حقاني صاحب راته وویل: میلمه دی دا عکس به دې لږ لوړ چاپ کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته خپل کیسه او په دې رابطه لیکلې پاڼه وړاندې کړه، دی لکه له وړاندې خبر وي، په یوه پاڼه څه ولیکل دا پاڼه یې له هماغه طلایي رنګه چاپي کتابچې ببله کړه، چې ښاغلي فاضل لاهور کې دفاع وزیر لپاره چاپ کړې وه، ده په خپل ضابط امر پسې څوک واستول، ماته یې په داسې لهجه چې ژور تاثر ترې معلومېده، وویل: زما چې ډېر بد راتلل، له بې نظمۍ او ګډوډۍ مې بد راتلل، خو دا دی اوس خپله ورسره مخامخ یم، خیر دی مور او تاسې به لږ حوصله وکړو...

په دې وخت کې د ده ضابط امر راغی، مسعود لیک ورکړ، ویې ویل دا لیک جنرال مجید ته ورکړه، ننګیال هم درسره بوځه، هغه باید ماته ولیکي، چې موټر ورکوي، که نه چې، زما لپاره سند شي.

مور د مسعود له دفتره راووتو، ډګروال صاحب ورسره پاتې شو، په دهلیز کې یو تور رنګه او بدشکله سړی ولاړ و، چوغې پرسېدلې سترګې یې وې له ضابط امر سره یې خبرې وکړې، ویل یې د ۵۳ فرقې پېشنهادونه یې د احکامو لپاره راوړي، ضابط امر ترې د جنرال مجید پوښتنه وکړه، ویل: مزار ته تللی او په ځای یې جنرال فاریابي کار کوي.

ضابط ماته وویل؛ زه ښېرته امر صاحب ته ورځم، چې له دې جریان یې خبر کړم، ضابط ولاړ، خو زر ښېرته راووت، دا ځل یې د جنرال فاریابي په نامه خط ورکړی و، زه په ضابط پسې روان یم، هغه مخ راواړاوه ویې ویل: ډوډۍ به وخورو، پخلنځي ته ولاړ، اشپز ته یې وویل، مور ته ډوډۍ همدا اوس راکړه، اشپز وویل: له وزیر صاحب سره یې نه خورئ؟ ده ویل: مور چېرته روان یو، دلته هم درې ځایه ډوډۍ پخېده، د وزیر او د هغه د سکرترانو لپاره جلا دېګ او جلا اشپزخانه وه، د لوړ رتبه افسرانو لپاره جلا دېګ او اشپزخانه او بله عمومي اشپزخانه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

انظباطانو او عادي کارمندانو ته يې ډوډۍ تيارووله.

څرنګه چې ډوډۍ خوړلو ته لا څه وخت پاتې و، څکه خو يې مور ته د لوړ رتبه افسرانو خوړنځي کې د ډوډۍ ترتيبات ونيول، د اشپزخانې له څنګه يوه اوږده کوټه ده، چې د ډوډۍ خوړلو يو ستر مېز او دوارو غاړو ته يې چوکۍ پرتې دي، په قابونو کې يې وريجې، غورمه او د وريجو په مينځ کې د غونبې يوه يوه بوټۍ اينبې، سلاد او کېلې هم ورسره وې، ضابط ماته ويل، موټر لرئ، ماويل زما په موټر پسې خو دا دی روان يوو، د ډګروال صاحب موټر کې کېناستو او په هماغه استقامت مو حرکت وکړ، چې مور د جنرال عبدل مېلمستيا خوړلې وه.

د عبدل د قرارګاه سره نژدې کابل نداري ته په غځېدلي سړک وګرځېدو، د برېښنا د يوه برج تر شا يوې ودانۍ سره له موټره کوز شو، دا يوازينۍ ودانۍ وه، چې څه نا څه جوړه وه، داسې معلومېده، لکه د مسعود سکرتر هم دلته له وېرې تخرګونه سوځېدل.

يو پنډ ګلم جم پرې سختې پټکې وکړې، په دې وخت کې يو بل سړی راغی، هغه هم ورسره ترخې خبرې وغځولې، د دوی ترمينځ کومه خبره راغله، چې ضابط امر ورته په يوه دمه پينځه څله قسمونه وخوړل، مور ته يې د وړاندې تلو اجازه راکړه، خو د جنرال فاريابې د کوټې دروازه کې يې بيا ودرولو، يو مليشه له مور مخکې ننوت، چې ببرته راووت ويل ورشئ.

جنرال فاريابي برګه عسکري دريشي اغوستې، که څه هم له سر او صورته مهذب معلومېده، خو د جنرال مجيد چلند زه داسې وېرولی وم، چې ده ته مې د لاس ورکولو زړه نه شوای کولی.

ضابط ورته د مسعود ليک ورکړ، ده ليک ولوست، ويل: سمه ده دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

موټر کتابونه او سامانونه له مورِ سره شته، کتابونه سوځوو، نور به يې موټر ورتسليم کړو، خو دا معامله له مجيد خان سره ده، هغه مزار ته تللی، سبا بل سبا حتماً راځي، فکر مه کوئ.

د سوځولو په اورېدو، زما زړه ټينګه څړيکه وکړه، آخر کتاب سوځول کوم لامل لرلی شي...؟

د مندېي د تالان ګوابنې:

په دې وخت کې هغه سړی راغی چې وزارت ته يې د ۵۳ فرقې پيشنهادونه راوړي و، له جنرال فاريابي سره يې په ازبکي خبرې وکړې، چې مورِ پرې ونه پوهېدو.

جنرال فاريابي د ټيليفون غوږی پورته کړه، له خبرو پوه شو چې له لوی درستيز آصف دلاور سره خبرې کوي، ويل: مسعود ته مو پيشنهاد کړی، چې زمورِ د افرادو لپاره د اعاشې او نورو مصارفو منظوري ورکړي، خو هغه ويلي تاسې د خپلو افرادو تعداد او قرارګاوې واضح کړئ، ده زياته کړه، مورِ مجبور يو چې همدا اوس خپلو قواوو ته امر ورکړو، چې له مندېي نه مواد راوړي، مورِ د آصف دلاور خبرې نه اورېدې، خو جنرال فاريابي وويل: نه پيسې مو له کومه کړې، په زور به يې له مندېي راوړي.

کله يې چې د ټيليفون غوږی کېښوده، دمسعود ليک يې بېرته ضابط امر ته ورکړ، خو هغه ليک قات او د مېز پر سر کېښود، چې راووتو ضابط امر ويل: ډېر سپي او رذيل خلک دي، مورِ يې بدنام بدنام کړو... بېرته دفاع وزارت ته راغلو، معلومه شوه، احمد شاه مسعود

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډوډۍ خوري، ضابط امر ورغی، زه په دهلیز کې ودرېدم، له لږ ځنډ وروسته احمد شاه مسعود راووت، په ما یې غږ کړ، ډوډۍ مو خوړلې؛ ما وویل، هو! ده زیاته کړه ډوډۍ تیاره په مېز اینبې که اشتها مو وي مهرباني وکړئ، ما وویل مننه.

په ناقانونه موقف کې:

ډګروال صاحب د فرملي په نامه د جمعیت له یوه قوماندان سره د باندې وتلی، زه د مسعود د سکرتر په اطاق کې د هغوی په انتظار کښناستم، که ګورم استاد موسی توانا چې د جمعیت لپاره د پنډت حیثیت لري، له څو کسانو سره راغی، زمونږ د ځای یو ضابط طاهرخان په کوټه کې د جمعیت نماینده، قوماندان انور خان جګدلک او قانوني هم راغلل.

قانوني قوماندان انور خان ته په مخ اړولو، ویل: دا ننګیال دی، د حقاني صاحب فرهنګي آمر، دی هم زمونږ اندیوالانو نیولی، او لس پنځلس ورځې یې بنه مېلمستیا ورکړې، موټر، کتابونه یې ترې نیولي دي، انور خان د حال احوال پوښتنه وکړه، ویې ویل: په هغه قرارګاه کې زمونږ څو تنه مجاهدین او یو قوماندان هم بندیان وو.

بیا قانوني، توانا ته مخ واړاوه، ویل: ننګیال صاحب زیات اثار لیکلي، په تېره وینه په قلم کې ډېر عالي اثر دی.

توانا صاحب وویل: هغه کتاب چې د شاعرانو او لیکوالانو سوانح یې په کې راوړې، قانوني وویل: هو.

توانا پوښتنه وکړه: بل ټوک دې نه دی بشپړ کړی؟ ما ویل کار مې پرې شروع کړی و، خو د ځینو مشکلاتو له مخې مې یې تکمیل ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرصت نه دی موندلی.

بیا قوماندان انور خان، قانوني او هلته ناستو نورو کسانو زمونږ د مجلو او اخبار ستاینې ته راوګرځېدل، دا چې ډېر د لوړې سویې نشرات دي، ډېر ښه مطالب خپروي په عالي صحافت چاپېرې تحلیلي او تحقیقي اړخ یې له نورو درونده دی. داسې نورې ستاینې یې کتار کړې، ما ورته وویل: د هغې بدل دا دی په ازاد او ستاسې اسلامي افغانستان کې ګورم، ټولو د افسوس په څرګندولو ویل: دا شیان نو راځي، یوه تن په کې لا دا هم وویل: دا دې نه دي اوږدلي، انقلاب خپل بچیان خوري... په دې وخت کې ډګروال صاحب راورسېد، له دوی سره مو مخه ښه وکړه او له وزارت راووتو، اوس مونږ ته دا پته لګېدلې وه، چې د کابل هره حکومتي ودانۍ یو زندان دی، یوازې د ګلم جم ملېشو دومره زندانونه دي، چې په هره قرارګاه او پوسته کې تر لسو شلو د خدای تعالی مخلوق له لوټ وروسته، په شپو شپو اوونیو اوونیو بندیان ساتي، کانتینرونو کې یې غورځولي دګرځنده زندانو لړۍ یې غځولې، وزارت دفاع، امنیت دولتي او نورو ارګانو او لویو وړو قوماندانانو زندانو، کابل د زندانو پر یوه اوږده زنځیر اړولی...

د څرخي پله زندان تش تور معلومېده، خو د کابل ښار په هر واټ هره کوڅه کې زندانو کومې شلولی...

یو راخلاص شوی بندي به دې چې ولید، ویل به یې بالاحصار کې وم، بل به ویل بیمارو کې وم، بل به پل محمود خان یاداوه، بل به ویل په جاده کې وم او بل به نور ځایونه ښودل، له دغه هر بندي سره به یې له کمیس پرتوګ او بوټونو پرته نور هېڅ نه وو پرې اینبي، د ډېرو به چې څپلۍ او بوټونه نوي وو، هغه به یې هم ترې اخیستې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

له خانقا تر شاهي ارګه

دوه بېل واقعيتونه؛ يو تريخ حقيقت:

د حضرت صاحب سر مات و:

له بناغلي مجددي سره ملاقات لرو، سهار ۹ بجې مو له چهلستون د ارګ په لور حرکت وکړ، داسې معلومېده، لکه زمونږ ملاقات د يوه رسمي هيئت بڼه لري، د حاجي خليل الرحمن په مشرۍ د موټرو په يوه وړه قافله کې ارګ ته ننوتلو، ساتونکو د موټرو کتار په ليدو، له پوښتنې پرته لار خوشې کوله، د ګل خانې دروازه کې د مجددي باډيګارډ د جنرالۍ په يونيفورم کې ولاړ دی، د حاجي خليل يې تود هرکلی وکړ او مونږ يې د انتظار سالون ته رهنمايي کړو، هلته څو کسه نور هم ناست وو، مونږ کابو يو ساعت انتظار وکړ، خو د مجددي صاحب درک معلوم نه شو، د تشريفاتو له مسوولينو سره مو رابطه ونيوه، هغوی خپلې مخابرې چالانې او مونږ ته اطمينان راکړ.

لږ وروسته د حضرت صاحب ورور حشمت الله مجددي سالون ته راغی، بناغلي حشمت الله هڅه کوله، د حاجي خليل پر وړاندې د خپلې مينې او صميميت څرګندونه وکړي، ځکه خو يې هغه ته په مينه ناکه لهجه خليل جان خطاب کاوه، له تودې پوښتنې وروسته يې د حضرت صاحب معذرت وړاندې کړ، په دې ټکو چې، حضرت صاحب ډېره هيله لرله له تاسو سره ملاقات وکړي، ستاسې په راتلو ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشحاله شو، خو متاسفانه تشناب کې د غسل پر وخت له بنويېدو سره ستوني ستغ لوېدلی او سر يې مات شوی دی، اوس ډاکټر ورته سيروم چالان کړی، زه يې راولېږلم، چې تاسې سره خبرې وکړم او دده معذرت درته ووايم کړم.

مور هم ژر ژر تودې پونښتنې وکړې، چې دېر خو به ژوبل شوی نه وي، داسې او هغسې...

بناغلي حشمت خپلو خبرو ته دوام ورکړ: ګيله له خپلو کېږي، مور له حقاني صاحب نه خپه يو، ده په هر مجلس کې زمور خلاف موقف نيولی.

حاجي خليل لږ جدي شو، ويل: داسې کارونه چې د جهاد له روحيې او اهدافو سره مخالف وي، طبيعي ده چې بايد مخالفت يې وشي، د دوستم ترفېع کېدی شي حضرت صاحب خپل واک وبولي، خو هغه ته د اسلام د قهرمان لقب ورکول د حضرت صاحب واک او اختيار نه شي کېدی، مجاهدينو د همدغو ملېشو له لاسه په زرګونو شهيدان ورکړي، د هغوی ورثه مورله ګرېوانه نيسي.

حشمت الله وويل: دا د جناب حضرت صاحب بصيرت او درايت و، چې په داسې يوه عمل يې د افغانستان د تجزيې مخه ونيوله، که داسې يې نه وای کړی، قسم په خدای افغانستان تجزيه و.

بله دا چې د سمت شمال په سلګونو علماوو حضرت صاحب ته ويلي، چې دوستم د دوی په فتوی له رژيم سره د همداسې يوه پروګرام لپاره يوځای شوی و. مولوي منصور او مولوي ارسلا هم په هغه مجلس کې حاضر وو، د دوی په فتوی حضرت صاحب دا کار کړی.

ده وويل، دا خو حقيقت دی چې که دوستم د نجيب کمونيستي

(c) ketabton.com: The Digital Library

رژیم نه وای نسکور کړی، په خدای که د مجاهدینو له وسه دا کار پوره وای.

ما ورته وویل: هېڅوک افغانستان نه شي تجزیه کولای، تجزیه د هېچا په ګټه نه ده.

بله دا که دوستم غوښتي وی، افغانستان تجزیه کړي، نو بیا په یوه کاغذي ترفیع او لقب نه ورځخه تېرېده، یو وخت زه د جمعیت مرکزي ارګان ((مجاهد)) مسوول مدیر وم، دا هغه وخت و چې نوې د دوستم ملیشه تشکیل شوې او مطبوعاتو کې د جوزجاني ملیشې په نامه یادېده، مونږ هم دمنابعو په حواله یو خبرکې د جوزجاني ملیشې نوم اخیستی و، همدغو ملایانو او د جمیعت واکمنو ویل دا ملیشې د جوزجان او سمت شمال نه دي، بلکې د روسي جمهوریتونو هغه ازبک نژاده روسان دي، چې د افغانانو لباس کې یې رالېږلي دي، دا ټکی استاد رباني خپله بیانیه کې هم څرګند کړ، بیا یې پرې څه مقالې هم ولیکلې. حشمت وویل: د افغانستان خلک باید پر حضرت صاحب شکر وباسي، دا حضرت صاحب دی، چې له برکته یې آرامي راغلې، که خدای مه کړه حضرت صاحب نه وي، بیا به تاسې ته معلومه شي، ده په پای کې وویل: حقاني صاحب ته مونږ دومره احترام لرو، لکه زمونږ د خپلې کورنۍ یو محترم غړی دی، مونږ سره پخوانۍ اړیکې لرو، مونږ په دې هم ګیله من یو، چې حقاني صاحب نه راځي، تاسې هم نه راځئ، خو زه وایم که تاسې نه راځئ په ما پسې ټیلیفون وکړئ، ما دروغواړئ، په والله چې په توره شپه کې ځان در ورسوم.

مونږ متقابلاً داډ ورکړ، چې ستاسې ترځنګ ولاړ او هر خدمت ته حاضر یو، کله هم چې د جناب حضرت صاحب امر وي، د حقاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

صاحب قوتونه يې په خدمت کې دي.

حاجي خليل يادونه وکړه: جناب حضرت صاحب بايد په مجاهدينو متکي وي، مجاهدين د ده له قوماندې او هدايت سر نه غړوي، دی بايد په دوستم او نورو جنايتکارانو د اتکا په لټه کې نه شي، چې مجاهدين يې په کار رانه شي، دوستم ده ته وفادار نه شي پاتې کېدی.

په پای کې مو ورته د موټرو د نيولو خبره وکړه، ده وويل: د ګلم جم په نامه اکثر زمونږ خپل قوماندانان دي. حاجي خواني چې ۲۵ ورځې يې بالاحصار کې د ګلم جم ملبشې بند کې تېرې کړې، موټر او هر څه يې لوټ شوي وو، ورته ويل: صايب تاسې چې د اختر پر ورځ هلته راغلي وئ، ما د دروازې له چاکه درکتل، ده وويل هوا! کنه هغوی زمونږ خپل قوماندانان دي او بيا يې په دې رابطه يو خط وليکه، څه باندې يوه بجه وه، چې له اسلامي جمهوري ارګه راووتلو.

تشناب کې د حضرت صاحب له ښويېدو او سرماتي په زړه پورې خبرې جوړېدای شي... راشه کيسه دنډوره کړه خو زړه مې زور نه اخلي...

د ارګ يو بل انتظار:

د جنرال مجيد راتګ:

بيا ارګ ته روان يو، مامور هاشم هم راسره ملګری دی، مامور با جرئته سړی دی، ډېر وخت يې ګردیز کې اداري چارې پر مخ بيولې، جدي دی او د بحث پر وخت ښه استدلال کوي، ده د مجددي صاحب يو کارت هم درلود، چې ساتونکو ته يې ليکلي: مامور صاحب هاشم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستر مجاهد مولوي حقاني نماينده دی، هر وخت چې غواړي د ملاقات لپاره راتلی شي، ده دغه کارت د ګیدړې قواله باله، که څه هم ددغې اصطلاح په پس منظر يې مور پوه نه کړو، خو کله به چې محافظينو له مور پوښتنه وکړه، ده به کارت ور وښود، هغوی به اجازه راکړه، ده به په موسکا وويل، ودې لیده د ګیدړې قواله.

کله به ده ځان غلی نیولی و، ساتونکو به مور ته پلمې کولې، ده به جیب ته لاس کړ: ته ودرېږه، چې د ګیدړې قواله وروښیم، کله به مور ورته وويل، مامور صاحب د ګیدړې قواله ور وښییه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه ورځ مو بیا هم د ګل خانې مانۍ کې د مجددي د ملاقات په هیله د انتظار ترخې شېبې تېرولې، چې جنرال مجید د بادیګارډانو په یوه بې سر او پایه هجوم کې پر پوړیو راوخوت، د حضرت صاحب له زوی ډاکټر نجیب الله سره په خبرو شو، داسې معلومېده، خبرې په زړه پورې دي، دوارو به ښه په کرس وخندل، یوه بل ته به یې په لاس ورکولو پر اوږو وټپول...

جنرال مجید چې په فاتحانه بلکې احمقانه غرور په پوړیو راختلی و، په بې اعتنایۍ د مجددي صاحب زوی له مټ نیولی، هغه په دوو پښو لکه عسکر ولاړ دی، زه په باور سره ویلی شم، چې جنرال مجید به په داسې غرور او کش فش د نجیب الله په وخت کې د ارګ له مخ هم نه وای تېر شوی، د هغه اعتبار، نفوذ او حیثیت دومره لوړ شوی و، چې جمهوري ارګ داسې ورته ښکارېده، لکه د خپلو افرادو پوسته.

موږ ورنژدې شو، چې جنرال مجید په همدې ځای کې ونیسو او د موټر او کتابو مسئله ورسره یکطرفه کړو، جنرال مجید، نجیب الله مجددي ته وویل، تو کار مره کو، مه کار توره میکنم، تو مرا ملا بګو مه تورا حاجي... موږ پوه نه شو چې د دوی څه ډول کار و، چې یو بل ته یې د خلاصولو خبره کوله، جنرال مجید ته مو ستړي مشي ورکړل، ماته یې ویل: ادم سیاسي استي، ډګروال صاحب ورته د موټر وویل، ده ځواب ورکړ، خیر دی د حقاني صاحب دا یو موټر چې له ما سره وي، څه کېږي، تاسې ډېر په کې ګرځېدلي یاست، پرېږده څه وخت موږ هم په کې چکر ووهو، ډګروال صاحب ورته وویل: حقاني صاحب چې راشي، تاسې ته به یو ښه موټر ورځخه واخلو، ده ویل، زه له ښه موټره تېر یم، په همدې قانع یم، ما ورته ویل: جنرال صاحب تاسې خو زما پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرۍ پښه ږدئ، ده ته مو د حشمت مجددي مکتوب وښوده، پرې ويې ليکل، محترم جنرال فاريابي در مورد استرداد موتر اقدام نمايید.

جنرال مجید ویل: کمره دې له ما سره لاندې په موټر کې ده، هغه خو نه درکوم، کتابونه دې ضبط دي، هغه ته په خپل لاس اور واچوه.

ما داسې ګڼله لکه راته وايي خپل ځان ته اور واچوه، په ژوندوني پر ځان اور بل کړه، په زړه کې مې تېره شوه، که کتابونه يې رانه کړل، دفاع وزارت تر مخ پر ځان اور پورې کړه... لا له را قسم دادم، که رادو را نسوزان، له کتابو وړاندې ځان لوخړه کړ...

سبا د جنرال فاريابي قرار گاه ته ورغلو، خو دا ځل يې يوازې ډګروال صاحب پرېښود، زه دروازې سره سيوري ته کېناستم، د خلکو ګڼه ګوڼه ده، عريضې په لاس ولاړ دي، د چا زوی تښتولی، د چا نور خپلوان بنديان دي، د چا يې موټر نيولی، د چا هټۍ لوټ دي، د ځينو هغسې خبرې په خوله دي، چې زه يې ليکلو ته توري ټکي نه شم موندلای.

دلته مې د عبدل د قرار گاه څو ملېشه وليدل، ووېرېدم، مخامخ د ونو په مينځ کې مې ځان ورک کړ، خو يو ملېشه راپسې راورسېده، راته کړه يې که بل ځل مې وليدې ددغه کلاشينکوف دېرش مرمۍ به دې سينه کې سړې کړم، د مسعود پلار دې نشي خلاصولی... درته وايم والوځه- بيا دې ونه وينم... سړک ته په راوتو چا زما نوم واخيست، زړه مې درز شو وښويېده، ما ويل څه خبره ده، ويل دننه راشه، د جنرال فاريابي دفتر ته ورغلم، څو کسه نور هم ناست وو، ډګروال صاحب ته يې د چای پياله پر مېز ايښې.

که گورم هغه د ملېشې ډګروال هم راغی، چې د عبدل په قرار گاه کې بندي و، ده عسکري دريشي اغوستې، اوږې يې له نښانونو ډکې دې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنرال فاریابي ته يې څه کاغذونه ورکړل او په ما کې يې سترګې ښخې کړې، ما مخ بله خوا واړاوه.

جنرال فاریابي له مور سره یو منصبدار چې برګه عسکري دریشي يې اغوستې او صالح نومېده موظف کړ، چې د ملبشې په ټولو پوستو او قرارګاوو مو وګرځوي، یو څل چې د موټر درک ولګوو، بیا يې اخیستل دومره سخت نه دي، که داسې ونه کړو هېڅوک هم په دې نه قانع کېږي، چې موټر ورسره دی، مور لا له دروازې نه وو راوتلي چې د حاجي خواني پک اپ راغی، عسکري رنګ يې ورکړی، خو لاندې يې سور رنګ جوت و، مور ورته ویل، یو موټر خو همدا دی، هغه په کاغذ یو نوم ولیکه، چې زما له یاده وتلی، بیا له مور سره په موټر کې روان شو، یوه بله خوا يې وګرځولو، خو دا هسې زمور د تېر ایستو ډرامه وه، چې له یوه يې بل ته پاس کولو، د وخت اړولو لوبه يې راسره را اخیستې وه...

صالح ماته په ځیر ځیر کتل، راته وایي: ما چېرې لیدلی يې، ما ورته ویل ستا خېره هم راته اشنا ښکاري، زه بیا وډار شوم، هسې نه د بل چا په گومان د هغه په حساب راسره چلند وکړي، خو ده ویل ممکن په تجارت خانو کې مې لیدلی وې، ما یو وخت له تجارانو سره کار کاوه، ما یوازې دومره ویل ممکن.

دی مو بېرته خپلې قرارګاه ته ورساوه، ماته يې د ټیلیفون شمېره راکړه چې ورسره په تماس کې وم، مور هم د موټر د رنګونو، نومرو او مشخصاتو په اړه لیکلی یادښت ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيا هم د آمر صاحب ملاقات

له احمد شاه مسعود مو د ملاقات وخت اخيستی ، د وزير اکبر خان مېنې يوه کور کې دده ليدو ته روان شو، د کور مخې ته لسګونه ګلم جم پنډ دي، مانی ته په ننوتو، پوه شو جنرال مجيد، جنرال فاريابي او د ملېشې افسران له مسعود سره ملاقات لري، مور په دويم پور کې د انتظار خونې ته بيول شو، خو هلته خالي چوکی نه وې، څو تنه کندهاري مجاهدين هم د ملاقات منتظر وو، مور لاندې په غالی کېناستو، کندهاري مېلمنو ته چای ايښی، پر مېز کلچې، شير پېړې، تازه مېوه او نور شيان پراته دي، دا څل له مور سره د منه ګل په نامه يو څدران مجاهد هم ملګری دی، مازيګر لمونځونه مو په هماغه ځای کې وکړل، وروسته منه ګل خپله له مېز چای کلچې راواخيستل، ويل: شرم مې کوت بيخ مې خوت...

محمود فاراني هم په يوه کونج کې ناست دی، ستړي مشي مو وکړل، ويل څه دربانديې شوي، ببخي پېژندل کېږې نه، لکه کارونو له پښو غورځولی يې، ما څه ونه ويل، خو ده بيا پوښتنه وکړه، څنګه دي نشرات، دفتر مو رانقل کړی که نه، ما ځواب ورکړ، نشرات مو دوام لري، خو په هغه پخواني سرعت نه.

دفتر مو لا پېښور کې دی، مور غونښتل کابل ته يې راولېږدوو، خو حالات سم نه دي، ده زما د اوسېدو پوښتنه وکړه، د چهلستون مې ورته ويل، فاراني صاحب وويل هغه بله ورځ مطبعې ته تللی وم، ستا پوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې کوله، ښه شوې اوس دې درک ورکوم، د اخبارونو وضعه خرابه ده، ما ورته ویل فاراني صاحب! د مملکت او نظام وضعه چې خرابه وي، د مطبوعاتو به څنګه سمه شي؟ داسې معلومېده فاراني صاحب زما د شکایت او انتقاد خبرې دلته ښې نه ګڼي، خبره یې په بله واړوله، پوښتنه یې وکړه؟ په څه شي کار کوې، ما ورته ویل هماغه د اخبار او مجلې کارونه، ده وخندل ویې ویل، له کومه وخته چې له حقاني صاحب سره کار کوې، فنا فی الاخبار او مجله درځخه جوړ شوي.

فاراني د پښتو دري غوره لیکوال او پیاوړی شاعر دی، دري شعرونه لیکني یې درنې، پخې او استادانه دي، مصر کې یې لوړې زده کړې کړي، غالباً د استاد رباني ټولګیوال دی، ۱۳۵۹ لمریز کې استاد ورسره فرهنګي کمېټې ته راووست، زړه یې و په جمعیت کې دنده واخلي، خو د فاراني پر زړه نه اوارېده.

ډېرې اسلام آباد کې اوسېده، د قلب آسیا په نامه یې یو اخبار خپراوه، کله به دې مډرنو لوکسو ګاډو کې لیده، کله به خړ پړ یوه بس کې ورسره مخامخ شوې سړی نه پوهېده څه کوي، بوختیا یې څرګنده نه وه...

د ثور له کودتا وروسته زنداني کړی شو، خو د څرخي پله له دوزخي زندان وتښتېد.

دده په نیولو تره کي وویل: یو مجرم مو نیولی حیران یو، له مخه یې حلال کړو که له څټه...

له دغه ملاقات څو ورځې وروسته کابل کې اوازې خپرې شوې، چې استاد فاراني د کودتا پلان درلود، خو څرنګه کودتا، له کومې لارې، د کوم پوځ او پوځي څواک په تکیه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرڅه چې و، له دې وروسته استاد فاراني له مسعود لېرې شو او له مقربينو د معتوبينو لست ته وغورځول شو.

وايي د احمدشاه مسعود نه دوستي ښه ده نه دښمني، د آس له شا مه تېرېږه د زورورو ترمنځ... له استاد فارابي علاوه ګلاب الدين شيرزايی هغه پانګوال و، چې د مسعود يارانې شنه لوخړه کړ... شيرزايي، امر صاحب ته دومره نژدې شو، چې لومړنی بانک يې پرانيست... خو ډېر ژر يې تر منځ د تورې پيشو په تېرېدو داسې دښمني جوړه شوه چې شيرزايي ديواليه او ماشوم يې توپکيانو وتښتاوه... ښکر به ګټې سر به بايلې خبره شوه...

قضا مازيګر و، چې مسعود برنډې ته راووت، له ده مخکې جنرال مجيد او جنرال فاريابي راوتلي وو، د جمعيت له يوه قوماندان ملا عزت سره يې خبرې کولې، لمر په لوېدو و، مسعود برنډه کې په لمانځه ودرېد، جنرال مجيد او جنرال فاريابي بې اعتنا ولاړ وو، مور. بيا جنرال مجيد ته خپله خبره وکړه، هغه جنرال فاريابي ته مخ ور واړاوه، ويل: د دوی موټر عبدل نيولی، هغه ور تسليم کړئ، فاريابي ښه وويل او د سبا وعده يې وکړه، د مابنام له لمانځه وروسته ډاکټر عبدالله له مور. سره کېناست، چې له احمد شاه مسعود سره يې د خپلو خبرو په جريان او تفصيل خبر کړو، ډګروال صاحب زه ورمعرفي کړم، هغه ماته وکتل، په شونډو کې موسک شو، ويې ويل، ښه دا ننګيال دی.

ما په ده ښه زړه تش کړ او د حاجي خليل الرحمن هغه ليک مو ور وسپاره، چې بايد چهلستون دوی ته، د حزب مورچې حزب او د دوی، دوی ته وسپاري، چې د سولې پروسه نوره تخريب شوې ده، ډاکټر عبدالله زمور. خبرې په غور او زغم واورېدې کوښښ يې کاوه، مور. قانع

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ددغه د تصميم مخه ونيسي، ده وويل: په رښتيا هم تاسې له ډېرې حوصلې کار اخيستی له ډېرو مشکلاتو سره مخامخ شوي ياست او ډېر تاوانونه مو ليدلي دي، تاسې لږ حوصله نوره هم وکړئ، ان شاء الله حالات به ښه شي، ستاسې چې څومره موټر نيول شوي، مورږ يو هيئت ټاکلی، هغه ته به خپل اسناد او کاغذونه وسپاري، هغوی به پسې وګرځي او ستاسې موټر به پيدا کړي.

منه ګل په پښتو لګيا شو، داسې منطقي خبرې يې وکړې، چې د ډاکټر عبدالله خوله وازه پاتې شوه.

له دې وروسته له مسعود سره د ليدو لپاره د ودانۍ لاندني پوړ يوې کوټې ته ورغلو، دا کوټه د طعام خورۍ د کوټې له څنګه وه، مسعود له سترې مشي وروسته خبرو ته خوله جوړوله چې ډاکټر عبدالله ورته زمورږ د خبرو لنډيز بيان کړ، مسعود دا ځل بل پوستکی په ځان راخپور کړی و، ويل زمورږ نن څلور پينځه کسه وژل شوي او تاسې د موټر او کتابو په غم کې ياست.

ما ورته وويل: ستاسې کسان چې وژل شوي، پادشاهي مو نيولې ائتلاف مو کړی دغه بلا ستاسې له لاسه مينځته راغلې، زمورږ په کې څه دي...؟

په دې وخت کې د ملکی هوانوردۍ وزير ډاکټر عبدالرحمن له جيب خط راويوست ويل: زما خپل موټر يې هم نيولی، ليك يې خلاص کړ، د جنرال مجيد له خوا چاته ليکل شوی و، چې موټر وروسپاري.

دلته مسعود، لکه له خوبه پاڅېدلی وي ويل: مورږ هيئت ټاکلی، خو کوم موټر چې ملبشې خرڅ کړی، يا يې مزار ته وړی، هغه خو له لاسه وتلی او امکان نه لري، چې تر لاسه شي، هغه چې مزار ته يې ببولی او يا

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې خرڅ کړی، له هغې تاسې تېر شئ او په نورو پسې به وګرځو، ما ورته د جنرال مجید امرونه ونښودل، ده په غور ولوستل، ویې ویل: ته خو سند لرې، ستا په موټر خو نه شي منکرېدی، که يې خرڅ او یا مزار ته بېولی هم وي، باید تاوان درکړي، مسعود وویل: له دې وروسته به دا ډول مسایل نه پېښېږي، دده په وینا خپله دوستم ښه سړی دی، له دې کارونو بد وړي، دوی ته يې توصیه کړې، چې نور دا ډول کارونه ونه کړي، مخامخ په میزونو باندې ډوډۍ کېښودل شوه، مسعود د ډوډۍ وویل، ټول د میز خواته وخوځېدو، ما او مامور هاشم غوښتل لاسونه ومینځو، خو د لاس مینځلو مخه مو ونه لیده، په اشپزخانه کې مو ګوتې لمدې کړې، مسعود مخامخ او مور د میز یوې او بلې خواته کېناستو، پر میز يې پلو، چرګان، د پسه قورمه، مستې، سلاد او تازه میوې ایښې وې، د مشروباتو پر ډبو په عربي بیبسي لیکل شوې، مامور هاشم ماته د تازه میوې لوښی مخې ته کړ، ویې ویل: ماته بي بي سي ونه رسېده، خپلو ځانو ته يې کشکول، د میلمه په کیسه کې نه دي....

حاجي صاحب د زړه غوښې ورته اېښودې...

د ډوډۍ پر سر خبرې د حضرت صاحب په اړه وې، چې په ټوکو او مسخرو کېدې، هر یوه به له مجددي سره د خپلو ملاقاتونو او دده د اقتدرا د مینې یوه خندنۍ خاطره بیان کړه، ټولو به په کړس کړس وخندل، احمدشاه مسعود ویل: مجددي په رتبه بخشیو څوک خپل نشوی کړی... افغانستان یوولس جنرالان او یو ستر جنرال درلود... ده له زرګونو واړول، په داسې حال کې چې ما خپله د جنرالۍ رتبه قبوله نه کړه...

د بانک رئیس راته وایي فزیکي پیسې نه شته، خو دې د ملیونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

امرونه ورکوي...

جلال اباد کې يې يوه قوماندان ته د څو زره جريبه ځمکې فرمان ورکړی، د ده څه حکومت دی، حکومت هغه دي چې دملت په رايه ټاکل شوی وي، ده غوښتل د دوو مياشتو حکومت يې دوو کالوته وغځيږي، ما ډېره حوصله وکړه، خو ده زما له شرافت ناجايزه ګټه اخيسته... خو زه مسوولیت لرم که استاد رباني له څلورو مياشتو خپل حکومت وغځوي خلاف قانون دی، زه به يې مخه نيسم.

يو څوک راغی، چې له چهلستون د موټرو يو کاروان روان دی، وايي د (استاد سياف) اتحاد غړي دي، اجازه ورکړو، که نه؛ مسعود ورته وويل، ويې دروئ زه له انجينر احمد شاه سره رابطه نيسم.

ساعت ته مو چې کتل، د شپې يوولس بجې او له ګرځېندیز دوه ساعته تېر شوي، ډاکټر عبدالرحمن ته مو وويل، چې يا خو موږ ته د شپې نوم راکړئ او يا څوک راسره ولېږئ، هغه چاته وظيفه ورکړه، چې له موږ سره ولاړ شي، په يوه زاړه روسي والګا کې څو تنه له موږ مخکې او موږ پسې حرکت وکړ، څو ځايه يې په لوړ اواز د درېش غږ کړ، موټر به چې ودرېد يو تن به ورکوز شو او په غوږ کې به يې څه ورته وويل او بېرته به موټر ته وخوت، موټر به روان شو، د ګذرګاه پله ته په ورسېدو، د موټرو يو اوږد کتار ولاړ دی، چې ومو کتل د قاضي محمد امين وقاد قافله ده.

دوی يې له ډېر وخته دروني، زموږ موټر هم ودرېد، يو تن سر له موټره جوت کړ، ويې ويل: زموږ غم هم درسره وخورئ، ډګروال ورته وويل، ښه موږ به ورته ووايو، چې په راګرځېدو له تاسې سره ولاړ شي.

منه ګل نه پوهېږم له ټوکې که رښتيا، په دې ټينګ و چې دا موټر ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرځوو او دا کسان يرغمل نيسو، تر هغې چې زمونږ موټر يې نه وي خلاص کړی، نه يې پرېږدو، خو مونږ ورسره ونه منله.

وروستی پاڼه د مرګ ګوابښ:

د جنرال فاريابي قرارګاه ته ورغلو، پرونی خبره مو ور يادە کړه، د ټيليفون غوږی يې راواخيسته، د عبدل د نومرې پوښتنه يې وکړه، نومره يې ډايل کړه، ويې ويل عيسی خان يې، عبدل، چېرې دی؟

د هغه لوري ځواب مونږ نه اورېده، خو ده وويل پيش معاون صاحب رفته، غوږی يې کېښوده، نيم ساعت وروسته يې ټيليفون وکړ، بيا لکه چې له عيسی خان سره مخ شو، ويې ويل، تاسې څه موده مخکې يو موټر او کتابونه نيولي وو، هغه موټر مو څه کړ؟

جنرال فاريابي په غوسه ويل، مجيد خان خط رالېږلی چې موټر ورته مسترد کړي او ته وايې له مجيد خان سره دی، د هغه لوري خبرې مونږ نه اورېدې، خو جنرال فاريابي په غوسه غوږی کېښوده، مونږ ته يې وويل تاسې خپله ورشئ، له جنرال مجيد سره خبره وکړئ، جنرال مجيد هسې ماته جنجالونه جوړوي، مونږ د جنرال مجيد پوښتنه وکړه: ويل هوايي ډګر کې دی، له جنرال فاريابي سره د حربي ښوونځي د وخت دوه تنه همصنفيان ناست وو، چې يوه د استاد سياف په کچه ږيره درلوده، د پاکستان د هجرت تاپه يې خوړلې او په جمعيت کې يې ډېر وخت کار کړی و، دوی په خپلو کې ټوکې کولې او د تحصيل د وخت خاطرې يې راسپړلې.

جنرال فاريابي وويل: ګلبدين په څه مونږ کافر بولي او په راکټونو مو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولي، مور وايو تېر په هېر، ترڅو به يو بل وژنو، خو دی د قدرت لپونی دی او نه کرارېږي.

جنرال فاريابي چې د معقول او مهذب کرکټر څرګندونه کوله، د جنبش ملي اسلامي مرامنامه او د پريکړو اسنادو مجموعه، ماته ونيوه ويل، وګوره په دې کې د کفر څه دي؟

ما د مجموعې پاڼې واړولې، لږ لږ مې ولوسته، پوه شوم اصطلاحات يې د پرچم له مغزو او د حزب او جمعيت د اخواني ستميانو له خولو راوتلې، ټکي لغتونه دي، چې د کابل په دولتي مطبعه کې د جوزا په مياشت کې چاپ شوې.

د کارملي پرچميانو سربېره د حزب او جمعيت اخواني ستميانو وکړای شول پر دوستم خپل سياستونه وتپي، له حزب مهدي او له جمعيت کريمی او... پر دوستم ورټول شول، دوستم د لېډرۍ پر نشه او هوس واړول شو... خوله خپل جامد جنګي چوکاټ اوتنګ چاپېريال ونشوی وتلی.

دوستم ته يې د سياستمدار نستوه، رهبر خردمند و دانشمند القاب وتوږل، خو خپلې اجنډا ته يې استخدام نه کړی شو... هغه وه، چې څه موده وروسته د يارانې غزېدلې مزې پرې شول...

دوستم خپله منله چې پوځي اوجنګيالی دی... دروند ژورنالیست او پياوړی ليکوال محمد نذير بشارت کيسه کوله، چې د همغږۍ شورا په جوړېدا مو مزار ته د تلو پروګرام درلود، غوښتل مې له جنرال دوستم سره د مرکې مخه وموممـ... له عبدالعلي مزاري مې په دې اړه سپارښتپانه وغوښته... مزاري راته کړه: د دوستم بېسوادي پام کې نيسه او دا ژورنالیزم چې دلته کوې، مه ورسره کوه، چې هغه د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شخصیت او کنګال چاپېریال له کلا بندی نه شي وتلی...

مزار ته په رسېدو مې له دوستم د تلویزیوني مرکې وخت واخیست... جنرال یوسف راته کړه لیکلي پوښتنې ورکړم... ما ورته ویل: زه پوښتنې نه لیکم یواځې لنډ نوټ راسره وي... ویل یا به ټولې پوښتنې راسپاري یا به له مرکې تېرېږي...؟

پر لاره مې له کود برق تر جنګي کلا خپلې پوښتنې ولیکلې چې لومړی یې داوه:

جنرال صاحب!

کله چې پر هغو ورځو سوچ کوي، چې له روسانو سره به ګډ جګړې ته وتې او له هغه رژیم دې دفاع کوله چې د پردیو لپاره د خپل ولس پر خلاف جنګېده، څه احساس درته پیدا کېږي، ستاسې په نظر ملي خیانت څه شي دی، او پخپل تعریف کې ببرک کارمل چېرې دروې...؟

تر یو څه ځنډ وروسته د دوستم سکرټر راغی، ویل مرکه نه کېږي...

څو شېبې وروسته جنرال دوستم چې کوم ځای ته روان و، برنډې ته راووت... پر ما یې غږ کړ... هی تو فکر کدی، فکت مه کدام سیاستمدار یا عالم باشم، مه یک جنګي ادم استم، اې ګپا راچه بفمم...

زما په فکر د دوستم خپل سیاست دی، تر هغې چې ده خپل سیاست پخپل اصلي رنګ سوچه او طبعي ساتلی، ډېرې یې پر یوه ګوته ګډولي، خو چې د پرچمي او اخواني ستمیانو د اجنډا وو پر ملاوټ یې لړلی، سیاست یې زنګ نیولی ملي شر ګرځېدلی... د وینو پر سر سیاست یې د سرونو تجارت رامنځ ته کړي...

فاریابي خپل ډیرور ملګري ته وویل: تاته یې څه ترفیع او رتبه نه ده درکړې، هغه وویل درې کاله مخکې استاد د جنرالۍ ترفیع راکړې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس په ارګ کې کار کوم، دا جناب له دغې اوږدې ږيرې او څو کلن هجرت سره د جنرال فاريابي پر وړاندې ځان دومره حقير ګانې چې مور له شرمه پورته نه شوی کتلی.

مور تړې د يوه خط غوښتنه وکړه، چې ميدان ته مو پرېږدي، ده خط وليکه او مور د عبدل د قرار ګاه تر مخ د هوايي ډګر پر لور حرکت وکړ، هوايي ډګر ته په رسېدو د شورای نظار پوستې زمور موټر ودراوه، د جنرال فاريابي ليک مو ورکړ، د تلو اجازه يې راکړه، وروستی پوسته د ګلم جمو وه، هغوی هم ودرولو، ليک مو ورکړ، ويل د چا دی مور ورته کړه د جنرال صاحب فاريابي.

ليک يې واړاوه راواړاوه او په نه زړه يې د وړاندې تلو اشاره وکړه، مور چې د هوايي ډګر احاطې ته ورسېدو، ټوله سيمه فجارو، لنډکروز او لوکسو موټرو نيولې، په دغه ورځ استاد رباني له خپل بهرني سفر راستنېده او د هرکلي لپاره يې دا محشر جوړ شوی و.

د هوايي ډګر په دروازه کې د ګلم جمو پيره ولاړه وه، زمور د وړاندې تلو مخه يې ونيوله، خو د جنرال فاريابي د ليک له توضيح وروسته يې ايله ډګروال صاحب ته د ننوتو اجازه ورکړه، نژدې نيم ساعت وروسته ډګروال صاحب بېرته راوګرځېده، له غوسې وه که له وېرې رنګ يې تک تور اوښتی، ويل جنرال مجيد، راته کړه لاس مو خلاص موټر مور سره نه شته... چې وي هم نه يې درکوم، که بل څل مو وليدئ، ژوندي مو نه پرېږدم، که ژوند غواړئ له موټر تېر شئ پښې باسئ.

ما کله هم ډګروال صاحب دومره تلولی او وېرېدلی نه و ليدلی، ده به چې شوروي اتحاد او ختيزه اروپا کې د خپلو پوځي زده کړو، بریاوو کيسې راسپرلې، داسې به دې ګنله لکه همدا اوس د دېرشو پنځه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دېرشو کالو کوماندو په ټریننګ بوخت دی.

ورته ځیر شوم، څادر یې له ځان تاو کړی، له خولې یې پر وښکي راغلي وینې ډنډ دي، ژر ژر پر شوندو ژبه ټپروي، توکاني چې وغورځوي پښه پرې کیږدي...

موټر ته په ختو پټه خوله دی، تر چهلستون یې خوله چوله نه شوه، کوټې ته په ننوتو پر بستره وغورځېد، مخ یې څادر کې ونغښت، زه پټه خوله له کوټې ووتم، لږ شیبه وروسته چې کوټې ته راغلم ده له جاغې خپله اوږه را ایستلې، تکه شنه ده، تنې یې شلېدلې... زه پوه شوم، نوره پوښتنه مې ونه کړه، لکه له سره مې لیدلی نه دی، ځان مې ناګاره کړ، بېرته له کوټې ووتم.

موږ بیا هم باید د مسعود د څرګندونو له مخې خپل کاغذونه په ګارنیزیون کې ټاکلي هیئت ته سپارلي وای، ځکه خو سبا ګارنیزیون ته ورغلو، جنرالان او افسران یوه خوا او بله خوا ګرځېدل، موږ یې یوې کوټې ته بوتلو، هلته مو د قوماندان ګدا پوښتنه وکړه، ګدا پنجشېر کې د مسعود قوماندان و چې اوس یې ورته د جنرالۍ ترفیع ورکړې، ویل په مجلس کې دې دغه کوټه داسې معلومېده، لکه د ګارنیزیون د قوماندان سکرتریت، دوه کسه ژنې چې برګې کوماندویي دریشي یې اغوستې، د میز تر شا ټیلیفونو ته ناست وو.

موږ د قوماندان ګدا په انتظار کېناستو، چې یو سور ږیرې سکرتریت ته راغی، چا ویل قوماندان ګدا دی، موږ ورته د خپل مشکل توضیحات ورکړل، ده یوه تن راوغوښت،کاغذونه مو ورکړل او هغه راته یوه اوونۍ وروسته د پوښتنې وویل: په دې کې یو غټ پرېږ سړی راووت، قوماندان ګدا ته یې په ستغه لهجه وویل، دا مسخرې نه دي چې ته هر ځای له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکو سره ولاړ وي، اوس ګدا نه يې، جنرال يې، قوماندان ګدا ورمنډه کړه او موږ هم له سکرتريت ووتلو.

د احمد شاه مسعود بلنه:

د چهلستون بڼ په هغه ودانۍ کې چې لانه ده نړېدلې، ميشت يو، قضا مازيګر چې له ودانۍ بڼ ته راووتم، د دروازې تر مخ لس، دولس ځانګړي موټر سايکلونه ولاړ دي، دا د تشريفاتو هغه دي چې مېلمانه بدرګه کوي، تر يوې ونې لاندې محمد يونس قانوني ولاړ دی، له چا سره په تودو بلکې توندو خبرو بوخت دی، زما په ليدو رامخې ته شو، ويل ښه شوه چې ومې موندې، امر صاحب، مولوی حقاني صاحب ته مېلمستيا کړې، تر اوسه يې له کوم رهبر سره نه دي ليدلي غواړي تر ټولو دمخه له حقاني صاحب سره وګوري...

ما حقاني صاحب ته خبره وکړه، خو هغه له وړاندې په جريان کې و، چې څو بهرته راوتم د مانښام اذان وشو، قانوني ته مې کړه، له لمانځه وروسته حرکت دی...

د حقاني صاحب عادت دی چې بلنو ته يوازې نه ځي، دا يې هم نه خوښېږي، چې څو تنه له ملګرو ورسره بوځي او نور پرېږدي، چې څوک حاضر وي ورسره روان وي، نژدې دېرش، څلوېښت موټر او يو نيم سل کسان تګ ته چمتو وو، قانوني وارخطا شو چې دا څه وشول دومره کسان...؟

وړاندې له دې چې زه ځواب ورکړم يو ځدرانۍ ورته کړه: د پود شويونو ولمستيه دو، ديمره کسون نه دی، وور مه خطو کوه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور موټر سایکل سواره د حقاني صاحب د موټر نښي، څلور کین، څلور تر مخ او څلور تر شا حرکت وکړ ورپسې د موټرو یو اوږده لیکه جوړه شوه.

د قانوني په غوښتنه مو د دارالامان لار خوښه کړه، په لومړني پاټك یې دریش کړو، له څېرو د ملیشو او دوستم کسان ښکارېدل، قانوني په یوه بل پسې منډې وهلې که اجازه ورکړي، خوله وچه، رنګ زېر، شوندې پتري، کله یوه ته ولاړ، کله بل ته... ختې ختلې... خجالت، زهیر... زمونږ ملګرو داسې وګڼله چې له کومې دسیسې سره مخامخ شوي، څکه خو د مقابلې لپاره چمتو شول، نژدې په یوه لوی شر اوښتي وو، زه ډېر ودار شوم، څلوېښت دقیقې معطل وو، تر هغې چې مخابره کې احمدشاه مسعود د دغو ملیشو عمومي قوماندان سره رابطه وکړه، او بیا هغه دلته خبر ورکړ او مونږ ته د تلو اجازه، قانوني مونږ د وزیر اکبر خان یوه کورته چې غالباً د شمالي کور یا سفارت و، او احمدشاه مسعود زمونږ انتظار کاوه، ورسولو، د سفارت کومه نښه او تصویر نشوی تر سترګو کېدی، ودانۍ کې دومره لوی لښکر نه شوای ځائیدای یوازې مونږ پنځلس تنه حویلی ته ننوتو، ضابط عمر خان، اختر محمد ټولواك، عبدالرحیم اخوندزاده او... دروازه کې د حقاني صاحب بادي ګارډان.

نور ملګري یې له څه ځنډ وروسته خاد ته بوتلل، هورې یې ورته له کوم ځای د قراونې ډوډۍ راوړې وه.

احمد شاه مسعود د حقاني صاحب تود هرکلی وکړ، خپله یې د دوستم، ملیشو او پرچمیانو پر خلاف خوله خلاصه کړه، له حکمتیار یې سر وټکاوه، له استاد رباني یې هم شکایت درلود، مجددي یې په ټوکو یاد کړ، له حقاني صاحب یې وغوښتل عدلیه وزارت کې په کار پیل

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي او د پکتيا قول اردو چارې سمبال کړي... مسعود له حقاني صاحب مننه وکړه، چې خپل قوتونه او مجاهدين يې د دوی او حکمتيار تر منځ ځای پر ځای کړي دي، ده د حقاني صاحب د سولې له پروګرام ملاتړ وکړ، له ډوډۍ وروسته اختر محمد ټولواك وويل ښه به وي نورې خبرې چې د راز هغه به وي ځانګړي تر سره شي، هغه و چې مسعود او حقاني صاحب يوې بلې کوټې ته ولاړل يو نيم ساعت خپلو کې په خبرو وو.

د شپې يوولس نيمي بجې مو له احمد شاه مسعود سره مخه ښه وکړه، دولس نيمې بجې چهلستون ته راورسېدو.

تر دې وخت ما له حقاني صاحب د دوی د ځانګړی مجلس پوښتنه نه ده کړې، نه پوهيږم دغسې پوښتنه مناسب ده که څنګه...؟

خو ماته د احمد شاه مسعود له لومړيو خبرو ددې پته ولګېده، چې دی په خورا مهارت د خولې خبرې نورو ته د زړه د خبرو په ښه وړاندې کولای او د زړه هغه تر خپله ژبه او تالو لاندې ساتلی شي، خپل ټول احساسات او تمايلات تر خپل پوستکي لاندې په خورا هنر پټولی شي... ماته داسې وبرېښېده چې دی له هيڅا سره د زړه خبره نشي شريکولی، يا يې نه شريکوي، دی دمخه ددې درک لګولی شي چې مخاطب يې څه غواړي، څه خوښوي، له همدې ځايه د هغه په خوښه د خبرو لاره او لوری ټاکلی شي....

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولوي حقاني او شهرت ننګيال- کابل، چهلستون

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر حقاني برید

اړیکې د مخابرې له لارې نیول کېدی شي، تلیفون کله فعال، ډېری چوپ...

عبدالعزیز د مخابرې مسوول لکه څانګړې ژبه ایجاد کړې، جدول ته ګوري، بړ بړ لګیا وي، ځینې ټکي، توري ډېر کاروي، زه یې په مطلب نه شم پوهېدای، یو له دې ((ګوشت او پلو)) دی...

د ډلو مخابرې څانګړي نومونه، شفرونه او نومرې لري، چې له عبدالعزیز سره خوندي دي، عبدالعزیز ته وایم په دې ګوشت او پلو بل څه نه کوې زمونږ د ګډو آزار اخلي...؟

دی وخاندي، پر ځواب ځان غلی کړي.

عبدالعزیز له مودو د مخابرې مسسول دی، د هېواد بل سر کې چې وغواړي اړیکه ټینګولی شي، د مخابرې خپله دنیاګی ده، دوی سره لیدلي نه وي، خو یو له بل یې خورا توده پالي، کله کله مخابرو کې مخالفې ډلې سره ونښلي، ګیلو، پیغورونو، کنځلو او ترټلو ته خبره ورسېږي.

د ډاکتر نجیب الله رژیم سره دغسې مخابراتي ننښتې ما ډېرې په زړه پورې موندلې یو ځل حاجي خلیل الرحمن ګردیز کې له یوه پوځي افسر سره د مخابرې په شخړه واوښت، بیا به هر مازیګر په بحث کېوتي وو.

افسر خوږ او دروند غږ درلود، په سړه سینه یې بحث کاوه، حاجي خلیل به کله جذباتي شو، خو چېرې هم ترې خبره ستوغه شوې نه ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو مازیګر دغسې بحث کې حاجي خلیل پر افسر غږ کړ... تاسې بیخي په بدی نه پوهیږئ... موږ چې ستاسې څوک ونیسو، په درنښت یې رخصت کړو او تاسې زموږ هغه راډیو تلویزیون کې کښولی وي...

یا الله! بدي هم پوهه، بصیرت غواړي، اسلام او پښتونولي څومره نژدې دي...؟ پښتونولي دبدی پوهه اړینه ګڼي، دښمني کې هم پولې بریدونه غواړي.

اسلام جګړو کې خپل اصول او قوانین لري، ښځینه خوندي ګڼي، پر بوډاګانو، ماشومانو به لاس نه پورته کوې، شنې ونې، کښتونه، ځنګلونه به نه ویجاړوئ، بندیان به نه وژنئ...

اسلام او پښتونولي مینه او جنګ کې هرڅه روا نه شي ګڼلئ، دواړو ته پولې بریدونه لري.

د حزب، نظار شورا او ګلم جم جګړې څه دي، چې کابل کې د وحدت او اتحاد جګړو یو بل غضب او عذاب رامنځ ته کړ، لکه سعودي او ایران خپل زور دلته زموږ پر خاوره ازمویي، زموږ خلک، وطن د نورو جګړو او ګټو قرباني کېږي، د حزب او اتحاد پر جګړو جمعیت او نظار شورا هم ورګډ شول، چند اول او افشار یې دوړه کړل، وحدت خپلو پوستو قرارګاوو کې د خمیني تصویرونه لګولي، مزاري د ملت غرب کابل شعار پورته کړ...

دریغه موږ پر بدی پوهېدلی، د حاجي خلیل خبره د کاڼي کرښه شوه، که موږ پر دښمني پوهېدلی دومره ورانی ویجاړی او بدمرغی به نه وی رامنځ ته شوې.

د وحدت او اتحاد شخړه څرنګه رامنځ ته شوه، غوڅه خبره ګرانه ده، خو واقعیت دادی، چې غوښتل یې دغه بهرني او پردی‌جګړه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتنو او هزارګانو جګړه وګرځوي...

چا غوښتل، پوښتنه پر همدې ټکي راټوله ده...؟

یو مخکښ سعودي (پاکستان کې د رابطه عالم... مشر) کابل کې و... ده کابل کې څه کول، پخپل سر راغلی و، که د سرکار او استاد سیاف مېلمه و...؟

ددغه جګړې د اصلي لاملونو او پردې شاته لاسونو درک لګول ګران دي... چې غټان رښتیا نه وایي، اضافي خبرې کوي، له ګېډې او کولمو درته ګډ وي... د ځان درنه د بل سپکه...

ښه ده، د عادي کسانو خولې بوی کړم له خلکو وپوښتم له ولس ځواب ترلاسه کړم...

د معین خان وینا واقعیت ته نژدې مومم... دی د کابل له سقوط وړاندې ژمی د وردګو چک کې و... وایي کرې ژمی له هزاره جات ډلې، ډلې خلک رامات وو، هره شپه جوماتونه له دغو مساپرو ډک وو...

چې پوښتل مو چېرې مو مخه اخیستې...؟ ویل ایران ته په خواري مزدورۍ پسې...

له بهسودو هم دغه بهیر پر جرلیز او میدان ور ایله وو...

خو دوی ایران ته نه تلل ختیځ ته روان وو، لنډ به پر دشت برچي واوښتل قومي غونډو کې ځای پر ځای کېدل... هغه چې د کشتمد له وخته ایجاد شوي وو...

هغه وو چې د رژیم له سقوط د مخه دغه سیمې چې مزاري ملت غرب کابل باله د حزب وحدت جنګیالیو منګول ته لوېدلې وې... ځکه خو یې د سقوط په درشل کې شاوخوا پوځي تاسیسات، وسلې او د مهماتو زېرمې په اسانۍ لاندې کړې شوې...

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو جګړه څرنګه پیل شوه؟

میرویس میدان څلور لاري کې پر یوه ټانک د خمینې تصویر لګېدلی- له پغمان د عرب جنګیالیو د پک اپ په رسېدو یو عرب پر ټانک دراکټ ډز وکړ... ټانک ونه لګېد، خو د جګړې اور یې بل کړ...

وحدتیانو کابل کې سعودي سفارت چور کړ....

عرب جنګیالي کونړ کې د مولوی جمیل الرحمن او ځاځیو کې د استاد سیاف لیکو کې جنګېدل، ځکه خو حکمتیار ۱۹۹۱ جولایي کې له افغانستان نه د ټولو عربانو د وتلو غږ وکړ...

(فرنټیر پوسټ ۱۵ جولایي ۱۹۹۱)

عربانو د جلال اباد جګړه کې جلا غوندې درلود، چې د استاد سیاف له شمشاد قرارګا بهېدل، هوړې یې د وژل شویو هدېره ده... دوی کابل ته له استاد سیاف دمخه رسېدلي وو.

له پغمان تر میرویس میدان یې پک اپ ځغلېدل...

نظار شورا د وحدت او اتحاد پر شخړه د پښتنو او هزاره ګانو د دښمنۍ ایرې وتپلې، بیا یې د شیعه، سني ټاپه ورکړه، چې له امله یې د پښتنو سرو کې میخونه ټک وهل شول، کورونه یې لوټ او د سیمې زرګونه بې ګناه اوسېدونکي ووژل شول... ابوالحسن هم د وحدت منګولو ته ولوېد خو روغ رمټ یې پرېښود... په دې توګه یوه بله بې رحمه جګړه وتپل شوه...

له ابوالحسن سره یې افغان سکرتر اسدالله او د میاګل جان اغا لمسی فرید هم نیولی وو... د میاګل جان اغا یو لمسی سعودي کې د زده کړو پر وخت هوړې واده کړئ، د پیرۍ مرید قایل نه و... بیا لندن ته ولاړ او هلته وفات شو...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل کیږي د مېرمني له خوا يې ابوالحسن سره خیبني وه...

حقاني صاحب چې د دوی ترمنځ موقتي اوربند رامنځ ته کړ ډاډه نه دی، غواړي خبره پخه او کره شي.

د سهار ۸ بجې دي، د دایمي اوربند لپاره عبدالعزیز د حقاني صاحب له خوا د مخابرې له لارې له وحدت، اتحاد او نظار شورا ترمنځ د ناستې زمینه برابره کړې، چې د تلپاتې اوربند لپاره د سولې او جرګې پر ټغر راټول شي، ۹ بجې مو له چهلستون حرکت وکړ، حقاني صاحب دوه سیټه پیک اپ ته وخوت، دویم هغه د جنرال ساپي شو، دوه د باډیګارډانو، پنځم زما دی، ورپسې د ساتونکو...

پر ښار ډاروونکې چوپتیا پرته ده، لکه ژوندیو تړې وار له مخه پخپلو اوږو خپلې جنازې لیږدولې او ښار یې د مرګ خاموشي ته سپارلې، لکه د ژوند نښو او هنګامو خپل سر خوړلی، واټونو کې یوازې د ملیشو او مجاهدینو جیپان او پیک اپ ځغلي، ځلور لارو کې رامنځ ته شوې پوستې د مرګ زهر ویشي، کوڅه ډب سپي، په انګولا دي، نور نو ژوند له ښاره کډه کړې، مرګ او وېرې په کې دېره اچولې...

له جوی شېر سره د سپو یوه لالهانده ډله وارخطا ودرېده، د ګاډو له تېرېدو یې بېرته په شا وځغستل، د غره په لور یوه تنګه کوڅه کې ورک شول.

ثانوي تخنیک چې پخوا یې کلای کلوخک باله د راټولېدو لپاره په ګوته شوی.

دهمزنګ کې د جنرال مومن ځواکو تم نه کړو، ثانوي تخنیک ته په رسېدو د هېڅا درک نه لګېده، کابو نیم ساعت تم شوو، اړیکه نه شوی ټینګېدای، ان چې د سمو معلوماتو ترلاسه کول هم ناشوني ښکارېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه وکړو، څنګه يې وکړو... چې برید پیل شو، مردکي دی چې راپریوځي، د درنو ډزو غوړمبی پورته دی.

بادیګارډانو سملاسي مورچې ونیوې، حقاني صاحب د حرکت امر ورکړ، یوه شپبه کې موټرو ته وختو، له ثانوي تخنیک په راوتو لاره کې نوی خندونه غورځېدلي، ډزې روانې دي، ګاډي تم شول، جنرال ساپي خپل پیک آپ له کتار راویوست د سړک نښي ارخ ته یې پر یوه لنبتي وربرابر کړ، د دې لپاره چې موټرو ته یې د تېرېدو لار اواره کړې وي، ګرندی، له لنبتی واوښت، بېرته په شا راوګرځېد، په خورا چټکی پر مخ ولاړ، لاره جوړه شوه، موټران پر سړک وربرابر شول.

زمور پیر صاحب وارخطا شو، لکه یخني نیولی وی، زامې یې ګربېږي، موټر تري ونښت، خو د بادیګارډانو د موټر له سختې دیکې سره راووت، جنرال رحمت الله ساپی د ټولو تر مخ په بلو څراغو لکه ګولۍ څغلي، لار باسي...

چهلستون ته په رسېدو څرګنده شوه، دوه ساتونکي لګېدلي، په موټرانو ګولۍ مونبتې، د جنرال ساپي کوماندو په کار راغله، چهلستون کې مې ورته کړه، سردار ولي خو دې لاس ټرلی داود خان ته وسپاره، ښه وه حقاني صاحب دې وژغوره... دا خبره اصل کې د ولسمل ده، هغه وخت چې جنرال ساپی د پیر ګیلاني د امنیت رئیس و، مجاهد ولس کې یې پسې لیکلي و، " پیر صاحب ته دې خیر وی" رحمت الله خان ساپي خو جنرال عبدالولي لاس ټرلی داؤد خان ته وسپاره...

برید چا وکړ، پر سړک خندونه چا غورځولي وو، بریدګرو ته دا اطلاع رسېدلې وه، چې حقاني زغروال ګاډی کې نه دی راغلی....؟

د اتحاد لاس دغه برید کې نه شي په ګوتو کېدی، خو دا چې یو ارخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم له خپلې ژمنې سره نه و راغلی له دغسې شک غاړې نه شي خلاصولی.

دا یوه توطئه وه که تصادفي پېښه او ناسم پوهاوی... حقاني صاحب نه له رسنیو سره مرکو کې او نه هم له مور سره ناسته کې په کوم لوري د برید پړه وغورځوله، څومره زغم، څو نی ظرفیت...؟

حقاني صاحب له B.B.C سره مرکه کې ایله دومره وویل:... مور د متخاصمو غاړو د ټینګې ژمنې له مخې غوښتل د جرګې پر ټغر کینو، چې را منځ ته شوی اوربند و غځول شي، سوله ټینګه شي، خو متاسفانه دوی پر خپله وعده وفا ونه کړه... ماله موټر سره ورجوت کړ... بیا مې خپلو مجاهدینو ته وویل ډز ونه کړي.

(...) ډاکتر یوه لیک کې ماته کښلي:... دلته د ګاندي جي د سیاستونو ځای نشته...

زه چې میرانشا کې حقاني صاحب ګورم د ایپې فقیر میرزا علیخان راته بریښي. (...) ډاکتر یې کابل کې ګاندي جي ته ورته مومي؟

کابل هوټل که کاروانسرای:

عبدالسلام د کابل هوټل د دریو کوټو نومرې راکړې وې چې فاضل او د جمعیت فرهنګي کسان په کې میشت وو، درې واړه کوټې بندې دي، له دې مخکې ما څو ځله له کابل هوټل پر ټیلیفون د دغو شمېرو کوټو سره دارتباط غوښتنه کړې وه، هغوی به کله ویل کوټې ټیلیفون نه لري او کله دا چې مور ته امر نه شته،کابل هوټل افغانستان بانک ته مخامخ دروازه ټرل شوې، هوټل پر لارو جوړو شویو دوکانو او سماوارو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ورته ښکاري، هرڅه يې پر بل مخ اوښتي، د نصوارو توکانو پر دېوالونو او دهلېزونو عجيبه رسمونه او نقشونه جوړ کړي، هينداري ماتې او کوټې له چريکي بسترو ډکې دي، په مطلوبو کوټو کې دا نه معلومېده، څوک شته او که له دننه قلف دي، له منيجر مې پوښتنه وکړه، ويل يې، موږ ته هم درک نه لګي، مخکې به چې مسافر له هوټل وتل، کلي يې موږ ته راکوله، خو اوس موږ نه پوهېږو، په کوټه کې شته که چېرې تللي دي. منيجر زياته کړه، کابل هوټل اوس هوټل نه دی، د دېوانو کاروان سرای دی. د ده په خبره کابل هوټل پخوا ښه رونق او عايدات لرل، خو اوس په مياشتو کوټې بندې وي، داسې هم شوي چې يو تن کوټه بنده کړي بدخشان پنجشير... ته تللی، بل چاته يې کلي ورکړې او هغه په کې اړولي وي.

د قلف له سوري مې وکتل، د بټر کاغذونه تيت پرک پراته وو، يقين مې شو، د يارانو کوټه همدا ده، درې ليکونه مې وليکل، د ټيليفون شمېرې مې هم په کې وليکلې او دروازې لاندې مې د کوټو دننه وغورځول.

يوه نيمه اوونۍ وروسته سهار اته بجې عبدالعزيز غږ راوکړ، ټيليفون دی، فاضل خبرې کوي، د ټيليفون غوږۍ مې واخيسته، فاضل په هماغه پخوانۍ مينه خبرې کولې داسې معلومېده، د کيسې په زور او زېر خبر دی، خو په دې يوه مياشت کې يې ولې پوښتنه ونه کړه او اوس يې څرنګه د ټيليفون تکليف وکړ؟

زما خبرې ترخې وې، خو ده ښه په اطمينان خبرې کولې، داسې معلومېده لکه په دې اړه يې ښه سوچ کړی وي، فاضل زما د احساساتي او انتقادي خبرو په څواب کې وويل، پام کوه خبرې دې ثبتېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ویل: پوهیږم، یوازې خاد سلامت او فعال پاتې دی...

فاضل دا هم وویل: تېره ورځ چې استاد رباني له خارجه کابل ته راتی، هوایي ډګر کې ستاسې له ملګرو یوه تن له جنرال مجید سره د موټر خبره کوله، چې ورته کورټ منکر شو، په تهدید یې له هوایي ډګره وشاړه، هغه خو به ستا د موټر معامله نه وه، ما ویل کېدی شی.

خبره داسې شوه، چې فاضل به په خپل ټول وس له خپل اثر او رسوخ استفاده کوي او احوال به هم د ده له طرفه وي، په دې کې ښایسته ډېرې ورځې تېرې شوې، خو د فاضل احوال معلوم نه شو، ځکه خو مې د ښاغلي فاضل د دفتر ټیلیفون شمېره پیدا او له دې په زیات کړاو مې ور سره د ټیلیفوني خبرو چانس ترلاسه کړ.

ښاغلي فاضل ادرس راکړ، له بهرنیو چارو وزارت سره لګېدلی د میهن جریدې دفتر یې د جمعیت فرهنګي چارو ته ځانګړی کړی...

ما هم په بیړه د فاضل او میهن په لور مخه کړه، د دفتر په پیدا کولو کې له ستونزې سره مخامخ نه شوم، له فاضل سره مې په ټوکه کې وویل، عجیبه تصادف دی، چې د جمعیت فرهنګي چارې د میهن دفتر کې غځېدلې، دا اړیکې موله پخوا وې که څنګه؟ ده وخندل، دفتر لا منظم نه و، مېزونه، کتابونه او الماری ګډې وډې پرتې دي، زه له فاضل سره کېناستم، دلته دا هم راته معلومه شوه، چې فاضل له دی دفتره علاوه په ټوله کې د (افسر به کار خاص) په توګه کار کوي.

فاضل که څه هم خبر و، خو له ما یې بیا د موضوع په اړه توضیحات غوښتل، ما هم لنډ معلومات ورکړل، اوس نو د دفتر هر غړی راځي او پوښتنې کوي، څوک خاندي، څوک سر وخوځوي او ژبه وتکوي.

د بدخشانیانو هجوم و چې دلته یې مخه کړه، اجر الدین وویل هره

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرمه دا حال وي، دغه دفتر ته يې له دولتي امنيت پخه کړې دوډی راوړه.

بناغلی اندیشمند هم د ډوډی پر مېز حاضر و، د رادیو تلوېزیون او دولتي ادارو د بنځینه مامورینو او کارکوونکو کیسې مشغولا ده، یوه ویل فلاني ریاست کې هغې فلانی نجلی له فلاني د واده غوښتنه کړې، بل به ویل؛ فلاني په فلاني وزارت کې له یوې ماموړې سره کوژده کړې، بس همدا خبرې او د همدغو خبرو په رابطه خنداګانې وې، چې دوی ترې له هغوی زیات خوند او لذت اخیست.

له فاضل سره مې د دوستم د جنبش د مرامنامې په هکله خبرې وکړې، چې د لیکنې له اسلوب او د لغتونو او اصطلاحاتو له انتخاب معلومېده، ببرک او پرچم خپل مرام ته د دوستم د جنبش کمیس او پرتوګ وراغوستی وي، خو فاضل جدي شو، چې داسې نه ده، په جنبش کې هم داسې ککړې شته، ما ورته کړه، د خام کله وو ماغزه داسې نه وي، دواړو وخندل.

له فاضل سره مې پېژندګلوي ما قبل التاریخ وختونو ته رسېږي، که ووایم جمعیت ته مې د ده په سترګو غاړه ورکړې وه، بېځایه نه ده، د مدرسې درونده، لایق او ښایسته زده کوونکي، له اووم تر دولسم ټولګي اول نومره، له هماغه وخته له فرهنګ او لیکوالي سره پېلې پر سیاسي مسایلو او پرمختیاوو خبر ځوان... د مدرسې ایډیالوژیک مسلط سیاست متفکر ماغزه...

له نصابي کتابو د باندې یې پراخه مطالعه وه، پښتو ادبیاتو سره یې هم پالل د استاد رباني د ترور زوی، چې له مهاجرت وروسته سعودي ته ولاړ، په ببرته ستنېدو دجمعیت فرهنګي کمېټه کې د میثاق خون مجلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چلوونکی او د فرهنګي انجمن رئیس...

له دغه مخینې سره مې خپل اخلاص او صمیمیت ته جمعیت کې د ده د زړه درې ښرته ونشوی موندی...

څارنوال عماد الدین وثیق په پښښه ډېره خواشیني ونښوده، ده فاضل ته وویل که موږ نه توانېږو د ننګیال موټر، کتابونه ورته پیداکړو، دا به ډېره بده خبره وي، اخر حکومت له موږ سره دی، قدرت موږ نیولی په داسې حالاتو کې موږ د عذر لپاره هېڅ جواز نه لرو، خو پر ښاغلي فاضل لکه د ده خبرې ښې نه وي لګېدلې، په ټیټ غږ وویل زموږ چې څه په وس کې وي هغه به کوو.

وثیق صاحب دا هم وویل، عباس کریمي کولی شي دا کار وکړي، هغه له دوستم سره بلد دی او مزار ته ورغلی و، که موټر یې مزار ته هم ښولی وی کولی شي هغه تر لاسه کړي.

عباس کریمي د ابوحنیفه مدرسې فارغ او لومړی په جمعیت کې و، بیا حزب ته ولاړ او هلته یې په یوه غونډه کې جمعیت په اصطلاح جمعیت اسلامي بللی و، خو بیا ښرته جمعیت ته ولاړ، له یاسر سره هم د پایځې رګ لري، له همدې امله هغه د خپل وزارت معین ټاکلی، اصلي نوم یې عبدالرحیم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ل- خرم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مرګ په زړي کې د خونښې ډزې:

سهار له لمانځه وروسته په خپلو بسترو کې غځېدلي یو، چې له شاوخوا د درنو او سپکو وسلو ډزې پیل شوې، لکه ډېر سخت او خونړی جنګ ننښتی وي، ډزو نژدې نیم ساعت دوام درلود، مور ټول حیران شوو، چې څه خبره ده، په دې کې چا د امریکا غږ له خولې یاده کړه، چې د رشید دوستم او ببرک کارمل د سپرلې الوتکه غورځېدلې او دواړه له څو نورو پرچمیانو سره وژل شوي دي، دا ډزې د همدې خوشالۍ ډزې دي، د مخابرې خونې ته مې منډه کړه... څه درک ونه لګېد... د ډزو په پای کې د ټیلیفون زنګ راغی، غوږۍ مې پورته کړه، مقابل لوري ببله سلام په دري وویل، ښه شوه چې ستر کافران له مینځه ولاړل، ما وویل ستاسې په مطلب پوه نه شوم، ویل نه ګورئ دوستم او کارمل وژل شوي، ډزې دې نه اورېدې، ما ویل اورېدې مې، خو له دې پېښې نه یم خبر، ویل نو دا ډزې چا کولې، ما ویل فکر کوم ډزې له هغو ارخونو کېدې، چې د حزب اسلامي او نظار شورا قوتونه پراته دي، ده ویل بېګا به له تلوېزیون د دوستم بیانیه واورې، ښغمه اوسئ او غوږۍ یې کېښوده.

په کابل کې اوازه وه، چې ببرک او ډله یې د دوستم په ملتیا د کودتا لپاره کابل ته راغلي، په ښار کې ځای ځای د دوستم او جنبش شعارونه ځړېدل، په ځینو دولتي موټرو هم د ۳۵ فرقې پرځای د جنبش ملي اسلامي ټاپې وهل شوې وې، د دوستم ګڼ تصویرونه، پر موټرو او ودانیو لګېدلي، ځینو خلکو په مکروریانو او نورو برخو کې د ببرک کارمل تصویرونه او ډډه په پلوۍ شعارونه هم لیدلي و، زه نه پوهېږم دا خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library

به څومره حقيقت ولري، خو د تواتر حد ته رسېدلې...

بېګاه جنرال مجيد له کابل راديو تلوېزيون او بي بي سي سره په دې اړه مرکه وکړه او په هماغه برګه دريشي کې يې په ډېر طمطراق د الوتکې خبر ترديد کړ.

که څه هم کارمل نوره بايللې وه، وروستيو کې د حيرتان ښارګوټي يوه کانتينر کې مېشت و، په همدغه کانتينر کې ومړ... حامد علمي لومړنی افغان ژورنالیست دی، چې د حيرتان ښارګوټي لمنو کې يې دا مو پر غاړو پر تودو شګو ولاړ کانتينر کې د کارمل پل موندلی...

سوځنده لمر، يوازيتوب، دوپچن کانتينر د کارمل ژوند ته د پای ټکی کوت...

د علمي په وينا د کارمل پر څېره د ناکامۍ، وېرې، غوسې، نهيلۍ، وحشت او يوازيتوب کږې وږې کرښې څغلېدلې وې...

روسانو ته په غوسه، له خپلو ملګرو شاکې، له ژورنالستانو ګيله من کارمل په مات زړه علمي ته وايي: د روسانو بنديخانه کې هېڅا دده لپاره غږ پورته نکړ...

خپلو رټلي، پردیو شړلي کارمل هيڅ لوري ته د مخ اړولو سترګې نه شوی لرلی...

بشارت صاحب د جنرال حيدرخان اندرابي له خولې وايي... ببرک کارمل د ليدو نه و، هرشی يې بايللي و، حيرتان کې يې پالنه زما د دندې برخه وه، يوه ورځ يې راته ويل: د سيند خواته وزم...

زه (حيدرخان) څو ګامه وروسته وم، ناڅاپه د سيند پر غاړه ودرېد، د وينا کولو پخپل دود يې آمو ته لاس ونيو، په ريږدېدلي اواز وغوړمېد... ويږيږم چې تا به هم له ما د نفرت دومره کيسې اورېدلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي، چې څپې به دې خپله غېږ کې ځای رانه کړي...

دغه ټکۍ د پېغورونو د عذاب هغه نښې دي، چې دکارمل پر وجود او څېره يې خپلې نښې لکه د چيچک او کال دانې داغونه پرېښې... هغوی چې پردي له خپلو ښه ګڼې انجام يې له دې پرته بل څه نه شي راختی...

د دوستۍ تجربه، د دښمنۍ څکه:

د مسعود او مجددي اختلافات اوج ته رسېدلي، پر راديو تلوېزيون او اخبارونو د جمعيت او مسعود کنټرول دی، ټول خبرونه او پروګرامونه د مسعود، رباني ملاقاتونو، ويناوو او بوختياوو په هکله دي، کله نا کله د مجددي د وينا هغه برخې هم خپروي، چې يا خو ډېر احساساتي دي او يا هم د مسعود او جمعيت رويې داسې په غوسه کړی، چې دې ته يې پام نه وي، څه وايي او څه يې له خولې وځي.

مجددي جنرال عبدالرحيم وردګ لوی درستيز ټاکلی و، چې احمدشاه مسعود ويتو او پرځای يې جنرال آصف دلاور لوی درستيز اعلان کړ، کوم ۳۶ کسيز کمېسيون چې ټاکل شوی و، د مجددي دوارې زامن او د تنظيم يوولس کسان يې غړي وو، چې جمعيت او احمد شاه مسعود مسخره ګانې.

د مجددي د خبرو دا برخه څکه جالبه وه، چې د ليدونکو اوږدونکو د يوې لنډې خندا او تبصرې لپاره يې زمينه برابرولی شوی، مجددي په خپل ټول قوت دا هڅه کوله، په قدرت کې د پاتې کېدو جواز او ځواک پيدا کړي، د ده سترګې دوستم ته اوښتې، چې ګڼې د ستر جنرالۍ او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلام فاتح لقب په صله کې يې پلوي شي، د اقتدار په لوبغالي کې د مسعود، مجددي ترمينځ د قدرت مسابقې يوه عجيبه وزلوبه روانه ده، خو بری د مسعود دی او مجددي ته يوازې د احساساتي انتقادونو او سپورو ستوغو مخه خلاصه ده.

حيرانوونکې دا چې حکمتيار هم مجددي ته د واک اوږدېدو پيغام او ډاډ ورکړی، مجددي له مسعود خوابدی دی، چې د ده لپاره يې د حکمتيار مخالفت وکړ، خو بيا هم دوی پوره واک ورنه کړ، رباني پرې وروغورځېد...

مسعود اندېښنه لرله، که دوستم په ربښتيا د مجددي تر شا ودرېږي، ايران هم ښايي حزب وحدت د دوی ننګې ته اړ کړي، ځکه خو يې ځان له يوې نوې ننګونې سره مخامخ ګانې، له پاکستان د راګرځېدو پر مهال د مجددي پر الوتکه برید په همدې موخه وشو، چې پړه يې پر حکمتيار ولوېږي او مسعود د مجددي له شره ځان وژغورلای شي.

د قيادي شورا يوه غونډه کې عبدالهادي ارغنديوال د حکمتيار په نيابت يوه طرحه وړاندې کړه، مجددي په احساساتي ټکو وويل: دا خو ټولې معقولې خبرې دي، اعتراض نه شي پرې کېدی...

استاد رباني پر مجددي غږ کړ: حضرت صاحب! لږ احتياط کوه، ته د حزبيانو د دوستۍ تجربه نه لرې.

مجددي په ځواب کې ورته وويل: ستا له دوستۍ مې څه ترلاسه کړل، ستا خو نه ځوک پر هو پوهېږي، نه پر نه؛ حکمتيار چې هرڅه دی صراحت خو لري...

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مسعود سره یوه بله ناسته:

د حضرت صاحب دماغ خراب دی:

له حاجي خلیل سره د مسعود ملاقات ته ولاړو، د وزیر اکبر خان مېنې یوه کور په سالون کې یې کېنولو، نژدې یو ساعت مو انتظار وکړ، قاضي راز محمد دلیلي لکه ستن خوړلې ښکته پورته ځغلي... کله د مسعود خولې ته ناست، کله د ډاکتر عبدالله، ډاکتر عبدالرحمن او...

کله مور ته راغلی، کله بل ته ګونډه ماته کړي... مضطرب، تلولی، غلی، غلی، غل، غل، په همدغسې وارخطایی او غلا مور ته نژدې شو... د پښتنو پر تباهی یې خوله خلاصه کړه خو برګه دریشي کې د یوه ژنې په راتلو لیرې وغورځید....

د غرمې یوه نیمه بجه شوه، چې د مسعود سکرتر نجیب راغی، ویل یې تر اوسه ستاسې ملاقات نه دی شوی؟

لومړی ډوډۍ وخوړئ، خو چې کتل مو چای او څه نخود او پسته یې پر مېز کېښودل، لږ وروسته مسعود راغی، خبرې شروع شوې، حاجي خلیل ورته د کودتا د اوازو وویل، مسعود د پوره ډاډ او باور څرګندونه کوله، ځکه خو یې په یوه فاتحانه موسکا وویل، زه خو داسې قدرت نه وینم، چې د کودتا اقدام وکړي، ده زیاته کړه، د دوستم ټول قوت او قدرت ور معلوم دی او هغه به هېڅکله هم دا کار ونه کړی شي، مسعود وویل، د کارمل پرچم ډلې په رابطه ما هم اورېدلي، خو د داسې اقدام امکانات نه وینم. د حزب په اړه یې وویل، حکمتیار یو ځل حمله وکړه ناکام شو، بیا یې حمله وکړه ناکام شو، که بیا حمله وکړي بیا ناکام دی، هغه هیڅوک نه لري، د مشرقي او شینوارو چې څومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کسان ورسره وو، هغوی ټول ترې تللي، د تریاکو ټولولو وخت دی، یو هم نه دی ورپاتې.

ده وویل: خبره د افرادو د شمېر نه ده، اصلي خبره دا ده چې څومره افراد سوق کولی شي، مسعود د حزب د ټانکونو او درنو وسلو احصائیه بیان کړه او د حزب دننه یې د اختلافاتو په رابطه خبرې وکړې، د قاضي امین وقاد او مزمل ډلې چې استاد سیاف د تامیل پرانګان بلل له اړیکو یو اوږد داستان تېر کړ، د دوی پر ژمنو او تعهداتو وغږېد، دا چې له ده یې څومره پیسې او امکانات وهلي ځرنګه وعدې یې ورسره کړې، د جلا حزب اسلامي د اعلان او حکمتیار د تجرید ټټر یې وهلی... چې حکمتیار، ختم دی، فیصله دی...

ماته په مخ اړولو یې وویل، معلومات مې څنګه دي، ما ویل بالکل کره چې دا معلومات نه، بلکې استخبارات دي، مسعود دا هم وویل، چې زه به له دې وروسته د وزارت دفاع کارونه شروع کوم، تر اوسه خو ما هسې د ملکي او اربابي کارونه کول، اوس مې پخواني افسران راغونښتي، چې د وزارت دفاع تشکیل وګوري، اضافي شعبې او څانګې چې رژیم پر سیاسي او نظریاتي بنیاد جوړې کړې، له تشکیله حذف کړي. مسعود پر حضرت صاحب انتقاد وکړ، ویې ویل د حضرت صاحب دماغ خراب دی، زه له تېرو څوارلسو کالو له حزب سره جګړې او جنجالونه لرم، نو چې زه حاضر یم، خپل جنجالونه ورسره حل کړم، دی یې ولې نه شي حل کولی، بیا که ورته وایې، چې سل تنه را معرفي کړه، چې له حزب سره وجنګېږي، یو هم نه شي پیدا کولی.

ده زیاته کړه، دا نه شي کېدی، چې حزب له یوې مخې ختم کړو، نو چې دا نه شي کېدی او حزب نه شي ختمېدلی، بیا ولې ورسره مسایل

(c) ketabton.com: The Digital Library

حل نه کړو، ده حاجي دين محمد هم په ستوغو ټکو ياد کړ... چې په درواغجنو ژمنو وعدو او لطايف الحيل پيسې تري وهي... د لښتي دواړه خوا وې خوري له حرکت او محمدي زامنو يې هم سر وټکاوه، چې امتيازات غواړي کار نه کوي...

ده د مجددي له ورونو او زامنو سر وټکاوه، چې حضـرت صاحب ته غلطې مشورې او معلومات ورکوي، يوه ورځ د ده په وينا د حضـرت صاحب زوی راديو تلوېزيون ته تللی و، د تلوېزيون منسوبينو ته يې بد رد ويلي و، چې د حضـرت صاحب په رابطه خبرونه نه خپروي...

مجددي د خپل زوی په لاس يوه ليکنه د اعلاميې په بڼه د دوستمي جنرالانو په ملتيا راډيو تلويزيون ته ليږلې وه، چې د لويې جرګې تر جوړېدا به د ده حکومت دوام ولري... دلته نو ما جدي اقدام وکړ، د دې مخه مې ونيوه، ورته ومې ويل چې مورږ جګړې ته چمتو يوو، بيا به دومره وينې تويې شي، چې تر ټولو د مخه به حضـرت صاحب ډوب کړي... د خدای په فضل د هغې فتنې مخه ونيول شوه...

درنې ډزې؛ سپکې مندې:

د جمعيت فرهنګي دفتر کې يم، په دې ورځ حفيظ منصور، سيد حبيب شاه، خليل هدف او څو تنه نور پېژندوی هم راغلي، سيد حبيب شاه له چا سره پټې خبرې کولې، غالباً د کومې ماموريې د ټيليفون په اړه غږېدل او له هغې سره يې د کړې وعدې او خبرو په يادونو د خپلو سترګو سړولو هڅه کوله.

دلته يو کندوزی جمعيتي له وضعې ډېر سر ټکاوه، مسعود او رباني

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې ملامت کړل، ويې ويل مسعود او رباني ته دا نه وو په کار، بايد مسعود يو نظامي حکومت اعلان کړی وی چې مولوي حقاني جمهور رييس او دی يې وزير دفاع وای، که داسې شوي وای، د پښتو او فارسي مثله هم نه راپيدا کېده، د کمونستانو مخه هم نيول کېده او چانه د مخالفت جواز او فرصت نه پيدا کېده.

حفيظ منصور ويل، په هوايي ډګر کې يو اشنا لرم، له هغه سره به مشکل مطرح کړو، که څه يې له وسه پوره وي، نه يې سپموي، د ټيليفون نومره يې ډايل کړه، خبرې يې ورسره وکړې، په پای کې يې ورته وويل، گوره ننګيال زمونږ جنرال فنا دی، چې فکر دې وي، مونږ هوايي ډګر ته ورغلو، هلته مو بيا هم د گلم جم ملبشو په يوه ډله سترګې ولګېدې، چې گډوډ ببر سرونه، څوړند برېتونه، سرې سترګې پراته وو، داسې معلومېده لکه له يوې مخې نشه او يا هم ننه ستړي او بې خوبه وي، مونږ د دوی په مينځ مينځ کې تېر شوو، ډېرى سل ډزي، او راکټ ته تکيه وهلې وه، مونږ ته يې په سرو سترګو کتل، داسې لکه زمونږ جېبونو کې د دوی ورکه پرته وي.

مونږ ته منصور له حبيب الرحمن سره د ليدو ننبه راکړې وه، حبيب الرحمن مو پيدا کړ، د پنجشېر اوسېدونکی او هوايي ډګر کې د نظار شورا استازی او د قوماندان فنا سکرتر دی.

حبيب الرحمن درووند، او پاک زړی څوان معلومېده، ما خپله کيسه ورته سر تر پايه تېره کړه، خواشينی شو، له وضعې او موجوده حالاتو يې شکايت وکړ، ويې ويل، په والله دغه وحشي ملبشې او د دوی قوماندانان له مونږ سره داسې رويه کوي، لکه غلامان يا اسيران چې وو، چې څه ورته وايو په ډار ډار يې وايو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده وویل: زه به کوښښ وکړم، خو خدای خبر، بیا هم که څه وشول تاسې ته به خبر درکړم.

بله ورځ زه او پیر صاحب بیا د جمعیت فرهنګي دفتر ته ورغلو، اجر الدین ویاړ هم هلته و، یو ځل بیا انټریو او استنطاق پیل شو... څنګه چل و... چېرته، څه ډول او دې ته ورته نورې پوښتنې...؟

پوښتنې ښې نه لګېدې، ما یو ځل بیا ټوله کیسه له سره تر پایه په یوه دمه تېره کړه، ویاړ خوله رانژدې کړه، ورو یې وویل بربادي ده بربادي څه به کوو...؟

په دې کې فاضل راغی، دی لېرې وغورځېد، ویې ویل پرون تلوېزیون کې ستا پر کتاب تبصره وشوه، که یوه ادبي مرکه درسره وشي څنګه به وي، ما ورته وویل، ستا له مهربانۍ مننه، خو په دغه فرهنګ دښمنۍ کې ادبي مرکه کېدی شي؟

په دې کې اندیشمند هم راغی، ده هم پر کتاب د تبصرې خبره وکړه، ویې ویل، که له خپلو کتابو یو یو ټوک راکړې، نو ښلا ښلو پروګرامونو کې به پرې تبصرې وکړو، ما ویل: کتابونه خو ملېشو لوټلي، اوس بې کتابه ګرځم.

له غرمې وروسته دا سیمه د توغندیو پر له پسې ډزو ولړځوله، فاضل او نور به کله لاندې منزل ته کوز شول، کله پاس ختل، د ټیلیفون شمېرې به یې ډایل کړې او له یوې بلې خوا به یې پوښتنې کولې.

نه برېښنا وه او نه هم اوبه، د ماسپښین د لمانځه وخت و، ځکه د اوداسه لپاره د جومات په لټه کې شوم، نژدې مو یو جومات پیدا کړ اوبه په پیسو وې، کوزه په (۵۰۰) افغانۍ... لمونځ مو وکړ، د توغندیو ډزې په لږ ځنډ روانې دې، ځمکه او تعمیرونه یې لکه د زلزلې لړزول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له لمانځه وروسته بېرته د جمعیت فرهنګي دفتر ته ولاړو، چې که څه درک ولګېږي، چې جګړه پر کوم طرف ده، له دفتره مو چهلستون ته ټیلیفون وکړ، له عبدالعزیز سره مو خبرې وکړې، ویل یې له دې طرفه جنګ نشته...

سید حبیب شاه له ډاره داسې لړځېده، لکه د مني وچه پانه، د فاضل او نورو هم رنګونه تک زېړ تبنتېدلي، لکه وینه تري زېښبل شوې وي.

ما په ټوکه ورته وویل د پادشاهي، مزې څنګه دي؟

دوی یو بل ته په اشارو څه زېر زميني زېر زميني یادوله، هغه و چې له څو سختو ډزو سره ووتل، موږ هم ورپسې منډه کړه، چې کتل مو د وخته موټرو ته ختلي او داسې کش لګولی و، چې له سلنګسر یې لکه د بخارۍ نل لوخړې ختې، ما اول فکر وکړ ګنې د توغندي د کومې ګولۍ په لګېدو اور بل شوی، موږ یې پر سړک بې اسرې پرېښوو، څه مو کړي وای، د توغندیو په لوګیو او غړمباکې مو منډه کړه...

نه موټر شته، نه ټکسي او نه څه بله وسیله، خلکو په لاسي کراچیو او شاوو زخمیان یوه او بله خوا زغلول، موږ د ده افغانانو په واټ ووتلو او له نو اباد سره مو ایله یو ټکسي پیدا کړ، څو توغندي له پل باغ عمومي سره د ارین هوټل لاندې د موټرو تم ځای کې لګېدلی وو، چې ډېره مرګ ژوبله یې کړې وه، ویل کېدل توغندي د ائتلافیونو له خوا ددې لپاره فیر شوي و، چې د حزب په وړاندې د خلکو کرکه او نفرت وپاروی. والله اعلم.

پردې ورځ انجینر حکمتیار او استاد سیاف د قیادي شورا د غونډې لپاره چهلستون ته تللي وو، خو استاد رباني د توغندیو ډزو داسې وېرولی و، چې د قیادي شورا، غونډه او ځای یې له یاده وتلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګولیو په ګډا کې:

د ملګرو له قیامت، د ورونو محشر ته

د کابل پر بنکلاګانو د کمونستانو ناتار او شوروي تېری وحشتونو اور لګولی، خو د فتحې او ازادۍ په نامه چې کابل په کوم دوزخ کې سوځېده، هغه له تېر څوارلس کلن وحشت او بربریت څو برابره زیات خوت.

دلته ده چې د غویي اتمې وحشت د ثور د اوومې ناتار مخ سپین کړ.

یو سړی چې ټوپکیانو د جیبونو په تشولو د ټوپکو په خولو او کونداغو واهه ډباوه، د اخ و آه پر ځای ویل: پر دې خوله مې وهئ، دا خوله راماته کړئ...

ټوپکیانو لاس ونیو، په خوله ولې، د خولې ماتولو څنګه...؟

سړی ورته وایي: په دې خوله مې ستاسې مجاهدینو د بري دعاګانې کړې، دا خوله ماته غواړم، ماته ښه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کابل کې یوازې د مرګ او ژوند جګړه روانه ده، خو بری د مرګ په طرف دی، پر هر لوری د مرګ بلا خوله وازه نیولې، په هر واټ، دفتر،کوڅه او کور کې مرګ په کمین کې دی، له هوا د مرګ باران اورېده، له ځمکې د مرګ زړې زرغونېدل ژوندي بنیادمان یې د ځمکې زړه ته کشکول، ډېری شخصی ودانۍ ښوونځی، دفترونه، دوکانونه، پوځي پوستې ګرځېدلې، راکټونو، ماشینګنو او کلاشینکوفو د مرګ ویر غږولو ته خپلې خولې خلاصې کړې دي.

کابل کې د هرڅه کاختي او قیمتي ده، یوازې د وینو او سرونو ارزاني او د مرګ پرېماني ده او هغه څه چې بې پیسو او بې قیمته پیدا کېږي، د توپونو مزایلو، راکټونو او ماشینګنو ډزې دي، چې د ځوانیو او ژوند لو یې ګډ کړی دی.

خلک د جګړې بېګناه قربانیان په کورو او کوڅو کې ښخوي، کابل هدیره ګرځېدلې، د سړې میاشتې عمله او امبولانسونه کاریزمیر کې ځغلي...

بله پرېماني په کابل کې د لیډرانو د عکسونو ده، داسې ډېوال، دفتر، نړېدلې شخصي او سرکاري ودانۍ هوټل او ... نشته ، چې د یوه یا دوو لیډرانو تصویرونه نه وي پرې لګول شوي، د مسعود او رباني تصویرونو خو ښځي قیامت جوړ کړی، سړي به چې په نړېدلیو ودانیو او ډېوالونو دغه بې شمېره عکسونه او د کابل ورانۍ او د جګړې په لمبو سوځېدلې ښې ته کتل، داسې برېښېده، لکه دغو کنډوالو خپل مجرمان د خلکو عدالت ته وړاندې کړي او د موست وینټېټ اشتهارونه لګېدلي وي...

د جګړې په لمبو د سوځېدلیو ودانیو په دود وهلو ډېوالو لګېدلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصويرو د حال په ژبه د دغه واقعيت ترجماني کوله.

کابل کې که څه هم مسعود رباني او مجددي په ارګ، صدارت او وزارت دفاع کې ناست دي، خو له ارګ صدارت او وزارت د باندې د هغه چا حکمراني او پادشاهي چلېږي، چې ټوپک ورسره دی، په تېره هغه خو بې تاجه پادشاهان دي، چې يا يې د شورای نظار کوماندويي دريشي او برګ دسمال پر اوږه پروت دی او يا يې لکه د ګلم جمو څوړند برېتونه، ګوپيچه او څادر له سره تړلي.

کابل کې د (ملوک ګلم جمي) او (ملوک القوماندانې) سيستم چلېږي.

د مجاهدينو حکومت په جوړېدو مکتبونه او پوهنځي تړل شوي، کابل پوهنتون، دارالمعلمين، پولتخنيک، د اجتماعي علومو انستيتوت دا ټول د يوه او بل تنظيم له خوا اشغال او په نظامي پوستو بدل شوې، حتی د مجددي له خوا د لوړو ښوونو ټاکل شوی وزير ډاکټر موسی توانا، چې غونښتل وزارت ته داخل شي، د حزب وحدت له خوا شاګرځ او له دروازې بېرته ګرځولی و، د کابل تورخم لار د يوه اوږده ځنځير بڼه لري، چې موټر په کې لکه لويې وړې کړۍ پېيل شوي، له پاکستان د مهاجرو کورنۍ ازاد افغانستان ته يوه په بله پسې را روانې دي او له کابله د اسلامي حکومت له مرحمت نه په تېښته کورنيو پاکستان ته د هجرت هوا په سر لګېدلې، له پاکستان نه مهاجر تلل او له کابل نوي کډوال په نا معلوم لوري يوه او بله خوا تنښېدل، هجرتونه او پردېسۍ په وصال بدلېدلې او د نويو هجرتونو او اوارګيو لړۍ پيلېدلې، له کابل نه د اوارګۍ په دغه سلسله کې د پخواني رژيم له ائتلاف نه د باندې وزيران، افسران او ګوندیان د امپرياليزم هغه ځالې ته پناه وړه، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

١۴ کاله يې د خپلو ټوپکو قلمونو په خوله ورسره جګړه او مبارزه کړې وه.

له ټلوالې دباندې ګوندیانو او هغوی چې د امینیانو ټاپه خوړلې وه، سر او مال خوندي نشوی پاتېدی، محمود سوما، عبدالرشید جلیلي او څو نورو حقاني صاحب ته پنا راوړه، ده ورته د خوندي میشتېدنې شونتیا برابره کړه، ډېره موده ښاغلو سوما او جلیلي له موږ سره چهلستون کې تېره کړه.

حاجي محمد څمکنی چې څه موده جمهور رئیس و، له شاهي قصر نه د مهاجرو تر خېمو پورې لار ووهله، سندرغاړو هنرمندانو هم هغه وطن ته له خپلو ربابونو سره کډې وړې، چې کلونه یې په کابل رادیو کې مهاجرو ته د راستنېدو سندرې ویلې.

د امین صاحب دفتر یې پرده دی، چې له افغان کمشنرۍ زیات یې دغه نویو مېلمنو او د چا خبره تعلیم یافته اواره ګانو هرکلی ته غېږ پرانیستې ده.

د فتحې په محشر کې لړزوونکي انکشافات:

میوند واټ کې یو تن ګلم جمو ودراوه، وروسته له دې چې جېبونه یې تلاشي او تش کړل په واسکټ یې هم مینه راغله، ورته وویل شول، په ارامۍ خپل واسکټ تسلیم کړه، هغه له واسکټ سره خپل کمیس او پرتوګ هم وایستل او لوخ لغړ یې خپل لاسونه د کامیابۍ له علامې سره پورته او چیغه کړه، زنده باد اسلام، زنده باد حکومت مجاهدین! خبره تر میوند واټ پورې راغله، د واټ د دواړو غاړو اپارتمانو نه چې یو وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کرايي اطاقونو په توګه استعمالېدل اوس يې د کوټو کړکۍ ايستلې، د خالي کوټو له کړکيو به د ګلم جم ملبشو يو دوه تنه راڅرګند شول، داسې لکه دا کوټې او اپارتمانونه يې کمين ځايونه وي، ځار کوي چې که کومه غوړه ګوله ووينې، هره شپه د هټيو دروازې ماتېدې له چور وروسته يې اور ورته اچاوه.

پل محمود خان او چنداول کې خو د شورای نظار برېښو دوکانونه، او هټۍ له يوې مخې چور کړې، جګړه د لوټ تالان پلمه هم ده هره جګړه کې يې د تجارانو او دوکاندارانو هم ستړه ايستله.

په مکروريانو کې د برېښنا د نشتوالي له امله له اپارتمانولاندې د اوبو ځاګان کيندلې، له هر اپارتمان سره پنځه شپږ واړه نغرې او ورسره ناستې بنځينه ليدل کېدلې، چې د اور له بلولو سره به يې اوښکې په مخ روانې وې.

وروسته جګړو او لوټمارېو دا سيمه له خلکو تشه او تر مودو د ملبشو او جګړمارو سنګرونه ګرځېدلې وو.

پاټک او زنځير د لوټمار نښه سمبول او کلچر ګرځېدلی، د نامشروع اقتصاد سرچينه پېژندل شوې، تر دې چې په دې نامه (پاټک واچوه ما واخله) يو ډول توکر راوتلی او نوم يې په صنعتي ډګر کې تر ليرې غزېدلی دی...

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتابونه په لمبو کې:

په ادارو، دفترو کې چې د مجاهدینو په نامه کومو ببر سرو اړولي، نه یوازې رسمي ریکارډ، اسناد او کتابونه یې د پخلي لپاره په نغریو کې سوځول، له کتابتون او ارشیفونو سره یې هم دغه چلند کاوه، مېزونه، الماري او چوکۍ هم بخاریو کې سوځول کېدې.

د اسلامي حکومت په لومړیو کې وزیرانو مجلس د اطلاعاتو کلتور وزیر ښاغلی صدیق چکري په وړاندیز د کتاب سوځولو په پرېکړه خپله فرهنګ دښمني ټولو ته ثابته کړه.

اسلامي حکومت اعلان کړه، چې باید په تېرو څوارلس کلونو کې چاپ شوي کتابونه وسوځول شي، په دې کې بیا نه ښو ته کتل کېدل او نه بدو ته، نه د ارزونې او تدقیق لپاره ورته څوک وټاکل شول او نه دې ته پام وشو، چې په اصطلاح د کمونستي کتابونو په تور د سوځولو دغه کمپاین له ځان سره نور آثار هم ایرې کولای شي.

د علومو اکاډمۍ دفتر چې د مجاهدینو کومې ډلې په اصطلاح فتحه کړې، د دفتر له کار کوونکو پوښتنه کړې وه، تاسې په دې دفتر کې څه کول، له کارکوونکو یو تن ویلي و، کتابونه مو چاپول، بیا یې پوښتلي وو، قرآن شریفونه مو چاپ کړي، ورته ویل شوي و نه؛ دغه "نه" د کفر او رټلو څرګند تور ګرځېدلی و.

د جوزا پر ۱۴مه یوه ډله وسله وال یوه کور ته ننوتل، د کور مشر ته یې ویل: ستا لور مو د دریو ورځو لپاره په کار ده، پلار ورته ویل: تاسې لږ صبر وکړئ، زه ستاسې غوښتنه منم، کور ته ننوت، لور ته یې وویل: ژوندی دې ور وسپارم او که مړی، لور چې د عفت مرګ په دغه ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوره گانۍ، وویل مړی.

کله چې د هندوانو پر کورو د لوټ تالان هنګامه توده شوه، څو تنه دفاع وزیر احمد شاه مسعود ته ورغلل، په خپل عرض یې د غور هیله وکړه، خو هغه ورته وویل، زه نور څه نه شم کولی، وسله درکولی شم، که له ځانه دفاع کولی شئ.

د افغاني هندوانو پر مال، عزت د تېري خبره تر دې حده ورسېده، چې په ځینو ځایونو کې یې زاړه هندوان سنت (ختنه) کول او ډېر ځله یې د یوې او بلې ډلې نیول شوي افراد زخمیان او د جګړې اجساد په باغ وحش کې دوړو لېوانو، پراګانو پنجرو ته اچول.

د جګړې له پیلېدو به د افغاني سرې میاشتې رییس او منسوبین په خپلو لندکروزرو کې کاریز میر او پاکستان ته واوښتل، خو د سره صلیب کارکوونکو د زخمیانو په دارو درملو پسې په واټونو او کوڅو کې یوه او بله خوا ځغاستل، په دغو دریو خونړیو جګړو کې د افغاني سرې میاشتې امبولانس چا ونه ولید، چې کوم زخمي یې روغتون ته رسولي وي، خو د سره صلیب منسوبین او امبولانسونه په سختو جګړو کې بېدفاع ښاریان روغتونو ته وړل.

تېری دا چې د سرې میاشتې امبولانسونه د نظار شورا پوځي فعالیتو ته استخدامېدل پوځي توکي مهمات یې لېږدول.

په کابل کې د بي - بي - سي خبریال سوزي پرایس هم خپل موټر کې د جګړې زخمیان نقلول، خو د افغاني سرې میاشتې امبولانسونه د جګړمارو په چوپړ کې وو...

په کابل کې هر ببر سری او وسله وال ګلم جم دی، د اسلامي دولت هر بړېڅی او امنیتي مسوول د لوټ تالان په څار کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر ځله چې د راکټونو د ډزو په لړ وقفه کې یو سر وهلی، بر وهلی کابلی د یوې ګولې قوت لا یموت په خاطر له کوره په وتو ځان اړ لیده، پر اوږه به یې چا لاس کېښود، د کلاشینکوف میل به یې ډډې ته ونیول شو او په دې لړ وخت کې به یې جیب کې د یوې مړۍ هغه ټوله متاع لوټ شوه.

خو د کورنیو چارو وزیر انجینر احمد شاه احمدزی امنیت قناعت بښونکی ګڼي کابل ښاریانو ته له ډیرې، څنو او مجاهد له کلمې کانګې ورځي.

په کابل کې د غلا لوټ، چور چپاول بازار ګرم دی، نه د چا مال خوندي دی، نه عزت او ناموس.

اویا کلن ارسه سنګ په سرو سترګو کیسه کوله، چې د ده تربور پیاراسنګ ګلم جم وتښتاوه، له څو ورځو بند وروسته یې د دېرش ملیونو افغانیو په بدل کې خوشې کړ.

مهرسنګ هم چې ګلم جم ملېشو تښتولی د شل زره ډالرو په بدل کې خلاص شو.

سردار سرن سنګ سوداګر د اتیا زرو ډالرو په بدل کې ګلم جم ملېشو له تښتولو وروسته پرېښوده.

رنجیت سنګ چې یو زلمی او روشنفکر ځوان دی او له پاکستان نه یې افغانستان ته مال وړ وویل، یو ځل اتوګلم جمو ونیولم، داسې پوخ یې ووهلم چې له اخ او ټوخه ولوېدم له دې وروسته یې ټولې پیسې راځخه واخیستې مات او ګوډ یې همغلته پرېښودم.

د ګلم جم او نظار شورا قوماندانان نیول شویو کسانو په پلور، د انسانانو تجارت رامنځته کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوګر اوسېدونکي حاجي خواني کيسه کوله، چې ګلم جم ملېشو په ميوند واټ کې ودرولم، له موټر يې کوز کړم، په جېبونو کې مې چې څه و، هغه يې راڅخه واخيستل، زما د بندي کېدو پر دويمه ورځ يې دوه تنه نور چې يو په کې ځوان او بل خام هلک و راوستل، دواړه ورونه وو، د شپې پر لسو بجو دوه تنه ګلم جم راغلل او دغه هلک يې زمونږ له کوټې ويوست، زه پوه شوم چې د څه لپاره يې ويوست...؟

حاجي خواني وايي، د هلک ورور په ژړا شو او ما هم له شرمه خپل مخ په څادر پټ کړ، درې ساعته وروسته چې هلک بېرته راغی، ورور يې پوښتنه وکړه، څو تنه وو؟ هلک په داسې حال کې چې ستونی يې له غريوه ډک و ويل اته.

کابل د سياسي اقتدار د وزلوبې خونړی ډګر ګرځېدلی، د مجددي، رباني، مسعود، حکمتيار، دوستم، سياف، مزاري ترمينځ د اقتدار په لوبغالي کې ډز او غپ روان دی، خو سر کاري راډيوتلويزيون د مرګ ژوبلې خبر نه لري، خبر يوازې د مسعود، رباني، مجددي ليدو کتو او ترفيعاتو لستونه دي، چې په لوستلو يې د خوارکي نطاق په خوله کې لاړې وچې شي.

د بېګناه بناريانو يرغمل نيول، بېله دې چې د حزب وحدت، شورای نظار او اتحاد له ډلو سره تعلق او تنظيمي تمايل ولري جريان لري، کله به چې دغو ډلو په خپلو مينځو کې ګوټې واچولې، هغوی چې د څېرې، ژبې او قام له مخې له بلې ډلې سره ورته والی درلود وژل، پوزې او غوږونه يې پرې کول او په سرونو کې يې مېخونه ټک وهل، ځکه خو په کابل کې د ګرځېدو لپاره بايد سړي څو کارتونه او تذکرې له ځان سره لرلی وای، له څو څېرو او نقابو يې له مخالفو ډلو سره د مخامخ کېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر وخت استفاده کړي واى.

د جمعيت مطبوعاتي انجمن کمپوزر ما سره روان و، له زمبق طلايي هوټل سره چې جمعيت د خپلې دارالانشا دفتر ګرځولى، د شورای نظار يوې پوستې له دې کبله چې پوزه يې پيته او سترګې چوغې وې وګرځاوه، خو د کار له لیدلو وروسته يې پرېښود، د پوستې ساتونکو ویل، حزب وحدت يې ډېر کسان نیولي، اوس د هغوی په مقابل کې هزار ګان نیسو.

په کابل کې دولتي ترانسپورت په ټپه درېدلى، خو د پوځي مصارفو دا حال دى،چې وزارت دفاع هر ولایت او ولسوالى ته د فرقو تشکیل منظور کړى، هر قوماندان ته يې دومره پیسې په رشوت کې ورکولې، چې په موټر کې يې په لېږدولو پورې حیران وو.

احمد شاه مسعود يوازې دفاع وزیر نه دى، هرڅه دى، صدر اعظم، جمهور رئیس او ښاروال، په هر وزارت کې يې واک او اختیار چلېږي، د والیانو تقرر، د سفیرانو ټاکنه د ولسوالانو مقرري، ولایتي اداري وېش دا هرڅه ده بیک جنبش قلم سره لاندې باندې کېږي...

کله چې مسعود غونښتل د خپل زړه سړى د روغتیا وزارت پر یوه مهم پوست وټاکي، د روغتیا وزیر ډاکټر نجیب الله مجددي ورسره موافق نه و، خو مسعود ویل، مه سر پدرش رى نزدیم اى خو بچه ایش اس...

د تاریخ پور:

کابل د قیامت نندارە وړاندې کوي، قاتلان، لوټماران، مجرمان، جنګي بدغوني اوجهادي بدماشان د مرګ په ویش بوخت او د لوټ تالان په مسابقه لګیا دي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



Kabul—05 MAR 1993

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خلکو پر ژوند مال او برخليک يې قبضه ټينګه ده...

جګړه مارو خپلو کې نه، د خلکو او هيواد پر ضد جګړه غځولې... د تاريخ پر وړاندې يې وسله پورته کړې، د تاريخ د دښمنۍ پور يې پر غاړه دی.

د ملي موزيم اثار چې څه ناڅه د حفيظ الله امين وخت کې د لېږد له امله زيانمن شوي وو، د مجاهدينو له برکته د لوټ تالان کومې ته په غورځېدو د جګړو خوراک شول...

که د امين وخت کې بلې ودانۍ ته د لرغونو اثارو بهرنۍ لېږد ځينې اثار زيانمن کړل، مجاهدينو پرې د لوټ تالان هغسې قيامت راټيټ کړ، چې زموږ له لرغونو تاريخي آثارو جنرال نصير الله بابر، مولانا فضل الرحمن او نورو پاکستاني مقاماتو د خپلو مانيو ځانګړي موزيمونه ورغول او د دغو اثارو د قاچاق لړۍ يې تر اروپا او غرب پورې وغځوله...

په دې توګه د افغانستان د لرغونو اثارو پېر، پلور او قاچاق يو ځانګړی نامشروع اقتصاد رامنځ ته کړ... پر دې سربېره يې د ناقانونه کيندنو سيالي هم وغوړوله...

د پېښور مالګې منډيي مارکيټونه چې له دې وړاندې د بدخشان او پنجشېر د لاجوردو له سوداګرۍ ځليدلي وو، د لرغونو اثارو تجارت په ټوله نړۍ مشهور کړ...

ځکه خو د ملي موزيم د فتحه کولو خونړۍ جګړې وغځېدې، د تاريخي آثارو د غلا او قاچاق بېلا بېلې مافيايي کړۍ پر هېواد راوختې... دغه ناولی هوس دومره دود او خپور شو، چې نه زيارتونه روغ پاتې شول نه نورې زړې تاريخي ودانۍ او قبرونه- د وزير محمد اکبرخان تومانچه، د خوشال خان ختک ټوپک او داسې نور تاريخي افتخارات لوټ شول... ان چې کندهار کې يې د مبارکې خرقې د غلا ناکامه هڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم رامنځ ته کړه...

تر دې چې د جعلي لرغونو اثارو د دندې په غوړېدا يې ډېر په دغسې تجارت دېوالیه کړل...

پر کابل سربېره ټول هېواد کې د لرغونو اثارو د پېر، پلور کیندنو او قاچاق ګرځنده شبکو د تور مارکیټ لمن خپره کړه... جعلي پیرانو، ملایانو، کودګرو او نجومیانو دکانونه پرانیستل، تر ځمکې لاندې تاریخي آثار يې د ځینو ننبنو له مخې د ډبل فیس په مقابل کې ښودل... دغو کیندنو کې به چې کله کوم شی وموندل شو، اوازه به يې تر لېرې خپره شوه... په دې توګه غونډې، زړې کلاوې، زیارتونه، قبرونه ان پخواني جوماتونه به دغو اثارو پسې نړول کېدل...

یواځینی اتفاق:

مشران یوازې د ښځینه وو پر ضد هلو ځلو کې متفق دي، ښځې او نجونه د ضروري کار لپاره هم د باندې نه شي وتلی، دوی هر چېرې چې په ښار کې ښځې ویني، نو په دومره ځیر او تعجب ورته ګوري، لکه په سترګو کې يې خوري، خو له دغه ټول ضدیت سره به ډېر کم داسې وي، چې دوې درې يې نه وي په نکاح کړې...

د مجاهدینو حکومت وزیران او رئیسان د وزیر اکبر خان، خوشال خان مېنې نوي ښار او مکروریانو کورونو پسې ځارو دي.

دغو ځایونو کې چې کوم کور خالي ګوري، د وخته يې پیره دار پرې درولی وي، د چا چې د نظار شورا حکومت کې واسطه او وسیله نه وي، پر کور يې د خټې اچولو لپاره په یوه بله پلمه وژني، او کور پرېښودو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې اړ کوي.

ډبرزړو وحشي وسله والو د صالح محمد زيري کورنی د معصومو ماشومانو په ګډون ((غالباً)) په همدې موخه شهيدان کړل...

په خوشال مېنه، نوي ښار، وزير اکبر خان مېنه... کې چې په نقشه او ماسټر پلان کې ځينې ځايونه د پارک، جومات، کلينک، ښوونځي لپاره ځانګړی شوی، د اسلامي حکومت علمبردارانو په څو اوونيو کې دېوالونه ترې چاپېر کړل د ښاروالۍ له نقشې او ماسټر پلان پرته دولتي ځمکې وويشل شوې، ښاروالۍ ته له جمهوري رياست امر شوی، چې د وزير اکبر خان مينې او نوي ښار د کورونو د پېر او پلور قوالې د دوی له خبرتيا او امر پرته نه شي تېرېدی.

لومړيو پنځو مياشتو کې زمانخان کلا کې ۳۵۰۰ نومرې، رحمان مېنه کې. ۳۰۰، وزيرآباد، خيرخانه، وزير اکبرخان، خوشال خان، مېنو کې ۱۰۰، ۱۵۰ او ۱۶۰ د ځمکو نومرې وېشل شوې. کورونه او اپارتمانونه چې کور جوړولو وزارت وېشلې له دې، دپاسه ښودل شوې...

انټرکانټيننټل کابل، اريانا او نور دولتي هوټلونه له يوې مخې د جمعيت او نظار شورا په مجاهدينو ډک دي، په يو نفري کوټه کې پينځه شپږ چريکي بسترې غوړېدلې.

هېواد او انيس لکه مخکې مو چې وويل: داسې چاپېدل چې له رباني سره د ملاقاتونو له خبرونو او د مبارکيو له پيغامونو پرته يې څه نه لرل، عجيبه، لا دا چې د اشرارو د ځپلو يو نيم خبر اوس هم په کې خپرېده، د يوه خبر عنوان کې راغلي: په هرات کې د يوې بريالۍ حملې په نتيجه کې ۱۲۰ تنه اشرار وځپل شول او ۱۵ تنه مجاهدين شهيدان شول، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مطبوعاتو، راديو، تلويزيون ژبه فارسي ده، ايله د شپې خبرونو کې پښتو د څو دقيقو لپاره هغه هم ژباړل شوي متن مخه موندلی شوی.

عجيبه دا چې په کابل کې به د سختو جګړو او درنې مرګ ژوبلې، په رابطه مطبوعاتو، راديو تلويزيون کوم خبر نه درلود، يوه ورځ استاد رباني په دې رابطه وويل: کله چې کوم کوچنی ماشوم يا باد او شمال د کوم اپارتمان يوه نيمه هينداره ماته کړي، دوی غوغا جوړه کړي، چې داسې شوي او هغسې شوي، د ده پر وړاندې د زرګونو انسانانو وژل، بې کوره کېدل او د کابل ټوله ورانې د يوه اپارتمان د يوې نيمې هينداري هومره ارزښت درلود.

د مجددي له خوا قوماندان عبدالحق د کابل امنيه عمومي قوماندان وټاکل شو، خو حاجي عبدالحق چې واکمنه دستګاه د نا امنۍ، لوټ تالان سرچينه ليده، دغه دنده ونشوی منلی.

راديو او مطبوعاتو د دې پر ځای، چې د جګړې په سختو شرايطو کې خلک له پېښو خبر کړي او يا ورته د ژغورنې لارښوونه او معلومات ورکړي، يوازې کلېشه يې او تکراري جهادي ترانې خپروي، د عبوري حکومت لپاره چې د حل او عقد په نامه کوم کمسيون اعلان شو، هغه خپله د جمعيت تنظيم يو داسې ترکيب دی، چې مصوبې يې سره له دې چې له حقوقي او مدني اړخونو زيات نواقص او تناقضات لرل، د جمهور رئيس لپاره پينځه، قيادي شورا ته د پينځه لس فيصده امتياز يوه خندنۍ ډرامه تمثيل کړه، په کومه سيمه کې چې د اشخاصو په ټاکنه کې مشکلات پېښېږي، د قيادي شورا مشر به له هغه سيمې په خپله خوښه نماينده انتصابوي، پر رشوت سربېره د څوکيو ځمکو، اپارتمانو او نورو... وېش داسې لوبه جوړه کړې چې د بې پشتوانۍ پيسو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاپولو يې افغانۍ په صفر کې ضرب کړ.

په کابل کې همدغه خبره ګرځي راګرځي، چې فلاني ته يې لس زره ملیونه افغانۍ ورکړې او فلاني ته پنځوس زره لکه.

هره ورځ د غونډو او څو فرقو تشکیل منظورېږي او مصارف يې د څو تنو جېبو ته لوېږي، حتی په يوه ولایت کې څو تنو ته د والي په توګه د مقرری فرمانونه او د فرقو تشکیل او لګښتونه ورکړل شوي دي.

استاد رباني د اساسي قانون کمیسیون جوړ کړ خو داسې کسان يې پکې راغونډ کړي، چې ځینې يې د قانون لیکنې اسلوب او میتود پرېږده د قانون په معنا او تعبیر هم سم نه پوهېدل. کابل کې هم د حکومت د واک دایره تر ارګ صدارت او وزارتونو تر ودانیو پورې راټوله ده، پر زاړه ښار، شوربازار، شاه شهید، لاهوری دروازه، میوند واټ د دوستم، جمال مېنه، کلای شاده، پل سوخته، درېیمه کارته تردشت برچي د حزب وحدت امپراتوري غزېدلې، کمپنۍ، پغمان، ارغندۍ د استاد سیاف د پادشاهی قلمرو ګرځېدلی.

پر چهار اسیاب سید نور محمد شاه مېنې هوتخېلو بګرامیو د حزب سلطنت ټینګ دی، پر ختیز استقامت کله چې کوم قوماندان وغواړي نو په کابل کې يې په واکمنو توره شپه راوستلې او په اونیو اونیو يې بریښنا قطع کړې وي، د رادیو د لېرې څپو يوه دستګاه داسې ده چې کله هم پر چا د رادیو کومه خبره بده ولګېږي، نو د يوه پېچ په تاوولو د حکومت په خوله لاس کېږدي.

په ولایاتو کې د مرکزي حکومت له خبرتیا پرته بهرنۍ قونسلګرۍ پرانیستل شوې، خارجي هېوادو سره اړیکې ټینګېږي، او له مرکزي حکومت پرته سفرونه ترونونه ترسره کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل روغتونونه ډېرى د اقتدار جګړو کې نړېدلي او زيانمن شوي او يو دوه چې فعال دي د برېښنا، درملو او تسخين له وسايلو بې برخې دي چې د دغسې يو اوږدې او خونړۍ جګړې د ټپيانو او قربانيانو لاسرسى ورته نه شي کېدى.

د افغانستان په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره په پلخشتي جومات کې د اوداسه لپاره د اوبو پلور او پېر رامنځته شو، د بنار په جوماتونو کې د هر لمانځه پر وخت د اوداسه اوبو خرڅولو بازار لګېږي.

د کابل صنعتي سيمې د ماشينونو او خامو موادو له چور تالان پرته د جنګلك فابريکه چې د هېواد په کچه لويه صنعتي فابريکه وه، د جګړو او لوټ تالان له امله کنډواله ګرځېدلې.

د زياترو وزارتونو ودانۍ د کرايي کوټو بڼه نيولې چې د وزير خپلوان کليوال، ټوپکوال او دوستان يې کاروي، يوه ورځ به دې چې کتل يو تن د جمهور ريس معاون معرفي کېده بله ورځ قاضي القضات او بله يې والي او بل څه، نن به يو وزير و سبا به يې پرې بل کودتا کړې وه او بله ورځ به يې وزارت خپل بل ملګري او خپلوان ته پرې اېښى و.

د پوځي افسرانو خو دا حال و چې د ستر جنرالانو او ډګرجنرالانو شمېر له زرګونو هم اوښتى، په ظاهر شاهي حکومت کې د افغانستان په اردو کې يو ستر جنرال او څو جنرالان وو خو اوس دا شمېر له زرګونو اوښتى، د دنيا په عسکري تاريخ کې د نړۍ په هېڅ يوه هېواد کې د جنرالانو دومره شمېر څوك نه شي په ګوتو کولى، خو د دغو جنرالانو او پوځي افسرانو بيا دا حال و چې واحد يونيفورم يې نه درلود، چابه په خوليو د کمونستي رژيم نشانونه ټومبلي و او چا د شاهي رژيم او څينو د داود خان جمهوريت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرقې، غوندو نه يو پر بل پسې ولايتونو ولسوالیو او افرادو ته منظورېږي، خو پوهنتون، ښوونځي او مدرسې ټړل شوي...

د ثور له ۵ مې وروسته چې د تحريکي وروڼو او په اصطلاح مطرح جهادي قوتونو او موثرو تنظيمو نښتې روانې دي، د کابل په زرګونو بې دفاع ښاريان وژل شوي او ټپيان شوي دي، کابل د اقتدار د خونړۍ جګړې د هوس قرباني شو، له وړو جګړو پرته تر اوسه دريو خونړيو جګړو کابل په يوه هيبتناکه کندوالە اړولی دی.

هره جګړه د اسلام او جهاد تر نامه لاندې کېږي، غلا، لوټ، چور، د خلکو پر عزت او مال تېری پر ولس د ګولیو ږلی او د بمونو باران د اسلام په لار کې د اسلام لپاره توجيه کېږي، د جهادي اهدافو تحقق ګڼل کېږي هره ډله د اسلام او جهاد د دفاع کانې پر سينه وهي او هره يوه د حق او خپلو اعمالو د مشروعيت ادعا کوي، له همدې ځايه ده چې خلك يوه دردناك غوراوي ته ولاړ دي.

د کابل جمعه:

د جمعې ورځ د وزير اکبر خان جامع جومات شاوخوا د لوکسو موټرو يو محشر جوړ دی موږ هم د موټرو له دې بيروبار تېر او جومات ته ننوتلو، په جومات کې وزيران او لوړ رتبه افسران لمنځونه کوي د کورنيو چارو وزير انجينر احمدشاه احمدزی، د اطلاعاتو او کلتور وزير صديق چکري د روغتيا... او وزيران له خپلو بډېځو سره پر جومات ورمات دي.

د جمهور رئيس مرستيال مولوي مير حمزه چې د سپين پاچ پګړۍ پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر او وړینه چپنه اغوستې نن ځان د جومات د یوه خطیب په څېره جوړ کړی دی.

مولوی میر حمزه پر منبر ودرېد لومړی یې کابل له دې زیات عذاب مستحق وګانه او بیا یې د مجاهدینو د همت او قربانۍ په ستاینه پیل وکړ چې دوی ته یې په وینو لړلی او سړیخوره تاج او تخت ګټلی، ده یوازې د مجاهدینو په تېرو قربانیو او افتخاراتو شخوند وهلی شوی، چې له فتحې وروسته خو ده هم د اسلامي حکومت لاسته راوړنې له عذاب سره اندول ګنلې.

مولوی میر حمزه د وزیر اکبر خان مینې جومات او منبر له توپکیانو د دفاع د سنګر په توګه داسې استعمال کړ لکه په جومات کې نه بلکې د ګلخانې مانۍ په کومه سیاسي غونډه کې وینا کوي، له جومات نه د راوتلو پر وخت سوالګرو یو بل قیامت راکوز کړی و، تور سړې، ماشومان او بوډاګان به په هر هغه چا ورټول وو، چې په څېره کې یې د اسلامي حکومت او واکمنۍ غوړې ننبې لیدلی، خو مولوی میر حمزه، انجینر احمدشاه، چکري او نور داسې تړې خپلو لنډ کروزرو ته وختل چې هغوی ورته خپل شلېدلي ګرېوانونه او سپېره مخونه هم ښکاره نه شوی کړی.

مولوي جلال الدین حقاني خپلو بادیګاردانو ته یو یو بنډل روپۍ ورکړې چې په سوالګرو یې ووېشي هغوی هم هر یوه ته ۱۰۰۰۰/۱۰۰۰۰ افغانۍ ورکړې.

تر استاد سیاف پورې د کابل جوماتونو دورانولو او قبلو سمولو خبره هم کېږي، د ده په وینا د بتخانې پر ځای هله د سمو قبلو جوماتونه جوړېدی شي چې بتخانې له بېخه ونړول شي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل د سوځېدا او نړېدا دغسې خوب جنرال اختر عبُدالرحمن هم لیدلی و خو دی خپله د الوتکې غورځېدا کې لولپه شو...

د کابل دار:

دوه ځله کابل کې نامعلوم کسان په دار وځړول شول، خلکو د قاتلانو او وطن خرڅوونکیو... د محاکمې انتظار کاوه، خو د دوی پر ځای څو ناپېژندل شوي کسان بې له دې چې ولس یې د جرم له نوعیت او محاکمې له جریان یې خبر شي غرغرې ته راوستل شول.

په دې هکله د یو دردمند شاعر شعر چې دعوت جریدې په ۲۴-۲۳ ګڼه کې خپور شوی، رانقلوم:

سرکار په قار شو دار تیار شو څوک په دار شول چا ونه پېژندل
په پټو سترګو مېلمانه د زرنګار شول چا ونه پېژندل
نه کوم قاضي محاکمه کړل نه تپوس نه ترې پوښتنه وشوه
په پټو خولو په پټو سترګو را احضار شول چا ونه پېژندل
محاکمه وي علني نورو ملکو کې دار یې پټ غوندې وي
خو دوی پټ محاکمه په دار اظهار شول چا ونه پېژندل
د عمري عدل په نوم د ستم دار ګیر کړل ویې نیول
د ریاکارو د لفظي عدالت ښکار شول چا ونه پېژندل

خپلمنځي غوسه او د استاد سیاف «نه»:

له پلخشتي جومات کوز د مرادخانیو پر لور د ګلم جم ملیشو ډله ولاړه ده، د خلکو له سرو پکولونه اخلي، لومړی یې تر پښو لاندې کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيا بولې پرې وکړي او سيند ته يې غورځوي.

پر دې ورځ کابل سيند پکولونو په سر اخيستی له دې وروسته د پکول بازار سوړ شو.

سياف چې يو وخت يې ټينګار کاوه چې د مجاهدينو په لاس د يوه سوچه حکومت له ټينګښت پرته به په هېڅ طرحه او نظام قناعت ونه کړي، د صدارت په هيله او تلوسه له ټولو نرمه او ټيټه غاړه وړي.

ده چې د اواري هر وړاندیز په ((نه)) رداوه، د نه منلو پر دريځ دومره ټينګ و، چې يوه ليکنه کې يې خپل ((نه)) د اسلام په تله داسې تللی... «د افغانستان د قضيې په ارتباط وينا کې مطرح وړاندیزونه او طرحې چې مورږ ورته ((نه)) ويلي دادي:

۱ - کمونستانو سره د ناستې ولاړې يا د افغانانو د داخلي خبرو اترو له لارې د افغانستان د قضيې حل.

۲- مختلط او ګډ حکومت جوړول.

۳- بې طرفه حکومت جوړول.

۴- براډبېس يا د پراخ بنسټه حکومت جوړول.

۵- روسانو سره د افغانستان د راتلونکي په باب خبرې کول.

مورږ د غو ټولو ته ((نه)) ويلي، ((نه)) ورته وايو، چې دا د اسلام حکم دی...»

د ملګرو ملتونو استازي بنين سيوان او د پاکستان جمهور رئيس غلام اسحق خان ګډه اعلاميه کې خپله حل لاره له اورګاډي سره تشبيه کړې وه، چې د افغان ربړې د حل اورګاډي روان دی چاته نشي درېدی، که څوک پاتې شول پاتې به وي. سياف صاحب وويل دا ګاډی به هغه وخت کابل ته رسېږي چې زما په ککرۍ تېر شي. په حقيقت کې اورګاډی

(c) ketabton.com: The Digital Library

تبديل شو، ټولو په کې ځانونه کابل ته ورسول، يواځې بينن سيوان بېچاره چې مياشتې مياشتې يې کچکول پر غاړه د يوه او بل دروازه ټکوله په ستېشن کې پاتې، شو د سياف صاحب له همدې موقف فکر کېده، دی به پخپلو اصولو سوداګري ونه کړي، خورا ماهر سوداګر وخوت.

انجينر احمدشاه احمدزي په يوه مرکه کې وايي:

از وزارت دفاع خواستم تا قوماندانهايش رابه وزارت داخله معرفي وبفرستد، از قبيل فرقه ۸۰ مربوط سيد منصور نادری، لوای ۷۰مربوط جنرال مومن فرقه ۵۳ مربوط محترم جنرال عبدالرشيد دوستم، به انها ابلاغ کردم که شما از همين ملت و مجاهدين هستيد... خو په همدې مرکه کې د کابل جګړو په رابطه وايي: ((څرنګه چې نامريي لاسونه په حرکت کې دي او کمونستان فعال دي، په دغو جګړو کې ډېر رول لري ځکه کمونستان ډېر منظم او فعال دي))

بيا نامريي لاسونه د چا او هغه کمونستان څوک دي چې منظم، فعال او په دغو جګړو کې نقش او رول لري....؟

له دې سره جوخت انجينر صاحب دا هم په ډاګه کړه: کاملاً واضح است که امروز در دولت پرچمی ها هستند خصوصاً در وزارت دفاع جنرال های پرچمی به همان قوت خود باقی اند.

عجيبه او حيرانوونکی خبره د حل او عقد شورا پر سر ده، مولوی خالص، پير ګيلاني او مجددي سره له دې چې د حل او عقد له ناقص تدوير سره يې بائيکاټ اعلان کړی، شورا او حکومت يې له قانوني او ملي صبغې او پشتوانی بې برخې ګانې، خو په همدغه غير قانوني حکومت کې يې وزيران برخه وال دي.

مزې د دوستم دي چې لومړی يې مجددي مسعود او رباني د وکيل

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدافع په توګه استعمال کړل او له دوی يې د خپل اسلاميت قوالې واخيستې، له مجددي يې د ستر جنرالۍ له رتبې سربېره د خالد بن وليد لقب هم ترلاسه کړ.

پاکستان- ايران سعودي، ترکيې او نورو بهرنيو قوتونو تبليغاتي ډګر کې د دوستم د پوځي او سياسي ځواک په پياوړتيا کې خورا مرسته وکړه، هغه وه چې حکمتيار هم دغې مسابقې ته ودانګل... که نه د دوستم نظامي ځواک په خوست کې نښه پته ولګېده چې څنګه يې زرګونه مليشې د مجاهدينو پر وړاندې له شرمېدلې ماتې سره مخامخ شوې.

د پرون زندان- د نن امان:

کابل کې د جګړې له امله په سلګونو کورنيو د ځرخي پله زندان کې پناه اخيستې، ځرخي پله زندان ته نن د تحريکي ورونو او موټرو مطرح جهادي قوتونو له اخ او ډب او خونړيو جګړو د ژغورنې په اسره سلګونو کورنيو پناه وړې او په دغه خاموشو دهليزونو کې يې د ژوندي پاتې کېدو د نعمت ورکه لټوله.

ډېرو داسې کسانو هم دلته د ژوند په اسره پناه اخيستې، چې پرون دلته د مرګ او وحشت په منګولو کې ايسار وو خو نن چې هغه وحشت د کابل کوڅه کوڅه جاده جاده او کور کور نيولی، د ځرخي پله زندان کې د ژوند په ورکه پسې راغوندې دی...

دا به د وحشت انتها وي چې وګړي يې زندانو ته پنا يوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ارګ کې د اقتدار یو بل څېرکی:

ډګروال صاحب... له استاد رباني سره د ملاقات وخت اخیستی، ۲۰/۴/۱۳۷۱ نېټه له غرمې مخکې ۱۰ بجې دې، جنرال رحمت الله ساپی هم پر دې ورځ راغلی، د روانېدو پر وخت وردګو کې د جمعیت عمومي قوماندان مولوی محمد شیرین شجاعت او قوماندان محمد صادق خان هم چهلستون ته راغلل.

حاجي خلیل الرحمن د استاد رباني د ملاقات خبره وکړه دوی ویل مونږ به هم درسره ملګري شو.

د موټرو نسبتاً یو وړوکي کاروان له چهلستون حرکت وکړ د مولوی محمد شیرین شجاعت او قوماندان محمد صادق خان پر موټرو د جمعیت شنو بیرغونو د پرق خندا جوړه کړې وه.

لس نیمې بجې وې چې د ارګ مخې ته ورسېدو، له یوې لنډې پوښتنې او څو خبرو وروسته یې د تلو اجازه راکړه.

مونږ یې لومړی هغه ځای ته بوتلو چې دوی ورته قصر نمبر (یك) وایه، په سالون کې یو ډېرین ګرد مېز اینښی چې لاجورد په کې حکاکي شوي او پرې کښل شوي:

از طرف وکلایی دوره سومین لویه جرګه ۱۶ سنبله ۱۳۰۷.

خو له نورو مېزو د لاجوردو ګلان او انځورونه تورل شوي، تر جمعیت پورې مربوط یو پوځي افسر مونږ ته د دغې ودانۍ په رابطه د معلوماتو په ورکولو پیل وکړ خو د ده ټول توضیحات د حبیب الله کلکاني په واکمنۍ مربوط و، چې په دغه ځای کې داسې وشول او داسې یې وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیم ساعت مو دلته په انتظار تېر کړ، خو له استاد رباني سره د ملاقات له نعمته بې برخې وو، له نیم ساعت وروسته احوال راغی چې استاد د ګلاخانۍ مانۍ کې دی تاسې به هلته مهرباني وکړئ.

لس پینځلس دقیقې تر ګلخانې تګ ونیولې، د ګلخانې مانۍ په لاندینۍ پوړ کې یو اوږد میز ته ګڼې چوکۍ پرتې وې موږ شاوخوا کېناستو، مخامخ چوکۍ د استاد لپاره وه، د هغه یوې خوا ته جنرال ساپی او بلې ته حاجي خلیل کېناستل په څلورمه چوکۍ زه کېناستم څو دقیقې وروسته استاد رباني تشریف راوړ، ټول ودرېدو، ده چې له جنرال ساپي او حاجي خلیل سره روغبړ وکړ، پر څوکۍ کېناست او له نورو سره یې د لاس په اشاره ستړي مشي پیل کړل، ماته چې وار راورسېد په خندا شو ویې ویل له تاسره خو روغبړ کوم، له څایه ولاړ شو ما هم اتومات ځان ورورساوه روغبړ مو وکړ.

مولوی محمد شیرین ورته ویل: په ده خو ډېر زیات تکلیف تېر شوی، استاد وویل: خبر یم بیا یې مخ راواړاوه پوښتنه یې وکړه اوس څنګه یې؟ ما ویل ښه یم...

خو په دې پوه نشوم چې استاد په ما تېر شوی تکلیف کومه ناروغي ګڼله چې د جوړ ناجوړ پوښتنه یې کوله او یا هم په کیسه خبر و؟

جنرال ساپی د حقاني صاحب په نمایندګۍ خبرې شروع کړې: تاسې په نامساعدو شرایطو کې له مسئولیته ډکه وظیفه پر غاړه واخیستله واقعاً دا ډېر حساس او نازک شرایط دي خلك ډېر څوړېدلي او ټول د سولې او امنیت لپوال دي، هیله ده تاسې دا عهده په خلوص نیت اشغال کړی، خدای دې د امنیت او سولې راوستلو په لار کې موفق او سر خرویه لره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ ستاسې خط مشي واورېده که څه هم له هغې مطمئین شو خو تېرو تجربو مونږ ډېر شکمن کړي یو، الله تعالیٰ دې تاسې ته توفیق درکړي چې دین وطن او خلکو ته د واقعي خدمت مصدر وګرځي.

له دې وروسته استاد رباني خبرې پیل کړې: زما وروڼو د محترم مولوي حقاني د جبهاتو مجاهدینو محترم خلیل جان، جنرال ساپی صاحب، شهرت ننګیال، السلام علیکم.

لکه تاسې اشاره وکړ دا ډېر ستر مسوولیت او درون امانت شو، مونږ په ډېر عاجزی دا خواست کوو، چې الله تعالیٰ مونږ ته توفیق ورکړي.

له مونږ سره ستاسې تائید ضروري دی، مونږ ډېر مشکلات او پرابلمونه لرو ځکه تر اوسه لا مرکزي اداره وجود نه شته، مرکزي حکومت ختم دی په بېلا بېلو سیمو کې بېلا بېلې اداري منځ ته راغلې او ډېر لوی بدبختي روان دی، مفسد کسان او خارجي هېوادونه لاسوهنه کوي، ځینې هېوادونه بې له دې چې دیپلوماتیکي اصول مراعات وکړي لاسوهنې کوي، ځینې د دې لپاره چې سیاسي پوزیشن لاس ته راوړي بې نظمي رامنځ ته کوي.

استاد وویل: په دې چوکۍ او موقف کې له رنج او تکلیف پرته بل څه نشته، بې له بدنامۍ او کنځلو بل څه نشته.

ده وویل: د حقاني صاحب په هکله دا وایم چې د ده د جبهې یو ستر امتیاز دا دی چې همېشه د سولې ټینګښت او اختلافاتو د ختمېدو لپاره پیش قدم شوی او په دې لار کې یې ډېر تاوانونه زغملي او د مرګ له خطر سره مخامخ شوی خو دا لوی افتخار او عزت دی چې دوی همېشه د مسلمانانو په منځ کې د اتحاد راوستلو کوښښ کړی چې دا د مومن خصلت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد رباني له دغو لنډو خبرو وروسته پاڅېده خو د تلو په وخت کې يې وويل تاسې به ډوډۍ همدلته خورئ، بيا يې چاته په دې باره کې خبره وکړه او له سالون ووت، مور څه وخت انتظار وکړ که د ارګ ډوډۍ مو نصيب شي، خو څه درک معلوم نه شو، څرنګه چې د لمانځه وخت و، د اوداسه تکل مو وکړ خو د اوبو درک نه و، کابو يو ساعت مو ډوډۍ ته انتظار وکړ په دې کې جنرال ساپی د ظاهر شاه وخت کې د ارګ د نظم او نسق په رابطه خبرې کولې، ده وويل ارګ هغه وخت ارګ و، چې ظاهرشاه پادشاه و، مولوي شيرين ته چا وويل ته خو دې خلکو ته نژدې يې له خپل اثر او رسوخ کار نشې اخيستی؟ هغه مجبور شو له ځايه پاڅېده دلته دوه تنه زمور د وطن ځوانان په برګو دريشيو کې غور غوږ ګرځېدل دواړه د جمعيت له نظامي مستعجل کورس فارغ شوي، خو دايې له خپل شان سره مناسب نه ګڼله چې له مور سره پوښتنه او ستړي مشي وکړي، مولوي شيرين دوی ته غږ کړ چې دا خلك مو له کاره وايستل که ډوډۍ نه وي، چې ځو، دوی ويل غوری نه شته صبر وکړئ.

يوه نيمه بجه ډوډۍ راورسېده د وريجو يو يو غوری يې (۴) نفرو ته کېښود د پاسه پرې تور بانجان پراته و، خو د وچې ډوډۍ درك نه و، له ماسره غوري ته عبدالعزيز او يو بل سړی ناست و، څلور پنځه مړی به مو نه وې کړې چې د غوري له منځه کاکروچو جسدونه رابرسېره شول عبدالعزيز ته مې وويل وخوره د پادشاهانو ډوډۍ.

هغه چې وکتل ډوډۍ يې بس کړه، د لاسونو پاکولو ته اړ شوو يو پر بل له مونبلو او ږيرو تېرولو له شاهي ارګ نه ووځو.

جنرال ساپی وايي پخوا هم د ارګ مينيو کې بانجان پلو و، خو داسې نه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سولې ښوونځي کې د علماوو غونډې:

په مکروریان کې له دولتي مطبعې لږ کوز د سولې په نامه د یوه ښوونځي ودانۍ ده، د دولتي مطبعې هغه برخه چې د لینو ټایپ او چاپ ماشینونه په کې وو، د راکټونو له امله نړېدلي او سوځېدلي ده.

د سولې ښوونځی له دې مخکې له روسیې د نویو راوړل شویو افسرانو مېلمستون و، په وروستیو کې یې ځانګړی ښوونځي ګرځولی، دلته له هرې کوټې سره یو عصري تشناب او دهلېز موجود دی، ملایانو د عصري تشنابو کار ورکړی... مانا کمودونه یې نړولي ، لوټې، تېږې، یې په کې غورځولې دي...

د دغې پینځه پوړیزه ودانۍ په لاندیني پوړ کې یو اوږد سالون دی، چې نقشه یې د کنسرت او کنفرانسونو د سالون داسې ده.

دلته د اتحاد علمای افغانستان په نامه د ملایانو سل کسیزه ډله دېره ده، مولانا عبدالله ذاکري چې د کندهار یو ستر عالم او اور ژبی مقرر دی، د دوی مشري کوي، که څه هم ده ځان د اتحاد علما مشر نه ګانۍ، خو په حقیقت کې په اصلي معنا د اتحاد علما مشر دی.

حقاني صاحب او نور مخور قوماندانان له دوی سره ګډې جلسې لري او د موجوده بحران د حل په رابطه په تفاهم او فعالیت بوخت دي.

د عقرب ۸ مه حقاني صاحب د اتحاد علما او قوماندانانو سره غونډه لرله، څکه خو سهار د سولې مکتب ته ولاړو، په غونډه کې حقاني صاحب او ذاکري صاحب ویناوې وکړې، له یوې اوونۍ دا غونډې روانې دې، د حکومت په قانوني او شرعي حیثیت سخت انتقادونه کېږي، په دې کې د حل او عقد شورا لپاره د غړو د ټاکنې لپاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومتي کمیسیون له خوا په جوړه شوې لایحه او طرز العمل هم نیوکې وشوې، د عقرب ۱۰مه حقاني صاحب د علماوو د یوه هیئت په مشرۍ له رباني صاحب سره ملاقات وکړ.

بیا هم په ارګ کې:

ملاقات د ګلخانې مانۍ کې دی، رباني صاحب دا ځل د هغه ستر سالون په ځای د تشریفاتو ریاست یوه واړه دفتر کې ناست دی، د تشریفاتو او سکرتریت چارې د امان الله په نامه یوه تخاري ځوان پر غاړه لرلی، نښه سره بلد یو، خو دلته یې په تشو ستړي مشوهم ځان نه زهیراوه.

کله چې هیئت د رباني صاحب دفتر ته ننوت، زه له ټولو وروستی وم، د ستړې مشي پر وخت یې راته ویل، ته له ملایانو سره څه کوې، ته باید له روشنفکرانو سره اوسې، روغبړ مو وکړ، په کوټه کې زمونږ په شمېر ۱۲ څوکۍ ایښودل شوې، چې په وار سره هر یو په یوه یوه څوکۍ کښناستو.

حقاني صاحب وویل: د ولایاتو پر اوضاع له حکومتي واکمنو، قوماندانان مخور او علما نښه پوهېږي، په کومه طریقه چې کمیسیون لایحه جوړه کړې، په دې طریقه د کامیابۍ صورت زمونږ په نظر داسې معلومېږي، چې امکانات یې ډېر لږ دي، دا داسې ترمیم او جوړېدی شي، چې له هیئت سره د هر ولایت یو یو قوماندان، مخور او عالم مل شي، ترڅو حقیقتاً اهل حل او عقد انتخاب کړی شي، د موجوده لایحې له مخې ضرور جنجالونه او کړکېچونه پیدا کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رباني صاحب وويل: زه به له ورونو سره خبرې وکړم، که امکان ولري له هر ولایت نه یو یو قوماندان او عالم له دوی سره همکاري وکړي، خو حقاني صاحب ورته په ډاګه کړه، چې علماء او قوماندانان نه غواړي، په هیئت کې طفیلي ولاړ شي، د دوی ګډون باید رسمي بڼه ولري او رسمي حق ورکړی شی.

استاد رباني ویل: موږ به ورونو ته پېشنهاد وکړو، امید دی چې عملي شي.

د حقاني صاحب په وینا د شورا غړي باید په واقعي توګه انتخاب شي، داسې چې سبا د اعتراضونو، انتقادونو او مخالفتونو له لارې د شورا حقوقي او قانوني حیثیت جریحه دار نه شي.

د خدای پامانی پر وخت ما د خپلې زړې اشنایی او کشرتوب په خاطر باید تر ټولو وروستی رخصت اخیستی وی، خو د حقاني صاحب له وتلو ځینو ملایانو دا هڅه کوله، ځان وروسته او په غوږ غوږ کې له رباني صاحب سره د خپل اخلاص اظهار وکړي.

یو دوو د رباني صاحب غوږو ته خپلې خولې دومره نژدې کړې، لکه مچې سره اخلي، دوی ښه سره وپسېدل، څو تنو له دوی د زیاتو خصوصي خبرو لپاره ځانونه نور هم شاته کړل، هر عالم چې د سولې مکتب په غوندو کې به یې پر حکومت د نیوکو له امله په انتقادونو ځمکه لړزوله او د سالون له چت ګردونه خېژول، دلته یې اوازونه داسې غلي او ټیټ شول، چې رباني صاحب هم په مشکله اورېدی شوی، ماته دلته د دوی د هغو ټولو قلقلو او دریځونو ماهیت ښه څرګند شو، په ټبره مولوي صدیق الله اخوندزاده او د علماوو اتحاد منشي مولوي سعیدالرحمن خوله رباني صاحب سره داسې د راز او نیاز سلسله

(c) ketabton.com: The Digital Library

وغځوله، چې سړي ته به شک پیدا شو، چې دا ګنې هغه نه دي، چې د سولې مکتب کې یې په دې هرڅه د ناروا ټاپې لګولې.

ځکه خو ما د دې لپاره چې د دغو پټو معاملو په مخه کې خنډ نه شم د خدای پامانې لاسونه اوږده کړل، رباني صاحب پر هماغه پخواني انداز له یوې سپکې غاړې تازه کولو وروسته وویل، چېرته یې څه کوې؟

ده غونښتل نور څه هم ووایي، خو علماوو په زړه او سترګو کې ووېرولم، ځکه خو مې په دومره خبره ځان خلاص کړ، هماغه زوړ ملا، زړې تراوې، خدای پامانې مو وکړه او دوی مو خپلو پټو خبرو او پسپسکو ته پرېښودل.

داسې معلومېدل مولوي صدیق الله اخوندزاده، مولوي سعیدالرحمن او یو دوو نورو د څه خاصو رازونو سپړل غونښتل، رباني صاحب مولوي صدیق الله ته وویل، هغه زمونږ خبره خو بیا همداسې پاتې شوه، خو مولوي صاحب نه غونښتل دا خبره په دغه محضر کې وسپړل شي، ځکه خو یې ځان نور هم وروستی کړ.

غونښتل مې له ذاکري صاحب سره مرکه وکړم، ده په مجلو کې د تصویرو په چاپولو وترټلم او د دوزخیانو کتار کې یې ودرولم، خو د مرکې په اړه یې وویل، چې لیکلي پوښتنې پرېږده او مونږ به یې په حوصله سره ځوابونه ولیکو.

ما خپلې پوښتنې د دوی منشي مولوي سعیدالرحمن ته ورکړې او هغه دوې ورځې وروسته وعده راکړه، خو د یوې هفتې په تېرېدو یې بیا هم په خپله وعده وفا ونه کړه.

مولوي سعیدالرحمن ویل، په دې کې داسې سوال شوی، چې د هغې ځواب د فتوی حیثیت لري، ما پوښتنه کړې وه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تېرو شپږو میاشتو کې په کابل کې د مجاهدینو په نامه د مینځته راغلي حکومت شرعي، حقوقي او قانوني حیثیت تاسې څنګه ګڼئ؟

ده وویل که ووایو چې دغه حکومت له شرعي حیثیت بې برخې دی، دا خپله د جهاد اعلان دی او که وایو چې د شرعي حیثیت لرونکی دی، خونه دی.

له همدې ځایه وه، چې ایله دوې هفتې وروسته یې لیکلي ځوابونه راوسپارل او په دې اړه یې کښلي و: په افغانستان کې اسلامي حکومت اعلان شوی، خو اجرات یې شرعي نه دي، ځکه خو پوره اسلامي حکومت نه شو ورته ویلی.

د علماوو ستره غونښتنه حجاب دی، چې تر بلې هرې موضوع په اهمیت او لومړیتوب ورته قایل او ډېر جدي دي، دا چې ښځې له دفترونو ګوښه شي، په داسې حال کې چې په هېواد کې له سره نظام موجود نه دی، د قانون او نظم ننښې د دولت په دستګاه او د خلکو او ټولنې په مینځ کې نه لیدل کېږي، مرکزي حکومت نه شته چې د خپل قوت او مشروعیت له مخې له دې او هغه کار څوک منع او یا ورته امر وکړي، تر هغې چې یو نظام او قانون رامینځته نه شي، دا ډول ټینګار بې ځایه دی.

دوی باید د نظام مشروعیت او د حکومت قانونیت پامونړ ګڼلی وای، له بد بخته چې لومړیتوبونه یې نه شوی درک کولای د فرعي مسایلو په شاربلو یې وخت اړاوه...

مانا که مخلوط تعلیم یې بند کړ د ښځمنو په کار یې بندیز ولګاوه تصویرونه چاپ نه شول، بیا دا حکومت اسلامي او شرعي دی، لوټ تالان، غلا ډاکې یې د زغم دي...؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماته ذاکري صاحب مجله کې د عکسونو په خپراوي د الهي عذاب یادونه داسې ټکو کې وکړه، چې د واره مې ځان د دوزخ لمبو کې لیده، ځکه خو مې دوه ګڼې له عکسونو پرته چاپ کړې.

رفیع صاحب راته د کاغذي پیسو د چاپ کیسه کړې وه، کله چې پادشاه پر کاغذي نوټو خپل عکسونه چاپ کړل، ملایانو د مخالفت غږ پورته کړ، چې دغه پیسې د چا جیب کې وي، لمونځ یې نه کیږي، صدر اعظم محمد هاشم خان غټ غټ ملایان مېلمانه کړل، د قرآنکریم ختم وشو، شاهي ډوډۍ وخوړل شوه، یو یو پاکټ یې ملایانو ته ونیو، دوی پاکټونه جیب کې کېښودل، اذان وشو او په جمعه د ماسپښین په لمانځه ودرېدل، د ټولو لمونځ وشو.

زه پوهېدم دا وړۍ نه شي شړۍ کېدی، ماته په ۱۳٦۱ کال کې د داعیونو علماوو هغه حرکت یاد و، چې ظاهراً د اتحاد سبب وګرځېد او په اشرفیه جومات کې په قرآنکریم، بخاري شریف او بیا بیت الله کې د مشرانو په لوړه منتج شو، خو په ریاستونو، ځوکیو او مادي امتیازاتو د داعیانو ښکېلتیا د تور بازار پلور او پېر رامنځته کړ.



کارټون له فرنټیر پوسټ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترخه رښتيا

واکمن د ارګ پر پخو دېوالونو سرسري نظر واچاوه، د ارګ ټولو برجونو ته ځير شو، د ګلخانې او دلکشا نقش او نګار يې په ذهن کې وګرځېد، پورته شين اسمان او شاوخوا شپر دروازې او اسمايي غرونه، لکه له خزانو چارپېر ښامار داسې ورته معلوم شول.

د مور په سرو او پستو غالیو يې په کرار قدمونه اخيستل، دلکشا او ګلخانې د ډېرو پادشاهانو سرونه خوړلي او ډېرو ترې نيمه خوا کډې کړې، له ملکونو او دريابونو اوښتي دي، چا په کې کلونه د تخت دپاسه تېر کړي، چا مياشتې او ورځې، خو د داسې بې شرمۍ او رسوايۍ پادشاهي د داسې لوټ تالان، مرګونو او وحشتونو واکمني ارګ نه ده ليدلې.

نن چې افغانستان کابل کې رالنډ شوی او کابل ارګ کې، واکمن ورځخه تېر نه دی، که هرڅه کېږي خو چې د دوی د ارګ واکمني پرځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي.

داسې ښکاري واکمن له ارګ د باندې هېڅ نه ويني، نه دا مرګوني لوږه او فقر، نه دا ورانه ورانې، نه دا لوټ تالان او نه هم دا مرګ او وينې.

ارګ ته نن يوې ډلې د تلو اراده کړې، چې واکمن ته په ډاګه کړي، دا حکومت؛ حکومت نه دی، هلته چې د خلکو مال، عزت او ژوند خوندي نه وي، حکومت او بيا اسلامي حکومت څه مانا...؟ چې يو هېواد او ولس د کافر په واکمني کې سلامت پاتېدای شي د ظالم نه...

نن يو څوک غواړي د افضل الجهاد کلمة الحق عندالسلطان جابر سنت ژوندی کړی، د واکمن پر وړاندې ودرېږي.

وايي د وخت واکمن يو ستانه خپل دربار ته غونښتی و، هغه ورځ د ارګ دننه چې په غاليو تېرېده، پايځې يې پورته بډ وهلې او چې راووت غږ يې کړ اوبه راوړئ، پښې پرېمينځم د کوم ملنګ له پوښتنې سره يې ويل، دا لارې دا غالۍ ټولې وينو نيولي.

واکمن ته مخامخ کېناستل هغه ورته د انګورو، منو او مېوو ډک غوري کېښودل، خو دوی مخ واړاوه، کله چې پر افغانستان روسانو تېری وکړ، مرحوم دوست محمد کامل د افغانستان منې ونه خوړلې، د ده په خبره د دغو منو سرخي ورته د هغه شهيد وينه برېښېده چې په غرونو کې د وطن د ازادۍ په سنګرو کې توی شوې او بيا واورو او بارانونو دا وينې ويالو او باغونو ته راوړې او د ونو په څانګو او ريښو کې منو ته رسېدلې دي.

د واکمن تندی تريو شو، په زړه کې يې د زور، زر او تزوير ټولې حيلې او حربې وګرځېدې، د خپل شان او شوکت سپکاوی يې وګانه خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

احتياط واګي بيا هم راتينګ کړي.

هغوی داسې ناست دي، لکه د مدرسې په انګړ کې طالبانو ته تدريس کوي، نه يې د ګلخانې کش او فش ته پام دی او نه د پادشاهۍ نورو نخرو او مظاهرو ته.

واکمن هر يوه ته ګوري، د دوی دا بې نيازي او استغنا نه شي زغملی، خپل تحقير يې ګڼي.

واکمن فکر کوي، اوس به د پيسو، ځمکو، ځوکيو او منصبونو تمه دا هرڅه زما په لمن کې وغورځوي، ګومان کوي، چې د منصبونو او پيسو وعدې به دلته د هغوی د ملګرتيا او ملاتړ پوخ ترون رامينځته کړي.

له دوی يوه پر ږيره له لاس کښلو، ويل: دا څه مو راخيستي اسلامي حکومت او نظام داسې وي، ستاسې له لاسه ټول ملت د جاهليت په ژوند کې د تباهۍ خواته روان دی...

واکمن شاوخوا په کتلو، په پسته ځوکۍ کې وخوځېد، ګردچاپېره ولاړ وسله وال يې له نظره تېر کړل، وايي، تاسې ولې د حکومت پر مخالفانو د بغاوت فتوی نه لګوئ.

هغه يې خبره پرې کړه، د هيلې خلاف ورته وايي، ستا حکومت اسلامي نه دی، نو پر مخالف يې څنګه د باغي حکم وکړو، ته حکومت اسلامي کړه، موږ به ستا مخالف هم باغي اعلان کړو، واکمن له دې خبرې سره ټکان وخوړ، د ده غوږو له مودو داسې خبرې نه وې اورېدلې، بې اختياره داسې نه، لکه د يوه هېواد واکمن داسې لکه پېښور کې د تنظيم دارالانشاء کې ناست وي، وايي ته په خپله خبره مين يې...

هغه يې خبره پرې کړه؛ هو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به په خپله خبره مین وم، زما به دا یوه مینه وي، خو ستا عشقونه ډېر دي، ته پر چوکۍ عاشق یې، ته پر قدرت مین یې او ته پر... ته د قدرت وړی یې...

واکمن وایي، زه ټانکونه لرم، الوتکې، عسکر، زور لرم، هرڅه کولی شم، خو هغه ورته په سړه سینه او اطمینان وایي، ستا د دریو ورځو بادشاهي ده، دا هم څوک نه درسره مني، له تا مخکې دلته یو بل چا هم داسې خبرې کولې او په زور او طاقت نازېده، خو الله تعالی څنګه کړل،کلونه مخکې بل چا هم دا خبره کړې وه.

مورِ د اسلام په خاطر ستا ترڅنګ درېږو، تاته د بیعت لاس درکوو، که نه ټول پوهېږو دا څوکۍ د پښتانه ده، خو مورِ د اسلام لپاره ستا حکومت ته غاړه ږدو، منو یې خو د خدای خاطر وکړه، ته خپل حکومت سم او پر اسلام او شریعت برابر کړه...

واکمن پر چوکۍ وغورځېد، داسې لکه واوره لمر ته ونیسي، لکه هرڅه یې همدا اوس د هغوی په مخ کې بایللي وي، خو هغوی له هر څه بې نیازه، له تمې او دنیاوي ګټو بې پروا، لکه واکمن ورته د لوست لپاره ګونډه وهلې، لکه مدرسه کې شاګرد د استاد پر وړاندې.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

د علماوو اتحاد

د شپېتو بړېښنو ورځ په ورځ کمی دی:

کشاف صاحب د علماوو اتحاد مشاور دی، له ده سره مو، د وضعې په رابطه خبرې وکړې،له حالاتوڅورېده، ما ترې پوښتنه وکړه، سیاف صاحب څه وایي، ویل له هغه هم لار ورکه ده.

ما ورته کړه، پر موږ یې لار ورکه ده....؟

ده وویل د دې درک ته لګوه، توپیر یې ته راباسه، ما ویل لار کږه، ګامونه کاواکه منزل ورک... له چا لار ورکه وي، چا لار ورکړه کړې وي، څوك په ورکو لارو ډغرې خوري، څوك د کږو لارو لالهاند اوسي... څوك له نورو لارې ورکولو ته اړم وي.

۱۳۵۹لمریز کال د مېزان میاشت وه... اشرفیه جومات کې جماعت اسلامي جهاد کانفرانس راباللی... قاضي حسین احمد د جماعت

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلامي سکرتر جنرال و... استاد سياف چې ۱۳۵۴کال له اخواني مخکښانو سره بندي شوی و، د جدي له شپږمې وروسته په ژوندي راوتو... پښور کې د مجاهدينو د مشرتابه پر ستيج ولاړ و... د ده وينا د تکبير په نارو او تودو احساساتو بدرګه کېده... د زنده باد شعارونو ځمکه لرزوله، د استاد د وينا له هر ټکی قاضي صاحب من من غوښې اخيستې...

جماعتيان په جامو کې نه ځايېدل... استاد سياف په داسې فصاحت وينا کوله چې ټولو د ده په څېره کې سترګې ښخې کړې وې... استاد سياف ويل: موږ د خاورې د آزادۍ لپاره جهاد نه کوو، که افغانستان کې اسلامي حکومت او شريعت نشي ټينګېدی، خدای دې له سره آزاد نه کړي...

موږ له اسلامي نظام او حکومت پرته د افغانستان آزادي نه غواړو... خو اوس له استاد په خپل اسلامي حکومت او شريعت کې لار ورکه ده...؟

استاد سياف لار، منزل او ځان هرڅه ورک کړي، په ورکو لارو پسې لګېدلی، هرڅه يې دغه قمار ته نيولی... د کوندې نه دين شو نه ....

له کشاف صاحب مې د مرکې هيله وکړه، ويل يې مرکه څه کوې، نور مې زړه دی کربنه هم ونه ليکم.

د علماوو په اتحاد کی نور دوستان لکه مولوی احمد گل چی له دوی سره مې لجنه کې الفتوی مجلې د لومړي چلوونکي په توګه کار کړی، قاضي ميرزا خان دليلې او نورو سره ملاقاتونه وشول، د علماوو له اتحاد سره مولوي محمد مير، مولوي فضل هادي شينواری، مولوي عبدالحی زعفراني او نورو ملايانو چې زياترو د داعيانو د وخت تجربې لرلې برخوال دي، مولوي سعيد الرحمن د اتحاد علما منشي دی، ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسناد، پربکړې او پېشنهادونه له ده سره وي.

عجیبه خو دا وه، چې مولوي نصر الله منصور هم د علماوو د اتحاد غونډو کې برخه اخیسته، مولوي ارسلا هم په مخکنیو غونډو کې ګډون کاوه، خو اوس یې د وزارت خوارۍ په دا ډول چارو نه بې خونده کول.

له همدې ځایه وه چې د دغه حرکت په اړه له هماغه لومړۍ ورځې شکمن یم.

د اتحاد علما د ګوتو په شمېر مشرانو په اخلاص او ریښتینولی شك نشوی کېدی خو ډېر یې د مقام او مادیاتو په تمه په پټو بنکاره معاملو بوخت وو، په جیبونو کې یې بېلا بېلې عریضې ګرځولې، سیاسي پاسپورتونه، سیاسي نمایندګیو کې یې د خپلو نازولو مقررۍ غوښتې، هر یوه سویه غلې ساتله، په ظاهر د اسلامي نظام او شریعت غوښتنه د پردې شانه د مادیاتو مینه او تلوسه...

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

د استاد رباني غوښتنه

رباني صاحب د اتحاد علما په نامه يو ليک رالېږلی، که ملايان حکمتيار ته ورشي، چې لار خلاصه کړي، د کابل مظلومو خلکو ته چې د ژمي او لوږې تر مرګوني تهديد لاندې دي، غذايي او د سونګ مواد ورسول شي.

خو له دې مخکې رباني صاحب د حکمتيار د محاکمه کولو اعلان کړی و او مسعود دا غوره کړې وه، چې دا ځل به د حکمتيار قوتونه دومره په شا وتمبول، شي چې توغندي يې کابل ته راونه رسېږي، مسعود ويل حکمتيار ته يې قفس جوړ کړی، په سر چوک کې به يې راځوړند کړي...

د رباني صاحب د غوښتنې له امله حقاني او ذاکري صاحب له حکمتيار سره په دې هکله خبرې وکړې، خو د حکمتيار موقف دا و، چې له دې موادو په نظامي برخه کې استفاده کېږي، په پوځي برخو کې لګول کېږي، ملېشو ته رسېږي، خو داسې وخت هم راغی، چې ده خپله بالاحصار کې د ملېشو مرکز ته غذايي مواد ورسول.

له ډېر بحث وروسته حکمتيار موافقه وکړه، چې د علماوو اتحاد يوه هيئت تر نظارت لاندې پر ښاريانو د دغو موادو د وېش له تضمين وروسته لار پرانيستل شي، د لارو ترل يوه سوداګري رامينځته کړې، دا چې ځينو کسانو به له حکمتيار امرونه اخيستل او ډکې لارۍ به يې کابل ته لېږدولې، دغه مواد په دومره لوړه بيه پلورل کېدل چې هره لارۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملیونه افغانی پاتې کېدې.

نور نو چا د کابل له دروازو له یوه من زیات اوړه او یو کیلو زیات غوړي نه شوی لیږدولی، کرۍ ورځ په کتارونو کې تېرېده، چې له پاټک د تېرېدو مخه ومومي... وحید الله سباوون، فیض محمد او د حزب یو شمېر قومندانانو او مخورو په دغه سوداګرۍ کې چاغه وڼه لرله... حکمتیار صاحب هم ځینې خاصان په دغه امتیاز نازول...



(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډاکتر نجیب الله د لیدو تلوسه

د ملګرو ملتونو ودانۍ سره جوخت چې ډاکتر نجیب الله پکې پنا اخیستې د مرحوم سردار نعیم خان کور دی، چې عزیز نعیم پر قوماندان عبدالحق پلورلی... حاجي دین محمد، مولوی خالص کله ناکله دلته دربار لګولی وي، ملا خپل صاحب هم دلته وي، د مولوی خالص د سکرتریت چارې پر مخ وړي، حامد کرزی هم دغه مانۍ کې میشت دی... دغه مانۍ د ملګرو ملتو له هغې دفتر سره دیوال شریکه ده...

د ډاکتر نجیب الله د لیدو هیله ووایم که هوس زما خوب ګرځېدلی، کله چې لومړی پلا دغه مانۍ ته ننوتم له ډاکتر سره مې د لیدو هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library

رژېدلې وګڼله... ذهن کې مې پر دېوال د ور اوښتو نخچه جوړه کړه، د دېوال ارتفاع مې سنجوله، پلچرخي کې مې پر دغه کچه دېوال د ور اوښتو توان وازمويه... په دې لټه کې يم چې کله پر دېوال ورمنډه کړم... سيد نعيم پاچا ته مې يادە کړه راته وايي يو دا کار درڅخه پاتې و...؟

له ملاخېل صاحب سره مې راز شريک کړ... د ده په خبره اورېدلي يې دي ډاکتر تومانچه ورسره ساتي ستا په ور اوښتو کېدای شي د خطر احساس وکړي... فلهذا دا کار پرېږده...

بيا بله لار رانښيه...

د ملګرو ملتو دفتر کې زما يو ترکی ملګری کار کوي، له هغه سره به خبره وکړو... دوې اوونۍ دمخه کابل کې و، که څه هم ډېرې بهرنې کارکوونکي لېږدېدلې... خو دا راته وايه پر ډاکتر نجيب څه کوې...؟

- که د څو خبرو مخه ومومم

- ډېر دې خوښ دی...؟

- خوا خوږي ورسره لرم

- همدا خوښه ده

- له ډاکتر سره خيانت شوی

خپله د دغه خيانت پړ دی... خپلو ملګرو ورسره خيانت کړی... اوس يې ملګري ملتونه پړه دي...

ملګري يې په خيانت پړه دي... موږ يې په ناسم قضاوت او درک ملامت... يو وخت به ټول پښېمانه اوسو، لکه د داود خان په اړه چې عمومي حسرت موجود دی...

ترکانو د خپل يو صدراعظم عدنان مندريس په اعدام (١٩٦١) تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسه د پښېمانۍ کفاره پوره نکړای شوه... د پاکستان پر وجود د ذولفقار علي بوټو له اعدام لګېدلي زخمونه ناسور ګرځېدلي...

ایران کې یې د شاهنشاه له سقوط وروسته صدر اعظم امیر عباس هویدا محاکمه کړ... اخوندانو په استهزا هویدا ته وویل له لسو کالو زیات د صدر اعظم په مقام له پاتې کېدو که ایران ته خپل کوم خدمت په ګوتو کړي...؟

هویدا له جیب خودکار قلم راویوست... ویل دیارلس کاله وړاندې زما د صدارت پر لومړۍ ورځ چې د دغه قلم کومه بیه وه اوس هم په هماغه قیمت ولاړ دی...

ټولو په کړس وخندل... دا هم کوم خدمت دی...؟

هویدا یې اعدام کړ... د هویدا د دغه خدمت وزن ډېر ژر خلکو ته خرګند شو... هغوی چې د محاکمې پر مهال یې د هویدا په دغه خبره کټ، کټ خندلي وو، د حسرت لاس مروړي...

ډاکتر نجیب چانه دی اعدام کړی...

هېڅ ګرنټي نشته، دلته هرڅه شوني دي... ناممکنات نشته...

مازیګر به ډاکتر درونښیم...

هغه څنګه...

پخپله به یې وګورې

لوړ مازیګر دی، ډاکتر نجیب الله د حویلۍ انګړ کې والیبال کوي... هماغسې پنډ، بشاش...

زه حیران ولاړ یم... له لاس پښو مې دمه ختلې... نه پر دېوال د اوښتو توان وینم... نه مې له خولې غږ ختی شي...

د ملګرو ملتو وډانۍ دروازه کې د نظار شورا وسله وال ولاړ دي، له

(c) ketabton.com: The Digital Library

دننه څوک دي، څنګه دي، پوره معلومات نه شته... يوه خبره کړه ده، چې د ملګرو ملتو بهرنيو کارکوونکو له کابله پښې سپکې کړې... د بنين سيوان او توله کې د ملل متحد بې مخې ته ګوره. مولوی خالص له شوروي اتحاد د داودخان، تره کي او امين پور غوښتل، که مې ولید دا خبره يې ور په زړه کوم، چې د ډاکټر نجيب الله د بندي کېدو پور ولې نه غواړي، دی مو د چا قصابۍ ته پريښئ...؟

حاجي نسيم ته مې ويل که کومه لار برابرولی شې- دی له جمعيت او نظار شورا سره ښې اړيکې لري... بله ورځ يې راته کړه يو څوک يې پيدا کړی، ستا نوم به ډاکټر ته ورکړي، که يې ومنله کار کيږي... ما خپل نوم او مدعا پر يوه پاڼه ليکله... خو حاجي نسيم بې درکه دی...

وايي وظيفه يې پريښې.

سل زړونه مې يو ځل... حقاني صاحب ښه مود کې دی... ورته وايم له ډاکټر نجيب الله سره به څه کيږي...؟

- وايي څه ورسره کوې... رئيس جمهور کوې يې...؟

- په جمهوري رياست خپلو کې نه جوړيږو...؟

- دوی هم يو بل سره په خپړې لګولو ستړي وو...

- پر پادشاهۍ څوک جوړ شوي...؟

- له ډاکټر نجيب سره يوه ځواني په کار ده... تاريخي ځواني... چې له دغه اسارت خلاص شي...

- ډاکټر نجيب پخپله خوښه ملګرو ملتو ته پنا وړی... وتلو ته به زړه ښه نه کړي... دغسې هڅه اختطاف ده...

- ملګري ملتونه چېرې...؟ د نظار شورا بنديخانه... که د ملګرو ملتو په نامه څه واى د نجيب الله او مملکت به دا حال نه و؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هرڅه چې دي د ملګرو ملتو نوم ورپورې دی... دی خپله ورغلی...

- شونې وه ډاکتر نجیب الله د سردار نعیم خان حویلی ته په اوښتو خوندي ایستل شوی وی...

- خو دا کار اسانه نه دی...

- د دغسې باور رامنځ ته کول ګران دي...

- بله دا چې ډاکتر نجیب الله دې ته چمتو کېدی شوی...؟

د حقاني صاحب له خبرو د سړي زړه ته لوېده د مجلس اخر کې به دې له خپلې هوکړې خبر کړي...

هېڅوک زمونږ خبرو کې را ونه لوېدل... یوازې مولوی محمود راته کړه... له دې تور به دې حاجي صاحب هم سپین نه کړای شي...

زه غلی بلکې خولې شوم، لکه نور د تورونو تر بار لاندې سانه شم اخیستی، خوله مې جینګه پاتې ده... ایله مې راټوله کړه...

زما ټول عمر له دغسې تورو بلکې پېغورو سره اخږلی... له کابله مې دغه دروند بار پخپلو اوږو پېښور ته لېږدولی- هلته مې ژوند د چارو، چاکوګانو له تېرولو سره تېر کړی، سهار به چې دفتر ته ننوتم ملګري به تېرو دوولسو ساعتو کې د لګېدلیو تورونو، پېغورونو په شخوند راټول وو...

هغسې تورونه چې اروا مې پرې شکه نه وه، بس د نه کړې ګناه د عذاب اور راباندې بل و...

زه زهیر ناست یم، ناستو کسانو یو بل سره پسپسکی پیل کړی- نیازی رانیژدې شو... ولې هغه ځای ګروې چې بخار نه کوي...؟

زه پښېمانه او شرمنده یم... وایم که خدای وکړي څوک بله خبره راواچوي، چې زه له کوټې د وتو مخه ومومم...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حقاني صاحب لکه زړه راباندې سوځېدلی وي- ویل یې... د ډاکتر نجیب د محاکمې ظرفیت نه شته، ټول خلاص ګرځي... دی ولې بندي دی...؟

د مکې فتحه کې ابو سفیان دومره دروند وتلل شو، چې مېنه او کور یې د نورو لپاره د مصونیت مرکز وګرځېد...

که ملګري ملتونه وغواړي نجیب ایستلی شي... خو د نورو لپاره دغې معاملې ته لاس اوږدول معقول نه دي...

پوښتنه دا ده، چې د ډاکتر نجیب ملګري، جنرالان څه شول، نه چا مظاهره وکړه، نه یې پر ځان اور پورې کړ، د ده خپله خبره ده چې له یو لک زیات حزبي ملګري یې لرل، تاته خیر....؟

د دغې پرمختیا نوره کیسه بل وخت

اوس ګوزاره د زړه په وینه کـــــــوو

حالات چې نښه شي بیا به مینه کوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مولانا منصور نیول:

د لیندی ۱۹مه د مولانا منصور یو ساتونکی سر وهلی بر وهلی د سولې مکتب ته راغی، له دې مخکې یو بل تن هم په وارخطایی راغلی و، خو څه یې نه وو ویلي، دویم هغه د منصور صاحب مربوط په دولت کې د مهاجرینو ستنېدو وزیر واحدیار دی.

د مولانا منصور یو بل ساتونکی چې کوماندویي تنګه دوښی دریشي یې په دغه ساړه کې اغوستې، کله به یې د ډګرمن او کله د جنرالي نښانونه پر اوږو ټومبلي وو، ذاکري صاحب او حقاني صاحب ته څه وویل، بیا یې ساتونکي ته کړه، ودریږه کیسه وکړه، هغه خوارکی ودرېد، کیسه یې شروع کړه... په چهار اسیاب کې حزبیانو پر موږ حمله وکړه، منصور صاحب او ملګري یې ونیول، ایله ما وکولی شوای په تېښته بریالی شم، ده د مرګ ژوبلې په رابطه غوڅه خبره ونه کړه، خو داسې معلومیده، لکه څو تنه مړه زخمیان شوي وي.

ټولو خپله خواشیني وښوده، یو څو خو دا د ټولو علماوو توهین وګانه، حقاني صاحب چهار آسیاب ته د تلو خبره وکړه، که څه هم ملګرو د حقاني صاحب له تلو سره مخالفت وکړ، هسې نه دې کې هم لکه د مخه کومه توطئه نغښتې وي، خو حقاني صاحب پتېلي، چې خپله د دغې زبرې د حل اقدام وکړي، څکه خو یې هغوی ته چې د نه تلو خبره کوله ویل تاسې مه راسره ځئ.

کابل د خپل سیاست او پالیسی له مخې غونښتل په هغو سیمو کې کورني کرکېچونه او جنجالونه پیدا کړي، چې په حال او مستقبل کې یې د ځواک د تمرکز او ایجاد اندېښنه ترې لرله، له همدې ځایه وه چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې سيمو کې يې د بېلا بېلو ارخونو د تمويل او تطميع له لارې د ربړو پيدا کولو هڅه کوله، د پکتيا والي په توګه د مولوي نصر الله منصور ټاکنه له دغو هڅو ګڼل کېږي.

مولوي منصورد مالي امکاناتو له مخې پکتيا کې د يوې پايګاه هڅه کوله ګردېز کې يې له ځينو قوماندانانو د دولتي ودانيو په اخيستلو سره هلته د دولتي تاسيساتو د خرڅولو طريقه او تجارت ايجاد کړ، ځکه خو ګردېز ته د ده هر وارې تګ پر پيسو د ډکو بوجيو په بدرګه ترسره کېده.

چهار اسيا ته د تلو لپاره د بت خاک لار غوره کړې شوه، ځکه خو مو بېرته د پلچرخي په استقامت حرکت وکړ، غرمه وه چې پلچرخي ته ورسېدو، ډوډۍ ته د ټولو اشتها برابره وه، خو حقاني صاحب بېله دې چې مرکز ته وګرځي، سيده د بت خاک لار ونيوله مونږ هم ورې تېرې پسې روان شو.

د بګرامیو ورکشاپ کې د حزب اسلامي له يو قوماندان سيد الرحمن سره ليده کاته وشول، چې حکمتيار ته په دې هکله خبر ورکړي، مونږ د احوال تر رسېدو د ابوحنيفه مدرسې دننه جومات ته ولاړو.

د جومات د اوداسه پاخه ځايونه له خاورو سره برابر و، د مدرسې د دروازې دننه د ټيليفون کوټې هم ړنګې دي، جومات ځای ځای رالوېدلی کنډ او کپر و، چې په دې وروستيو کې يې د بېرته جوړولو لپاره ځای ځای بې ډوله سمټکاري شوې وه، د فرش درک نه و.

د روسانو له تيري سره دلته شوروي لښکرو اړولي وو- مدرسه يې د کابل کومې بلې ودانۍ ته لېږدولې وه...

ماته څوارلس کاله دمخه د لمونځونو لړۍ را په زړه شوه، د ماسپښين په جمع لمنځونه چې په لومړي صف کې به شل پنځه ويشت

(c) ketabton.com: The Digital Library

استادان له سپينو لنګوټو سره ولاړ وو.

د جمعې پر ورځ به د شهيد مولوي عبدالرب احدي وردګ خطابت او د محصلينو متفاوتې څېړې او کريکټرونه را په زړه شول، خو دا ټول لکه خوب داسې و، د هغې ارامۍ او سوکالۍ ځای اوس د مرګ وېرې او وحشت پاتې شونو نيولی، چې د ليدونکو د اعصابو او احساساتو مراندې يې پرېکولې.

ابو حنيفه مدرسه د اخوانيانو مرکز پېژندل کېده، له استاد رباني تر سياف ډېری د دغې مدرسې فارغان دي، اخوانيزم د دغې مدرسې موډ او فيشن ګرځېدلی و، زمونږ يو استاد به چې په غوسه شو، له ځان سره به يې ويل: مدرسه امام ابوحنيفه است... ؟ اگر امام ابوحنيفه زنده ميبود مدرسه خوده در ميداد...

له لمانځه وروسته مو حرکت وکړ، د کمريو د کلي مينځ کې له غځېدلي خام سړک تېر او د کابل لوګر سړک ته د شېوکيو له اړخه ورګډ شو، لږ مخکې د موټرو وړوکې قافله مخې ته راغله، دا قافله د ښاغلي مجددي وه، چې د حکمتيار صاحب له ملاقات راګرځېدلې وه.

د حکمتيار او مجددي زړه بداوی چې په سخته دښمنۍ اوښتې و، د روغې جوړې امکانات يې نه ليدل کېدل، ده حکمتيار د خپل رياست په وخت کې د پاکستان له سفره ځخه د راستنېدو پر وخت د خپلې الوتکې پر راکټي حمله تورن کړی و، دوی يو د بل پر ضد تبليغاتي کمپاين غځولی و، له بهرنيو راډيوګانو سره له مرکو پرته د حزب اسلامي شهادت له مسعود او رباني زيات د مجددي پر خلاف موضع نيولې وه، وروسته بيا ښاغلي مجددي د الوتکې حمله پر احمد شاه مسعود واړوله، حکمتيار صاحب به ويل د حضرت صاحب جبهه يې جيب کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځائيږي، مجددي به په احساساتي بنيرا او بدو ردو خوله خلاصه کړه.

خو په را وروسته کې د واك پر سر له مسعود او رباني سره جنجالو حضرت صاحب له دوی زړه توری او حکمتیار ته نژدې کړ، مجددي ویل: حکمتیار سره خو څه پدر کشتی نه درلود...

مجددي او حقاني صاحب د سړک پر غاړه لندې خبرې وکړې، معلومه شوه مجددي له حکمتیار سره د نوې یارانې سره سره په دې نه و توانیدلي مولانا منصور د حکمتیار له بنده خلاص کړي، مجددي وویل: حکمتیار وعده ورکړ، چې منصور به خوشې وکړي...

مازیګر د چهار اسیاب تعلیمي غوند کې د حکمتیار مقر ته ورسیدو، دلته د منصور صاحب نوي لندکروزر ولاړ و، چې دوې ورځې دمخه ورته حاجي داود شاه ځدران له پاکستان راوستلی، د موټر هینداري ماتې، او ځای ځای داغمنې وې.

دېره سخته ځارنه کیده، د حزبیانو یوه یوه تولي تر تعقیب لاندې ونیوو.

حکمتیار په لومړي سر کې خورا جدي و، په هیڅ توګه یې د منصور خلاصون ته غاړه نه ایښوده.

په دې رابطه د حکمتیار نقطه نظر دا و، چې د منصور کسانو په ګردېز کې د حزب اسلامي څو تنه مجاهدین شهیدان کړي، نن چې منصور ګردېز ته روان و، د هغو شهیدانو وارثانو ورته لار نیولې وه، د دې لپاره چې مور هغوی قانع کړي وی، چې لاره خوشې کړي، منصور صاحب ته مو احوال ولیږه چې زمور په قرارګاه کې چې د سړک پر غاړه ده معطل شي، خو دوی زمور پر مجاهدینو برید وکړ، څو تنه شهیدان او زخمیان شول، د هغوی دوستان اوس نه دربرې او د منصور محاکمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او قصاص غواړي، ځکه خو د محاکمې تر دايرېدو مخکې د منصور خلاصون امکان نه لري.

په وژل شويو کسانو کې د هلمند مجاهدينو دوه تنه هم شامل وو، چې د منصور ملګرو د جبار ملېشه بلل، خو ذاکري صاحب د هلمند مجاهدين نبوول.

حکمتيار دادې معلومېده، ده ويل: منصور په کومه پشتوانه او قوت د پکتيا ولايت کوي او سپين سترګي دا چې د واکمنو په دفاع کې يې داسې موقف نيولی، چې د علم حيثيت او عظمت يې له خاورو سره برابر کړی دی.

له پينځه ساعته پر له پسې خبرو او بحث وروسته حکمتيار د حقاني په تينګار او احترام دې ته چمتو شو، چې د يوه هيئت له ټاکلو او په دې رابطه د تحقيقاتو او پلټنې له تضمين وروسته مولانا منصور، حقاني صاحب ته وسپاري.

له همدې ځايه د قضيې د تحقيق لپاره د علماوو يو هيئت وټاکل شو، چې په دې رابطه تحقيق او پلټنه وکړي او هرڅوک چې پر وخېژي، د شرعي اصولو له مخې ورسره چلند وشي.

د هيئت غړي لاندې علماء دي:

محترم مولوي نظام الدين حقاني، محترم مولوي عبدالرحيم اخوندزاده، محترم مولوي محمد مير.

پر سند محترم ذاکري اوحقاني صاحب د تضمين کوونکو او شاهدانو په توګه لاسليکونه وکړل او حکمتيار له دې شرط سره لاسليک کړی و، چې د هيئت له تحقيق وروسته بايد مجرم ته شرعي جزا ورکړی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېر ماخوستن و چې حقاني صاحب د مولوي منصور د خلاصون توافق ترلاسه کړ، مولوي منصور له سړک سره نژدې د حزب یوه بله قرارگاه کې بندي و، دی په داسې حال کې د حقاني صاحب له خوا راویستل شو، چې یو زوړ پکول یې پر سر او همښنی چپنه په تن نه وه، یو خیرن څادر یې له ځانه تاو کړی و، د عینکو درک یې نه و، د باندې د حزب له یوه مجاهد سره یو جوړه عینکې وې، په ډېر غرور او افتخار یې ویل، دا د منصور عینکي دي.

حقاني صاحب مولوي منصور له ځان سره په موټر کې کېناوه او پلچرخي ته یې خپل استوګنځای ته راورساوه.

د منصور صاحب د نورې ډلې د خلاصون په هکله حکمتیار موافقه ونه کړه، ظاهراً یې دا ویل چې کېدی شي د وژل شویو حزبیانو دوستان په یوه سخت انتقامي عمل لاس پورې کړي، ځکه خو باید د هغوی د اطمینان او احساساتو د کنټرول لپاره پاتې شي او که حالات مساعد و، سبا به یې خوشې کړو، حقاني صاحب منصور خپلې کوټې ته له ځان سره بوتی، د چای ډوډۍ له خوړلو وروسته یې د ده د اصرار له مخې د محافظینو یوه قافله کې په درناوي رخصت کړ.

کابل رادیو اعلان کړه، چې مولوي نصر الله منصور د څلورو لکو ډالرو معادل افغاني له ځان سره لیږدولې، چې حزب ترې نیولي دي.

پر سبا د عقرب ۲۰ مه د سولې مکتب کې بیا د علماوو او قوماندانانو غونډه وه، مولوي منصور هم ورته ځان راورساوه، خو دا ځل د کوم وزیر بنز موټر کې راغی، ځکه چې موټر، عمله او باډیګارډ یې لا د حکمتیار له بنده نه وو ازاد شوي.

حقاني صاحب، مولوي عبدالرحیم اخوندزاده او مولوي شیرین

(c) ketabton.com: The Digital Library

شجاعت حکمتیار ته ولیږل، چې د وعدې له مخې د منصور ملګري له ځان سره راولي، خو هغوی تش لاس راورسېدل.

حکمتیار د هیئت له تحقیق او فیصلې مخکې د دوی خلاصون ناممکن ګانې او دا یې ویلي وو، چې که بیا په دې رابطه څوک راغلل، که مجاهدینو هر ډول عکس العمل وښود مسوولیت به یې زمونږ پر غاړه نه وي.

مولوي منصور لکه د پخوا په څېر لنګوټی تړلی و، خو لا چېنه یې نه وه پیدا کړې او پر واسکټ یې د پاسه له ځانه سپین څادر تاو کړی و، دی په تالار کې ودرېد او حاضرینو ته یې د پرونۍ واقعې په هکله معلومات او توضیحات ورکړل:

...کله چې موږ چهار اسیاب ته ورسېدو، د حزب افرادو زمونږ مخه نیولې وه، ما خپل مجاهدین له مقاومت منع کړل، خو دوی چې زما د موټر دروازه خلاصه کړه، شعارونه یې ورکول چې دوستم مو نیولی، ګلم جم مو ونیو او داسې نور شعارونه یې ورکول، له تشدد یې کار واخیست، زمونږ پل ملګرو یې حمله او ډزې وکړې، کله چې کشمیر خان راغی، هغه له هرڅه بېخبري ښکاره کړه، ویې ویل تاسې به له ما سره تر هغې قرار ګاه ولاړ شئ...

خو اوس دا وایم، که تر مازیګره زما ملګري خوشي نه شول، په ټول افغانستان کې به د حزب په خلاف سرتاسري جګړه پیل شي، همدا اوس موږ ته له مختلفو ولایتونو مخابرې راغلې، چې د حملې تیاری نیسي.

مازیګر بیا حقاني صاحب چهار اسیاب ته ولاړ او تېر ماخوستن و، چې د منصور ډله چې د ده زوی هم په کې و، له ځان سره پلچرخي ته راوستل او پر سبا یې په څو موټرو کې د پخواني رژیم د مرکزي کمېټې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دفتر ته ورسول، چې له ارګ او وزارت دفاع سره جوخت او د حرکت انقلاب اسلامي لپاره خوشې شوي وو.

د جمعیت نشراتي ارګان مجاهد د ۱۳۷۱ کال ۱۸ مه ګڼه کې په غټو تورو یوازې دومره لیکلي: قضیه مولوی نصر الله منصور بکجا رسید؟ تر دغه عنوان لاندې په ورو تورو راغلي. در شماره آینده بخوانید، (خو دا موضوع واکمنو ته دومره بې ارزښته وه، چې په بله ګڼه کې یې څه پرې ونه لیکل.

د حکمتیار لیک:

محترم مولوی صاحب ذاکري او مولوی صاحب حقاني!

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته!

په الهی امان کې اوسئ او په خپلو ټولو ایماني دندو کې بریالي اوسئ.

غواړم د لړم د میاشتې د ۱۹ مې نیټې د حادثې او د هغې د پس منظر په باب تاسې په جریان کې واچوم.

په داسې حال کې چې مور د جناب مولوی نصرالله منصور سره هیڅ دښمني نه لرو او د هغه په مراتبو مخالفتونه له نظره غورځوو، خو هغه مور او زمور مجاهدینو ته د لار وهونکو خطاب وکړ، هغه د حزب تر ولکې لاندې سیمه کې تګ راتګ درلود، خو چا ورته مزاحمت نه جوړاوه، له کمونستانو او ملېشو سره یې زمور د جګړې پر وخت بې دلیله اعلان وکړ، چې له شانه به د حزب پر ځواکونو برید وکړي، او په دې توګه یې ځان له حزب اسلامي سره د جګړې د لورې په توګه مطرح

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د ملیشو د یرغل نه یې دفاع وکړه، خو مور یې پر وړاندې هیڅ نوعه عکس العمل ونه ښود، په داسې حال کې چې ټولو ته څرګنده ده چې د حزب اسلامي د مؤمنو ځواکونو پر وړاندې څومره وزن او موقعیت لري، ځان یې د سولې هیئت غړی وګانه او زمور له موافقې پرته یې اعلان وکړ، چې باید حزب اسلامي د مرنجان له غونډې د ملیشو له وتلو سره جوخت خپل ځواکونه له چهار اسیاب او بیني حصار څخه وباسي، چې نه د سولې هیئت داسې پریکړه کړې وه، او نه دې مور د سولې د هیئت په توګه پیژندلی و، او نه د سولې غړی و، خو له دې سره سره مور د هغه د دې جنګ افروزانه څرګندونو پر وړاندې هیڅ عکس العمل ونه ښود، په پکتیا ولایت کې یې په یوه طرفه اقداماتو لاس پورې کړ، په ګردیز کې یې د کمونستانو او ملیشو حکومت اعلان کړ، په ولسوالیو کې یې مسئولین وټاکل، په دغه ټاکنو کې یې د حزب یو تن هم ونه ټیو، همدا راز یې د نظامي قطعاتو د جوړېدو، اقدام وکړ، او له ایتلافي اداري یې د دغه منظور لپاره کافي امکانات تر لاسه کړل، او ویې غوښتل چې له دې امکاناتو څخه پر ګردیز او نورو سیمو باندې د خپل تسلط پیدا کولو لپاره استفاده وکړي، مور بیا هم خاموش وو، او په هیڅ عکس العمل مو لاس پورې نه کړ.

شهید قوماندان کوچی زمور له څلورو نورو مجاهدینو سره د ده د افرادو په لاسونو د ګردیز ښار کې تر برید لاندې ونیول شول او شهیدان کړی شول، زمور مجاهدینو غوښتل خپل غچ واخلي، او شدید عکس العمل وښیي خو مور د هغوی مخه ونیوله.

له ملیشو سره د جګړې پر وخت د حزب اسلامي یو قوماندان د خپلو مجاهدینو سره د صدیق الله د کسانو له خوا پلچرخي کې ونیول شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د حرکت له مسوولینو سره د هغه د خوشې کولو په باب زمونږ د وار وار تماسونو باوجود هغه خوشي نه کړی شو. خو مونږ د عکس العمل پر ځای صبر او زغم ته ترجیح ورکړه، نه یوازې مونږ له ټولو مخالفتونو سترګې پټې کړې، بلکې ومو غونښتل د حرکت انقلاب اسلامي مشر د انتقالي دورې جمهور رئیس په توګه انتخاب کړو او مونږ دا طرح یعنې د انتقالي دورې د مشر په توګه د حرکت د مشر ټاکنه پخپله له ده سره مطرح او له نورو مشرانو سره مو تفاهم وکړ، خو د حرکت ځینې غړي چې د نورو په وسیله تقویه شوي وو، که زمونږ د لارې خنډ نه وی شوي، او مولوی صاحب محمدنبي یې د کابل پر پرېښودو او پېښور ته په تلو نه وی محبور کړی، نو اوس به هغه د انتقالي دورې جمهور رئیس وی.

خو مونږ په دې برخه کې او هم په دې باب چې حرکت انقلاب اسلامي یو لوی تنظیم ګڼو او د هغه له قیادت او افرادو سره د نیکو اړیکو غونښتونکي یو، ډېر سندونه او شواهد وړاندې کولای شو، د لړم د ۱۹ نېټې د حادثې هم مولوي منصور عامل و او د هغې مقدمې یې برابرې کړې وې، کسانو یې په وحشیانه عمل لاس پورې کړ، د یوولسو مجاهدینو د ټپې کېدو او شهادت سبب شو، مونږ له نهایي صبر او زغم نه کار واخیست او ومو غونښتل چې هغوی ته تاوان ونه رسېږي، زمونږ مجاهدینو دی د حادثې له صحنې ویوست، او په داسې حال کې چې د هغه د اوسېدو ځای د شهیدانو او ټپیانو د ورثه وو لخوا محاصره شوی و، او له هغه نه د غچ اخیستو او شرعي محاکمې غونښتونکي وو، مونږ منصور صاحب د هغوی له منځه راویوست او تاسو ته مو وسپاره، په سبا د ده نور کسان مونږ په دې شرط خوشې کړل چې د محاکمې او شرعي پرېکړې لپاره به هیئت ټاکل کېږي، ما د ده د وسایلو او اجناسو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

راټولولو او استراد احکام صادر کړل، تاسې زمونږ د صلح جویانه اقداماتو پر وړاندې تضمین وکړ، چې د سولې هیئت به د دې فیصلې په برخه کې شرعي پرېکړه صادره کړي او د خودسرانه اقدام او عکس العمل، غچ اخیستنو او ماجراجو یانه حرکتونو د تر سره کولو مخه به نیسي خو متاسفانه مولوی منصور د ائتلافي رژیم د خبري وسایلو له لارې داسې څرګندونې وکړې چې مونږ هغه د حزب اسلامي پر وړاندې د ده د جګړې له اعلان سره مترادفې ګڼو، په پېښور او ګردیز کې یې غوندې جوړې کړې، او له ټولو اخلاقي موازینو څخه د مخالفو شعارونو په ورکولو یې لاس پورې کړ.

او ویې غوښتل چې د دې فتنې د اور لمن نورو سیمو ته پراخه کړي، کاشکې هغه او د هغه ملګرو په کابل کې د مسلمانانو د زنداني کولو، تلاشی، یرغلونو او خونړیو پېښو د وقوع په باب چې هره ورځ کابل کې تکراریږي، عکس العمل ښوولای وی، کاشکې هغه او د هغه پلویانو د کابل ښار د خلکو په عزټونو، سر او مالونو باندې د هرې ورځې کېدونکو تجاوزونو په مقابل کې رد عمل ښودلای وای او په کابل ښار کې یې د ملي شتمنیو چور او چپاول، د مجاهدینو او قوماندانانو سره دکړو وړو لکه چې مولوی حقاني سره وشول مخه نیولې وی او عکس العمل یې څرګند کړی وای.

عجیبه ده چې دوی دا ټولې پېښې عادي بولي او پر وړاندې یې هیڅ عکس العمل نه ښیي، که په کابل کې هره ورځ په سلګونه کسان وژل کیږي، او په لسګونو کورونو باندې ټیرۍ کیږي، کمونستان پر اوضاع مسلط کیږي، مهم او اساسي پوستونه تر لاسه کوي، استراتیژیک او حاکم نقاط اشغالوي او په زیاتېدونکي ډول د خپلو سیاسي او پوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پايگاوو په استحكام لاس پورې كوي، دا ټول زمونږ دوستانو ته عادي او غير مهم دي، هغه څه چې دوی ته اهميت لري د حزب اسلامي افغانستان پر مجاهدينو باندې د تاخت و تاز په بدله كې د يو موټي پيسو لاس ته راوړل دي او غواړي په دې توګه د اسلامي ادارې مسولين او كمونست جنرالان راضي او ايتلافي ادارو كې خپل موجوديت تضمين كړي.

هيله كوو چې تاسو د قضيې د شرعي څېړنې او مقابل جانب د خپلسريو، عكس العملونو او ماجراجويانه څرګندونو د مخنيوي په باب په كړې ژمنه عمل وكړي، مقابل لوری خپلو اشتباهاتو ته متوجه كړئ، او د سولې هيئت وهڅوئ چې خپله وروستۍ پريكړه زر تر زره صادره كړی.

همدا رنګه لازمه ده چې تاسو خپلې كړې مخكنۍ وعدې سره سم حقايق ټول ملت ته اعلان كړئ چې په دې توګه د ماجراجو او فرصت طلبو عناصرو د درواغجنو او زهر لړلو تبليغاتو مخه ونيول شي.

كريم خدای(ج) مو يار او مرستندوی.

ستاسو ورور حكمتيار

١٣٧١هـ ش د لړم مياشتې ٢٥مه نېټه

د سولې پر ښوونځي بريد:

د علماوو اتحاد پلچرخي ته راوليږدېد، د حزب وحدت او نظار شورا د جګړې پر وخت د دوستم ملېشې هم له شورای نظار سره ننبتي او د ښار د څينو برخو له نيولو سره يې د سولې پر مكتب هم برید كړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښوونځي ځيني برخې د راکټونو له لګېدلو زيانمنې شوې دوه موټر چې يو په کې د يوه کندهاري قوماندان او بل د حقاني صاحب د تنظيم فلاينګ کوچ دی ويجاړ شوي دي، له همدې ځايه وه چې علماوو هم د سولې په مکتب کې د سولې فعاليتونو ته دوام ورنه کړی شوی، کډې يې بار او پلچرخي ته راولېږدېدل.

پلچرخي کې خورا بير او بار او ګڼه ګوڼه شوه، چې وار له مخه له حقاني صاحب سره هم زيات قوماندانان او قومي مخور راغلي دي.

سونګ او خوراکي مواد ټول د حقاني صاحب له خوا برابرېږي، لرګي له پکتيا هرې دوې ورځې وروسته را رسېږي، غوړې، اوړه، وريجې، دال له ميرانشاه... البته غوښه کچالو او پياز له بازار تر لاسه کېدی شوی.



د واک وزلوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرایي جنګیالي

د شوروي اتحاد په نړېدو، ارمېنیا د اذربایجان ناګورنا کرباخ او ځینې سیمې لاندې کړې. ایران د ارمینیا ننګه وکړه، سره له دې چې اذریان شعیه مذهبي دی، بیا هم ایران د ارمینیا ملاتړی شو، چې د اذربایجان په غښتلتیا یې د ایراني اذربایجان د پیوستون اندیښنه را ولاړولی شوی...

آذاربایجان له ارمینیا سره د مقابلې توان نه درلود... څه خبر له کومې لارې د چا په منځګړیتوب یې له حزب سره غوټه کړه، حزب اذربایجان ته د جنګیالیو د لېږد لړی پیل کړه.

د سرچینو په وینا د اذربایجان کورنیو چارو وزیر ښاغلي جوادوف جلال اباد کې له ښاغلي حکمتیار سره مخامخ ملاقات کې د جنګیالیو د کرایې شفاهي موافقه وکړه، د وحید الله سباوون په مشرۍ دغه پروژه وغځېده، سباوون د دغو جنګیالیو د قوماندان په توګه له لومړۍ ډلې جنګیالیو سره اذربایجان کې دېره او هورې دفتر پرانیست.

دلته د حزب منصبدار ظفرالدین د جنګیالیو د غوراوي رسمیات پر مخ وړي، د جلال آباد له هوایي ډګر ډکې الوتکې جنګیالي اذربایجان ته لېږدي...

آوازې دي، واسطې، سپارښتنې، لکه یو کاروبار ګرځېدلی، چې د جنګیالي سر درې سوه ډالر معاش یې ورټاکلی... معلومه نه ده له اذربایجان سره د دغه لښکر د معاش او لګښت بیه په څومره کمشن، څووم لاس په کومه کچه ټاکل شوې...؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې گورې دوه درې تنه درته ولاړ وي، په جينګه خوله به وايي که حزب کې څوک پېژنې چې واسطه يې شې که د اذربايجان کرايي لښکر کې يې ونيسي...

زما له دوی زياته خوله جينګه شي، چې يو خو حزب کې زما پېژندوی د کومې ښې نه دي، بله دا چې د جهادونو ټيکه داري د سرونو کرغېړنه سوداګري ښکاري...

مسلم انګريزي ورځپاڼې په خبر توپولف (۱۰۵۴) الوتکه هره ورځ د جلال اباد له هوايي ډګر دغه جنګيالي اذربايجان ته لېږدوي... ورځپاڼې د افغان پيلوټ حبيب الرحمن او انجنير امان الله هغه ليک هم خپرو کړی چې خپلو کورنيو ته يې لېږلي دي... د دوی په خبره له آزري حکومت د سړي سر ۱۰۰۰ ډالرو ايله ۴۰۰ دوی ته ورکول کېږي...

(مسلم ۱۸ نومبر ۱۹۹۳)

اذربايجان بيا هم ناګورنو کرباخ خپل نه شوی کړی، خو ځينې سيمې يې بېرته ونيولی، د ارمينيا د تېرې مخه ډب شوه.

ويل کېږي اذري حکومت له افغان جنګياليو ښه زړه نه درلود، چې نه يې تور کتل نه سپين، ډزولو ويجاړولو ته يې کار وايه، چې اذريانو نشوای زغملی...

د دغه لښکر ځينو ته اذربايجان خپل تابعيت ورکړ، هورې يې ودونه وکړل، د وژل شويو يې يوه وړه هديره ده...

۱۰۹۲-۱۹۹۳ کې دغه جګړه د ملګرو ملتو لخوا په ۱۹۹۴ کې ودرېده، خو ناګورنو کرباخ هماغسې د ارمينيا منګول کې پاتې شو.

د ايران، عراق جګړه کې هم د ايران لخوا افغان کډوال د جګړې ليکو ته استول کېدل....

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرى پاکستاني مقاماتو هم د خپلو ساتونکو په توګه تنظيمي جنګيالي ټاکلى... نواز شريف، جنرال فضل حق، قاضي حسين احمد او... له افغان مجاهدينو خپل باډيګارډان نيولي... قاضي حسين احمد خپلو افغان ساتونکو ته ډوډى هم نه ورکوله... ما هماغه وخت افغان مجاهد ته په دې اړه رپوټ برابر کړى و...

له دې وړاندې ۲۰۰۰ مجاهدين پر کويټ د عراق له ورځتو سعودي عربستان ته ليږل شوي وو. د مجاهدينو عبوري حکومت مشر مجددي په هوايي ډګر کې ورته مخه ښه وويله...

محاذ، حزب او مولوي حقاني د خپلو مجاهدينو له ليږلو سره موافقه ونه کړه، استاد سياف د خليج جګړه کې له امريکايي مخالف دريځ سره د خپلو مجاهدينو ونډه چاغه وتلله.

د تاجکستان اسلامي نهضت هم د ډاکتر نجيب الله رژيم له سقوط افغانستان ته شيوه شو، حکمتيار او سياف يې پر ننګه او مرسته ودرېدل، تر هغې چې استاد رباني او احمدشاه مسعود د تاجکستان اسلامى نهضت مشر عبدالله نوري له تاجکي ولسمشر على رحمانوف سره په جوړ جاړي اړ کړ.

وايي پر يو شمېر عرب اورپکو د کورنيو چارو وزير احمدشاه احمدزي افغان پاسپورتونه وېشلي او دوى ته يې کابل کې کورونه مانى رانيولې.

هغوى چې افغانستان کې پاتې دي، له حکومتي مرستې او سرپرستى برخمن دي.

د دغو اورپکو انجام د زړې لوبې دوام ګرځېدى شي، که د نوې ډرامې پيلامه- موږ ته د واړه ګوانښ راولاړولى شي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر خره سپرېدل يو شرم کوزېدل بل

حل او عقد شورا د پينځو جهادي تنظيمونو له خوا، تحريم شوې، ځينې ولايتو لکه ننګرهار، کونړ او لغمان هم شورا بايکاټ کړې، نور ولايتونه هم شکايتونه لري، ټول د شورا لپاره د غړو په غوراوي کې پر حکومت د ټګي جعل او رشوت تورونه لګوي.

په دې لړ کې لومړی فيصله دا وشوه، چې رباني صاحب بايد د تمديد شوې مودې له پای ته رسېدو د چارو واګي خپل لومړي معاون مولوي محمد نبي محمدي ته وسپاري او د هغه تر اداري لاندې د شورا د تزکيې، اصلاح او تکميل چارې بشپړې شي.

له دغې طرحې سره مولوي خالص او حکمتيار بشپړ توافق څرګند کړ، ګيلاني او مجددي هم ورسره موافق وو، غوښتل يې رباني واک قيادي شورا ته وسپاري او هغه بيا مولوي محمد نبي يا بل چاته قدرت ورکړي، په دې توګه د شورا د اصلاح چارې بشپړې کړې، چې واقعاً د ملت د نمايندګۍ او د دولت د مشر ټاکنې صلاحيت پيدا کړی شي.

خو مولوي نبي پاکستان ته پښې سپکې کړې وې، ده پېښور ته د تلو پر لاره جلال اباد کې رسنيو ته ويلي و، چې د افغانستان هوا پرې بده لګېږي حساسيت لري...

د سياف موقف څرګند نه و، استاد رباني د واک پرېښودو ته نه شوی چمتو کېدی، ده مولوي خالص ته ويل: خر سوار شدن يک شرم و پايين شدن ديګه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه اوازې وار له مخه خپرې وې، چې د حکمتیار او دوستم ترمینځ د جوړجارې لپاره فعالیتونه روان دي، له همدې ځایه وه، چې د جمعیت مرکزي خپرنیز ارګان مجاهد د ۱۳۷۱ کال په ۱۹ مه ګڼه کې لیکلي: ((د حزب اسلامي مرکزي شورا غړي استاد ذره او د حکمتیار زوم غیرت بهیر تاشکند او مزار کې د دوستم ملاتړ د لاس ته راوړلو لپاره هلې ځلې کوي)) مجاهد جریدې په همدې ګڼه کې لیکي: جنرال دوستم له یوه شل کسیزه هیئت سره لومړی پاکستان او بیا سعودي ته سفر کړی، مجاهد جریدې دغه سفر د سعودي استخباراتو مشر ترکي الفیصل په بلنه بنوولی، چې غوښتل یې د دوستم او حکمتیار ترمینځ اړیکي ټینګ کړي...

له دې مخکې د قوس له ۱۴ مې تر ۱۸ مې د حکومت او حزب وحدت جګړې چې د دوستم او دولت د ځواکونو ترمینځ یې هم د جګړې لمبې بلې کړې، سو تفاهم وګنډل شو، خو د دغه سو تفاهم د وضاحت لپاره (جمعیت) یوه پاڼه خپره او دا جګړه یې د ببرک کارمل طرحه او د دوستم، حزب وحدت پیر ګیلاني او مجددي د ائتلاف کودتا ونښوده، که څه هم دغه پاڼه خپله سرچینه نه څرګندوي، خو لکه شپانه ته د وزې خبره: که زه ونه وایم ګوډه پښه مې وایي، پاڼه خپله پر جمعیت ګواهي ورکوي... ځکه خو یې متن کټ مټ له لاندې تبصرې سره را اخلو، پاڼه د افغانستان بانک ترمخ په ګڼ شمېر توزیع کېده، چې ما هم تر لاسه کړه، دا هم ویل کېدل چې په ځینو ځایونو کې له الوتکو هم دغه پاڼې شیندل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسمه تعالی

۱۳۷۱/۹/۲۳

تفسیری از کلمه «سوء تفاهم»

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسمه تعالی

تفسیر از کلمه (سوء تفاهم)

کشمکش خونین هفته قبل میان یک جبهه ائتلافی و قوتهای تحت فرماندهی وزارت دفاع و همزمان با ان تبلیغات غلط رسانه های خبری جهان تحول عمیق و تازه ای بعد از پیروزی انقلاب اسلامی در افغانستان بود، که می تواند اثرات دور رسی بر جریانات سیاسی افغانستان وارد دارد؟

جبهه ائتلافی مشتمل بود بر محاذ ملی (پیر گیلانی) جبهه نجات ملی (حضرت مجددی) حزب وحدت به سرکردگی (عبدالعلی مزاری) قوتهای لشکر ۵۳ و ۸۰ به فرماندهی جنرال دوستم و سید جعفر نادری و در خفا دسته پرچمیان کارملی، که از حمایت دولت ایران برخوردار بودند.

این جنگ یک هفته ای با حرکت ناموفق نیروهای مربوط به ملیشای دوستم در کابل به اوج خود رسید و سر انجام دو طرف با اعلان اینکه سوء تفاهم رخ داده، دست ازماشه گرفتند، و درین جریان از شمال کابل هزاران مجاهد مسلح از ولایت پروان، کاپیسا به پشتیبانی از دولت اسلامی به کابل شتافتند.

در کابل پرچمیان و افراد وابسته به گروهای متذکره، پیروزی شان را به یکدیگر تبریک می گفتند، و همزمان رادیوهای جهان از بمباردمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریاست دولت و وزارت دفاع و اسارت احمد شاه مسعود سخن میراندند، که درین استقامت رادیوی ایران گوی سبقت را ربود.

اکنون سوال اینجاست که برنده این کشمکش کیست؟ و نتایج این تحولات چه خواهد بود؟

درست دولت کنونی افغانستان با سرکوبی دشمنانش بیشتر از بیش مستحکم خواهد شد، زیرا اگر رابطه دولت با عده ای سست گردید، با جمعی دیگر محکمتر شد، که ما اعلامیه تنظیم جهادی حرکت انقلاب اسلامی، اتحاد اسلامی و حزب اسلامی (خالص) را در پشتیبانی از دولت نشانه خوبی درین مورد شمرده می توانیم، همچنان شتافتن نیروهای کمکی از پروان، کاپیسا که در گذشته چندان رابطه گرمی با دولت نداشت، خود یک دستاورد خوب برای رهبران فعلی دولت اسلامی بوده می تواند.

برخی از کشورها نیروهای جنرال دوستم را در افغانستان سرنوشت ساز می انگاشتند، و نقش اساسی را در سقوط رژیم کمونست کابل به ان میدادند، در حالیکه این تحول قضیه را بصورت واضح تری بازگو نمود، و فهماند که این مجاهدین اند که زمام امور را در دست دارند و ملیشای دوستم چیزی بیشتر از نیروهای تبلیغاتی نیستند.

علاوه بر ان پاکستان و سعودی که توانمندی جنرال دوستم را بیش از حد محاسبه کرده بودند و با دعوت و پذیرایی ان خواستند به فرد اینده ساز افغانستان در ارتباط بوده باشند حرکت اخیر ایشان را وادار به تجدید نظر در سیاست شان خواهد کرد.

دلچسپ تر انکه پاکستان بخاطر همکاری حزب حکمتیار در مخالفت با دولت اسلامی به اعتبار خویش نزد مجاهدین و مردم

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان لطمه زده بود، اما متاسفانه اینبار جمهوری اسلامی ایران اشتباه پاکستان را تکرار کرد، زیرا چه از نظر مذهبی و چه از حیث سابقه که نزد احزاب جهادی آن کشور دارد، جبران آن برای ایران مشکلات زیادی را در پی خواهد داشت.

بهمگان روشن است، جمعیت اسلامی افغانستان که در حال حاضر پست های مهم ریاست دولت و دفاع را در اختیار دارد، در طول جهاد و بخصوص بعد از پیروزی انقلاب اسلامی چی مشکلاتی نبوده که به خاطر دفاع از حقوق اقلیت های مربوط حزب وحدت و نیروهای دوستم... متحمل نشده و بدلیل حمایت از انها اتهامات گوناگونی امثال ائتلاف با کمونستان، دوستی با شیعه (از جانب خالص) متهم نگردید، و بحیث یک حامی نیرومندی ایشان را در طی این مدت یاری رسانیده، ولی این پیشامد پشت پا زدن به تمام دلسوزی ها و همکاری های جمعیت بود و خود را محروم داشتن از یک متحد نیرومند و معقول، که ناگزیر در اینده نه چندان دور بهای انرا خواهند پرداخت، زیرا در افغانستان پشتون ها از اول با انها چندان روش خوبی نداشتند و اکنون اعلام دشمنی با تاجکها بود و یگانه راه حل در پیشروی آنها اینست تا در صدد جبران اقدام شان برایند.

بسیاری بر طرز فکر و عملکرد رهبران حزب وحدت می خندند، زیرا با افراطی گری و مواقف دیکته شده از سوی ایران چنان فضای را برخود ایجاد کرده اند که راه موفقیت در ان سراغ نمی شود، چه حزب وحدت اسلامی نه تنها بخش کوچکی از هزاره هاست، بلکې از حیث مذهب (شیعه) در انزوا قرار داشته و موقعیت هزاره جات در ساحه کم اهمیت تر نواحی مرکزی افغانستان ایشان را بصورت طبیعی محاصره کرده

(c) ketabton.com: The Digital Library

است.

بقول مسعود؛ این حرکت از سوی نیروهای به راه افتاده که از اراده مردم افغانستان مبنی بر انتخاب رهبر اینده کشور خوف داشتند، بلی جنگ در استانه تدویر شورای حل و عقد شروع شد، تا بتواند بر گذاری انرا به تعویق اندازد در حالیکه قبلاً دلایلی برای به تعویق انداختن آن از سوی بعضی از سازمان ها عنوان می شد و دولت سرسختانه در جهت تشکیل شورا گام بر میداشت.

بدین ترتیب شرکت پیر گیلانی در این حرکت اولاً علاقمندی آنرا نسبت به این شورا زیر سوال میبرد، ثانیاً ائتلاف با نیروهای دوستم رابطه وی را با متحد سابقه دارش حرکت انقلاب اسلامی قطع می نماید.

تحریك نیروهای دوستم از سوی کارمل، برای انجام چنین امر خطرناکی بمثابه بخت ازمایی گروه پرچم نیز بوده، که دوستم و نیروهای تحت فرمانش فدای این هدف گردید، زیرا دوستم هم از نظر سیاسی میان قوت های مجاهدین بیگانه و تنهاست و هم از حیث مواضعش در شمال کشور بسیار اسیب پذیر میباشد، از ان گذشته اگر شمولیت دوستم درین ائتلاف بر علیه دولت اسلامی به کلیه افرادش ثابت شود، بسیاری از آنها را برخواهد انگیخت که منجر به تجزیه و تضعیف فوق العاده دوستم خواهد شد.

شاید عده ای این رویداد را به نفع حکمتیار به حساب ارند، اما در واقع اینطور نخواهد بود، چون میان دولت و تعدادی از احزاب جهادی تجدید دوستی صورت یافته، از سوی دیگر دولت توانست نظر مساعد قوماندانان سر شناس حکمتیار را در پروان، کاپیسا امثال استاد فرید

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد فتح و کریم بخود جلب دارد و یک پشتوانه خوب که رنگ قومی نیز دارد بخود کسب نماید. اگر در پی دلایل این کودتا باشیم، مهمتر از همه اینست که جمعیت اسلامي بیش از حد در سیاست از اخلاق استفاده میبرد و این امر به بقایای رژیم کمونست قبلی و احزاب ضعیف فرصت داده تا از وضع موجوده استفاده سوء نماید.

همچنان دلچسپی کشورهای همسایه برای ایجاد یک تحول دیگر در افغانستان است، که به حیث سوال بغرنج مطرح شده است، زیرا سران دولت کنونی افغانستان متحیر اند، بخصوص ایران و پاکستان، از افغانستان چه توقع دارند که ما از عهده ان بر آمده نمیتوانیم، و ان نظام چه خواهد بود و ان افراد که؟

شاید درک این نکته برای مردم افغانستان دشوار نباشد، مخالفت بیگانگان دال بر حقانیت، استقلال و عدم وابستگی دولت اسلامی افغانستان است، ازین رو پیشبینی می شود که پیوند مردم با دولت پیوسته انکشاف خواهد یافت.

بهر صورت این اقدام دسته بندی جدیدی میان نیروهای سیاسی در افغانستان بوجود اورده، در یکطرف احزاب جهادی و مردم افغانستان در جانب دیگر بقایای رژیم کابل و چهره های ضعیف و وابسته به اجانب که بدین ترتیب در اینده میتواند برای عملکرد های ایشان پاسخگو باشد و اینست معنی سوء تفاهم که هنوز تفسیرش چندان روشن نیست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نگرشی کوتاه بر متن ورق پاره ای تحت عنوان (تفسیری از کلمه سوء تفاهم):

تبصره: منبع الجهاد څلورم کال ۱۳۷۱ درېیمه گڼه مرغومی - سلواغه.

بتاریخ ۲۳ / ۹ / ۱۳۷۱ در شهر کابل اوراقی نشر و توزیع گردید، که موقف دولت را در رابطه با وقایع اخیر ناشی از اختلاف شدید در گروهبندی اداره کابل منعکس می نماید.

متن برگه، قوای رشید دوستم و حزب وحدت را با همکاری پیر گیلانی و حضرت مجددی به سر نگونی دولت از طریق یک حرکت ناموفق کودتایی که گروه پرچم ببرک کارمل نیز در خفای آن نقش داشت متهم نموده، واز یک جبهه ائتلافی قوت های مزبور نام میبرند.

جالب اینست که تا ایندم دولت، قوای دوستم و نادری را جز قوت های وزارت دفاع میدانستند و ارتباط دوستم، حزب وحدت و ببرک را مبنی بر ائتلاف انها اعتراف نمی نمودند ولی اینک علاوه بر اعتراف ائتلاف در کودتای ناکام نقش کارمل نیز یاد اور شده است.

ورق پاره از مداخله مستقیم دولت ایران نیز نام میبرد و از روش پاکستان و سعودی نیز مبنی بر (بیش از حد محاسبه کردن قوت های دوستم) شکایت می نماید.

همچنان جعفر نادری، دوستم و حزب وحدت را در برابر اینکه جمعیت بخاطر حمایت از انها و به اصطلاح پشتیبانی از حقوق اقلیت ها اتهامات گوناگون و مشکلات زیادی متحمل گردیده، ایشانرا به پشت پا زدن به این همه دلسوزی های جمعیت ملامت قرار داده، این عملکرد

(c) ketabton.com: The Digital Library

انها را از دست دادن یک متحد نیرومند (جمعیت) تلقی نموده است.

نقطه جالب دیگر اینست که ایشان به خاطر جلب حمایت مجدد ائتلافیون مسله پشتون و تاجک را مطرح نموده گو اینکه پشتون ها از اول با انها روابط خوب نداشت، ازینرو نمی بایست با تاجکها که جمعیت خود را نماینده و وارث آنها دانسته، چنین روش خصمانه ای از خود نشان میداد، در حالیکه مسئله این قوم و ان قوم در میان نبوده و نیست و دامنه زدن به این اتش به نفع هیچ کسی تصور نمی شود، درین ضمن دولت باز هم چشم امید بسوی انها دوخته تمنا می نماید که انها در صدد جبران این عمل شان اقدام نماید.

از سوی دیگر دولت با وصف این باز هم هیچگونه اقدامی در مقابل سران و متهمین کودتا از خود نشان نداده، گواینکه از هر نوع اقدام متقابل عاجز بوده در صدد کسب حمایت انها می باشد.

نتیجه ای که ازین مطالب بدست می اید، اشتباه رهبران دولت است که بخاطر کسب و دوام اقتدار جناح هائیکه قطعاً در جهاد نقش نداشته و بر ضد آن فعالیت نموده محور قوت و حمایت خود میدانستند، از همینرو حوادث ناگوار و دلخراش، جنگ های تباه کن، چور چپاول و عدم استقرار توسعه یافته، صلح، امنیت و وحدت ملی را در کشور همچنان تهدید می نماید، اعتراف دولت بر این که دوستم و نیروهایش از نظر سیاسی میان قوت های مجاهدین تنها بوده و هم از جهت مواضعش در شمال اسیب پذیر می باشد خود بیانگر این حقیقت است، که ائتلاف و حمایت بیدریغ دولت از انها خود در تشهیر سیاسی و تبلیغاتی قوای دوستم قیمت گزافی بود، که دولت در پرداخت ان به انزوای سیاسی و مردمی مواجه است، پذیرفتن و بازگو نمودن این

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسئله که دوستم و ملیشای ان چیزی بیش تر ازنیروهای تبلیغاتی نیست دولت را در راه حصول دوباره موقف و اهداف سیاسی اش کمک چندانی نخواهد کرد. درین برگه بالهجه شکایت امیز از روش ایران و پاکستان نیز شکایت صورت گرفته متذکر میگردد که کشورهای ایران و پاکستان از رهبران کنونی دولت چی توقع دارد که از عهد ان بر امده نمی تواند، ان نظام چی و ان افراد که؟

مطلب فوق مبین این واقعیت است که گویا رهبران کنونی حاضر اند، همه سیاست ها و مقاصد سیاسی و ... ایران و پاکستان را تامین و پیاده نماید، پس ضرور و لازم نیست که انها در جستجو، ترجیح و استخدام گروها و پشتیبانی اشخاص و نیروهای دیگری باشد، که نباید چنین می بود، در اخیر دولت این همه وقایع و جریانات را بنفع خود حساب نموده انرا در ایجاد پشتیبانی وسیع دولت تلقی نموده ولی حیف اینکه باز هم این پشتیبانی را صبغه قومی دانسته، انرا پیروزی بزرگ خود میدانند.

ورق پاره مبین دسته بندی اتهامات است که علیه یکدیگر بکار میبرد... اتهام کودتاه، ائتلاف با پرچم، خلقیها، دوستم و... اتهامات همرنگ و مشابه که هر جناح مسئولیت آنرا بدوش داشته، چندین بار به ارتکاب آن دست بازیده...

این همه مسایل در مجموع قابل تامل بوده که از حیث عواقب وخیم ان از تکرارش جلوگیري صورت گیرد.

ما ازین بیشتر نمی خواهیم بر مطالب این ورقه بحث و تبصره نمایم، تنها بحیث یک سند و ارائه معلومات بیشتر در رابطه با وقایع و جریانات اخیر کشور متن کامل انرا نشر نمودیم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ایډیالوژیو اغېز:

جمعیت ایډیالوژي ته شاکړه، له سید قطب، حسن البناء او مودودي په مخ اړولو یې په قومي او ژبنی کچه ببلا ببل عناصر پر ځان راټول کړل.

د ژبې، قوم او سمت بیرغ په پورته کولو یې انګېزې غوړولو ته مخه کړه، خو حزب بیا له خپلې ایډیالوژیکي او سیاسي کلابندي ونشوی وتلی ځکه خو یې د ملي مقاومت موقعیت خپل نه شوی کړی، د ایډیالوژی د کوډو اغیز مات نشو، نوې داعیه، شعار او انګېزه ایجاد نه کړی شوه.

د روښاندو یو پلاوی تېر تریخ ماضي ته په شا اړولو د دغسې یوې هیلې د غوړېدا په نیت له حکمتیار سره چهار اسیا کې کېناست خو ښه خاطره او پایله یې ترلاسه نه کړی شو.

وایي(.....) د حزب پر مالي سر چینو د خپټې اچولو ترڅنګ په تصمیم نیولو کې د خپل سیاسي نفوذ او اغېز په برخه کې د حکمتیار له کورنی سره د خپښی په مټ د دغه فرصت مخه ډب کړه، دلته وه چې حزب د یوه پراخ او سرتاسري ملي قوت د جوړېدا چانس بایلود.

ځکه خو نه د ملي قیام څپه راپورته شوه او نه د ملي سیاست د ستېج هنګامه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

لوړه بیه

د ډاکتر نجیب الله له سقوط وروسته ښایي کابل ته د جنرال دوستم لومړی سفر دی، که څه هم احمدشاه مسعود او رباني د ده په توره د کابل لړزانده تخت ته رسېدلي، خو په دغه یو نیم کال کې دوستم خپله بیه دومره لوړه کړه، چې مسعود، رباني یې نیستی ته کښول، خو نیستی پاکه پاچاهي ده، د آمر صاحب او استاد پاچاهی په کار ده.

د دوستم هرکلی په داسې کچه او ښه وشو لکه د کوم بهرني هېوادمشر... له هوایي ډګر تر ارګه د واټ دواړو غاړو ته د دولت او جنبش بیرغونه ځړند او د رباني، مسعود او دوستم سلګونه تصویرونه لګېدلي، د دوی ترمنځ یارانه د تورې هغه ګرځېدلې، د تورې یاري که هر څو خوږه وي، پر سرخوږي یې سترګې نشي پټېدی، چې دوستم له دې وړاندې ډاکتر نجیب الله ته دغسې سرخوږی ګرځېدلی و...

هو!

دوستم لکه د یوه بهرني هېوادمشر کابل ته راغی، ښاغلي رباني یې خپله هرکلي ته هوایي ډګر کې ولاړ دي، له الوتکې په راکوزېدو استاد څو ګامه ور وړاندې شو، له دوستم سره یې د تاوده روغبړ غېږ پرانیسته، پر تندي یې ښکل کړ، د ګارډ د تشریفاتو قطعه یې ورته وړاندې کړه، او د موټرو په لوی کتار کې یې د ارګ پر لور بدرګه کړ.

حکومتي خپرونې د دوستم د سفر په اړه هغسې مطالب خپروي لکه د کوم هېوادمشر چې په رسمي سفر پلازمېنې ته رابلل شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

فرمان رییس دولت اسلامی افغانستان

شماره : ۱۴۹۶ع

تاریخ ۱۳۷۱/۱۱/۸

در باره تقرر مشر جنرال عبدالرشید (دوستم) بحیث
معاون وزارت دفاع ملی جمهوری دولت اسلامی افغانستان

تقرر محترم مشر جنرال عبد الرشید (دوستم)
بحیث معاون وزارت دفاع ملی جمهوری دولت اسلامی
افغانستان از تاریخ صدور فرمان منظور است .

(پروفیسور برهان الدین ـ ربانی)
رئیس جمهور دولت اسلامی افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوستم د ستر جنرال، د ملي اسلامي جنبش قهرمان دانشمند او مفکر لارښود. او دومره القابو یادېږي، چې د تره کي هغه نشوی پسې رسېدای، کابل رادیو تلویزیون، د شپې د اتو بجو خبرونه د دوستم سفر، ملاقاتونو او د شخصیت ستاینو نیولي...

جنرال دوستم به د ډاکتر نجیب واکمني کې هم ارګ ته ورغلی وي، خو د ملېشې یوه قوماندان په توګه چې نجیب الله ته یې د خپل مزد او اجرت د زیاتوالي لمن غوړوله، خو دا وخت یې ارګ کې د یوه اتل مېلمه په توګه درناوی کېده، چې پر وړاندې یې د اسلامي حکومت او عمري خلافت مدعیان له خپلو ږیرو او عبا قبا سره ډېر حقیر درېدلی وو، ټول شعارونه او ادعاګانې یې د دوستم پښو ته ورغورځولې وې...

د تحریک، ناب او انقلابي اسلام ټیکه دارانو د دوستم دیدن ته اوږده کتارونه لګولي...

بالاخره دوستم ارګ کې د مجاهد ملت او سر لوړو شهیدانو پر اوږو او هډونو وخېژول شو، استاد رباني ترکیې ته د خپل سفر پر مهال د جمهوري ریاست د سرپرست په توګه خپل ځای ناستی پرېښود...

هلته حکمتیار ته هم د دوستم په مینه کې د هجران او بېلتانه سختۍ نور د زغملو نه وې، همایون جریر چې وار دمخه یې د دوستم په خپلولو پسې لګولی و، دا واټن رالنډ کړ...

دوستم اعلان کړه چې له حکمتیار سره د صدراعظم په توګه نه، بلکې د حزب اسلامي د مشر په حیث ګوري، حکمتیار په دې اند و، چې منه دې وي د ولې دې وي، ځکه خو یې د دوستم دا خبره خپل تحقیر نه شوی ګڼلای چې له وړاندې یې د خپل مزاج په بلو سکروټو یخې اوبه تویې کړې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ديدن نېټه راورسېده، حکمتيار دوستم يو بل ته د مينې غيږ خلاصه کړه، د يو بل لاسونه يې ټينګ کړل، يو بل ته په موسکا شول، او د دوی ترمنځ په جګړو کې د وژل شويو زرګونو افغانانو ارواوې آسمانو کې وتنبدې...

څومره ازبکو، پښتنو او تاجکو په دغو جګړو کې سرونه خوړلي، چاته يې پته او درک شته...؟

د پخواني کمونيست رژيم د بقاياوو او وحشي ملېشو پر ضد د جګړې جواز او فتوا د دوستم حکمتيار د خوږو او پستو خنداګانو په کټ کټ کې سملاسي ونغښتل شوه...

د دغو دوو تنو د خندا څپو د مرګونو، لوټماريو په ټوله فاجعه خاورې واړولې.

داسې ښکاري لکه دغه جګړو کې د زرګونو وژل شويو هېوادوالو ککړې د دوستم پر اوږو د قهرمانۍ د مډالونو او نښو په بڼه لګول شوې وي، او حکمتيار د دوستم هرکلي ته هر پل د دغو بدنامو ملېشو پر ضد جګړو کې د وژل شويو افغانانو پر ککريو ږدي...

تضاد هغسې چې د منافقت کچې ته رسېدلی... له ډاکتر نجيب الله سره جوړه او پوهاوی له جهاد سره خيانت، خو له دوستم او... سره ايتلاف د مجاهدينو او اسلام بری...؟

ددغه مارکيټ رايج الوقت سکه د افغان مظلوم ملت وينه او عزت دی چې د سرونو د سوداګری بيې ټاکلی او لوړولی شي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

ریاست دولت اسلامی افغانستان

یادداشت

تاریخ

فرمان

محترم مشر جنرال عبدالرشید دوستم

بارعایت وتطبیق مواد یکه طی موافقتنامه جداگانه

روی آن اتفاق شده جبهه ملی اسلامی را بعنوان یکی از

نهاد های ونیروهای مسلح درخدمت به اسلام

ومردم مسلمان افغانستان به رسمیت می شناسم

برهان الدین ربانی

رئیس جمهور افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکستان ته د جنرال دوستم بیول

کابل کې د پاکستان شارژ دافیر ښاغلی فدا یونس پخپلو یادښتونو کې کښلي... جنرال دوستم غوښتل له پاکستان سره نژدې اړیکې ولري، کابل کې جنرال عالم رزم او ضیاء دغه اړیکې تر ډېره غځولې وې...

جنرال عالم رزم د هوایي ځواکونو افسر و، چې څه موده یې هند کې د افغان سفارت پوځي اتشې په توګه دنده ترسره کړې وه.

ضیا د افغان استخباراتو ځری و، چې شوروي اتحاد کې ټریننګ شوی و، ده هند کې د افغان سفارت دویم سکرتر په توګه هم دنده ترسره کړې وه.

له فارسي، پښتو سربېره یې پر اردو، انګریزي، روسي هم خبرې کولای شوی.

کابل کې د پاکستان سفارت لومړی سکرتر ښاغلي محفوظ له ضیاء سره په اړیکو ټینګولو توانېدلي و، د ده په خوله مو دوستم ته د پاکستان بلنه ورکړه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۹۹۲ زیږدیز د دسمبر پر ۲۲مه دوستم له خپلو ملګرو سره د پاکستان هوایي ځواک ایر بیس کامره هوایي ډګر کې له الوتکې کوز شو، هرکلي ته یې زه "فدایونس" د آی ایس آی ډګروال اشرف او د بهرنیو چارو وزارت د افغان څانګې مشر قاضي همایون او نباغلی اکرم ذکي ولاړ وو، له لنډ ځنډ وروسته مو جنرال دوستم راولپنډۍ ته راوړ، پر سبا یې له صدر اعظم نواز شریف سره ولیدل، بله ورځ یې د پوځ له سر لښکر او ولسمشر سره وکتل.

یوه ناسته کې جنرال دوستم وویل: احمدشاه مسعود یې له پاکستان سره د اړیکو مخالف دی، د مسعود په خبره، پاکستان خپل ملګري په نیمه کې پریږدي، کله یې هم له چاسره تر پایه نه ده پاللې خو دی له پاکستان سره په اړیکو ویاړي.

جنرال دوستم کومه ناروغي لرله C.M.H پوځي روغتون کې ډاکترانو معاینه او درمل ورکړل، خو د ناروغۍ یې څه پته ونه لګېده.

جنرال دوستم مزارشریف کې د پاکستاني قونسلګرۍ په پرانیستو خوښي وښوده، او د مرستې ژمنه یې وکړه. کابل کې د ضیاء او محفوظ اړیکې نورې هم پراخه شوې، د ۱۹۹۳ د نومبر پر اتمه د شپې ۸ بجې د سفارت د اړیکو څانګې مشر ډګرمن سلیم خبر راکړ چې محفوظ کومه سیمه کې مېشت دی، خلك د ده او ضیا له کړو وړو پاڅېدلی، سفیر امیر عثمان ډګرمن سلیم ته د ربړې په اواري کې د جدیب خبره وکړه ډګرمن سلیم وکړی شول پخپل حکمت ستونزه اواره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

27 JUN 1994

P-7

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خبرو بل پراو:

اصلاحي شورا

کابل د جګړو دوزخ کې سوځي، حقاني صاحب وايي کابل ته ځم که سوله راشي له بېلا بېلو کسانو سره ګوري دا شل ورځې کېږي، له میرانشاه راغلی، کری ورځ خلك ځي راځي، مخور، قوماندانان، ټول په سوله ټینګار کوي، غواړي جدي ګام واخیستل شي.

انجینر احمد شاه احمدزی هم پرون راغلی و، مزمل صاحب او ملګري یې هم راځي، وایي ځو پر دواړو غاړو ننواتې ګرځو، که په ننواتې نشوه، زور ورسره کوو...

د تفاهم او ملي یووالي شورا خپلې غونډې لري، زه غواړم له حقاني صاحب سره ناست وای، که د یو بل مخ او استر شوي وی یو څه به جوړ وی.

استاد حکیم تنیوال لپاره مې له حقاني صاحب وخت واخیست ۵/۱۱/۷۲نېټه له مانبام وروسته مې طبق وعده تنیوال صاحب حیات اباد ته راووست، له دې وړاندې هم تنیوال او غروال صاحب له حقاني صاحب سره کتلی او دده په مالي مرسته یې د یوه کلتوري دفتر د پرانستو هوکړه تر لاسه کړې وه... درې نیم ساعته خبرې وغځېدې، د پکتیاوالو په لهجه یې زړونه ښه تش کړل، د دوی خبرو کې د اختلاف

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم ټکی راپورته نه شو، تفاهم، تفاهم و، وپټیل شوه، له تفاهم شورا سره ګډ کار وکړي د سولې ګډې هڅې، پلان او پروګرام رامینځ ته کړي، په ستنېدو کې تنیوال صاحب راته کړه، له حقاني صاحب هسې لیرې پاتې وو...

۲۷/۱۱/۷

لیکوالو ټولنې ته ولاړم، هېوادمل صاحب په ځانګړي مینه سړي ته ښه راغلاست وایي.

تود روغبړ او د کتابونو ډالۍ یې همېشنی عادت دی، خو دا ځل یې له ما ځانګړې مننه وکړه، چې حقاني صاحب سره مو د اړیکو مخه ورپرانیستله.

حقاني صاحب ته وایم دا ځل ښایي په یوه رسمي چوکاټ کې د سولې فعالیتونه وغځول شي، لومړی دا چې دې ته یو نوم غوره او لایحه ورته جوړه کړي شي.

راته وایي حزب خوبه نه جوړوي...؟

حیات اباد حویلی ته ډلې ډلې خلك راځي، کرۍ ورځ په ناستو غونډو تېرېږي، زه غونډو کې نه یم، یا به راباندې بې باروه وي، یا به مې دغسې غونډو کې د ګډون له اهلیت بې برخې ګڼي، کېدی شي د ځینو نه خوښېږم د دغسې ناخوښۍ اثار زه په ځېرو کې له ورایه لیدلی شم، بلکې له مودو یې ګورم، زه هم غلی له حوښلی وځم له خپلو ادبي او مطبوعاتي ملګرو سره په خوږو بندارونو ورځ واړوم.

جمعیت مجاهد جریده پېښورته رالېږدولې، ګل حاجي پلازا کې یې دفتر پرانیستی، چې خپرنیز ارګان ته کابل کې د خپراوي مخه نه شي مونډای، د نظام او حکومت د ادعا سپین سترګۍ ته به سړی څه ووایي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېری دا چې مجاهد جریده له پېښوره کابل کې د حکومت چلولو تېر وهي:

د مموزي هغه سنګر ته ســـــلام
چې له المان نه په میدان ډزې کا

زما له پېغورو تنګ دی چې ورشم ټول غونج شي.

قانع صاحب هم دغه دفتر کې... لکه شپږمه ګوته، د دفتر والو د سترګو اغزی... د پېښورو خبره کباب کې هډوکی... دی هم هره خبره کې اړه ورته نیسی... شمس پر مېز لوی لوی کتابونه ایښي... قانع په مسخرو وایي... شمس نن سبا د فرهنګ حمیدیه په مطالعه بوخت دی... سر یې نه پورته کېږي...

ډاکتر فاروق اعظم د لایحې جوړېداکې خورا زیار ویوست، نوم یې اصلاحي شورا ورته خوښ کړ، له حکمتیار سره حقاني صاحب په ستلایټ خبرې وکړې، له مسعود سره مخابره کې رابطه ټینګه شوه.

مسعود د اصلاحي شورا د غړو او برخوالو پوښتنه کوله، د ډاکتر اعظم د نامه په اوږدو یې لکه خوابده کړې وي... پر ده یې د حزبي تور پورې کړ...

د سلواغې پر ۲۵مه کابل ته په تلو سلا شوو له چای وروسته حرکت حتمی و، خو تر هغې چې اودسونه تازه کېدل او د نفلو لړۍ پای ته رسېده غرمه وه، ډوډۍ ته لږ نور هم وځنډېدو د ماسپښین لمانځه ته بیا اودسونه... ایله پر دریو بجو لومړنی موټر له حویلۍ ووت، ورپسې د موټرو کتار وخوځېد، تورخم ته په رسېدو پر کرښه له کوم جنجال پرته واوښتو یو نیم ساعته وروسته جلال اباد کې یوو، چې لار بیخي کنډ و

(c) ketabton.com: The Digital Library

کپر ده، موټران په هسکو ټیټو کې ځمبېدل.

لوړ مازیګر جلال اباد کې کوز شو، د یوې عربي مرستندویه ادارې دفتر یې زمونږ د مشټېدنې لپاره چمتو کړی، چې ایله په کې ځائیدی شوی، خو شپه ټېرول ګران دي، چې ملایانو، حاجیانو او شیخانو له لاسه د سړي سترګې نه شوای سره ورتلی.

په کومه کوټه کې چې زه وم، د شپې یوه برخه په خورېدا او نوره په نفلو رڼه ټېرېده، خورېدا داسې چې بېلا بېل ډاروونکي غږونه، آوازونه ختل، هغسې چې کوڅه ډب سپې یې مقابلې ته راغونډېدل، پر سبایې د ماسختن له لمانځه وروسته سپین غر هوټل ته ولاړم، دلته مو ښه د خوند شپه ټېرولی شوای.

جلال اباد کې مو یوه نیمه اوونۍ واړوله، د ننګرهار شورا سره هم اوږدې خبرې وشوې، زه بیا هم پکې نه یم... حاجي قدیر چې له خپلو ملګرو سره راغی له دروازې د باندې له موټره کوز شو، موټران تش حویلۍ ته ننوتل، حاجي صاحب پلی له دروازې ننوت د ده دغه ادا پر ما خوږه ولګېده، حاجي قدیر کې د مشرتابه صلاحیتونه څرګند دي، د لیډرشیپ خپل کمال او ځانګړنې دي چې ډګري او شهادتنامې یې نشي راټولولی... ماته تر ډېره فطري او طبیعي ښکاري- سمه ده، لوړې زده کړې یې ځلولی او غوړولی شي خو په یواځې سر ډګري لیډرشیپ نه شي کېدای... (د حاجي قدیر په اړه ځانګړې لیکنه)) مانبام... هوټل کې حاجي صاحب دین محمد مېلمانه کړو نژدې یو نیم سل کسانو دغه مېلمستیا کې برخه لرله.

چرګان، پلوونه، کبابونه، غوښې، میوې باد شوې... د کابل له جګړو، د اسلامي حکومت له غضب را شوه شوې کډې په دښتو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

واټونو، پارکونو او لاندې سړک پر غاړه په وچ ډاګ بې اسرې پرتې وې... زړه کې مې له هرې مړی سره دا خبره ګرځېده چې راشه چیغه کړه او د عمري عدالت شعار او انصاف ژمنې یې مخ کې پیغور کړه... لکه د خپلې بې همتی پر وم... یواځې په ځان مې زور بر و، درېیمه مړی مې له ستوني تېره نشوه...

جلال اباد د کابل جګړو له رالېږدېدلیو ډک دی، ډېرې کورنۍ، پارکو آن د لارو پر سر اړولي، پنډغالو کې ځای نشته.

د ملګرو ملتونو استازی پتینر ناز د جلال آباد سرشاهي کمپ کې وویل: نړیوال نور افغانانو ته له غوږ نیولو ستړي شوي دي.

د سره صلیب استازي جان کرک په خبره د ورځې ۳۵ کورنۍ جلال اباد ته د لېږد مخه مونډای شي... سرشاهي کمپ کې ۳۲تنه له ګرمي جل وهلي او مړه شوي دي... یوه میاشت د مخه چې دلته کوم قبر نه لیدل کېده وس د ببلا ببلو ناروغیو لکه ملاریا، وچکی، اسهال له امله د مړیو هدیره غځېدلې...

د کب په څلورمه له غرمې وروسته کابل ته وخوځېدو، څرنګه چې کابل ته غځېدلې لارې، د خوراکي توکیو د لېږد پر وړاندې ټرلي نرخونه خورا لوړ ختلي، حقاني صاحب په ببلا ببلو توکیو بار یوه لارۍ ورسره کړه، سروبي کې د قوماندان زرداد پاټک ودرولو، ویل یې دا لارۍ درځخه ګرځوو.

حقاني صاحب خپله ورکوز شو چې ورته ووایي د خپلې اړتیا لپاره یې خوراکي مواد بار کړي خو چا خبره نه اورېده، خپله قوماندان زرداد نه و، یا یې ځان پټ کړ. د افرادو چلند یې ستوغ و، وضعه ترینګلې شوه، روژه ماتی همدلته راباندې راغی. جومات یې جوړو خو د لمانځه درک په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې نه لګېده، موږ سره د روژه ماتي څه نه و، اذان مو وکړ پر يوه کجور دوو کسانو روژه ماته کړه، په جمعه لمونځ وشو، بالاخره مو لارې ورته پرېښوه، ترې روان شوو.

د کب پنځمه:

د حقاني صاحب له اړخه مخابره کې له حکمتيار سره اړيکه:

حکمتيار صاحب وويل زرداد ته يې ويلي چې د موادو لارې خوشي کړي.

د کب شپږمه:

لارې راورسېده خو مواد سم نيمايي غارت و...

د کب اوومه:

قوماندانان او مخور راځي په لايحه تقريباً توافق شوی، اوس نو بايد مشرانو ته ورشي، زه غونډو کې نه يم چې نه مې ورغواړي، کله کله له ډاکتر اعظم او کشاف صاحب سره د بنډار مخ مومم، د جنرال تنې دواړه ياوران، ډګرمن احسان الله او احمد شاه کوټه کې راسره دي، مشکوك، خو معلومات ورسره شته، ربښتيا درواغ درته بادوي، خذ ما صفا دع ماکدر...

د کب نهمه:

د زکام له امله مې سخته تبه ده، دارو درك نه لري، خواړه شخي وريځې دي چې سينه يې نوره هم راتخته کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه نيستي ګډه ده، حقاني صاحب له بټوې څو زره افغانۍ راويستې، ما ورته کړه حاجي صاحب اوس مې زړه ته د نيستۍ خبره ولوېده، ويل هغه څنګه؟

ما وې لومړی وار دی چې له بټوې پيسې راباسې... ويل نيستي پاکه پادشاهي ده.

د مامور هاشم د واسکټ غاړه غوړو خيرو لاندې کړې ان تر اوږو تور خيري پرې راغلي، علي اباد ورته په ټوکه وايي، مامور صاحب هسې هم نيستي راغلې قيمتي ده غوړ نه پيدا کيږي، د حاجي صاحب هم لاس تش دی.

ددې واسکټ غاړه دې چې دېګ ته په ګرمو اوبو ورمينځي له غوړو پياز او مسالې خلاص يوو، يوه مياشت ښه کار ورکوي... په ولا چې له نباتي غوړيو خوندوره زيميله راوباسي...

دا واړي نوې پرېکړه:

حقاني صاحب له امريکا غږ سره مرکه کې وويل:

له متخاصمو اړخو مو وغوښتل چې موږ ته د منځګړيتوب رسمي بلنه او د فيصلې منلو تضمين راکړي، ځکه چې له دې وړاندې يې زموږ د سولې پرېکړه له تعهداتو سره نه ده منلې.

اوس د لارې په خلاصولو او دايمي اوربند د دواړو غاړو توافق راغلی، دغسی د درنو وسلو په ډيپو کولو هم توافق شوی، دغه وسلې به د کابل ٦٠ کيلو متری پوځي تاسيساتو کې زېرمه کيږي.

د سياسي نظام لپاره باصلاحيته لويه جرګه يا شورا ضروري ده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر اوسه موجوده نه ده، د دې لپاره هم تفاهم شوی، د قناعت وړ مواد لاس ته راغلي، امید دی چې د حل داسې لار راووځي چې ټولو ته د منلو وړ وي.

فیصله څکه وځنډېده، چې له اعلان وروسته له نقض او نه منلو سره مخامخ نه شي.

پوښتنه: عمده ستونزې څه دي؟

ځواب: د دوی منځ کې تربګنی ډېره زړه ده، زړه بدي سخته ده، بهرنی مداخلې هم شته خارجي خلك یې استعمالوي، د دوی ترمنځ چې کومې جوړې شوې هغه ماتې شوې، له یوه اړخ سره د استاد سیاف اتحاد او محسني صاحب درېدلی، بل سره مجددي او حزب وحدت، ویل کېږي، د محمدي صاحب حرکت هم له رباني سره غاړه وړي، مسئاله ډېره عمیقه ده، ډېر حقوق تلف شوي، خو چې فیصله وشي او عملي نه شي، ماته شی هېڅ ګټه نلري.

پوښتنه:تاسې د خپلې پرېکړې د عملي کېدو تضمین ترلاسه کړی؟

ځواب: دا ډېر ګران کار دی، یوه خبره ده چې جنګ ټول غندي د کابل اهالي او قوماندانان ټول له جګړې برکنار پاتې دي، وایي نور دا جنګ نشي تحمل کولای، بې تفاوته نه شي پاتې کېدی، ولسي مخالفت د مظاهرو تر حده راڅرګند شوی دی.

ښکېلو اړخونو سره هم خپل ټول کسان جګړو کې برخه نه لري، جنګ کې یوازې د تنظیمو مفسد عناصر برخه اخلي، چې د لوټمارۍ او غلا موقع ترلاسه کړي.

امکان لري ملل متحد دوی جنګي مجرمین وګرځوي او له حکومت بالکل وایستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملت چې کله د سولې غږ اورېدلی هرکلی يې کړی، ملاتړ ته يې درېدلي، څکه خو موږ هيله من يو دغه فيصله ومني، موږ له دوی کلك تعهدات اخيستي، الله تعالیٰ مو پرې ګواه ګرځولی، ولس مو پرې شاهد نيولی.

پوښتنه: هر لوری پر خپل دريځ د درېدو خبره کوي...؟

ځواب: دېره د شرم خبره ده، دا د مرګ ژوبلې او کرکې باعث دی، دا هجرتونه د اقتصاد تباه کېدل ګوره، ملت د دوی د غرضونو قرباني شو، نه روغتونونه فعال دي نه خلکو ته د خدمت فکر شته، ظالمانو له دې حالته دا فرصت ترلاسه کړی چې پاتکونه واچوي، په خلکو يې څو نيزې اسمان راتيټ دی، د دې پړه ټوله د دوی پر غاړه ده.

پوښتنه: د سولې لپاره ځينې نور شخصيتونه هم فعال دي؟

ځواب: د سولې حرکت چې له هرځای وي د تقدير وړ دی، ملاتړ يې کوو، غواړو خپل فعاليتونه او هلې ځلې ګډې کړی شو.

د سياسي نظام له جوړولو وړاندې بايد جګړه ختمه شي، جنګ چې برقرار وي، که سياسي نظام جوړ هم شي له دغو جنګي ډلو هېڅ نظام په امن نشي پاتې کېدی، دا به بې معنا وي، ښه دا ده چې طرحه يوه وي، د سولې هيئتونه او سيمينارونه ټول په داخل کې وشي، جنګ قطع شي، دايمي اوربند وشي، لارې خلاصې شي، کابل غير نظامي شي، متحارب قوتونه ووځي، متخاصمې ډلې لېرې شي.

له دې وړاندې د نظام جوړولو کار زما په نظر عبث دی.

پوښتنه: د ملګرو ملتو له هيئت سره ستاسې ملاقات څومره ګټور دی؟

ځواب: دوی مشخصه طرحه نه لري، يوازې سروې او بررسي کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظرونه جمع کوي، ببلا ببلې طرحې به وړي، غور به پرې کوي، بيا به يوه طرحه تعقيبوي، دا طرحه ورسره نه شته چې عاجل اوربند وکړي، چې لارې خلاصې شي، ځکه خو دوی زمونږ د طرحې استقبال وکړ، چې دا طرحه په هغه موادو مشتمله ده چې ضروري دي، عملي جنبه يې جوته ده.

مطبوعاتي کنفرانس کې د مولوي حقاني د وينا غټ ټکي:

له کومې ورځې چې مجاهدينو حکومت نيولی، له هماغه وخته جنګونه قتل او قتال روان دی، کله چې د حل او عقد شورا له لارې د يوه قانوني حکومت د جوړېدا پروسه پيل شوه، خلک هيله من شول او په دې انتظار کې وو، چې له دې لارې به يو منل شوی قانوني حکومت رامينځته شي، امن او استقرار به ټينګ او د خلکو حقوق به خوندي شي، ولايتونه تر مرکز پورې وټرل شي، خانه جنګي او د لارو بندول به ختم شي، خو متاسفانه دغې شورا دغسې استعداد او قانونيت نه دی پيدا کړی، چې داسې يوه حکومت جوړېدو ته مخه پرانيزي، چې د جګړو او دښمنيو مخه ونيسي او موجوده بحران او مشکل حل کړي، دغه شورا بايد تزکيه او تکميل شي او د اهليت او استحقاق له مخې ورته نمايندګان غوره شي، استاد رباني زمونږ پېشنهاد ونه مانه، پېشنهاد داسې و، چې يو عالم يو قوماندان او قومي مخور کمېسيون کې راشي، چې د نمايندګانو د انتخاب څارنه وکړي، چې غير مستحق کسان او د حزبيت او قوميت له مخې د نمايندګانو د ټاکلو مخه ونيول شي، د پيسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او رشوت مخنيوی وکړي.

اوس چې يو شمېر نماينده گان کابل ته راغلي، په اړه يې ډېر انتقادونه او اعتراضونه موجود دي، پينځو تنظيمو (مولوي صاحب خالص، حضرت صاحب، حکمتيار صاحب، گيلاني صاحب، محمدي صاحب) دا شورا تحريم کړي، نو د دې کشالې د حل لپاره زمونږ پېشنهاد دا دی، چې شورا تصفيه او تزکيه شي، مستحق کسان چې پاتې دي راوغوښتل شي، کومو ولايتو لکه ننگرهار، کونړ او لغمان چې شورا تحريم کړي، د دوی قناعت حاصل شي، په دې هکله بايد د ټولو اړخو شکايتونه واورېدل شي او رفع يې کړي.

له بلې خوا حکومت د فشارونو له لارې د ځينو له خوا ناقانونه امتيازو ته اړ شوی، د دوی نماينده گان يې فوق العاده شورا کې منلي، ځکه خو دغې شورا قانونی او حقوقی بڼه او حيثيت نه دی پيدا کړی.

که شورا په همدغه ناقص شکل دايره شي، نه دا چې موجوده مشکلات به حل نه کړی شي، بلکې د نورو مشکلاتو د رامينځته کېدو باعث به هم وگرځي.

مونږ له هغو خواوو سره چې د جنگ په صحنه کې ولاړ دي، لکه حکمتيار صاحب څو واره ليدلي، دا مو ورته واضح کړې، چې له جگړې لاس ونيسي، معضله په خبرو حل کېږي، بايد له جگړو ډډه وشي، د دغو جگړو نوي فېصده زيان بېوزلو خلکو ته رسېږي.

له حکمتيار صاحب زمونږ دويمه غوښتنه دا وه، چې که حکومت د شورا په هکله ستاسې ملاحظې رفع او شورا قانوني بڼه غوره کړه، خپل نمايندگان شورا ته وليږي.

د ده يو اعتراض دا و چې استاد رباني له څان سره واک غير قانوني

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساتلی، څکه د ده تمدید شوې موده هم پای ته رسېدلې، مور ووېل دا یوازې ستا نه بلکې د ټولو اعتراض دی، استاد رباني باید واک خپل مرستیال مولوي محمد نبي ته وسپاري او شورا د ده تر اداري لاندې دایره شي.

د حکمتیار صاحب بل اعتراض دا و، چې دولت کې کمونست عناصر فعال دي، شورا ته یې هم مخه کړې، مور ورته وویل، مور ټول د دې مخالف یو، که داسې وي بیا به د حل او عقد شورا نه اوسي.

مور حکمتیار صاحب ته وویل: داسې معلومات موترلاسه کړي، چې تاسې له دوستم سره د ایتلاف او جور جاړي خبرې پیل کړې، که داسې وي دا به ډېر ستر شرم او پېغور وي، تر اوسه تاسې ادعا کوله، چې حکومت ایتلافي بڼه لري، څکه خو ورسره جنګېږم.

مور ټولو ته په ډاګه کړې، چې که شورا د استاد رباني تر ناقانونه قدرت لاندې دایرېږي، دا به د شورا قانوني حیثیت جریحه دار او شورا به سانسور شوی شکل ولري.

مور پېشنهاد وکړ، چې له کمیسیون سره یو بل هیئت مل شي، چې د خلکو پر شکایتونو غور وکړي، شورا له تصفیې، تزکیې او اصلاح دمخه دایره نه شي، خو تر اوسه یې مور ته اطمینان نه دی راکړی، که د ولس اعتماد حاصل نه شو، نمایشي صحنې او سیاسي ډرامې مشکلات او بحران نه شي حل کولای، بلکې نور یې هم پراخوي، زمور هیله او دعا ده، چې واکمنو او د قدرت خاوندانو ته هدایت ور په برخه کړي، په خپل هېواد او خلکو زړه وسوځي، چې دا ملت له جګړو او بدمرغیو وژغورل شي.

و اخر دعوانا ان الحمد لله رب العلمین

(c) ketabton.com: The Digital Library

همغږی شورا کې د حکمتیار، دوستم او مجددي ائتلاف:

د عقرب پر ۲۸مه کابل کې د دوستم حزب وحدت او حکمتیار د ائتلاف اوازې یو خبر وګرځېد، پر کابل د دغو ځواکونو د ګډ یرغل اټکل د ټولو پر وړاندې و، په دې ټکو چې د حکمتیار ځواکونو په بالاحصار او مرنجان غونډې کې د دوستم له ځواکونو سره د ګډې حملې تیاری نیسي.

له دې وړاندې دوستم په پته پاکستان ته بهول شوی، چې د همغږی شورا لپاره د زمینې په برابرېدو، د دوی ترمنځ غځېدلي کنګالونه ویلي کړي، له مسعود او رباني، خوابدی مجددي هم په دغه شورا ورګډ کړی شو البته حزب وحدت ورسره ونه شوای پاللی...

د مسعود ګټه په دې کې وه، چې نه جګړه وي او نه سوله، د چنګابنس په ۲۰ مه (۱۳۷۲) دوستم له حکمتیار سره کلاچه کې کتلي وو...

دوستم حکمتیار ته وویل:... زما تاسې نه ګیله ده، چې ما پسې تبلیغات وشول، چې دا کمونست دی، د نجیب رژیم له بقایاوو دی، په داسې حال کې چې تاسې څو واړې ویلي، چې د دولت داخل کې خپل کسان لرئ، زه دې هم باید له هغو کسانو ګټلای وی، موږ چې کله شمال کې حرکت پیلاوه، له ما سره وېره وه چې د دې اقدام له امله به تر ملامتی او فشار لاندې راشو، ما مولوي عبادي ته وویل: د بینین سیوان طرحه روانه ده، داسې ونه شي چې هغه او بین الملل ووایي چې دوی زموږ تلاش تخریب کړ؟ مولوي عبادي ځواب راکړ، که موږ قوت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولرو، بیا به څوک زمونږ خلاف تبلیغ نه کوي...

ده له حکمتیار د دوه په دوه خبرو غوښتنه وکړه.

دوستم سره څو تنه ملایان هم وو، یوه ملا ته یې مخ واړاوه چې قران کریم تلاوت کړي، خو حکمتیار اوږده موعظه ورکړه.

په پلچرخي کې یوه ورځ مزمل صاحب په خبرو کې وویل: زما یو دوست دی هغه بله ورځ یې راته ویل: په دې جاینماز مې د مجاهدینو د بري دعاګانې کړې خو د مجاهدینو بری په داسې بیه مونږ ته تمام شو، چې نه په مرګونو پوره کیږي، نه په دې ورانه ورانۍ، هغوی چې په دعاګانو مو غوښتل اوس مو ځان، عزت، مال، وطن او ولس ته بلا وګرځېدل، خپل جاینماز ته شرمنده یم.

مزمل صاحب یوه بله جالبه خبره وکړه، چې د دغو مشرانو او رهبرانو ژوند او طبیعت ټولو د جنګ جګړې او تشدد رنګ اخیستی دا د سولې او سیاست خلک نه دي، د جنګ او تشدد خلک دي، بهتره دا ده چې دوی کشمیر یا بل کوم ځای ته لیږل شوي وی او هلته یې د جګړو هنګامه توده کړې وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۴- د لو — ۱۳۷۲ ر

بناغلی وزیر مولوی جلال الدین حقانی صاحب !

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته .

پدی وخت کښی چه دکابل بی کناه اوسیدونکی دځکړې په اور کښی سوځی دسولی دپاره ستاسو صادقانه هلی ځلی دخدای تعالی رض، او دهغه د مخلوق رضامندی وبرګرځی.

دسولی اوبی وسلی کولو غیر جانبدار سازمان چه دسیاسی واکمنی دپاره فعالیت نه کوی پدی عالی خدمت کی ستاسو کامیابی غواړی. هیله من یو پر بل داسی میکانیزم موافقه ورسیږی چه د تل دپاره د ځکړې، زور زیاتی، کودتا، قدرت غصبولو تجاوز اوظلم امکان - ضرورت - او مجبوریت له منځه ولاړشی.

دسولی اوبی وسلی کولو غیر جانبدار سازمان "او پی یو" چه دهرو خواو دشتا لخوا مطابق وی باندینو نه کوپدی پوځ بیا نظر څرګندوی :-

یو مملکت دهغه د ټولو اوسیدونکو شریک کور دی. پدی کور کی حقوق او مکلفیتونه لری. د دی کور د اوسیدونکو حق دی چه پخپله خوښه خدمتګاران وټاکی یا ئی معزول کړی. مخه په عزل او نقرر کی د اکثریت رایه متبوعه ده او دا رایه پدی سی انتخاباتو څرګندیږی چه دهر ه ول جعل، دوکی، فریب تهدید او ویږ ډرانی تیلی وی. که چیری دا ډول انتخاباتو ته لاره هموارشی او عملی شی دبی باوری، بهانه تراشی، ماجراجوئی ځای اعتماد، اقناع او کمپ همکاری او ژغورنی نیښی. موږ دی وخت دحالاتو مطابق حاضر یو چه له تاسو سره دیو داسی ممکن او اساسی میکانیزم مقابل حاضر یو چه له تاسو سره دیو داسی ممکن او اساسی میکانیزم په جوړه لو او عملی کولو کښی مرسته وکړو چه دټولو ژغورنا نو په کتله خو دهغې امنیت

په ضرب نه وی. په احترام

دسولی اوبی وسلی کولو سازمان رئیس

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرمېدلې ملګرتيا؛ وحشتناکه دښمني

١٩٩٦ کال پر لومړۍ ورځ همغږۍ شورا جګړه پيل کړه... رباني، د دوستم، مجددي او حکمتيار پر ضد د جهاد اعلان وکړ، له دوستم د ټولو دولتي القابو امتيازونه واخيستل شول، سرکاري تلوېزيون د دوستم د عياشۍ او فحاشۍ د محفلونو فلمونه ښيي، دوستم شل مياشتې مسلمان و، رباني يې د مسلمانۍ او تقوا ټټر واهه، اوس کافر شو...؟

حکومتي لويانو د ډکو سمڅو، کې اړولي، د ارګ له ګلخانۍ د پغمان تر فيل خانو او جبل السراج په منډو، لالهانده دي، بندیخانې يې هم جبل السراج ته لېږدولې، جمعه اخک اسدالله سروري هملته ولچک دي... له چريکي جګړو مو اوربدلي و، چريکی حکومت پخپلو سترګو ګورو...

د پخواني رژيم مډالونه، نښانونه کيلو په ٣٠٠٠ افغانۍ پلورل کېږي. له مرګ وروسته دسرحدونو وزير فيض محمد د مېرانې مډال ماپه پنځه سوه افغانيو رانيو...

کله جنګ د دې لپاره پيل شي، چې سيمه چور کړي، لوټ ته لار ومومي.

حکمتيار جلال آباد کې د امريکا له سفير جان مينجو د مداخلې غوښتنه وکړه، خو مخکې يې د امريکا مداخله او اغېز غانده، له دې وړاندې يې له رونالد ريګن سره امريکا کې له ليدو نټه کړي وه، ببين تفاوت را از کجا تا به کجا؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

رباني يوه غونډه کې دا لنډی ويله:

که په ميوند کې شهيد نه شوې

چې پرې مين وم ترې چارپېر مې کړل لاسونه

کابل د ټوپکوالو ترمينځ وېشل شوی، کوخه واکي يې رامينځته کړې، دولتي موسسات هم په دغه بڼه وېشل شوي، ان چې پر روغتونو يې هم د خپلو ډلو جنډې درولې، د سترګو "نور" روغتون، سناتوريم علي آباد د ملاريا يا لشمانيا روغتون، پوځي اډې ګرځېدلې، د ځينو لوحې په نورو برخو کې لګېدلې.

د حزب وحدت د امپراتورۍ سيمه د خميني تصويرونو او ايراني جنډو نيولې مزارۍ يې ملت غرب کابل ګڼي.

وزير په خپل غيابت کې خپل ځای ناستی له خپلې کورنۍ او ډلې ټاکي... دوستانو ملګرو يې د شپې وزارتونو کې دېرې لګولې وي، لکه د ميوند واټ د اپارتمانو کوټې، کليوالو خپلوانو يې په کې اړولي.

حکمتيار ليکوالو ته وويل: مونږ تاريخ جوړوو، تاسی يې ليکئ...

محمود فاراني وار له مخه قلب آسيا جريده کې کښلي و: ((... په تاريخ کې ريخ وهل)

پېښور کې پر افغان قونسلګرۍ د سرمعلم محمد ظاهر او موسی خان اکبرزاده احمدزي ترمينځ ناندرۍ پورته دی سرمعلم ظاهر چې له محاذ ملي سره پېيلی او له کمشنرۍ سره يې رابط دنده لرله، دا چوکۍ نوي قونسل موسی خان ته نه ايله کوي، په رسمي مکتبو کې افغان قونسل سرمعلم محمد ظاهر کاږي، مدير غفار چې د ترانسپورټ وزير شو، ځان يې د ترانسپورټ وزير مدير عبد الغفار معرفي کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

Gulbuddin Hekmatyar
AMIR OF
HEZB ISLAMI AFGHANISTAN

گلبدين حكمتيار
امير حزب اسلامي افغانستان

DATE: تاريخ :

شوراي محترم اتحاد علماي افغانستان

السلام عليكم ورحمة الله وبركاة

در راه نجات كشور از وضع دردناك فعلي ودر راه خاتمه جنگ واعاده صلح پايدار واقامه نظام اسلامي ازبارگاه الهي موفقيت هاي مزيد براي تان مسئلت مي جويم

باهيئت اعزامي تان مفصلاً تفاهم نمودم واز همكاري صادقانه حزب اسلامي بامساعي علماي كرام اطمينان داده واقتراحات متعدد خودرا در رابطه باحل بحران كشور باايشان در ميان گذاشتيم كه اينك مكرراً وباختصار وتحريري به مطالعه شما تقديم مي كنم .

١- حكومت فعلي كه مسؤل همه حوادث خونين گذشته وبي امنيي ها، جنگ وخونريزي ها در كشور است بايد به يك حكومت مؤقت قابل قبول براي همه تفويض گردد.

٢- درعوض رئيس دولت فعلي يا كس ديكري ازجمله رهبران توسط شوراي علماء وقوماندانان تعين شود ويافردي غير از رهبران درنتيجه توافق ميان رهبران انتخاب، گردد ، ترجيح ميدهم كه حكومت موقت مشتمل برشخصيت هاي صالح مجاهد غير متنازع فيهابوده رهبر در ان عضويت نداشته باشد ، باسر پرستي مولوي محمد نبي محمدي نيز موافقم مشروط به انكه در كابينه حكومت فعلي تغيراتي به توافق رهبران ويابه اساس فيصله شورا اتحاديه علمابوجود ايد.

٣- درشش ماه اينده بايد براي انتخاب رئيس دولت وتشكيل شوراي ممثل همه اقشار ملت انتخاباتي برگذار گردد -كه در مورد مواصفات راي دهنده وراي گيرنده شوراي اتحاد علما فيصله نمايد .

٤-متصل انتقال قدرت به حكومت موقت بايد كمسيون باصلاحيتي براي اجراي انتخابات تشكيل گردد حكومت حق هيچنوع تشبث ومداخله در امور انتخابات رانداشته باشد .

٥-ترجيح ميدهم كه اعضاي حكومت موقت وكمسيون برگذاري انتخابات در حكومت منتخب وشوري منتخب شركت نكند .

٦- عمليه تشكيل شوراي اهل حل وعقد بايد تصحيح گردد ونمايندگان ولسوالي ها طبق لايحه مربوطه از طريق شورا هاي متفق عليه ولسوالي ها معرفي گردد وصلاحيت نظارت بر اعمال حكومت موقت ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصويب لوايح ، وضع خط مشي ، تصرف در سرمايه هاي ملي وتصويب بودجه حكومت به اين شورا تفويض گردد .

٧-بايد تدابيري اتخاذ شود كه امكانات دولت به نفع يك گروه عليه ديگري مورد سؤاستفاده قرار نگيرد ، پول اسلحه وسائر امكانات مربوط به دولت كه در چند ماه گذشته توسط مسؤلين دولت حيف وميل شده است بايد توسط يك هيئت باصلاحيت بررسي گرديده در زمينه استرداد وجبران ان اجرات اصولي وجدي صورت گيرد ،تااحدي در اينده به اينوع اعمال ناجايز متوسل نشود .

٨-اگر شرايطي در كشور فراهم شود كه احدي نتواند از طريق سازش كودتاها ، مداخلات خارجي واعمال قوه به قدرت برسد واستفتااز ملت وبيعت معلن وغيره مكره مردم شرط اساسي براي جواز امارت وزعامت امير وزعيم شمرده شود وبدينترتيب جلوتكرار تجارب تلخ وخونين گذشته گرفته شود ماهيچ امتيازي ديگري را نميخواهيم .

بايد مطابق به نص صريح قراني اين سنت را احيا كنم كه امانت خلافت توسط امت به اهل ان سپرده شود وزعيم وامير تنها زماني زمام امور را بدست گيرد كه مردم او را براي اينكار انتخاب كند واهليت واستعداد اينكار را دراو مشاهده نمايد ، بايد تلاش ناجائز براي رسيدن به قدرت وابقاي زعامت خودرا حرام بشمارد وبه اميري كه از طريق استفتااز مردم ودر نتيجه بيعت معلن وغير مكره انتخاب مي شود بايد صلاحيت هاي كامل شرعي تفويض شود انتخاب وزراء ، واليان سفرا وساير پرسونل دولتي از صلاحيت هاي او باشد واز توزيع وزارت ها بر احزاب وتشكيل حكومت مخلوط خوداري شود

١٠- رئيس دولت بايد مكلف به مشوره بانمايندگان مردم باشد تا از خود سري وخود كامگي اجتناب ورزد .

١١- به مرجعي كه حق نصب امير داده شده است حق عزل ان نيز داده شود .

١٢- حكومت موقت مكلف به تشكيل اردوي اسلامي براساس دوره مكلفيت گردد وهمه افسران مؤمن مخصوصاً انانيكه درجهاد اشتراك ورزيده اند در اردوي اسلامي تنظيم شود واسلحه ثقيل جمعاً به اردو مسترد شود .

١٣-اگرهمه رهبران به اين حل توافق كند مابهرنوع تعاون صادقانه ومخلصانه حاضريم درغير ان ما مجبور خواهيم بود راهاي رابراي حل بحران كشور جستجوكنيم كه براي ماميسر باشد اگر توافق باهمه مستقر باشد ناچار باعده محدودي توافق خواهيم كرد وبه اقداماتي كه انرا به نفع اسلام مي شماريم متوسل خواهيم شد .(انشاالله العظيم)

« حكمتيار » ١٣٧١/١٠/٢:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کفر بله فتوا

د پغمان او چهار اسیا کتنې:

د فبروری پر ٢٦ مه د استاد رباني، سیاف او احمد شاه مسعود د لیدو په نیت وخوځېدو، له حربي پوهنتون سره چې اوس کنډواله ګرځېدلې پر تره خېلو او خانه سازۍ تېر شو، له ګمرک سره نښي لاس ته واونښتو، هوتخېلو کي له ویجاړیو پرته څه نه شوی تر سترګو کېدی، د هوایي ډګر ترڅنګ تېر او پر خیرخانه مېنه ورګډ شوو، دلته د جګړې نښې هومره جوتې نه شوی لیدل کېدی، یوه هدیره کې یې لس نوي قبرونه کیندلي، لا یې ورته مړي نه وو راوړي، دلته یو شمېر نوي قبرونه په یوه لیکه کتار ښکارېدل، پر یوه قبر څو ماشومان اوتور سرې غوند وو.

خیر خانه کې بېدرکه بیرو بار دی، خو څېرې سپېرې او شوندې کسکردي، یوه تور سرې چې غېږ کې یې له ماشوم سره یوه لویه پنډه نیولې، په منډو ده، لکه د ښار له شره د خیر په تمه خیرخانې ته رالېښلی وې.

چېرې به چې موټر له بیرو بار بریک ونیو، خلکو به موږ کې سترګې ښخې کړې، د نفرت دغسې احساس ما بل ځای د چا کتو کې نه دی لیدلی، ما خپل جرم او ګنا جوت لیدلی شوی، لکه زما کتابونه، لیکنې زما پر تور او ګناه ګواهي ورکوي، لکه هغوی ماته د تور او پېغور ګوتې لکې کړې وي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې ټولو زما د جرم په دوسیه کې پټه خوله شاهدي ورکوله، لکه محاکمې او غرغرې ته مې بیایي...

له خیرخانې پر کارته پروان واوښتو، پر باغ بالا چې ورختو، یو پک اپ له موږ مخکې شو، بل د کتار پای ونیو، پر خوشال خان مېنه وروګرځېدو، خوشال مېنه جګړې او له جګړې زیاته لوټ تالان نړولې، د کورونو کړکۍ، د چتونو لرګي یې وړل شوي، ان چې پخې خښتې یې هم ترې خپلو محلونو ته لیږدولې دي،

څـــومره جونګړو ته دې اور ورته کړ
چې خپل محفل ته دې رڼا راوسته

خوشال مېنه د ویجاړو کورونو هدیره ګرځېدلې، یوازې پیریان او شیشکې په کې مېشتېدی شوی، پر نیازبیک ورتېر او له کمپنۍ واوښتو، د پغمان سړک مو ونیو، د پغمان زرغونه غونډۍ سپېرې اوښتې، د شیر علم او قوماندان عبدالله مانیو د ژوند نغمه غږوله، د سیاف او انجینر احمد شاه مانۍ او د وروڼو ورېرونو بنګلې د یو نوي ښار هنګامه توده ساتله.

فیل خانو کې لږ تم شو، د پغمان د لوړې غونډۍ پر لور وخوځېدو، د دغې غونډۍ پر سرشاهي مانۍ کې چې جګړو یې ښکلا او رنګیني الوزولې سیاف مېشت دی.

د باغ بالا مانۍ یې هم ولکه کې ده، رباني او مسعود هم هورې دي، ما تر اوسه په دغسې ذلت او حقارت نه وو لیدلی، تر هغې چې زه مجلس کې وم د رباني خوله چوله نه شوه، پټه خوله یې تسبې اړولې، له ځېرې یې د دلکشا سرخي الوتې وه، سپېرې خاورې یې دوړولې، ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کندز جنرال دوستم لاندې کړی، تا به وې د ګور مړي ګورم، احمد شاه مسعود هم غلی و.

استاد رباني یو موټی ښکارېده، لکه د وچکي ناروغي یې ټېره کړې وي، حقاني صاحب ورته کړه: د ښې شپې سپین ږیری درنه جوړ شوی...

د استاد سیاف څېره غوړېدلې، په زړه او خوله یې ګوډې ماتولې، د زېړې ډبلې خمتا جامې او لوی عسکري جمپر یې اغوستی دی.

د پیچک پر غونډۍ د استاد سیاف مانۍ درېدلې، ظاهر شاه څلوېښتو کالو کې یو کاریز میر جوړ کړ، دوی څو میاشتو کې د ښار د ویجاړۍ په بیه ځانوته څو کاریز میرونه ورغول...

د دوی غونښتنه د دوستم پر خلاف د اعلان کړي جهاد ملاتړ و، په دې ټکو چې حکمتیار سره خبرې کېدی شي، خو دوستم باید مرتد اعلان شي.

ددغسې اعلان او حکم واک څنګه څوک لاس کې اخیستی شي... د کفر او ارتداد فتوا د خولې څو ټکو کې نشي راټولېدای، اسلام عقیده او عمل دی دا د بنده له واک که په هر موقف او موقعیت کې وي لوړ دی...

شپه مو د استاد سیاف مانۍ کې چې لا بشپړه شوې نه وه تېر کړه، سهار استاد رباني او سیاف راغلل، رباني، پټه خوله تسبې اړولې، پرتوګ یې په څټ اغوستی و.

د تسبو اړولو په اړه چې اوس یې د فېشن بڼه خپله کړې، یوه خبره را یاد شوه، بېنظیر بوټو همېشه تسبې اړوي، د لومړي حکومت پر مهال یوه خبریال ترې پوښتلي و، چې پر تسبوکوم ذکر کوي؟

دې ورته کړه: آیت کرسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله ورځ د بېنظير ورور مرتضی خپل بيان کې په دې اړه يادە کړه، چې آيت کرسي اورد آيت دي، چې د تسبو يوې دانې له اړولو سره نه شي لوستل کېدی، داسې ښکاري بېنظير يوازې کرسي، کرسي يادوي.

يوازې د استاد سياف خوله چلېده، لکه جمهور رييس رباني نه، سياف وي، د تېلو بخاری کې د نويو تېلو په اچولو کوته لوګي پر سر واخيسته، د خدای کارو ته ګوره، چې د لمبې په پورته کېدو خوړې ټول لوګی پر استاد رباني وغورځېد، خو ده دا وخت له ځانه مچان هم نه شوی شړلی، ايله يې سپېرې وچې شوندې د موسکا د ناکامۍ هڅې په دود بېرته شوې.

حقاني صاحب ورته وويل: حالات ورځ تر بلې خرابېږي، که ته له زړه وغواړې اواری رامينځته کېدی شي، يو چل وکړه. ده ورته کړه، هر چل چې تا زده وې تا وکړ، نور غلی شو.

سياف په هماغسې فصاحت لګيا دی، هغسې خبرې چې په اواري نه شوای راګرځېدی، البته د ټايم پاس کولو مسکن دارو ګنډل کېدی شوی، داسې چې د ده هغه مهارت يې د سړي مخې ته اينبود چې تږی يې سيند ته بيولای او تږی راستنولای شوی.

دا چې حکمتيار دې له دوستم راوګرځي چې په ګډه د دوستم پر ضد جهاد وکړی شي او د تل لپاره د ملېشو او رژيم د پاتې شونو له غضب او عذاب دا هېواد او خلک وژغورل شي...؟

دې ته يې نه کتل چې تر پرون د دوستم ځواکونه د دولت هغه ګنډل کېدل او استاد رباني په ارجمندم عبدالرشيد دوستم نازاوه.

کله چې د دين په نامه ټيکه داري رامنځ ته شي، پخپل زړه درته د کفر، اسلام ټاپې راباسي، د جنت، دوزخ، حورو، غلمانو قوالې ويشي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

فتوا حربه وګرځي له دين او عقيدې چاړه جوړه کړي، خپله پرې ختکي خوري د نورو يې ګډو کې ننباسي... د قامونو په برمته کولو د نوې فتنې اور ته لمن وهي...

له پغمان، څرخي پله او له غرمې وروسته د بګرامیو، شپوکیو له لارې چهار اسیاب ته وخوځېدو، حکمتیار ویل: زه اوس څه مجبوریتونه لرم، وړاندې مې چې ډاډ درکاوه هغه وخت خبره یوازې زما وه، اوس باید له نورو سره په سلا یو دریځ غوره کړم.

د واټونو غاړو ته ولاړې شنې ونې پرې کېدې او د توپکیانو بخارۍ او نغرې یې تودول، دغه بخارۍ او نغرې له دې وړاندې کتابونو او خپرونو تاوده ساتل...

یو سړی چې د صابون کلچې یې څادر کې غوټه کړې وې، ملښو په دې ګومان چې د پیسو بنډلونه دی ویشتلی و، د کابل کنډوالو کې یوازې سپي ځغلي، د مړو اندامونه او بوټي ورسره کشوي، ځینې وزارتونه او یو شمېر ادارې خیرخانې ته لېږدېدلي او پر کورونو د وزارتونو او سرکاري ادارو لوحې لګېدلي دي...

د ارګ بله نندارە:

د عقرب پر ۲۹مه حقاني صاحب او ذاکري صاحب له یو شمېر قوماندانانو، مخورو او علماوو سره د استاد رباني لیدو ته ارګ ته ځې، که استاد ربانی دې ته راوګرځوي، چې د شورا د تکمیل لپاره د یوه هیئت د ټاکلو ترڅنګ مولوي محمد نبي ته واک وسپاري، چې د حل او عقد شورا او راتلونکي مشر د ټاکلو په رابطه د ټولو توافق حاصل او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډلبندیو او جګړو مخه ونیول شي، له غرمې مخکې په لسو بجو ارګ ته ورسېدو، دا څل د ملاقات ځای نه دلکشا او نه هم ګلخانۍ مانۍ ده، بلکې د ارګ ختیځ اړخ یو ودانۍ وه، چا ویل قصر نمبر یک دی د ظاهر شاه د مشر زوی احمد شاه استوګنځی و، دلته له مخکې د رباني دویم مرستیال مولوي میر حمزه موجود و، ده ډېره ډولي پوستینچه اغوستې، چې غاړه یې سرو وریښمینو ګلانو نیولې او د ګیدړې د لکۍ نرۍ پټه پرې غځېدلې ده.

مولوي میر حمزه چې مخکې ما د وزیر اکبر خان مېنې جومات کې د خطیب په بڼه لیدلی و، دلته بېخي بل ډول معلومېده، له ټولو سره یې تود روغبړ وکړ، ډېر خوښ بشاش له پخوا صحتمند ښکارېده، زما په زړه کې وګرځېدل خدای دې خیر کړي، واکمنو دګیدړې پوستکي اغوستي...

په همدې وخت کې استاد رباني راغی، ده وړین اوږد بالاپوښ اغوستی، چې کابل کې په دې موسم کې د بل چا په تن نه لیدل کېدله، یوازې په مسکو او سایبریا کې د دغه ډول ستر کوټ د اغوستلو بېلګې لیدل کېدی شوی.

پر استاد ربانی بالاپوښ داسې معلومېده، لکه کوم خلایي مخلوق چې د ځمکې د بنیادمانو په مینځ کې ولاړ وي، له روغبړ وروسته استاد رباني د یوه مېز شا ته کېناست، مولوي عبدالقدوس ته یې په برېتو کې وخندل، ویې ویل: کجا استی... مولوی صاحب فیرهایت شنیده نمی شود...؟

مولوي عبدالقدوس وویل: چی کنم، فیرهای ما بجای نمیرسد، مولوي میر حمزه په خندا کې وویل، باروتش کم است.

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد رباني مولوي عبدالقدوس مخاطب کړ: اوس فتوی وباسه چې حکمتیار له دوستم سره ائتلاف وکړ، اوس څنګه چوپ یې، مخکې خو دې ښه انتقادونه کول.

حقاني صاحب ویل: موږ مخکې هم دا کار تقبیح کاوه او اوس یې هم تقبیح کوو، خبره دا ده چې دا کار خو مخکې هم شوی هغه هم ردوو او دا هم.

رباني صاحب وویل: خبر متواتر دی، چې د حکمتیار ځواکونو له دوستم سره شریک سنګرونه نیولي، موږ د دوستم پر قواوو غذایي مواد قطع کړل، خو حکمتیار ورته له چار اسیاب ډک موټر راورسول او اوس دوی یوځای په سماوارونو کې چایونه نوش جان کوي.

مولوي عبدالقدوس ورته وویل: زموږ حب او بغض د الله تعالی لپاره دی، ما خو به کومه عریضه تر اوسه نه وي درکړې، موږ چې څه کوو د خدای(ج) او حق لپاره یې کوو.

د استاد ربانی خبرو سړي ته دا شک پیدا کاوه، لکه په ارګ کې نه، د شور بازار کوم سماوار کې ناست وي، له همدې ځایه وه چې حقاني صاحب وویل: مجلس به لږ خاص کړو، رباني صاحب ویل، نور ملګري به ووځي، خو حقاني صاحب جدي شو، ویل: ولې دوی وباسې، آخر ارګ دی، پادشاهي ده، څه دښته خو نه ده، موږ به تري بلې کوټې ته ولاړ شو، مولوي میر حمزه وویل: سمه ده، چاته یې غږ وکړ او په دې توګه دوی له څو نورو علماوو سره بلې کوټې ته ننوتل.

موږ هم ځینې له کوټې ووتلو، معلومه شوه حالات ښه نه دي، دارګ وضعه عادي نه معلومېده، ډګروال صاحب د استاد رباني یو ډرېور چې ده ورسره څه اشنایي لرله پیدا کړ، د حالاتو په رابطه یې پوښتنه وکړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډرېور اصلاً د ننګرهار و، خو له ډېره وخته يې په غوربند کې استوګنه لرله او د صار ملحا د اصطلاح له مخې يې سر او صورت کې د ننګرهار کومه نښه نه ليدل کېده.

ده د کودتا په هکله وويل: دوستم، حزب وحدت، مجددي او ګيلاني غونښتل کودتا وکړي، خو خداى وشرمول، امر صاحب خو ګيلاني نظربند کړى و، غونښتل يې ولچک او زولانه يې کړي، خو استاد تړې خلاص کړ، جنرال رحيم وردګ هم نظر بند دى، څرنګه چې په خبرو کې يې د مطلب ټکي نه و، څکه خو ما ډګروال صاحب ورسره پرېښود او له ودانۍ د باندې ووتلم، د ټولو په څېرو د جګړې وېرې او وحشت خوله لګولې...

پر ارګ که له يوې خوا د وېرې او جګړې سيورى غوړېدلى، له بلې خوا يې پررونقونو او رنګينيو سپېرې خاورې پرتې دي، د ونو ګلانو په منځ کې د تېرېدو لار نه کېده، چې تر هره ونه بوټي لاندې د قضاى حاجت انبارونه پراته وو، د څراغونو او قمقمو درك نه و، غالۍ لوټ او په ميزونو حکاکي شوي لاجورد ايستل شوي، تابلوګاني، قيمتي منظرې او عکسونه غلا شوي، لکه ارګ پر زينتي شتمنۍ اور لګېدلى وي.

د لوټ تالان اوږدو لاسونو د هرې ښکلا او ښايست پر مرۍ منګولې ښخې کړې، په سالون او دهليزونو کې د نصوارو بېلا بېلې نقشې او انځورو ليدل کېدل، له يوه او بل ګوټ او کونج د چرسو لوګي ختل....

سر معلم عبدالجليل ته مې پام شو، چې يوه ګونبه کې په الوتې پيکه څېره ناست دى، را ولاړ شو، تر لاس يې ونيوم، يوه ګونبه کې يې راته کړه:

قره بيك د تشريفاتو دفتر ته په راتلو په ډېرکبر پر ناستو کسانو غږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړ:

در بین تان خو کدام جوړ پخیر نیست، بس په سترګو مې توره شپه ده، سره رابآندې ګرځي... سر معلم صاحب ټول ژوند د جمعیت فرهنګي کمټه کې تېر کړی، په بدل کې یې دا دی پر سترګو تیاره ده سر پرې ګرځي...

دوه دوه نیم ساعته وروسته یو لیکل شوی کاغذ د باندې راوایستل شو، چې ملایان یې لاسلیک کړي، د کاغذ مطلب هماغه پخواني ټکي وو، چې شورا تزکیه او تکمیل شي او قدرت باید اهل ته وسپارل شي، خو عبارت او جملې یې نرمې او محافظه کارانه دې.

معلومه شوه، استاد رباني ظاهراً له حقاني صاحب سره د دوی غونښتنې منلې او میر حمزه یې ورسره کېنولی و، چې په دې رابطه یو داسې مطلب ولیکي، چې د استاد رباني د شاهانه حیثیت هتک ونه شي. کاغذ ټولو لاسلیک کړ او موږ بېرته د پلچرخي په خوا حرکت وکړ.

د ګولیو لېونی خندا:

لکه پر ښار د جګړې سیوری پروت وي، په تېره د پلچرخي په استقامت وضعه بېخي بدله ده، مازیګرسیمه سختو ډزو ولړزوله، د ښار پر لور لار ټړل شوې، له ګمرک سره د حزب اسلامي او حکومت ترمینځ خونړی جنګ روان دی، د دولت له خوا قوتونه د جنرال بابه جان تر قوماندې لاندې د حزب له ځواکونو سره نښتي، ګمرک چې یو ځل وړاندې ښار ته د مجاهدینو له ننوتو سره لوټ شو، دغه جګړه کې یې هرڅه تالا ترغه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عقرب ۲۰مه: جګړه په خپل ټول زور روانه ده، له دې سره دا اوازې هم خپرې شوې، چې د حزب ځواکونه مرنجان غونډۍ او بالاحصار ته رسېدلي او د دوستم د ځواکونو په ملتیا یې د میوند واټ پر لور پرمختګ کړی، د عیدګاه په جومات کې یې قرارګاه جوړه کړې.

حقیقت دا چې د حزب ځواکونه بالاحصار ته راغلي وو، خو د نامعلومه علتونو له مخې یې ښېرته په شا کړي، جګړه یوازې د ګمرک په سیمه کې د حزب او دولت د ځواکونو ترمینځ روانه ده.

د حزب او دوستم د ځواکونو ترمینځ پخواني تاوتریخوالي بشپړ باور ایجاد نه شوی کړی.

د سید نور محمد شاه مېنې په استقامت چې د سولې په نامه د ختیځ کوم ځواکونه پراته وو، له سیمې وتلي، د دوی ځایونه د حزب اسلامي ځواکونو نیولی، د بګرامیو نساجي فابریکه له یوې مخې لوټ او سوځېدلې او په دغه استقامت تر یک لنګه کوتله د حزب ځواکونو مورچې نیولې، د (سید نور محمد شاه مېنې) کورونه زیاتره کنډواله دي، کوم چې روغ دي، په هغو کې د اوسېدو څوک نه شته، ببر سرو، د کورونو دروازې کړکۍ په بې دردۍ ایستلې، یو نیم کور چې روغ پاتې دی، د کړکیو دروازو او لرګیو لپاره نړول شوې دي.

د عقرب ۳۰ مه: د ګمرک په ساحه کې سخته جګړه روانه ده، د ننګرهار کابل د موټرو اډه پلچرخي ته لیږدېدلې، مانبام له هوایي ډزو داسې معلومېده، لکه اور لوبه یې جوړه کړې وي او یا هم د خوښۍ هوایي ډزې وې، همغږې شورا کې حکمتیار صاحب د دوستم څنګ نیولی، مجددي یې هم په دغه ډنډ کې ورسره ګډ کړ، جنګ جنګ تا ختم ګلم جم، شعار خپل سر وخوړ او د دوستم ملېشو په واک کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

الوتکو ته د لوګر سړک د نوې کربنې (رنوی) په توګه ورکړای شو.

پر همدې شپه کابل رادیو د کورنیو چارو وزارت کې د حل او عقد شورا د مقدماتي غونډې خبر خپور کړ.

د حل و عقد شورا له مقدماتي تدویر وروسته څرنګه چې برېښنا قطع وه، نماینده ګانو د انټرکانټیننټال او اریانا هوټلونو په سړو کوټو کې په داسې حال کې چې اوبه هم نه وې، شپه تېره کړه، د هوټل یوه کارکوونکي دوې ورځې وروسته وویل، په دغه شپه څرنګه چې په تشنابونو کې اوبه نه وې، د هوټلونو انګړ او دهلېزونه د نمایندګانو معذرتونو په سر اخیستي وو، ځکه خو د دغې ورځې پر سبا ګڼو نمایندګانو پلچرخي ته مخه کړه.

د دولت نطاق عزیز مراد له بي - بي - سي سره مرکه کې د ښاغلي مصداق د دې پوښتنې په ځواب کې چې د دوستم او حکمتیار ترمینځ د ائتلاف خبره غوټه شوې، ایله دومره وویل، داسې څه خبره نه شته، خو رباني صاحب په ډېر ټینګار دا خبره کوله، کابل رادیو وویل، یوې ډلې شر اچوونکو د دې لپاره چې حل او عقد شورا سبوتاژ کړي، د ښار پر استوګنو د توغندیو ډزې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

اتحادِ عُلمای افغانستان ١٣٧١/٩/٢٤

دافغانستان دجهاد محترمو رهبرانو السلام عليكم !

داتحاد علماي افغانستان غړو او دهيواد دبيلابيلو برخو جهادي قوماندانانو او قومي مخورو دروان کال دقوس مياشتي په (٢٤) نيټه لاندي پريکړه وکړه :

څرنګه چي دمحترم استاد برهان الدين رباني دریاست موده له پنځه څلويښت ورځني تمديد سره پاي ته رسيدلي او دځينو مشکلاتو او ملاحظاتو له مخي اهل الحل والعقد شورا په اساسي او منل شوي طريقه راغونډه نشوه ، له همدي ځايه ده چي دعلماوو اتحاد ، جهادي قوماندانانو او قومي مخورو ديوي ګډي جلسي په نتيجه کي پريکړه وکړه چي استاد رباني دي دخپل رياست دمعياد له پاي ته رسيدو سره سم درياست چاري دجمهوري رياست مرستيال محترم مولوي محمدنبي محمدي ته وسپاري او ددوي تر رياست لاندي دي اهل الحل والعقد شورا دتکميل تزکيي او تدوير په لارو چارو غور او اقدام وشي څو په شرعي طريقه دامير د انتخاب پروسه عملي کړي شي .

لدي پرته داوسنيو شرايطو له مخي بله هره يوه فيصله چي يوه اړخيزه بڼه ولري اوله اتفاقي شکل څخه بي برخي وي نه يواځي داچي موجوده مشکلات نشي حل کولي بلکي دلازياتو ګډوډيو او جنجالونو سبب ګرځي ، له همدي امله به هغه دمنلو وړنه وي .

* دعلماوو او قوماندانانو لاسليکونه *

(c) ketabton.com: The Digital Library

حل و عقد که پول نقد؟

د مولوي حقاني دريځ:

استاد سياف د لويې جرګې تر ټولو ستر مخالف و، د ده په وينا لويې جرګې ته ارزال هم مخه موندای شي، خو حل او عقد ته چې ده عقد او حل بلله، يوازې سوچه مسلمان لار لرلی شي.

سوچه او مکتبي اسلام يوه انقلابي اصطلاح ګرځېدلې، لکه مطرح جهادي قوتونه چې ځانونه يې د جهاد، اسلام او تقوا ټيکه داران پېژندل.

حل و عقد، د استاد سياف په وينا عقد و حل شورا يا په بله وينا د شريفانو دغه ټولې د بډو او رشوت داسې ريکارډ ټينګ کړ، چې کابليانو ورته د پول نقد شورا نوم ورکړ.

حقاني صاحب د اصلاحي شورا په مشرۍ د شورا د موثريت او مشروعيت لپاره په هلو ځلو بوخت دی، په دې اړه يې له جهاد هينداره بي - بي - سي پښتو، دري ځانګو سره مرکه کې وويل:

جهاد هينداره: هيله ده؛ کابل کې د خپلو بوختياوو او فعاليتونو په اړه ووايياست؟

حقاني: نحمده و نصلی علی رسوله الکريم، اما بعد!

حقيقت دا دی، چې د خلکو په خوښه په شرعي طريقه حکومت نه دی جوړ شوی، داسې ښکاري لکه حکومت موجود نه وي او خلا د قدرت وي، چون افغانستان بالکل ړنګ او د زندګۍ اسباب له مينځه تللی، دغه ړنګ افغانستان ته د مهاجرو راګرځېدل په داسې حال کې چې خلک مسلح دي او ځوارلس کاله هر قوماندان د يوه حکومت په شکل کار کړی نو امنيت باالکل خراب دی، د دې لپاره يو مستقر او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرکزي حکومت ضروري دی، د وطن د تعمیر لپاره هم قوي حکومت په کار دی، د تعلیم، صحت لپاره د یو مستقر او مرکزي حکومت ضرورت دی، چې متاسفانه جوړ نه شو.

د دې علت دا دی، چې د تنظیمو تعدد، جګړو او عدم اعتماد بدبختی موجودې دي، بیا هم متاسفانه چې په ابتداء کې له کابل رژیم په سالمه طریقه د واک انتقال ونه شو، د ائتلاف په شکل تر سره شو، هغه دی چې سالمې اداري جوړې نه شوې، که یې کوم ګام اخیستی د سازش پر لار یې اخیستی، اهلیت یې پام کې نه دی نیولی.

حاکمانو یوه غلطه طریقه غوره کړې، هغه دا چې د خپلو پلویانو د پیدا کولو لپاره یې د سازش لار خپله کړې، له بیت المال یې نا جایزه ګټه پورته کړه، مور کوښښ کوو چې یوه منلې شورا جوړه شي، چې یو سم حکومت رامینځته کړي او کار اهل ته وسپارل شي، داسې چې پر سازش او رشوت نه وي ولاړ...

که سازش ونه شي او خلک د اهلیت پر بنا راوغوښتل شي، د علماوو، قومي مشرانو، قوماندانانو دغو دریو قشرو استازي په کې وي، له دې سره به همکاري کوو، که په سازش سره دا کار وکړي، په دسیسو، نژاد، سمت او تحزب دا کار بنا کړي، نو بیا د علماوو، قوماندانانو او قوم تصمیم دا دی، چې د سازش حکومت مخه به نیسي.

دا اوس د شورا لپاره د سازش په طریقه او د تحزب او نژاد پر بنا کار شوی، دې ته باید خاتمه ورکړو او په هغه طریقه چې ما وویل، د شریعت طریقه ده او درې قشره خلک علما، قومي مخور او قوماندانان د دوی په اتفاق یا اکثریت یو موقت حکومت جوړ شي.

جهاد هینداره: تاسې د جګړې دواړو غاړو (رباني - حکمتیار) له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژمنو څومره ډاډه یاست؟

حقاني: د ملاقاتونو او مصالحې په هکله باید ووایم، چې حکومت په کړیو تعهداتو وفا او عمل نه دی کړی، جانب مقابل هم خپل قوتونه پوره نه دي په شا کړي، تر اوسه د مصالحې لپاره پوره اطمینان نه ښکاري.

له حکمتیار سره مونږ وکتل، چې جګړه د واقعي شورا لپاره مانع ګرځي، باید جنګ ونه شي، خبرو او مذاکراتو ته وخت ورکړای شي.

B.B.C پښتو: له حکمتیار سره ستاسې لیده څه نتایج لري، د لارې د پرانیستو پر سر موافقې ته ورسېدې، که څنګه؟

حقاني: دا وخت د علماوو او قوماندانانو شورا په ګډه کار کوي، پرون حکمتیار صاحب ته ورغلو، په دریو مسئالو مو ورسره خبرې وکړې:

۱. څرنګه چې د لارو تړل د افغانستان عامه خلکو ته تکلیف رسوي، په تېره دا وخت چې خوراکي مواد، درمل، برق، لرګي او تېل نه شته، نو که لارې بندې وي، خلک به له هلاکت سره مخامخ شي.

له حکومت سره ستونزې د لارو په بندولو نه اوارېږي، که خوراکي مواد عادلانه نه وېشل کېږي، یا پوځي استفاده ترې کېږي، د دې کار مخه به ونیسو.

۲. کوم هیئت چې حکمتیار صاحب د نګران په توګه د مصالحې له هیئت سره منلی و، څرنګه چې حکومت ډېره بې قولي وکړه، د حکمتیار صاحب نګران هیئت مایوس شو، ویل یې نور هیئت نه درلېږم، مونږ ترې وغوښتل هیئت راولېږي...

۳. درېیمه خبره د اوربند ده، په دې کې حکومت خپلې وعدې نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترسره کړي، حکمتیار هم وویل چې نور زما اوربند نه شته، موږ ورته وویل، حکومت اوس حاضر دی، ته باید جنګ ونه کړي.

ده ته دې خدای خیر ورکړي، درې واړه خبرې یې ومنلې.

B.B.C پښتو: د ملي وحدت لپاره مو چې کومه شورا راغوښتې وه، ترکومه ورسیده؟

حقاني: د علماوو، قومي مخور او قوماندانانو شورا موخه دا ده چې جنګ ختم او سوله راشي، هغه دی چې ملي وحدت هم ټینګېدای شي.

موږ د کوم تنظیم لپاره کار نه کوو، هغوی چې د ملت لپاره کار کوي، سوله او امنیت غواړي، اسلامي نظام غواړي، د دوی ترمینځ تفاهم شته، د دې لپاره له ټولو اړخونو سره ارتباطات شته...

B.B.C پښتو: که د حل او عقد شورا بن بست ته ورسېږي، راتلونکی څه وړ ګوری؟

حقاني: ما مخکې هم دا خبره کړې، کومې بدبختۍ چې راغلې، د تنظیمي تفرقې له امله مینځته راغلې، زه وایم دا تنظیمونه باید محوه شي، له سره ګوندونه جوړ شي، تنظیمي مقرري باید لغو شي، یو منلی حکومت رامینځته شي.

B.B.C پښتو: که بیا هم تنظیمي بڼه ادامه ولري، د دې باعث نه ګرځي، چې مجاهدین خپل سیاسي تشخص له لاسه ورکړي؟

حقاني: زه خو د افغانستان مسلمان ملت دې ته دعوت کوم، چې لفظي مناقشات لکه د لویې جرګې، حل و عقد، اهل الرای قیادي شورا تر عنوان لاندې لفظي جګړې شاته کړي، دا هم ورته وایم چې افغانستان کې د غربیانو طریقې د چلېدو نه دي، اسلامي مملکت دی، اسلامي طریقه پټه پنا نه ده، اهل الرای، اهل فکر، لویه جرګه، حل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

عقد یوه خبره ده.

B.B.Cپښتو: که دغه ستونزې اوارې نه شي، پرې به يې د چا پر غاړه وي؟

حقاني: په دې کې ټول راځي، زه هم یوه تنظیم کې راغلی یم، یوه سمت او نژاد سره پېیلی یم، مونږ ټول پرې یو، ځکه خو زه خپله غاړه خلاصوم او د تنظیمي، سمتي او ژبنیو اختلافاتو پر ضد غږ پورته کوم.

B.B.C دري: مولوی صاحب شما روز قبل با آقای حکمتیار صحبتی داشتید، چه توافقی به دست آورده اید؟

حقانی: از آغای حکمتیار خواهش کردم، که مسدود نمودن راه برای عامه مردم بسیار تکلیف است، ملت مظلوم ما از ناحیه سوخت و مواد غذایی دچار تکلیف است، راه لوگر، پکتیا، جلال آباد و راه شمالی باید جمعاً خلاص شود، اگر راه مسدود باشد مردم به هلاکت مواجه خواهد شد.

حکمتیار صاحب وعده نمود که راه را باز خواهد کرد، صرف یک خواهش کرد که مواد غذایی و سوخت باید عادلانه تقسیم شود و در گدام حکومت ذخیره در راه نظامی مصرف نشود، ما گفتم که کوشش ما دراین مورد جریان دارد، که یک هیئت بې طرف تعین شود، تحت مراقبت این هیئت مواد سوخت و غذایی تقسیم شود.

B.B.C دری: شما نقش اساسی و برجسته در جهاد داشتید، در اوایل بحیث وزیر عدلیه مقرر شدید، ولی وظیفه را اشغال نکردید در این باره توضیحاتی ارائه فرمائید؟

حقانی: ما از حکومت در ابتدا بسیار مطالبه کردم، که متاسفانه تا حال به مطالبات ما جواب نگفته، از همینرو از همان اول پست وزارت را

(c) ketabton.com: The Digital Library

قبول نکردم، چون حکومت شکل ائتلافی داشت و صبغه اسلامی و ملی آن مشکوک بود و است، از همینرو برای خود مناسب ندانستم در کابینه باشم.

بجای اینکه امن بیاوریم و برای مردم خدمت نماییم، جنگ و بی امنی را رفع نمایم، خود درگیر جنگ باشم، فلهذا صحیح نبود وزیر باشم و مردم در مصیبت بم و توپ مبتلا باشد.

B.B.C پښتو: داسې فیصله شوې، چې حل او عقد شورا پر خپل ټاکلي وخت جوړه شي، استاد رباني هم له واک لاس نه دی اخیستی، تاسې په دې اړه کوم تجویز ترلاس لاندې لرئ؟

حقاني: د رباني صاحب موده پینځه څلوېښت ورځې د دې لپاره تمدید شوه، چې شورا جوړه شي او په رسمي توګه د دولت مشر وټاکي، دلته له یوې خوا موسم مساعد نه و، له بلې خوا د شورا لپاره د غړو په ټاکنه هم انتقادونه کېدل، مونږ غواړو شورا ته غړي په سمه طریقه معرفي شي، چې یو منلی حکومت رامینځته کړای شي، چې اطاعت ورته وشي، امن راولي، ولایتونه له مرکز سره وټړي، ځکه مو غوښتنه وکړه، چې یو متفق پلاوی د شورا غړي تزکیه کړي، د ټاکنې بهیر یې وڅاري، چې ځینې کسان په پیسو او رشوت اخیستل شوي، د قومیت او حزبیت له مخې راغوښتل شوي، هغوی چې شورا تحریم کړې اعتراضونه یې رفع کړی شي، د شورا کار باید سطحي ونه ګڼل شي، ډېره پاملرنه او دقت ورته وشي، داسې کسان راونه غوښتل شي، چې د خپلې سیمې د نمایندګۍ صلاحیت او کفایت نه لري، استاد رباني اوس له کوم قانوني جواز پرته واک له ځان سره ساتلی، چې د تشنج او جګړو باعث ګرځېدلی، ځکه خو مونږ یوه پرېکړه وکړه، چې مولوي محمد نبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمدي ته چې د دولت رئيس مرستيال دی، واګې وسپارل شي، هغه د قانون له مخې د دې مستحق دی، چې په دغه موده کې د ده تر مشری لاندې شورا دايره شي.

B.B.C پښتو: استاد رباني په دې هکله څه نظر لري؟

حقاني: استاد رباني زمونږ هيئت ته ويلی او مونږ ته يې يو ليک هم رالېږلی، په دې ټکو چې ښګا خپل ملګري راغواړي، دا خبرې به ورسره مطرح کوي، بيا به رسماً مونږ ته خپل ځواب راکوي...

ما رباني صاحب ته وويل: د خدای خاطر وکړه، په خپل ملت زړه وسوځه، ستا مرستيال کولای شي، قانوناً په داسې مواردو کې کار وکړي، هيله ده واک خپل مرستيال مولوي محمدي ته وسپاړئ.

B.B.C پښتو: د مجاهدينو نورو مشرانو ستاسې له پرېکړې سره موافقه لری؟

حقاني: محترم مولوي خالص مونږ ته کتباً ډاډ راکړی، حضرت صاحب، ګيلاني صاحب هم توافق لري.

که داسې ونه شول، حکومتي دستګا به همداسې فلج پاتې وي، په روغتيايي، تعليمي او نورو شاخو کې به خلک له سختو ستونزو سره مخامخ وي، همدا د حل لاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

اِتحادِ عُلمای افغانستان

د افغانستان د جهاد محترمو رهبرانو!

السلام علیکم تاریخ: ۱۳۷۱/۹/۲۴ هـ ش

غږو

د اتحاد علمای افغانستان اوږدمهاله دیلا بیلو برخو جهادی تنظیمونو او قومی مخورو
دروان کال د قدس میاشتې په ۲۳ نېټه لاندې پرېکړه وکړه:

څرنګه چې د محترم استاد برهان الدین ربانی د ریاست موده له ۴۰ ورځو څخه تمدید سره پای ته
رسیدلې او د هیڅ ډول مشکلاتو او ملاحظاتو له امله چې د حل او عقد شورا په اساسي او مستقل شوری
طریقه راغونده نشوه. له همدې ځایه د ټولو علماوو او اتحاد - جهادي ګوندونو او قومي
مخورو د یوې ناګهاني جلسې په نتیجه کې پرېکړه وکړه چې استاد ربانی دې د حمل ریاست د
معیاد له پای ته رسیدو وروسته سم د ریاست چارې د جمهوري ریاست مرستیال محترم
مولوي محمد نبي محمدي ته وسپاري او دوی ترڅو د حل او عقد شورې د تکمیل
تدابیر او تدویر په لاره واچوي او د هغوی د راتګ وروسته د شرعي طریقې د امیر د انتخاب
پروسه عملي کړای شي.

لدې پرته ډاډ ښودل شوه چې د حل او عقد شورا د تشکیل په اړه د ټولو اړخیزې پوهاوي
او اتفاق په شمول محمدي به د خپلو دندو د پیل سره سم د موجوده مشکلاتو د حل کولو
پلان او لاره چاره وړاندې کړي او د ټولو اړخیزې پوهاوي او ملاتړ په موخه به د ټولو
اړخونو سره سمدستي اړیکې ټینګې کړي.

د سلامونو په درنښت

عبدالسلام

مولوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

له سده وتلي

۸ - ۹ - ۱۳۷۴

د اتحاد علماء غونډه ده... زه د باندې له ډګروال صاحب سره ګپه کوم... درانه ماشینونه چې د ډبرو غټ ګټونه او کمر د تورلو، اره کولو لپاره لږدوي، داسې ښکاري لکه د غرغرې دار یې لګولی...

ډګروال صاحب وایي... داسې ورځ به راشي چې دا یو نیم درجن مې دلته درته څرولي وي... ما خبره نه وه کړې، چې غږ شو... ور ولاړشوم... وایي دننه دې غواړي...

چې دره مې بېرته کړه، کوټه له ملایانو ډکه وه... په یوه ښه، یوه څېره... لکه ټولو په یوه وار سترګې راپورته کړې وي، له ببرو وروڅو لاندې یې له رنجو ډکو سترګو ګاټي داسې ښکارېدل لکه سنګسارېدو ته یې ډبرې را اخیستې وي...

وېرې واخیستم، لکه ګبنې نیولی وم... نه دننه تللی شم، نه بېرته ګرځېدای...

د حقاني صاحب لکه زما وارخطایي ته پام شو، څنګ ته یې ور وبللم، په ملایمت یې پوښتنه وکړه... لکه ملایانو ته په ما او لیک مې تېم ورکوي... چې داسې دانه مې ساتلې...

ذاکري صاحب هماغسې د عذاب په ویش لګیا دی... وایي سیاف ته ولیکه: "په بنده سا مې قلم را واخیست..."

"لنډیز"

(c) ketabton.com: The Digital Library

جناب محترم استاد سیاف صاحب! السلام علیکم:

"... مور په روغه جوړه او دا چې منلی شورا جوړه شي خپل وس وکړ... خوله بده بخته ګټه یې ونه کړه... اوس تاسې ته خبر درکوو، چې مقابله مو نه کوو، که چېرې اسلامي حکومت جوړ شو، الله جل شانه دی جوړ کړی، همکاری به درسره کوو، خو که ستاسی له شورا او پرېکړو ټکر او فتنه رامنځ ته شوه، مسوولیت به یې د استاد رباني او ستا پر غاړه وي...

په داسې حال کې چې مشرانو شورا تحریم او د مقابلې اعلان کړی، شورا او پرېکړې یې له فتنې پرته څه نه شي راختی.

تاسې مور ته لیکلي چې د مولوی صاحب خالص نظر زما نظر دی، اوس خالص صاحب له شورا سره مخالفت وکړ، خو تاسې ورسره ولاړ یاست... د دغه تضاد معنا څه کېدی شی...؟

که تاسې له زړه غواړئ مور به کونښښ وکړو مشران واقعي شورا کې په ګډون راضي کړو، د دې لپاره باید له هر ولایت درې تنه یوه پلاوي کې رسماً وټاکل شي، چې د شورا د تزکیې او مشرانو راباللو چاره پر مخ بوځي... په دغه صورت کې امید شته یو اواری ترلاسه شي، که داسې ونه شول بیا ته پوه شه او ستا شورا..."

ما پخپلو ټکو مسوده ولیکله... خو ځینې ټکي یې راباندې واړول چې اسانه شي، هغه دی، چې لوړ متن ترې رامنځ ته شو...

ذاکري صاحب راته کړه: ته خپله ورسره ولاړشه... وایي یو سړي چاته ویل که خط ور ولیکي... هغه ورته کړه پښه مې خوږېږي... ویل خط په لاس کاږي، پر پښه څه کوې...؟ ویل مجبور یم د خپل خط د لوستو لپاره ورسره ولاړ شم چې بل ځوک یې نه شي لوستلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالرحيم اخوندزاده، قاضي ميرزاخان دليلي او زه رهي شوو... د پولادي امير مانۍ کې هماغه اوسپنيزه ځپره... په ورته هيبت او صلابت ډډه لګولې... استاد باغ بالا مانۍ کې دېره دی، اخوندزاده او قاضي يې وروبلل زه يې دباندې ايسار کړم... په يو څه ځند يې وروغوښتم... راته وايي دا ملايان لکه ته د سده باسې...؟ ما ويل زه يې په لېونتوب اړولی يم... اخوندزاده صاحب ورته کړه، ټول له سده وتلي يوو، دوی چای چښلی و... ماته يې د شين چای ګيلاس کښښود... سوړ و، ډک مې پرښود... استاد يو ليک وکښښ:

محترمو ورونو علمای کرام حفظه الله تعالی!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته وبعد...

ما په استاد يو خط وليکه او د يو هيئت په ذريعه امرصاحب حکمتيار ته واستاوه شه او يو هيئت ستاسو خواته در واستاوه شه، چې په ګډه مولوی خالص سره خبرې وکړي، او په دې ښه پوه اوسي، چې خدای ناخواسته که ټول خلک ايتلافي نظام ومني، د اتحاد تنظيم ته يې منل د امکان څخه ډېر ليرې ښکاري، چې د ګلم جمو يو نفر هم په دې مجلس کې ناست وي، زه به په کې نه يم، زما د ننيو خبرو فيته در وغواړئ تاسو ته به پته ولږي چې مونږ څه غواړو، هيله ده دورونو په قناعت کې تاسې هم مرسته وکړئ.

والسلام عليكم

١٣٧١ / ١٠ / ٧

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

اتحادِ علمای افغانستان

تاریخ: ۱۳۷۲/ / ش

برادر محترم حکمتیار صدر اعظم دولت اسلامی افغانستان

بمنظور تحلیل و بررسی وضع نابسامان فعلی کشور و جریان جنگ های دردناک وویرانی خانمانسوز و بدنام کننده برای مسلمانان و دولت اسلامی که ثمرات پر بار پانزده ساله جهاد را خفقه به خفقه نابوده می برد، اجتماعی مسؤلانه از علما و قوماندانان و اهل خبره و سران و بزرگان اقوام بوه درشنبه ۱۷ عقرب ۱۳۷۲ در شهر جلال آباد دایر گردید.

درحالیکه در برابر وضع جاری انزجار کامل مردم مظلوم افغانستان و مراتب تاثر و تاسف همه امت اسلامی که انصار جهاد بوده اند و در رابطه با پامال شدن حرمت و مصالح ملت مسلمان و آبرو ریزی برای همه داشیون اسلام و نهضت های اسلامی و خطرات مداخلات شوم دشمنان و آینده تاریخ را به پاداش پانزده ساله جهاد و قربانی بی مثال امت اسلامی به شما انتقال می دهد برای آنکه این سقوط قهقرائی از حد موجوده آن نیز جبران ناپذیر نشده باشد مواد مندرج آتی را از جناب شما خواستار است.

الف: آتش بس عاجل و فوری جنگ جاری را اعلان نمائید و قوتهای محارب در موقعیت های موجوده شان متوقف گردند.

ب: همه راه های مواصلاتی در مسیر کابل ولایات بدون قید و شرط باز گذاشته شود.

ج: برای حل مسائل متنازع فیها به هیاتی مشتمل از کبار علما و مصلحین اختیار کامل تفویض گردد تا در چوکات شریعت منور اسلام و مصالح ملت مسلمان و ارمانهای امت مسلمه به حل و فصل آن بپردازند.

دغه مکتوب په همدغه متن احمد شاه مسعود ته هم لیږل شوی...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان اسلامي دولت
د صدارت عظمي مقام
شوری محترم اتحاد علماء افغانستان!

السلام عایکم و رحمة الله و برکاته!

در رابطه با مطالب مندرجه مکتوب مورخ۱۳۷۲/۸/۱۷ تان با احترام عرض می کنم:

الف: با اعطای صلاحیت عام و تام حل وفصل همه قضایای متنازع فیها مطابق شریعت اسلامی به هیأت حکم صددر صدموافقیم و اطمینان می دهیم که نسبت به فیصله های هیئت التزام خواهیم ورزید.

ب: با توقف جنگ و اعلان اور بند موافقیم، با باز شدن همه راه های مواصلاتی توافق داریم.

از خداوند کریم برای خود و شما توفیق خدمت صادقانه در راه نجات کشور ازین وضع دردناک، اقامه صلح و تشکیل نظام صد در صد اسلامی مسئلت می جویم.

با احترام

برادر تان« حکمتیار»

****

دولت اسلامی افغانستان
مقام صدارت عظمی

فضیلت مأب ذاکری صاحب و علمای نهایت محترم
السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

صحت و موفقیت شما را در وظیفه ایکه در پیش گرفته اید از رب العزت خواهانم.

فرستادگان شما تشریف آوردند و روی مسائل با ایشان صحبت نمودم که ان شاء الله شما را در جریان قرار خواهند داد.

امیدوارم معضله موجود به لطف الهی و تلاش شما حل گردد.

احمد شاه مسعود

(c) ketabton.com: The Digital Library

زور حقیقت نه دی

څه کېدی شي، څه کولی شو...؟

وضعه دردوونکې، پرمختیاوې لړزوونکې دي، حال بوږنوونکی، مستقبل تیاره دي، زه داسې ګڼم نه باور شته، نه اطمینان، یوازې هیلو کې سا چلېږي، ژوند په امید تکیه دی، نیم ژوندې اسرې د ژوند ارابو ته دیکه ورکوي، نور د ژوند لپاره نه وخت شته، نه حالات مساعد دي.

وخت د مرګ پر خوا دی، حالاتو له ژوندانه لاس اخیستی د مرګ په انتظار ولاړ دي، هرڅه د مرګ په چوپړ کې دي.

د جګړې غاړې، تنظیمونه د خپلو خلکو پر ځای بهرنیو ته ګوري، لکه خپله پرېکړه تصمیم یې نه شته، د ملت اراده یې تر پښو لاندې ده، پر توطئو، معاملو یې ایمان راوړی، په مخفي کاری بوخت دي، اقتدار یې قبله ګرځولې، واک ته په سجده پراته دي...

اقتدار که په هره بیه وي، هر قیمت ته چمتو دي، په هرڅه بولی لګېږي، هرڅه لیلام دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقاني صاحب په ليدو کتو بوخت دی، يوه ته ورځه، بل ته کينه، زه د هغوی په خوله يوه پر زړه بله له ورايه ګورم، نه پوهيږم حقاني صاحب څرنګه ورسره د خير، ښېګڼې هيلې پېيلی شي...؟

زه د خپل زړه خبرو ته وخت نشم مونډای، که کوم مانبام له حقاني صاحب سره د يوازې کېناستو فرصت مومم تر ډېره دواړه چوپ وو، لکه د ويلو څه نه لرو، لکه زه د ده پر زړه پوهيږم، دی زما پر مدعا... داسې چې غواړو څه ووايو، خو نه يې وايو، نه يې شو ويلی... چې خبرې د نهيليو برېښوکيو کې نغښتې... له ويلو پټه خوله ښه ده... شيخ فريده پټه خوله دې بهتري ده...

زه د خجالت احساس کوم، چې نه مې شوی کړی د زړه خبرې راپورته کړم، ځان په يو ډول منافقت پر راته ښکاري... پوښتنه دا ده، چې دغه مشران په جرګه، نرخ او کانی معتقد کېدی شوی...؟

د حقاني صاحب سترګو کې يو ژور درد ګورم، يو دوک او نهيلي مومم، څه خبر زما سترګو کې د بغاوت سکروټې ليدی شي...؟

زه چې ورته په نيوکو شکايتونو خوله پرانيزم... راته وايي: مور نور څه کولی شو...؟ نه له يوې غاړې سره درېدی شو، نه له بلې سره، زور کشاله نه شي اوارولی، بې له دې چې د جوړې او سولې خبره وکړو، بل حل نه شته... دا زمور مکلفيت او مجبوريت دی... که نه ته ووايه څه وکړو، څه کولای شو...؟

زه غلی شم دی هم چوپ شي، څه شېبه دواړو ځانونه دغسې چوپتيا ته سپارلي وي، چې ورته ګورم پر څېره يې د څرګندي نا خوښی نښې ګورم، له وضعې، حالاتو، که زما له نيوکو او احساساتو...؟

لکه حقاني صاحب له خپل مزاج مجبور دی، د جرګې، نرخ او کانې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجبور ، مرکې او سولې ته ژمنتیا... چې پکتیا د جرګو وطن دی... دلته هر قومي مخور په دغسې ژمنتیا ځان اړ ګڼي، چې دلته د حکومتونو په پرتله د جرګو سیستم غښتلی راوتلی... چې حکومتونو هم جرګو ته کتلي، جرګې ته په مخ اړولو یې ګام اخیستی دی.

دغه ولسونه چې څومره جنګیالي پېژندل کېږي، دومره نرخ، کانې قومي کودونو، جرګې او سولې ته ژمن او معتقد ختلي...

دا خو مو هر چاته دا خپل زړګوټی سپین ساتلی

چې مو د وخت په دارې مـــــارو هم یقین ساتلی

(...)

د مولانا فهیم بنډار:

له مودو پس مې حاجي نسیم وموند ورسره کش یې کړم چې له فهیم سره ګورو، د بهرنیو چارو وزارت واټ ته د صدارت راختلې دروازه نظار شورا ترلې د توره بازخان څلور لاري دروازه خاصو مراجعینو ته له پوښتنو، پلټنو وروسته پرانیستل کېدی شي.

حاجي صاحب له وسله والو سره غوږونه وجنګول، زه یې پر اشاره وروغوښتم، کلك یې تالاشي کړم، حاجي نسیم خندل، زړه راته وایي بېرته وګرځه، خو د وسله وال له ډاره مې دا کار نه شوی کړی.

د صدارت بڼه نه دا چې اوښتې بلکې بیخي الوتې، فضا ترینګلې او مرموزه ده، صدارت لکه پوځي قرارګا داسې ښکاري، وسله وال یوه بله خوا ځغلي، یوه لوی سالون ته په تلو حاجي نسیم یوې کوټې ته ننوت، زه سالون کې ولاړ یم، د استاد رباني او مسعود لوی عکسونه پر مخامخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دېوال لګېدلي، وسله وال له سر تر پښو راته ګوری، یو نیم له چا سره څه وایي، خو پوښتنه نه کوي، حاجي نسیم راووت، ورته وایم په څه بلا دې واړولو، دی څه نه وایي، خاندي...

پر پوړیو وختو، حاجي بیا یوې کوټې ته ننوت، زه ولاړ یم، یو عسکر وروغوښتم له سارې سترې مشي سره یې پر یوه چوکۍ د کیناستو وویل:

حاجي نسیم بله کوټه کې دي، چې راووت زه یې لاس نیولی ورسره ننویستم، یو ژنی پټه خوله ناست دی، موږ هم غلي کیناستو، لکه په خبرو بندیز لګېدلی، لس دقیقې وروسته یو وسله وال له مخامخ کوټې راووت، موږ یې وروغوښتو چې ننوتو کوټه کې نه میز و، نه چوکۍ، پر سره غالۍ نوې توشکې پرتې دي، پستې غټې تکیې دیوال ته ایښې... یو پند پرېږ سړی ناست دی، یا الله دا مولانا فهیم دی؟ دا قتدار له سړي داسې بلا جوړوي...؟

ماته د جمعیت نظامي کمېټې یو مامور سترګو ته ودرید، چې پر موټرسیکل به ګرځېده، خوش باش خوش پوش... دا په څه غضب اوښتی.

سترې مشې مو وکړل، معلومه شوه ، دا د مولانا صاحب رسمي دفتر نه دی، دی چې له چا پټېږي نو پر دغه کوټه ننوځي، یا به آن کار دیګر بوخت اوسي...

مولانا صاحب چې اوس جنرال دی، له واړه حقاني صاحب د نیوکو تر غشو لاندې ونیو، نه ښه نه بد، د حکمتیار پر ملاتړ یې پرې کړ، تر دې چې حزب ته یې د وسلو مهماتو په ورکولو تورن کړ، وایي موثق اطلاعات ورسره دي...

ما ورته کړه! حکمتیار له حقاني صاحب ستاسې پر ننګه ګیله من

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی...

مولانا پر پاکستان خوله ورخلاصه کړه، چې کابل یې له خپلو جاسوسانو ډک دی...

ما ورته کړه تاسې د پاکستان مینه کې دومره ډوب وئ چې موږ مو پر پاکستان د نیوکو په تور دوزخیان بللو...

ده وویل: جنرال رحیم وردګ او حامد کرزی د پاکستان اجنټان دي... اوس یې زما پر رحیم وردګ او حامد کرزي څه...؟

که نه جنرال زما وطندار دی...

حامد کرزی خوارکی یې دومره ډانډاس کړ، چې د ده په خبره سرش زیر بالش خات شد...

جنرالې مولانا فهیم ته دا زیان اړولی چې ډېری یې د خاد پخوانی جنرال ګڼي، خادست یې بولي، که هرڅو وایي مجاهد دی، نه یې شي پرې منلی...

ډاکتر نجیب الله هم د خاد له تور او غضب ځان نه شوای خلاصولی، وایې ډاکتر د خاد پر ریاست همېشه د پښېمانۍ او افسوس اسویلي ایستل او خپلو ملګرو ته یې د ده پر غاړه د دغې دندې غورځول د کارمل توطیئه ګڼله.

له پیسو خالي بانکونه:

په یوه بنه د څو کرنسیو چلښت:

افغانستان بانک ترمخ داسې بیروبار وي، چې سړي ته د دموکراسۍ د دورې مظاهرې ور په زړه کوي، زما یوه ملګري په ټوکه کې وویل، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

رباني صاحب سخاوت ته ګوره، د پيسو څومره حوالې يې خلکو ته ورکړی...

معلومه شوه، چې د حل او عقد شورا د رشوتونو له امله د بانکونو خزانې تشې پرتې دي، درشونو په احکامو سربېره د بانکونو په مخه کې ولاړ سوداګر دا يوه مياشت د پيسو د نشتوالي له امله هره ورځ حواله په لاس دلته بېګاه کوي.

يوه ورځ مو د پښتني تجارتي بانک له خزانه دار سره ملاقات وشو، د خزانه دار نوم رانه هېر دی، خو په قوم ځدران و، ده د حل او عقد شورا لپاره، د داسې رشوتونو کيسې وکړې، چې د نړۍ په تاريخ کې به د رشوت او اختلاس دغسې رسوايي نه وې شوې.

دا وخت افغانستان کې په يوه بنه څو کرنسۍ چلېږې، د پنځو او لسو زرو بانک نوټونه نوي راوتلي، دوستم او رباني ته روسيه کې جلا جلا بانکنوټونه چاپېږي، پر دغو نوټونو روسي قاچاقبران پېښور کې ډالر رانيسي، حکمتيار چې له وړاندې دغه پيسې چلينج کړې وې، يو ځل بيا د لسو پنځه زرو نوي چاپ شوي نوټونه ناچله اعلان کړل، ځکه خو افغانۍ خپل ارزښت له يوې مخې بايللی، ډېرې راکړه ورکړه په کلدارو ده، حکمتيار هم د پيسو چاپ لپاره مډرن ماشينونه موندلي، د پيسو د چاپ کاغذ يې پاکستاني کستم ضبط کړ...

که څه هم حکمتيار پخپلو اعلاميو کې د دغسې بې پيشتوانې افغانيو د چلښت مخه ونشوی نيولی، خو سياسي بې ثباتۍ د افغاني کرنسۍ ارزښت دومره وغورځېد چې د حکومت لخوا له رشوت او بډو پرته مارکيټ کې نه شوی چلېدی...

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

اعلاميه رياست مالي حزب اسلامي افغانستان

غرض رفع مشكل بانك نوت هاي جعلي افغاني به همه افغانها اعلان مي گرددكه :

۱- ازنگهداري بانك نوت هاي افغاني وخريداري آن خودداري كنند.

۲- عجالتاً بانك نوت هاي چون ريال سعودي وايراني، كلدار پاكستاني ودالر بحيث اسعارموردااستفاده درتبادله هابكارگرفته شود.

۳- بانك نوت هاي افغاني اكثراً جعلي وبي پشتوانه بوده،هرحكومت آينده مجبورخواهد بود تا همه رالغوقرارداده وبانك نوت جديد عرضه كند، كه درآنصورت همه آنانكه بانك نوت هاي جعلي را نزد خودنگهداشته اند زيانمند خواهند شد.

٤- درعوض حفظ بانك نوت هاي افغاني ، بايد اسعار خارجي دربانگ ها ويابطورشخصي نگهداري شود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناکامه تجربه:

د جمعیت فرهنګي انجمن کې له زړو یارانو سره د ملاقات فرصت ګوتو ته راغی، فاضل صاحب د برکې اوږده چپنه اغوستې، د مدرسې له وختونو تازه او تاند ښکاري... اجرالدین ویاړ هم له پخوا زیات غښتلی معلومیده، چې د هېواد ورځپاڼې رئیس ټاکل شوی، خو د هېواد وضعه لکه د ټول هېواد خرابه ده، اجر الدین ویاړ له ما د همکارۍ غونښتنه وکړه، ما ورته وویل، اوس مې دا دوکان ټرلی، د حرفونو سوداګري مې پرېښې.

ویاړ وویل: تحقیقي مضامین راته لیکه، ما ورته ویل، په څه تحقیق، په دې چې کتابخانې داسې چور او وسوځول شوې، موزیم لوټ شو، بانکونه او ملي شتمنۍ هغسې تالا شوې...؟

فاضل د ژواک صاحب خبره وکړه، خو ما ورته ویل زه ستاسې له لاسه له ژواک سره د مخامخېدو سترګې نه لرم، اجر الدین بیا د قلمي همکارۍ او ډبلې حق الزحمې خبره وکړه، ما په لنډه ور پرې کړه: د ړندو ښار کې مې د هېندارو د پلور ستوماني نه ده ختلې... د دولت پر خزانو چور ګډ دی او چې څه پاتې وو، د حل او عقد شورا له سره ځار شول، د بانکونو ترمینځ سوداګر هره ورځ له سهاره تر مازیګر حوالی په لاس د پیسو لپاره د توغندیو له خطر سره ولاړ دي، د ډبلې حق الزحمې درک به له کومې لګوي؟

فاضل د اطلاعاتو او کلتور وزارت د نشراتو ریاست خبره وکړه، خو ما ورته وویل: زه د وچې خاني کوم، که د استاد رباني پاچاهي ومنلی شم، نو د اطلاعاتو او کلتور وزیرحیثیت خو والله که راباندې ومني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خبرو خبرو کې اجرالدين له ملايانو سر وټکاوه، ويې ويل: ترڅو چې ملايان وي، نښه ورځ به ونه وينو، ما ويل: اخوانيان لکه مرفوع القلم ګورې، د اخوانيانو په دفاع کې لګيا شو، خو فاضل خبره ورلنډه کړه: دا هم يوه ناکامه تجربه وه.

بسم الله الرحمن الرحيم

اتحاد علماى افغانستان

تاريخ: ۱۳۷۱/۷/۲۶

الحمدلله رب العلمين والصلوة والسلام علي رسوله الكريم وعلي اله وصحبه اجمعين اما بعد :

اتحاد علما ء افغانستان او جهادي مهمو قوماندانانو د۱۳۷۱ هـ ش دميزان په ۲۶ مه نيټه په كامل اتفاق سره فيصله وكړه چې متخاصمي دلي لكه حزب اسلامي افغانستان،او جميعت اسلامي افغانستان ، همدارنګه اتحاد اسلامي افغانستان اوحزب وحدت (اهل تشيع) او نور دې خپلي شخړي دفيصلي له پاره اک، چې دالله (ج) فرمان دي (فا ن تناز عتم في شي ء فردوه الي الله والرسول ان كنتم تؤ منون بالله واليوم الاخر..... فلا ور بك لايؤمنون حتي يحكموك فيماشجربينهم ثم لا يجدو ا في انفسهم حرجاً مما قضيت ويسلموا تسليما) دالله (ج) كتاب او درسول الله صلي الله عليه وسلم سنت ته محول كړي ، او علماء به دكتاب او سنت سره سم فيصله كوي ، له دغه تاريخ نه وروسته به هيڅ يو لوري پر خپل متخاصم لوري باندي حمله نه كوي او كه له دي فيصلي نه سرغړوي نو هغه په واقع كي متمر داومسؤل بلل كيږي بلكي زمونږ دجهاد په دي حساسه مرحله كي غواړي دجهاد ثمره ضايع كړي البته دمصلح هيئت معلومات او نظريات هم راغوښتل كيږي او دموضوع دتحقيق له پاره به داتحاد علماء افغانستان تر كلكي څارني لاندي نيول كيږي



(c) ketabton.com: The Digital Library

د حکمتيار ملاقات

د کابل ناپوځي کېدو وړاندیز

حکمتيار صاحب مخې ته راووت، وايي دا خو د سولې هيئت نه دی د سولې لښکر دی په کوټه کې ځلورو ديوالو ته په ښلا ښلو ښو او ډيزاين کوچونه ايښي، ايله شل تنه هغه هم په تکليف کوټه کې ځائيدی شوی، نور دباندې پاتې شول.

حقاني صاحب خپلو خبرو کې وويل د کابل امنيت امانت دی، دکابل قوماندانانو شورا ته دې وسپارل شي، دا ستاسې (حکمتيار) غوښتنه هم وه، مونږ غواړو په صداقت دا کار ترسره شي، له پلمو بهانو ډډه وشي، فيصله بشپړه شوې، اعلان يې پاتې دی، مولوي صاحب خالص، پير صاحب، مولوي محمدي د فيصلې ملاتړ کړی، دلته به د انتخاباتو او منتخبې شورا لپاره زمينه مساعدېږي، داسې حکومت به جوړ کړی شي چې په تحزب متهم نه وي.

مونږ غواړو د فيصلې د اعلان اجازه راکړئ استاد رباني هم د همکاری وعده کړې، ان شاءالله تقصير به نه کوي.

د قوماندانانو اطمينان ستاسې له طرفه او زمونږ اطمينان د قوماندانانو له طرفه ضرور دی، مونږ ستاسې ملاحظات پام کې نيولي د فيصلې مهم اړخ دا دی چې کابل بايد غير نظامي شي، او بېطرفه

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت راشي، دواړه غاړې به د خپلو بنديانو لست راکړی، چې د فيصلې له اعلان يوه ورځ وړاندې خوشي شي.

ډاکتر فاروق اعظم: مذاکرات اخير ته رسېدلي نور بايد اعلان شي، ستاسې نکات او ملاحظات په نظر کې نيول شوي، تاسې مطمئن اوسئ دا خلك چې راتول دي پر ځان يې هم شاهد نيسو او پرتاسې هم...

دا واقعيت دی چې جنګ د حل لار نه ده، يو تنظيم حکومت نه شي کولی، په داسې ګډوډی کې ملك دوام نه شي کولی، ملك ته يو ثابت نظام په کار دی.

ولايتونو تعهد کړی چې د اصلاحي شورا د پريکړې تر شا به ولاړ وي، مذاکرات بنه روان دي، هيله ده په تطبيق کې يې تاسې همکاري وکړئ، ځکه ستاسې ډېر څه په هغې کې مراعات شوي دي، تاسې د دغې فيصلې په تطبيق کې ډېر څه کولی شي.

مولوي غلام رباني: حکمتيار صاحب هغه ګناه چې دا دوه کاله استاد رباني کوله اوس يې ته کوې...

مولوی صديق الله: زمونږ فيصلې مخکې چا ونه منلې، يو څل يې مونږ د مقابلې لار غوره کړه، بيا پيغامونه راغلل مونږ معطل شوو، اوس هم د کابل قوماندانان دې ته اماده دي چې په ګډه به يې مقابله او مقاطعه کوو.

مولوي نظام الدين حقاني: په کابل کې د شورويانو سره جنګ کې دومره بې عزتي او بېدينې نه وه، راغلې، لکه اوس چې راغلې، مونږ د خوست، ګردیز پکتيکا خلکو پريکړه کړې چې د دغه جنګ مخه به نيسو د جنګي ډلو پر وړاندې به درېږو...

ته به خپل وس نه دريغوې اعلانيه به يې کوې، پټې معاملې خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ د مشرانو ښپې زده دي، خو مونږ هرڅه ښکاره غواړو...

لکه مخکې چې حقاني صاحب وویل تاسې له مونږ سره د فیصلو په تطبیق کې همکاري کړې، حکومت که په زور کېدی شورویانو به کړی وی، که په پیسو ټینګېدی رباني به دا کار کړی و، حکومت په تفاهم چلیږي.

حقاني: د دې خکلو له آزار او ښېراوو باید وډار شو، که فیصله نه شي منلی په ډاګه راته ووایه چې ودې منله، بیا پلمې بهانې نه غواړو.

له یوې بلې خوا له حکمتیار سره د دوستم د همغږی په غندنه خبرې وشوې.

حکمتیار: پیر صاحب ګیلاني هم د تره کي د دیني امورو مشاور و، (۹) میاشتې یې دا دنده ترسره کړې، که داسې وي بیا دا هم وغندئ...

پر قوماندان شېرخان کوچي دا خبره بده ولګېده، حکمتیار صاحب وویل ټوکه مې کوله.

عبدالقیوم خان! مخکې به مونږ کمونستان پرچمیان په حزب ډارول، خو اوس حزب خپل څنګ پورې ونیول.

حکمتیار: داسې ښکاري چې هیئت دا ګڼلې چې که فیصله اعلان کړي، مخالفت به یې وشي، خو داسې نه ده، مونږ د فیصلې د تطبیق وعده درکوو، د اوربند، مسلحو قوتونو وتل، د کابل امنیت د کابل قوماندانانو ته سپارل، موقت حکومت، شورا اوله حساسو پوستونو د کمونستانو لیرې کول، دا ټول درسره منو له مخالف سره به یې مخالفت کوو، مونږ مخکې هم ټولې فیصلې منلې خو متاسفانه، مقابل طرف ترې سرغړونه کړې.

مونږ له دې وړاندې منځګړیو ته بشپړ واک ورکړی، خو دا څل

(c) ketabton.com: The Digital Library

متاسفانه داسې واك نه شو ورکولی، خپل عذر او شرایط لرو، دا د هم آهنګ شورا شرایط دي که مراعات شول ومو ویل مرسته به کوو.

موقت حکومت باید دوو هفتو کې جوړ شي، دایمي اوربند او د جګړې ختمول د موقت حکومت مسوولیت دی، په کار نه ده اول شورا جوړه شي بیا حکومت...

که اول شورا جوړوو، بیا حکومت دا ډېر وخت غواړي، د شورا تر جوړېدو باید د حکومت جوړول ونه ځنډول شي، تاسې لنډه لار انتخاب کړئ، مونږ چې څه وایو په هغې ولاړیو، تاسې وویل فیصله به هله اعلانوو چې دواړه خواوې پرې توافق وکړي، په دې صورت کې مسئاله حل ده، دا نبه صورت دی.

زمونږ د معلوماتو له مخې هیڅ طرف توی وړی واك نه دی ورکړی، دواړو خپل شرایط وړاندې کړي، فیصله دې دواړو ته واورول شي، بهتره دا ده چې له هم آهنګ شورا سره وګوری، د دې لپاره چې بیا څوك مخالفت ونه کړي، که هغوی دا وګڼي چې له مخ یې کرکه کېږي، لیدو ته یې څوك حاضر نه دي، هغوی بۀ څنګه ستاسې فیصله ومني؟

حقاني: دا اوس چې د هم آهنګ شورا سره دلیدو خبره کوې، اول به دې ویلي وو، مشترك ملاقات به شوی و، مونږ به فیصله نه کوله، مونږ داسې ګڼله دوستم ستا نمایندګی منلی ده؟

حکمتیار: مانه دي ویلي دا ونیسئ هغه مه نیسئ، تاسې چې هر څوك درسره نیسئ زه کوم اعتراض نه لرم، خوښ یم، مونږ چې هم آهنګ شورا جوړه کړې داکار مو سنجیده کړی، جنجال یې نه ګټو، چاره نه وه، ځکه ملك خطرناك حالت طرف ته روان و.

استاد رباني او مسعود دغه جنګ کې استعمال شوي، مونږ دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره جګړه نه درلوده، که دلاور ته بمونه نه وی ایښودل شوي، نن به هم لوی درستیز و، پښتانه به له شماله وتل.

۲۲ میاشتې پر ما جنګ و، زه ورته یوازې ولاړ وم... د خالص او محمدي دروازې مې وټکولې هغوی زه په حقه ګڼلم، خو د ملاتړ جرآت یې نه شوای کړی، دې طرف ته یو کمونیست چا نشوی رابنودی، خو هلته لوی درستیز دلاور، جنرال بابه جان، ګارنیزیون، خاد، او دفاع وزارت او قطعات ترې ډک، دي...

حکمتیار دوه درې ځلې د توضیح غوښتنه وکړه... ده د فیصلې له مجهولیت سر وټکاوه.

یوه هفته کې یې د کابل تخلیه او دوو کې د رباني استعفا غوښته.

حقاني: بیا وایم چې جګړه حل نشي راوستی، له دې عذاب په خبرو او تفاهم وتلی شو.

حکمتیار: مجامله نه کوم، موږ په دواړو لارو کار کوو، خو دې ته ترجیح ورکوو، چې جګړه ونه شي.

حقاني: بیا هم وایم کابل باید غیر نظامي شي، انتخابات وشي، ملي اردو جوړ شي.

حکمتیار: مسعود راډیو تلویزیون کې ناروا تبلیغات کوي، د ګلبدین دوستم بدنامې ملېشې یادوي.

عبدالرحیم اخوندزاده: د بدنامو نوم خو تاپرې ایښی و.

حکمتیار: حقاني صاحب! تابه زه هم پېژندلی وم، مسعود هم، مسعود خو هغه سړی دی چې له تا تښتېدلی و.

حقاني: له مانه، له مولوی منصور او قاضي امین وقاد...

حکمتیار: موږ نن شپه د عملیاتو وخت ټاکلی، خو که سوله وشي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور تعهد کوو.

حقاني: تاسې باید د جنګ حل د خبرو په حل مقدم نه کړی.

حکمتیار: داسې ښکاري تاسې خپله فیصله څنډوئ؟

حقاني: فیصله لیرې نه ده، ستاسې جنګ نژدې راته ښکاري.

حکمتیار: فیصله باید ډېر ژر اعلان شي.

حقاني: مور غواړو لکه تاچې څنګه مطمئن کولای شو هغوی هم داسې مطمئن کړو، دا لږ وخت غواړي، د هغوی اطمینان له تا یو څه ګران دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

ما بازشدن راه کاملاً موافق بوده حاضریم همزمان
با اخراج نیروهای مسلح از شهر کابل و تأمین امنیت
شهر و مراکز دولتی آن توسط شورای جهادی ولایت
کابل همه راه کاری دوامدار به شهر کابل را بازنمائیم
در دوران آتش بس موقت چهار روزه
به خاطر استقبال از پیشنهاد هیات ترک صلح و
رفع مشکلات اهالی مصیبت زده کابل ماریکه کای
بصورت عاجل در مناطق مرکزی اول، جاده میوند
دهمزنگ و افشار اعمار گردد
در صورتیکه طی مدت موقت آتش بس کار
عملی در راستای حل مشکل و مواضع اعلان
شده ما موافقانه باشد در رابطه با زمان و نحوه
آتش بس تصمیم خواهیم گرفت

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تېښتې حقیقت

د حکمتیار صاحب دغې خبرې چې مسعود هغه سړی دی چې له تا تښتېدلی و، زما سودا کړه پر سبا مې له حقاني صاحب پوښتنه وکړه؟.

ده وویل:

۱۳۵۵ لمریز کال میزان میاشت وه له میرانشا پېښور ته تللی وم، گورنر هاوس احاطه کې یو دفتر دی کچرې پې بولي د توپانچې لینس مې نوی کاوه که څه کار مې و، که گورم قاضي امین وقاد، مولوی نصرالله منصور او احمدشاه مسعود هم ناست دي، روغبړ مو سره وکړ، مسعود ځان څادر کې پېچلی و، تر څادر لاندې پې لاس راکړ، زما پام نه شو چې د ده لاسونه پې ترلي دي، موږ له جوړ پخیر نه و خلاص، چې ده تشناب ته د تلو خبره وکړه، تشناب ته چې ولاړ ځند پې وکړ چې کتل مو د تشناب له کړکۍ پې ځان غورځولی و...

دی پې کابل حکومت ته د جاسوسۍ په تور نیولی و، له دې ورځې بیا ورک شو، تر هغې چې کمونیستانو کودتا وکړه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

Gulbuddin Hekmatiyar

AMIR OF
HEZB ISLAMI AFGHANISTAN

گلبدین حکمتیار

امیر حزب اسلامی افغانستان

جواب محترم حکمتیار صاحب

DATE: دریاره مکتوب تاریخ ۱۳۷۱/۱۰/۱۲ علمای افغانستان

تاریخ: ۳ رجدی ۱۳۷۱

①

• علماوو داکادمی محترمی شوری ته:

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

له لږ څه ناشوته دځیږو امانی دنده

آ ترسره کولو کې مړ توفیق غواړم. ستاسو

لیک می ولوست. خواب کې عرض کوم:

۱- دافغانستان اکثریت خلک اهل سنت وجماعة

دی طبعی ده چې دحکومت عام قوانین

دې طبعی ده / سره سم وي خو په انفرادی

دودی مذهب سره سم وي دنورو

حاروکې ته هم دخپل مذهب دپرعمل

حق حاصل دی - مونږ دامام ابوحنیفه رح

(c) ketabton.com: The Digital Library

مذهب بدی څاڅ منلی څی ؛ اختیاری څضا، وو
کی نو د ؛ ستناط له قرآن او سنت نه ترلاسه
هوا دقیق نومیږی .

۲- ؛ سکندی حکمت کی ؛ اقتدار د څهاڅ ؛ تعلق
؛ کفایه او ځل کی نو ؛ لاس کی وی او کمزوری
ملګرو نه عبارت ؛ سکندی حکمت کی د نګډون
او ؛ ونه د ؛ تیلاڅ څخه ډک ؛ ی

۳- نوټ لږی سوری ؛ ته څی دوس وایی ؛ انډی
او ؛ تعلق ولولای ؛ ی، مستقیماً د دوس له څوا
انتخاب ؛ ی او یا د هغه وسوای د ؛ تعلق سوی
او ؛ تفق علیه سوری له څوا ئی غوښی سوی ؛ ی
کاملاً ؛ نو او څخه ورکوو څی د راتلونکی حکومت
)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Gulbuddin Hekmatyar
AMIR OF
HEZB ISLAMI AFGHANISTAN

گلبدین حکمتیار
امیر حزب اسلامی افغانستان

DATE: تاریخ: ۳/ حوت/ ۱۳۷۱

هغه فیصله وکړی خو درک شوری ځی د حمل کاری
اورشوت د لیاری د هغه حل وعقد څخه جوړه
ټی نشر منلی.
۴- کومات یوه مسل شوی، موقف خلرنت
وشیارل ټی او یا د تصویب شوی لایحی
شپږم د شوری د هغو او د عمو د تبنی
کامیل سی نوټ له او رنه شوه سوړ یو
کسی څخه ډی نوه کی به د اینښی د
اوبهه شود
زمن او د مګړو د کنوی لاره هوار
شعاون ته تیار یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

٥- د سنګو لپاره دا یې چې هغه سړی د مرګ
سزا ورکړې وي او هغه د دولت مکلف دی
چې دعوا ئې - خلق فساد او د سنګو اوښارنه وو
د څښتن ګنوی وکړی
ځ ټوټې او مختلفې لارې باید وسیکم کې ونړد
ژوند ځ تر مړو ربړونو کې د اسلامي شریعت تطبیق
عواړه وکړ ځ خارجي شک کې دی او که ځ
داخلي خارو کې - که ځ انفرادي ژوند کې وي او
که ځ اجتماعي ژوند کې - د هغې او صلې ځ حالت کې
که ځ اجتماعي ژوند کې د دوستۍ کې او د کافر سره ځ دښمنۍ
د مسلمان سره ځ دوستۍ کې او د صلح صورت ځ اړیږي،
کې او دا یې ځ ټول د اسلامي لارښوونو مطابق عمل
او ځ هغه کې باید د اسلامي لارښوونو مطابق عمل
وشي او د هغه نه ځ ډډه وشي کې حرام ګڼل

او مسلمانانو کې کوي باید ځ انفرادي او اجتماعي
ټول د هغه نه ډډه وشي

ځ اکرم

حکیم
٢ جدي ٧١

(c) ketabton.com: The Digital Library

د استاد رباني ملاقات

د استاد رباني څېره غوړېدلې، مزمل د خبرو وار وړومبی کړ، استاد خوشاله ښکاري، هیله ده زموږ خبرې ومني...

استاد په موسکا کندز سمنګان کې پخپلو فتحو غږېده له یوې لنډې یادونې سره یې بیانیې ته ځان جوړ کړ.

له حمد وثنا وروسته: له ټولو مصلحینو په سر کې حقاني صاحب منله کوم، حقاني صاحب په ډېر اخلاص جهاد کړی، ډېر برکتي مجاهد دی همېشه یې مشکلاتو کې په صبر او ایمانداری استقامت ښوولی.

اوس هم په سختو شرایطو کې چې جنګ دی، د سولې لپاره بوخت دی، زه ورته د توفیق دعا کوم، چې د اسلام او مظلوم افغانستان لپاره هلې ځلې کوي، له چاسره چې د اصلاح نیت وي حتماً یې الله تعالی بریالی کوي.

حوادث ډېر دردناک دي خدای تاسې ته توفیق ورکړ، چې دا حالت ته خاتمه ونیسئ خو تر اوسه زما د تجربې او برداشت له مخې دا ټول حوادث چې راغلي زموږ له خوا څه خطاګانې وشو خو نورې توطیې هم وشو، له خارجه وشو، اصلی هدف دا و چې مسلمانان او مجاهدین بدنام وکړی، او د امید دا ځای ختم وشي، چې د نورو لپاره مثال او اسوه حسنه ونه ګرځي، چې بیا څوک د جهاد نوم وانخلي داسې که هر چا جهاد وکړ له همداسې سرنوشت سره به مخامخ کېږي، دا ډېره خطرناکه دسیسه ده.

ازبکستان وایي مداخله نه کوي... بیاوایي دا ناممکنه ده چې بې تفاوته پاتې وشي... وایي د بنیادګرۍ په مقابل کې چوپ نه شي پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدای، ډېرو ملکونو په ېلا ېلو طریقو د مداخلې هڅه کړې، حقاني صاحب او نورو ورونو ته توفیق غواړم چې په دغه نیك کار کې بریالي شي.

او په دې زیات کوښښ وشي، د دې پر ځای چې د کابل لپاره د ملل متحد د غذایي موادو مخنیوی وشي، بیا یې د بطروس غالي په امر پرېږدي، خو د خدای او مسلمانانو په غوښتنه یې نه پرېږدي، چې پر خلکو د اوراګانو د ډزو مخه ونیول شي، دا ستاسو خپل کار دی زه نور څه نه وایم واقولي قولي هذا...

حقاني: له حمد وثنا وروسته:

عزتمندو!

له استاد سره زمونږ تعلق پخوانی دی، د ١٣٥٤لمریز له روژې وړاندې د شعبان میاشت کې مونږ هجرت وکړ، له دې وړاندې مو هم ارتباط و، خو دغه وخت کې استاد او نورو دوستانو چې ځینې غایب او شهیدان شوي دي، زمونږ مخامخ لیده وشول، او یو تعلق ټینګ شو، که څه هم یو ډول تحزب او تفرقه موجوده وه، خو هدف یو و، څوك په یوه نقشه، څوك په بله نقشه...

کوم مشکلات او اختلاف چې موجود و، اللّه تعالی د هغې نه تسامح او عفوه کوله او د هغه ستر او عظیم هدف لپاره چې د مسلمانانو لاس تش او دښمن مجهز و، خو د مجاهدینو تکیه پر خدای وه نو اللّه تعالی نصرت ورپه برخه کړ، منځنۍ اسیا او شرقي اروپا له شوروي استعمار آزاد شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورونو!

مور خدای او خپلو خلکو ته مسوول یو، یو صحابي ته روژه ماتی راغی ده ته پخوانی حالت ورپه یاد شو چې شپږ ملګري وو، امر ورته ویلي وه یوه کجوره به پشمنی بله مانبام خوړئ، بیا نیمه کجوره شوه وروسته یې یوازې دا زړي زښنبل، بیا ماهي اوبو راپورته کړی و، آمر اجازه ورکړه چې پوخ یې کړی ویې خوري، دا د الله تعالی له طرفه یو رزق و، صحابي رضی وایي هغه شپږ نفره اوس په ښلا ښلو سیمو کې والیان دي، وړاندې یې د یوې کجورې وس نه درلود، اوس دومره عزت وسایل؟ په دې یې وژړل چې هسې نه آخرت مو خراب شي، الله تعالی ټول اجر په دې دنیا نه وي راکړی؟

مور ته هم الله تعالی له هغې بېوسۍ وروسته داسې عزت راپه برخه کړ، خو اوس چې ګورو د خپلو خلکو منځ کې له نفرت او بې عزتی سره مخامخ شوي یوو.

د دښمنانو له پېغور سره مخامخ یوو، چې داسې جهاد لکه د افغانستان داسې اسلام لکه د افغانستان، باید د کابل د خلکو غم وخورو، د دې لپاره چې خپل ایمان مو ساتلی وي، دا کار وکړو.

ورونو!

سوله فتح مبین ده، لکه د حدیبې سوله، د سولې لپاره ملسمانانو ډېر د تکلیف شرطونه منلي، باید سولې ته غاړه کېږدو.

عزتمندو!

مور باید یو لار او چاره ولټوو، افغانان یو کړو، له تحزب او سمتیت راوګرځو، دا فتنه ورکه کړو، تفرقه ختمه کړو.

ددې لپاره له استاد درې غوښتنې لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې مورږ د خپلې فیصلې په اعلان تشجیع کړي، او له اعلان سره یې تائید کړي، او په تطبیق کې هکماري وکړي.

تر ټولو دمخه لارې خلاصې شي، مسلح قوتونه کابل پرېږدي، کابل غیر نظامي شي، دایمي اوربند اعلان شي، که استاد په دغو برخو کې مورږ ته ډاډ رانه کړی، مورږ دا دروند پېټی نه شو پورته کولای.

قوماندان انور ډنگر:

مورږ حقاني صاحب ته اطمینان ورکوو، د خلکو او اسلام لپاره هرې قربانۍ ته حاضر یوو، مورږ د اصلاحي شورا له طرحې او فیصلې ملاتړ کوو، مخکنۍ فیصلې دواړو غاړو ماتې کړې... دا فیصله باید ماته نه شي...

مولوی صدیق الله:

د کابل قوماندانانو چې دا دوه کاله کومې بدبختۍ کابل کې لیدلې دا مورږ ته مالومې دي او خدای ته... اوس مورږ او تاسې یو ځای ولاړ یوو، کابل د ټول افغانستان مرکز دی، مورږ له دې طرحې او فیصلې ملاتړ کوو، نه منونکي ته یې یو لاس یوو.

مولوی غلام رباني:

استاد باید د حقاني صاحب له کاروان سره مل شي.

مولوی نظام الدین حقاني:

عذاب عام دی چې خاص ظالم ته نه رسېږي، استاد چې راغی له مجددي نه دوه چنده شو چې ده څه کړي په ده مسلط شول...

مورږ سوال هم کوو، زارۍ هم کوو، خدای روی هم وړاندې کوو، زمورږ فیصله او طرحه کې نه خارجي لاس شته او نه یکطرفه فیصله ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

که نه عذاب خپرېدونکی دی...

حاجي مالي خان گربز:

په حقاني صاحب مور ټوله پکتيا ولاړ يوو، په فيصله ټينګ يوو، تنظيمونه مو پريښي، تنظيمو پسې نه ځو...

ډاکتر فاروق اعظم:

استاده!

دا خلك د دې لپاره راغلي چې ستاسې پر تعهد شاهدان اوسي.

حقاني:

له کابل به مسلح قوتونه وځي دا به د معين تقسيم الاوقات له مخې بې وسلې وځي.

وسله به په معينو ځايو کې ډيپو شي، شورا به د قوماندانانو، مخورو، پوهانو په ګډون جوړه شي او په معينه موده کې به موقته اداره او حکومت قايم شي...

استاد رباني:

زه فقط يوه توضيح ورکوم حقاني صاحب چې له مور کوم توقعات کړي، د هغې د همکارۍ وعده ورکوو، پخپله موافقه ولاړ يوو، که چا خنډونه واچول بيا به هم ان شاءالله دا کار کېږي.

استاد رباني له مولوي نظام الدين ګيله وکړه چې حکمتيار ته څه نه وايي پر مور خوله راخلاصه کا...

حقاني صاحب وويل حکمتيار صاحب ته يې هم سختې خبرې وکړې...

استاد رباني: بالکل يقين لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

چهار اسیا ته تگ

۱۷/۱/۱۳۷۴ د کب ۱۷:

بیا هم د حکمتیار لیدو ته څو، له څرخي پله پر بګرامیو وروګرځېدو، د وزلوبې چمن کې لسګونه ملي بس سر پر سر پراته دي، خو یوازې اسکلېټ، پرزې یې ایستل شوې.

د بګرامیو نساجي فابریکې ماشینونه د مخه لوټ شوي ودانۍ کنډواله پرته ده...

د سید نور محمد شا مېنې کورونو، چټونه نړېدلي، کړکۍ، ورونه یې ایستل شوي، له دغو کنډوالو یو ببر سر له ایستل شوي کړکۍ لکه د وحشت سمبول راڅرګند شي...

چهار اسیا ته نژدې پاتې کې خورا ګڼه ګونه ده، خلکو لاسي کڅوړو، څادر کې من نیم اوړه او پلاستیکي هغو کې غوړي را اخیستي، زنځیر کې ایسار دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ په ورسېدو چیغې شوې، په لوږه مو په تدریجي مرګ مه وژني، له دې مو په مرمیو وولئ، چې پاتک یې پرانیست، دوی هم منډه کړه، خو ډېری یې بېرته راوګرځول...

کابلیانو بلا کوله له مرګ سره یې ډغره وهله، د ژوند په منډه کې لا ستومانه نه برېښېدل، ژوند یې غوښت، له مرګ سره په جګړه بوخت وو. کابل جان در گرفت دودش برامد، ساربان څو ورځې وړاندې پېښور کې سا ورکړه، مشک تازه میبارد، ابر بهمن کابل. د کابل اسمان اوس اور، بارود او د ګولیو بڼلې اورولې، ساربان څرنګه ژوندی پاتېدی شوای.

ساربان په مهاجرت کې د پېښور سپینه وړې کې مېشت و، زه یې د زوی وړوکې هټۍ ته ورغلم، د ساربان د لیدو هیله مې وکړه، ویل سبا پر درې بجو راشه، چې ورغلم، ساربان ناست و، خبرې یې نه شوی کولای، ګونګ و، ما ورته خپل ارادت یاد کړ، د ده له سترګو د اوښکو سېلاب پر سینه بڼیره رامات شو...

پر یو نیم کور کې بیا هم ژوند ډیوه بله برېښېده، پر کړکیو یې پلاستیک نیولی، چې ټوپکیانو ته وښیي د ژوند له دښمنۍ لاس واخلي.

له حکمتیار سره د خبرو پته ماته ونه لګېده، چې خونې ته مې د ننوتو مخه ونه مونده...

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوولس گرامه ماغزه/ ۵۲۳

جواب برهان الدین ربانی « تاریخ ۱۳۷۱/۱۰/۱ اکادعلمای فی سمان

بسم الله الرحمن الرحیم

ریاست دولت اسلامی افغانستان

یادداشت

تاریخ ۱۳۷۱/۱۰/۰۵

علماء محترم حفظکم الله ورعاکم

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وبعد!

بنا ارتباط اجراء احکام شریعت غرای محمدی در همه
ساحات زندگی متذکر می شوم
هرمایه خاطر اعلاء کلمة الله وتنفیذ شریعت اسلامی در ز
بین بردن تسلط کفر والحاد قیام نمودیم، وچز تطبیق
شریعت هدف وآرمانی در زندگی نداریم، تطبیق احکام
شرعی وجیبه دولت اسلامی بوده امیدوارم افشاء ا
کمک علماء محترم ~~عنصر~~ شریعت اسلامی در همه ادارات
دولتی نافذ گردیده اجازه نمیدهم عناصر غیر مسلمان
مقدرات کشور حسط کردند

امضاء برهان الدین « ربانی »

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیک؛ زما کمزوری

کاریزمیر کې د پخواني پاچا بڼ دی، د ونو څانګې یې داسې سره اوبدلې، چې لغړو ښاخو د یوې عجیبه او ښکلې منظرې بڼه خپله کړې، چې څرنګه یې زړه غوښتي څانګې، ښاخونه یې سره تاو کړي، مثلث، مستطیل، بېلا بېلې زاویې او مخروطې شکلونه یې تري جوړ کړي، ته به وایې د ونو څانګو، ښاخو پټه خوله شاعري پیل کړې...

که څه هم جګړو یې پر حسن ګردونه غورځولي، خو د وړو لاندې یې پټ ښایست لا هم څرګند دی.

د حقاني صاحب لخوا ښاغلي مسعود ته ډالۍ زغره وال لنډکروزر د ګنو ګاډو په سر کې ولاړ دی...

د بڼ د برسر په دوه پوړیزه مانۍ کې احمدشاه مسعود پر سرو غالیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایښی یوه صوفه کې غزېدلی، مسعود په همدغه یوه بڼه تر سترګو کیږي چې یوه بڼه څو څېرې یې هنر ګرځېدلې.

جنګیالیو مانۍ پر پوسته او پوځي قرارګاه اړولې، د سلطنتي مانۍ حیثیت او ښکلا یې لوټلې ده، مسعود څو ګامه د حقاني صاحب بڼه راغلاست ته راوړاندې شو، کوټه د سترګو رپ کې ډکه شوه، څوک ننوتل، ځینې د باندې پاتې شول، څوک زور وهي چې ننوځي. ما کوټې ته د تلو مخه ونه مونده، چې یو لاس مې په مخه کې خند شو، دړه پورې شوه، دلته داسې کسانو هم پر کوټه هجوم وړوړ چې زموږ ملګري نشوی پېژندل کېدای.

بڼ ته راوګرځېدم، که ګورم له وسله والو ډک دی، ټولو برګې کوماندوي دریشي اغوستې، ته به وایې د جګړې په میدان کې ولاړ دي...

یو ګونبه ځای مې وموند، شېبه شاوخوا ګورم، د فقیر بوټي بوی مې دماغ وتخناوه، له جېب مې قلم کاغذ راویست، څو کرښې مې نه دي لیکلې، چې دوه تنه راته ودرېدل:

کی هستی چه نوشته داری...؟

د حقاني صاحب له ملګرو یم شعر لیکم، لاس یې راتاو کړ کاغذ یې واخیست لوستی یې نشوای... کاغذ یې یووړ یو تن یې راباندې پېره کړ، بېرته چې راوګرځېدل تحقیقات پیل شول... نوم، د پلار نوم، د کوم ځای... څه کار... په دې بیا څه کوې، چاته یې ورکوې... تلاشي یې واخیسته قلم یې واړاوه، راواړاوه... وایي دلته لیکل منع دي... پنځه کسان نور راغلل هغوی هم پوښتنې وکړې، زه یې کلابند کړم، تر مازیګر د دوی ولکه کې یم، قلم او کاغذ ضبط شول، لکه د ژوبڼ ځناور نندارې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ډلې ډلې وسله وال راځي، ګوري، پوښتنې کوي، خپلو کې يې شاربي او بېرته ځي.

چا به د بندي کېدو حکم ورکاوه، چا به نور تورنه ټاپې لګولې، چې دښمن، د نفوذ مخه مومي، معلومات ټولوي کروکې اخلي، نخچې وړي او بلا نورې خبرې... ښه و قاضي بسم اللّه راپيدا شو، نه دا چې خبره يې سره کړه، بلکې پر يوه پياله سارې چای يې هم ونازولم... له قاضي بسم اللّه سره مې د مدرسې له وختونو پېژندګلوي ده... د ښاغلي مسعود باوري بادېګارډ، د زړو سترګو ياری ته ځمن... ورته وايم که کلاشنکوف، تومانچه، راکټ، چرس هر څه راسره ليدل شوي وای، چا به سترګې نه وای را پورته کړې، خو قلم او ليک نژدې په ستر شر اړولی وم...

وايي: هر نکته جايی داره و هر سخن مقامی...

د فاضل صاحب خبره را يادە شوه: څرنګه چې جهاد کې د قوماندانانو څنګ کې د لغړ زنيو شتون مودې ګرځېدلی و له آمر صاحب سره د تخار سفر کې له رنګه سره سپين بسم اللّه ملتيا له ځينو سره دغسې شک پيدا کړی و، څکه خو يو چا د خپل څنګ ملګری ته ويلي وو: از... کده آمر صاحب مقبول است.

تلاش شدید برای صلح در افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوې اوونۍ يرغمل

د مني د پيل چيچلې ورځ ده، د لمر وړانګې تتې لګي، د ونو پانې مخ په رژېدو دي، ته به وايې خزان وار له مخه لګېدلی، سپېره بادونه سړي ته پر مخ کلکې څپېړې ورکوي، دوړې سترګې له خاورو ډکې کړي، د وسله والو جيپان، د قوماندانانو لنډکروزر او پک اپ لکه وږی ليوان خالي او نړېدليو، واټونو کې يوه بله خوا انګولي، د عامه کتابتون لوحې ته تم شوم، څومره کتابونه به سوځېدلي وي...؟ ګورم قانع لکه باز راباندې غوټه کړه، نه سات نه مسلات، نبغ يې آريانا هوټل ته ورسولم، پر لاره يې له کنځلو بله خبره نه ده کړې، جهاد، مجاهد ټول يې ډانډس کړل، هوټل ته په رسېدو څرګنده شوه، قانع د وچې خاني چلوي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جمعیت او نظار شورا ډېری لویان او مقربین دغه هوټل کې دېره دي، زمونږ یوه همصنفی نورخان عرف شمس الرحمن د بغلان قوماندان هم دلته اړولې، ده هم د مقربینو لست کې ځای موندلی، ځکه خو یې له ماسره توده ونشوای پاللی... البته قانع مغضوبینو ته رالوېدلې، دا وخت یې د توري یاري ته لاس غزولی پر بدماشي یې خوري...

ده دوه نفري کوټه غصب کړې، یو کټ خالي دی، زه یې پر خالي کټ وروغورځولم، راته وایې دا ستا شو...

ورته وایم زه په دې خلکو ښه نه لګیږم... وایي د دوی هغسې دغسې...

قانع داسې چلند راسره اخیستی، لکه دده یرغمل یم، ډوډۍ د هوټل رستورانټ کې په یوه وخت وېښل کیږي، له ما چا پوښتنه نه ده کړې، قانع صاحب مې لاس نیولی بیایي، لاس نیولی مې راولي.

سید حبیب شاه هم دلې دی، پر لومړني مانښام درنو ډزو د ویرې وارخطایي لړی خپرې کړې، دا داسې وخت دی چې موږ ډوډۍ ته ناست یو، په دریم ډز منډې شوې قانع د کنځلو باړ چلوي، رستوران کې موږ دوه پاتې یوو، دی لګیا دی هماغسې ګولې غورځوي، زه له ده بېلېدای نشم که نه له زړه مې خدای خبر دی، مړۍ مې مړی کې نښلي، د قانع هېڅ خیال نه دی.

لږ وروسته لاندې کوز شوو، سیدحبیب شاه، په پروتې ډوډۍ نغاړي، قانع پر پښه پورې واهه، خو د هغه غوږونه ډزو کانه کړي، خوله یې له ډوډۍ ډکه ده.

سبا قانع لاس نیولی ورسره رهي کړم، یو کریټ انګور یې رانیول، ما وې د کریټ په راوړو کې د جوالي کار رانه اخلې، خو کور یې ودان په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوو گوتو يې هوټل ته راورساوه.

غوري کې يې کيلو نيم پرمينځل پر مېز يې کېښول، امر يې وکړ خوره!...

نور يې يخچال کې ځای پر ځای کړل، وايي د پوهنتون استادان راځي په ګډه يې خورو...

قانع چې له کوټې وځي د يخچال دروازه پرانيزي يو وړی ماته ونيسي، يو پخپله خوله ننباسي چې راوګرځي بيا دغه عمليه تکرار کړي.

مازيګر ته لا وخت دی چې پاتې انګور يې له يخچال راوايستل، پر مېز يې له ايښودو سره خپل حکم ابلاغ کړ: خوره! د پوهنتون د استادانو هغسې دغسې...

زه د قانع برمته يم، پر دويمه ورځ يې پر دغه وعده په قسم او قرآن د تلو اجازه راکړه چې غرمې ته به هرو مرو ورګرځم، تر هوټل راسره ووت، پر هغه لنډه لار چې ارګ ته وروتلې او ځوک يې نه پرېښودل ور برابر کړم، پر بدخشاني وسله وال يې غږ کړ، هغه نه نوکړه خودی پرې وغورمبېد، وسله وال غلی شو...

قانع وايي بنګلديش کې يې سفير ټاکلی، خو دده خوښه نه ده، دا د قانع د ګېډې خبرې دي، د زړه هغه يې پر ځلورمه ورځ په سند او لاسوند راسره شريکه کړه، د استاد رباني يو امر يې راوښود چې بهرنيو چارو وزارت ته يې د کوټې کونسلګری کې د ټاکنې په اړه کښلي، امر قاطع دی، خو وزير لفرايي، چې پاکستاني مطبوعاتو نصراني ليکه نه نو پکې را ايسته، قانع يې مقرر نکړ...

کابل کې عصمت قانع پښتو ليکوالو ته غنيمت دی، چې دا وخت هغوی نه پر ځمکه سيوری لري نه پر آسمان ستوری پرده يو څه ډاډه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي...

محمد اسمعيل يون او خالق رشيد راغلل، خو انگور پاتې نه وو، دوی سره مې دا لومړني ليده کاته دي، په زړه خواږه لګېدل... خدای دې وساتي... څه به کيږي څه وشول...؟ له خولې زيات سترګو کې ښې خبرې کېدی شوای.

ماته په سترګو کې حال وايه
لارې کوڅې د غمازانو ډکې دينه

له عصمت قانع سره په غضب اوښتی يم، کله وايي بمونه ټرم، ارګ کې ځان الوزوم، چې پر يوه ځای يې خمېره کړم... دغسې خبرې ان له پېښوره دده عادت دی...

پر کټ اوږد غزېدلی وي، راپاڅي وايي زمونږ مبارزه ددې لپاره وه، دا لوړې محرومیتونه مو د دغه ورځې لپاره ګالل، اسلام او جهاد داسې وي؟ پاچا خان رښتيا ويل: جګړه د روس او امريکا وه، دل پکې پښتانه شول...

لګيا دی ته به وايې داټول زما له لاسه، همدا خبره چې ما درته ويل داسې کوو هغسې کوو... تانه پرېښودم... اوس ما څنګه دا ورسره منلی شوای چې وټره ځان پورې بمونه والوزوه دا مشران...

پر مصلحت ګرايي او محافظه کاری پړ يم، چې دده د انقلابي هڅو او ګامو مخه مې نيولې وه...

داسې ګڼم لکه عصمت قانع ټوله پړه پر ما غورځوي...

قرلق د انيس ورځپاڼې رئيس هم دغه هوټل کې دېره دی، يو مانښام د ډوډۍ پر مېز قرلق له ما هيله وکړه که د مرستيال په توګه ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

همکاري وکړم.

دا خبره نه وه لکه پر قانع يې د ټوپك گوزار وکړ، غرب شو مېز يې پر سوك وواهه، قرلق ته وايي: ننگيال دومره خوار شو چې ستا معاون شي...

اوس دې قانع کرار شي، د قرلق خوارکي خوله وچه شوه، هيڅ يې نشواى ويلى، قانع مو په زاريو، عذرونو غلى کړ.

د قانع زړه ډك دى، دده ارادې خطرناکې ښکاري، وايي پر خداى که يې په داسې اسانۍ راڅخه وخوري...



توريالى ځاځى، عصمت قانع او شهرت ننگيال- پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مزاري سره؛
کابل ناپوځي نشو

سهار د یو بل خولې په بویولو ځان اړ ګڼي، چې د پروګرام پته ولګوي، د ځینو له سترګو دغه پته لګولی شي، د چا له شف، شف او حرکاتو درک در معلومېدای شي، بیا هماغه د اودسونو لړی پیل شي، دلته خبره یو څه څرګنده شوې وي...

زه د شپږم حس په کارولو اړ اوسم، چې له مودو یې په مټ د درک لګولو پر تمرین بوخت یم، ددې یوه ګټه دا چې ځینو پرمختیاوو ته له وخت وړاندې د لاسرسي لوري موندلی شم.

وایې عبدالعلي مزاري ته ورځو، چېرته، کوم ځای...؟ پته نشته...؟

ګاډي، موټران چالان او کاروان چمتو شو، زه هم خپل ګاډی ته وختم ډګروال صاحب راسره پر نوبت سلا شوی، یوه ورځ دده پک اپ بله زما جیپ...

د ساتونکو دوه ګاډي ترمخ شول... نور په یوه لیکه پسې وخوځېدل...

د ننبار څېره هماغسې ترینګلې او د ژوند سا ډوبه ده، ننبار په دوو ننو کې رالنډ دی، چې جنګ وي... مرګ کوملې شلولې وي، چې سا کاږي ژوندي بنیادمان نغاړي، پر ژوند او هستۍ پسې یې را اخیستې وي، په هر ګام مرګ په هر پل ژوبله... د ژوند په ټغر ټولولو پسې د توپونو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

توغندیو غوږمبی خیژي، د ژوند لو ګډ دی.

که کله د توپو، توغندیو خولې پټې وې، ته به وایې پر هدیره تېریږي، نن بیا له دغسې هدیرې تیریږو، دغه هدیره کې هر یو خپله جنازه په خپلو اوږو ګرځوي، چا د خپل ژوند، چا د عزت جنازه را اخیستې وي...

پر نامعلوم لوري ځغلي...

د واک لوږه له هَلْ مِنْ مَزِيْد نه راګرځي... په مرګو نه مړیږي، په وینو توئېدو یې تنده د ماتېدو نه ده...

نو آباد ته په رسېدو یو ځل بیا د ویجاړیو په لړۍ ور برابر شوو... دغه وراني د جنګ په پرتله د لوټمار ښکاري... د غره لمن کې د خالي کورو له ایستل شویو کړکیو وسله والو ببر سرونه را ایستلې د خپل وحشت نښاري ته ولاړ دي، د خپلې قهرمانۍ مزې اخلي...

دهمزنګ کې جګړې اور لګولی، څلور لارې کې ټوپکیانو له شګو، خاورو ډکې بوجۍ کتار کړې، ټانکونه یې درولي، مورچې یې نیولې... چاته د چا پر وړاندې...؟

څلورلاري کې د ترافیکو پر مدیریت دومره ګولۍ مونښتې لکه چیچک څپلې څېره...

پر کین لاس وګرځېدو، د خوشالخان خټک لېسې پخوانۍ ودانۍ چې د پوهنتون د لومړیو ټولګیو لیلیه وه، له بېخه نړېدلې، پر شوروي سفارت حبیبي لېسه د ګولیو چیچک خوله لګولې...

نن یو بل سلطنت او قلمرو ته ننوځو... کابل د واک پر متعددو مرکزو وېشل شوی، جلا سلطنتونه، د هر سلطنت خپل قلمرو، پولې او سرحدونه، که پښه ډې وروړوله د ژوند ډېوه ګل ده، لکه ډیورنډ د کابل پر تټر یې چاړې ښخې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د درېيمې کارتې «پوش سيمې» يوې مانۍ ته تم شوو، ښکلا يې لوټ ده...

رايادشول... د ماضي د ښايستونو دره مې پرمخ ښرته شوه، د کابل د ښکلا او امن پرون ته ننوتم... د ژمي رخصتي مې د درېيمې کارتې يوې مانۍ د ساتونکي په توګه اړوله... زه د خپلو يادونو پر قبر ولاړيم... په نړېدلي بې شناختې بې ډبرليک قبر...

د غټانو له دغو مانيو ښايي ځينې کوم شرکت د بهرنيو اتباعو (کورنيو) د مشټدو لپاره پر کرايه نيولې، مياشت دوې، زيات و کم به دلته ميشت وو، نور به يوه پيره دار پکې اړولي و.

مانۍ زمونږ د يوه عزيز وه، "واحدي" چې د خپل وخت لويه علمي تکنوکرات کورنۍ ده...

د ژمي تر پای مې د هغه مانۍ د ساتونکي په توګه (۲۴۰۰) افغانۍ ګټلې وې، ځکه خو مې هغه کال مدرسه کې ښه غوږ ټېر کړ، خو اوس د هغه مانۍ درک نشوای رالګېدلی، نه مې شوی پېژندای...

عبدالعلي مزاري د قاري محمد امان نوايي مانۍ کې دېره لګولې، عسکري قشله ګرځېدلې...

سالون لکه تالار دومره لوی دی، يوه بل سرکې لويې ديوالي بخارۍ د ماضي يادونو ته وازې خولې نيولې، چې دا وخت د دوو نورو بخاريو... تورو نلو ته مرمرين دېوال دوه ځايه بې ډوله سورۍ شوې دي...

داسې ښکاري لکه دوو نومرو کې د قاري صاحب مانۍ رغېدلې... شا ته يې يو بل لوی پخلنځی دی، چې افغان لوی پلورنځی رستورانت ته له دې پخلنځي پاخه خواړه په ځانګړو مناسبتو کې وړل کېدل...

قاري امان نوايي، د وخت لوی سوداګر و، دربار ته نژدې ګڼل کېده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نادرپښتون واټ کې يې د بهرنيو لوکسو توکيو لويه مغازه وه، افغان لوی پلورنځی يې هم ملکيت ګڼل کېده، چې له لومړي پوړ ته له درېشي پرته د ختو اجازه نه وه...

(شوخک) پسې کښلی و... قاري صاحب دې مهرباني وکړي د افغان پلورنځي نوم دې واړوي، افغانان چې خپلو ملي جامو کې دغه پلورنځي ته د ننوتو مخه نلري ځرنګه کېدای شي، افغان لوی پلورنځی ونومول شي...؟

په سالون کې ښاغلي مزاري په شاهانه انداز پر صوفه ناست دی، بله هغه لومړني مېلمه لپاره ده، ترمنځ يو وړوکی مېز... څو صوفې د مشرانو مېلمنو لپاره دي، نور چوکۍ لکه د ټولګي پرتې دي...

دهليز کې د خميني تصويرونه ځړېدلي، سالون کې د پخوانيو لګېدليو تصويرونو ځای خالي او د يوې تابلو هېنداره ماته ده...

حقاني صاحب د لومړني مېلمه پر صوفه کېناست، د مزاري بل اړخ ته ډاکتر فاروق اعظم، مزاري صاحب بلا خوله ور ویاند دی، په ډاډ بلکې غرور شمېرلې خبرې کوي، د مذهب پر ځای د قوم له دريځه لګيا دی، مانا د شعيه پر ځای يې پر هزاره منګول ګلولي...

لکه د مذهب هغه يې محسني ته پرېښی، چې دی نه اخوند دی، نه آيت الله.

ډېری بلکې ټولو ټوپکيانو، جګړه مارو د خلکو په دغسې ملکيتونو کې اړولي، له همدغه غصب شويو ملکيتونو درته له شريعت، انصاف او عدالت بړ بړ لګيا وي.

پر احاديثو او قرآني آيتونو حواله ورکوي... له خولو يې ځګونه بادېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بېګناه ولسي وګړو کورونه، جونګړې يې د توغندیو تر اور لاندې نیولې وې، خو په غونډو ناستو کې له ملت مظلوم ومردم بې دفاع درته لګیا وي... له عمري خلافت درته ګډ وي... مانا حضرت ابوبکر يې پر زړه برابر نه دی...

۱۳مه روژه ده، د چای ډوډۍ تکلیف نشته، د جوړ پخیر له لنډې پوښتنې وروسته ډاکتر فاروق اعظم وینا پیل کړه، پر سالون د مزاري رعب غوړېدلی...

ډاکتر فاروق اعظم:... ما میخواهم جناب شما لشکر صلح را تائید و رهنمایی دارید، با لشکر صلح یکجا جهت تامین صلح این جریان راتقویت بخشید... خلاصه اینکه از چند نفر اهل نظر، علما، مو سفیدان و قوماندانان یک شورای موقت بیطرف ساخته شود که یک اداره بیطرف مؤقت بمیان اورده، که در گیر جنگ نباشد، مصالح مملکت را علیا از منافع تنظیم پندارد.

شورای ممثل تحت یک اداره بیطرف نمایندگان واقعی ملت را جمع نماید ، ازین جهت دوره موقت بیطرف را برای تدویر یک شورای واقعی حکومت منتخب ضروری میدانیم.

وقت تمدید شده استاد ربانی به پایان رسیده، جانب مقابل اصرار به استعفای استاد ربانی دارد، ما باید با همکاری هم استاد ربانی را قانع سازیم که دوام این اداره به نفع مملکت و خود ایشان نیست...

حقاني صاحب له حمد او ثنا وروسته درې خبرې پیل کړې...

...ظلم او وحشت به اندازه رسیده، غارت اموال و ناموس مسلمانان به پیمانه یی شده که اگر ما ازین بیشتر غفلت کنیم، جلو انرا نگریم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

معنا این است که خود درین گناه شامل هستم، منع جنگ بطریقه حکمت بر ما واجب است...

ما گردن خود را به این خلاص کرده نمیتوانم که در جنگ شرکت نکردیم چوکی نمی خواهم، مال مردم راغصب نکردیم... لاکن نهی از منکر هم نکردیم، اگر ما از جنگ و کشتار منع نکنیم، سکوت اختیار کنیم، گوشه بگیریم، این خود گناه کبیره است.

روز ده بیست نفر بیگناه کشته می شود، راهها بند است اطفال معصوم، بکدام گناه به این ظلم و وحشت مبتلا است...؟

ماز شما تقدیر و دعا میکنم که درجنگ های اخیر شرکت نکرده، میخواهم دیگران نیز به شما اقتداء کند...

مسایل و مشکلات باید از طریق سیاست و مفاهمت حل نمایم، از طریق جنگ مشکلات حل شده نمیتواند، جنگ موجب غضب خداوند(ج) و ملت است.

ما که می امدیم دیدیم در این مناطق جنگ جهنم دنیا بوجود آورده... ما برای شما سعادت دارین میخواهم، امید است درچند چیز با ما همکاری لطف فرماید...

قطع جنگ، خلاص شدن راهها و اینکه کابل غیر نظامی شود، سلاح ثقیل بجا های مناسب دور از شهر منتقل و دیپو شود...

امنیت کابل به شورای قوماندانان کابل سپرده شود... یک حکومت بیطرف موقت برای همین وقت حاضر جور شود، شورای ممثل موقت زمینه سازی بکند، که شورای منتخب جور شود و در وقت مساعد حکومت انتخابی بمیان آید...

شما با ما موقف عدم جنگ بگیرید، با ما مثل برادر کلان کارکنید که

(c) ketabton.com: The Digital Library

قناعت ربانی وحکمتیار حاصل شود، به ما مشوره بدهید، از اعلان فیصله ما تائید نمایید و در تطبیق آن همکاری و مساعدت نمایید، ما نیاز به مشوره و حضور نماینده شمار داریم که در تصویب طرح و تطبیق فیصله کار شود...

مزاری صاحب! له بسم الله وروسته...

ار برادران تشکر که در ماه رمضان علماء و قوماندانان قدمی خیر در رابطه صلح و اتش بس حل مساله برداشته، لطف کرده، اینجا تشریف آورده و بما افتخار بخشیده، مخصوصاً مولوی صاحب حقانی که ایشانرا احترام خاص قایل هستم که جهاد کرد و در وضع اسفبار کابل شرکت نکرد، در کابینه مقامی بوی قایل شده و نپذیرفت که مطلوب نبود که برای شخص خودش جهاد نکرد، ورنه چوکی وزارت کافی است... ولی ایشان نپذیرفت، کوشش های صلح جویانه خود را مقدم دانست...

ما هم جنگ را راه حل نمیدانیم، تفاهم و پذیرش را راه حل میپنداریم.

ما باید مشکلات خودرا خود حل نمایم...

جنگ سر ما تحمیل شده... دوازده جنگ... در جنگ اخیر که موقع خوبی بود که انتقام بگیریم، شرکت نکردیم...

ربانی همه تعهدات را نقض نمود،پشاور... اسلام اباد و... ما گفتیم که جنبش نیست، مساله حل نمیشود، باز هم امضا نمودیم، کمیسیون های اداره پنج وزارت را ربانی پذیرفت ولی عملی نکرد، دو صد هزار نفر مسلح از وزارت دفاع اعاشه می شود، معاش میگرد، همه از یک

(c) ketabton.com: The Digital Library

منطقه و تنظیم...

این که ملیشه است و آن ملیشه است بهانه است، بابه جان کیست، دلاور کیست...؟ ما مانع ایجاد نمیکنیم، از راولپندی ما را حذف نمود، میتوانیستم در بامیان دولت اعلان کنیم، کارمل و نجیب مسلسل پشنهاد میکرد که هزاره جات را خود مختاری میدهیم ولی ما نکردیم، میتوانیستم جلو حضرت صاحب رابگیریم ولی نکردیم.

خدمت حقانی صاحب احترامی که داریم ملاحظات خود را تقدیم میداریم.

طرح قوماندانان کابل عملی نیست... مساله کابل، مساله یک ولایت نیست، سرنوشت در خوست و جلال آباد تعیین نمیشود در کابل تعین می شود...

باید حکومت قابل قبول و قانع کننده ائتلافی بمیان آید، اردوی ملی اسلامی تشکیل شود، دولت موقت بیطرف توطئه است... ما در موضوع سیاسی رعایت نداریم، سیاسی باید ریشه یی حل شود... باید دولت ائتلافی تشکیل شود، انحصار طلبی نباشد، حکومت بیطرف بمعنای حکومت غربیها است، اگر حکومت غربیها راقبول کنیم ابروی جهاد میرود...

ربانی (۱۲۰۰) ملیارد افغانی بدون پشتوانه در روسیه چاپ کرده،... حکمتیار و ربانی که طرح قوماندانان کابل رامیپذیرد، اهداف سیاسی خود دارد ولی عملی نیست، شعار سیاسی از شعار اعتقادی فرق میکند.

داکتر اعظم: معنای حکومت بیطرف این که درجنگ درگیر نباشد، نه اینکه از غربیها... شورای غیر تنظیمی ممثل ملت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ماسپښين لمانځه وخت شو، د ځينو سترګو کې پوښتنې ګرځېدې، چې بې ځوابه پاتې شوې، څادر وغوړېدل، صفونه ودرېدل، ښاغلي مزاري حقاني صاحب ته د امامت وويل، شاعر ملايي وړاندې کړ، څوک لاس په نامه، د چا څرېدلي، ټول يوه صف يوه ليکه کې.

له لمانځه وروسته له سره خبرې پيل شوې چې د مخکښو هغو په تفصيل او تشريح ګرځېدې... د حقاني صاحب له اړخه د بيطرفه موقت حکومت ممثلې شورا، د کابل د ناپوځي کېدو، امنيت د کابل قوماندانانو ته د سپارل کېدو، دايمي اوربند دلارو خلاصېدو او مناسب او مساعد وخت کې د منتخبې شورا او حکومت پر جوړېدو او د مزاري صاحب لخوا د قابل قبول، ائتلافي حکومت او ملي اسلامي اردو رامنځ ته کېدو...

د ژمي مازيګر خورا لنډ را رسيږي... يو ځل بيا د لمانځه تابيا ونيول شوه، څادر وغوړېدل، صفونه ودرېدل، حقاني صاحب څنګ ته ولاړ يو شعيه ملا وړاندې کړ...

له وروستي او غوڅې پايلې پرته د تلو پرېکړه وشوه.

مزاري صاحب روژه ماتي ته ټينګ شو، د مخه ښي لاسونه وغزېدل... ما در خدمت هستيم... مسأله حل نظامی ندارد... ټکو رخصت شوو.

ملي اردو به څوک جوړوي، ائتلافي حکومت کې واک په کوم معيار ويشل کېدای شي چې قابل قبول بڼه رامنځ ته کړای شي؟

حقيقت کې د جګړو شر ائتلافونو رامنځ ته کړی، ډلبنديو عذاب غوړولی.

چې ائتلافونه په سياسي کچه نه د ژبې، مذهب، سيمې په بنياد

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزېدلی، خورا خطرناک...

سوله او جوړه ځرنګه رامنځ ته کېدای شي...؟

په زور سوله نه کیږي، لکه په زور چې کلي نه کیږي، دلته د زور هوس سرته ختلی، د سولې مخه یې ډب ده.

ځکه خو حقاني صاحب د جرګې کچکول تش ګرځوي، چې دا خلک په نرخ او کانې نه شي پوهېدای، پر جرګو معتقد نه دي، پر وطن او ملي ګټو یې ایمان وار له مخه زیانېدلی.

سوله په زور نه کیږي، خو په زاریو هم نشي ترلاسه کېدای، جرګه له ښکیلو غاړو یو اهلیت غواړي، چې ما دلته ونشوی لیدای، کوم چې زموږ د کلیو ولسونو عام او نالوستي یې ښوولی شي، او هغه پر بدیو د پوهېدو هغه دی، چې لکه آرټ دولسي دپلوماسي منطق ګرځېدلی، ځوک چې له دغه هنر بې برخې شي، پر سترګو یې د جاهلیت پردې وغوړیږي، د لوستو جاهلانو د لښکر جنګیالي ترې جوړ کړي.

ږښتیا دا چې ماته ددغه وړیو د شړی کولو خوب بې تعبیره ښکاري...

لکه ډېر تنګ شوی یم...

آیا مالکان باز هم میخواهند غلامان منحوس شان را
برای هزار و یکمین بار سر میز مذاکره بنشانند؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خبرو ترجمه

له حکمتيار صاحب سره چهار اسيا کې په يوه اوږده کوټه کې په کوچونو ناست يوو، مولوي عبدالرحيم اخوندزاده، مولوی نظام الدين حقاني او حاجي مالي خان گربز هم له حقاني صاحب سره ملگري دي...

حکمتيار صاحب د کابل راډيو، ټلويزيون تبليغاتو او پروپاگند ته گوته ونيوه، چې د حزب مجاهدين د گلبدين او دوستم د ملېشو په نامه يادوي، په ده او حزب پسې ناروا تبليغات کوي، سپورې ستوغې وايي: دده په وينا له دغسې تبليغاتو سره څرنگه کېدی شي سوله ټينگه کړی شي...

په خبرو خبرو کې حکمتيار د صلاح الدين نوم واخيست، عبدالرحيم اخوندزاده د صلاح الدين پوښتنه وکړه، حکمتيار صاحب ويل زما زوی چې سعودي کې لوست وايي...

عبدالرحيم اخوندزاده ورته کړه: شه ستا هم صلاح الدين دی-(د استاد رباني مشر زوی هم صلاح الدين نومېږي)

حاجي مالي خان گربز حکمتيار صاحب ته پخپله لهجه لگيا دی: ميژ وې ته دولته ته نوست يې، هلته اشځه نوسته ده، (مطلب يې دا و چې دلته ته صدر اعظم وې، پاکستان کې بينظير بوټو..) وشه خبره دو ده چې ميژ غوشتل هغې شځې ته کم رو نشو، ميژ خو په پوله ايسو-پوکستون ته کيز نشو کتی...

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاجي مالي خان پر حکمتيار صاحب پرله پسې نيوکې وکړې، په هغو تکو چې نه رباني مسعود او نه دی د افغانستان د واکمنی او مجاهدينو د قيادت ظرفيت لرلی شي... د مالي خان خبرو کې ولسي منطق د خپلې برلاسی جنډه رپوله، حکمتيار صاحب پټه خوله وه، د مالي خان د خبر په څواب کې يې وويل: د حاجي صاحب خبرې به ماته څوک ترجمه کړي؟- زه خو د ده په خبرو پوه نه شوم، چې ده څه وويل؟ زما په زړه کې وګرځېده، د خپل ولس په ژبه نه پوهېدل عيب دی، که جرم او کمزوري....؟ خو ما کې دومره جرآت له کومه شو....؟

الساکت عن الحق شيطان اخرس...

جنرال دوستم ته نوی وړاندیز:

حل او عقد چا نشوای منلی، تر دې چې دوستم او مزاري هم ورسره غاړه نه شوی وړی.

رباني په دوستم پسې موسی توانا (دی وروسته دوستم سره يوځای شو) ورولېږه، د ده په خوله يې دوستم ته پيغام ورکړ، چې صلاح الدين ورته ښکاري، د افغانستان تاريخ کې د لومړي ځل لپاره موقع لاس ته راغلي، چې د شمال لږکيو ته زرين چانس ګرځېدی شي، بايد دا موقع ضايع نه کړو، اوس چې د شمال تاجکو، ازبکو د نجيب رژيم نسکور کړ، يو ويار يې په برخه شو، ځينې غواړي د جنوب پښتانه بيا واکمن شي، چې دا ويار برباد کړي، دا ذهنيت رامينځته کړي، چې ګڼې مور د قيادت او واکمنی وړتيا نه لرو، بېرته مو پخواني محکوميت ته ورټېل وهي، له ما چې کوم امتياز غواړئ، زه چمتو يم، دغسې يوه خبره استاد رباني صدر اعظم فريد ته هم کړې وه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

((...گوره الله تعالی یو چانس مورِ ته برابر کړی، ته صدر اعظم یې، زه جمهور رییس او مسعود دفاع وزیر، ټول واک له تاجکو سره دی، د حکمتیار لار د جګړو او ماجراوو لار ده، ته د یوه مستقل شخصیت په توګه عمل وکړه، تر هغې چې مورِ یو، ته به صدر اعظم وې...))



بسم الله الرحمن الرحیم

محترم سترجنرال عبدالرشید دوستم

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ولیدا!

دعا میکنم با عموم برادران صحت درستی باشید

شاید حرفهای زیادی را به شما رسانیده باشند اما

یقین دارم فریب و نیرنگ درک کرده نمیتوانند

هرگز شما را از پهلوی خود نمی خواهم برای یک لحظه

دور به بینم ، حرفهایم اگر فرزند مؤمن و مصلح من

گفته زندگانی تا آخر میکنم ، و در صورتیکه شما با برادران

مسعود به حضور من می نشینید همه مسائل را فیصله میکنم

بطمئن باشید

۷۶/۱۲/۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوستم او کيان حل او عقد ته خپل استازي وليږل، خو حزب وحدت له نظار شورا سره د افشار، چنداول، او جمال مېنې جګړو له حل او عقد ليرې وساته.

مزاري دوستم ته مخابره کې له عليک سليک وروسته وويل:

مزاری: خبر شوم حل او عقد شورا کې برخه اخلئ، مونږ خو د يو بل متحدين وو، نظار شورا زمونږ پر ضد په هېڅ وحشت درېغه ونه کړه...

دوستم: سپين ږيري «استاد رباني» يو پلاوی رالېږلی، زمونږ ټولې غونښتنې يې منلې، بيا مو نسيم مهدي کابل ته ولېږه، دی به تاسې سره هم وګوري.

مزاری: له مهدي سره به خبرې وکړو، خو تاسې حل او عقد ته د خپل استازي ليږل وځنډوئ، د دې پر ځای دې له حکمتيار سره د خبرو مخه پرانيستل شي.

دوستم: سمه ده مهدي سره به خبرې وکړئ، خو چې داسې ونه شي، چې نجيب زمونږ تاسې محرومو مليتونو رانسکور کړ، دا ويار مو له لاسه ووځي، بيا دا خبره را پورته شي، چې يوازې يو مخصوص قام حکومت کولای شي او مونږ د حکومت کفايت نه لرو.

مزاري: ستاسې نظر سم دی، خو د شمال او جنوب په وېش خبره نه اوارېږي، بايد يوه معقوله تجربه رامينځته کړو.

د تخريبي هڅو مرګونې بېلګه:

لکه وړاندې يادې شوه دواړه غاړې د يو بل مشرانو له منځه وړو لپاره پيسې ښندي، د جنګي کرښو د اکمال لپاره لکونه ډالر بادوي د يوې بلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غاړې قوماندانانو ته يې د پيسو ورخونه ورمات کړي.

د جګړې کرښې ډېرى قوماندانان له بلې غاړې پيسې اخلي، حکمتيار، د مسعود او مسعود د حکمتيار د مينځه وړلو لپاره د پټو عملياتو او جاسوسۍ لپاره پيسې لګوي.

محمد يونس قانوني دغسې فعاليتونو له امله يوه چاودنه کې ټپي شو.

د دغو پيسو ډېرى برخه په چل او دوکه وهل کېږي، د ښکېلو غاړو د مشرانو له منځه وړو ته خيالي پلانونه او نقشې وړاندې کوي، په دې توګه له حکمتيار او مسعود بې دريغه پيسې ځي.

ځرخي پله کې مې ډګروال سيد نعيم په نوي ځېره کې موند، حالات بدل ښکارېدل، له پاچا صاحب سره سترې مشې کې مې پر زړه وخوړه چې کومې لړزوونکې پرمختيا خپل سيورى رارسولى.

پاچا صاحب کيسه د ټوکو په بڼه پيل کړه: د ده په وينا پر دې خواشينى نه دى چې چاودنې به وژلي وو، بلکې پر دې خپه دى چې ستا پښه به ننګرهار او زما لاس وردګو ته وړل شوى و...

د جنرال (.....) دوه ياوران (.....) او (.....) له ښاغلي مسعود سره نژدې اړيکې لرلې له دوى يې يو (.....) د سيمه ييز تړاو له امله له حقاني صاحب سره هم راشه درشه لرله، په را وروسته کې د مسعود او حقاني ترمنځ اړيکې د دوى په مټ ټينګېدې....

ځرنګه چې حقاني صاحب د سولې په هڅو کې د موټرو له کتار سره چهار اسياب ته ځي راځي، که د دغه کاروان کوم موټر کې چاودونکي توکي او بمونه ځاى پر ځاى او چهار اسياب کې له حکمتيار سره د ملاقات پر وخت وچول شي... په يوه غشي دوه ښکاره ويشتلى او دواړو له شره خلاصېداى شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی یو ځل له ما د کوم ناروغ په پلمه موټر وغوښت، بیا یې له ضابط عمرخان د هغه موټر غوښتی و، تر هغې چې د یوه موټر په ترلاسه کولو توانېدلي وو، موټر کې یې پنځه ویشت کیلو ګرامه چاودونکي توکي او بارود په خورا مهارت ځای پر ځای کړي وو، تصادف ته ګوره چې موټر حقاني صاحب تر جلال اباد له ملایانو سره ولیږه، په سروبي کې د قوماندان زرداد زړه په موټر ورغی، خو چې کتل یې موټر له بارودو او چاودونکو توکیو ډک دی، په دې توګه دغه توطئه شنډه کړی شوه، که نه شونې وه حکمتیار، حقاني له ګڼو کسانو سره له منځه تللی وی...

ښکېلو غاړو د یو بل پرضد دغسې پټو ښکاره هڅو کې نه د بېګنا کسانو مرګ ژوبلې ته کتل نه انساني ضایعاتو او عواطفو ته، دا چونګ له خرواړه د یوې پېښې یادونه وه، دغسې لسګونه هڅې د جګړې اړخونو د یو بل پرضد ترسره کړې، په ملیونونو ډالر یې لګولي او ځینو مکارو دېره مارو تري په بډه وهلي دي...

له سختو جګړو وروسته دواړو غاړو د دریو ورځو لپاره اوربند اعلان کړ، چې بهرني اتباع له کابل ووتلی شي، خو د کابل بې دفاع اوسېدونکی په ډېره بې دردی د دغې جګړې قربانیان ګرځېدل، د دوی لپاره چا د اوربند اړتیا نه شوی لیدی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

فطرت

په حديث شريف کې راغلي: ماشوم د اسلام له فطرت سره نړۍ ته راځي، دا مور او پلار دی چې له هغه يهودي، نصراني، مجوسي... جوړوي. هېڅوک له موره مجرم نه دی زېږېدلی، دا حالات، چاپېريال او نظامونه دي چې د غل، ډاکو، قاتل او بدماش نوم ورپورې کړي، مجرم يې ورګرځوي، ګلم جم، ټوپکي يې کړي، د خلکو په سرو کې ميخونه ټک وهي، په ژوندوني يې سترګې باسي، پوزه غوږونه يې پرې کوي، کورونه يې لوټي، پر عزت، مال او ناموس يې بلوسي...

هو! هر زوکړی د ربنتيا له فطرت سره نړۍ ته راځي، داسې چې نه غل وي، نه ډاکو، نه قاتل او بدماش... خو وخت او حالات ترې قاتل، ډاکو او بدماش جوړ کړي، بيا خپل ورور وژني، د خپل کليوال پر سينه د کلاشينکوف ججوره تشوي، خپل خلک او هېواد فتحه کوي...

د روسانو له تېري وړاندې دوستم د تفحصاتو يو خاموش کارګر و، اسدالله سروري او... ښايي په چا کله لاس هم نه وي، پورته کړی، خو اوس نه په جګړو مړېږي، نه يې په وينو تويولو او لوټماريو هوسونه خړوبېدل...

هغه چې د قوماندان او ملېشه په نامه يې وېره ترهه په زړونو غوړولې، له دې وړاندې يې زمونږ منځ کې د ژوند ګډه مندې وهله، نه توپير و نه برتري...

ايډيالوژی، د واک سيالي او سياستونه دي چې خلک له يو بل ليرې کوي، دوستان په دښمنانو اړوي، د يو بل پر وړاندې يې وسلې پورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولو ته دروي، د دین، ژبې، مذهب او ... په نامه يې ديوالونه ترمنځ دروي.

د ثور له کودتا وړاندې زمونږ يو کليوال علی مرجان له ټولو نيک خويه، منلي او خواخوږی ځوان يادېده، خو له کودتا د يوې اوونۍ په تېرېدو مرجان پر ځان بل پوست وغواړاوه، بيا هغه مينه ناک مرجان چا ونه ليد، مرجان د ډار او وېرې نوم وگرځېده...

مرجان اوس چېرې دی...؟ مړ به وي که ژوندی، يو وار بيا به مرجان خپلو منځو کې هماغسې خوږ او زړو ته نژدې ووينو...

چې هېڅوک له ځايه ظالم او سخت زړی نه وي، زوکړی.

تريخ حقيقت:

ربړه د يوه بل اړخ په حذف او نفې نشي اورېدای... کمونستانو له ځان او خپلې ايډيالوژۍ پرته پر هر څه چليپا تېروله...

تنظيمو خپله منگول کې د واک انحصار غوښت، د ځان لپاره د اقتدار هرې بيې ته چمتو وو... د هر چا خپله جگړه، خپله سوله، خپل اواری، خپله روا ناروا وه... هغه وه چې ټول پر نولسو گونډه شول... د دښمنۍ بيه او د دوستۍ قيمت نښايي دومره لوړ نه اوسي چې سړی دېوالیه او د پولۍ ټک ته کېنوي...

د رژيم له پاتې شونو او جنرال دوستم سره دومره مخالفت پلمه ده که واقعيت...؟ پلمه ځکه چې هرې غاړې خپل ځنگ کې د رژيم ولاړ افراد پاک او د بلې غاړې ناولي بلل...

ډاکټر حنيف ته وايم نښه نه وه دوستم يو حقيقت پېژندل شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وای... تریخ حقیقت...؟ چې شدید او ږوند مخالفت تپنې ته مخه پرانیزي... راته وایي، ته هر درې کاله پس یو حقیقت راباسې... افغان ملت هم ستا حقیقت و... ظاهر شاه هم ستا حقیقت و، څه شول...؟

تاته د خپلو حقیقتونو لالهاندي در پېښه ده... زه غلی یم، ځواب نه لرم که جرئت...؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د محمود میستري او حقاني ملاقات

د محمود میستري، لومړني لیده له حقاني صاحب سره انټرکانټیننټال هوټل کې پلان شوی دی.

له ښه بخته د میستري لیدو ته په وخت ورسېدو، دوه درې واړه بیا هم حقاني صاحب او د علماوو شورا ځینو غړیو سره میستري وکتل، د میستري لیدو ته په روانېدو به ملایان اودسونو پسې ولګېدل، د ملا ایسته ټپرېدل، اودس وچېدل او بیا اودسونه د اوښ غوو دي...

تر هوټل تګ اسان نه دی، که څه هم په دغو شپو ورځو کې اوربند دی، خو لاره خطرناکه او حالات ترینګلي دي.

تر هغې چې ملایانو نصوار اچول، یوه بله خوا ایسته ټپرېدل، بیا یې په ولاړه او ځانګړو حرکتو اودس وچاوه او بیا له سره اودسو تازه کولو د ملاقات پر وخت ګېنټه نیمه اړوله.

لار د نظار شورا وسله والو نیولې، څلور لارو او واټونو کې له نورو ورځو زیات ټانکونه او وسله وال تر سترګو کېږي، چې د سګریټیو په ډکولو او فقیر بوټي په دودولو بوخت دي، تنکي ژنې چې لا یې شونډې نه دې تورې وسلې په لاس ولاړ دي، دوی لویې عسکري دریشې اغوستې، ګنې د میستري هرکلي ته یې منظم پوځ درولی، خو په دغسې یونیفورم کې له پخوا زیات مسخره ښکارېدل، داسې معلومېده، د څو هېوادو پوځیان راغوند دي.

مزمل صاحب ته مې کړه: د استاد ربّاني پوځ ته ګوره، په څونې ټینګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسپلین یې د میستري هرکلي ته درولي دي...؟

مزمل راته کړه، مستریان هم خیرن خچن وي...

(انټر کانټینینټال) لکه د کابل سرایونو کرایي کوټو داسې بڼه لرله، له دویم پوړ یې د تشنابو اوبه څاڅي، د سرویس او خدمتونو درک نه شته، کوټو کې قوماندان، باډیګارډان او خپلوان دېره دي.

نیم ساعت موږ لابي کې بې پوښتنې ناست یو، حقاني صاحب د چای وویل، د ارمونیې تورو چای جوشو کې یې چای کېښود، ګیلاسونه خیرن وو، بل یې د دوو نیمو لکو افغانیو راوړ، محمود میستري هم راورسېد.

حقاني صاحب د سولې په اړه خپل پلان وړاندې کړ او په دې اړه یې د خپلو فعالیتونو، ستونزو او ګوانښونو یادونه وکړه، حقاني صاحب لومړی په عربي د میستري هرکلی وکړ، نوره وینا یې پښتو وکړه، چې ډاکټر فاروق اعظم پر انګرېزي ژباړله.

حقاني صاحب وویل: که څه هم دغه حکومت د ناقصې او نیمګړې طرحې له مخې جوړ شوی، خو که اوس راتلونکی شورا په ازاده او خپلواکه کچه جوړه شي، اواری رامینځته کېدای شي، ځکه خو د راتلونکي حکومت د ټاکنې لپاره جوړېدونکې شورا کې باید د زور او زرو د نفوذ مخه نیول شوې وي، خلک باید د خپلو استازو د غوراوي پوره حق ولري.

حقاني صاحب له محمود میستري مننه وکړه، چې د مسلمانانو ترمنځ د سولې لپاره راغلی، او د اصلاحي شورا د فعالیتونو او لاس ته راوړنو په هکله یې هم معلومات ورکړل.

میستري د حقاني صاحب د وینا او هلو ځلو ستاینه وکړه، د ده طرحه یې تایید او خپله وبلله، ده وویل له نورو اړخونو سره له کتلو به

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګډه د وروستي حل پر پلان کار وکړي، چې افغانستان د جګړو او ویجاړیو له خونړیو منګولو وژغورل شي.

محمود میستري له ښاغلي حقاني مننه وکړه، چې په واضحه عربي یې خبرې وکړې، ده وویل د حقاني صاحب وینا ماته خوند راکړ، تاسې ښه ملګري راټول کړي، چې ستاسې وینا یې په انګلیسي وژباړله، څرنګه چې زما ملګري په عربي نه پوهیږي، زه به په انګلیسي خبرې وکړم، تشکر کوم چې ماته د خبرو موقع راکوئ، تاسې او ستاسې ملګري چې په دغو سختو شرایطو کې غواړئ د هېواد د نجات لپاره لار پیدا کړئ، د قدر وړ دي، لکه تاسې چې وویل مونږ ربنتیا هم د سولې لپاره راغلي یو، تاسې ډېر تلاش کړی چې سوله راشي، امنیت ټینګ شي، زه د ملګرو ملتو د امنیت شورا له خوا مؤظف شوی یم، ستاسې خبرې واورم افراد، ډلې او تنظیمونه وګورم، خوشاله شوم چې ستاسې خبرې مې واوریدې، زمونږ هیله ده دا اوربند اوږد او دایمي شي. نن سهار مونږ ښاغلی رباني ولید، د اوربند په اړه د هغه ځواب مثبت و.

د سولې په اړه چې تاسې خپل پلان تشریح کړ، پر هغې خوشاله شوو، چې ډېر مثبت اړخونه لري، ستاسې نظریات عملي او مونږ ته نژدې ښکاري، مونږ یې خپل نظر کې نیسو او پخپل رپوټ کې به ځای ورکړو.

افغانان مغرور او سرشاره قام دی، چې خپل نظریات ژر نه شي بدلولی، خو تاسې د یوه افغان په توګه په دې برخه کې اغېزمن رول لرلی شئ، باید د افغانانو په ذریعه دا کار ترسره شي، مونږ بیا راځو او بیا به تاسې سره وګورو، پوښتنې به وکړو، چې له مونږ سره څومره مرسته کولی شئ، زه یو ځل بیا د ملګرو ملتو او خپلې خوا ستاسې او ستاسې له ملګرو مننه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل قومندانانو په استازيتوب قوماندان ارسلا وويل: غواړو د افغانستان کشاله د سولې او خبرو له لارې حل شي، افغانان له جنګ ستړي دي، د دغه جنګ قربانيان د کابل خلك دي، دوی د کابل له قوماندانانو غواړي امنيت يې وساتي، چې دوی يې ورونه زامن دي.

د کابل قومندانانو شورا کې د تنظيمو قومندانان شته خو تنظيمي ګټې يې شاته کړې، د امنيت يوازينۍ لاره دا ده چې کابل غير نظامي شي، وسله وال ځواکونه له کابله ووځي.

حقاني: د کابل قوماندانانو جګړو کې برخه نه ده اخيستې، د سولې له پروسې سره يې همکاري کړې، دا زموږ غوښتنه ده چې جنګي ډلې له کابل ووځي، کابل غير نظامي شي...

ميستري: يو ځل بيا تشکر کوم، تاسې د وطن لپاره وجنګېدی، خو کورنيو جګړو کې مو برخه نه ده اخيستې، دا لار چې تاسې تعقيب کړې، غوره لاره ده، مننه، خدای په امان.

د ميستري په راتلو د اوربند، له امله د هوتخيلو، قابل بای او نورو برخو لیږدېدلي خلک د خپلو مېنو، کورو ليدو ته ورغلي، خو ملېشو دغو کورو کې ماينونه ايښي، چې يو شمېر بېګناه هېوادوال په کې والوتل.

پر سبا يې قوماندان انور ډنګر شکر دره کې مېلمانه کړو، دی له خپلو جنګيالیو سره څرخي پله ته راغلی و، له جنګيالیو سره يې چلند د ملګرتيا وو، د تلو په وخت کې يې ورته کړه: مينډې مو وغيم، لږ د سړي زامن شئ، په داسې ځايو کې لږ سړيتوب کوئ، قدر مې کړی...

له انور ډنګر د ډاکتر نجيب زړه تک شين و، چې د شمالي لار به يې ترله- ډاکتر به د شمالي خلکو ته ويل چې د ډنګر له لاسه ستاسې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

انګورو حاصلات په وخت مارکیټ ته نه شي رسېدی، دی سم کړی چې لار بنده نکړي، بیا یې یو بل سړک وغځاوه، خو انور ډنګر به هغه ته هم ځان رساوه.

ده شکر دره کې یوه ښایسته مانۍ رغولې، کړکیو ته یې رنګینې پردې نیولې، قیمتي کوچونه یې اینبي دا بڼ به د چا ملکیت و، غصب کړی به یې و، که یې رانیولی، ماته داسې ښکارېده، د پخواني پاچا د کورنۍ ملکیت وي، ښایي پر ده یې پلورلی وي، یا یې په زور لاندې کړی وي.

(والله اعلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حل او عقد ډرامې تمثیل

د لیندۍ پر ۸ مه حل او عقد شورا له ټاکلې نېټې لس ورځې وروسته دایره او پر دویمه ورځ یې یوازینی کاندید برهان الدین رباني د جمهور رئیس په توګه اعلان کړ.

د حل او عقد شورا په اړه د تعبیرونو له اړخه له اوله اختلاف موجود و، ځینو حل او عقد او لویه جرګه په یوه مفهوم او معنا استعمالوله، ځینو به بېلا بېلې معناګانې او مفاهیم ورته کارول، خو دا ښکاره خبره ده، چې دې ټکي د خپل ثقلت له مخې ډېرو ته د ویلو پر وخت مشکلات پیدا کړي وو، د یو څو رهبرانو او د هغوی مرستیالانو خو له رادیوګانو سره مرکو کې په دې ټکي ژبې کلکې ننښتې، انجینر احمد شاه یوه مصاحبه کې د حل او عقد په ځای عل او عقد کلمه وویله، د عین او ح - ق او دال ټکي یې ګډوډ او ژوول، سیاف صاحب خو بیا عقد او حل تلفظ کاوه، چې اول غوټه ده او بیا یې پرانیستل، خو دا غوټه همداسې غوټه پاتې شوه چا خلاصه نه کړه.

۱۳۶۹ لمریز کې د مجددي او سیاف په مشرتابه د مجاهدینو عبوري حکومت سترې محکمې لویه جرګه منتخب اسلامي حل "و عقد افغانستان" په نامه یو معجون مرکب جوړښت په اعلان ۴۴ مادو کې یو قانون رامنځ ته کړ... د دغه قانون لومړي فصل کې چې د مجاهد، مهاجر، قوماندان، عالم، موسفید لپاره ځانګړی تعریف وړاندې شوی د اهل حل او عقد په پېژندنه کې کاږي: اهل حل وعقد عبارت از اشخاص

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیکو، صاحب رای هستند که مرجع حل و فصل قضایای مردم باشد، از منکرات و گناه پاک ومنزه پنداشته شود...

در جهاد مقدس سهم گرفته باشد، اقارب نزدیکش (پدر پسر، برادر) در مقامات بلند پایه دولت ملحد، ریاست یا بالا تر از آن یا دستگا خاد مصروف کار نباشد، فهم مناسب دینی داشته به امانت، تقوی وعدل متصف بوده به فسق وفساد مشهور نباشد و شعائر اسلامي را رعایت داشته باشد، منسوب به گروهای منحرف سیاسي نباشد، علیه جهاد مقدس موقف نگرفته باشد، اشخاصیکه بعد از اخراج قشون سرخ از وطن از صف دولت ملحد خارج شده اند منتخب شده نمیتواند...

سیاف صاحب د لویې جرګې پر مخالفت له پخوا ولاړ و، د ده په اند لویه جرګه کې ارذال هم راتلی شي، خو حل او عقد ته بیا تزکیه شوی او یوازې پاک کسان مخه مونداى شي.

خو دلته یې له خپل تصویب کړي قانون په انحراف لویه جرګه منتخب حذف او د حل او عقد پرځای د پول نقد ډرامه پروډیوس کړه...

حل او عقد شورا بې له دې چې اتفاقي بڼه غوره او د جمهور رئیس د ټاکنې ظرفیت او صلاحیت ولرلی شي، په ناقصه توګه دایره شوه.

د شورا په مقدماتې غونډه کې سید نور الله عماد اعلان وکړ، چې رهبران په دې موافق دي، چې شورا کې برخه واخلي، هغوی را روان دي، ممکن سبا راورسېږي، خو داسې نه وه، له سیاف پرته ټولو ورسره مقاطعه اعلان کړې وه، د کندهار، ارزګان، هلمند او زابل نمایندګان د دې لپاره چې سیاف صاحب د شورا له ترکیب، جوړښت او طرز العمل سره د هغوی له مخالفت خبر وو، د خپل ملاقات په پلمه پغمان ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library

بللو نظر بند کړل، د هغوی غیاب کې یې په هماغه ناقصه توګه شورا دایره کړه، له بلې خوا یو شمېر نور نمایندګان هم له شورا څخه په دغه ورځ د باندې پاتې شول او د هغوی په ځای خپله د دولت وزیران او نور کارمندان د شورا تالار کې کېنول شول او بې له دې چې د دولت ریاست ته د کاندیدانو نومونه د هغوی له پروګرامونو او برنامو سره خلکو ته ورسېږي او ولس په دې رابطه خپلې سپارښتنې او مشورې نمایندګانو ته ورکړي، په داسې حال کې چې موجودو نمایندګانو ته هم د خپلو نظریاتو، پېشنهادونو او غونډتنو وړاندې کولو حق او وخت نه و، د انتخاباتو په رابطه د ټولو ملي، بین المللي او شرعي نورمونو پرخلاف له یوه ډرامایي حرکت سره په تالار کې یواځینی کاندید د هېواد جمهور رئیس په توګه اعلان کړای شو، کله چې ځینو نمایندګانو اعتراض وکړ، چې له رای ګیرۍ مخکې باید نمایندګانو ته د خپلو نظریاتو د اظهار او وینا حق ورکړی شي، سید نورالله عماد وویل، لومړی به رای ګیري کېږي، بیا به نمایندګانو ته د خبرو حق ورکول کېږي، په دې معنا چې لومړی به رباني جمهور رئیس ټاکي، هله د نظر د اظهار او خبرو حق او وخت پیدا کولی شي.

د حل او عقد شورا دایره شوه، د علماوو اتحاد له منشي مولوي سعیدالرحمن نه راواخله تر مولوي محمد میر، مولوي فضل هادي شینواري او ګڼو نورو علماوو د شورا د تالار بنکلا ګرځېدلي وو، بېچاره ذاکري صاحب او څو نور ملایان یې په ځای پرېښې وو، پته به هله ورته ولګي چې فتواګانې انتقادي پېشنهادونه وینا وې یې ټولې له نومونو لاسلیکونو سره مجله کې خپرې کړم.

په تالار کې خورا یخنۍ وه، نه د برېښنا درک و او نه هم د تسخین د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کومې بلې وسیلې، کله چې نمایندګان تالار ته ننوتل، دروازې وتړل شوې او نژدې دوه ساعته په تالار کې محبوس وساتل شول.

انجینر احمد شاه احمدزی د ستېج په مخ کې ودرېد ویې ویل: مشران را روان دي، لږ انتظار به نور وکړو، له ما سره د اذکارو ډېر نبنه کتاب دی، زه به یې لولم، تاسې یې راسره تکراروئ، ډېر ثواب لري.

بسم الله الرحمن الرحیم

دولت اسلامی افغانستان

علماء و قوماندانهای محترم

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وبعد !

چنانچه اطلاع دارید درشرایط کنونی عزیزما وارد مرحله حساس وفیصله کن گردیده است، باید درکشور عزیز مادولت مستقرو مستحکم بمیان آید. کشت وکشتهای خونین بدامنی ها خاتمه یابد ، همه مردم مطابق به احکام الهی درفضای صلح و اخوت بسربرند ، افغانستان ویران بعد از آزادی با یدآباد گردد ، راه ها امن و مشکلات ملت محروم و زجرکشیده ما حل گردد قانون اساسی کشور که بر اساس قرآن و سنت تدوین میگردد برای تصویب آماده گردد حقوق و وجایب همه روشن گردد ، ظلم و بیعدالتی ومحرومیت ها برچیده شود برای رسیدن به این امال والا باید بر مبنای هدایت رب العالمین که می فرماید «وامرهم شوری بینهم» علماء قوماندانان دانشمندان و اهل الرای از سر تاسر کشور درچوکات شورای اهل الحل و العقد که در اصطلاح معروف لویه جرګه یادمی شود همه درمرکز افغانستان شهر کابل جمع شوند تا در موردزعامت اینده کشور تصمیم بگیرند .

و از آنجا که تشکیل دولت اسلامی و تعیین زعامت ورهبری برای کشور یک فریضه دینی است، و تعیین زعامت بدون تشکیل شوری صورت نمیگیرد پس مطابق به قاعده اصولی تشکیل شوری «مالایتم الواجب الا به فهو واجب» یک وجیبه دینی است، ودر عین حال نص صریح قرآن کریم که می فرماید :«و امرهم شوری بینهم» اینهمه میرساند که باید به هرصورت ممکن مردم مادر تشکیل این شوری اقدام عاجل بعمل آورده اجازه ندهند دستهای تخریب ما را از ادای این فریضه دینی باز دارد .

یقین دارم ملت متدین ما با هوشیاری درشرایط حساس کنونی مانع هردسیسه خواهند شد ، و شورای بزرگ وسرنوشت ساز خویش را درموعد مقرر تشکیل خواهند داد و خود را از انجام این امردینی محروم نخواهندساخت. خداوندحافظ ونگهدار همه باد.

والسلام علیکم ورحة الله

برادرتان

برهان الدین ربانی

رئیس شورای رهبری ورئیس دولت اسلامی افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تالار دننه او بهر وسله وال ګوته په ماشه ولاړ وو، داسې معلومېده لکه د جاسوسۍ يوه خطرناکه شبکه د څار او تعقيب لپاره په سختو پوليسي فعاليتونو بوخته وي، هر نماينده له دوو زياتو څارونکو له خوا تعقيب کېده، د ببرک او نجيب لويې جرګې به هم دومره سانسور او پوليسي نظام تر کنټرول لاندې نه وي دايرې شوې.

وضعه نه يوازې دا چې له اختناق ډکه وه، بلکې د نمايند ګانو د تحقير او سپکاوي ښکارندوی هم وه،له دوو ساعتو زيات نمايندګان تر ټرل شويو دروازو دننه قيد وو.

بندیز او ګرځېنديز دومره کلک و، چې چاته د قضای حاجت اجازه هم نه ورکول کېده، تشنابو ته څوک نشوای وتلی، چې له امله د ځينو سپين ږيرو او بوډاګانو پرتوګونه لانده شول...

مولوي نظام الدين حقاني د رايې ورکولو په طرز العمل اعتراض وکړ، خو د واکمنو بړيڅو له يوې او بلې خوا چغې کړې او د (ملای اخلالګر) په چغو يې داسې يوه هنګامه جوړه کړه، چې د مولوي نظام الدين حقاني اعتراض چا نه شوی اورېدای.

له همدې ځايه وه، چې مولوي نظام الدين حقاني او يو شمېر نمايندګانو له تالار د احتجاج په عنوان د وتلو هڅه وکړه، که څه هم د دوی مخه ونيول شوه او وسله وال کسان د تالار په دروازو کې ګوته په ماشه ودرېدل، خو له مولوي نظام الدين حقاني سره يو شمېر نمايندګانو د شرم دا داغ له خپلو ځانو لېرې او له تالاره په وتو ټريالي شول، په تالار کې دوه صندوقه کېښودل شول، چې په يوه د رباني صاحب رنګين تصوير لګېدلی، په داسې حال کې چې په تالار کې د کابينې غړي د کميسيون هيئت او ډېری هغه افراد، چې واکمنو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولتي ادارو او خپلو متعهدينو راټول کړي وو، د رباني صندوق ډك او بل چې کانديد يې معلوم نه و، کومه پاڼه راونه وته، په دې توګه د حل او عقد ډرامه د رباني صاحب د انتخاب په اعلان پای ته ورسېده.

د قوس په ۱۱مه کابل راډيو د شپې ۸ بجو خبرو کې وويل: د حل او عقد شورا په ننني غونډه کې د رايو په اتفاق د استاد سياف پر پېشنهاد پرېکړه وشوه، چې له دې وروسته غير اسلامي ډلې ټپلې او افراد په هېڅ نوم او عنوان د نشاط او د فعاليت اجازه نه لري او د پخواني رژيم هېڅ يو لوړ رتبه او حزبي کارمند نه شي کولی د اسلامي دولت په کوم ارګان کې کار وکړي او نور به د پخواني محلد رژيم ټول پاتې شوني له دولتي ادارو ايستل کېږي، د خبر په پای کې استاد سياف پخپل غږ وويل: دغو عناصرو نژدې وه زمونږ د ځوارلس سوه کلن ملت نوم او نښان ورک کړي.

ده د افغانستان تاريخ له ځوارلس سوه کالو د يادولو وړګانه، له دې وړاندې يې د جهالت او کفر زمانه پېژنده، د جهالت او کفر پر ضد مبارزه ده د خپلې ځانګړې فلسفې له مخې غزوله، دا سې چې اول به بېل او کولنګ را اخلې د جهالت، شرک او بدعت نښې نښانې به ړنګوی، بلدوزر به پرې تېروې چې د بت خانې پر سر د مسجد ګومبزه نه شي جوړېدی.

په داسې حال کې چې د ملتونو تاريخ له ادیانو لرغونی وي... تاريخ او نېټه توپير لري... تاريخ دين نه دی...

د قوس ۱۲ مه د سهار له لمانځه وروسته ذاکري صاحب د سياف صاحب په اړه چې دا ټوله ډرامه دده پر پرودیوسری تمثيل شوه، د زړه له ځوښه ښېرا وکړه، چې ټولو لمونځ کوونکو ورسره امين کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقیقت دا و چې که سیاف، رباني، مسعود پر شا نه وای ټپولي، کېدای شوی د شورا له تکمیل، توافق او تزکیې وروسته یو منلی اتفاقي حکومت جوړ شوی وای، حکمتیار د رباني له جمهوري ریاست سره قسما توافق درلود، یواځینی شرط یې د کابینې په ټېره دفاع وزیر تبدیلول و، له بده بخته سیاف د صدارت پر سر د سیاسي سوداګرۍ داسې یوې معاملې ته غاړه کېښوه، چې د صدارت په شمول یې د ډېر څه په بایللو د یوه بل خونړي جنګ اور بل کړ، خو رباني د خپل مرموز طبیعت له مخې د صدارت چوکۍ په داوطلبۍ له ځینو سره په سودا اچولې، چې تر اوسه یې ددغه چوکۍ په تمه د ډېرو خولې چوپ کړي دي، رباني صاحب په یوه ډز دوې مرغې په نښه کولې، له یوې خوا یې د صدارت لپاره ډېر کسان په تمه کړي او د هغوی له مخالفت ځان بېغمه کړی او له بلې خوا یې د صدر اعظم له احتمالي شر نه هم ځان ژغورلی دی.

احمد شاه مسعود الوطن عربي مجلې سره مرکه کې ویلي: د پیر ګیلاني له صدارت سره موافق دی، د مسعود په وینا د ډاکټر نجیب الله په اړه به مشران پرېکړه کوي. پوښتنه دا ده چې د ببرک کارمل په اړه چا پرېکړه وکړه؟

خیرخانه کې د یوې پوځي فرقې په چوني کې مولوی خالص خپل لنډ او ساده فارمول استاد رباني ته وړاندې کړ، په دې ټکو:

یو خواته ستا ملګري دي، دا مو پټېلې حکومت او واک باید تاسې سره وي، بل اړخ ته ټول ملت دی...

دا سمه نه ده چې هم مو د حکومت پر مشرتابه خټه اچولې وي، هم په ټول واک...

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس دوې خبرې دي... دا چې يا مقتدر وزارتونه تاسې واخلی، مشري ملت ته پريږدئ، داسې څوک مشر وټاکو چې ټول ملت ته منلی وي... يا جمهوري رياست ته واخله.. نور وزارتونه به ملت ته ورکړو...

استاد کما في السابق وويل له ملګرو سره به له سلا وروسته ځواب درکړو...

د مولوی مير حمزه په خوله يې احوال دا و چې که مولوی خالص غواړي صدر اعظم شي، موږ ورسره موافق يوو...

مولوي خالص وويل: که دوی دا ډول فکر کوي ستونزې به نورې هم زياتې شي... په دې مانورو ربړه نه شي اوارېدای... مولوی خالص د افندي صاحب په اړه ويلي و، چې پير ګيلاني د افغانستان اصلي اوسېدونکی نه دی... د ده پلار له عراق څخه راغلی، د افغانستان مشرتابه ته نشي کانديدای... خو پير صاحب د استاد رباني له خوا د صدارت په تمه تر مودو خټه خيشته ګرځوله...

استاد سياف او حضرت صاحب هم له دغسې شاليد مستثنا نه دي... استاد ځان سيد بولي او مجددي له سرهند سره پېيلی.

بي - بي - سي له کابل د خپلو خبريالانو د رپوټونو په اساس يوه پروګرام کې د مسلط وضعيت او جګړې په رابطه د خلکو غبرګون داسې څرګند کړ... څو تنو په ژړغوني اواز د ملګرو ملتو پر ضد شعارونه ورکول، چې ولې د افغانستان جګړې او ربړې په اړه له خپل اثر او نفوذ کار نه اخلي، يوه تن په خپل لړزېدلي اواز له ملګرو ملتو غوښتنه وکړه: مسلمان نه غواړو کافر راولېږئ کافر... ځکه چې د مسلمانانو مسلماني ليدلې.

PEACE NEGOTIATIONS
IN PROGRESS —— FOREIGN CAUSE



دووڵس گرامه ماغزه/ ٥٦٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مولوي حقاني درېځ

۱۳۷۱/۱۰/۱۰

له امریکا غږ سره مرکه:

امریکا غږ: ستاسې په مشرۍ د افغانستان علماوو، قوماندانانو او مخورو استاد رباني ته پېشنهاد کړی و، چې قدرت خپل مرستیال ته وسپاري، خو داسې ونه شول او استاد رباني د دوو کالو لپاره د هماغه شورا له خوا انتخاب شو، ستاسې نظر په دې هکله څه دی؟

حقاني: څرنګه چې د استاد تمدید شوې موده هم پای ته رسېدلې وه د شورا د تدویر په هکله له مشرانو سره ملاحظې او انتقادونه موجود وو، موږ غوښتل شورا په واقعي توګه تکمیل او دایره شي او ټول اړخونه شورا کې برخه واخلي، خو استاد رباني دغه پېشنهاد ته چې واک خپل مرستیال ته وسپاري، مثبت ځواب ور نه کړ، هماغه و چې شورا په ناقصه بڼه دایره شوه او پینځو جهادي تنظیمو تحریم کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امریکا غږ: ستاسې نظر د استاد رباني د ټاکنې په هکله څه دی؟

حقاني: زما شخصي نظر دا دی، چې کوم مشکل موجود و، هغه پرځای پاتې دی، امن، استقرار او د قوي منلي حکومت جوړېدل لاس ته رانغلل، که چېرې په واقعي توګه شورا لکه مونږ چې پېشنهاد کړې وه دایره شوې وای، د جګړې مصیبتونه او د عدم استقرار ستونزې به له مینځه تللې وې.

امریکا غږ: ځینې مشران له واکه د استاد رباني ګوښه کېدل غواړي، خپله رباني غواړي په قدرت کې پاتې وي، تاسې څه فکر کوئ، کابل کې به څه پېښ شي؟

حقاني: دواړه جانبه د زور له لارې دا کار تر سره کول غواړي، چې د حل لاره نه ده، باید د خبرو له لارې د حل منځنۍ لار ومومندل شي، داسې چې د مظلوم ملت دغه ستره ارزو سرته ورسېږي او دا جګړې او وینې تویېدل ختم شي، دغه دواړه لارې چې یو په زور په قدرت کې پاتې کېدل او بل په زور د هغه لېرې کول غواړي، معقولې لارې نه دي، دا په حقیقت کې د کابل بېدفاع نبارېانو او ټول ملت سره زیات ظلم او جفاده...

امریکا غږ: د قوماندانانو، مخورو او علماوو نظر څه دی؟

حقاني: وړاندې مونږ دې ټکي ته اشاره وکړه، چې د خبرو او مفاهمې له لارې دا مشکل حل شي، خو دا هم باید ووایم، چې د لارو بندولو باید ډډه وشي.

ټول اړخونه له شخصي، تنظیمي ګټو، ملي ګټې غوره وګڼي، په تفاهم د یوې سالمې اداري په جوړېدو هېواد له دې بحران وژغوري، دا په جعلي، تقلبي او فرمایشي حرکتونو نه شي ترلاسه کېدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امریکا غږ: تاسې له دې بحران د وتلو کومه لار پېشنهاد وي؟

حقاني: د مشکل حل ته باید د خبرو یو مناسب جهت ومونډل شي، له همدغه جهته اواری مونډل کېدای شي.

امریکا غږ: د استاد رباني په قدرت کې پاتې کېدو سره به د کابل محاصره دوام ومومي، د ولایتونو اړیکې به له مرکز سره لېرې پاتې شي که څنګه؟

حقاني: طبعاً که مشکل حل نه شي، کابل به له سختې محاصرې سره مخامخ وي او ولایات به همدغسې له مرکز لېرې پاتې وي، څرنګه چې شورا ناقصه وه، اصلي مشکل په خپل ځای پاتې دی.

امریکا غږ: د ربړې د حل لپاره ستاسې غوښتنه څه ده؟

حقاني: د خلکو واقعي نمایندګانوَ، بې طرفه قوماندانانو، علماوو او مخورو کمیسیون باید رسمي شي، چې د حل په یوه لار توافق تر لاسه کړي، متخاصمې ډلې باید له جګړې، محاصرې او لارو بندولو ډډه وکړي، مسئله به طبعاً داسې حل کېږي، چې د ملت لپاره د منلو وړ وي.

څرنګه چې شورا په سمه توګه جوړه نه شوه، هغوی چې شورا تحریم کړې، رانه وستل شول، د شورا د تکمیل، تزکیې او تصفیې لپاره زمونږ غوښتنې ونه منل شوې، ځکه خو اصلي مشکل پرځای پاتې دی، زه بیا هم دا خبره تکراروم چې له جګړې، راکتې بریدو او لارو بندولو ډډه وشي.

امریکا غږ: ایا تاسې اوس هم د سولې په هلو ځلو بوخت یاست؟

حقاني: دا زمونږ مسوولیت دی، مونږ د الله تعالی بندګان یو، د بنده بندګان له ځانه نه جوړوو، جنګ د مرض علاج نه دی، حل په جنګ نه کېږي، بلکې په خبرو حل رامینځته کېږي، باید دواړه جانبه صالحو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېطرفو قوماندانانو، علماوو او مخورو ته واک ورکړي او په خپلو وعدو صادقانه عمل وکړي، الله تعالی د مسلمانانو ترمینځ سوله او مصالحه مقرره کړي، نه جنګ او وینې تویول.

اعلامیه

حقاني صاحب له امریکا غږ سره د مرکې پر سبا زه وروغونبتم، چې له اړخه یې مطبوعاتو ته یوه اعلامیه ورکړم، د اعلامیې غټ ټکي دا دي:

که پر ولسي خلکو او سیمو بمباري او راکټي حملې دوام پیدا کړي، موږ بې تفاوته نه شو پاتې کېدای...

د افغانستان مجاهد او قهرمان ملت چې له شوروي یرغلګرو سره د جهاد په اوږدو کې د جګړو او هجرت کومې ستونزې او کړاوونه زغملي او په دې لار کې یې خومره قربانۍ ورکړي، په یقین سره چې د بشري تاریخ په حافظه کې د داسې دردوونکو پېښو ساری او ددغسې قهرمان ولس د صبر او زغم مثال نه شي لیدل کېدای.

په کار خو داوه چې د ملت پر ټپونو د ملهم پټي ایښودل شوی او دردونه یې درمل شوي وای، خو له بده بخته تېرو ۱۸ میاشتو کې د اقتدار خپل مینځي جګړو ملت له هغو زیاتو مصیبتونو او کړاوونو سره مخامخ کړ، د اوبو - برېښنا قطع کېدل، د لارو بندول، د سونګ او خوراکي موادو قحطی، نا امنۍ او لوټمار سربېره هوایي بمباریو او توغندویي بریدونو له مرګوني برخلیک سره مخامخ کړ.

موږ د افغانستان قوماندانانو، علماوو، مخورو او هغو ټولو اړخونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په استازيوب چې جګړو کې ملوث نه دي، له متخاصمو ډلو په کلکه غوښتنه کوو، چې پر ولسي خلکو او سيمو له هوايي بمبار او راکټي حملو ډډه وکړي، د برېښنا له قطع کولو، لارو تړلو، اوبو بندولو او د عام المنفعه تاسيساتو لکه پلونو، فابريکو له نړولو لاس ونيسي.

موږ په داسې حال کې چې له خپل مجاهد او مظلوم ولس سره د جګړې له امله رسېدلو ځاني او مالي زيانو په درد او دوک کې ځانونه شريک ګڼو، په ډاګه اعلانوو، چې که بيا هم پر ولسي وګړو او سيمو هوايي بمبار او توغندويي بريدونه دوام لري موږ بې تفاوته نه شو پاتې کېدای.

موږ يو ځل بيا په تاکيد سره وايو، که دغه ناوړه عمل دوام وموميِ، موږ به مجبور وو، په لازم اقدام لاس پورې کړو، په دې صورت کې به د عواقبو مسوولیت د متخاصمو ډلو په غاړه وي.

والسلام علی من التبع الهدای

جلال الدين حقاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

الله اکبر

دَافغانستان ملّی اسلامی مَحاذ

NATIONAL ISLAMIC FRONT OF AFGHANISTAN

برادر گرامی، فاضل محترم استاد برهان الدین ربانی!

در این لحظات حساس تاریخی کشور عزیز ما در آستانه یک تحول سرنوشت ساز قرار دارد، وظیفه دینی، ملی و وجدانی خویش میدانم که این چند نکات چند را طور تحریری به اطلاع شما برسانم.

همان گفتنی است که جهاد قهرمانانه ملت مسلمان افغانستان در عین حالیکه وطن را از اشغال نظامی روسها رهانید، مسئولیت بس عظیم بازسازی کشور ویران و خلق آینده انسانی و اسلامی افغانستان را بدوش ما و همرزمان ما گذاشت.

درگشت این سابقه تاریخی موجب آن گردید که تنظیم های جهادی هنگام دریافت شیرین ترین ثمر جهاد، در دریافت شرایط آن وقت، دوش بدوش سلسله مبادی برای تأسیس دولت اسلامی افغانستان توافق کرده مراحل تعیین سرنوشت سیاسی را تعیین کردند. ملت رشید و بخشنده مسلمان ما را به ارمانهای والای تأمین وحدت ملی، حفظ تمامیت ارضی، تسلیم سلاح، استقرار و تطبیق واقعی حق تعیین سرنوشت رهنمود دیگر ساخت.

متأسفانه از همان اول دین خون شهیدان، رنج آسیب دیدگان، اشک یتیمان و حسرت بیوگان نادیده گرفته شده از مبادی قبول شده یا تخلف صورت گرفت و یا در تطبیق آن سهل انگاری بعمل آمد بطوریکه شورای اهل حل وعقد موردنظر در ختم مرحله دوم در موعد معینه آن امکان پذیر نبود.

دولت اسلامی افغانستان که علیرغم موجودیت تفاوت، فرق و دشواریها سعی بلیغ بعمل آورد با جمعیت اسلامی افغانستان در مورد دوام مذاکرات سیاسی و اقتصادی و تأمین افغانستان نقطه نظر نزدیک و یکسان داشته تلاش جدی بعمل آورد تا بدست نیامدن نتیجه مثبت شما عزیز را از این موضوع آگاه سازد.

اگر شما نیز عقیده دارید که مذاکرات و اقدامات تنظیم ها در جهاد علیه اشغالگران و در تأمین حاکمیت ملی و تمامیت ارضی کشور، مکمل و قابل دوام بوده و بالاخره

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوولس گرامه ماغزه/ ۵۷۳

بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان ملی اسلامی محاذ

الله اکبر

NATIONAL ISLAMIC FRONT OF AFGHANISTAN

-۲-

بدخشان برتدر موعد تشکیل مشورای اهل حل وعقد تزکیز می شد به همان اندازه اتهامات مبنی برتخلف ازلایحه مربوطه نیز تزمی شد تا آنکه در هفته ها و روزهای اخیر اکثریت تنظیم های جهادی با دایر شدن این شورا تشکلی که نظر جمعیت اسلامی است مخالفت خویش را اعلام داشته اند .

بر تو این شرایط محاذ ملی اسلامی افغانستان باین باور رسید که دایر شدن چنین شورای بذات خود عث درگیری یک جنگ داخلی شدید میگردد که تلفات هنگفت جانی ومالی موجود را بمیزان قابل ملاحظه افزایش خواهد بخشید واگر باقطع نظر از این قیمت گزاف شورای مذکور هنوز هم با اصرار شما دایر گشته وشما را بحیث رئیس دولت انتخاب کند ـ که البته مطمع نظر شماست ـ به شما آن مشروعیتی را نخواهد داد که بموجب آن بتوانید وحدت ملی را تامین وصلح وامنیت را در کشور برقرار ساخته . کمیته را برای رفع احتیاجات مبرم واولیه مردم برابر نماید چه رسد به اعمار مجدد و پایه گذاری اکتشاف اقتصادی واجتماعی .

بنا بر آن محاذ ملی اسلامی افغانستان وشخص خودم با جمعیت اسلامی افغانستان وشخص شما مجلسی متعددی تشکیل داده در آن پیشنهاد کردیم که از کنفرانس هلزنکی یک کمیسیون بازرسی تشکیل گردد تا اتهامات وشکایات را بررسی کرده درصورت لزوم تصحیحات لازم را بعمل آورد و باین ترتیب هم کمیته برای اشتراک تنظیم ها ، ولایات وولسوالی های نارامنی فراهم آردد وهم اعتبار ملی وبین المللی شورا افزایش یابد . از طرف دیگر شورای قیادی یعنی مرجعی که تاوقت تاسیس ارگان های ممثل اراده ملت صلاحیت تعمیل این اراده را دارد ، تشکیل جلسه داده راهی را برای بیرون رفت از این بن بست جستجو کند .

با کمال تاسف شما به هیچ یک از این خواسته ها جواب مثبت نداده بر دایر شدن شورا بشکل فعلی تان وانتخاب شدن خود بحیث رئیس دولت توسط آن اصرار ورزیدید .

من بحیث یک فردی که جز رفاه وسعادت ملت مسلمان افغانستان آرزوی نداشته وبحکم اعتقادی که

بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان ملی اسلامی محاذ

الله اکبر

NATIONAL ISLAMIC FRONT OF AFGHANISTAN

-۳-

ملت مجاهد افغانستان بمن داشته اند خود را مسئول تحقق ارمانهایشان میدانم شما را یکبار دیگر بعواقب وخیم این امرا شما متوجه ساخته متذکری شوم که ممکن است آنچه در نتیجه آن حاصل گردد کاملاً متضاد با چیزی باشد که شما وتنظیم شما برای افغانستان ومردم مسلمان آن آرزو دارید .

وما علینا إلا البلاغ ،

با احترام

سید احمد گیلانی

رهبر محاذ ملی اسلامی افغانستان

۲۹ قوس ۱۳۷۱

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

د جګړو بل پیل

حل او عقد ډرامې کابل کې د خونړۍ جګړې اور ژبغړانده کړ، استاد رباني ښایي په دې پوهیده چې ددغه ډرامې له لارې د ملت سترګې له خاورو نشي ډکولای، خو د واك د دوام لنډ او تنګ پرتوګ یې ګرځولای شي، له دې ناخبره چې ددغه پرتوګ د ښخټګ درزونه دټینګېدو نه دي.

رباني اعلان کړه: چې د حل او عقد شورا لخوا، د حکومت مشرتابه په ټاکل کېدو د سولې ترنامه لاندې کوم فعالیت ته اړتیا نه لیدل کیږي، منتخب اسلامي حکومت واګې لاس کې اخیستی مخالف یې د باغي حکم لري.

پر دریېمه ورځ یې د حزب پر لیکو او سنګرونو برید وکړ، شینه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې د حزب ډېرى سنګرونه ونيول، جنرال بابه جان د نظار شورا د ځواکونو قوماندە پر غاړه وړه، ددغه برید پر مابنام محمد يونس قانوني له راډيو وويل: غوره دفاع حمله ده، د همدغسې يوه برید له امله موږ د حزب سنګرونه لاندې کړل... له دې وروسته به د حزب د راکټونو توغندیو له تهديد کابل خوندي وي...

د خپلو خلکو او ولسونو د فتحه کولو دغه جګړه په همدغسې کرکجنه بڼه غزېدلې، خپل هېواد کې له خپلو خلکو سره جګړه او د خپل ولس او هېواد د فتحه کولو هوس هرې غاړې په بړ بړ رسنيو ته اعلاناوه، دغه هوس داسې يوه نشه او جنون رامنځ ته کړ چې په وينو تويولو او وينو ځښلو نشوى ماتېدى.

پر سبا يې حزب په سهيل او ختيز استقامت درانه بريدونه وکړل، په ختيز لوري يې د خپلو سنګرونو په بېرته نيولو د ځرخي پله تر زندان سيمه لاندې کړه، سهيل اړخ ته يې تر جنګلك پرمختګ وکړ، جنګلك فابريکه چې وار له مخه لوټ شوې وه، دغه جګړه کې د اور خوراك شوه.

کابل کې خونړى جنګ نښتى، حکومت چې د بشپړ برې په هيله يې بريدونه پيل کړي و، پرله پسې ناکاميو بېرته په غار ننويست، ځکه خو يې له سره د سولې او اوربند اشتها غزونې وکړې يو ځل بيا يې د پاکستان سفير ته ځولې وغوړوله، جنرال حميد ګل او قاضي حسين احمد ته يې چې د خوب او تيز رګونه معلوم وو، رامنډه کړه، نواز شريف سوتى يې پسې راواخيست، اسلام اباد کې يې د سولې ټرون ته راغونډ کړل.

دوستم له هرې غاړې سره د خپلې بيې لوړولو په چنو لګيا دى، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حزب لخوا جرير په دوستم پسې لګېدلی، رباني پرله پسې دوستم ته د مينې ليکونه ليږل.

احمدشاه مسعود همايون جرير بندي کړ، نواز شريف اسلام اباد کې کله له يوه سره کينې کله بل وروغواړي يوه ورځ دوه درې سره يو ځای کړي، بله ورځ پنځه شپږ سره کېنوي...

د دوستم استازی يې هم راوغوښت مولوی خالص له دغو خبرو سره شلون اعلان کړ، چې ګڼې د اسلام اباد له تړون د وينې بوی راځي...

د اسلام آباد تړون کې د قاضي حسين احمد او جنرال حميدګل رول:

استاد رباني له پاکستاني سفير امير عثمان غوښتي د سولې لپاره ګام پورته کړي، قاضي حسين احمد او جنرال حميدګل يو ځل بيا کابل کې په کتنو بوخت دي.

حميد ګل له مسعود پوښتنه وکړه چې حکمتيار د واکمن صدر اعظم په توګه منلی شې؟. مسعود هو ځواب ورکړ، قاضي حسين احمد پاکستان ته ولاړ، خو حميد ګل کابل کې دی.

د اسلام آباد معاهدې زمينه د خورا ستومانووونکو ناندريو په پايله کې رامنځ ته شو.

مشران اسلام آباد ته وغوښتل شول، استخباراتو لوبه توده کړه، په لومړيو کې خبرې ناکامې ګڼل کېدې، نواز شريف د خبرو په وروستۍ شپه وويل ددې لپاره چې د ختې پوزه جوړه شي، يوه اعلاميه خپره کړی چې خبرې ګټورې وې، او راتلونکي کې د غزېدا په ژمنه پای ته ورسېدې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته یو څل بیا د یوې طرحې زنګ ووهل شو، چې مشرانو اتومات لاسلیك کړه.

د مولوي خالص دریځ له پیله څرګند و، دده په خبره له اسلام آباد ترڅو د وینو بوی څي... ده له کابله د ګلم ملېشو وتل نه بلکې بې وسلې کول غوښتل، ده حکمتیار ته هماغه وخت په ډاګه کړه چې له کابله د ملېشو په ایستلو به دغه ملیشې د هېواد بله سیمه کې د شر او فساد مخه مومي، ځکه خو له کابل د ملېشو د ایستو پر ځای باید د ملېشو د بې وسلې کولو غوښتنه وړاندې کړای شي.

مولوی خالص ویل امریکا او لویدیز د افغانستان په اړه رښتیني نه دي، غواړي پر افغانستان لکه د سومالیی حالات راولي چې نړیوالې لاسوهنې ته مخه پرانیستل شي، دده په خبره افغانستان کې باید له سره موقت حکومت جوړ شي، چې تنظیمونه او ملیشې بې وسلې او ازادو ټاکنو ته زمینه برابره کړي.

(فرنټیر پوست ۱۶ اګست ۱۹۹۳)

استاد رباني یوه کوټه او حکمتیار بله کې ناست دی، غلام اسحق خان حکمتیار تر مخ کړ.

نواز شریف پسې دی د رباني کوټې ته راغلل، رباني سپك له ځایه پاڅېده، حکمتیار وروړاندې شو، اسحق خان ترمنځ یو بل ته په نرۍ موسکا وکتل، غاښونه یې د کمرو د فلش له بریښناوو سره وپرقېدل، یو بل ته یې لاسونه ورکړل.

خو ددغو موسکا تر شا د هغو زرګونو بیګنا او بې دفاع هیوادوالو د مرګ ژوبلې ناورین نشوی پټېدای، ددغه لاس ورکولو بیه د کابل ویجاړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوټ تالان او د ژوبلو مرګونو غميزې همدا پوښتنه راپورته کوله: بای ذنب قتلت. دا ټوله بربادي د همدغه يوې موسکا بيه وګرځيده؟

د اسلام آباد پر ټرون لاسليکونه وشول د قدرت حرص د وينو د سوداګرۍ پانګه تر ګونډو کړه، ټرون سعودي پاکستا او ايران د تضمين کوونکو په توګه توشيح کړ.

يو ځل بيا خبره بيت الله کې د لوړې تازه کولو ته ورسيده...

پاکستان د حکمتيار د دغه غوښتنې له امله چې له رباني سره دجمهور رئيس په توګه نه، د جمعيت د مشر په توګه خبرې کوي د استاد رباني رسمي استقبال ونکړ.

اسلام آباد ټرون لکه د پښتور هغه په ګونګ او مبهم متن کښل شوی، داسې چې هر اړخ ته د خپلو ګټو د خوندیتوب، تعبير او تفسير ګنجايش لرلی شي.

د دفاع وزارت ربړه په ځای پاتې ده، حکمتيار د دفاع وزارت تغيرات د کابينې چوکاټ کې خپل َصلاحيت ګانه خو د رباني ويندويانو د دفاع وزارت کې تغيرات ناشوني او مردود اعلان کړل.

ټرون حکمتيار صدر اعظم و مانه چې له يوې اوونۍ وروسته له مشرانو سره په سلا مشوره کابينه وټاکي په دې اړه حکمتيار جلال اباد کې د مشرانو غونډه وبلله خو رباني پکې برخه وانخيسته، د حکومت ويانډ وويل دټرون له مخې اړينه نه ده له مشرانو يو ځايي مشوره واخيستل شي، په انفرادي توګه هم دغه نظر اخيستل کېدای شي.

له دې وروسته حکمتيار چهار اسيا کې د دغسې غونډې رابللو اعلان وکړ، خبرتيا کې په دې ټينګار شوی که کوم مشر غونډه کې ګډون ونکړ د شکايت حق نلري، دغسې غونډه کې يواځې د تنظيمو مشرانو برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخیستی شوای نه استازو، مرستیالانو...

صدر اعظم ته ښایي هر تنظیم د لسو تنو نومونه ورکړي وای، چې له دې څخه یې دوه تنه کابینه کې نیولی وای.

د چهار اسیا غونډې نصاب بشپړ نشو صدر اعظم جمهور رئیس ته دکابینې نوی لست په لږلو پخوانی هغه منحل کړه، خو رباني دپخوانی کابینې د کار د دوام فرمان ورکړ.

صدر اعظم کابل ښار او ارګ ته نشي ورتلی او جمهور رئیس چهار اسیاب ته...

رباني د خپلو ویندویانو په خوله دا نیوکه ډنډوره کړه چې د کابینې پر لست مشران اعتراض لري، حکمتیار ویل هر تنظیم ته دوه وزراتونه یو مهم او بل غیر مهم رسېدلی...

دوه وزارتونه دوستم ته پام کې نیول شوي، هغه چې حکمتیار داته میاشتنی جګړې جوازګانه په دې ټکو چې ګویا حزب له دولت سره نه، بلکې له ملېشو سره په جګړه بوخت دی.

د اسلام آباد ټرون لکه د پېښور ګندمك او... په څېر د تاریخ توره پانه او شرمېدلې فصل واړاوه...

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلام اباد ټرون

۱ تشکیل حکومت برای مدت ۱۸ماه که در ان پروفیسور برهان الدین رباني به صفت رئیس جمهور و مهندس حکمتیار ویا نماینده اش بحیث صدر اعظم ایفا وظیفه خواهند کرد.

۲- کابینه در ظرف دو هفته بعد از امضای موافقتنامه به مشوره رئیس جمهور و رهبر ان تنظیم های جهادی تشکیل می گردد.

۳- بر پروسه انتخاباتی که بیش از ۱۸ماه را در برخواهد گرفت توافق شده که اعتبار به آغاز این مدت از ۲۹ دسمبر ۱۹۹۲میباشد.

الف: تشکیل عاجل یك کمیسیون انتخاباتی مستقل و باصلاحیت کامل مشتمل بر نمایندگان همه احزاب.

ب: کمیسیون انتخابات مکلف است درظرف ٦ الی ۸ ماه متصل امضای این موافقت نامه انتخابات برای تشکیل یك شورای بزرگ قانونساز برگذار کند.

ج: قانون اساسي کشور توسط همین شورا منتخب قانون ساز تصویب میگردد که در روشنایی ان انتخابات عام برای انتخاب رئیس جمهور و پارلمان در خلال همین ۱۸ ماه برگذار شود.

ح: یك شورای دفاعی مشتمل بر دو دو نماینده از هر تنظیم برای امورات آتي تشکیل میشود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف: يك اردوی ملی را تحقق بخشد.

ب: اسلحه ثقليه را از همه احزاب و منابع تسليم شود و در صورت لوزم انرا از شهر كابل وساير شهرها بيرون برده و در نقاطی خارج شهر؟ جای بجا سازد و به اين ترتيب امنيت شهر ها تامين گردد.

ج: تضمين گشايش همه راه های تداركاتي غرض استفاده عام.

د: تضمين عدم استفاده از بودجه دولت برای اكمال قطعات شخصی و باندهای مسلح.

و: بايد همه زندانيانی كه توسط حكومت و احزاب در جريان خصومت های مسلحانه دستگير شده اند فوراً وبدون قيد شرط رها شوند.

٦- همه اپارتمانهای و املاك شخصی دولتی و مناطق مسكونی كه در جريان خصومت توسط گروه ها غصب و اشغال گرديده بايد به صاحبان اصلی ان مسترد گردد.

اقدامات مؤثر صورت ميگرد تا برگشت افراد اواره بۀ خانه و مناطق مربوط شان ميسر گردد.

۷- يك كميته متشكل از نمايندگان همه احزاب تشكيل ميگردد، تا اجرا آت مالی و سيستم پولی كشور را تحت كنترول و نظارت قرار داده و جريان پول بانكی، را مطابق قوانين موجود مالی نگهدارد.

۸- كميته مشتمل بر نمايندگان همه احزاب غرض نظارت بر توزيع مواد غذايی، مواد سوخت وساير مواد ضروری تشكيل ميگردد.

۹- غرض نظارت بر اتش بس وقطع مخاصمت يك كميسيون مشتركي از نمايندگان همه احزاب تشكيل ميگردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وظایف و صلاحیت ها؟

رئیس جمهور دولت اسلامي افغانستان سمبول وحدت و يك پارچگی کشور بوده، باید امور دولت را به مقتضای شریعت و اصول قران و سنت اداره و رهبری کند.

به مشوره رئیس جمهور، صدر اعظم کابینه را تشکیل داده، سپس انرا بۀ رئیس جمهور تقدیم نماید تا رسماً انرا اعلان نموده و مراسم تحلیف را بجا اورد.

۱- کابینه باید بحیث يك تشکیل متحد تحت قیادت صدر اعظم عمل نموده بر اساس اصل مسولیت دسته جمعی فعالیت کند.

۲- صدر اعظم و کابینه باید درهمه قضایای مهم به شکل منظم در تفاهم نزدیك با رئیس جمهور عمل کند.

۳- رئیس جمهور و صدر اعظم باید در تفاهم با همدیگر عمل نموده و اگر اختلافی تبارز می کند، از طریق مناقشه با همدیگر حل نماید.

در صورتیکه قضیه لاینحل باقي ماند به مجلس مشترك رئیس جمهور و صدر اعظم مفوض گردد.

۴- همه تصاویب مهم مربوط به پالیسی در مجلس کابینه که تحت ریاست صدراعظم دائر میگردد اتخاذ میشود وزرا، معاونین ووزرای دولت برای امور کشور بصورت انفرادی و دسته جمعی در مورد تصامیم حکومت مسولیت دارند.

۵- تقرر رسمي قوماندانان قوای مسلح مطابق تعامل موجود پس از تفاهم ذات البینی باید صورت گیرد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صلاحیت های رئیس جمهور:

٦- رئیس جمهور دارای صلاحیت های و وظایف آتی میباشد.

الف: تقرر معاون رئیس جمهور دولت اسلامی افغانستان

ب: نصب و عزل قضات ستره محکمه و قاضی القضات به مشوره صدر اعظم مطابق حکم قانون.

ج: فرماندهی اعلایی قوای مسلح کشور در روشنای اهداف و موازین قوای مسلح افغانستان.

د: اعلان جنگ و صلح مطابق به مشوره کابینه و پارلمان.

هـ: انعقاد و خاتمه جلسات پارلمان مطابق مقررات.

و: استحکام وحدت ملی، حفظ استقلال، تمثیل بی طرفی و تشخص اسلامی افغانستان به نفع همه اتباع آن.

د: تنفیذ یا لغو فیصله های محاکم مطابق به شریعت در حدود مقررات.

ج: توظیف روسای هیئت های د پلوماتیك افغانستان به کشور های خارجی و تقرر نمایندگان دایمی افغانستان در سازمان های بین المللی مطابق معمول دپلوماتیك، پذیرش همه اعتبارنامه های همه روسای هیئت های دپلوماتیك خارجي.

ط: تصحیح قوانین ومقررات وا عطای اعتبار به فیصله نامه ها و امضای معاهدات بین المللي مطابق به قانون.

ی: رئیس جمهور میتواند مطابق به صوابدید خود برخي از اختیاراتش به معاون رئیس جمهور و یا صدر اعظم انتقال دهد.

ك: در صورت وفات ویا استعفای رئیس جمهور، امور ریاست

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمهوری مباشرتاً به معاون رئیس مفوض میگردد، که اوتازمان انتخاب رئیس جمهور جدید مطابق قانون اساسي از امور نیابت میکند،

ل: اعطای اجازه رسمی به طبع بانکنوت.

نوت: رئیس جمهور میتواند جلسه فوق العاده کابینه در امور حیاتی و مهم ملی که در چوکات اجرا آت روزمره عادی کشور نمی گنجد دائر کند.

صلاحیت های صدر اعظم:

۷: صدر اعظم وکابینه دارای صلاحیت ها و وظایف ذیل میباشد.

الف: وضع و تنفیذ سیاست داخلی و خارجی کشور مطابق به نص و روح این موافقتنامه در حدود قانون.

ب: اداره و سرپرستی از امور وزرات خانه ها وسایر موسسات و ارگانهای اجتماعی و اداری و ایجاد هم آهنگی میان آنها.

ج: اتخاذ تصامیم اجرایی و اداری مطابق به مقررات و سرپرستی از امورو تنفیذ آن.

د: تسوید قوانین، تهیه لوایح ومقررات.

هـ: تنظیم و کنترول بودجه دولت و اتخاذ تدابیر غرض بکار انداختن منابع بخاطر اعمار مجدد اقتصاد کشور و بنیان گذاری سیستم ارزشمند پولی وبانکی کشور.

و: تهیه ونظارت بر تنفیذ پروگرام های اقتصادی اجتماعی و تعلیمی کشور وتاسیس یك مملکت اسلامی متکی بخود.

ز: تحفظ و ارتقای اهداف و مقاصد افغانستان در جوامع بین المللی

(c) ketabton.com: The Digital Library

و بحث ومناقشه درباره تعهدات خارجی، پروتوکول ها معاهدات بین المللی وتدابیر اقتصادی.

ج: اتخاذ تدابیر غرض تامین صلح وامنیت، تعمیم اخلاق اسلامی و تحکیم انصاف در ادارات توسط ارگان عدلی مستقل و بیطرف.

۷ مارچ ۱۹۹۳

اینجینر گلبدین حکمتیار حزب اسلامی افغانستان

صبغت الله مجددی رهبر جبهه نجات ملی

انجینر احمدشاه احمدزی اتحاد اسلامی

آیت الله فاضل وحدت اسلامی

پروفیسور برهان الدین رباني رهبر جمعیت اسلامی و رئیس جمهور جمهوری اسلامی افغانستان

مولوی محمد نبی محمدی رهبر حرکت انقلاب اسلامی

پیر سید احمد گیلانی محاذ ملی

شیخ آصف محسنی حرکت اسلامی

یادون:

اسلام آباد ترون کې پر نورو سربیره دوه ټکي زما له حافظې سره نښتي:

... د استاد سیاف په مشرۍ اوه ګوني اتحاد کې، رسمیاتو او ورځنیو چارو د هجري لمریزې نیټې کارول ناروا وګرځیدل... څکه خو دفتري چارې هجري قمري نیټو او کلیز ته واړول شوې... پاکستان کې میلادي کلیز دود و، موږ په هجري لمریز روږدي وو...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نېټو او کلیز دغه بدلون بېشمېره دفتري ستونزې رامنځته کړې وې...

اسلام آباد ټرون له یوې مخې پر میلادي نېټو راګرځي...

دویم ټکی د دولت وزیرانو دی چې افغانستان کې یې کومه مخینه نه لیدل کېږي... د پاکستان د حکومتي او سیاسي چوکاټ کاپي ده...

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصلحینو شورا

د قصر نظر بندي

د استاد سیاف خاورې اپستل

تپلیو اجنډاو کې د تنظیمو ښکېلتیا، د ګاونډیو، سیمې او نړیوالو د ګټو او موخو سیالي رامنځ ته کړه... مهاجرت کې د ملي جوړښتو او ارزښتونو اډانه وزیانېده، پردې پالنه دود او مود شوه، د شوروي تیري پر وړاندې د افغانانو د آزادۍ غوښتنې جګړه د بهرنیو ارخونو استازیتوب ته پاتې شوه... مهاجرت کې له کربنې اخوا پښتنو ملتپالو له افغان کډوالو په څنګ نیولو د پنجاب ایډیالوژي ته مخه پرانیسته...

افغانستان کې د افغانانو په وینه پردۍ جګړه توده او د افغانانو سرښندنې هایي جیک شوې...

څکه خو د شوروي عسکرو په وتلو سوله رامنځ ته نشوه... جګړې دوام ومونډ، جهاد د پردیو موخو تحقق ته استخدام شو... جګړه یواځې د جنګیالیو د وینې او سرونو د قربانۍ تر بریده افغاني ده... د جګړې اهداف، پایلې او برخلیک د افغانانو له واکه وتلې...

دلته وه، چې پر بهرنیو ارخونو تکیه ټاکونکې شوه... ګاونډیو او باندنیو باید د افغانانو د سرښندنو پایلې او پای ټاکلی وای...

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

تنظيمونه د ګاونډيو او بهرنيانو په مينه کې دومره ډوب شول، چې د خپلولې پر ځای پردیتوب ته په ورماتېدو يې د پردې پالنې مسابقه رامنځ ته کړه، د کنفدریشن غږ پورته او د ځانګړي بلاک غوښتنه رامنځ ته شوه... کابل کې تنظيمي جګړې له همدې روحيې وغزېدې، چې د پرېکړو نيت، حقيقت او صلاحيت افغاني نه و....

ځکه خو چهلستون کې د افغاني جرګې اواري پاموړ ونه بلل شو... د چند تانک غورازه نوم يې ورکړ خو د ترکي الفيصل، اعجاز الحق او جنرال حميد ګل پر وړاندې په ګونډو شول بګراميو کې يې پرې له خپل ارخه د سولې ناکام ټرون لاسليک کړ...

مولوي محمدشاه فضلي د حرکت لخوا د سترې محکمې لاس کتوی رئيس د برهان الدين رباني د واک موده وغزوله... يوه بله خندنې ډرامه يو بل کاميډين ډېره پيکه تمثيل کړه... خو دغه کوميډي داسې تراژيدي رامنځ ته کړه، چې د غميزو په نه ختمېدونکي لړۍ منتج شوه...

يو بل کاواکه ګام د حل او عقد په نوم پورته شو... داسې يوه رسوايي چې مجاهدين يې د اسلام آباد په رسوايو واړول...رسوايي په رسوايي... ترهغې چې جلال آباد کې يو ځل بيا د افغاني جرګې ټغر وغوړول شو...

د استاد رباني له دې دريځ سره چې د حل او عقد لخوا دده پر ټاکنه، نور د سولې او منځګړيتوب اړتيا او جواز نشي ليدل کېدای، مولوی حقاني کابل پرېښود.

ميرانشا ته په رسېدو حقاني صاحب B.B.C ته وويل... ماله پيله "کابينه" کې برخه نه ده اخيستې، په دې هڅو او انتظار چې دا حکومت يو افغان حکومت شي، ملي اسلامي حکومت شي، له تنظيمي او سمتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

حلقې راووځي، او له خپل ټرلي ائتلاف ځان خلاص کړي...

ده زياته کړه... له بده بخته دا يو ائتلافي حکومت دی، دا د يوه تنظيم مانا جمعيت حکومت دی، دا يو سمتي حکومت دی، ځکه خو مې دغه حکومت کې برخه نه ده اخيستې... ترهغې چې يو نماينده حکومت نه وي جوړ شو دغسې حکومت کې برخه نشم اخيستی...

د نماينده حکومت په اړه د پوښتنې ځواب کې حقاني صاحب وويل: تېر کال ددې چانس برابر شو چې د ګيلاني صاحب او مولوی خالص تر ځارنې لاندې انتخابات وشي، خو رباني او مسعود مخالفت وکړ... اوس هم که ربښتينی آزاد انتخابات وشي يو چانس شته خو که د پيسو شورا جوړه شي لکه حل او عقد، بيا زه په داسې حکومت کې نه يم...

څه موده وروسته ډاکتر فاروق اعظم د مصلحينو شورا په نامه د روغې جوړې درېدلي فعاليتونه وغزول، ډاکتر اعظم ۳۱/۱۳۷۲/۱ تنظيمي مشران يو مناسب ځای کې ګډې غونډې ته په بللو، جګړه کې ښکېلو غاړو د اوربند غوښتنه وکړه، تر ۱۳۷۲/۲/۳۱ ټولو مشرانو د مصلحينو شورا د بلنليک منلو ډاډ ورکړ... هغه و چې ۱۳۷۲/۲/۱۰ نېټه يې د ننګرهار شورا په مټ مشران جلال اباد کې راټول کړل... له دې وړاندې ننګرهار شورا د سولې يو بل جدي ګام پورته کړی و... شورا جګړه کې ښکېلو غاړو ته ګوابنس وکړ که هری غاړی د دوی اوربند و نه مانه پرضد به يې له بلې غاړې سره ودريږي، لومړی حکمتيار او بيا رباني خپله موافقه اعلان کړه، په دې توګه د ننګرهار شورا ځواکونه په ختيځ استقامت د دوی ترمنځ ځای پر ځای او يوه موده اوربند ټينګ و...

حاجي عبدالقدير د جلال آباد قصر پرانيست... لومړی غونډه کې يې ورته په ډاګه کړه، چې پر حکومت او نظام له توافق پرته له قصر

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشي وتلی... دا په حقیقت کې د حاجي قدیر لخوا د دوی د نظربندۍ اعلان و...

حاجي قدیر وویل: د طرحې او جوړ جاړي پر څرنګوالي موږ پر تاسې زور او فشار نه راوړو... په دې اړه زموږ کوم شرط نشته، کوم ځانګړی مادل او فورمول نه لرو... خو له توافق پرته مو نه پریږدو... په ډاګه یې وایم چې له دې ځای څخه نشي وتلی... دا که بندیتوب ګڼي که نظربندي ستاسې خوښه، خو تاسې زموږ درانه مشران یاست، موږ ستاسې عزت کوو...

له قصر د باندې د مشرانو اړیکې قطع کړای شوې... یواځې یوه باډیګارډ اجازه لرله له دوی سره قصر کې واوسي...

شیخ آصف محسني پر پنځمه ورځ له قصره په وتو، توانېدلی و، خو پر دویم زنځیر یې راوګرځاوه...

د جوړ جاړي په مخه کې یو ستر خنډ دفاع وزارت پر چوکۍ د احمدشاه مسعود پاتېدل و، چې د اسلام آباد ټرون د پلې کېدا مخه یې ډب کړې وه...

ډاکتر اعظم خپل معیوبان راټول کړل، قصر یې کلابند دی... وایي له توافق پرته مشران له قصره نشي وتلی...

استاد رباني وارخطا او تلولی دی... په ګرانه د قصر بڼ ته راوځي... غونډو ناستو کې ډېری پټه خوله وي... له دې پرته یې ځان خپله کوټه کې بندي کړی... یوه اوونۍ ووته، څه پرمختګ ونشو...

استاد سیاف پخپل مهارت ډاکتر اعظم، حاجي قدیر... قانع کړل، چې رباني د کومې پریکړې واک او زړه نشي لرلی، ددې لپاره چې وخت له لاسه نه وي وتلی ښه به وي مسعود خپله غونډې ته راولو او یا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکلي توافق تر لاسه کړو... که ده ته د تلو اجازه ورکړل شي، مسعود به جلال آباد ته له ځان سره راولي...

استاد سياف کابل ته د تلو مخه ومونده، ډاکتر اعظم هم ورسره روان شو، د لارې مجلس دوستانه و... استاد سياف د زړه خبره خولې ته نه ده راپورته کړې... د باغ بالا مانۍ ته په ګرځېدو د نيت نښې په ځېره را دبره شوې...

د خبرو تون او لهجه واوښته ټکي زيږده، ستغ او لوړ شول... مانۍ ته په ننوتو د امير عبدالرحمن خان روح غزونې وکړې... استاد پر ځان راخپور پوست ووت... د تمسخر او برتری په ګډ انداز يې ډاکتر اعظم ته خپله پريکړه اعلان کړه، ډاکتره! ته پوهيږې چې حاجي قدير، عبدالحق، دين محمد د انګليس په مټ د رهبرانو د وژلو توطئه جوړه کړې، دوی له پلرونو، نيکونو د انګليس اجنټان دي، د ډاکتر برايډن له وختو يې له انګليس سره مراوده وه، چې روغ يې جلال اباد ته رسولی و...

زما مکلفيت دی دا توطئه شنډه کړم... ځکه خو جلال آباد ته نه ځم...

استاد سياف، احمدشاه مسعود ته هم کابل کې د پښو ټينګولو پيغام ولېږه... ډاکتر اعظم هک پک ودرېد... ده پخپل رنګ کې کوټ خوړلی و... صد لغمانی يک پغماني... عذر، ننواتې ګټه ونکړه، په ډېر عجز يې له سياف غوندې ته د خپل استازي لېږلو غوښتنه وکړه، استاد سياف ورته کړه... دا ځواني درسره کوم... بېنوا دې نه پرېږدم، حاجي دوران يې د خپلې ځوانۍ په توګه ورمعرفي کړ...

کابل کې د استاد سياف له پاتې کېدو د قصر کلابندي وزيانېده، حاجي قدير او ډاکتر اعظم د ختې د پوزې په جوړولو اړ شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلال آباد ټرون د تورو، ټکو په بڼه ترتیب او پر لاسلیکونو منظور شو ربانې جوړه شوې غونډه کې هغه تاریخي کارنامه وبلله، شاعرانه خبرې یې کتار کړې، عاطفي او زړه سواند اکټونه یې اجرا کړل...

حکمتیار ټرون ته د تاریخي موافقتنامې نوم ورکړ، خلکو ته یې په خطاب کې وویل: تاسې پر دغه توافق شاهد او ګواه اوسئ... خو نه تنظیمي مشران د خپلو ژمنو او لوړو پاس وساتی او نه یې د خلکو ګواهي پامور وبلله، د جمهور رئیس او صدر اعظم ترمنځ ناباوري، د جنګ لمبې هماغسې ژبغړانده ساتي.

د ټرون له مخې ظاهراً ربانې د ۱۸میاشتو لپاره جمهور رئیس او حکمتیار صدر اعظم شو. صدر اعظم کابینه اعلان کړه، خو ده نشوای کولای د صدارت مانۍ کې کار پیل کړي، ځکه خو یې چهار اسیا کې د صدارت موقت دفتر اعلان کړ، حکمتیار یو ځل پرېکړه وکړه دارالامان مانۍ د صدارت دفتر لپاره چې حزب وحدت له جنرال مؤمن نیولې ورغوي، خو دا کار یې نیمګړی پرېښود، قطب الدین هلال د صدر اعظم د مرستیال په توګه د صدارت عنعنوي مانۍ کې خپل دفتر پرانیست، خو دده لاسلیک د نظار شورا د مزاج مخالف مکتوب کې نشوی چلېدای، صدر اعظم به چې کوم امر او حکم ورکړ، جمهور رئیس به په جلا فرمان ویتو کړ، د رادیو تلویزون رئیس چې صدر اعظم له دندې ګوښه کړ، جمهور رئیس د وظیفې د دوام فرمان ورکړ...

احمدشاه مسعود هماغسې ځواکمن پوځي واکمن دی، چې پر دفاع وزارت او جنګي ماشین بشپړ کنټرول لري، دفاع وزارت یې جبل السراج ته ولېږداوه، که زړه یې شو حکمتیار به له جبل السراج همداسې ډزوي لکه دی یې چې ډزاوه، مسعود لګیا دی فرقې، غونډونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

منظور وي، پوځي چارواکي افسران ټاکي دده له خوښې پرته دفاع وزارت کې پاڼه هم باد نشوای ښوورولی، یواځې دفاع وزارت نه ټوله ملکي او پوځي اداره او بودجه دده واک کې ده، د دفاع وزارت له چوکۍ دده په ظاهري لیرې کېدو او کمیسیون په رامنځ ته کېدا دده واکمني چا نشوای ننګولی...

د صدر اعظم ټلویزیون او چاپي خپرونو جمهور رئیس پسې او د جمهور رئیس مطبوعاتو د صدر اعظم پر ضد د تبلیغاتو او پرو پاګند باړونه چلوي شهادت یوه ګڼه کې په غټو تورو کښلي: د اسلامي حکومت صدر اعظم ورور حکمتیار او د ائتلافي دولت مشر برهان الدین رباني... لکه د دولت صدارت اسلامي، خو جمهوري ریاست ائتلافي یا غیر اسلامي دی.

کله چې حکمتیار پاکستان سعودي او ایران ته د صدر اعظم په توګه د کابینې ځینې غړو سره سفر وکړ د جمعیت مجاهد جریدې هغه د حکمتیار شخصي سفر وباله. د مجاهد دغه ټکي حکمتیار دومره عصبي کړ، چې یوه غونډه کې یې وویل: نه پوهیږو د سفر لپاره له مجاهد جریدې اجازه واخیستل شي یا له نظار شورا...؟

د حکمتیار د سفر پرمهال پاکستان کې د هرکلي مراسمو کې یوه ستونزه د ملي سرود وه.

دا خبره راپورته شوه، چې ملي سرود دې په کومه ژبه وي، غږ شو، دري. د مهاجرینو ستنېدونکو وزیر فاروق اعظم له غبرګون سره د حزب مهاجر زاد وړاندیز وکړ په عربي... له دې سره ډاکتر اعظم: وویل په روسي، خو چې پښتو نه وي... جمعیت یوه اوږده جهادي ترانه، چې د ملي سرود وزن آهنګ، محتوی او مفهوم نشي وړاندې کولای، ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرود گانۍ... بيرغ او ملي سرود د کودتاګانو او حکومتونو په اوښتو نشي بدلېدای، ملي سرود او بيرغ ثابت ملي سمبولونه دي، درې رنګه ملي بيرغ هغه چې د لومړي ټولګي کتاب کې لوستې ترانه يې تر اوسه حافظو کې ده...

تور او سور يې هم زرغون
ډېر يې ګران پر هر پښتون
ستا محراب منبر نښان
لوړ دې وي پر ټول جهان
تابه ساتو په ښه شان
اې بيرغه د افغان

ملي سرود

څو چې دا څمکه اسمان وي
څو چې دا جهان ودان وي
څو چې ژوند په دې جهان وي
څو چې پاتې يو افغان وي
تل به دا افغانستان وي
تل دې وي افغان ملت
تل دې وي جمهوريت
تل دې وي ملي وحدت
تل دې وي افغان ملت جمهوريت
ملي وحدت، ملي وحدت

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلال اباد ټرون

جلال اباد ټرون په حقیقت کې د اسلام آباد ټرون د پلې کېدا یو ډول توثیق او ټینګتیا ده، څرنګه چې اسلام آباد ټرون بشپړ تطبیق نشو، جګړو دوام وموند ځکه خو جلال آباد کې د مصلحینو شورا په نوښت د ننګرهار شورا په مټ جهادي مشران راغوند او یوه بل ټرون ته مجبور کړای شول.

ددغه ټرون له مخې که څه هم دفاع او کورنیو چارو وزارتونو چارې باید کمیسیون ته سپارل شوې وای، خو مسعود هماغسې په جنګي او دفاعي اړخ واکمن دی، له همدې ځایه دغه ټرون هم د جګړو مخه ډب نشوی کړای، ددغه ټرون غټ ټکی په لاندې توګه ښوول کېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پريکړه:

- افغانستان کې د اسلامي نظام ټينګول
- د جهادي رهبرانو قوماندانانو او پوهو کسانو په شمول عالي شورا جوړېدل
- ټول هيواد کې د جنګ بندول او د لارو خلاصول
-د دفاع، داخله، خارجه ماليه او اطلاعاتو کلتور وزراتونو د کميسيونو فعالول
- ټول هېواد کې د يوه ملي اسلامي اردو جوړول
- د ملي امنيت په تشکيل او وظايفو تجديد نظر کول
- د مشرانو تر منځ د ۱۹۹۳ ميلادي کال د مارچ ۷مې فيصلې د هغو موادو تطبيق کوم، چې په اوسني ټرون کې شامل دي.

ددغه ټرون څخه د نظارت په منظور دوه دوه تنه جهادي قوماندانان راټولول، ددغه کار د سرته رسولو لپاره يو کمېسيون وټاکل شو په کوم کې چې له هر تنظيم څخه يو يو نماينده او دوه تنه مصلحين برخه لري، نوموړی کمېسيون به د خپل کار لايحه ترتيب او تر خپل اشراف لاندې هغه تطبيق کوي، که چېرې کمېسيون ونکړای شي، په ټاکل شويو دوو مياشتو کې ورسپارل شوی کار سرته ورسوي موضوع عالي شورا ته محول کيږي.

د پورته دوو مياشتو په موده کې ددفاع وزارت سرپرستي محترم جمهوررئيس او د کورنيو چارو د وزارت سرپرستي محترم صدر اعظم کوي.

دواړه د دفاع او کورنيو چارو وزارتونه د احزابو له نمايندګانو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړ شوی باصلاحیته کمېسیونونه لري.

د انتخاباتو کمېسیون د اسلام آباد ترون مطابق ژر په کار پیل کوي.

۸- دجهادي مشرانو د اکثریت په خوښه او د جمهور رئیس په منظوری، د نولس غړو کابینې جوړول... چې اعلان به یې وروسته وشي، نور غړي به یې پخپل وخت تعین او اعلانیږي، عجالتاً معینان د کارو سرپرستي کوي...

پر ترون د مصلحینو شورا مشر ډاکتر فاروق اعظم د ناظر په توګه او کریم خلیلي، حاجي دوران، انجنیر حکمتیار، حاجي دین محمد، شیخ اصف محسني، پیر سیداحمد ګیلاني، لاسلیکونه کړي البته استاد رباني خپل لاسلیک سره کښلي: در خلال دو ماه انتخاب دو دو نفر قوماندانان از ولایات بصورت حتمی بعمل آید...

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکمتیار او ربانی کیدای شی اتحاد وکړی؟!

له فرنټهٔ پوست څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

درس که فرش...؟

داسې نظام او حکومت چا لیدلی چې صدر اعظم او جمهور رئیس يې د يو بل پر ضد توده جګړه بوخت وي...؟

د يو بل تر واک لاندې سيمې بمباروي، په توغندیو يې ولي، توپونه يې ورته چو کړي وي، د يو بل سيمو ته يې د ننوتو لارې پرمخ ترلې وي...؟

ددغه نظام صدر اعظم چهار اسیا کې دی، جمهور رئیس ارګ کې، دواړه د اسلامي نظام د تېنګښت پر ژمنو لګیا دي، دواړه د اسلامي حکومت غوښتونکي او مدعیان دي... دواړه د يو بل پر ضد جګړه لګیا دي... هر يو خپل وژل شوی شهید ګڼي... د بل هغه مردار...؟

د جمهور رئیس او صدر اعظم ترمنځ د موږک او پیشو غږېدلې لوبه پر اسلام اباد او جلال اباد سربېره کلای حیدر کې هم توده کړای شوه، خپلو امپراتوریو ته نه وو رسېدلي، چې د يو بل پر ضد يې توپونه وغورمبول يو ځل بیا د صدر اعظم او جمهور رئیس ترمنځ جګړه کې ځوانې خاورې شوې، کورونه ونړېدل، چور ګډ شو، عفتونه لوټ شول...

سره له دې چې د پردیو په ګټه د واک غږېدلې جګړه ژبې قوم او مذهب ته وروړول شوه، خو له ښه بخته له کابله ونه وتله، د قوم، ژبې او مذهب جګړه يې ونشوای ګرځولی... دغه کوټه سیکه ونه چلېده.

يوازې قوم لیډر نشي رامنځ ته کولای، لیډر څه چې حکومت به هم تېنګ نکړای شي، دې ته د خان، ملک، بای، کلانتر او خوجه ځین په کچه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتل کېدای شي...

لیډر له ملت سره پېیلی وي... د قوم له احساساتو سره په لوبېدو د لیډري او حکومت خوب ته تعبیر نشي موندل کېدای، ملت ته په سپکه کې د قوم قوت نشي پاتېدای... قومونه په واحد ملت کې درانه اوسېدای شي... د ملي مشرتابه له ظرفیت په بې برخې کېدو د قوم، ژبې او مذهب په نامه د فتنو رامنځ ته کولو انګېزه یواځې د واک جګړه غږولی شي... قوم او ډلو کله هم د ملت پر ضد جګړه نه ده ګټلې...

چا چې افغانستان کې د قومو د حقونو په پلمه جګړو ته مخه ورکړې، هغوی قومونه د خپلو ځاني موخو ترلاسه کولو ته استخدام کړي، د خپلو ګټو لپاره یې د خپلو قومونو وینې تلې کړې.

د پېښور مهاجرت، بېوطنۍ او دربدرۍ کې استاد رباني ته د لیډر او متفکر په سترګه کتل کېدل، چې د قوم پر ځای یې د ملت خبره پر خوله وه... د هېواد آزادۍ ته یې ځان ژمن باله...

خو دا وخت هېواد کې، واک او ارګ کې سړی ته خوار، ذلیل او حقیر بریښي... چې ملت یې ځان سره ونشوای درولی، پر خلکو یې بله جګړه وتپله، د لوی ملت پر ځای یې د قوم ځنګ ونیو... جمعیت اسلامي، د نظار شورا د جنګیالیو وړه ډله شوه...

دلته ولسمشر له خپل صدر اعظم په وېره کې اوسي... ملي اشتراک خپل واک او ځواک ته ګواښ ګڼي... د دولت او حکومت له اړیکو مسخره جوړه شي.

د کابینې غونډې چهار اسیا کې جوړیږي، خو تر چهار اسیا د وزیرانو رسېدل آسانه نه دی.

د نظار شورا له پاتکونو روغ تېرېدل د نصیبونو خبره ده...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابينې او صدر اعظم د غونډو پرېکړو، خبر د نظار شورا تر ولکې لاندې مطبوعات نه خپروي.

د پرېکړو د پلې کېدا مخه يې ډب ده چې احمدشاه مسعود پخپل ځانګړي حکم د واړه ويتو کړې وي.

د صدر اعظم امر له چهار اسيا نه وي وتلی چې د بطلان حکم يې ابلاغ شوی وي.

کابل کې حزبيان در په در ګرځي... د حکمتيار امرونه احکام په ادارو ګرځوي څوک يې کيسه کې نه دي.

هغه حزبيان چې له بريتو يې وينې څخېدې سرکاري هوټلونو کې لوبيا، دالو ته ناست دي... پلوونه چرګان يواځې د نظار شورا د مينيو لړليک کې موندل کېدای شي... يوه هوټل کې دوې مينيوګانې، دوه ډوله ډوډۍ...

دلـــته پلوونه دي، هلته سوکړکان زمور.

دا پښتونستان زمور دا پښتونستان زمور.

يوه ستومانه حزبي په مات زړه ويل... دا هر څه د انجنير صاحب له لاسه، ده په دغسې ذلت او رسوايي اړولي يوو...؟

د چهار شنبې ورځ چهار اسيا کې د کابينې غونډه ده... د وزيرانو وړوکې قافله تلو ته چمتو شوه...

قافله د صدارت دويم مرستيال او حج او قافو وزير مولوی ارسلا رحماني په مشری وخوځېده... شاته يې په وسلو سمبال باډيګارډانو له سترګو د غضب لمبې ختې...

دويم لنډکروزر د قاضي وقاد دی... ساتونکي يې له ډېر زوره شنېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورپسې حاجي دين محمداو ...

پای کې د ډاکتر فاروق اعظم له باډيګارډانو تش خيرن سوزوکی، مولوی ارسلا له وړاندې ددې ډاکتر صاحب د سوزوکي وروسته کېدو اشاره ورکړې، چې دغسې زوړ غورازه موټر يې د لنډکروزرو د کاروان رنګ بدې ګانه...

چهار اسيا ته تګ داسې دی لکه د تورخم دروازې په ټرل کېدو چې ډېره موده وزيران د خرو، کچرو، اوښانو په لارو له کرښې خپلو کورو ته اوښتل... له دې هم ګران او کړاوجن...

پر همدغسې سختو، اوږدو او کږو وږو لارو دغه سفر لنډېدی شوای...

د وزيرانو کاروان له کابل، پلچرخي له هغې بګرامیو، کمريو، بني حصار، چهار اسيا ته اوښتی شوای...

پلچرخي ته په نژدې کېدو له حربي پوهنتون سره د نظار شورا جنګيالیو وزير صاحبان دريش کړل...

باډيګارډانو چې تر دې دمه يې سترګو کې اور ګرځاوه، د واره خپلې وسلې کېښوې، وزيران له موټرو د کوزېدو په قومانده سمدستي بېله کومې خبرې او پوښتنې کښته شول...

باډيګارډانو دواړه لاسونه پورته نيولي...

وزيران يې د حربي پوهنتون يوه نړېدلي ټولګي کې لکه لوست ته کتار کړل.

نيم ساعت وروسته د نظار شورا برګه دريشي کې د اتلسو، شلو کالو ژنې راغی د وزيرانو پر وړاندې لکه فاتح سپه سالار ودرېد... لکه د دښمن اسيرانو ته چې ولاړ وي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي... تاسې محترم شخصيتونه ياست که چا درنه ساعتونه پيسې اخيستې يا بل تکليف و، ماته وايي...

دباندې شور او غالمغال دی د نظار شورا دوه تنه خپلو ملګرو را ايسار کړي... وايي بايد برايشان درس داده شود... له مخابرې يو نرۍ غږ پورته شو درس... نه فرش...؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسليکونه- انځورونه...؟

د کب ۱۷ مه يوه بله سړه او چيچلی ورځ، له سړی سيلی سره تودی ګولی... بې ځنډ او دمې غوږمبی...

جګړه د چا پر ضد...؟ د خپلو خلکو د ځپلو جنګ، د خپل هېواد د فتحه کولو هوس... د يو بل وژلو مسابقه...؟

مخابرې بوختې، اړيکې جړ دي... له ډېرو چيغو د عبدالعزيز غږ ناست دی.

برځېر مهال له عبدالعزيز سره يوه شېبه کېناستم درک يې نشوای لګولی... دا چې جګړه پر کوم استقامت د چا لخوا غزېدلې، څوک وړاندې تللي، چا په اصطلاح تاکتيکي په شاتګ کړی...؟ څومره زيانونه رامنځ ته شوي...؟

په نه زړه راته وايي درک نه لګيږي... خبرو ته يې زړه نه دی... را ولاړشوم لکه ټول د ځان پر ضد جګړه کې بوخت دي، ځانونه وژني، ځکه خو د چا د پرمختګ او په شا تګ، ماتې او سوبې پته نشوی لګېدای... رښتيا دغسې جګړې څوک نشي ګټلای... روسانو بايلله... مجاهدينو ونه ګټله دلته يې دواړه بايلي... بل ګټونکی راوځي...

وايي هره غاړه د خپلو کرښو د اکمال لپاره (۲۴) ساعتو کې له يو نيم لک زيات ډالر ښندي.

دومره لګښت له کومې راځي... د پرديو جګړو يو تريخ حقيقت...؟

لکه د حقاني صاحب زړه ته هم نهيلی لارې موندلې... ښه شوه که د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغو وړيو له شړی کېدو لاس واخلي...

لاندې د سيند په نمجنه لمن کې د شګو غونډی کې لمر ته کېناستم لکه د کلي پيتاو خوږ لګي... اوبو ته ګورم په نه زړه په نريو کږو وږو لارو پښه نيولی پل اخلي...

کاغذونه مې راوايستل... ځينې يادښتونه مې په هغسې بېړه کښلي چې اوس يې خپله نشم لوستی... د ځينو ټکو نښې کودونه رانه ګډ وډ دي، که داسې ده بيا د يادښتونو څه ګټه...؟

د ځينو په لوستو چې وتوانېدم، په سمو او څرګندو تورو مې وکښل...

تر ډېره مې سره راغونډ کړل...

يخ ونيوم... ګوتې مې کرغچ شوې...

چې کوټې ته راغلم، د غرمې ډوډی يې وړه، پير صاحب کوټې ته له دوو کاسو سره ځغلېده... په زړه کې وايم يوه هماغه و چې شخې وريجې، سپور اوبلن دال...

چې د کوټې په درې يې پښه کېښوه، خوله يې له خوشالۍ جينګه پاتې وه...

کاسې يې کېښوې... يوه کې تور بانجان... بله وريجې...

ډګروال صاحب د واړه د بانجانو کاسه پر وريجو واړوله... ما لاس مينځلي وو...

ژر مې له بانجانو څو مړی پورته کړې... ډګروال صاحب سره ولړل... وايي داسې نه کيږي...

د ماسپښين لمانځه کې مې حاجي توره باز څنګ ته ودرېد، د کاغذو غوټه يې تر مخ کېښوه، حاجي تورباز جهاد کې درنه قرباني ورکړې... د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجددي له تنظيم سره پېيلې، خو د تنظيم کيسه کې نه دی... له استاد سياف سره يې اشنايي ده... دهمزنګ بنديخانه کې يې هره اوونۍ د شمالي په خوږو انګورو نازاوه...

پېښور کې يې تنظيم په تنظيم د يووالي ځولۍ ګرځوله... لومړيو کې ښه و، دفترونو، مشرانو ته يې ورپرېښود، وروستيو کې يې له دروازې وړاندې مخه نشوی موندای.

استاد سياف چې د جلا تنظيم هوس واخيست، يو استدلال يې دا و چې اتحاد په زاريو نشي رامنځ ته کېدای... له ځان حاجي توره باز نه جوړوم چې اوس يې څوک دروازو کې هم نه پريږدي...

دريغه استاد سياف، حاجي توره باز پاتې وای، د خدای پر وړاندې به د حاجي توره باز مقام لوړوي که د استاد سياف... هله به خبر شی چې تالو ژبې له ورشي...

حاجي توره باز د يووالي او اتحاد په اړه د قرآنکريم او نبوي احاديثو په استناد مطالبو راغونډولو بوخت وو، هغه به يې فوتوکاپي او پر کډوالو او تنظيمو وېشل، حقاني صاحب راته ويلې، حاجي توره باز چې څومره غواړي پاڼې يې ورکاپي کوه...

له حاجي صاحب سره زما پخوانۍ اشنايي وه، چې ده به سل پاڼې غونښتې ما به يونيم سل ورکاپي کړې.

دا وخت حاجي توره باز له حاجي محمد خان سره کابل کې يوه بله بوختيا هم غوره کړې، د جګړو له امله نړېدليو جوماتو کورو ګرځي، د قرآنکريم پاڼې او سوځېدلې نسخې راټولوي، په ګوليو لګېدلې، سوځېدلې پاڼې نسخې دلته حقاني صاحب ته راوړي، چې يو څه راغونډې شي، موټر ورسره کړي، غره کې يې نسخې کړي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د محمدخان او حاجي توره باز له پېښوره ملګرتیا ده، ډېری وخت یې تبلیغیانو سره اړاوه، حاجي محمد خان، وروستیو کې له ډاکتر نجیب الله سره کابل کې کتلي و، نر غوندې پېښور ته راستون شو، د ځدرانو خبره پټه پنا یې نه ویله...

زه خوشال کمزوری نه یم چې به ډار کړم
پــه ښکاره ناري وهم چې خوله یې راکړه

ماترې له ډاکتر نجیب الله سره د لیدو پونښتنه وکړه: ټوله کیسه او ماجرایې له دې قسم سره راته بیان کړه، چې دده ژوند کې به یې لکه یو راز خپله سینه کې پټ ساتم...

چې کله یې وګورم ورته وایم... کله به دې له مرګه اورم چې د سینې کولپ پرانیزم... راته وایي ستا وار وړومبی دی...

د فوتو کاپي خبره راغله... څه د حاجي توره باز پانې او ډېرې د اتحاد علما او جرګو غوندو پرېکړې... هغه وچې حقاني صاحب د فوتو کاپي ماشین راوغوښت... څرنګه چې ماشین د نوي ماډل و، په فعالیدو یې زما سر نشوی خلاصیدای...

په انجینر پسې ګرځیدو، نه مو شوی مونداى... چا د یوه فوتوکاپي والا ادرس راکړ، پیدا مو کړ، خو پلچرخي ته یې د تلو زړه نشوای ټینګولی.

چې اجوره مو ورزیاته کړه، له ناز نخرو یې هو کړه، د پک اپ په لیدو لکه بېرته پښېمانه شو، پښه یې ونیوه، خو چاره یې نه وه...

قضا مازیګر مو پلچرخي ته راورساوه... کتلاک ته ګوري پر ماشین ګوتې وهي سر یې نه خلاصیږي، ایله یې د شپې پر یوه نیمه بجه درک

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویونښت...

د پرېکړو پانې یې فوتوکاپي او زه هم ټریننګ کړم.

کټ کټ خاندي... وایي د ملا صاحبانو امضا ګانو ته دې کتلي...؟

هغه څنګه...؟

له خندا شین دی... چا له امضا مرغابۍ جوړه کړې، چا لیوه، ګیدړه، لاری موټر، ټوپک او...

چې کتل مې په رښتیا هره امضا یوه انځور ته ورته ده، ښلا ښل انځورونه یې ذهن کې راپورته کول، د چرګ، آس، ټانک، الوتکې...

سهار مو چې رخصتاوه، اجوره مو نوره هم ورغوړه کړه... خوشاله مو ټکسي کې ولیږه.

قضا ماسپښین ډزې کرار شوې، د مازیګر له لمانځه وروسته سړک ته راووتم، چې فلاینګ کوچ مې له څنګه ودرېد...

یو خړ پړ بت مې مخې ته ولاړ دی، له خولې یې شخ ویښتان راوتلي د سر وښتو او ږیرې فرق یې نه کیږي... د مخ کاسه کې یې یواځې سترګې ځلیږي، تکې شنې وړانګې ښندي، فلاینګ کوچ حرکت وکړ، د سړي څېره کې کوم بدلون نشوی ترسترګو کېدای، شوندې یې ښرته دي، خوله یې د خندا نه ښکاري، غوښتل مې مخ پر وړاندې ګام واخلم چې له خولې یې د پوچې کنځا ټکي ووتل... مخ مې ور واړاوه، سید عبدالله پاچا دی چې دویمه پلا یې په دغسې ډنګه بنګه څېره ګورم.

په ١٣٦٥لمریز کې چې موږ دواړه د حج په سرکاري سفر وتلي وو، له جدې یې سیده عزیزیه کې د جمعیت دفتر ته یووړو.

دی ټینګ دی چې عمره کوو... که هرڅو مې ورته ویل لږ ساړه خوره، نن به دمه جوړه کړو، خو دی په غوسه دی، چې حج ته راغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې، عبادت کوې که استراحت...؟

له ناکامه ورسره ولاړم، حرم ته په ننوتو مو بيروبار کې يو بل ورک کړ... له صفا مروا په راوتو دروازو کې دوه درې ژنې ولاړ دي، قيچي ګرنګوي، چې لږ سست دې وګوري د واره يې قيچي په وېښتو درښخه کړې وي.

يو ماته هم راوړاندې شو خو مايې لاس ونيو لږ مخکې مې د نايانو درې، څلور دوکانونه وموندل، هورې يې سر را ماشين کړ.

تېر ماسختن چې دفتر ته ولاړم، د پاچا صاحب درک نه و، سهار يې بيا هم پته ونه لګېده، غرمه شوه خو پاچا صاحب ورک دی، له غرمې وروسته يې پر تيلفانه د پاچا صاحب پته راکړه...

زه او استاد واصل نور ورغلو... که ګورو د يوه دفتر پر کانکريټ احرام کې غزېدلی، څنګ ته يې شپږ اووه ليمو د اوبو جک او ګيلاس ايښي، خوله وچه، رنګ زيړ، ته وايې وچکي نيولی، د سر ويښتو کې يې هغسې لارې جوړې دي، لکه کليو کې چې د ميږو، پسو، د وړيو له پريکولو ليدل کيږي، پوه شوم چې د هماغو چټاقو په لاس ورغلی.

پاچا صاحب مو پر همدغسې بده ورځ دفتر ته ورساوه د فاضل صاحب ورور ته مې چې معرفي کړ، ويل دريغه په دغه بڼه يې نه وای ليدلی...

دادی نن پاچا صاحب له هغې په ځپلې څېره ګورم... ورته وايم څه درباندې شوي، دلته څه بلا غواړې، ژر ژر يې پر وچو شوندو ژبه تېره کړه... وايي دده (.....) هغسې دغسې زما په نامه يې له استاد رباني پيسې اخيستې، په بډه يې وهلې...

چا ويل...؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمس...

درواغ وایي، ټوکه به یې کړې وي...

قدردان ویل د ډېرو نورو په نامه یې هم پیسې وړې... ګرېوان یې شلوم، ولا چې مخ ته یې ورتوکړم، پرتوګ یې باسم... په غورو دربو لګیا دی... پر خوله یې ځګونه ولاړ دي، شنې سترګې یې داسې خطرناکه شعاوې ښندي چې د سړي له زړه خیژي...

کوټې ته مې په راوستو سملاسي چای ور پوخ کړ، چې دمه یې جوړه شوه، غوسه یې هم نوکې سړه شوه...

پر پاچا صاحب مې ټینګار وکړ، چې حقاني صاحب ته یې یاده نکړي... وایي ولي یې یاده نکړم...؟

ورته وایم شرم دې، د لیکوالو رنګ بدی دی... وایي په خدای چې په دغه رنګ بدی دې واړوم...

د مابنام له لمانځه وروسته له حقاني صاحب سره ولاړو، ډوډۍ مو هورې وخوړه، پاچا صاحب له خپلې ناڅامې دوه درې واړه د ویلو اشاره وکړه، خو ما به خوله جینګه کړه...

کور یې اباد څه یې ونه ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ارګ شپه

پاچا صاحب غوښتل پر کابل یې وګرځوم، د سهار له چای وروسته ورسره رهي شوو، چې ټکسي کې مې د تلو ورته وویل شوندې یې وځړېدې، خوایې بده کړه...

ما ورته کړه: مار خوړلی له پړي ویریږي، له کتار پرته کابل کې موټر سړي ته د سر خطر ولاړولی شي، یو څه قانع شو، خو لکه زړه ته یې پوره نه وي، لوېدلې...

کابل کې ځینو سیمو ته ننوتل منع دي... څېره، قوم، ژبه، تنظیم... درته بلا ګرځېدای شي، کومو برخو ته چې د تلو شونتیا وه، څه ټکسي او څه پلې په منډه راتاو شوو...

پاچا صاحب د اباد او سمسور کابل په تېرو یادونو او خاطرو پسې سترګې غړولې، له خاورو ډکې یې موندلې... پر زړه سخت او له کانې کلک سید عبدالله د کابل په لیدو ټوله ورځ لکه ماشوم په سلګو تېره کړه(.....) تري هېر دي، له ده سره د پیسو پر سر خپړې لګول یې له یاده وتلې...

ډاکتر صاحب فاروق اعظم د کډوالو وزیر د ارګ دویم نمبر قصر کې دېره دی، دی یې د کوم تنظیم له سهیمې پرته کابینه کې نیولی چې په هڅو یې د جلال اباد ټرون رامنځ ته شوی او یوه توافق ګوتې ته یې مخه پرانیستې ده...

پاچا صاحب ته وایم راځه شپه پر ډاکتر صاحب واړوو، څه یې ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل... خو ارګ ته به ننوځو څنګه...؟

چې ارګ ته ننوتل خورا ګران دی... موږ د ارګ شمالي دروازې ته څېرمه یوو، خو له هغې ورځې چې سقاو له ارګ پر دغه دروازه وتلی، بیا نه ده پرانیستل شوې... په کار خو داوه، چې ارګ ته یې د سقاو د ننوتو دروازه ټرلې وای، که ګورو دروازه پرانیستې، ګویا هغه دود مات دی...

له غرمې وروسته دوې نیمې بجې دي، چې پر شمالي دروازه وربرابر شو، څلور پنځه بدخشاني زلمي برګو پوځي دریشیو کې له وسلو سره ولاړ دي... زه ترمخ پاچا صاحب راپسې...

له ډاکتر صاحب سره مو دلیدو ورته وویل... له سره تر پښو راته بیا بیا ګوري...

له خولې یې سون نه خیژي، پټه خوله راوړاندې شو، پر دواړو یې د تلاشي په دود لاسونه تېر کړل، بې له دې چې څه ووایي د تلو مخه راکړه، موږ لا لومړی ګام نه و پورته کړی، چې له غرفې یو پنډ جنګیالی راووت، په ترخه غږ یې ودرولو... راوګرځي... مخې ته یې تیارسی ودرېدو... تحقیقات پیل شول...

څوک یاست... د کوم ځای، څه کار کوئ، څه کار لرئ، کارت درسره شته، نور څوک پېژنئ...؟

زموږ ځوابونه به یې زړه ته لوېدلي وي، که نه، خو ظاهراً یې ځان ډاډه او قانع ښوده...

شونډې یې دومره وخوځېدې، چې موږ یې غږ نشوی اورېدای، البته د سر اشاره یې د پوهېدا وړ وه، چې موږ ته د تلو اجازه پکې نغښتې وه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی شمېره مانۍ ته په لنډو وروګرځېدو، قاضي صاحب میرزاخان دلیلي مخې ته راغی له روغبړ سره یې نېغ د ډاکتر صاحب کوټې ته بوتلو.

له جوړ پخیر نه وو خلاص چې چای یې راوړ، ډاکتر صاحب لکه له رسمیاتو مجبور وي، ځینې خبرې په لفافه کې، ځینې سترګو کې، ځینې په اشارو کنایو...

هسې هم خبره په پرده کې ښه وي، چې د استاد الفت په وینا نه یواځې خبره بلکې وینا، خطابه ټولو کې د تانیث ښېې دي ځکه خوچې ځومره پرده کې وي، هومره درنې، پخې او خوږې راخیژي...

ډاکتر صاحب په رسمي چارو بوخت دی... موږ ارګ کې د چکر په خبره تری راووتو...

له سړک پښه نشې اړولی، ونو، بوټو او شنیلیو ته نشوی ورګرځېدای، چې تر هره ونه، بوټي لاندې د قضایي حاجت انباورنه پراته دي.

پارکونه ټول له دغسې ماینو ډک دي، پل نشې اخیستې، د ګرځېدا امکان نشته...

د جنګیالیو شور زورږ ګډ دی، یوه بله خوا ځغلي، جیپان، پک اپ، لنډکروزر انګولي چې درځخه تېریږي، د دوړو او خځلو لړې لوخړې پورته شي، سترګې له خاورو در ډکې کړي، سړی له مخ پټولو پرته نشي پاتېدای.

د ارګ خپله دنیا ده، دا نوره ورته لکه دنیاګی داسې ده، دغه دنیا خپلې رنګینې لري، خوله بدرنګینو هم خپله لمن ډکه ساتي، ځکه خو خپله غېږ کې کرکې، نفرتونه، جګړې او دښمنۍ هم پالي... لږ وړاندې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنګیالیو په جلا څېرو پنځه شپږ تنه ترهېدلي خو په کرار را روان دي.

ترمنځ یې یوه عمر خوړلی بوډا له ځانه لویه دریشي اغوستې، زړه قرقلي یې تر غوږونو را رسېدلې د نکټایي په نامه یې یوه خړه ریتاړه له غاړې ځړېږي، د بوډا ملګری هم لکه دده همزولي داسې ښکاري... له خپل سن درې برابره زاړه...

دوی ټولو دغسې لویې او له موډه لوېدلې دریشي او د نیکټایو ریتاړې ځړولې، بوډا لکه دوی ته په لیکچر لګیا وي، او دوی لکه د ټولګي نارامه زده کوونکي په بیزار سترګو ورته ګوري.

بوډا د خپل لیکچر له اغېزې بې توپیره یوه بله خوا لاسونه غورځوي.

د پاچا صاحب لکه شرارت ته زړه شوی وایي کارتونونه ګوره...

ما ورته کړه د خپل وخت لوکسي دریشي دی...

- نو له ځانو یې لویې څرنګه نیولې...؟

- لویې یې نه دي نیولې، پرې لویې شوې، خوار ځواکی ځپلي...

- خوار ځواکي یې سرو ته هم ختلي...؟

- خپل وختونه دې لکه له یاده وتلي...

پوه شوو چې د ارګ کارکوونکي دي، چې اوس هم په هماغه شوق او مسوولیت خپلو دندو ته راځي... خو لکه نه پوهیږي له کومې یې پیل کړي، څرنګه یې شروع کړي...؟

زمږ خواته په رسېدو عمر خوړلی بوډا را وړاندې شو، پټه خوله یې د روغبړ غږ پرانیسته پوښتنه کې راته وایي، آغایت خوب است...

دا څوک دی، د اسماعیل شاهد خبره لکه مغزو یې کار پریښی که څه بلا....؟ ټولو د سترې مشې غږې پرانیستی... پر له پسې د خیرو خیرت تودې پوښتنې پاچا صاحب ته وایي... آغا صاحب خوب آست...

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا سړی لکه پاچا صاحب سره بلد دی...؟

پاچا صاحب هم داسې توده ورسره نیولې لکه له پلار نیکه سره بلد وي...

عمر خوږلي بوډا خپل ملګری د چارو په سپارښتنه رخصت کړل... نه ښه نه بد د ارګ په اړه لګیا شو... از پدر، پدر خدمتګار بودیم...

او ګنبد نغاره خانه است... بالا کوتی باغچه...کوتي باغچه مې ذهن کې له موده نقش ده... چې دلته یې سردار عبدالولي بندي ساتئ.

قوماندان ګل حسن یې د ساتونکې ډلې مشر و... ده کیسه کوله چې سردار صاحب به کله کله د کوټې باغچې وړه کوټه کې د جنرالي دریشي واغوسته، په هماغه کش وفش به یې کوټه کې قدم واهه، له ځان سره به په خبرو و...

کله د امر او حکم په مود کې کله لکه لمده پیشو کونج کې غلی...

په سردار صاحب پسې مشهوره ده، چې ویل یې... څو کاله یې یواځې خولی هم پر افغانستان حکومت چلولی شي، داودخان پسې یې ویلي و مغزش پوده است، د چنګانښ شپږویشتمې کودتا کې یې چې بندي ورته ودراوه، ورته وویل: مغز من پوده است یا ازتو...؟

اورنګزیب چې خپل پلار شاهجهان بندي کړ، څه موده پس یې څوک ور واستول چې حال یې واخلي... که څه غواړي وربرابر یې کړي...

شاهجهان وویل: هرڅه شته، د آرام او استراحت ټول وسایل موجود دي، که څو ماشومان راتلی لوست به مې ورته وایه...

اورنګزیب د خپل پلار ددغه خبرې په اوږدو وویل: لایې د پاچاهي هوا له سره نه ده وتلې...؟

ماشومان څکه غواړي چې خپل حکم امر پرې وچلوي... پاڅه کښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووايه... زده کړه... ولې... څنګه...؟

کوټې باغچه کې يې نورمحمد تره کي بندي ساتي، همدلته يې پر خوله د بالښت په اېښودو وژلی و...

عمر خوړلی بودا د کوټې باغچې پر تعمير راته غږيږي... نقشق ودېزاين کوتي باغچه غربي است که توسط اوستاکران و بناهای افغان تعمير گرديده.

البته کوتی لندنی ساخته دست انجينرای انگليس است... که از انگلستان سردار نصرالله خان با خود آورده بود...

ان طرف حرمسرای است... چې کتل مو د پخو پلنو دېوالو دننه بله مانۍ ده... پهلويش قصر شب جمعه... زير اداره غلام بچه رحيم جان پنجشيری... مجالس شبانه مخصوص...

طرف شمال غرب گلخانه است که در وقت اعليحضرت تعمير گرديده، دلکشا درزمان امير شهيد...

داود خان همراه خانواده اش در آن به شهادت رسيد...

منار ساعت (.....) متر طول داره ساخت کمپني انگليس که در کودتای ثور فير اول توپ منار ساعته چپه کد... سلامخانه پيشروی ارگ يک منزله اس لويه جرگه و مراسم عيد و ميلاد...

کتابخانه ارگ خيلی کتاب داشت... چاپی و قلمی و البوم های عکسا و ميناتوری رنگه وسياه، سفيد... ظاهرشاه خودش کشيده بود...

ارگ مسجد مجلل دارد از زمان امير عبدالرحمن خان پنج وقت آذان و نماز ادا ميشه...

ده کاسه برجای ارگ بندييارامی انداختند... اطاق جرثقيل بالای دروازه عمومی اس بنديا خطرناک داشت...

(c) ketabton.com: The Digital Library

رمضان پارسال سلاکوتا درگرفت... نزدیک بود ارگ خاکستر شود...

ٔدده په وینا له ارگ تر ځمکه لاندې لار (تونل) افغانستان بانک ته ختلی د ارگ د خزانو کیلی ځلور ټوټې ده، یوه ټوټه پادشاه بله خزانه دار بله..... چې سره پتلیز به نشوې کولې نشوی بېرته کېدای...

خزانه محفوظ است، شو روز می پاله نمی یافه می پاله نیم یافه... یافته نمی تانه... یافتنی نیست.... قصر نمبر دو بعد از کودتای ثور جورشد، نمبر یک نشیمن احمدشاه جان بود دو منزله د شمال غرب ارگ...

پشت گلخانه، د کودتای تنی بمبار شد ویران است... کارش بند اس.

عقب دلکشا و گلخانه تاکوی کنده... خندق... راکتا که میاییه... میدوه، تونل کنده رفت و آمد داره...

در اوایل امی مجاهدین ارگ تقسیم بود، ارگ دربدر و غارت شد... نفرای دوستم بسیار خرابی کد یکطرف عکس وبیرغ دوستم بود طرف دیگه عکس استاد بیرغ سبز وسفید...

په پای کې څرګنده شوه چې عمر خوړلی بوډا نه له ماسره پېژندل نه پاچا صاحب سره...

ارگ په ربښتیا بلنداژو، نیولی، مورچې یې کیندلی، له شګو ډکې بوجۍ یې پکې کتار کړې...

جنګیالي د ونو په پرې کولو لګیا دي... لکه پوځي فرقه او چاونې...

قضا مازیګر بېرته دویم نمبر مانۍ ته راوګرځېدو، نه برېښنا شته نه اوبه...

په ارگ کې ټینګه بې آبي ده...

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوداسه ته مو له یوه خیرن بیلر کوزې ډکې کړې چې همدا اوس یې ټانکر کې ورته راوړې وې...

د قصر مخې ته مو اودسونه وکړل...

مانښام دی ارګ تیاره دی، د ارګ رنګینې لوت دي...

چېرې شمع بلیږي چېرې لمپه، الیکین او یو نیم ځای ګیس...

د جنراتور غږ هم خیژي...

ډاکتر صاحب ته ډوډۍ د ارګ له اشپزخانې راځي، د پنځه ویشتو دېرشو کسانو ډوډۍ حواله ده... پلو، غورمه، سابه، کوک، پیپسي، له تازه میوې کیلې، منې...

د دسترخوان یو او بل سر کې الیکینونه ایښي... رښا ته یې د ناستو ولاړو سیورې عجیبه منظرې جوړې کړې، د ډوډۍ اېښودو پر وخت دغه منظرې نورې بوختوونکې ختلې... د شخوند پر وخت پر دېوال د ږیرو بنورېدا ماته د کلي ماشومتوب را یاد کړ، تته رښا کې د سیورو هغه پټپټوني چې موږ به ورته ټوله ورځ په انتظار تېره کړې وه...

نن ارګ پخپل تاریخ کې زموږ له کلي دېر تیاره دی. هغه ارګ چې اویا کاله وړاندې یې رښاګانو ته زموږ پر ځمکه برېښناکوټ رغولی و، خو تر ډیوه لاندې تیاره وه...

له ډاکتر صاحب سره مو لنډې خبرې وکړې... بنډار نشوی تودېدای رسمیاتو پرې خپل سیوری غورځولی...

له چای وروسته قاضي صاحب یوې کوټې ته بوتلو، چې یو کس پکې د مخه خوبولی و...

دوې توشکې خالي وې، پر یوه زه بله پاچا صاحب وغزېدو...

پاچا صاحب ببرته راکښناست ویل راځه یو ځل دباندې ووځو، هسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه د شپې په وتو او ګرځېدو بندیز لګېدلی وي...

کینې لاس ته له ږنګیو ونو بوټو تېر شوو... پاچا صاحب ته وایم وړاندې مه ځه ماینونه دي...

وایي: بیا به درځخه ښه خلاص شم...

په راګرځېدو مې پاچا صاحب یوځل بیا په هغسې ښه ومونډ، چې نه دي د ویلو هغه څه چې ما لیدلي دي...

په منډه مې له بیلره کوزه راډکه کړه... خو پر یوه کوزه څه کېدای شوای...؟

درې څلور کوزې مې ورته راوځغلولې... وایم اوس به ښه ځان خلاص کړې...

لوند خیشت بستره کې ولوید...

د سهار له جماعت، ذکر او وظیفو وروسته چای ته راغونډ شوو، (شیدې) شین چای او بېګانۍ ډوډۍ...

ډاکتر صاحب لکه خپل دفتر هم ارګ کې لګولی، چې د وزارت دفتر د ملېشو واک کې دی.

له مخه ښې ورورسته پر هماغه دروازه ووتو، چې امیر حبیب الله کلکاني، پرې له ارګه وتلی و...

پر پاچا صاحب بیا د لېونتوب څپه راغله... له ځمکې، ځمکې لګیږي...

نه یې پرېږدم... داسې کوم... هغسې به وکړم...

دی مې د زنبق طلای مخه کې د جمعیت دارالانشاء ته ورخوشې کړ...

ما پر پلچرخي ورمنډه کړه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل محشر

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمان زړه؛ پښتون تفکر

۱۷ فبروري ۱۹۹۴ پنجشنبه

راډيو به دې غوږ ته نيولې وي... چې دلته د شخړو منځ کې هم سړی د جګړو خبرونه له B.B.C اوري... ميرويس جليل بلاکوي له خندا شنه خوله درسره مخامخ شي... ددې سترګې، غوږونه، لاس، پښې ټول په خبر پسې لالهانده مومې... ناست تا سره وي لټه يې د خبر پيل کړې وي...

ورته وايم: موږ يې له مرګ ژوبلو خورو، چې روزي مو خبر پورې تړلې او خبر... دلته يواځې د مرګ، ژوبلو ورانيو ويجاړيو موندل کېدای شي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی وایي خبر، خبر دی، ښه بد نلري...

د میرویس کمال دی که نه افغانستان کې ژورنالیزم یواځې د جګړې هغه نه دی، چې په پام احتیاط ځان وژغورې... ژورنالیزم دی... دلته د هر زورور، زور له خبریال خوارکي خیژي، پر لیکوال یې راباندې کړي وي، مطبوعاتو کې یې سره مالوموي... مهاجرت کې چې ګوري د ترور منګولې له ټولو زیاتې د لیکوالو پر مړی ښخې وې... چې دلته جنګیالي خدای مني، د خدای نه مني...

میرویس وایي د جګړو خبرونه سخت نه دي، دجګړه مارو ګران دي...

له څو لنډو خبرو پس د ستوکنډو یادونو ته وروګرځو، هغه مهال چې میرویس د ژبارونکي په توګه له بهرنیو خبریالانو سره غټ بکس په شا د غرونو دښتو لالهاند و...

وایي ښه وخت هماغه و، لږ تر لږ د راتلونکي ډاډ خو له سړي سره مل و...

موږ همېشه د تېر ارمانجن اوسو ځکه خو له تېرو یادونو خوند اخلو... ظاهرشاه غندو، جمهوریت غواړو، خو چې داودخان راشي، د ظاهرشا ارمان کوو، د ثور کودتا وروسته د داودخان ارمانجن شو، د مجاهدینو له لاسه د ډاکتر نجیب الله...

پاکستان کې مې ډېر د پیرنګي په ارمان لیدلي... هسې نه موږ هم یو وخت د شوروي ارمان وکړو... چې وړاندې هم یې، ویل: خدایه د روس یې کړې...؟

د رادیو ستن د بي بي سي په ننبه ولاړه ده، ساعت ته په کتو مې ټک تنې کېږله... دا لندن دی... د بېګبین د غږي په غږیدا...

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی خبر د غزل بابا امیرحمزه خان شینواری وفات دی... لکه له لاسو پښو مې دمه ختله، آه مې کړه، لکه پر ځیګر مې توده مردکی مونښتې وي.

پیر صاحب ځای کې راکښناست... څه خبره ده...؟

دلته به بل څه خبره وي... حمزه بابا په حق ورسېد... ده هم اوف کړ... پر خبره یې د خواشینی ننبې خپرې شوې... غلی شو... وړاندې یې د وړوکې کړکۍ خیرنه هینداره کې سترګې ښخې کړې...

د جنراتور غرهار خوت، راډیو جړ شوه... ګل مې کړه او زه د حمزه بابا د یادونو او غزلښ د سوز او خوند نړۍ کې په سفر ووتم... نه ستړیا نه ستومانې... له غزونې "تریون" بهیر" پرې وونی" نوې چپې" نوی پښتون" او... هاچې د بابا د هنر عرش ته په تکیه کېدو دمه شوم، لکه د ټول عمر ستومانې مې وخته...

د پښتور ډبګری کې د بابا مېنې ته تلو... کله رفیع صاحب سره کله صمیم صاحب او غیرت صاحب سره... یوه ورځ داسې نه ده پیښه شوې، چې راته ویل شوي بابا نشته، ویده دی، ناروغ دی، ستومانه دی، چاسره نه ګوري...؟

مور به یې د لاندینې پوړ یوه دنګ بټک کې کښولو- پر کټو به مو تکیه نه وه کړې، چې بابا به راورسېد... په صورت زهیر او کمزوری، خو څېره کې یې د ناخوښې هیڅ نښه نشوای لیدل کېدی... له سترې مشې به خلاص نه وو، چې قهوه به راورسېده... زمور لپاره ترخه... بوره جلا پیالی کې.. مور به پیالې ډکې کړې او بابا ته به مو خپلې پونښتنې کتار کړې...

له آل انډیا راډیو، له پښتو فلم، پښتو ډرامې، خدایي خدمتګار

(c) ketabton.com: The Digital Library

باچاخان، د بابړې پېښې، کیسه خوانی... پښتونستان... دده پر ژوند، لکه تحقیقات لکه پلټنې...

پوښتنې به کله ګستاخي ته واوښتې... ستومانوونکی به ختې...

داسې به مو ګڼله لکه د دائرة المعارف پاڼې اړوو، المنجد ګورو، د هرې پوښتنې ځواب نغد و... لکه د ادبیاتو تذکره مو پرانیستې وي...

د مولانا عبدالقادر، سمندرخان سمندر، صنوبر حسین کاکاجي، راحت زاخیلي، عبدالخالق خلیق، دوست محمد کامل، قلندر مومند، اجمل ختک او... په اړه به مو پوښتنې کولې... چې کله به لکه د ماشومانو داسې شوې... رباب کې مو کومه نغمه خوښه ده.. ده به کړه تېراوال ځاخني...

خشک و تر و خشک چوب و خشک پوست
از کجا می آید این آواز دوست

له رفیق شینواري به مو غږاوه، له پښتو قوالي...

د عبدالستار شاه پاچا په اړه به مو پوښت، اسلامیه کالجیټ پریښودو خبرې به مو ترې غوښتې، له پښتو لومړني فلم به مو غږاوه...

له جعفرخان اڅکزي سره د یوې اوږدې لیکنې مباحثې په اړه به مو پوښتنې کولې...

دا ډېر په زړه پورې بحث دی، چې څومره یې لولې تنده دې زیاتیږي، یو لیک دې چې تنده ماته کړي، بل دې تر هغې زیاته تنده واړوي...

جعفرخان اڅکزي یوه لیک کې کاږي... زه د خدای د وجود څخه منکر نه یم، د خدای څخه انکار د خپل ځان انکار ګڼم، البته د اقرار صورتونه مختلف دي، تاسې چې څومره ځان د هغه محتاج ګڼي، زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغومره دی هم دځان محتاج ګنم.

که مور نه وای، خدای به نه وای، د خدای د عظمت صحیح تفسیر پخپله انسان دی، د خدای ۹۹ نومونه دي سلم يې انسان دی...

له دغسې منطق، تفکر او استدلال سره يې ګزوه... جعفرخان په پوښتنه پسې پوښتنه راپورته کوي، حمزه بابا په سړه سينه ورته ځوابونه کاږي چې انسان د الله تعالی مخلوق دی لکه نور مخلوقات خو پر عقل او شعور له هغو غوره...

د جعفرخان اځکزي له دغه ډول پوښتنو او نظرياتو سره حمزه بابا فتوا نه ده لګولې، عصبي شوی نه دی، کوم تور او پېغور يې نه دی راپورته کړی، ګناهګار يې نه دی پېژندلی...

علم کلام، فلسفې آن ساينس ته يې مخه کړې، په استدلال اوجدل يې بحث غزولی دی.

هغه مهال يې هم زمور د پوښتنو ځواب کې جعفرخان په درنښت یاداوه، دده په وينا دغسې حالت په سړي راځي زه هم يو وخت له دغسې کيفيت سره مخامخ وم... دلته سړی د تضاداتو څپو په مخه کړی وي، د يقين واګي يې له لاسه لوېدلي وي...

د صابر صاحب په وينا حمزه پخپله خدای ته رسېدلی، جعفرخان ته خدای ور رسېدلی... منزل يو، لارې جلا...

ما په سياسي او علمي بنډارو او مباحثو کې د زغم دغسې لوړ مثال نه دی ليدلی... د حمزه بابا نظريات په علم او استدلال ولاړ دي، د جعفرخان منطق د سياست او ښلا ښلو ايډيالوژيو تر اغېزې لاندې غزېدلی... د يوه فيلسوف په وينا که عالم خبره کوله منه يې، عمل پرې کوه، خو که د سياستوال وه، ورته ګوره چې د چا خبره ده، جغرافيه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کسه، څه وخت، کوم حالت کې يې دا خبره کړې...

د پرې وونی خطاطي اباسين صاحب رضاکارانه په غاړه اخيستی وه، د خپل زړه خپلې سليقې خطاطي، له خپلو نخرو او ناڑاميو ډکه خطاطي... خو حمزه بابا پرې خوا درنه نکړه، دوه ټکي يادونه يې ورسره مل کړه «...کتابت اباسين کړی، چې د اکثرو لوستونکو لپاره به نوی او تر يوه حده گران ښکاره شي، خو ورو، ورور به ورسره اشنا شي... چې څه خاص فرق يې نشته...»

له ټولو زياته گستاخي زما هغه وه، چې پخپله ماته گوډه شاعري مې له حمزه بابا تقريظ غوښت، ناپوهي وه، نادانې وه... په خدای چې په ياد يې اوس هم له شرمه خولې، خولې شم... زما شاعري همزولو ليکوالو دخپلو تقريظونو وړ نشوای پيژندلی... خو حمزه بابا په مينه او لورپينه مسوده واخيسته، خپل تقريظ کې يې زما شاعري د مولانا حالي مسدس ته ورته بللی...

که څه هم د حمزه بابا تقريظ زما ټکي په ټکي ياد دی، خو له خپلې حافظې نه له اصل يې را اخلم... که ژوند و...

دريغه زه انځورگر وای، کاشکې مجسمې مې کاږلی شوای...

حمزه بابا د پښتو غزل د تشخص فني غورځنگ او هنري انقلاب رامنځ ته کړ، ده غزل کې د ملي احساس د ځايولو لار ټپره او له ژوند سره مل کړ، په دې توگه يې د پښتو غزل د فني ښايستونو ټول عناصر پښتنې کړل...

حمزه بابا خپله شاعري کې د افغان ناسيونالیزم جامع تعريف او روښانه تصوير را اخيستی، د افغان ناسيونالیزم اساسات، نخچه او ادانه چې ده څومره څرگنده ساده اورنه وړاندې کړې، هغه افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناسيونالیزم د ملي ایډیالوژي په بڼه له وارداتي هغې ډېر نښه بېلولی شي... ده د افغان ناسیونالیزم ځانګړنې په طبیعي بڼه په داسې سیاسي چوکاټ کې راټولې کړې، چې د افغانیت روح او ديني اعتقادات يې د ملي سیاست او ولسواکي فلسفه ګرځولې... ځکه خو مونږ ښايي افغان نالسیونالیزم د حمزه بابا له فني تجلیاتو استنباط اور او باسو... که مونږ اصیل افغان ناسیونالیزم غواړو له ټولو څرګند يې دحمزه بابا فکر او فن کې موندلی شو:

حمزه بابا مسلمان زړه او پښتون تفکر د افغان ناسیونالیزم سرچینه ګڼي...

چې بې تا چاته ټیټ نه شي ننګیالی، زما ژوندون کړه
زړه زما دې مسلمان وي، تفکر مې د پښتون کړه
ما حمزه ته یې ثربي باده خاونده
په بناغلي پیمانه کې د افغان را
ته اسلام او پښتو دوه ګڼه زه وایم
خدای هم که انسان وای نو پښتون به و
حمزه سفر که د حجاز وي نو هم
زه د پښتون له قافلو سره څم
وایي اغیار چې د دوزخ ژبه ده
زه به جنت ته له پښتو سره څم

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجمل ختک وايي: پښتونولي (خوشال خان ختک) مې وينه، سوسيالېزم مغزو او قرآن کريم مې زړه کې دی...

زيات يې مه ګڼه له خدای او له رسوله

نوره نشته د وطـــــــن د مينې پوله

(ساقي)

حمزه بابا، استاد رفيع، توريالی ځاځی، عرفان ختک، همېش خليل او شهرت ننګيال

جهاد هغسې فساد دغسې:

د ګلم جم د چور تالان، ميکروب ډېر ژر د کابل تورخم - کابل کندهار او د هېواد نورو لويو او وړو لارو مجاهدينو ته خپور شو، دغه مکروب له مجاهدينو ټوپکيان جوړ کړل، يو پر بل پسې يې د پاټکونو زنځيرونو په بڼه د لوټ تالان نوي او مترقي لړۍ رامخې ته کړه، په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

توګه چور او لوټمار د حکومت او امنیت مسوولینو او د حق لارې مجاهدینو هویت وګرځید.

پر لویو لارو دغو پاټکو د سوداګرو په مالونو او د مسافرو پر غوټو د محصول او ټکس په پلمه د لوټ تالان محشر جوړ کړي، هر پاټک د یوه جلا حکومت په توګه ځانګړی خو نامعین او نامشخص قواعد لري، د پاټکونو د دغه تور بازار عایداتو د مجاهدینو په نوم د هر ببر سري اشتها پارولې، ځکه خو هره ورځ د دغو پاټکونو شمېر لوړېږي، که ګوري د لارې پر سر نوې خېمې دروي، چې خپلو پاټکونو ته په اصطلاح قانوني حیثیت ورکړي، ځینې لا پکې داسې هم دي، چې له خېمې او کوټنۍ بې نیازه سهار راځي او تر مانښام د موټرو له سپرلیو او ډرېورانو خپل قلنګ ټولوي، تر دې چې د عادي مسافرو پر وړو وړو غوټو هم د محصول لګولو په پلمه خپله شوکه کوي.

یوه تن چې دوه پکولونه ورسره راوړل، د سرکنډو بابا زیارت پاټک د غوټې تالاشۍ کې یو پکول پر سر او موټر ته د تلو قومانده ورکړه، کله چې د غوټې خاوند ډرېور ته وویل، موټر ودروه، چې خپل پکول واخلم، ډرېور ورته وویل: شکر باسه چې په پکول ترې خلاص شو، ورته درېږم ځکه نه چې اول خو ډېر امکان لري، ډز راباندې وکړي او که داسې ونه کړي، نو وهل ټکول، بښکنځل او بې عزتي خو حتمي ده، مهمه دا چې زما خو په دې لار تګ راتګ مجبوري ده، زه بیا له دې ځایه سلامت نه شم تېرېدی، پرېږده یې، د پکول تاوان به زه درکړم.

جګړه مار په خلکو په زور سنګرونه، تونلونه باسي، له مهماتو، وسلو ډکې لارۍ پرې تشوي پوځي توکي تر خپلو مرکزونو، سنګرونو پرې لېږدوي، ددې کار لپاره یې ورسره په ورځو ورځو برمته ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټوپکيانو وحشت او لوټ تالان، د بربريت نوی ريکارډ ټينګ کړ، تازه ميوو کې د زهرو له پيچکاريو ګڼ کسان وژل شوي دي...

وړو ټوپکيانو له يوې سيمې ولايت بل ته پيسې تابوتونو کې لېږدولې، دغسې د غونډو فرقو په نامه قوماندانانو ته ورکړل شوې پيسې هم تابوتو کې د ځمکې او هوا له لارې لېږدول کېدې.

د بګرام جلال اباد له هوايي ډګره د وسلو ډکې الوتکې سودان ته الوځي، دغه وسلې او پوځي مهمات چاته رسېږي، بيه يې څوك ترلاسه کوي...؟

د وسلو دغسې بربنډ قاچاق سودان حکومت ترلاسه کوي، سړي څه نشي ويلی؟ بګرام هوايي ډګر د احمد شاه مسعود د نظار شورا واك کې دی، له جلال اباد د چا په سلا د قاچاق دغه لړۍ غزېدلی....؟

له سودان ننګرهار ته اسامه بن لادن د لېږد له راز احمد زيدان پرده پورته کړه، زيدان يو عرب ژورنالیست دی، چې نواز شريف ورته د پاکستان تابعيت ورکړ.

په ربښتيا هم د مجاهدينو د پرون پيمانه چې له ويارونو ډکه ده، څنګه ممکنه ده، له هغه رسوا او شرمېدلي نن سره پيوندکړای شي، چې مجاهد او جهاد شرم او پېغور ګرځېدلی، له دې څخه دې نتيجې ته رسېږو، چې ووايو جنګ کمال نه دی، جګړه ورانول دي او ورانول ډېر اسانه دي، خو سياست او حکومتداري هغه کره کاڼي دي، چې له ټولو وروستی ازموينه اخلي، کانکور ازموينه، دغې ازموينې تنظيمي مشران د کانکور ځپليو هغو په توګه د حشر پر ميدان بربنډ ودرول.

له همدې ځايه ده چې د جهاد ويارمن پرون د نن په بدغوني فساد بدل شو، ځکه خو ويلی شو، جهاد هغسې او فساد دغسې...

(c) ketabton.com: The Digital Library

محکوم، مجبور او اسیر کابل:

کابل د دېوانو، پېريانو ښار ګرځېدلی، هره شېبه جنګ لکه ګڼ سری افسانوي ښامار په واټونو کوڅو ګرځي، له خولې يې لمبې راوځي، انسانان په کې نغاړي، ودان کورونه په هديرو اړوي، د دغه ښامار له زهرو ډکه ګېډه مړښت نه پېژني، ښاريان مرګ په خپلو سترګو وينې، خو څه وکړي، چېرې لاړ شي، کوم ځای ځانونه وژغوري.

کابليان ژاړي، خو د توپونو، توغندیو خولې له کرغېړنې او زهرجنې خندا ډکې دي، هغسې د کړس کړس خندا چې نه يې د شپې خولې تولېږي نه د ورځې...

کابل د جګړو لمبو کې سوځي، کله د اوربند په نامه او کله د اوربل، چې يوه سيمه کې د لوټ تالان لپاره څه پاتې نه شي او جګړه مار يوه ناحيه کې ستړي شي، د نوې سيمې او يو څه دمې او استراحت لپاره اوربند رامينځته کړي، بله سيمه کې جګړې او لوټمار ته لاس غځوي.

کابل د جګړو او وحشت لمبو کې سوځي، پر دولتي او عامه ملکيتو د غصب قيامت را ټيټ دی، د زور آباد، مجبور آباد په خولو غږېږي...

د ټوپکيانو قوماندانانو په ځان عجيبه نومونه ايښي، پر دغو نومونو ويارې، شفيع ديوانه، رسول بېخدا، اختر لوچك، مجيد گرك، ملا قصاب، مشتاق نافكش منير شيشه خور، اسد مار خور نصير مكروب، اكرم دمبه او...

ويرونكو جامو کې يې ځانونه نغښتي، پر يوه پښه كلوشه په بله موزه، يوه پايخه لنډه، بله اوږده، د سر په كلوښتو ويښتو کې يې ګرنټ ځړولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د علي اباد " نادرشاه" روغتون کې زمونږ یو کلیوال بستر و، وحدتیانو تری سترګې ایستې وې، زماد لومړنی ښوونځي هم صنفي نظر محمد یې په ډېره بېرحمۍ د سترګو ایستلو وروسته وژلی و...

د دولتي بودجې د منظورۍ درک نه لګېږي، چوټ انداز پیسې چاپېږي او وېشل کېږي، شتمن او سوداګر له هېواده وتلي، چې د یوه قوماندان له خوا له اختطاف وروسته پر بل قوماندان پلورل کېدل، دا سوداګري دومره وغوړېده، چې تښتول شوی په څو قوماندانانو لاس په لاس خرڅېده، پخوا مو د سپینو چکو اورېدلي و، ژوندي چکونه مو اوس ولیدل.

کابل کې هر یو له مرګ منډې وهي، له جګړې تښتي، خو نه پوهېږي چېرې تښتي، کابل زخمي دی، حسن یې شهید او موسکا یې تپي ده، افغانستان کې پرونې او بورقې دواړه تار تار دي، دستارونه له سرونو ولوېدل، د حوا د لور ستر مات او عفت لوټ دی، د افغانستان ملالۍ سرتوره ولاړه ده.

کابل کې یوه ټکسي والا پر مورږ د پاکستانیانو ګومان وکړ، راته کړه یې، ښه غله او لوټمار مو راته راولېږل...

مسعود بینظیر بوټو ته د مبارکۍ او نېکو هیلو پیغام ولېږه... په دې ټکو کې چې د پاکستان ټاکنو کې د بنیادګرایانو، اوپرچونستانو ماته د افغانستان د دولت بری دی...؟ هله به خبر شي، چې تالو ژبې له ورشي...

د بېنظیر بوټو په بري د محمد یونس قانوني په مشرۍ د نیکو هیلو یو پلاوی اسلام آباد ته ولاړ، د پاکستان ولسمشر فاروق احمدخان لغاري سره کتنه کې چې ښاغلی لغاري په پښتو د غږېدو وویل: قانوني نه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل په انګریزي... لکه قانوني ابو حنیفه مدرسه کې د عربي پر ځای انګریزي لوستې...

د کابل دار المجانین کې له لوړې لېونیان هله مړه شول، چې دوی پسې یې دروازې ټرلې او ساتونکي تښتېدلي وو.

په مرنجان غونډۍ تل دې وي استقلال توري پرمخې لوېدلي...

رباني، مسعود دومره فرقې منظورې کړې، چې ولسوالیو، علاقداریو ته هم غځېدلې دي.

د ملګرو ملتو استازي ارماکورا راپور ښیي چې کابل کې ٣٦٠٠٠ کورونه ړنګ شوي، ٣٠٠٠٠ ته زیان اوونښتی... (یو نیم لك کورنۍ داخلي جنګو کې بېځایه شوي دي.)

رباني د سرکاري هوټلو د کوټو احکام هم لیکي، بانک ته د پیسو او فرقو د منظورۍ کتابچې ورسره دي درزا درز امرونه ورکوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

غله مخونه، د کاني زړونه

غوښتل مې د مشرانو څېړې ولولم، چې د زړونو مالک الله تعالی دی...

څېړې مې ولوستې، څینې په ګرانه، څینې په اسانه... د څینو کرښې نسخ د څینو نستعلیق...

یوه کې مې هم د دغو مرګونو او مرګانیو پښو په اړه د خواشینۍ، پښېماني او معذرت کومه کرښه او ټکی ونشوای لوستی...

البته د څینو څېړو کې د ډار، منافقت، ټګی او ذلت داغونه هومره ژور لیدل کیږي، چې پلاستیکي جراحی هم نشوای پټولی... څکه خو یې د څېړو کرښو، د خولو له خبرو سره اړخ نشوای لګولی... ته به وایې ډار، منافقت او ټګۍ یې پر څېره اتن ګډ کړی...

له عواطفو او جذباتو تشې او کرختې څېړې پر یو ناکام لټون دومره ستومانه چې ژبې، ټکي، توري او وینا نشي ورسره پاللی...

له خولې یو ټکی راوځي، څېړه بله خبره کوي... لکه د دوی خپلې خبرې مدعا نه وي، هر ټکی یې له بل په پور اخیستی...

انسان کے بکھرے ہوئی اعضاے بدن دیکھ
تن اور ہے، من اور ہے دل اور ہے زبان اور

څومره چې د نورو غولولو پسې لګېدلی ځانونه یې د دوکې عمیقو څاګانو ته غورځولی... چا کن خودش د چا است.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر ځان ناباوره پخپلو شکمن، پر ملګرو بدګومانه، څکه خو يې له خولو څو ژبې راختلې، څو څېرې، نقابونه او ماسکونه يې پر ځان غوړولي... هېڅا يې اصلي څېره ونشوی ليدای... تر نقاب لاندې نقاب، نن يوه څېره سبا بله....؟

نه له جنګ باوري، نه له سولې ډاډمن... جنګ تو صلح، صلح تو جنګ است، من بقربانت اين چه نيرنګ است...

نه ملت ته رښتينی، نه جهاد ته مخلص، نه پر اصولو ګروهمن، نه پر ارزښتونو اعتقاد، نه له روغې جرګې پوهه، نه له نرخ کانې خبر... غول په غول سودا...

زما د وطن خلک يې تـميز کولی نه شي
د ځـــينو رهبرانو او د غلو مخونه يو دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستړی وجـــود ستړی همت په مخه ستړی سفر
زړګی يې چوي چې له تا کړي کوم وګړی سفر

(...)

خدای پامان

د سهار له لمانځه په راګرځېدو ګورم ډريوران په موټرانو بوخت دي، څوک د مبلينو ګيچ ته ځير دي... څوک د ټبلو اوبو په برابرولو لګيا دي، څوک ټايرونه ګوري، ځينې سامانونه غوټې تړي... باډيګارډان يوه بله خوا ځغلي، ځينې ببر ولاړ دي...

ببله دې چې څوک وپوښتم خپل کاغذونه مې راټول کړل... پير صاحب ته مې ويل: لړمه کوچ! که ګورم لړم د مخه لکۍ پر سر اړولې...

حقاني صاحب ته مې سر ورښکاره کړ، وظيفه کوي... بېرته وګرځېدم...

لکه د کوچيانو کډې باريږي، هماغسې منظره ده، په دې توپير چې د اوښانو ځای ګاډو موټرو نيولی...

کوټه مې له سره وکته، کاغذونه مې لاسي بکس کې ځای پر ځای کړل، د جامو غوټه مې برابر کړه...

چې راووتم يوه بله خوا له چای جوشو ګيلاسو سره ځغلي، څوک کوټو کې، څوک د باندې يو بل ځای چای ته راغونډ دي...

زما زړه زور نه اخلي، له ديوال سره ولاړ يم راتلونکی ورکه، حال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښته...

د نامعلوم سفر چمتووالی سړی په همدغسې حیراني او بېحالي اړوي...

ایله مې د لمر وړانګو تودوخه احساس کړه، چې غوړمب شو... ګر ګر ګولۍ وچلېدې...

د پیر صاحب څېره غوړېدلې... خو زما پر زړه لکه دروند بار پروت دی... چې له هرځای په لېرد له ما د زړه یوه ټوټه پاتې وي...

ایــک دل کا توکڑے هزار هویں

کویی اُدهر گـرا کوئی ادهر گرا

بېلتون خورا ګران دی، له یارانو دوستانو او خپلوانو چې جدایي څومر څوروونکې ده، دغسې لېرد هم زمولونکی خیژي، څکه خو مخه ښنه کې خپل احساسات په سختي کنټرولولی شم.

پیر صاحب د چای وویل... ما ورته کړه پرېږده یې لاره کې به ګورو... په حیراني راته ګوري...

له خپلو سوچونو او احساساتو سره بوخت یم چې غوړمب شو، د ډزو دندو کار...

بیا به یې دچاد څوانې ګلان ریژولی وی...؟

کابل کې ژوند په همدغسې ډزو کې ساه اخلي، کابلیان د لمبو په سیوري کې د ژوند هیلې پالي، د مرګ په کومي کې په ماتو او زخمي ګوتو د ژوند د نغمې شلېدلې تارونه ترنګوي.

حقاني صاحب وظیفه خلاصه کړې... له سلام سره لږ په ډډه کېناستم...

(c) ketabton.com: The Digital Library

خورا ستړی مې موند... تر اوسه مې دغسې ستومانه، نه وليدلی...

ورته کړه مې: حاجي صاحب زه په تورخم درځخه ځم...

لنډه يې راپرې کړه ستا خوښه...

زه چوپ شوم.

دی هم نور څه نه وايي.

زه منتظر يم که ووايي... څه وکړه... څه کوو، څنګه يې وکړو...

خو ده هېڅ نه ويل.

زه هم غلی ناست يم.

له ماسره د ويلو ډېرې خبرې وې... خو زړه مې نشوا کړی، ما خپل جرأت بايللی...

ما حقاني صاحب د جګړې لومړيو کربنو، بمباريو او سختو شېبو کې ليدلی، په جرګو مرکو کې ورسره ناست يم له مشرانو، ليډرانو سره مې په تودو او جدي بحثونو ليدلی، د ژورنالستانو سختو پوښتنو سره مخامخ شوی، خو چېرې مې هم دغسې ستومانه او بې حوصلې نه دی موندلی...

پر خونه درنه چوپتيا خپره ده، د علي جان حاجي هم شونډې ګنډلې، څېره يې نيولې او ترينګلې ده...

زه ژر ژر خپل ساعت ته ګورم...

حقاني صاحب وويل: ملګري درسره شته..

ورته وايم داسې څوک نه...

وايي په خير ولاړ شئ.

زه هم راولاړ شوم... خدای پامان...

مخه ښنه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه د خرڅ درک ولګېد نه د لارې لګښت... حاجي صاحب کله هم څوک دغسې تش تور نه دي رخصت کړي...

مخه ښه کې به يې د ملګرو له احوال او وضيعت ځان ډاډه او خبر ساتي، چې راووتم مولوي شيرين او عبدالرحيم اخوندزاده هم پر تورخم د تلو تابيا لرله، سره ملګري شو...

علي جان حاجي- پير صاحب تر لاس نيولی، پير صاحب څټ څټ ته کيږي، چې ما ورته د پېښور خبره نه ده کړې...

دواړه زما خواته راغلل... علي جان وايي حاجي صاحب ويل دا خرڅ ورکړه... د عبدالرحيم اخوندزاده ګاډی ترمخ د مولوی شرين او زمونږ هغه ورپسې... مخ په پېښور...

چې پکی ښکلی ياران شته
پېښور تر هـــــر ديار ښه

غبرګـــون:

مطبوعات نشته رسنيو ته د لاسرسي مخه نه ليدل کيږي، خلکو د اعتراض ځانګړې لار خپله کړې، له ځان سره له جګړو د نفرت اظهار...

د تنظيمو، تنظيمي جګړو او ټوله کې مجاهدينو پر خلاف د کرکې څرګندولو دا يواځينی لار ده، چې د چستانو، ټوکو او سندرو په جولې کې پرې خپل غم غلطوي او د انتقام درد ټکوروي، کله يې خپل احتجاج پر دېوال کښلی وي، کله پر کومه پانه چې بيا خوله په خوله ګرځي... پکول ګو کرد، ريش شبش، لونګي...

هفت خر تان ببريد، يک ګاؤ ما را پس دهيد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو لاس کښلی پوستړ باندې بې "خر مګس" کښلی، شرحه یې د هر تنظیمي مشر له نامه یا تخلص سره پیلي... د ماشومانو د ساتیري کیسو کې یې خپل دردونه او احساسات ځای کړي...

اکو بکو سرسیندکو
روسان لاړل په ترپکو
چې لایق و، د کوتکو
اکو بکو سرسیندکو
نجیب بند شو په ولچکو
پنجابیان شول په چکچکو
دا بې شرمه بې تبلکو
شیخان ټول شول په غومبکو
چې چور ګډ شو د چپلکو
بیا حضرت شو صدراعظم

یو دوه میاشتې زیات و کم
ده ویل ځان به کړم محکم
سپور به شم په ګلم جم
خو په عقل کې و کم
ځکه سپك شولو په سپکو
اکو بکو سرسیندکو

رباني ونیوو وار
ده کولو دا اقرار
د اسلام یم خدمتګار

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلام دې ټیکه دار
د غدارو دې غدار
حل و عقد په نوم شورا
جوړه کړه په ناروا
ملت نه و پرې رضا
خو ده وکړه دا ګنا
خوار ملت سره جفا
ګلبدین شو خبردار
چې څه وکړل دې مکار
ځان یې جنګ ته کړو تیار
برید یې ګډ کړ د توپکو
اکو بکو سرسیندکو

پنجابی شو خبردار
ورته راغی په تلوار
دا مضر او فریبکار
ټول یې کینول کتار
ورته ناست و لکه پلار
ورته یې وکړ نصیحت
چې تقسیم به کړم قدرت
د رباني دی ریاست
د ګلبدین هم صدارت
د هر چا دی خپل قسمت

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل کوي عيش او عشرت
بيا جنګ مه کوی بچکو
اکو بکو سرسيندکو

په پښتو کې دا متل دی
چې په تول ښه مکمل دی
دا چې غله دي درې رقمه
دا کيسه ده ډېره سمه

دا يوه ته وايي غل
خزانې ته جوړ کړي چل
دا دويم يې دی غل د توس
خر به پټ کړي دا دووس
دا دريم يې دی پير کوسی
وباسي د سترګو کسي.

زه چې ګورم دا مشران
دا زموږ ټول ليډران
دا ټول غله دي د چاينکو
اکو بکو سرسيند کو

ډېر ګرم نه دي حکيم جان
يې خبر په دې بيان
بيا يې مکې ته کړل روان
د اووه واړه مشران

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته کښښوده قرآن

د خدای کور کې دا فرمان

ویې کړو عهد او پیمان

چې پر یوه لار یوو روان

نه آزار کړو افغانان

نه ځوریږي یتیمان

خو قسم یې کړلو مات

دې خاینو نالایقو

اکو بکو سرسیندکو...

کابلیانو عجیبه خبرې جوړې کړې، واقعیتو ته یې د ټوکواو طنز ژبه ورکړي، وایي: ملګرو ملتو ډاکتر نجیب ته وویل که کومه غونښتنه لري دوی به یې د کابل پر واکمنو ومني...

ډاکتر ورته کړه که راډیو تلویزیون کې د نیم ساعت خبرو وخت راکړي، ملګرو ملتو دده غونښتنه احمدشاه مسعود او رباني ته ورانديې کړه.

ځواب منفي دی، ډاکتر ورته کړه، شل دقیقې، دا هم نشوی کیدای، پنځلس، پنځه... دوی یوه دقیقه هر غونښتنه رد کړی شوای.

ډاکتر د یوې ثانیې غونښتنه وکړه، ملګرو ملتو وپوښت په یوه ثانیه څه کیدای شي...؟

ډاکتر ورته وویل ډېر څه ګوته به ورته لکه کړم چې ټرټ...

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وريښمين تنګي پر يوه کمر يې کښلي:

قرض ورکړه سياف ته

ضامن تري ګلبدين واخله

راشه بيا مې (.....) واخله

***

قو قو برګ چنار

رهبرا ششته قطار

ميزنه چرس و قمار

کت دالر وکلدار

کاشکی سياف ميبودم

زير لحاف ميبودم

هفت امير پارينه

پګا خوردند خاګينه

ساخته از خون مردم

قصرهای شاهانه

قوقو برګ چنار

اميرا ششته قطار

ميکنه پيسه شمار

ميزند لاف بيسيار

(بشپړ نه دی)

دغه شعرونه د شبنامو په بڼه ويشل شوي:

ای رهـــبران! ای رهزنـــان اه مـــن و جـــان شـــما

ای خاينـــان فتنـــه جـــو خـــونم بـــدامان شـــما

(c) ketabton.com: The Digital Library

مـــن ملـــت وامانـــده ام، افتـــاده ام در بنـــدتان
خـونین بـود اعضـای مـن از جنـگ و پـیمان شـما
هســتی مــن بربــاد رفــت از غــارت و دزدی تــان
اولاده ام آوره گشـــت از طـــرح پنهـــان شـــما
در بند پول و حرص جـاه سـودا نمـود خـاک وطـن
بهــر عــرب، بهــر عجــم اینســت وجــدان شــما
ای ظالمـان ای قـاتلان خـون میچکـد از جنـگ تـان
ای دلقکـــان بیگانـــه اینســـت دوران شـــما

***

چــرا ظــالم وطــن را بــا فلاکــت مبــتلا کــردی
ز مـیهن لاف سر دادی چـه میگفتـی چیهـا کـردی
تـو میگفتـی کـه روزی ایـن وطـن را گلسـتان سـازم
نهـادی پـا بـه مـیهن صـد شر و فتنـه بپـا کـردی
بـه سـاز اجنبـی بـر پـا نمـودی رقـص کشـتن را
بخـــون بیگناهـــان سرخ، دســـتت را حنـــا کـــردی
نـه تـاراج و یغـما بـردی همـه هسـت و بـود ملـت
به خوف از ملت مظلوم و نـه تـرس از خـدا کـردی
دلـــت پـــر از نفـــاق و کینـــه در سر شـــور بربـــادی
علـم بـر کـف شـعار و اعتصـموا ادعـا کـردی
ز اعـــمال رذیلـــت فرعـــون و شـــداد حیـــا نمـــود
خـاین بـه ملـت و مـردم خیانـت بـا خـدا کـردی

(د دوارو نظمونو ډېره برخه د لیکلو نه ده)

(c) ketabton.com: The Digital Library

مردم کابل زمین
صحنه بچشمت ببین
دشمن تو در کمین
کن نگه واپسین
سوی تو توپان رسید
مردم نادان رسید
قوم مجاهد چه شد؟
رهبر و مرشد چه شد
مردم زاهد چه شد؟
محراب و مسجد چه شد؟
قاتل و دزدان رسید
دشمن افغان رسید
نیست وفادار تو
رهبر ریا کار تو
هست همه خار تو
جمله شده مار تو
پیرو شیطان رسید
گوی پاکستان رسید
چوچه انگریز و هند
صاحب کچکول و کند
نوکر ارباب سند
روز ملنگ و شب رند

(c) ketabton.com: The Digital Library

صد را میران رسید

(.....) جان رسید

لعل و زمرد چو خاک

تورمل و بیروج پاک

لاجورد با دل چاک

مال (.....) حکاک

نوکر ایران رسید

خواجه ئین (...) رسید

تاجر تر یاک و چرس

پودر ان زود رس

نیست به سود این کشور

بسته به باد هوس

دشمن انسان رسید

(....) خان رسید

لیدر وهابیت

نوکر اعرابیت

پیرو شدادیت

خون و رگش مادیت

سرخیل دزدان رسید

(....) بی ایمان رسید

تاجر توپ و تفنگ

خفته بجان چون گرنگ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوکر ملا شرنگ
شایق گیلاس و بنگ
غر غر و نالان رسید
ملا (...) جان رسید
(...) ریا کار ببین
مسجد و زنار ببین
روبای مکار ببین
دیده خمار ببین
به سر جوشان رسید
پیرک (....) رسید
وحدت مملو زکین
دار خمینی ببین
گشته بیرون از کمین
دشمن روی زمین
ننگ شیعیان رسید
دل رفسنجان رسید
شیرک برقی کجاست
قلزم ژرفی کجاست
موج سرآبی کجاست
دیو نقابی کجاست
ناکس دوران رسید
(...) پریان رسید
پیرو پرچم شده

(c) ketabton.com: The Digital Library

عضو گلم جم شده

نوکر دوستم شده

ننگ دو عالم شده

خار مغیلان رسید

شرم جوانان رسید

دزد جواهر رسید

کاذب و ساحر رسید

شعله جا سر رسید

ظالم و جابر رسید

بجان افغان رسید

جنرال (...) جان رسید

وهابی کرد قیل و قال

حق ملت شد پایمال

تاکه او ناید بحال

در حدود یکصد سال

رقاص (...) رسید

بدبختي افغان رسید

ځینې برخې د لیکلو نه وې، ځینې مې نشوای لیکلی، ځینې مې چې په بیړه کښلي په بیا لیکلو کې نشوای لوستی - ځکه خو بشپړ نه دي.

پنج بنای جهادي: سلاح، ریش، پکول، قتل و غارت، چوکی مقام پر یوه دیوال کښلي :

مجاهدین امدند

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاین دین امدند
با موتر پک اپ
پشت قالین امدند
تشنه خودن مردم
روی زمین امدند

بل ځای په سکرو لیکل شوي:
کابل برباد کابل
دشمن ناشاد کابل
رهزنان خود فروخته
میکند بیداد کابل

د میوند واټ پر نړېدلي اپارتمان:
ای شرارت پیشه تا کی این شرارت میکنی
شهر را یکسر دچار ترس و وحشت میکنی
مردم ما را چرا غرق مصیبت میکنی
افرینت ای مجاهد خوب خدمت میکنی
کار این وطن را به یغما و غارت میکنی
ای خدا ناترس با اسلام تجارت میکنی

د دهمزنگ د ترافیکو پر مدیریت:
امیران غیر پرست
بخاطر تاج و تخت
میریزد خون ناحق

(c) ketabton.com: The Digital Library

میکند ظلم و وحشت
ذوق زده امارت
رهبران بی غیرت
مرگ آور دون صفت
خاین به ملک و ملت
مرده باد! مرده باد!

د میرویس میدان پر ویجاړه سینما:

چـراغ گـل دلـت سرد اسـت کابـل
رقیبـت سـخت نـا مـرد اسـت کابـل
میمـیرم مـن بجـان نـا توانـت
که هر جایت زخم و درد است کابـل

د شا شهید پر یو بنوونځي:

دا مجاهد مجاهد ټول کړئ
تنور پرې سور کړئ چې وطن په کرار شینه

پر یوه بله نړېدلې ودانۍ:

دوستم بیازار آمد
گلو به کشتار امد
از بخت بد مردم
سیاف مکار امد
این خوجه ئین ربانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

این شیطانک ثانی
هر تار ریشش دام است
این جمبور اخوانی
به نام دین خدا
کشتار و جنگ و بلوا
میکند به مردمان
چور و چپاول روا
صد لعنت هزار نفرین
بر مسعود و گلبدین
دوستم ستم گرا
مردود دنیا و دین
مرده باد هر ستمگر
هر خاین باد در بدر
(بشپړ نه دی لیکل شوی)

(...) شد سخت رسوا
بی ایزار و بی کالا
روشن تاریخ شور بازار است
ماما جان بخت تو بیدار است
نوبت رسید به (...)
در هشت روز دو هزار قربانی
خوجه ئین باز سر خر سوار است
ماما جان بخت تو بیدار است

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمرد شد بمثل کاه

لاجورد شد بیع زده بازارها

بیروج و لعل میخ پیزار است

ماما جان بخت تو بیدار است

(بشپړ نه دی لیکل شوی)

(...) از راکت کولکسیون میسازه

(...) در شمال کون فدراسیون میسازه

خوجه ئین برای خود اساسی قانون میسازه

(...) از هزارا کلچه صابون میسازه

دل بوبوجان خوش که دشمنه سرنگون میسازه

(...) خو از اول غلام غلام بود

(...) از قدیم مبتلای نشه مدام بود

(...) از زرنگی در فکر ذخیره گدام بود

(...) از روی حرص بتلاش حرام بود

دل بوبوجانش خوش که بچه ها بدماش بی لگلام بود

(...) را رفسنجاني لمسوت کرده بود

(...) راوها بیان دخلوت کرده بود

(...) خپکی زیر فالیز انجروت کرده بود

(...) از (...) پرسان قی قروت کرده بود

دل بوبویش خوش که شوق ریش و بروت کرده بود

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

جرګې د جګړې اور ګل کړ

د ۱۳۷۲ لمریز د لیندۍ میاشت ده، د پېښور هوا لکه د پسرلي لګیږي حقاني صاحب په یوه بله روغه جوړه بوخت دی، د هېواد بېلا بېلو سیمو خوله ور مرکچیان او جرګه مار یې راټول دي، پلاوونه، چرګان، غوښې بادیږي... زمونږ هم بېړۍ مېره ده.

د جرګو مرکو یو خوند په همدې غوړو غوړوپو کې دی، خو کله کله سړی د ګېډې په آزار هم واړوي، کرۍ ورځ په نهره هغه هم سفر او تودو بحثونو کې دربانديې تېره کړي، لا چې واك غواړي هغه هم توی وړی، چې له امله یې په لوښي لاس نیولو ته اړشي، خوندور خوراکونه درته ایښي وي، ګوتې به نشي وروړی...

چې د دواړو غاړو قناعت هم څه اسانه خبره نه ده چې که توی وړی واك دې اخیستی و، بیا د جرګې له پرېکړې څوك غاړه نشي غړولی.

یو څل یوې غاړې ته ورځه، بیا بلې ته، خپله ورته وایه، د هغه اوره، دلته نو د نرخ او کانې خبره شي، چې بلا حوصله غواړي د دغسې جرګو اوبحثونو منطق نه د سیاست او دیپلوماسۍ په نښویو، لشمو اصطلاحاتو کې موندل کېدای شي، نه د یوناني فلسفیانو په صغرای کبرۍ کې... دغسې منطق او اغیز یواځې پښتانه مرکچیان او جرګه مار نښوولای شي، چې پخپل جادوګر منطق په لږ وخت کې د بدیو، دښمنیو د مودو کنګال شوې چاپېریال ویلې کولای او د جګړو په لمبو سړی اوبه تویولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقاني صاحب د همدغسې جرګې په مټ وکړای شول، دښمنې غاړې روغې ته چمتو او د جرګې پر ټغر راټول کړي.

د عقرب میاشتې له پیله له پېښوره، جلال اباد، سروبي ته ځو، د ربړې په بېلا بېلو اړخو خبرې کیږي، احمدشاه مسعود چې څه له خدایه پر اسمان غونښتل پر ځمکه یې موندلي وو، ده له پیله غونښتل جګړه له کابله اطراف ته ولیږدي.

د ګډ شورایي سیستم د ایجاد له امله ننګرهار ښه اداره رامنځ ته کړې، ټول اړخونه یې خپل څنګ پورې نیولي، مانا د حزب او جمعیت سیمه ییز ځواکونه یې هم یوه میز ته راغونډ کړي، امنیت ښه دی، د کابل کډوالو ته هم د پنډغالو او خیمو اسانتیا شته، د جلال اباد ټرون ددغه اداري بل بری ګڼل کېده، خو احمدشاه مسعود او نظار شورا د ننګرهار له اداري او شورا ښه زړه نلري، د حزب پر ملاتړ یې تورنوي، غواړي د حزب د تجرید او مخالفت دریځ ته یې اړ کړي.

حاجي قدیر خپل ناپېیلی موقف ټینګ ساتي، له بده بخته د حاجي شمالي خان په وژلو ننګرهار کې رامنځ ته شوی تاوتریخوالي د جګړې ترینګلتیا او اندېښنې رامنځ ته کړې وې، نژدې د پښتنو قومو ترمنځ د یوې خونړۍ جګړې اور بل وای...

کابل ننګرهار شورا ته د پوځي مرستو پیغامونه لیږل، د هوایي ځواک ټټر یې واهه چې که وکړای شي، د حزب قوماندان زردادخان چې سروبي کې په یوه مانا د احمدزیو د پوځي قوت سمبول ګرځېدلی وځپي، او د پښتنو تر منځ د جګړې اور بل کړای شي، له یوه غیشي دوه ښکاره ترلاسه کړي.

د کابل تورخم لار ټرلې، مسافر په لارو کې بې اسرې بند پاتې دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل کې د خوراکي موادو نرخونه اسمان ته ختلي، دوړو غاړو د یو بل پر ضد مورچې نیولې درنې وسلې یې ځای پر ځای کړي.

مولوی حقاني د سولې لپاره یوه جرګه جوړه کړه.

ورور یې حاجي محمد ابراهیم د میزان میاشت کې پر دوړو غاړو وګرځېد او د جرګې لپاره یې رامات کړل.

حقاني صاحب مطبوعاتو ته وویل: د ننګرهار شورا او احمدزیو ترمنځ د جګړې اورلګېدلی و، د جګړې مخکنی اسباب او عوامل چې هرڅه وو او دا چې څه ډول دغه جګړه پېښه شوه، چا د جګړې دغه اور ته د لمن وهلو هڅه وکړه، د چا لاس پکې و او له دې لارې یې د خپلو سیاسي اغراضو د ترلاسه کولو هڅه کوله زه دلته په هغې بحث مناسب نه ګڼم، چې لږ و ډېر ټولو ته څرګنده ده...

البته ظاهري منشاء د حاجي شمالي خان او ددې ورور ناصر خان وژل او د دوی د غونډونو مرکزونو او شتمنیو لوټل و، دې کار د احمدزیو پر قام بد تاثیر وکړ، که څه هم په دې هکله ډېرې توصیې وشوې خو کوم ځای یې ونه نیو، احمدزي پورته شول او دا یې عنوانوله چې انتقام نه اخلي، د شمالي خان د شخصي شتمنیو، غونډو او وظیفې غوښتنه یې کوله چې دا هر څه بېرته دوی ته وسپارل شي.

ننګرهار شورا ویل د شمالي خان له املې زمور نظم ورانديې هم مختل و، امنیت خراب و او نور ډېر داسې مشکلات موجود و، اوس که یو ځل بیا ددې خاصو کسانو ته په داسې صورت کې چې روغه نه وي شوې، او مړي یې پر ځای پاتې وي، ددې کسان شورا ته راشي دا به د جنګ او فتنې سبب وګرځي.

دوی دا هم ویل چې شورا د تنظیمو په سطحه جوړه شوې اوس باید

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه په عوض د محاذ له تنظيم يو بل نفر ونيول شي، په دې شورا کې د قوم په لحاظ کوم تشکيلات وجود نلري، چې شورا کې د قوم په حساب برخه ورکړل شي، دغسې غونډونه او مرکزونه هم شخصي ملکيت نه دی، دا ټول د ننګرهار شورا واک کې دي چې د ننګرهار فرقې مربوط دي او د کوم قوم وندې نشي ګرځېدای.

دوی دا هم ويل چې دغه مربوطاتو کې که څوک ټاکل کيږي هغه بايد د ننګرهار مربوط وي، مونږ په غور او تعمق د دواړو خواوو اظهارات واورېدل او د خپلو معلوماتو بشپړولو هڅه مو وکړه دغسې مو ننګرهار کې د شمالي خان د وسلو شتمنيو معلومات راټول کړل، په حصارک، سروبي، تيزين او ملا عمر کې منځ ته راغلی وضعيت او موجود او پخوانی حالت معلومات مو ترلاسه کړل، مونږ لومړی دا کوښښ وکړ چې لار خلاصه شي، ځکه په جلال اباد کې سلګونه مسافر د لارې بندېدو له امله چې زنانه، بوډاګان او اطفال پکې شامل دي، له څو ورځو بند پاتې وو، چې نه هوټلو کې ځای و، او نه هغوی کوم بل ځای پيدا کولای شوای، ددې له امله کابل کې هم د خوراکي موادو نرخونه ډېر لوړ تللي وو، او د غذايي موادو قحطي يې رامنځ ته کړې وه، او ټول هېواد يې اغېزمن کړی و، مونږ لومړی لار خلاصه کړه، نژدې يوه مياشت مو په دې هلو ځلو تېره کړه، څو واره تر جلال آباد سروبي پورې ولاړ و، له ټولو اړخونو سره مو تفصيلي خبرې وکړې، د هغوی قناعت مو حاصل کړ، زمونږ د هلو ځلو په نتيجه کې ننګرهار شورا توافق وکړ، چې که جوړه کيږي بايد بيخپوره جوړه وشي، ځکه خو يې شورا کې د شمالي خان د ورور حاجي مونجي په شمولیت هم توافق وکړ، غونډونه او قطعات به داسې کسانو ته چې د ننګرهار او د محاذ تنظيم مربوط وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسپارل شي، ټول لوازم او شتمني به يې ورته تسليم ش[illegible] استشناد ډاکي غونډ، دا غونډ فعلاً پير صاحب ته حواله شو، ا[illegible]ب به دا غونډ داسې چا ته سپاري چې دوارې غاړې پرې توافـ[illegible]ي. ځکه دغه غونډه جنرال رحيم وردګ تاسيس کړي.

فيصله کې دا هم راغلي چې د لارې په اوږدو کې بايد دوارې غاړې پاټکونه وانه چوي، غير قانوني محصول او پيسې له چا وانخلي که هر چا سرغړونه وکړه، دوارې خواوې به ورته يو لاس وي، له سرغړوونکي به هيڅ ډول قومي، تنظيمي ملاتړ نه کوي، له دوارو خواوو پنځوس، پنځوس لکه کلدارې برمته او ضمانت اخيستل شوې،که هر طرف له فيصلې سرغړونه وکړه دا به په طريقه د تعزير باالمال د دوی جريمه وي، چې د سولې هيئت ته به ورغلی وي.

د مړيو په باره کې تر يو کال تيرې کېښودل شوه، په دې موده کې به د مړيو پور نه غوښتل کيږي.

ترڅو حالات مساعد شي، چې شوې فيصله عملي کړای شي، دا هم بايد ووايم چې هر طرف له دې فيصلې سرغړونه وکړي، برمته به يې ځي، دا دفيصلې يوه کاپي ده درسره وايې خلئ...

جرګه د حقاني صاحب په مشرۍ له لاندې مرکچيانو جوړه وه.

د جرګې مشر مولوی جلال الدين حقاني

حاجي محمد ابراهيم عمري	ځدران
حاجي مادوخان	ځدران
وکيل وزير محمد	ځدران
حاجي عبدالرحمن خان	ځدران
حاجي خانګل	ځدران

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان صاحب محمد وزير	منگل
حاجي حبيب الله	منگل
حاجي نظام الدين	گربز
ملك حسين	گربز
حاجي شاه خان	گربز
حاجي ولي	گربز
حاجي ماه خان	تنی
حاجي میربازخان	خوستوال
قوماندان ولسوال محمد حکیم	کابل
تورن خان محمد	کابل
قوماندان عجب گل	کابل
قوماندان موسی خان	وردگ
قوماندان میاسید اغا	وردگ
خان صاحب انورخان	زرمت
وکیل سرورخان سلیمانخېل	کتواز
حاجي آدم خان جلال خېل	کتواز
شاه محمود ساپی	کونړ
ملا بخت میر	وردگ

د سولې پرېکړه ۱۱/۸/۱۳۷۲ د لنډي خیبر یوه لویه غونډه کې اعلان شوه.

غونډې ته د ننګرهار شورا رئیس حاجي عبدالقدیر خپله لنډه وینا کې وویل: جنګ، جګړې که د هر چا لخوا وي، د افغانانو په تاوان دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورِ د جنګ جګړو بديو دښمنو مخه په جرګو، مرکو بندولای شو، چې دغسې يوې جرګې زمورِ له منځ دښمني لېرې کړه، حقاني صاحب زمورِ ترمنځ د جرګې له لارې سوله راوسته او يوه بدي او دښمني يې په وروری بدله کړه، مورِ له ده مننه کوو، او د جرګې د پرېکړې د منلو ډاډ ورکوو.

په ده پسې د احمدزيو مشر حاجي نعيم کوچي خپلو خبرو کې وويل: زمورِ او ننګرهار شورا ترمنځ يو لوی جنجال رامنځ ته شوی و، حکمتيار صاحب او حضرت صاحب ددغه جنجال د لېرې کولو هڅې وکړې، خو بدبختانه دا جنجال حل نشو او تر سروبي ورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان اسلامی دولت
د خوست ولایت

د ( ) ریاست
څانګه د الله الرحمن الرحیم

The Afghanistan Islami Dawlat
Khost Velayat

نمبر ۷/۱۱۶
ورځ ۱۳۷۹/۱۱/۱۲

محمده و نصلی علی رسوله الکریم و بعد!

الله پاک مسلمانانو ته همیشه په صبر، صنعه، عفوه او په احسان باندی اودیدی خواب په نیکی ارشاد کړی دی نو کله چی دوی دلو مسلمانانو په منځ کی جنګ شروع شو بی طرفه مسلمانانو ته خدای پاک دوی داصلاح امر او ارشاد کړی لکه چی الله پاک فرمایلی دی ۱۰۰ و ان طائفتان من المؤمنین اقتتلوا فاصلحو بینهما فان بغت احدهما علی الاخری فقتلوا التی تبغی حتی تفیء الی امر الله فان فاءت فاصلحوا بینهما بالعدل و اقسطوا ان الله یحب المقسطین.

حم سورة الحجرات

نو کله چه که مړه، محکمی دننګرهار او سروبی او احمد زیو مسلمانانو په منځ کی لاڅه پیښه شوه او عام قتل او قتول شروع شو دی لاڅخی دحل دپاره مور دصلحی هیئت جانبینو ته دصلحی خواست وکړو مور دوی مور ته عام و تام واک او اختیار راکړو

دصلحی هیئت دوهیر تحقیق څخه وروسته لاندی فیصلو ته ورسید کوی او دهرځانب څخه بی اړه مسلمانو کلدارې نقد ضمانت واخیست.

۱ هغه خلک چه په دواړو خانبو کی مړه شوی دی دهغه په باره کی د څینو ملګرو ملګرو په خاطر دصلحی هیئت یوکال کابی کیږود او ددغه ذکر شوی وخت په تیریدو یامخکی ددی تاکلی وخت څخه به دصلحی هیئت په ذکر شوی برخه دغه معامله انشاء الله فیصله کوی یعنی دمړو خلکو فیصله ددی هیئت په غاړه ده. خانبین به دمړو په معامله کی یو په بل کار نلری، دمړو خلکو دوارثانو حقوق کاملا دصلحی هیئت په لاس کی دی، دوی دواړو خانبو دخلاف به صورت کی په ذکر شوی برخه خانبه پابند کړی، هغه نی دخدای به قرآن خانبه پابند کړل.

۲- شخصی مالونه به خانبین بویل ته واپس، کړی او دواړه خانبه به خدای (ج) حاضر او ناظر بولی، خکه حقونه دمستحقینو ته ور کړی او که سا هم دکوم خانب قناعت حاصل نشو نو دصلحی هیئت فیصله به ددوی په حصه کی آخری فیصله وی.

۳- دشمالی خان به عوض په شوراکی دده دګروپ نور صالح سړی چه دننګرهار مربوط وی مقرر شو لاکن چه دده دکورنی په استثنا وی.

٤ دواکی غونډه چه سابق دپیر صاحب مربوط ز هغه دپیر صاحب زوی محمد آغاته ورکړ شو لاکن شرط به داوی چی پیر صاحب به داغنډ داسی شخص ته حواله کړی چی دخانبینو دقناعت ور وی.

ب: دشمالی خان دننګرهار مربوطه قرارګاوی او مرکزونه دسابقه تعامل له مخی دتولو لوژستیکی او نظامی موادو سره ورته حواله شوه البته په دی قطعو کی دنورو ولایاتو او سابقه رژیم او نورو تنظیمونو خلک دشمولیت حق نه لری.

ج- هغه مرکزونه او قرار ګاوی چه احمدزیو دمقابل لوری څخه دډی موجوده شخړی په سر نیولی دی هغه خپلو مربوطه قوماندانانوته چه په سروبی اوزبین، تیزین، حصارک او ملاعمر بابا کی موجودیت لری سره دلوژستیکی او نظامی موادو په مکمله توګه حواله شوه.

۵- دننګرهار اداره باید دسابق په شان خپلو شوراګانو او وظایفوته ادامه ور کړی او دسابقه تعامل له مخی دقوماندانانو سره چار چلند وکړی چه دچا قانونی شکایت پورته نشی او کوم قطعات او جزئامونه امنیتی یانظامی چه دننګرهار د اداری له لاری اکمال کیږی هغه دی‌اداری دحکم پیرو او خپلو وظایفو ته د اداری دحکم سره سم دوام ور کړی.

٦ دکابل څخه تر طورخم پوری باید هیڅ نوع پاتهک غیر اصولی او غیر قانونی دمحصول او جریمی په بهانه وجود و نه لری او کوم کسان چه ددغه مادی خلاف ورزی کوی ددغو کسانو مقابله او منع نمودی به جانبین په مشترک ډول کوی هیڅ نوع تنظیمی یاقومی ملاتړ به جانبین نکوی.

۷- دفیصلی داعلان څخه وروسته باید په دوو ورځو کی جانبین شوراګانی لښکروته او سنګروته دیوبل په مقابل کی په کلی ډول ختم کړی او خپل عادی ژوند ته دوام ورکړی.

۸- هغه قوماندانان چه دشمالی خان دمرګ څخه وروسته دشورا او وظیفو څخه تللی دی باید خپلو وظایفو ته چه شورا ورته سپارلی دی حاضر شی.

۹-دفیصلی داعلان څخه وروسته سمدستی باید دصلحی هیئت او جانبین منتخب شوی هیئتونه په مشترک ډول دفیصلی دموادو په تطبیق کی اقدام و کړی.

ومن الله التوفیق، والله اعلم و الله علی ما نقول وکیل

مولوی جلال الدین حقانی

دوولس گرامه ماغزه/ ٦٦٨

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ مشر مولوي جلال الدين حقاني جرګه وکړه له دواړو خوا و يې واك واخيست، مونږ عام او تام اختيار ورکړ او درنه مچلغه مو ورته کښښوه، په پښتنو او احمدزيو کې چې يو ځل چاته څوك واك ورکړي بيا هغه فيصله څوک نشي ماتولای. کومه فيصله چې حقاني صاحب کړې، مونږ يې په بشپړه توګه منو او زمونږ قوم ترې ملاتړ کوي.

په پای کې مولوی حقاني پخپلو لنډو خبرو کې وويل، مونږ ډېر خوشاله يو، چې د دښمنۍ او جګړې مخه مو ونيوله، مونږسره دواړو غاړو په پوره صميمت همکاري وکړه، دا د جرګې برکت و، چې د وروری فضا يې رامنځ ته کړه چې لله الحمد يو دايمي اوربند وشو او د لارې په دايمي خلاصون موافقه وشوه، دواړه غاړې له پرېکړې راضي دي، داسې څوك مونه دي ليدلي چې فيصله يې پخپل تاوان بللی وي، زه له دواړو غاړو او خپلو ملګرو مننه کوم اجر او خير ورته غواړم.

دغه بريالی جرګې ثابته کړه چې د جرګو اصل ته په پاملرنه مونږ خپلې ربړې او کشالې په ښه توګه اوارولی شو، چې جرګه د افغاني ولسواکۍ په تن کې د روح حيثيت لري د افغاني ولسواکي دغسې موفقيت که ډېر خوشال او ډادمن کړل، پر ځينو يې د وېرې او اندېښنو دوړې وغورځولې... دغه جوړې په ډاګه کړه چې جرګې زمونږ په ملي هويت او تاريخ کې د تل لپاره د ربړو په اواري کې کارنده رول لرلی دی.

که څه هم مونږ د اخبار مجلو چاپ ځنډولی خو په دې اړه مې فوق العاده ګڼه چاپ کړه... هاشمي صاحب چې له قاضي نجي الله سره دائرةالمعارف کې کار کاوه، پر دغه ګڼه ددې له تبصرې راته وويل... ننګيال ته خدای ورکړه... اوس به مو په جرګه جرګه لېونې کړي... دی د جرګې مرکې له دغه ورخه پر لويه جرګه د اوبو ور اړولو مخ ګوري...

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوځنده سيوری:

دوه جلا پيغامونه

حقاني صاحب له متحده عربي اماراتو خوست کې د پوهنتون په جوړېدا کې د مرستې ژمنه ترلاسه کړی، شاوخوا پر ګرځېدو او لټون يې له متې چينې سره سړک ته نژدې سيمه خوښه کړه، نخچه بشپړه او پخې خښتې را رسېدلې، انجينران لګيا دي، د دېوال ګرځولو چارې بشپړې شوی دی.

زه نه پوهېږم... دلته ماته کومه اړتيا شته...؟

چې نور ځان راته سولېدلې او بېکاره پرزه بريښي، چې د کوم ماشين د ګرځولو نه بلکې د پښې لخوا د لور او څټک لپاره کارېدای شي...

ورځ تر ونو لاندې په خپلو سوچونو او ډګروال صاحب سره په ټوکو، کيسو تېره شي... مانښام د پيرانو حجرې ته ځان وربرابر کړو، چې يو څه غوړه را رسېږي... شپه په آرام تېره شي...

خو د ډګروال له لاسه دا ځان راباندې ودرېد... چې به ناخبرې يې د يوه پير په رټلو ترټلو خوله خلاصه کړه، وايي دلته يو څوک دی شيرين جمال نومي که ګل جمال ځمکې يې لاندې کړې، چې په تخته بېک کې يې ونه ځړوم، نه يې پرېږدم...

له دې ناخبره چې دغه بناغلی پيرانو خپل مشر منلی... که څه هم پيرانو خبره په خندا تېره کړه، خو ما يې له ببر کتلو او پارېدلو پر زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخوړه...

ډګروال ته وایم د پیرانو حجره خو دې راباندې ودروله... د شپې ځای په تا شو...

مابنام له څه بې درکې وروسته خوشاله را روان دی... وایي راځه! د مستري سردار د ورکشاپ مخه کې دوه چپرکټه ایښي، پر یوه یې خپل ځادر وغورځاوه، د بل یې ماته اشاره وکړه د خوست ماشې په نامه دی چې منګس یې بولي لکه برچې یې ایستلې ... سترګې مو پټې نه شوې...

سهار مو د خوب په اسره تر ونو لاندې ځادر وغوړول، خپلو خیالونو کې ډوب وم، چې ډګروال صاحب راغږ کړ: څه چې حاجي صاحب ته ورشو... ورته وایم پرېږده چې لږ د کرار سا واخلو حاجي صاحب ته څه وایې...؟

د خپلې خبرې ترمیم ته راوګرځېد... د نورځه لپاره نه، ددې لپاره که راته ووایې تر اوسه دلته ګرځئ... ځئ ورک شئ... خپله مخه وهئ، مابنام چې حقاني صاحب وروغوښتم دګروال صاحب ته مې کړه، لکه چې کار وشو...

کوټه کې څوک نه شته، کاغذونه یې ګډ وډ مخې ته پراته دي، لکه یو راز راسره شریکوي، وایي: زما له خوا احمدشاه مسعود او استاد رباني ته پیغام یوسه...؟

جلا پیغامونه... د احمدشاه مسعود په نامه پیغام، حقیقت کې وړاندیز یا غوښتنه ده، دا چې بوسنیا کې مسلمانان د سربیانو د ظلم او تېري، بټې کې سوځي، ښه به وي زه او ته د افغانستان له جګړو په لیرې کېدو د بوسنیایي مسلمانو مرستې ته ځانونه ورسوو...

ما پوښتنه وکړه، بوسنیا ته تګ شوني دی؟ امریکا او ملګري ملتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښايي هلته خپل پلان ولري، حقاني صاحب وايي دا وروسته خبرې دي، چې د مسعود له خونښې وروسته پرې خبرې کېدی شي...

څرنګه چې حقاني صاحب له دې وړاندې هندي کشمير کې د امريکايي ژورنالیستانو په خوشې کولو کې خپل رول لوبولی و، هغه ته په کتو ما د خپلې پوښتنې دبشپړ ځواب په نه تر لاسه کولو، څه ونه ویل:

د استاد رباني په اړه پیغام بیا هم پر یوه وړاندیز یا غونښتنه راګرځېده، دا چې استاد د خوست پوهنتون په جوړېدا کې مرسته وکړي، او له کورنیو جګړو په مخ اړولو د خوست پوهنتون ریاست پر غاړه واخلي، د لویې پکتیا د مشرۍ پټکی د ده دی.

که څه هم ماته دغه وړاندیزونه عملي نه ښکارېدل، خو څرنګه چې خوست کې بیخي تنګ یم، له نه، نو او خو پرته مې هو کړه... ما یو ځل بیا خپل منافقت پټ کړی شو... خو حقاني صاحب څومره سپین زړی دی... چې دغسې هیلې پالي...

ما د ده لخوا د استاد رباني او مسعود په نامه جلا لیکونه ولیکل چې ده لاسلیک کړل، په لیکنو کې راغلي:

شهرت ننګیال زما له خوا تاسې سره پر یوه موضوع د خبرو لپاره درځي، هیله ده، ستاسې توافق تر لاسه کړی شي.

استاد رباني مې په اسانۍ وموندای شو، راسره یوه اړخ ته شو، په لنډه یې را پرې کړه: حقاني صاحب ته ووایه: "بوسه به پیغام نمی شه" خپله راشه چې خبرې وکړو...

له احمدشاه مسعود سره لیدو نژدې دوې اوونۍ وخت ونیو، کارته پروان کې د غلام بچه کور کې ډاکتر عبدالرحمن ورسره مخامخ کړم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه ساحه کې د غلام بچه کور ماته له پخوا به زړه پورې و، چې دا یو وخت زما د تلو راتلو لار وه... د یوه غټ ګټ او کمر پر سر ددغه سیمې له ټولو مانیو په جلا بنه او رغښت چې د هر لیدونکي پام یې ځانته اړاوه... دا به چاته نه وي څرګنده چې غلام بچه یو وخت لنډه موده د ضبط حوالاتو (غالبا لومړنی) رییس پاتې شوی...

مونږ ژوبن ته تللي وو، هلته ابه له یوه په ونه دنګ بوډا سره چې د مړز لکی فیشني ږیره یې لرله او د پتلون پایڅې لکه د محمد هاشم خان صدر اعظم پر تورو موزو را پرتې وې لنډ روغبړ وکړ... مونږ ته یې کړه: دا غلام بچه رحیم پنجشیری و، هغه نوم چې ټول تاریخ او جغرافیه یې پکې راغونډه ده، له شرحې پرته څرګند و...

د مانۍ له لویې دروازې سره یوې وړې دړې ته له دواړو غاړو پخه پوړۍ ختلې... په کومه کچه چې زینه غځېدلې، دغه برخه د کور اړخ ته ورننوتلې، مانا د پلیو لاره یې نه ده نیولې، له ټول اثر او رسوخ سره یې قانون درونده ګڼلی... د مانۍ دننه سړی د وړوکي ارګ په مزه او منظره اوږي... چې دا وخت نوي واکمن پکې د واک لوبه توده ساتي... ظاهراً له ډاکتر عبدالرحمن سره ده خو کله کله آمر صاحب هم پېښه کوي.

زما د دوه په دوه لیدو غونښتنې ته یې په بې توپیرۍ وکتل له دریو ګینټو انتظار وروسته یې په ولاړه یو لنډ لیکچر راکړ: دا چې افغانستان د ټولو اسلامي مبارزو لپاره پامونږ مرکزي حیثیت لرلی شي.

مونږ هغه وخت د نړۍ له مسلمانانو سره مرسته کولای شو، چې دغه مرکز مو ټینګ کړی وي...

ماترې د یو لیك وغونښتل، خو ده وویل: باوري یم چې زما له خوا هم بنه استازیتوب کولای شې...

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه له کابله کلي ته ولاړم، او بيا پېښور ته، مياشت وروسته مې له حقاني صاحب سره وکتل، معلومه شوه د خوست پوهنتون د پروژې يو انجينر چې د لوګر اوسېدونکی و، چا وژلی... د پوهنتون د جوړېدا چارې درېدلې...

د بوسنيا جګړه د اورتودوکس مسيحي سربانو او بوسني مسلمانانو او کاتو ليک کرواتانو تر منځ ۱۹۹۲ کې پيل او د ۱۹۹۵ کال ډسمبر کې د امريکا په مداخله د ډيټون تړون په لاسليکېدو پای ته ورسېده، چې د ريچارډ هالبروک کارنامه بلل کېږي.

دغه جګړه کې سربيان ځواکمن و، ځکه د پخوانۍ يوګوسلاويا ميراث تر ډېره دوی سره و، مانا پوځ او ځواک دوی ته رسېدلی و، د سربانو مشر رادو وان کارادیچ او پوځي مشر جنرال راتکو ميلايچ په منظم ډول مسلمانان وژل... د دغه جګړې خبرونه په اسلامي هېوادو کې انګازې خپرې کړې، د مسلمانانو ټولوژنې او د سربانو لخوا پر مسلمانو ښځې د جنسي تېري خبرونه اسلامي نړۍ کې لکه د ځنګل اور خپاره شول افغانستان کې غځېدلی کړکيچ کورنۍ جګړه رامنځ ته کړې، د افغانستان جهاد کې برخه وال ډېری عربان بوسنيا ته په لېږدېدو د بوسني مسلمانانو په پلوۍ جنګېدل، امريکا د بوسنيايي مسلمانانو په پلوۍ مداخله وکړه، مسلمانان تکيه او بوسنيا جلا هېواد وګرځېد... د جګړې له پای ته رسېدو يو شمېر جنګيالي عربان بېرته خپلو هېوادو ته ستانه شول، پاتې هغو ته د بوسنيا ولسمشر عاليا عزت بګويچ د قانوني مشتېدنې شرايط برابر او د دغه هېواد تابعيت ورکړ، ټولنه کې جذب شول ځينو هلته ودونه وکړل، د کار روزګار زمينه يې ورته برابره کړه، ځکه خو اورپکي پاتې نه شول...

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر جګړه برلاسي جرګه

د يوه کال تيږه

خورا په زړه پوري ... چې نه مې تر اوسه کتابونو کې لوستي، نه مې فلمو کې ليدلي، نه مې کله د خيال په وزرو پر دغسې پېښو او صحنو د الوت مخه موندلې ده ...

زه د خپل ژوند له نوې تجربې سره مخامېدم، نوي څه مې موندل، پر نويو حقېقتونو اوښتم ...

د خوست چې ګرمي څومره زمولوونکې ده، ژمی يې هغسې تود نه وي ... مانا د جلال اباد او پېښور که ګرمي سخته ده، ژمی يې تود دی، خو د خوست دوبی ګرم او ژمی سور ... ځکه خو يې نه د ژمي خوند شته، نه د اوړي ، د ګرمی منګس (ماشې) لا پرې د پاسه بل غضب ...

بياهم خوست کې د پراپرټي نرخ له پېښور او اسلام اباد لوړ دی ... افغانستان کې دېرې پرمختياوې د مودې او فېشن په کچه غوړيږي، کاروبار او سوداګری کې هم د سيالی ان تربګنی ارخ جوت خيژي ...

زرمت کې چې د تراکتور مودې خپور شو، که د چا ځمکه وه که نه تراکتور يې بايد د کلا مخ کې درېدلی وای.

وردګو کې بيا د موټر سيالي سر راپورته کړ، ځمکه پټی به يې په ګرو ورکړ، غورازه موټر به يې دروازه کې ولاړ و، غم نداری بز بخر ...

خوست کې د پراپرټي سيالي غزېدلې، که د تره زوی ځمکه، کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومره يا کلا رغولې، هرو مرو بايد ځان ورسره برابر کړي، که نه له سيالۍ پاتې د پيغور دی ...

ځکه خو دا وخت پر ډاګو، غرو، څرګايو، د قومونو تر منځ جنجالونه او کشالې ښې په درز چليږي، په هر ډاګ، غره دښته د دوو قومو او قوم د ننه دعواګانې غزيدلي ... له بده بخته دغو دعواګانو کې د سند، شاهد، دليل په پرتله پر زرو تکيه ټاکونکې خيژي ... وايي د ډېرو به ډېر مري د لږو لږ ... ټوپک ته لاس کړه، ماشيندار، دهشکه راواخله، توپ چو کړه، ماشه کش کړه، د ځوانيو غوتۍ، ګلان رېژوه ...

د شپې هوا يو څه ښه وي، خو ماشو نيشونه څه سمې برچې ايستلي، خوب چېرې دی ...؟

په حال کې بېحاله، راتلونکې تياره، نه د برخليک پته، نه د سرنوشت درک ... له يوې تيارې وځه پر بله ننوځه ((له مابنامه تر مابنامه))

پر ما لکه خپل سر دروند دی ... هسې نه لکه وايي سرت بوی قورمه ميته، بلکې له خوب او ذهني ستومانۍ را پېښه ده ... چې زه له خدايه دومره نه ډاريږم لکه له مرګه ... له مرګه ځکه چې د خدای په حضور کې به درېږې او هورې درېدو کې زما سر ټيټ او لاسونه تش دي ...

وايي پر کوم غره که ډاګ د دوو قومونو شخړه ده، توپې دهشکې ختلي، سنګرونه تاو دي، د امريکا، شوروي د وسلو او صدام د توپو غوړمبی خيژي ... اوازې ګرمې اوفواهات خپاره دي، شايعات چليږي ... د مړو زخميانو د شمېر، د ورانۍ بربادۍ د کچې ...

ډېرې خولې ډېرې خبرې ...

قضا ماسپښين د حرکت غږ شو ... موټران په راګرځېدو پر يوه ليکه برابر ودرېدل، له بادېګارډانو ځينو پر موټر ورمنډه کړه، ځينې برګ ببر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړ دي ... مشهور جرګه مار او مرکچيان، د ټسرو له غټو دستارو او پروسمو تورو سرو ږېرو سره راووتل ...حاجي عبدالرحمن، حاجی مدو خان، عبدالقيوم خان...

دېرش پنځه دېرش موټرو حرکت وکړ ... داسې دوړې ختې تا ويل بم غورځېدلی ...چېرې پر سړک، چېرې شګلن خوړ کې ... لوړ مازيګر پر کلي وربرابر شو ... لوی ډاګ يې په سرو غاليو، پستو اسفنجي توشکو او عربي تکيو فرش کړی ...

ستړي مشي پيل شول ... توبه توبه د پښتنو روغبړ او بيا پوښتنې: ... پخپل صورت، خپلخونه نبه دو، ژوړه زړه، ... بچيان دي ... چې رېغ مې ولېدې، برابر يې ...

کندهاريان خو يوه شېبه پس بيا درغبړ کړي:... آ ستړی مسې، شه يې... لږ وروسته له سره ... آستړی مسې، شه يې ...

روغبړ دومره اوږد شو، نژدې يې د مازيګر لمونځ قضا کړی و ...

له لمانځه وروسته له حقاني صاحب، د کلي خلک راغوند شول ... خبرې مې نه اوږدې چې زه لېرې پنځم صف کې ناست وم ... داسې برېښېده پر اوربند او جوړه خبرې دي ... کله به غږونه لوړ او څېرې ترېنګلي شوې ...وروسته به بېرته ټيټ شول ... دوه درې واړه حقاني صاحب له څو تنو سره ګوښه کېناست - له لږ ځنډ به بېرته لوی مجلس ته ستانه شول ...

قوماندان ګل حسن ته وايم ... دا څه دي ...؟

- حاجي صاحب واک غواړي .... نه يې ورکوي

- په زور دې اخلي ... قوماندە دې ورکړي د سيدرحمن لالا خبره چېه يې دې کړي ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته زور نه چلیږي ... مرکې، جوړې په زور نه کیږي ... دا د زور کار نه دی

څه خبره ده واک دې ورکړي

دا خپله طریقه لري

څه طریقه

د نرخ، کانې طریقه، دلته له کلي وتلی شې خو له نرخ نه ...

د مانبام تر لمانځه کله په لوړ، کله ټیټ غږ خبرو دوام درلود ... داسې ښکاریده څه پایله نه وي راوتلې ...

حقاني صاحب نېولې ستومانه څېره ولاړ شو، لمونځ وشو، نفلونه، دعاګانې خلاصې شوې ... ګیسونه بل شول، رڼاګانې وغوړېدې، هسک له ستوریو ډک دی ... لاندې د ګیسو زېړه رڼا، آسمان کې د ستوریو سپینه څلا ...

کوزه چلمچي راغلل، لاسونه پرېمېنځل شول، دسترخوانونه وغوړېدل ... د خوړو بېلابېل لوښي یې کتار کړل ... چرګان، پلوونه، کبابونه او د خوست مشهور ډنډکی ... وړم یې زړونه تخنول ...

زما زړه و پر چرګ ور غوټه کړم، چې قوماندان ګل حسن مې لاس ونیو ... پام !

څه دي ...؟

حاجي صاحب په خوړو لاس ونیو

لاس یې څرنګه ونیو ...؟

توی وړي واک ته ...

له خوړو نه خوړو سره یې څه ...؟

دا د واک اخیستو طریقه بلکې آخري حربه ده ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواړه اينبي مور ورته ګورو ... دغه اذيت د څرخي پله زندان له شکنجو پر سري سخت لګېده، نبه وه د وړم په څکلو بنديز نه و ... ژر ژر مو په پوزه اوږدې ساګانې راکښلې ...

اته، نه، لس بجې شوې، خواړه اينبي مور په حسرت ورته کسو ...

زما پښې وچې شوې، زنګنو مې درد کاوه ... کرار وغړېدم ... قوماندان ګل حسن ته وايم : دا د چرګ لنګی به پټ راکش او تر څادر لاندې په کرار خولې ته کړم ...

پام چې داسې ونکړې ... ټول کار به خراب کړې ...

يوولس بجې شوې ... حقاني صاحب ويل لمونځ کوو ... په جمع لمونځ وشو ... بېرته هر يو پخپل ځای پټه خوله کېناست ...

دوډی ته ګورو، خولې څه چې سترګې مو هم اوبه اوبه دي ...

د حقاني صاحب ډېرې قواماندانان، سرګروپان نښکته پورته کيږي ... په سرو اورو يې په ورختو کې د حقاني صاحب له قوماندې مخ نشوای اړولی ... خو دلته د جوړې لپاره له واک ورکولو رټ منکر دي ...

حقاني صاحب عاجز ناست دی، له جنګيالیو، وسلو سره زهير زمولېدلی نښکاري ...

هغوئ چې ده ته به يې د پيسو، وسلو او موټرو سوال کاوه، نن ده ورته د سوال لمن غوړولې وه...

لکه دلته، جنګيالي وسلې ځواک نه وي ... دا بيا کوم ځواک دی چې د حقاني په څېر لوی قوماندان چې له شورويانو سره په جګړه او ډغرو مشهور دی عاجز حيران ناست دی ...؟ ماته قوماندان اسماعيل حاجي را ياد شو چې پر يوه پوسته يې له تعرض سره درونډ غږ پورته شو ... جلال الدين دې وايي پرې ورځه او ته...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جلال الدين پرې ورځه هغه وروستی پرېکړه وه چې سرو اورو او ګولیو کې چا ترې مخ نشوای اړولی او نن ده خپله د سوال لپه نېولې ...؟

دا کوم قرارداد او ټولنیز ټرون دی چې تر مخ یې دغسې زور او ځواک په ګوندو دی ...

پروفیسور پریشان ختک ښه وایي: پښتونولي هغه قانون دی چې د پښتنو مخورو مرکچیانو د زړه په تخته لیک دی ... له قاضي، پولیس پرته د ټولو سرونه ورته ټیټ دي ...

حقاني صاحب علي جان ته وویل : موټر کې ورته د استراحت ځای برابر کړي ...

علي جان بړوس موټر ته ورغی ... حقاني صاحب له ځایه پاڅېد، موږ هم ودرېدو ...

ګنګوسی شو ... ګنګوسی ورو ورو خپور شو ... واک یې ورکړ، توی وړی واک، هاهاها ...

خبرې وغوړېدې، پر شوندو موسکا خپره شوه، ستومانې وخته ... ببرته پخپلو ځایو کېناستو ... له سره توده ډوډی راغله ... پر سبا له مقابل لوري واک واخیستل شو ...

د ځو ټکو لنډه پرېکړه اعلان شوه ... د یو کال تیږه ...

یو کال وروسته به د غوسې په سړېدو، بېخپوره اواري ته زمینه برابره شوې وي .

د جګړو اتلان ځرنګه د سولې په دفاع کې درانه او برېمن راوځي ...؟ ځکه چې د ولسي منطق کانې او جرګې ټولمنلې دپلوماسۍ د قوم او نرخ په تله کې همېشه پر زور او جګړو درنه ختلې، چې پښتونولۍ او اسلام کې اصل جرګه او سوله ده، نه جنګ ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ليك څو وړانديزونه

جنرال رحمت الله خان ساپی له لندن يوه ليك کې حقاني صاحب ته له پخواني پاچا سره د کتلو وړانديز کړی، او د ربړې د اواري په اړه يې خپل نظريات او غوښتنې وړاندې کړي دي.

د جنرال ليك په زړه پورې او غوښتنې جدي دي، چې په ټاکلي زمانې مقطع کې د وخت او حالاتو په ارزونه او د سياست پر نبض د ګوتې ايښودو څرګندې نښې او اشارې لري.

حقاني صاحب د جنرال ليك ماته راکړ، چې ويې لولم، له ده سره پرې وغږيږم، او ځواب يې وکړم.

ما ليك دوه درې واړه ځلوست حساس او پاموړ ټکي مې پکې وموندل، خوحقاني صاحب بې له دې چې له ما وپوښتي، د ځواب په اړه پخپل قلم يو يادښت راکړ، چې له مخې يې جنرال صاحب ته ليك بشپړ کړم.

ما د ليك مفصل ځواب وکيښ، حقاني صاحب ته مې ولوست خوښ يې شو، مننه يې وکړه، دعايې راکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جنرال لیك

لطفاً دغه لیك دوه ځله ولوله، او په نبه فضا کې جواب راولیږه

ډېر محترم الحاج حقاني صاحب:

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

د قادر او لوی خدایج نه ستاسو او د نورو ورونو روغتیا او سلامتیا غواړم. زما یو ځل د زړه اپریشن وشو، او تر اوسه نبه وم، په دې ورځو کې بیا درد پیدا شو دا ځل مې بیا رګونه پاك کړل، د چپه غوږ سره په تکلیف یم چې سبا ډاکتر سره وعده لرم، په هر حال د افغانستان په هکله مطالب ډېر دي خو زه به تاسو ته په لنډه توګه تشریح درکړم.

۱- دافغانستان د مسایلو نبه حل د بینان سیوان پروګرام وو چې مور او تاسو پرې کار وکه خو له بده بخته د شمال د خوا کار وران شو اوجناب حضرت صاحب هم څه نا څه اشتباه وکړه، او قوماندانانو هم لویه غلطي وکړه.

۲- په خارج کې د ټولو خارجیانو سترګې جناب احمدشاه مسعود په لور وې او مور او تاسو هم ورسره مرسته وکړه، ځو د مملکت دپاره د یو مسلمان او مجاهد په صفت مفید واقع شي، خو د بده مرغه څه ونشو، اوس خارجیان د هغه په هکله په پخواني شوق کې ندي پاتې...

۳- ستا په خصوص کې ټول حیران دي، د یوې خوا دوی فکر کوي چې د افغانستان د قضایاوو په حل کې پښتانه ډېر اهمیت لري، د بلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوا تاته د يو ملي شخصيت په سترګه ګوري او د بلې خوا شك بر شي، دوی چې سياست د ژوند اساس بولي وايي چې حقاني صاحب د سياست سره علاقه نلري.

په هر حال مور او تاسو د خلقي او پرچمي سره تماس درلودل ګنا بلله خو حالات داسې راغلل چې نن سبا اکثر ملګري د خلقي او پرچمي په ملګرتيا افتخار کوي، په خارج کې د مجاهد نوم اخيستل يو ګران کار بلل کيږي.

وروره! پخوا زمور او ستاسو يواځې يو ارمان وو، چې هغه اسلامي نظام وو خو اوس يو بل ارمان هم زيات شو چې هغه د افغانستان ارضي سلامت او مرکزي حکومت دي.

همدا اوس په افغانستان کې ملوك طوائفي روانه ده، د ولايت نوم بدل، د والي نوم بدل، ټول امارت او اميران دي حتی د دولت په کاغذونو کې واضح نوشته شويدي، د افغانستان کشالې مخصوصاً د پښتنو دپاره د مرګ او ژوند سوال دی، نور اقوام مشران لري خو پښتانه په خپل منځ کې اخته دي، جناب حکمتيار زما ورور دی، او الله پاك شاهد دی چې ماته د حکمتيار سپی هم د کارمل او دوستم نه ارزش لرې خو ټوله نړۍ د حکمتيار پرضد لګيا ده.

وروره زما يواځې د شمالي ولايتو سفر ستا په خوښه تا ته د ملګرتيا ثبوت دی ما موقع ورنکړه چې ته د قوماندانانو تر مخ خجالت شې، ما تاسره ډېر کلونه په جهاد کې تېر کړل معنی دا چې زه يو عياش او يا ډارن سړی نه يم، زه پوه وم چې د يوې خوا ما ته عزت او ابرو پاته نه وه، او د بل خوا ته په خپله نه غواړې چې ستا نه د افغانستان دپاره يو قوت جوړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې مخصوصاً په کابل کې زما ژوند ته ډېر خطر پیدا شو او د خدمت دپاره لارې محدودې وې، زه پوه شوم او ثابته شوه چې خارج کې ډېر کار کیږي نو څکه خارج ته راغلم، دلته مې تر اوسه خپل علاج هم وکه خو په خدای ج باور وکړه چې خپل د صحت او ژوند چندان پروا نلرم، خو ما د افغانستان دپاره الله پاك شاهد دی چې ډېر کار وکه او لګیا یم.

وروړه تاته معلومه ده چې ما پنځلس کسان د پلار په شمول شهیدان ورکړیدي، زه الحمد لله پوخ او پخوانی مسلمان یم، خو عرض دادی چې د مملکت کار په تنګ نظري نه کیږي.

۱- زما هدف او مقصد دادی چې افغانستان تجزیه نشي او ملوك الطوایفي ختمه شي او ژر تر ژره مرکزی حکومت قائم شي.

۲- دنیا ته اوس اسلامي نظام په بل رنګ او څېره معرفي شوی دی، نوددې دپاره دوی ډېر تشویش کوي، او زمونږ وطن راخرابوي، دې دپاره چې حکومت قائم شي، بیا د معتبرو او نامتو علماء شورای جوړه شي، (جمعیت العلما) او ټول اسلامي احکام د هغې ځای نه صادر شي ځکه چې همدا اوس په هر تنظیم کې سل قسم اسلامي نظریات دي او دا کار د وطن او اسلام دپاره ضرر دی ځکه چې اوس هرځوك ځانته عالم وایي او نظریات ورکوي.

۳- هزاره، ازبك تاجك زمونږ ټول ورونه دي، خو بدبختانه هغه نظر چې مونږ دوی ته لرو هغوی پر بل شان دي نو د پښتنو حقوق ساتل هم ضروري دي، او په دې هکله د پښتنو پوهېدل ضروري کار دی.

د خدای پاك په لطف سره زه کولای شم چې:

۱- افغانان مخصوصاً د پښتنو قومونه او قبایل پوه او متحد کړم او

(c) ketabton.com: The Digital Library

لا اقل کوشش وکړم.

۲- د هزاره او تاجکو او ازبکو ورونو سره نژدې تماس او روابط وساتم، چې ضروري دي.

۳- د تنظیمونو مشران قانع کړم چې پر دوی باندې افغانستان نور هم خرابیږي او خراب شو، که ته غواړې چې د یو ملي شخصیت په حیث کار وکړې نو باید.

۱- څو قوماندانان قوي مشران او علماء چې جمعاً پنځه یا شپږ کسان وي، روم ته تشریف راوړی، او اعلیحضرت وګوری، ترڅو ټول افغان اولس پوه شي چې تاسو د ملي زعامت په حیث ډېر ویښ او پراخ نظر لری، او که ستاسو د سیاست ایجاب نوي نو بیا هم:

۲- د مریضي په بهانه خارج ته تشریف راوړئ او په اروپا او امریکا کې افغانان او خارجي مقامات وګورئ، مخصوصاً ملل متحد او د امریکې خارجه وزارت وګورئ حتی د امریکې رئیس جمهور وګوری تر څو چې افغانان او خارجیان ستا په نظر پوه شي، په دې کار هیواد ته ډېره ګټه ده او هېڅ تاوان نشته او شاهان د دنیا ټول دار کار کوي، او بې ددې نه چې هغوی دښمني وکړي له دوستم نه پاچا جوړ وي، او اسلام ته تاوان رسوي.

۳- ما ته د یو ملګري او ورور په صفت واضح وليکه چې د ملي زعامت او فراخ بيني، طاقت او حوصله لري او که نه، زه د خدای پاك فضل دی په خپل ځان کې څه ناڅه توان ګورم خو زما او ستا د مفکورې ملګرتیا ته ضرورت دی.

په شخصي لحاظ الله پاك شاهد دی چې ستاسو احترام او عزت پر ما ډېر دی او حتمي دی خو د مفکورې او سیاسي ملګرتیا نژدې والی د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان او اسلام په گټه دی.

په افغانستان کې ټول مشکلات، د سیاست خلا ده چې زما او ستا یو ځای والی او سیاسي اتحاد خارجي او داخلي خلا وې ډکه وي.

وروره: باور وکړه چې زما شخصي مفاد په اعلیحضرت کې نشته زه گورم چې افغانستان د لاسه تللی دی او ځي د همدې دپاره زه هغوی ته زحمت ورکوم، زما شخصي عزت او احترام په ټولو مجاهدو مشرانو کې ډېر زیات دی، خو افغانستان پر مور او تاسو د هرچانه ډېر حق لري.

ته وګوره چې ټول مناطق ارام دي خو د پښتنو په منطقو کې قندهار خراب پکتیا خراب او ننګرهار خراب شو نور به خپل کارونه کوي او پښتانه به د خدای په قهر اخته وي.

په هر حال لطفاً زما دغه لیك په قراره وګوره او ماته مفصل ولیکه: که چېرې فکر کوې چې زه به هلته ډېر مفید او سم ولیکه چې درشم او که پوهېرې چې هلته د وخت ضیاع ده او تاریخي ناحقه مسئولیت دی، نو هم ولیکه چې دلته بعضې کارونه وکړم او دوام ورکړم.

لطفاً په پای کې زما سلامونه ټولو ملګرو او ارجمند ننګیال صاحب ته ووایه.

په درنښت

۱۳۹۳-۱۱-۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حقاني صاحب څواب:

محترم او قدرمن ورور جنرال رحمت الله خان ساپی!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

ستاسې لیك راورسېد، د ډېرو ارزښتناکو او ضروري ټکو یادونه مو کړې، زمونږ د کړېدلي ولس د نجات لپاره اوس یوه ملي حرکت ته له بل هر وخت زیاته اړتیا لیدل کیږي، طبعي ده چې ملي حرکت د ولس له ننګې او ملاتړ پرته نشي رامنځ ته کېدای.

پخوا چې څه شوي او چا کومې تېروتنې کړې، پر هغو به تیږه کیږدو، البته یادول یې دومره ضروري دي چې د تکرار مخه یې ونیول شي، او عبرت ترې واخیستل شي، خو په دې باید اعتراف وکړو چې موږ ټولو لږ و ډېر تېروتنې کړې بیا هم وایم چې له خپلو اشتباهاتو زده کړو او د تکرار مخه یې ونیسو.

قدرمنه!

ستاسې په اخلاص او صداقت زما باور دی، خوشاله یم چې تاسې د وطن د نجات لپاره له ځینو شخصیتونو او حلقو سره په تماس کې یاست او په دې لار کې په هلو ځلو بوخت اوسئ، د افغانستان بې ثباتي سیمې او نړۍ ته ګوابنس ګرځېدلې، ځکه خو معقول اواری نړیوال ملاتړ هم تر لاسه کولای شي.

خو دا هم ښایي یاده کړم چې تر دغه نامه لاندې باید د خپلو سیاسي مقاصدو او اجنډاوو لار تېره نکړو، چې د واقعي ملي حرکت په زیان تمامیږي، او د باورونو بحران رامنځ ته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغسې یو حرکت باید د ملت د واقعې خوا خوږو او داسې اشخاصو لخوا رامنځ ته شي چې ملت خپله پایګاه او پشتوانه ګڼي، ملت یې خپل وبولي پردي ورته ونه بریښي.

تر کومه چې ستاسې تر دغه پوښتنې اړه لري چې د پراخ بیني حوصله لرم که څنګه؟ دا خبره باید له تا سره حل وای، چې زه عملاً د ملت ترڅنګ ولاړ یم نه یواځې دا چې د ملت ارادې ته احترام لرم بلکې د معضلې په حل کې په اساسي حیثیت ورته قایل یم، څکه خو ما په تنظیمي او ائتلافي حکومت کې برخه وانخیسته، وزارت ته مې شا کړه د سولې په هلو ځلو بوخت یم، د کشالې د حل په جهت کې ددغسې یوه ملي حرکت د رامنځ ته کېدا په لټه کې اوسم.

راغلو د حوصلې خبرې ته، هغه دا چې زما لپاره ملي حرکت باید له بهرني مداخلې خوندي وي، چې بهرنیو لاسوهنو زمور ستونزې لاپسې غزولې، له دې پرته بله مخه نشته چې له هر ډول بهرني فشار پرته ملت تصمیم ونیسي، او د حل په لار کې د خپلو دیني او ملي ارزښتونو له مخې ګام پورته کړي.

رابه شو ددغه حرکت عملي اړخ ته، هغه که د واقعې لویې جرګې له لارې ممکن، وې، هغسې لویه جرګه چې د ملت واقعې نمایندګان پکې راغونډ وي او که تر کوم بل عنوان لاندې جرګې یا شورا له لارې زه ورسره موافق یم، ستاسې بله غوښتنه روم ته زما د سفر او له پخواني پاچا سره ملاقات او دغه ډول نورې لیدنې، کتنې دي، چې د کشالې د حل په لار کې پخپل ځای مؤثر کار دی، خو وړاندې له دې چې د لویې جرګې یا شورا له لارې د ملت اراده څرګنده شي د زعامت لپاره د اشخاصو انتخاب له وخت مخکې خبره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخواني پاچا د يوه سپين ږيري په توګه بايد له وړاندې فعال اوسېدلی وای، ددې پر ځای چې نور ور وغواړي، دی خپله خلکو ته ورغلی او خلك يې راټول او يوه حرکت ته مخه پرانيستي وای.

زه ډده په نقش سترګې نشم پټولی خو دې ته هم د خلکو پام راګرځوم چې د زعامتونو تصوراتي انتخاب ستونزه نشي اوارولی.

د سفر په هکله به ووايم چې دا کومه ګرانه خبره نه ده... ما په خطرناکو شېبو کې د سولې په لار کې د سفر سختې ګالليې همدا اوس د ننګرهار شورا او احمدزيو ترمنځ جرګې او روغې جوړې راګرځېدلی يم، خارجي سفرونه خو آسانه دي خو دغسې سفرونه دقيق پلان او پروګرام غواړي چې د وخت او فرصت په ترلاسه کولو ښايي له پامه ونه ايستل شي.

پخواني پاچا به دغسې حرکتونو کې خپل ځای او وزن لري، خو په چا ټپل کېدای نشَي. دغسې چوکاټي او کليشه يې دريځونه او متفرق او کمزوري سياستونه، پراخ، ملي حرکت ته زيان اړوي.

ته زما ورور يې زما نمايندګي کولای شې چې ته بهرنۍ نړۍ ښه پېژنې او سياستونه يې له نژدې څارې، ستا نظر په دې برخو کې دقيق دی، ځکه خو به خپلو کې اړيکې ساتو که خدای کول دا وطن له روانې غميزې وژغورل شي.

په پای کې يوځل بيا د وطن د نجات لار کې تاسې ته د توفيق دعا کوم، موفقيت او سلامتيا مو غواړم

جلال الدين حقاني

۱۳۹۳/۱۱/۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادون:

د جنرال ساپي دا خبره پامړ ده چې افغانستان کې له ملي او اسلامي اردو تېر شوو... دده په اند ملي اردو اوسنیو شرایطو کې نشي جوړېدای، چې تنظیمي لښکر، مجاهدین او ملیشې د ملي اردو په روحیه نشي راتولېدای، دا به بیا هم تنظیمي، جهادي او ملیشه یي موخې، اړیکې او تمایلات ولري...

دی لکه د سویس سیاسي نظام او اداره غواړي چې د امنیت لپاره یې پولیسو ته اړتیا ده...

دده په خبره ملي اردو، ملي حکومتونه جوړولی شي، چې ملي حکومت جوړ نشي ملي اردو نشي جوړېدای...

دا خبره د جنرال صاحب د فکر محصول ده، ځکه می دده په نامه نوټ کړه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتور صرافان؛ د کابل خبرونه

حیات اباد حویلۍ سړه، سپېره ده- ددغه لوېې حویلۍ لسګونو لویو وړوکو ټوکې مور شپږ اووه تنه میشت یوو- نه هغه د ځدرانو خبره جمې بندارونه، نه د جرګو مرکو شور زور...

اېرکنډېشنونه چې شپه ورځ لکه بنامار پښېدل ګل دي. مېلمنو به برستنې اغوستې وې، اېرکنډېشنونه به چالان وو... ژمی به بخارۍ بلېدې، برستنې او چادرونه به یې غورځولي وو.

یو وخت دلته د ورځې پینځه منه غوښه، یو نیم من دال پخېده، له شپږ سوه زیاتې ډوډۍ له نانواییو راچلېدې... لکه لنګر شپه ورځ چالان... د ټولو پر مخ ډېره پرانیستې وه... نه د تنظیم پوښتنه... نه د کارت... نه پیره، نه تلاشي... ان چې شاوخوا بوخت کډوال مزدورانو هم غرمه دلته اړولی شوای. د جرګې مرکو، جنګ، سولې... هر څه پته لګېدای شوای... اوس نه هغه د غټو ټسرو دستارونو درک شته... نه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

قوماندانانو، سرګروپانو د فتحو غوږې دربې اورېدل کېدای شي... نه د جرګه مارو، مرکچیانو د نرخ، کانې کیسې...

لکه غمجنه چوپتیا، سړه سنا د حویلۍ تقدیر ګرځېدلی... زړه نشوای منلی چې دا د هغه حویلۍ وي چې د ژوند سندره یې چېرې له شوندو نشوای لېرې کېدای، ۲۴ ساعته یې سترګو کې د ژوند رنګونه خوندي وو...

د مانښام له سنتو په سلام ګرځولو طوطي ملا په پیکه سترګو له دروازې راګوري... سترګو کې یې د طنز او شوخۍ همېشنۍ ځلا تته ده... طوطي ملا له عادي خبرو سره د ټوکو او طنز داسې مرچ مساله ګډوله چې تر ټولو ترینګلې څېرې یې هم غوړولی شوای.

طوطي ملا په سړه لهجه په لنډو وایي ولمه (میلمه) دی... دا لومړی ځل دی چې د مېمله په راتلو دلته د چا څېره نیولې ښکاري...

نه د میلمه په اړه کومه شوخه تبصره، نه یې د څېرې د خدوخال کومه کچه پیمانه.... د..... نړیوالې راډیو خبریال تلولی ولاړ دی... د جوړ پخیر متحدالمال او تکراري ټکي لا پاتې وو چې په کړکیچو او ننښتې ژبه د خبر لټون ته ور وګرځېد... په هغسې لالهاندۍ لکه په ګرانه یې خپلې مدعا ته تورې ټکي موندلی شوای. ما ورته د دمې وویل، خو ده په وار وار لاسي ګړۍ ته په کتو همدا یوه خبره کوله:.... پروګرام ته نیم ساعت وخت پاتې دی.... نیم ساعت.....

کابل کې څه خبر دی...؟ د جګړې د ....

کوم نوی خبر لکه نه وي.... د مخابرې مسوول ته وروختو.... هغه څه له غړه او څه له سمې ورته باد او یاد کړل...

لکه ډاډه نه اوسي... غواړي له ما واوري، ساعت ته ګوري، په تلو تلو کې ژر ژر پوښتنې کوي... زه ورپسې یم د ډوډۍ ورته وایم، خو دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هماغه پروګرام، پروګرام يادوي.

د مخه ښې لپاره ورسره وځم، دی همدلته خدای پامانی ته ټینګ دی... خو زه خپل مېلمه ته له کوټې مخه ښه نشم ویلی...

زمونږ کش و ګیر دی. دی مې راګرځوي، زه وړاندې زور وهم، په همدې کې تر دروازې ورسېدو، د پېښور یو صراف له خپل لنډکروزر سره ولاړ دی، خبریال ورسره ګاډي ته وخوت....

کابل کې جګړه ده... د ځوانیو لو ګډ دی، د مرګ ژوبلو، ویجاړیو قیامتونه راټیټ دي. پېښور کې د کلدارو بازار تود دی. څومره چې کابل کې جګړه خونړۍ شي، هومره پېښور کې د کلدارو سوداګري توده خېژي... چوک یادګار کې له بیروبار څوک پل نشي اخیستی...

چې سړی ګورې لاس کې یې د افغانیو، کلدارو بنډل نیولی وي... هر کډوال صراف په مخ درځي، پر چوک یادګار سربېره د دبورډ نهر غاړه د ګرځنده صرافانو مارکېټ ګرځېدلی... د هر کمپ مهاجر بازار دغسې صرافانو په سر اخیستی....

زمونږ یو ملګري چې کله به مو جمعیت کې په لوړه چوکۍ ناست موند، کله به یې رستوران پرانیستی و، د نهر پر غاړه یو مېز ته له کلدارو افغانیو سره ناست وي، ټک ټک پر ماشین حساب لګوي...

ورځ تر بلې، بلکې ګړۍ په ګړۍ د کلدارو افغانیو نرخ غورځي او لوړېږي. جګړه کابل کې، نرخ د کلدارو پېښور کې نښته پورته ځغلي... نپوهېږم د کومې غاړې له پرمختګ د کلدارو او د کومي له په شاتګ سره د افغانیو بیه لوړه یا لوړېږي....؟

ډېرۍ دغسې تجارت کې ډوپه شول، سودا یې وختل... وایي دغسې یوه ډوپه شوې، جومات کې پر اوداسه د بل پښه مینځلو لپاره رانیولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه...

کابل کې د جګړو یو خبر د وینو څو کرښې، د مرګ څو ټکي پېښور کې د کلدارو افغانیو بیه غورځولی یا لوړولی شي...

یواځې خبریالان، ژورنالستان خبر پسې نه ګرځېدل، صرافان او د پیسو سوداګر هم په خبر پسې لالهاند دي...

صرافان خبریالانو ته اړ دي چې خبر یې د اسعارو بازار تود ساتلی شوای... خبر، خبر دی، اصلي وي که جعلي، ریښتیا وي که درواغ د کلدارو بیه یې لوړولی غورځولی شوای...

هغه مانبام زما میلمه ژورنالست او د باندې ولاړ صراف لکه د همدغه بازار پټ او ښکاره سوداګر...

جګړه خبریال ته د خبر لپاره، جګړه صراف ته د کلدارو افغانیو د غورځېدا لوړېدا لپاره، جګړه .... ته د .... لپاره...؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرده به دست زنده

له زړه ستړي ځان ستړی ښه دی، خو اوس مې د اسد دانش توره پر سر څېړي ... د ده تر تیغ لاندې سا اخلم. تر ښکیلاک او زبیښاک لاندې یې ځان اړ ګورم ... ځکه خو د زړه او ځان دواړو ستوماني را پیښه ده ...

څو کتابو یوه کمپیوټر ته یې کینولی یم نور مې وزر ټرلی او بنکې را ایستلي دي ... زما کتابتون د ده میلمستون او پخلنځی دی ...

لس نیمې بجې متې نغاړم ، دیګ کاسه راواخلم... ایله غرمنی چمتو کړم ...

دی په اسانۍ د ځپلو، رامولو نخچې، نسخې او حربي موندلي، ازمویلي او پلې کولی شي ...

در ترا میګم، دیوار تو بشنو ... د یوه په وهلو بل ډاروي ... تفرقه بینداز حکومت کن ...

په دې برخه کې د ده تاکتیکونه او سټراییژي په زړه پورې او خطرناکه دي... که وغواړي څوک ملګری کړي، له ملګرتیا یې بله لار نلري ... که دښمني ته یې زړه شي، پر دښمنۍ یې ځان اړ ګڼي ... لکه زبرځواک او نړیوال استکبار ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

يواځې زه نه يم د ډېرو سترو ستړو، ګرګو لکې يې تر پښه لاندې ده ... لکه د پيښور په ټټيو يې کښلي ... دلته د ډېرو غټو غټو ... وځي ...

اسد، پر يوه وخت سړی د دوستي او دښمني د تجربو په تکرار اړوي ... د امنيت شورا دغه دايمي غړی چې کله وغواړي د ويټو حق کارولی شي ... له ده سره په دوستۍ دښمنۍ دواړو کې احتياط اړين او حياتي دی ... دوستي او دښمني دواړه دده په خوښه... د زورور تر مخ مه تيريږه د اس تر شا ... لکه هغه مافيايي باندست چې دوستي يې ګرانه او دښمني خطرناکه وي ...

دی پر زخمو له مالګې دوړولو خوند اخلي ... کله مې چې پر کوم شاقه کار لکه د کاغذ ريمونه پر اوږه پر ځغاسته ګوري ... په لوړ غږ دغه فلمي سندره را غبرګه کړي ... ښه ده چې پوکې وهي ستا نازکې شوندې نن ...

زه چې په مات زړه ور وګورم، وايي سخې سړوم ... ډېر په نخرو به خيبر بازار کې له موټره کوز او پر يونيورسيټي بک ايجنسۍ ورننوتې ...

داسې ښکاري د اسد مينه لورينه د نفرت لپاره ده، دی که يو ځوک پر اوږو او سر خيژوي د دې لپاره چې بله ورځ يې له غورځولو خوند واخلي ...

ته به نه وې خير اسد به يو ځوک تور ليست ته غورځولی وي ... د ده محاکمه او پرېکړه صحرايي ده چې له ده پرته يې نه ځوک ماتولی او نه بدلولی شي ...

که ده د چا د ښو پرېکړه وکړه هغه له پرښتې پاک دی او که يې د چا د بدو حکم صادر کړ، تا به لکه په جمرو کې د شيطان ځلی د وخته ډبرې پسې اخيستي وي ... د بل پر اوږه ټوپک اېښودو کې يې نښه کله

(c) ketabton.com: The Digital Library

خطا شوې نه ده ...

محمد داوود وفا د ډاډيني لپاره د خوشال بابا يو شعر را ته پر ديوال لګولی:

په منصب پورې خـــــوشال ختک نوکر و
چې منصب ورځنې ولاړو اوس پادشاه دی

فاضل صاحب چې د ډېلي له سفارته په رخصتۍ راغلی و دغه شعر د ماتې اعتراف وباله ...

دی د اغيز فوق العاده ځواک او هنر لري، د جمعې پر ورځ د ده تشه ښه محسوسيږي پنجشنبه د ده ټولې نخرې ناکردې په جينګو داړو تيروم... که خدای پر سر حاضر کړي جمعه دوکان پرانيزي، خو له وعدې سره بې درکه وي ...

بيا هم جمعه ده، يواځې يم ... تر غرمې د اسد په انتظار تيره شوه... د ډکې کوخه کې هر يوه ته ځير ځير ګورم، يو ښکلی ځوان د دوکان تر مخ تير شو، ځيره يې اشنا ده ... بيرته راوګرځيد ... ژور راته ګوري، وايي ننګيال يې ... ما د ستړي مشي لاس ورکړ ...

کابل کې د مجاهدينو له واکمنۍ وروسته اطلاعاتو کلتور وزارت کې د فرهنګ مجلې چلوونکې، خو کيسه کې يې نه و، خندنی، سرشار، بشاش ځوان ... قانع صاحب ويل د احمدشاه مسعود د تره زوی دی ... والله اعلم...

له لنډې پوښتنې سره وايې د مسعود او ر باني حکومت هغې دغسې... چې ننګيال ځان پر کتابفروشي اړ کړي ... د داسې حکومت ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

زېړه کودتا

له عصمت قانع سره په غضب اوښتی یم، ګټه یې خپله وي، زیان زما غاړې ته غورځوي... کیسه خواني کې لکه یرغه آس کښته پورته ځغلي... نه کار نه کتار... دا کوم، هغسې به وکړم...

اسد یې کونه کې نور پر ورکیږدي، بیا دې قانع څوک تکیه کړي...؟

قاضي صاحب کامه وال "کاف لام" ته وایي دلته پښور کې مساپر پروت یم... ولا که مې یوه ورځ چا پر لاسو اوبه را اچولې وي، که تاسې کوتې ته راغلي وای ما به هوټلانو ته پریښي وای...؟

قاضي صاحب په بې توپیري ورته وایي: څه دربانديې خبر ووکه نه پر... خو به مو اوبه در اچولې وې.... حمیدجان راته وایي یوه ورځ به ددې سړي له لاسه په بلا اوښتی وي... خو له قانع خلاصی نشته... وایی له هغې بلا چې خلاصون نه لرې دوه ځله ورته خانده... ما هم قانع ته خوله جینګه نیولې وي... دده امر زما اطاعت... چې یاد یې کړې ډګ درته ولاړ وي، حمید جان وایي خرسه یاد کو، چوبه بیګي...

له یوې مودې یې ځېره نیولې او وضعیت ترینګلی دی... نه د دورې لوګرې سندرې شته نه د خولې طبله...؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه د تش لاس په دښمني اوښتی... غوسه يې سرته ختلې... په ټولو پسې لګياوي، هر يو پر بولي، ګناهګار ورته ښکاري، غواړي د خپل محروميت او ناکامۍ انتقام واخلي....

خو نن يې څېره غوړېدلې، نوې کورتۍ يې رانيولې، ورته وايم کمت بچه افضل...؟ وايي: څه کمت، لنډا بازار کې مې رانيولې... دده چې جيب غوړ شي بيا يې کيسه کې نه وي پر سر يې بادوي. له حفيظ الله يې په ډډه راته کړه: غواړې د جمعيت دفتر لاندې کړي، د جمعيت مشرتابه اعلان کړي...

وايم که ټوکه کوې... يوه اوونۍ ورک دی، چې راغی ټيوټا جيپ ورسره دی... وايي سپينې شګې ته تللی وم...

سهار له موږ مخکې د دوکان دړې ته ولاړ دی... وايي بېګا حمله ده... خو چې لغمانی درنه خبر نه شي... موږ دوکان پرانيست... يو ساعت پس قانع راغی... وايي هرڅه برابر دي، مطبوعاتو او مقاماتو سره مې خبره شوې...

يوولس بجې چې راغی بړ بړ لګيا شو، ټول راز يې لغماني ته پخپله برسېره کړ...

راته وايي مصروف يم، ستړی يم، ماغزه مې کار نه کوي... اعلاميه راوليکه...

څغله...

خو قانع جدي دی، په وتو کې يې بيا راته کړه.. يو ساعت وروسته راګرځم چې اعلاميه دې ليکلې وي...

داسې نه کيږي...

څنګه نه کيږي، د ملګرو ملتو پلان پر تخريبِ کابل کې کودتا کېدای

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي... دلته نشي کېدای...؟

یو ساعت وروسته چې راورسېد... وایي اعلامیه دې څه کړه...؟

د څه شي اعلامیه...؟

د (.....) اعلامیه... نه مې و درته ویلي...

دا سړی لکه رښتیا کوي...

هله ژر کوه لیکه...

قلم یې راویوست، پر حفیظ الله یې د کاغذ غږ کړ.

...یوه خبره دده بل ټکی زما...

قانع اعلامیه واخیسته، پخپل قلم یې سرلیک ورته وکینبښ...

وایي بخشش دې وي، څه پته لګي برخورد وشي... که ولګېدم، مړی مې کلي ته یوسه... که وس دې رسېده د ورېرو پوښتنه دې کوه، کوټه کې یې د تلیفون شمېره راکړه: ۴۴۲۵۶۸ یو لنډکی وصیت یې وکړ، لکه شعر وایي، په دې ټکو: تور عصمت قانع له طاغوت خپل بغاوت اعلانوي... نور یې ستونی ډک شو... په جذباتي څېره له ځایه ولاړ شو... یو بل ته مو غږ ورکړه...

د پلان له مخې قانع ښایي د مانبام په خړه څمکنیو کې د جمعیت پر دفترونو او ملکتیونو برید کې د جمعیت نوی مشرتابه اعلان کړی وای...

سهار چې پاڅېدو اخبارو په غټو تورو د قانع د کودتا خبر چاپ کړی... د ځوان قیادت په اعلان به جمعیت له ستمي، ژبنۍ کړنلارې، سکتارستي خاصیت او کورنۍ جګړې راوګرځي...

اسد د اخبارونو ګډۍ لاس کې نیولې... وایي د کافر بچي خو رښتیا کړه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جمعیت اعلامیه کې د نوي مشرتابه اعلان

د افغانستان اسلامي جمعیت د یوه مؤثر جهادي ځواک په توګه د هیواد د آزادۍ په لار کې په پوځي او سیاسي ډګرونو کې فعال نقش درلود.

د جمعیت کدرونو په فرهنګي، پوځي او سیاسي برخوکې د مناسب موقف او موقعیت له مخې د هیواد د نجات او بیارغونې په لار کې هر ډول خدمت او قربانۍ ته ژمن او د ملت د پرګنو له ملاتړ برخمن وو.

له بده بخته چې په جمعیت کې د نظار شورا په نوم یو سکتارستي فرکسیون د خپلو توطئو له مخې وتوانید دجمعیت، هیوادنیو ګټو، ځمکنۍ تمامیت او ملي وحدت پر ضد داسې سازشونه رامنځ ته کړي، چې د جمعیت مبارزاتي قدامت او اصالت یې له سوال سره مخامخ کړی و، داسې معلومیده چې ګنې جمعیت هغه دی، چې په کابل کې د نظار شورا په وجود کې د وطن او خلکو پر ضد په کرکجنو او دښمنانه اعمالو بوخت دی، له همدې ځایه ده، چې د جمعیت اسلامي فعالین د ملت او نړیوالو په وړاندې اعلانوي:

څرنګه چې استاد رباني د نظار شورا له خوا په کابل کې برمته شوی اجرائیه شورا له منځه تللې او درې تنه غړي د دغه سکتارستي فرکسیون له خوا ترور شوی د جمعیت فعالین به په نژدې راتلونکي کې د ولایتي شوراګانو د تدویر له لارې له دغه دردوونکي حالت د وتلو اساسي لار په ګوتو کړي، ځکه خو ټول هیوادوال او نړیوال باید په دې خبر وي، چې په کابل کې د قدرت د تمثیل مدعیان د جمعیت له حقوقي او سیاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعتبار نه بې برخې دي، جمعيت به ډېر ژر د الله تعالى په مرسته او د ملت په ملاتړ او ډاډ روانې فاجعې ته د پای ټکي په پيدا کولو کې د ټولو اسلامي او ملي ارخونو د فعال ګډون او همکارۍ له مخې په جدي اقداماتو لاس پورې کړئ.

و من الله التوفيق



(c) ketabton.com: The Digital Library

د پاڼ پر ژی:

واقعي يې لا پاتې دي....؟

د جهاد له پيله سترګې پخواني پاڅا ته اوښتې، خو د کډوالو ترمنځ دده سم استازيتوب نه و، نه شته، د ولسمل افغان مجاهد او مجاهد ولس دغه ډګر کې يواځينی ستيج پېژندل کېده، په نورو ټکو ولسمل صاحب د روم سياست پېښور کې ژوندی ساتي، پير صاحب، حضرت، محمدي حساسو او ټاکونکو شپبو کې د پاڅا مخالفت ته ورګرځېدل په خوله يوه په زړه بله...

دوی حقيقت کې پخوانی پاڅا د خپلې ننګې لپاره کاراوه، چې د سخت دريځو پر وړاندې يې يوه تکيه موندلې وي.

د پخواني پاڅا هيئتونو د اخوانيانو له وړې د پير، حضرت او مولوی نبي له دفترونو او ميلمستياوو نوره مخه نشوی موندای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له امید او انتظار پرته پاچا بل ګام پورته نکړی شوای څکه خو بهر کې کومه پراخه سیاسي جبهه رامنځته نشوه، آن چې د خپلو صدراعظمانو، وزیرانو، سفیرانو، جنرالانو او... همغږي یې هم رامنځ ته نکړای شوه، پاچا د ډاکتر نجیب الله له وړاندیز مخ واړاوه، ګویا یو طلایي چانس یې له لاسه ورکړ، په حقیقت کې پاچا د یوې پراخه سیاسي جبهې جوړېدو مخه ډب ساتله، چې دده په شتون کې چا ددې زړه نشوای کړی، یا یې اړتیا او شونتیا نه لیدله.

ډاکتر صاحب صمد حامد وایي د ظاهرشاه په شتون کې د کوم حرکت مخه نه وینې.

پروفیسر رسول امین وایي: پخواني پاچا د راتلو زړه پښتورګي نلري، مور اخوانیان پرې ډاروو...

پاچا ډېرې چانسونه، فرصتونه بایلل لکه په تیاره یې غواړي، مضر احتیاط زولنې ور اچولې، یواځې اعلامیو، پیغامو ته یې کار ویلی، سم استازي او استازیتوب یې رامنځ ته نکړای شو.

جنرال ساپي ویل: روم کې یې کوم پیغام که اعلامیه کښله، له سهار تر مازیګره لګیاوو، په تورو، ټکو، جملو یې سلا نه راتله، دومره کاغذونه یې څېرې کړل، چې کاغذ دانې یې دوه واړه ډکه کړه.

خپلو کې په فرانسوي ګډ شول، خو د اعلامیې په ټکو نشوی سلا کېدای... چې روس ونه پاریږي، چې امریکایي بده ونه ګڼي، چې سعودي خوا بده نکړي، چې د پاکستان اندیښنه رامنځ ته نکړي، چې ایران غبرګون ونه ښیي، چې د اخوانیانو غوسه و نه پاروي چې...

دغه امید او انتظار د سیاسي قیادت د زرغونېدا مخه ډب او خطرناک انتخاب ته مخه پرانیستې، چې ولس د تنظیمو او جګړمارو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

غضب او عذاب زغم له لاسه ورکړي.

که پخوانی پاڅا راوړاندې نشو چې زما په اند نه شي را مخ ته کېدای، د خطرناک انتخاب مخه څوک نشي نیولی، تنظیمي جګړه په غرغنډو ده، د کرارېدو نه ښکاري د خپلو په لستونو کې بهرني لاسونه ډېر اوږده غزېدلي...

تنظیمونه او جګړه مارو په زور او توطئو ایمان خپل کړی پر خلکو او ملت یې باور زیانېدلی...

د جګړو پر بل کړي اور چا د لېټې پخېدو متې نغښتې، چا د کیچړي پخولو بډې وهلې، څوک حلوا پخولو ته له ژبو ټکونه باسي، ګوډه ګوډه وایه خوله به دې خوږه وي.

کونډه د لېوره په تمه له واده ووتله... ژر ده ظالم تربوران پرې وروغورځي...

یوه بنډار کې له دې پوښتنې سره چې حالات به کله سم شي...؟

یو په بړ بړ لګیا شو، هله چې واک واقعي مجاهدین ترلاسه کړي...

یوه کندهاري ملګري پخپل ځانګړي اکټ وویل: شه واقعي یې لا پاتې دي...؟

دا واقعي؟ څوک کېدای شي، څومره واقعي پاتې دي...؟

ملګري ملتونه له پیله افغان ربړه کې ښویېدلې، کور دودیز، بنین سیوان او میستري هر یو د ترکستان په لار ځانونه ستړي کړل... امریکا غول په متیازو وینځي... که څه هم میستري لومړیو کې ښه روان و، کوم تور پرې ونه لګېد، خو د سیاسي ګنګپانو او جهادي کیسه بورانو له لاسه پنچر شو... تر هغې چې د کوټې سرینا هوټل کې قاضي وقاد، مولوی تره خپل ..... خصي کړ.



(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتنيزه

۱۹۹۴ جنوري لومړۍ:

کابل درنې جګړې لړزوي، جګړه د جنرال دوستم او جمهور رييس د ځواکونو ترمينځ غځېدلې، حزب هم په جګړو کې برخه لري، د حزب ویاند دغه جګړې ملي اسلامي قيام وباله، مجددي هم د همغږۍ شورا خواره برخه ګرځېدلې، د حزب ویاند وویل، جګړه له ارګ سره روانه ده، رباني د دوستم پر ضد جهاد اعلان کړ، جنبش يې د کمونستو پرچميانو برخه وبلله، استاد رباني لکه اونښ خپلو متيازو کې ښويېدلی.

حضرت صاحب په وينا د هر هغه حرکت ننګه کوي، چې د رباني ناقانونه حکومت پر خلاف مقاومت پيل کړی، مزارو فاریاب کې هم جګړه غځېدلې.

جنرال همایون فوزی دغه جګړه د ربانی ناقانونه حکومت پرخلاف ملي قيام وګانې، حرکت د رباني ملاتړ اعلان کړ، سیاف د رباني په ننګه ودرېد، مولوي خالص د ملېشو او کمونستانو د مخالفت له امله د رباني پلوي وکړه، حزب د کابل، ګارنېزيون او هوايي ډګر دنيولو ادعا وکړه.

جمعيت اعلان کړه، چې ياغي باغي ځواکونه يې پر شا تمبولي، ان چې د غازي ستديوم د نيولو خبر يې ورکړ، د دولت په وينا جګړه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالاحصار شاوخوا روانه ده، جنرال همايون فوزي وويل: د حزب وحدت جنګيالي د دوی ترځنګ دي، د رباني مسعود ځواکو ته يې درانه زيانونه اړولي دي.

د دوستم ځواکونه د شپې تياره کې د پخواني رژيم پر مرکزي کمېته چې له حرکت انقلاب اسلامي سره ده وروختل، د ملايانو څنې، ډيرې يې باد او د ستړې محکمې رييس مولوي محمد شاه فضلي، پوهنې وزير مولوي جليل الله مولوي زاده يې چاپې، جېبونه او بکسونه ورتش کړل.

د احمد شاه مسعود ځواکونو مقاومت وکړ، ملېشه يې په شا وتمبول، وزير اکبر خان مېنه کې يې د دوستم فرهنګي دفتر لاندې کړ، د دوستم ځواکونه بالاحصار او مرنجان غونډۍ ته راټول او وزير اکبر خان مېنه او هوايي ډګر بمبار کړ، د هوايي ډګر يوې ډيپو اور واخيست.

د دوستم نيول شوي افراد ژوندي اور ته وغورځول شول، د دوستم ملېشې چې مرکزي کمېټې ته رسېدلې وې، د زغروالو ځواکونو د ځنډ له امله له تلفاتو وروسته په شا شول. ددغه جګړې ۸۰۰ زخميان د سره صليب روغتون ته وړل شوي، يوه کندهاري ملا وويل: د رباني حکومت د الله تعالی پر حکم مسخرې جوړې کړې، کله حکمتيار د دوستم پر خلاف د جهاد اعلان کوي، او رباني يې د مسلمانۍ ټېکه اخلي، بله ورځ يې رباني پر ضد د جهاد فتوا ورکوي، حکمتيار څنګ پورې نيولی وي.

دا شل مياشتې د دوستم پر ضد جهاد فرض نه و، اوس فرض شو، د حزب استازی حاجي فريد رسنيو ته وويل: پر چهار آسياب د نظار شورا د برېد مخه د دوستم ځواکونو د بالاحصار په برخه کې ونيوله، هغه و چې جګړه پيل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جنوري ۲:

جګړه روانه ده، د جنرال دوستم ویاند د رباني مسعود حکومت په دې پړ وباله، چې یوازې د تاجکو لپاره کار کوي، له همدې امله دوی جګړه کې برخه واخیسته، چې سیاسي نظام ته تغیر ورکړي، چې لږکیو ته د منلو وړ وګرځي، اسلام آباد کې کابل سفارت خپله اعلامیه کې د دوستم او حکمتیار ائتلاف ناولی وباله، دوستم یې خلکو، هېواد او دین ته په خیانت تورن کړ.

همغږې شورا یوه اعلامیه کې له رباني د فوري استعفا او جهادي مشرانو په توافق د مؤقت حکومت جوړېدو غوښتنه وکړه.

ملي اسلامي محاذ روانه جګړه د واک جنګ وباله او سملاسي اوربند یې وغوښت، خالص له دې امله چې جنرال دوستم له کمونست رژیم سره پېیلی او په لوټ تالان پړ دی د رباني ملاتړ تکرار کړ.

دحزب ویاند رسنیو ته وویل: جګړه نظار شورا د خپلو کمونستو انډیوالانو په ملتیا د حزب پر ضد پیل کړې، د همغږۍ شورا پرمختګ یې د جهاد په بري کې ستر ګام وباله.

محمد یونس قانوني وایي: د ګلبدین، دوستم او کمونستانو مثلث د اسلامی دولت پر ضد توطیه او کودتا وکړه، چې له شرمېدلی ماتی سره مخامخ شوه، ده د جنرال دوستم ځواکونه بدنامه ملېشې وبللې، چې ټول ملت یې وار له مخه پر ضد درېدلي.

انجینر مهدي وویل: برهان الدین رباني د ترکیې سفر پر مهال جنرال دوستم خپل ځای ناستی ټاکلی و، اوس په کومو سترګو دده پر ضد د جهاد خبره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنوري ۳:

جګړه په وحشت روانه ده، دواړه غاړې د پرمختګ دعوا کوي، بي - بي - سي د میرویس جلیل له خولې د حکومتي ځواکونو د برلاسي رپوټ ورکړ، په واټونو، کوڅو کې ځای ځای مړي پراته دي، د مړو جسدونه، هملته تر خاورو لاندې کېږي، روغتونونه تر دهلېزونو له زخمیانو ډک دي، په چپرکټونو دوه، درې ټپیان اچول شوي، په غولي هم زخمیان پراته دي، درمل نشته.

رباني له ارګه وتلی، د ډکو سمڅو کې یې اړولي.

جنوري ۴:

جګړه نوره هم سخته شوه، تر دې چې روغتونو ته زخمیان نه شي رسول کېدای، یوازې د سره صلیب کار کوونکي په دغو هڅو لګیا دي، سره میاشت د دولت پر ګټه په جګړه بوخته ده، خپلو امبولانسونو کې د ټپیانو پرځای دولتي چارواکي، وسلې او مهمات لېږدوي...

جنوري ۵:

میرویس جلیل رپوټ ورکړ، چې د خواجه رواش هوایی ډګر په بشپړه توګه دولتي ځواکونو لاندې کړ، په رپوټ کې د جګړې سیمه بالاحصار، مرنجان غونډۍ، قابل بای، زاړه مکروریان ښودل کېږي، سیاف د رباني مسعود په پلوی جګړه کې برخه لري...

ډګر جنرال عبدالمومن چې د دوستم پوځي مرستیال و، د الوتکې چاودنه کې ووژل شو، پرې یې پر دوستم غورځېدلې، د دوستم هوایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواکونو وزير اکبر خان مېنه بمبار کړه.

نسيم مهدي د خواجه رواش هوايي ډګر نيول رد کړل، دده په وينا ختيز اړخ کې يې دوی پوستې بېځايه شوې، د حزب ویاند قريب الرحمن سعيد وايي بری د دوی دی، ده د بي - بي - سي له خبريالانو ګيله وکړه، چې ګنې د حکومت د فشار له امله د حکومت په خوښه او ګټه خبرونه ورکوي.

نسيم مهدي په ارګ د بمباری خبر ورکړ، همغږې شورا خبرداری ورکړ، چې رباني بايد ۴۸ ساعتو کې استعفا ورکړي.

همغږی شورا د حکومتي ځواکونو له خوا د خواجه رواش نيول ومنل، چې د اکمالاتو مخه يې ټرل شوې وه، خو بالاحصار کې له لوګر او چهار آسياب د حزب له خوا د اکمالاتو مخه پرانيستی ده.

جنوري ٦:

د حزب ویاند قريب الرحمن سعيد: الحمد لله، جګړه په شدت سره روانه ده! د دولت الوتکې د حزب او د دوستم پر ځواکونو او سيمو بمونه غورځوي، دوستم د لوګر پوخ سړک د رنوې کرښه ګرځولې، موترانو جلا خامه لېکه ايستلې. سيد اسحق ګيلانی وايي روغتونونه فلج دي، يوازې څلور سوه يېز روغتون نوکی فعال دي، خلک کلا بند دي، د جګړو له سيمې نه شي وتلی، چې لارې ټرلي، نقليه وسايط نشته، د جګړې له ساحې د وتلو مخه ډب ده.

هره دقيقه يو راکټ او توغندی لګېږي، ډېری په ملکي او مېشتنې سيمو غورځي، جنرال همايون فوزي له کابليانو وغوښتل، کورونه تخليه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او له سيمې ووځي، چې په راتلونکو ورځو کې د نويو بريدو پلان لري...

حزب وحدت جګړه کې ناپېيلی دريځ اعلان کړ، يوه اعلاميه کې يې يوازې يوه ورځ د سوء تفاهم له امله جګړه کې ځان ښکېل وباله.

جنوري ۷:

کابل کې د وړېځې او واورينې هوا له امله نسبي ارامي ده، که څه هم د درنو وسلو ډزې اوږدل کېږي، خو د ګولیو د ږلې لمن ټوله ده.

د جګړې غاړو د سهار له ٦ بجو ۲۴ ساعته اوربند اعلان کړ، چې بهرني ديپلوماتان له کابله ووتلی شي، د حزب ویاند ورسره د زخميانو د درملنې، ښخولو او خوندي سيمو ته د خلکو د لېږد خبره هم مل کړه.

خلک لږ و ډېر بازار ته راوتلي، چې د خپلوانو عزيزانو خبر واخلي، د نادر شاه مېنې (زړو مکرويانو) نوي سلنه وګړي ووتل، په کورونو کې ټوپکيانو اړولي، څه يې چې موندلي هغه يې لوټلي دي.

جنوري ۸:

دولت يو ځل بيا تبليغاتي څپه راپورته کړې، په يوه اعلاميه کې دولت څرګنده کړې، چې غير دينې ډلې به منحل کړای شي، د اعلاميې له مخې جنبش د خلق دموکراتيک ګوند سره پېيلی، په اعلاميه کې راغلي، جهاد د حزب اسلامي پر ضد نه، د ملېشو پر ضد اعلان شوی.

جنوري ۸:

په ۲۴ ساعته اوربند کې بهرني ديپلوماتان له کابل ووتل، دواړو غاړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه بله له اوربند په سرغړونه پره وبلله، دیپلوماتان د تورخم له کربنې واوښتل، ملکي وګړو هم د دوی په کاروان کې له کابله د خوندي وتو مخه وموندە، ډاکټران د (۴۰۰) تنو د وژنې خبره کوي، میرویس جلیل له بي - بي - سي رپوټ ورکړ، چې د ښار له لوېدیځ او جنوب لوېدیځ سلګونه کورنۍ خیرخانې او نورو برخو ته لېږدېدلي.

دغو کورنیو غوښتنه کړې، چې د ملګرو ملتو قواوې دې راشي او هېواد دې له دغو بېرحمو لوټمارانو وژغوري، کډې پلي ځغلي، ښځې پنډې، ګنډې او د کور سامان په خپلو اوږو لېږدوي، ځینې لاسي کراچۍ کاروي، دوی چیغې وهي چې نه ډوډۍ غواړي، نه کور خو دغو جګړمارو ته چې په هرڅه عقیده لري د هغه روی وړاندې کوو، چې نور خلک لوټ او بې عفته نه کړي.

د بهرنیو چارو وزارت مرستیال حامد کرزی د ملي امنیت لخوا ونیول شو.

جنوري ۹:

د توغندیو او راکټونو خال خال ډزې اورېدل کېږي، عزیز مراد وویل، له دوستم سره خبرې نه شي کېدای، خو له حکمتیار سره خبرو ته چمتو دي. نرخونه څلور برابره لوړ ختلي.

نژدې ۵۰۰۰ کورنۍ جلال آباد ته په لېږدېدو بېلا بېلو دښتو کې اړولي، ځینې په موټرو او سروېسو کې مېشت دي، دولت د جنرال دوستم پر ضد د کفر او بېدینۍ ټاپې لګوي، جنایتکار یې ګڼي، چې کلونه یې د روسانو غلامي کړې، خیانت او جنایت یې تر سره کړی، پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کندهاریانو د جنایتکارو ملېشو د ظلمونو یادونه کوي، دغسې یې نورو ولایتو کې هم د ملېشو جنایات رابرسېره کوي، دده د فحشا او عیاشۍ فلمونه ښیي، دولت وایي دوستم باید څو واره په اعدام محکوم شي، له کابل راډیو تلویزیون په وار وار دغسې مطالب خپرېږي، دوستم لوټمار او ملحد یادېږي، د سرکاري تبلیغاتو له مخې دولت دده له ګنا تېر شو، خو دی د لستوڼي مار وخوت، د دغو تبلیغاتو له مخې دوستم د خلق ملحد ګوند د جنبش تر نامه لاندې فعال ساتي، د دوستم، پرچم او ګلبدین مثلث غندي.

جنوری ۱۰:

کابل کې درنې جګړې روانې دي، ملګرو ملتو سرمنشي له ټولو ډلو وغوښتل خپل استازي اسلام آباد ته ور ولېږي، چې اوربند ټینګ او د سیاسي اواري پر لارو چارو غور وکړي، ده پر ټولو اړخونو غږ وکړ، په خپل ملت رحم وکړي، ملګرو ملتو له افغان آزادو شخصیتو غونډه کې دګډون غوښتنه وکړه، د نیوز ورځپاڼې خبریال وویل: کابل کې یې پر واټونو د مړو جسدونه او پر وینو لړلي لیدلي، ان د موټرو ټیرونه هم په وینو سره وو.

د تورخم پر کرښه د کډوالو (۹۰۰) کورنۍ غونډې دي، د پلخشتي جومات هم پر توغندیو لګېدلی، پر منار یې ګڼې ګولۍ نښتي، غالۍ یې وار له مخه لوټ شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنوري ۱۱:

کابل راډيو د گلبدين، دوستم او کارمل د مثلث په اړه تبليغات لري، بالاحصار، مرنجان غونډی، بمبار کړای شول، همغږي شورا اعلان کړه، تر هغې چې رباني استعفا نه وي ورکړې، د اوربند په اړه خبرې نه شي کېدای، کابل راډيو حکمتيار منافق او دوستم ملحد او کمونست ونومول.

د بګرام هوايي ډګر باندې بمباري وشوه، پاکستان له جګړې د تښتېدلو کډوالو لپاره د تورخم دړه پرانيسته، د نويو کډوالو لپاره د نويو پاڼو يا کارت اعلان وشو، چې له پخوانيو هغو سره يې توپير وکړای شي، د بي بي سي ويليم ري او ميرويس جليل له کابله ووتل، دوی د کډوالو په کاروان کې جلال آباد ته ورسېدل، کډوالو شپه د سراج العماره بن او ثمرخېلو ډاګ کې تېره کړه، ميرويس جليل وايي د احمد شاه مسعود پلويان پرې تور لګوي چې له حکمتياره يې ډالر اخيستي، د حکمتيار ډله يې له مسعود د پيسو په اخيستو تورنوي.

اسلامي کنفرانس د سولې هڅې پيل کړي، صديق چکري د جمعيت او حاجي فريد د حزب استازيتوب کوي، ابراهيم بکر او حامد الغامد تر مشرۍ لاندې د خبرو لومړی پړاو پاکستان کې تېر شو، جمعيت څرګنده کړه، چې له دوستم سره خبرې نشي کېدای، خو له حزب سره په دې شرط چې له ملېشو راوګرځي خبرې کېدای شي، د رباني حکومت د دورې په پای ته رسېدو د ملګرو ملتو او اسلامي کنفرانس تر نظارت لاندې ټاکنې وشي.

حزب په ډاګه کړه چې د ټولو کشالو منشا رباني دی، بايد سملاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

استعفا ورکړي، چې د سولې پخوانۍ هڅې هم دده له امله ناکامې شوي دي.

جنوري ۱۲:

کابل کې ځمکنۍ او هوايي جګړه روانه ده، د جنرال دوستم الوتکو پر حکومتي سیمو بمباري وکړه، دولت ادعا وکړه چې د دوستم دوې الوتکې یې نسکورې کړي دي، د حکومتي ادعا له مخې یې تر اوسه دوولس الوتکې غورځولي، یا بګرام کې کوزې شوي دي، پاکستان د تورخم دروازه د افغان کډوالو پرمخ بېرته وتړله، د دوستم الوتکو د لوګر د سقاوې دښتې پوخ سړک د رنوی کرښه ګرځولې، ځمکنی ترافیک پر دښته کې خامه سړک کاروي.

جنوري ۱۳:

کابل کې جګړه روانه ده، د پاکستان جمهور رییس او صدر اعظم په جګړه کې ښکېلو غاړو، د اور بند غوښتنه کړې، حزب بیا هم د رباني د استعفا شرط اینبی، دولت څرګنده کړې چې له ملېشو سره خبرې نه شي کېدای، البته له حزب سره خبرې په دې شرط مني، چې له ملېشو راوګرځي...

دروازه تړلې، تورخم کډو نیولی، د صرافي شهزاده مارکېټ، لوټ او سوځول شوی...

سرکاري راډیو د وحشي دوستم، یاغي ګلبدین، ملحد کارمل د مثلث په غندلو لګیا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنوري ۱۴:

کابل راډيو وويل: د اسلامي دولت اتلو ځواکونو مرنجان غونډۍ او بالاحصار کې د دوستم ګلبدين پر قرارګاوو وژونکي ګوزارونه وکړل.

په کابل د ويجاړوونکې جګړې لمبې بلې دي، تورخم دروازه ټرلې، د رحيم الله يوسفزي په وينا د جلال اباد پنډغالي کې خلک پر تش ډاګ پراته دي، نه خېمې شته نه د خوړو درک.

زرګونه کورنۍ جلال اباد ته ليږدېدلي، حکمتيار له بي - بي - سي سره مرکه کې د رباني پر استعفا ټينګار وکړ، ده وويل چې د بنين سيوان طرحې ته ورته موقت حکومت دې رامينځته کړای شي، دده په وينا له دوستم سره يې وار له مخه ائتلاف نه و کړی، پر يوه وخت پر دواړو د جګړې تپل دوی ګډ مقاومت ته راکاږل.

جنوري ۱۵:

سرکاري راډيو پر له پسې خبر ورکوي چې د اسلامی دولت هوايي او توپچي ځواکونو د ګلبدين، دوستم د تجمع مرکزونه په مرنجان غونډۍ او بالاحصار کې تر سختو ګوزارونو لاندې نيولي، د دې په مقابل کې د ګلبدين دوستم ملېشو له خوا د ښار د استوګنې په سيمو راکټي او توپچي حملې او بېرحمه بمباري وشوه.

انجينر احمد شاه احمدزي د برهان الدين رباني پيغام د پاکستان جمهور رييس ته يووړ، پيغام کې له پاکستان د اوربند په ټينګښت کې د مرستې غوښتنه شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنوري ۱۶:

ولي خان مطبوعاتي کنفرانس کې غوښتنه وکړه، چې د افغان کډوالو پرمخ د تورخم دروازه پرانيستل شي، ده وويل: پاکستان کلونه افغان مهاجرو ته پنا ورکړې، د کابل له جګړو مهاجر هم افغانان دي.

د سعودي بن باز د حکمتيار د بغاوت فتوا ورکړه.

ورځ نسبتاً ارامه وه، د تلوېزيون غونډې بمبار کړای شوه، د حکمتيار يوه استازي پېښور کې وويل: يو شمېر مشهورو قوماندانانو لکه مولوي صديق الله، محمد انور او نورو د مسعود پيغام چهار آسياب ته وړی، په پيغام کې راغلي د حزب اسلامي، مولوي خالص، حرکت، جميعت، محاذ دوه دوه استازي په يوه پلاوي کې راتول او د اوربند لپاره يوه طرحه او پريکړه اعلان کړی.

همغږی شورا اعلان کړه، چې خبرو ته چمتو دی، خو په دې شرط چې ربباني خپله استعفا اعلان کړي.

ننګرهار کې له کابل لېږدېدلي کډوال په وچ ډاګ پراته دي، ايله نن د ملګرو ملتو مرستندويه کاروان له پاکستان (۲۰۰۰) خېمې پر دوی ووېشلې...

حامد کرزی د ملي امنيت له بنديخانې وتښتېد، ده هغه وخت د تېښتې مخه ومونده چې د يوه راکټ په لګېدو د ودانۍ يوه برخه ونړېده.

جنوري ۱۷:

د وريځې او واورو له امله جګړه سخته نه ده، بمباري ونه شوه، قوماندانانو د حقاني په مشرۍ له استاد رباني سره وکتل، استاد رباني

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوې خبره نه درلوده، په اوبو کې يې د لوټې اينبودو او پل اخيستو لوبه کوله.

د جنبش فرهنګي مسوول وويل: همغږۍ شورا کې له حزب، جنبش، نجات جبهې سربېره د حرکت او محاذ قوماندانان هم مله دي.

پير ګيلاني د کابل جګړو کې د خپلو قوماندانانو ګډون رد کړ، ده د ملګرو ملتو او اسلامي کنفرانس تر چتر لاندې د ربړې د اواري په اړه د نويو ګامو غوښتنه وکړه، پير ګيلاني وويل: ګاونډي هېوادونه اواری نه شي راوستی.

د ايران استازي طاهريان اسلام آباد کې د افغانستان په اړه له خبرو وروسته تهران ته ستون شو.

اسلام اباد کې د کابل سفارت اعلاميه کې د حامد کرزی نيول تېروتنه وبلل شوه.

حامد کرزي پر سياسي نمايندګيو نيوکه وکړه، چې د جمعيت په پلوي تبليغات کوي، دده په وينا سياسي نمايندګۍ بنايي د ملت استازيتوب وکړي.

جنوری ۱۸:

جګړه يو ځل بيا سخته شوه، محمدي، سياف او خالص د دوستم پر خلاف د اعلان کړي جهاد ننګه وکړه، د سولې لپاره د قوماندانانو شورا توافق ته ورسېده، چې په جګړه کې بنکېل اړخونه دې خپل ځواکونه شاته کړي، يوه عبوري اداره دې جوړه کړای شي.

پخواني پاچا د ملګرو ملتو تر ځارنې لاندې د لويې جرګې غوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه، د پخواني پاچا ویاند وزیري وویل: د حضور اعلیحضرت اعلامیه جدي ده، ملل متحد باید چمتو اوسي، خو قواوې یې بنایي مداخله ونه کړي، چې صومالیا او کمبودیا کې یې ښه پایلې ونه شوای لرلی.

دده په وینا ملګري ملتونه دنده لري، دا یې منشور دی، چې د ربړې اواري ته وړاندې شي، حضور اعلیحضرت خدمت ته حاضر دی، دی د ملت ارادې ته احترام لري، د لویې جرګې خبره د ملت ارادې ته دده د احترام څرګندوی ده.

حضور اعلیحضرت ویلي: بهرني هېوادونه د افغانستان اور ته لمن وهي...

د شمالي ولایتونو والیانو د همغږۍ شورا له اعلامیو ملاتړ وکړ...؟

جنوري ۱۹:

له واورو او سړې هوا سره جګړه غځېدلې، حکمتیار د کابل قوماندانانو د سولې پلان د رباني داستعفا پر شرط ومانه.

د رباني استازي محمد صدیق چکري د دوستم پرضد جهاد پرتداوم ټینګار وکړ، د کابل قوماندانانو وویل، که هر لوري د دوی پلان ونه مانه، پر صد یې درېږي.

د همغږۍ شورا یو پلاوی پاکستان ته تللی، د رباني حکومت له پاکستان غوښتي د همغږۍ شورا پلاوي ته د پاکستان د ننوتو اجازه ورنه کړي.

قوماندانانو پرېکړه وکړه، چې اته تنه علما او د هر تنظیم دوه دوه استازي د عبوري حکومت پروسه کې برخه واخلي، د کابل قوماندانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شورا ځان د تصميم نيولو عالي مرجع ګڼي، خو د دوی له خوا اعلان شوی اوربند ټينګ شوی نه دی.

جنوري ۲۰:

مازيګر سخت جنګ ونښت، ارګ بمبار کړی شو، د قوماندانانو له خوا اعلان شوی اوربند مات شو، د رباني حکومت الوتکو چهار اسيا او د همغږی شورا مرکزونه بمبار کړل.

جنوري ۲۱:

له غرمې وروسته جګړه سخته شوه، د همغږی الوتکو ارګ، وزير اکبر خان مېنه او خيرخانه بمبار کړه، د رباني حکومت الوتکو پر مرنجان غونډی، بالاحصار او چهار آسياب بمونه وغورځول، د پښتونخوا والي له يوه مرستندوی کاروان سره ننګرهار ته تللی... چې د کابل له جګړو لېښليو کډوالو سره هېواد کې دننه مرسته وکړي، حاجي عبدالقدير يې هرکلی وکړ، تورخم د کډوالو پرمخ تړلې.

همغږی شورا ټولو الوتکو ته خبرداری ورکړ، چې د افغانستان حدودو ته له ننوتو ډډه وکړی.

جنوري ۲۲:

د رباني مسعود ځواکونو د (نادر شاه مېنې) د نيولو ادعا وکړه، همغږی اعلان کړه، چې د رباني مسعود ځواکونه يې په شا تمبولي دي.

ايمنستي انټرنيشنل له پاکستان وغوښتل، د کابل له جګړو د لېښيلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرمخ د تورخم دروازه پرانيزي، ريډکراس ويلي وروستيو جګړو کې له (٦۰۰۰) زيات ولسي وګړي وژل شوي، او له ۱۸۰۰۰زيات ټپيان شوي دي.

کابل کې د اوړو بيه څلور او د تېلو درې برابره لوړه ختلې.

قاضي محمد امين وقاد وويل: جګړه ګلم جمو پيل کړې، رباني بايد د شپږ مياشتو په تېرېدو حکومت پرېښښی وای، له دوستم سره د حزب ملتيا د حزب د مرکزي شورا له پرېکړې پرته حکمتيار په خپل سر کړې.

همغږی شورا يوه اعلاميه کې ددې له امله چې بهرنيو هېوادو کې سياسي نمايندګی اعتبار نه لري، له هېواد بهره پانګې د کنګال کېدو غوښتنه وکړه.

جنوري ۲۳:

همغږی شورا يوه اعلاميه کې د مولوي حقاني د سولې هلو ځلو هرکلی وکړ.

کابل کې سخت جنګ دی، د دوستم الوتکو ارګ، دفاع وزارت تاسيسات، وزير اکبر خان مېنه او تلوېزيون غونډی بمبار کړه، د رباني هوايي ځواکونو پر مرنجان غونډی، بالاحصار بمونه وغورځول.

د شهزاده سرای صرافانو رسنيو ته وويل: دکانونه يې د نظار شورا وسله والو لوټ، او سوځولي دي، رباني اعلان وکړ چې د ملګرو ملتو او اسلامي کنفرانس ګډه طرحه منل کېدای شي.

په مانښام رباني وويل: قانوني جمهور رييس دی، استعفا به ورنه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنوري ۲۴:

حزب اسلامي ادعا وکړه، چې دولتي مطبعه او مسلخ يې ونيول، مولوي خالص وويل: له يوې غاړې هم ډاډه نه دی، د خالص په خبره له يوه اړخ سره دوستم دی، له بل سره بابه جان، دواړه لوري بايد دغسې کسان له خپل څنګ وشړي.

حکمتيار له پاکستان وغوښتل د تورخم دروازه پرانيزي، ده وويل په داسې حال کې چې مزدک، کارمل او نور پرچميان د رباني حکومت برخوال دي، د ډاکټر نجيب الله د بندي کېدو جواز نشته، ننګرهار کې د سعودي سفير له حقاني او حاجي عبدالقدير سره وکتل.

رباني وويل: استعفا ته چمتو دی، خو د چا لپاره...؟

جنوري ۲۵:

جګړه روانه ده، له مرنجان غونډۍ پر بي بي مهرو، خيرخانه او چمتلې دښته توغندويي برید وشو، دغسې بالاحصار مرنجان غونډۍ تر اور لاندې وه.

جنوري ۲۶:

د واورې وريځې له امله د جګړې څپې ناستې دې، نن طبيعت د جګړې مخه ونيوه، امنيت شورا د فوري اوربند غږ وکړ او سيمې ته يې د يوه پلاوي لېږل اعلان کړل.

رباني، ډاکټر نجيب الله لفرابي د بهرنيو چارو وزير ايران ته ولېږه، همغږۍ شورا د ايکو غونډه کې د لفرابي ګډون ناقانونه وباله، اعلاميه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل حکومت سره هر ډول تړونونه بې اعتباره ګڼي، د پاکستان کورنیو چارو وزیر سردار اصف احمد علي وویل: د جلال آباد هوایي ډګر پرانیستی، هغه هېوادونه چې د تورخم پرانیستو خبره کوي، خپلو الوتکو کې دې کډوال له هغه ځای واخلي او خپلو هېوادو کې دې پنا ورکړي.

د کابل روغتونو د ۸۰۰۰ ټپیانو د درملنې خبر ورکړ، چهار آسیاب کې د حزب د رادیو تلوېزیون تاسیسات بمبار شول، خو خپرونې یې قطع شوي نه دي.

د حزب تلویزیون د سرکاري هغه په پرتله معیاري خپرونې لري، د سرکاري تلویزیون خپرونې په وچ پروپاګند راګرځي هغه هم په سپورو ستوغو ټکو خو د حزب تلویزیون د تبلیغاتو ترڅنګ معیار پامور ګڼلې، د بشارت رول په دغه معیار کې جوت دی...

د ملګرو ملتو امنیت شورا د افغانستان په اړه بهرنۍ غونډه وکړه، راتلونکې اوونۍ کې د بلې غونډۍ پرېکړه لري.

جنوري ۲۷:

د بریځر تر لسو بجو ارامي وه، لس نیمې بجې د همغږۍ شورا ځواکونو تعرض وکړ، پغمان، خیر خانه، د بابه جان مرکزونه بمبار کړای شول.

د دولت الوتکو په مزار او شبرغان کې د دوستم ځواکونه بمبار کړل، دولت وایي هوتخېلو کې یې د ملېشو برید پر شا تمبولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنوري ۲۸:

جګړه روانه ده، سعودي، پاکستان له اسلامي کنفرانس وغوښتل د سولې کنفرانس راوبولي، همغږی شورا وویل: الوتکو یې ارګ، چمتله دښته، پل ارتل او پغمان کې د رباني قرارګاوې بمبار کړې.

دغسې د حکمتیار او همغږی شورا مرکزونه حکومتي الوتکو بمبار کړل، همغږی شورا ادعا وکړه، چې ملي بس او مسلخ یې نیولي دي.

دولت وایي: د دښمن بریدونه یې په شا تمبولي، جګړه مرنجان غونډی او بالاحصار ته راټوله ده.

جنوري ۲۹:

کابل کې د راکټونو خال خال ډزې دي، خو له بغلان، جوزجان او فاریاب د سختو جګړو خبرونه ورکړل شول، سیاف وویل جګړو کې بهرنی لاس دی، ده د ازبکستان نوم واخیست، دده په وینا له ازبکستان الوتکې الوزي بمباري کوي...

دپاکستان اپوزیسیون مشر نواز شریف پارلمان کې د کډوالو پر مخ دروازه تړل وغندل، د بلوچستان پارلمان کې بلوڅانو له خپل ایالت د افغان کډوالو د ایستو غونښتنه وکړه، پښتنو استازو یې مخالفت وکړ، په دې سلا شوه چې افغان کډوال به هغه وخت استول کیږي، چې د افغانستان ربړه اواره شي...

حقاني د اصلاحي شورا له پلاوي سره جلال آباد کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنوري ٣٠:

همغږی ځواکونو آرتل پل، جمال مېنه او دهمزنګ بمبار کړل، فاریاب، جوزجان او بغلان کې هم جګړې شوې، خلک له جګړې په مندو دي، هر لوري ته ځغلي، په دوی پسې توغندي، توپي غورمبېږي، لکه خروړي سپي مندې پسې وهي، کابل پر توکمي، سیاسي او مذهبي ډلو وېشل شوي.

له کابل سل زره وګړي کلیوالو سیمو، شپېته زره جلال آباد ته لېږدېدلي دي، ٨٠٠٠ زخمیان او ١٠٠٠ تنه وژل شوي دي...

جنوري ٣١:

جګړه سخته ده، همغږی شورا د بابر بن او ګذرګا د نیولو ادعا وکړه، دولت مرنجان غونډی، بالاحصار او چهار آسیاب بمبار کړ، شمال کې هم جګړه غځېدلې، جنرال فوزي د سمنګان نیولو ادعا وکړه.

ډاکټر موسی توانا له جمعیت سره خپل شلون اعلان او جنبش کې شامل شو، ده پر رباني او مسعود نیوکې وکړې، دغسې یې د دوستم پر ضد د رباني اعلان شوی جهاد باطل وباله.

توانا په وروستیو کې د جمعیت د مرستیال په توګه کار کاوه او د توکمي فرکیسیون مشر ګڼل کېده.

ډاکټر موسی توانا په ډاګه کړه، چې رباني دوستم ته د ننواتې لپاره ولېږه، خو رباني په ټګۍ کې و... دده په وینا احمد شاه مسعود هم له دوستم سره د اړیکو او روغې په هڅو کې رښتینی نه شوی ګڼل کېدای.

ستوریس مسوریش د ملګرو ملتو استازي بېرنی اوربند وغوښت،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دده په وينا د طرحو کمی نشته، خو پر افغان مظلوم ولس زړه سوی نشته، ده وويل لومړی بايد اوربند ټينګ شي، لويې جرګې ته مخه ورکړل شي... همغږی شورا د ملګرو ملتو له هلو ځلو سره موافقه اعلان کړه.

پېښور کې افغان قونسل وايي: جنګ حکمتيار پيل کړی، د ننګرهار شورا وايي که رباني له دوستم او ملېشو سره په جنګ لګيا وي، مور ورسره ولاړ يو، خو که له حزب سره جګړه کوي، مور فريق نه جوړېږو.

فبروري ۱:

دواړو غاړو د حقاني په مشری اصلاحي شورا ته واک ورکړ، چې د سولې لپاره خپلې هڅې وغځوي، دوی اصلاحي شورا ته بلنه ورکړه، چې کابل ته ورشي.

ايراني چارواکو مشهد کې د سنيانو يو جومات پر بلدوزرو ونړواوه...

مولوي حقاني جلال آباد د امن ښار ونوماوه...

فبروری ۲:

جګړه روانه ده، د حقاني په مشری اصلاحي شورا کابل کې ده، د کابل له قوماندانانو او جهادي شورا له پلاوو سره يې وليدل، له رباني حکمتيار سره يې خبرې وشوې.

حزب اسلامي د ملګرو ملتو (مسورش) د وړاندیز هرکلی وکړ او د ځلور ورځني اوربند لپاره يې خپل چمتو والی اعلان کړ.

د جنرال دوستم استازي روس ته اخطار ورکړ، چې که د رباني لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې د پيسو له چاپولو لاس وانه خيست، مزار کې به د روس قونسلګري وتړي.

فبروري ۳:

کابل کې ټينګه وړېځ ده، واوره اوربدلې، د جګړې څپې ناستې دي، تېرو درېيو مياشتو کې لومړی پلا د سره صليب د خوراکي توکيو يو کاروان کابل ته ورسيد، د تورخم دروازه د پخوانيو کډوالو پر مخ چې د افغان کمشنرۍ شناختي پاسونه لرل پرانيستل شوه، خو له څو ساعتو وروسته بېرته وتړل شوه.

فبروری ۴:

د واورې له برکته نسبي کراري ده، په شمالي ولايتو کې جګړه ده، د اصلاحي شورا پلاوي د حقاني په مشرۍ له رباني، سياف او مسعود سره وکتل.

د ننګرهار، لغمان، کونړ شوراګانو حاجي عبدالقدير خپل مشر وټاکی.

مازيګر درنو ډزو د يو ځل بيا وېره ګډه کړه.

استاد رباني ازبکستان د دولت له مخالفانو سره په مرسته تورن کړ.

فبروري ۵:

جګړه روانه ده، د سره صليب پر روغتون توغندی ولګېد، دولت پر بالاحصار مرنجان غونډۍ او چهار آسياب بمباري وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فبروري ٦:

د اصلاحي شورا پلاوی دويمه پلا له استاد رباني او سياف سره وکتل، رباني په خپل دې دريځ ولاړ دی، چې حل او عقد شورا ولسمشر منلی.

د ملګرو ملتو ځانګړي استازي (مسوريش) ننګرهار کې له حاجي عبدالقدير سره وکتل، ازبکستان د کابل حکومت د وړومبي ورځې تور رد کړ.

فبروري ۷:

د کابل جګړو کې تر اوسه سل زره کورنۍ بېځايه شوي او له ۱۵۰۰۰ زيات ولسي وګړي وژل شوي دي، دغسې له دېرش زره زيات زخميان دي.

احمد شاه مسعود پر ازبکستان تور پورې کړ، چې د دوی مخالفانو (دوستم) ته T30 ټانکونه ورکړي.

دده په وينا، بېنظير بوتو هم ورسره په خپلو ژمنو وفا ونه کړه، تر اوسه مخالفان (حکمتيار) پالي.

همغږۍ شورا د اصلاحي شورا طرحې ته ورته طرحه وړاندې کړه، چې رباني او حکمتيار دواړه استعفا وکړي، د کابل امنيت د کابل قوماندانانو ته وسپارل شي، له هرې ناحيې به دوه دوه تنه د خلکو د استازو په توګه په دغه شورا کې برخه ولري، د دوی له استعفا به پينځلسو ورځو کې د شپږو مياشتو لپاره له ناپېلو او منليو کسانو مؤقت حکومت جوړ کړای شي، د حکومت جوړونې پروسه به د ملګرو ملتو او اسلامي کنفرانس تر څارنې لاندې بشپړه شي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

فبروري ۸:

اروپايي ټولنې د افغانستان پر جګړو خواشيني ونښوده، حقاني چهار اسياب کې له حکمتيار سره وکتل، خو غوڅه پايله يې ترلاسه نه کړای شوه.

ربانې يو ځل بيا پر ازبکستان له دوستم سره د مرستې تور پورې کړ.

فبروري ۹:

د دولت دوې چورلکې لغمان کې حزب اسلامي ته تسليم شوې، دغو چورلکو چې شمشاد کې يې د استاد سياف له غونډ کابل ته پوځي توکي لېږدول، د حزب قوماندان ناصر خان ته تسليم شوې.

د اسلامي کنفرانس مشر حامد الغامد افغانستان کې د جګړې له ټولو غاړو روژه کې د اوربند غونښتنه وکړه، پېښور کې يې د حزب او جمعيت له استازو سره وکتل.

فبروري ۱۰:

کابل کې جګړه سخته شوه، د همغږۍ شورا ځواکونو د تلوېزيون غونډۍ بمبار کړه، دولت هم د مخالفانو سيمې تر اور لاندې نيولې...

حقاني له حکمتيار سره وکتل، د دولت او حزب وحدت ترمينځ د اړيکو خبر ورکړل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فبروري ۱۱:

د روژې لومړۍ ورځ ده، څکه خو تر اوسه کراري ده، انګلستان خپلو اتباعو ته خبرداری ورکړ، چې افغانستان ته سفر ونه کړي.

دهمزنګ کې د حزب وحدت او نظار شورا ترمینځ لنډه نښته وشوه.

د شهزاده سرای له لوټ تالان وروسته چې صرافان پر سالنګ واټ د مېوې زړې منډۍ مخامخ مارکیټ ته رالیږدېدلي وو، د شپې چور او لوټ شول.

فبروري ۱۳:

جګړه په یو څه ځنډ روانه ده، نظار شورا افشار بهرته حزب وحدت ته وسپارە.

فبروري ۱۴:

د حقاني په مشرۍ اصلاحي شورا د سهار له پینځو بجو موقت اوربند رامینځته کړ، اوربند بې قید و شرطه دی، د حقاني په وینا کابل ته غځېدلې لارې به پرانیستي وي، دده په وینا له دغو لارو پوځي اکمالات نه شي کېدای، همغږۍ شورا د اوربند منل اعلان کړل، اوربند څلور ورځنی دی، چې د دایمي اوربند پیلامه ګرځېدای شي.

قریب الرحمن سعید وویل، اوربند یې منلی، په څلورو ورځو کې به د رباني د استعفا، او نوې حکومت طرحه چې ترمخ به یې کابل ناپوځي شي بشپړه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فبروري ۱۵:

اوربند د توغنديو درنو ډزو مات کړ، حقاني پغمان کې له احمد شاه مسعود او استاد سياف سره وکتل، دولت وايي توغندي د دوستم ځواکونو ويشتلي، خو دوی به يې ځواب ورنه کړي، خلک د اوربند پر دوام باوري نه دي، ځکه خو له فرصت په ګټه اخيستو له زړو مکرويانو او جګړې له سيمې پښې باسي...

د ننګرهار د سرشاهي پنډ غالي کډوال وايي: له مجاهدينو کرکه لري، دا قاتلان دي، کډوال په وچ ډاګ پراته دي، پنډ غالي د ماينو تر ګوابښ لاندې دي.

فبروری ۱۷:

مزاري وويل: زمور دريځ د همغږۍ شورا دريځ دی. د کابل کډوالو ۲۵ سلنه د سرشاهي پنډ غالي کې مېشت دي، نور په سړکونو، پارکونو، واټونو پر غاړو پراته دي، په يوه بس کې يوه کورنۍ مېشت ده.

اوربند ايله درې ورځې دوام وکړ، خلکو وکړای شول د جګړې له سيمې ووځي، حکمتيار له کابله ننګرهار ته تللی، حقاني په ده پسې ننګرهار ته ولاړ.

فبروري ۱۸:

د پاکستان د بهرنيو چارو وزير سردار آصف احمد علي جلال آباد کې له حکمتيار او حقاني سره وکتل، حقاني وويل: کابل ته غځېدلې لارې ښايي پرانيستي وي، خواړه او غلې بايد د جګړې وسله ونه ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له نادر شاه مېنې (زړو مکرویانو) وروستي استوګن ووتل، سیاف وویل: د اصلاحي شورا پلاوی باید د جنګ منشا له مینځه یوسي، دده په وینا ملېشې او کمونستان د جګړې مسببین دي.

ده وویل: د ملګرو ملتو مرسته به دا وي، چې د بهرنۍ مداخلې مخه ونیسي.

د رباني حکومت د کابینې غړي او لوړ پوړیو چارواکو کورنۍ تر اوسه پاکستان کې دي، خپله د احمد شاه مسعود کورنۍ اسلام اباد کې مېشت ده، دوی له تورخم د اوښانو او خرو په لار له کربنې اوړي، مسعود اسلام آباد کې د خپل پلار جنازه کې چې ترافیکي پېښه کې ومړ برخه وانه خیسته.

حکمتیار او رباني باکستان کې د خپلو زامنو له ورا بې برخې پاتې شول.

فبروري ۱۹:

د ملګرو ملتو د بشري حقونو د څانګې مشر ارماکورا د مجاهدینو پر مشرانو نیوکې وکړې، دوی یې د خپلو خلکو قاتلان وبلل.

د ثمرخېلو او سرشاهي پنډغالو کې د کابل له جګړو د کډه شویو کورنیو خېمې درېدلې، خو ډېرې کورنۍ په وچ ډاګ راغونډې دي، کېږدۍ نه لري، که څه هم ځای ځای د بهرنیو مرستندویه موسسو لوحې لګېدلې، لارې هماغسې تړلې دي، حقاني له حکمتیار سره د لارو د پرانیستو پر سر خبرې وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فبروري ۲۰:

پښور کې درېيو وسله والو د ښوونځي يو بس اسلام آباد ته وتښتاوه، تښتوونکو غوښتل افغانستان ته د خوراکي توکيو د رسېدو مخه پرانيستل شي، بس اسلام آباد کې د افغانستان سفارت ترمخ د پوليسو محاصره کې دی.

جنرال نصير الله بابر له تښتوونکو سره خپله خبرې ان ټوکې وکړې.

له دوی يې تومانچه وغوښته، ور يې کړه، ده وکتله بېرته يې تښتوونکو ته وسپارله، محمد علي جاويد د يو بل پلاوي په مشرۍ اعلان کړه، چې د رباني لپاره د ټاکلې مودې په پای ته رسېدو لويه جرګه چې سل تنه ديني علما، قوماندانان او سياسيون په کې وي، نوی حکومت جوړ کړي، ده اعلان کړه چې خپلې هڅې به د حقاني له هڅو سره همغږې کړي.

حزب د حقاني پر ټينګار پر يو بل څلور ورځني اوربند هوکړه وکړه.

فبروري ۲۱:

له کابل جلال آباد ته د کډوالو بهير روان دی، د دويمې ورځې لپاره هم د پښور ماډل سکول تښتولی بس افغانستان سفارت کې ولاړ دی، دوی پينځه مليونه کلدارې، د پولې او لارو پرانيستل او يوه چورلکه غواړي، چې خوندي ځای ته يې ولېږدوي.

حقاني له سوريس مسوريش او حکمتيار سره جلال آباد کې جلا جلا خبرې وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فبروري ۲۲:

د نبوونځي بس درې واړه تښتوونکي د پاکستان د پوځي کوماندويي ځواکونو له خوا د شلو دقيقو په لنډ وخت کې ووژل شول، ويل کېږي دوی د پروان اوسېدونکي د احمد شاه مسعود مربوط وو.

په ژوره ماتې تښتوونکي په شربت کې دنشه يې موادو په ګډېدو ېېهوښه، او بيا په ډزو ووژل شول، له ېېهوښی وروسته ددوی وژنې ګڼ سوالونه راولاړ کړي.

حقاني اعلان کړه، چې د اور بند پر تمديد موافقه شوې، حکمتيار وويل، د اصلاحي شورا اوربند يې ځکه ومانه، چې د ربړې اواری رامينځته کړای شي.

حقاني له حکمتيار او خالص سره وکتل.

حقاني د بس تښتونې په اړه وويل: دا غلط عمل و، له بده بخته پاکستان هم مناسب کار ونه کړ، تښتوونکی بايد ژوندي نيول شوي واى، چې د واقعيت پته لګېدلی واى.

فبروري ۲۳:

سردار آصف احمد علي له ننګرهار د ځمکې له لارې کابل ته راغی، کابل کې له غرمې وروسته خال خال ډزې اورېدل کيږي، آصف احمد علي به له مسعود او رباني سره ګوري.

کابل پر ازبکستان د دوستم د ملاتړ تور لګوي، سياف وايي دا مداخله نه شو منلی، کابل کې د پاکستان پر ضد مظاهره وشوه، مظاهره کوونکي پر سفارت وروختل، اسلام آباد کې د نبوونځي د بس د

(c) ketabton.com: The Digital Library

درېيو تښتوونکو د وژنې په غندنه کابل کې حکومتي مظاهره وشوه.

دا په داسې حال کې چې کابل کې هره ورځ د سيالو ډلو ترمينځ لسګونه بېګناه افغانان وژل کېږي.

فبروري ۲۴:

سردار آصف احمد علي کابل کې خپل ټرلی سفارت وکوت، له ده سره رباني او مسعود ملګري وو، آصف احمد علي له عبدالعلي مزاري سره هم وليدل.

فبروري ۲۵:

کابل راډيو چې د پښتونستان پروګرام وار له مخه ايسته کړی، د بلوچي پروګرام پر ځای ازبکي هغه خپور کړ.

له جلال اباد تر کابله (۱۷۰) پوستې پرتې دې، له موټرو او مسافرو باج اخلي.

فبروري ۲٦:

کابل کې د پاکستان پر ضد دويمه مظاهره وشوه، حقاني له مسعود، رباني او سياف سره پغمان کې وکتل، د سولې لپاره يې ظاهراً ده ته له واک ورکولو سره موافقه وکړه، خو ماته د زړه هغه نه برېښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فبروري ۲۷:

حقاني صاحب يو ځل بيا له استاد رباني او سياف سره وليدل، په خوله خواږه په زړه کاږه.

حکمتيار سره هم وليدل شول، ده هم په خوله واک ورکړ...؟

فبروري ۲۸:

کندز د همغږۍ شورا له خوا ونيول شو، قريب الرحمن سعيد وويل، د کندز ټولې ولسوالۍ يې نيولي، خو دوستم وويل د کندز مهمې سيمې يې تر واک لاندې دي.

کابل کې هم د جګړې غږو د يو بل مرکزونه تر اور لاندې ونيول، حقاني د کابل له قوماندانانو سره د امنيت سپارلو په اړه خبرې وکړې،

پلچرخي کې د کابل قوماندانانو خپله غونډه لرله، د دوی او باډيګارډانو له ځېرو د ډار او وحشت لمبې ختې، دغسې ځېرې او کريکټرونه ځرنګه کړای شي کراري راولي، او امنيت ټينګ کړي.

زه حيران شوم چې حقاني صاحب له دغو قوماندانانو د امنيت د ټينګښت هيلې پالي، حقاني صاحب دوی ته وايي: د سولې په لار کې زما ټول امکانات ستاسې په خدمت کې دي، ما حقاني صاحب ته له خپلې اندېښنې وويل، په عميق تأثر يې راته کړه: ځنګه يې کوې؟

مارچ ۱:

په خوراکي توکيو بار د ملګرو ملتو شپږ لارۍ د حکمتيار له موافقې وروسته کابل ته راغلې، حکمتيار په دې شرط کابل ته د ننوتو مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړه، چې د همغږۍ شورا د وېش له پروګرام سره سم خوراکي مواد ووېشل شي، دا چې درې لارۍ به د حکمتیار او دري د رباني تر کنترول لاندې سیمو کې وېشل کېږي.

مارچ ۲:

پېښور کې د پیر ګیلاني تر مشرۍ لاندې یوې غونډۍ د لوېې جرګې په جوړېدو ټینګار وکړ، د کابل پر بېلا بېلو برخو راکټونه ولګېدل.

د جلال آباد سرشاهي پنډ غالی د نورو کډوالو د مېشتېدو ظرفیت نه لري، عزیز مراد د همغږۍ شورا د ځواکونو له خوا د کندز نیول درواغ وبلل، ده وویل د کندز د دفاع جګړه روانه ده، د دوستم ګلبدین ملېشو ته د سر او مال درانه زیانونه اوښتي.

مارچ ۳:

کابلیان د ملګرو ملتو د شپږو لاریو لار ځاري.

بېنظیر بوټو ناصر باغ کې د نویو کډوالو پنډغالي ته ولاړه، د تورخم دروازې پرانیستو ژمنه یې وکړه.

اصلاحي شورا د ډېډلي اوربند د ځارنې پلاوی اعلان کړ، چې له اوربند سرغړوونکی ارخ په ګوتو کړي...

مارچ ۴:

د حزب قوماندانانو د ملګرو ملتو د شپږو لاریو مخه ډب کړه، کابل کې کراري ده، اوربند نه دی مات شوی، د اصلاحي شورا د ځار پلاوی له

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوربند سرغړوونکي په ګوتو کړل، دا يې قواله په چا يې منې...؟

د اصلاحي شورا يو بل پلاوی له دواړو غاړو د بنديانو د خلاصون په موخه خپل کار پيل کړ.

مارچ ۵:

حقاني د اصلاحي شورا په مشری له حکمتيار سره وليدل، حقاني ټينګار کاوه چې لارې خلاصې او تعرض ونه شي، خو حکمتيار خپل واک مشروط وباله، چې له همغږی شورا سره هم وکتل شي.

بطروس غالي د حکمتيار په نامه يوه پيغام کې د ملګرو ملتو شپږو لاريو ته د مخه ورکولو غوښتنه وکړه.

مارچ ٦:

کابل کې نسبي آرامي ده، حکمتيار د ملګرو ملتو لاريو ته اجازه ورکړه، چې کابل ته ننوځي، درې لاری د رباني او درې د حزب تر واک لاندې سيمو کې، خوراکي توکي ووېشي.

مارچ ۷:

د ملګرو ملتو لاری د کابل ښاريانو له خوا چور کړای شوې، دغه وخت د جګړې دواړو غاړو د يو بل تر واک لاندې هغو سيمو توغندو يي برید وکړ، چې د دغو لاريو توکي پکې وېشل کېدل، د خلکو د چور له امله د موادو وېش ودرېد، خيرخانه کې د يونيسف يو افغان مامور خلکو برمته کړ، د خيرخانې يوه جومات کې د موادو د وېش لړی روانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه، چې توغندي ولګېدل، شپږ تنه مړه او ۳۰ زخميان شول.

د ملګرو ملتونو لخوا، درې لارې اوړه د يوه لوی ښار کلابندو اوسېدونکو ته له مسخرې پرته بل څه نشي ګڼل کېدای، چې د شپږو مياشتو کلابند ښاريانو هر يوه ځان لومړی درجه مستحق ګانې، چې بايد خپل حق او برخه ترلاسه کړي، درې لارې ښايي د څرخي پله زندان کې د زرګونو ميشتو کډوالو لپاره د يوې ورځې يوه ګوله مړۍ برابره کړې وای، خو د يوه لوی ښار د کلابندو اوسېدونکو سره دغسې مرسته د ملګرو ملتونو يوه بله بې توپيري او ټوکه رامنځ ته کړه...

مارچ ۸:

د کابل بېلا بېلې سيمې د دوړو غاړو له خوا تر توغندويي بريد لاندې دې، حقاني له حکمتيار سره وکتل.

مارچ ۹:

کندز د رباني ځواکونو له خوا بېرته ونيول شو، حقاني د باغ بالا هوټل کې له استاد رباني، سياف سره وکتل، له کابله د کډوالو د وتلو بهير له پخوا زيات غځېدلي، ښار کې شبنامې غورځېدلي، چې د اختر تر څلورمې له ښاره ووځي.

مارچ ۱۰:

جګړه روانه ده، د جګړې غاړې يوه پر بله توغندويي بريدونه کوي، I.R.C روغتون ته. ۲۳ ملکي ټپيان راوړل شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مارچ ۱۱:

کابل راډيو د حکمتيار ځواکونو د دوو تعرضونو د په شا تمبولو خبر ورکړ، پخوانی پاچا د وړوکي اختر په مناسبت خپل پيغام کې د روانو جګړو له امله خواخوږي وښوده، پيغام کې د هېواد او هېوادوالو خدمت ته چمتووالی څرګند شوی دی. څه خبر خدمت ته چمتو حضور اعليحضرت به کله د دغه خدمت مخه مومي...؟

مارچ ۱۲:

د بلوچستان حقوقپوهانو يوه قطعنامه کې د ډاکټر نجيب الله د خوشې کېدو غوښتنه کړې، کابل کې خال خال ډزې اورېدل کېږي، لارې هماغسې تړلې دي.

مارچ ۱۳:

استاد رباني د خيرخانې جامع جومات کې د اختر په لمانځه کې خپل حکومت دده په وينا مدينة الرسول کې لومړنی اسلامي حکومت وباله.

ده د خپل حکومت ستونزې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم او صحابه وو ستونزې وبللې، ده په اشاره اشاره حکمتيار منافق ونوماوه، هرات کې اسماعيل خان د سولې او اوربند طرحه وړاندې کړه، چې حکمتيار له خپلو متعهدينو سره تر مشورې مشروط کړه، خو رباني ورسره موافقه ونښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مارچ ١٦:

د کابل پلچرخي کې خلکو مظاهره وکړه، د جګړې غاړې يې وغندلي، قريب الرحمن سعيد د هرات د سولې پلان د حقاني د سولې د هڅو سبوتاژ وباله.

مارچ ١٥:

اسلام اباد کې د کابل سفير سردار محمد روشن رباني حکومت له خوا تبديل کړای شو، له ده سره د حکومت کشاله د هغه چک پر سر وه، چې نواز شريف مجددي ته د پاکستان له اړخه د مرستې لپاره ورکړی و.

مجددي دا له ځان سره مرسته بلله، له دې... دوه ملیوه ډالر رباني اداري ايستلی او نورې د سردار روشن لخوا کنګال کړای شوې، چې د يوې نماينده او قانوني حکومت تر وخت يې څوک ونشي ايستلی.

مارچ ١٨:

د مارچ ١۴، ١۵، ١٦، ١٧ په کرار تېرې شوې، خو نن توغندويي برید کابل يو ځل بيا ولړزاوه.

د رباني حکومت ويانډ وويل، که همغږی شورا له بمبار او توغندويي بريدونو لاس وانه خلي، دوی به د ملېشو پلوه افسرانو کورونه بمبار کړي.

څو توغندي د وزير محمد اکبر خان مېنې، شاو خوا ولګېدل، څمکنۍ جګړې، ملي بس، زړو مکرويانو او ميوند وات کې غځېدلې، خلکو له جګړې جوماتونو ته پنا وړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مارچ ۱۹:

مولانا کوثر نیازی د مغزي سکتې له امله پاکستان کې ومړ. ده خپل سیاست له جماعت اسلامي پیل کړی و، مولانا مودودي ته دومره نژدې و چې زوی یې باله، بیا یې له جماعت سره پرې کړه، چې جماعت اسلامي له یوې مخې سیاست او اقتدار ته استخدام کړای شو، ګویا له روحانیت او اصلاح یې پر مخ اړولو تورن کړ... "اور لاین کټ، اور جنهیں مے نے دیکھا" دده مشهور کتابونه دی، چې لومړی یې د بوټو زوال او جنرال ضیاء الحق د کودتا په اړه کښل شوی.

له جماعت اسلامي په وتو مولانا پیلپز ګوند ته ورغی، د بوټو حکومت کې لومړی د اطلاعاتو خپرونو او بیا د حج او اوقافو وزیر و.

مارچ ۲۰:

د جګړې غاړو د یو بل پر سیمو درنې بمباری وکړې، حکومتي الوتکو د سقاوې دښته کې د همغږی شورا د الوتکو رنوی کربنه (سړک) بمبار کړ، له غرمې وروسته یوه بجه د همغږی الوتکو وزیر اکبر خان مینه او خیرخانه بمبار کړی.

مارچ ۲۱:

د نوي لمریز کال په لومړي ورځ د جمال مېنې غونډی دوه توغندي ولګېدل.

برهان الدین ربانی د لسو ورځو ورځو یو اړخیز اوربند اعلان کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مارچ ٢٢:

استاد رباني له شپږو مياشتو وروسته مطبوعاتي کنفرانس ته وينا وکړه، ده په ډاګه کړه، چې استعفا به ورنه کړي، رباني په دې اړه يوې پوښتنې ځواب کې وويل، چې د استعفا يې هډو سوال نه پيدا کيږي.

ده تکرار کړه، چې له حکمتيار سره مذاکرات شوني دي، خو له دوستم سره خبرې نه شي کېدای، رباني يو ځل بيا پر ازبکستان د پوځي مداخلې تور پورې کړ.

مارچ ٢٣:

سره صليب خپل پيغام کې د جګړو په اړخو غږ وکړ، چې له روغتونو سره له مورچو نيولو ډډه وکړي، امنيت شورا يو ځل بيا افغانستان کې د جګړو د پای هيله وکړه.

مارچ ٢٤:

اروپايي ټولنې افغانستان ته د خوراکي توکيو د رسولو غوښتنه وکړه.

حزب اسلامي د وزيرانو شورا د سولې کمېسون طرحه رد کړه، حزب د رباني پر استعفا ټينګار او دوو اوونيو کې د موقت حکومت جوړښت غواړي، جګړه د خال خال ډزو په بڼه روانه ده.

مارچ ٢٥:

پخواني پاچا له امريکا غږ سره مرکه کې يو ځل بيا د لويې جرګې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړېدو زور ورکړ، ده په اوسنیو شرایطو کې ټولټاکنې ناشونې وبللې، د ده په وینا روان کړکیچ د بهرنیو پرېکړو غوښتنه کوي، د ملت اراده باید پامور وبلل شي.

ده په ډاګه کړه، چې له ملګرو ملتو سره یې اړیکې دې، له امریکا او نورو اړخونو سره یې هم خبرې روانې دي، ده یو ځل بیا تکرار کړه، چې د وطن لپاره هر خدمت ته چمتو دی.

خو د خدمت پر څرنګوالي یې لا څه نه شوای ویلی...، ملت عمل غواړي، په تش چمتو والي څه نه کیږي...

مارچ ۲٦:

د توغندیو باران دی، په ټېره یوه میاشت کې د میشتېدنې پر سیمو تر ټولو زیات توغندي لګېدلی، د جګړې دوارو غاړو د یو بل سیمې د توغندیو تر برید لاندې نیولي دي.

پر ارګ، ده افغانان، وزیر اکبر خان مېنه، بالاحصار، مرنجان غونډۍ توغندي لګېدلي، شاو خوا سیمې هم توغندیو زیانمنې کړې.

(۱٦۰۰) مړه سلګونه زخمیان دي.

له پل محمودخان سره هم توغندي لګېدلي.

اته تنه هغه وخت پر توغندي ولګېدل، چې په جګړه کې د یو وژل شوي ماشوم په ښخولو بوخت وو.

حکومتي الوتکو چهار اسیاب بمبار کړ.

محمود میستري اسلام اباد کې دی، دده په وینا له افغانانو سره تر لیدو کتو وروسته خپل پلان وړاندې کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مارچ ۲۷:

خال خال ډزې اورېدل کېږي، محمود میستري له پاکستانه خپل کار پیل کړ، ګویا ابتدا بیا هم په سکون شوه...؟

حکمتیار د میستري د هلو ځلو هرکلی وکړ.

ده وویل غوره دا ده چې اصلاحي شورا او د کابل قوماندانانو طرحه چې ډېره موده یې د سولې لپاره کار کړی، پلي کړی شوی وای.

مارچ ۲۸:

له ماسپښین وروسته سختو نښتو پر کابل د وېر او ډار تیارې وغوړولې، حزب وایي حکومت محمد آغه کې د دوی سنګرونه بمبار کړل.

جلال آباد کې د سولې سیمینار پرانیستل شو، حاجي عبدالقدیر له جلال آباد د حج پروازونه اعلان کړل، سعودي هم د خپل سفارت د وېزې ځانګه جلال آباد ته لېږدولې.

مارچ ۲۹:

جګړه په نادرشاه مېنه (زړو مکروریانو) عیدګاه جومات، میوند واټ کې غځېدلې، اسماعیل خان هرات کې د سولې لپاره د یوه کنفرانس غږ وکړ.

داسې چې یوه دېرش کسیزه شورا به واګې ترلاسه کړي، قاري بابا له اسماعیل خان سره مخالفت وکړ، ددې په وینا قوماندانان بنایي سیاسي مشران انتخاب نه کړي، دغو مشرانو هېواد ویجاړ کړی دی...

(c) ketabton.com: The Digital Library

مارچ ۳۰:

محمود ميستري له پاکستان په الوتکه کې ننګرهار ته راغی، د سرشاهي پنډ غالی يې وکوت.

حقاني له رباني سره وکتل، په دغه کتنه کې رباني خپله استعفا ناشونې وبلله، د دوی ترمينځ خبرې ترخې شوې، حقاني رباني له ملت سره په دښمنۍ تورن کړ.

مارچ ۳۱:

کابل کې جګړه روانه ده، همغږۍ شورا د ملي بس او پل محمود خان په استقامت پرمختګ وکړ او له کابل سيند يې ځواکونه واوښتل...

اصلاحي شورا چهار اسياب او باغ بالا کې له رباني او حکمتيار سره وکتل...

اپريل ۱:

ميستري کابل ته راغی، له حقاني، سياف او رباني سره يې وکتل، کابل کې کراري ده.

له غرمې وروسته ميستري له مزاري سره وليدل.

حقاني کارېز مير کې له مسعود سره وکتل.

اپريل ۲:

محمود ميستري کابل ښاريانو او حکمتيار سره وکتل، کابل ښاريانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

له میستري د ملګرو ملتو د دندو او مکلفیتونو پوښتنه وکړه، ښاریان پر ملګرو ملتو په غوسه دي، پر ملګرو ملتو يې ټینګې نیوکې وکړې.

اپریل ۳:

میستري د ناروغۍ له امله لیدنې کتنې وځنډولې.

پاکستان اسلام آباد کې د کابل سفیر بهرنیو چارو وزارت ته وغوښت، چې د ملا راکټي له خوا د نیول شوو چینایانو خوشې کول باوري کړي، ملا راکټي د سیاف قوماندان دی، چې کوټه کې پخپل کور یوه چا په کې د پاکستاني پوځیانو د ستېنګرو نیولو په بدل کې يې چینایي انجنیران تښتولي وو، ویل کېږي سیاف د پاکستان او ملا راکټي جوړ جاړي ته مخه پرانیستی.

استاد سیاف او پاکستان په ګډه دده تاوان پرې کړ.

مابنام میستري له مسعود سره دوه ساعته خبرې وکړې.

اپریل ۴:

که څه هم د میستري د سفر وروستۍ ورځ وه، خو د خراب موسم له امله يې ستنېدل وځنډېدل.

کابل کې مظاهرې وشوې، تنظیمي حکومتونه يې وغندل، د ملګرو ملتو د پلاوي له استوګنځای سره نژدې ښځینه وو مظاهره وکړه.

حقاني د پاکستان له سفیر سره پلچرخي کې وکتل، حقاني وویل د افغانستان ربړه کورنۍ او بهرنۍ اړخونه لري، پرمختیاوې او اړیکې باید څرګندې او له خلکو پټې ونه ساتل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اپریل ۵:

محمود میستري پاکستان ته ستون شو، له دې وړاندې یې د دویم ځل لپاره له حقاني سره وکتل، میستري په دغه کتنه کې وویل، چې دواړو غاړو د اصلاحي شورا له طرحې سره یو ډول توافق څرګند کړی، میستري د حقاني د سولې هلې ځلې وستایلې، دی به دوې اوونۍ وروسته بېرته افغانستان ته راشي.

اپریل ٦:

تګاب کې د حزب او جمعیت جګړې زور اخیستی.

اپریل ۷:

محمود میستري پاکستان کې د خپل ماموریت دویم پړاو اعلان کړ، دی به مزار او هرات ته هم سفر وکړي.

د کعبې امام احمد بن سهیل د اسلامي هیوادو علماوو د یوه پلاوي په مشرۍ افغانستان کې د سولې هلو ځلو لپاره پېښور ته ورسېد.

اپریل ۸:

محمود میستري پېښور کې له تفاهم شورا او لیکوالو ټولنې له غړو سره ولیدل.

کابل کې سختې جګړې روانې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اپریل ۹:

جګړه هماغسې په درز کې روانه ده، د همغږۍ الوتکو حکومتي تاسیسات بمبار کړل.

د اسلامي هېوادو یو پلاوی د کعبې امام په مشری پاکستان کې دی، له امام پرته نور پلاوي د مولوي خالص په ملتیا جلال آباد ته راغی، دوی سره د عربي هېوادو ديني پوهان او د پاکستان مولانا حسن جان، مولانا رحمت هادي، مولانا چترالی او نور ملګري دي، پلاوی د سولې لپاره خپل اغېز او نفوذ کاروي.

اپریل ۱۰:

جګړه په هماغه شدت روانه ده، حکومتي الوتکو د حزب پر سنګرونو بمباري وکړه، دواړو غاړو د یو بل بریدونو په شا تمبولو ادعا وکړه.

پېښور کې د تفاهم شورا په نوښت د ملګرو ملتو دفتر پر وړاندې مظاهره وشوه، مظاهرې ته محمود مستري وینا وکړه او له افغانانو سره یې د ملګرو ملتو پیوستون څرګند کړ.

د غونډې پرېکړه لیک کې د ملګرو ملتو تر څارنې لاندې د لویې جرګې جوړېدو غوښتنه وشوه، دغسې د رباني حکمتیار پر استعفا هم ټینګار وشو.

د اسلامي هېواد د علماوو پلاوي پلچرخي کې له حقاني سره وکتل.

اپریل ۱۱:

اسلامي هېوادو د علماوو پلاوي د حقاني په ملتیا انټرکانټیننټال

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوټل کې له رباني، سياف سره وکتل، استاد سياف په فصيحه عربي هغسې سوګندونه خوړل، ما وې چې ټک ونه چوي...

اپريل ۱۲:

له چهار آسياب د علماوو پلاوي په راستنېدو د توغنديو تر برید لاندې راغی، که څه هم په دغه ورځ ښار کې کراري وه، خو دغه توغندويي برید يو وار بيا وېره خپره کړه.

د علماوو پلاوي دواړه غاړې پرې وبللې، حکمتيار د رباني حکومت په شتون کې د ۲۵ کالو جنګ ټټر وواهه، محمود ميستري وويل رباني تش په نوم جمهور رييس دی، دغسې يې حکمتيار هم ناقانونه صدر اعظم ياد کړ، د جمهور رييس او صدر اعظم ترمينځ جګړی کابل وران او هېواد په ستره غميزه اړولی دی.

د ميستري په وينا افغانان له ملګرو ملتو د مداخلې غوښتنه کړې، خو ملګري ملتونه پوځي مداخله نه شي کړای، ده د لويې جرګې او پخواني پاچا درول خبره ورکړه د مجاهدينو مشران يې، د جنګي باندو مشران وبلل، چې له سياسي بصيرت او د ملت له استازيتوب بې برخي دي.

اپريل ۱۳:

د علماوو پر پلاوي د توغندويي برید له امله مدير غفار او صديق چکري بښنې غوښتو ته پلچرخي ته راغلل.

کری ورځ جګړه روانه ده، پلاوي کوم اغېز ونه شوی ښندلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اپریل ۱۴:

زرداد د بېرته ستنېدو پر لار سروبي کې دپلاوی افغان غړي (مولوي خالص، حاجي دين محمد) يو ساعت ايسار کړل، وايي له حاجي دين محمد سره يې حساب دی... لکه اراده يې خطرناکه وه... خو د حاجی ابراهيم په التماس يې مخه ورکړه، د علماوو پلاوی ناکام پاکستان ته ستون شو، هوايي ډګر کې ورسره رباني مخه ښه وکړه.

د سره صليب په روغتون راکټونه ولګېدل، محمود ميستري مزار ته ولاړ، چې له دوستم سره وګوري.

نجيب لفرابي د ميستري دا خبره چې رباني د وسله وال باند مشر دی وغندله.

اپریل ۱۵:

محمود مستري رباني او حکمتيار د اقتدار وړي وبلل.

ميستري بې حوصلې شو، د رباني په غندنه يې خوله پرانيسته، چې په خپلو ژمنو نه دی ولاړ، د ده په وينا رباني مسعود دواړه د سولې په لار کې خنډونه رامينځته کوي، دوی د ملګرو ملتو د سولې پلان ناکام کړ، حکومت يې له قانوني تکيې بې برخې وباله.

اپریل ۱۶:

حقاني جلال اباد کې د حکومت داسې طرحه اعلان کړه، چې جنګي ډلې پکې برخه نشي لرلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اپریل ۱۷:

کابل حکومت (رباني مسعود) اعلان کړه، چې له دوستم سره یې خبرو کې پرمختګ شوی، ډاکټر عبدالرحمن له ازبکستان نه په راګرځېدو کابل کې اعلامیه خپره کړه، مجددي له مسکو په راګرځېدو وویل، رباني د هند او روس په مینځګړتوب له دوستم سره د پخلاینې غوښتنه کړې، کابل راډیو د دوستم پر ضد تبلیغات بند کړل، دغسې یې له مزار شریف د پاسپورتونو له اجرا سره موافقه وکړه، دوستم د لسو، پینځو زرو کرنسي چلند ته وړاندې او کابل ومنل.

ډاکټر عبدالرحمن وویل: د دوستم پر ضد یې جهاد بېرته واخیست، دده په وینا د بندیانو تبادله پیل شوي، په دې توګه د دوستم پر ضد د جهاد نازل شوی ایتونه او نبوی احادیث منسوخ کړای شول...؟

اپریل ۲۴:

استاد سیاف له جنرال حمیدګل سره ننګرهار ته تللی د اتحاد مربوط شمشاد غونډ سمڅې یې وکتلې...

اپریل ۳۰:

استاد سیاف دویم وار له جنرال حمیدګل او سوډاني سفیر سره شمشاد غونډ ته ولاړل، شمشاد غونډ په لیدو کې د حمیدګل او سوډاني سفیر ملتیا پامونړ ده...

په شان د مړي دې مدام زه پر اوږو ګرځوم
ستړی ژوندونه تا به دا رنګه تر څو ګرځوم

(...)

(c) ketabton.com: The Digital Library

Shuhrat Nangyal is a journalist, columnist and a political analyst. He has written more than 2000 articles on different political, literary and social aspects of the situation in Afghanistan and the region, as well as published tens of books on various topics and also ran numerous publications. ''Weena pa Qalam ke'' '' Blood in the pen'' is the most prominent of his valuable analytical works, which is highly appraised in the course of biographical writing style.

Shuhrat Nangyal pioneered a new method and a unique pattern in writing of memoir or diary and also popularized professional column writing in Afghanistan. With establishing new methods in this regard he has also opened new horizons of innovation in critical and analytic writing.

This book TWELVE GRAMS BRAIN highlights what he witnessed and collected as his memoir during the Afghan civil war. In other words it is a collection of impartial analysis and accurate assessment of incidents with the help of first hand materials, based on the horrific developments which took place in the period of 1979-1999.

It is the depiction and portrayal of the civil war, factionalism, foreign interference, secret deals and the bloodshed which took place in the same period in Afghanistan but did not make its way to the press. In addition to the diary, the memoir and chronicle are strikingly fascinating because the media neither exposed nor featured the incidents of that time with such transparency and lucidity due to hostile tensions, dominant suffocation and the overwhelming oppression.

Since this memoir is written with enjoyable and fluent narration, therefore in addition to the historical aspect it enjoys important literary value as well.

Consequently this book could undoubtedly play a role of credible source for analysts and historians as well as a bright mirror of facts for the readers.

TWELVE GRAMS BRAIN

By: Shuhrat Nangyal

دانش خپرندویه ټولنه

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library